تفهيم الضروري

پښتو شرح د

مختصر القدوري



جمع او ترتيب

مولوي نجم الرحمن فضلي





جديد مكتبه رشيديه

جاده ميوند سرچوک کابل | محله جنګي قصه خواني پشاور


0782690850 | 091-2580074

ددې کتاب PDf کول خاص دالله {ج}

د رضا الپاره دې

ده رلوستونکي او فائده اخستونکي ددعا فه

هيله



دکتاب نوم: تفهیم الضروری پښتو شرح دمختصر القدوری (اول جلد)

جمع او ترتیب: حضرت مولانا نجم الرحمن فضلي

دچاپ زیار: مولوی سید محمد پرواني

مخونه: ۵۰۴

دطباعت تاریخ: شوال المکرم ۱۴۴۰هـ/ جون ۲۰۱۹

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سرچوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 / 0775681606

دکتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) پشاور	(۵) پروان	(۹) جلال آباد	(۱۳) لوگر
(۲) اکوړه ختك	(۶) کندوز	(۱۰) قندهار	(۱۴) خوست
(۳) کوټه	(۷) غزني	(۱۱) بغلان	(۱۵) کابل
(۴) فاریاب	(۸) مزارشریف	(۱۲) لشکرگاه	جاده سرچوک

د مضامینو فهرست

مقدمه

دا د حنفي مسلک معتبر کتاب دی، په دې باندې له شروع کولو مخکې د فقه له فن سره متعلق د یوشمیر خبرو لیکل ضروري معلومیږي:
د فقهي لغوي او اصطلاحي تعریفونه، موضوع، غرض او غایه، او امام قدوري صاحب ته یوه لنډه کتنه
د فقه لغوي تعریف: د فقه لغوي معنی پوهه او ذهانت دی.
فقیه: هغه عالم ته ویل کیږي کوم چې شرعي احکام واضح کړي او د هغو د حقائقو درک ولګوي، مغلق او پیچیده مسائل واضح کړي
د فقه اصطلاحي تعریف: فقه د ظاهري اعمالو متعلق د هغو ټولو شرعي احکامو زده کولو نوم دی کوم چې د هغو له تفصیلي دلائلوسره حاصل کړی شي، د دې دوه قسمونه دي (اول) احکام اصلي (دویم) احکام فرعي:
اصلي احکام هغه احکام دي د کومو تعلق چې له اعتقاد سره دی.
فرعي احکام هغه احکام دي د کومو تعلق چې له عمل سره دی.
موضوع: په کوم علم کې چې د کوم شي له حالاتو او صفاتو بحث کیدی شي هماغه شی د همدغه علم موضوع وي، او د بحث کولو مطلب دا ده چې هماغه حالات او صفات د موضوع لپاره ثابت کړی شي، په فقه کې چونکه د انسان د ظاهري اعمالو څه صفات (احکام شرعیه) څخه بحث کیدی شي لهذا د فقه موضوع د انسان ظاهري افعال دي، دلته له انسان څخه مراد صرف عاقل بالغ مراد دي، په لیوني یا نابالغ باندې چونکه دشرعي احکامو ذمه واري نشته لهذا د هغو اعمال د فقه موضوع نده، یعني د هغو هیڅ فعل فرض یا واجب یا حرام او مکروه نشي ګڼل کیدی، او په فقه کې د لیوني او نابلغ متعلق چې کوم مسائل ذکر شوي دي د هغو مقصد صرف دا ده چې د هغو د افعالو په بناء باندې د هغه ولي او سرپرست ذمه وار دي.
غرض او غایه: د دنیا او اخیرت کامیابي حاصل کول دي، ځکه چې فقیه په دنیا کې د خدای مخلوق ته ګټه رسوي لوړ مراتب ترلاسه کوي او په اخیرت کې چې چاته وغواړي شفاعت به یې کوي.
د علم فقه حکم: دومره معلومات حاصلول کومو ته چې په دین کې ضرورت پیښیږي فرض دي، او له ضرورت څخه زیات نورو ته د ګټې رسولو لپاره حاصلول فرض کفائي دي ترڅو چې نور خلک هم له محرماتو وساتل شي.
دشرعي احکامو تحقیق: احکام د حکم جمع ده او شرعیه د شریعت طرفته منسوب دی.

شرعي احكام هغو احكامو ته ويل كيږي كوم چې د شريعت طرفته منسوب يعنې له شريعت څخه ماخوذ دي، تفصيل يې دا ده چې په شريعت كې د انسان د ټولو كارونو يو شمير صفات مقرر شوي دي كوم چې ټول (۷) دي، فرض، واجب، مستحب، مباح، حرام، مكروه تحريمي، مكروه تنزيهي، دې صفاتو ته احكام شرعيه ويل كيږي. د انسان د هر كار لپاره له دې څخه يو نه يو شرعي حكم خامخا مقرر دى يعنې د بنده هر عمل د شريعت له مخې يا فرض ده يا واجب، يا مباح يا حرام يا مكروه، پس د هر ښه او ناوړه كار متعلق دا زده كول چې په دې باندې شريعت كوم حكم لګولى دى، د احكام شرعيه ؤ علم دى مثلاً په دې پوهيدل چې زكوة فرض دى، د سلام جواب وركول واجب دي. له خوراك مخكې د لاس مينځل مستحب دي. په اورګادي او بس موټر كې سفر كول مباح دي، په بازار كې كله چې عام د ضرورت شيان كم وي نو د هغو ذخيره كول مكروه تحريمي ده، په ولاړه د اوبو څښل مكروه تنزيهي ده، احكام اګر كه اوه دي مګر د انسان اعمال بيشماره دي. نو څكه د اعمالو په نسبت سره د شريعت احكام هم بيشماره دي.

د فقه علم عظمت : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فقيه په لوړ الفاظو كې تعريف كړى دى ﴿عن ابن عباس رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم فقيه اشد على الشيطان من الف عابد﴾ (ترمذى ۲ / ۹۷) يعنې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي چې يو فقيه په شيطان باندې له زرو عابدانو څخه زيات درون دى. څكه چې د عابد په تقوى او طهارت سره په خپله د هغه ذات ته ګټه رسيږي، او فقيه حلال او حرام او د نورو مسائلو په تعليم سره يې نورو زرګونو خلكو ته ګټه رسيږي.

د مختصر القدوري صاحب ته لنډه كتنه

نوم او نسب : نام يې احمد، ابوالحسن يې كنيه. د قدوري كلي طرفته يا د هغې پيشه طرفته نسبت دى، د پلار نوم يې محمد دى.

د پيدايښت كال د قدوري امام په ۳۶۲ هجري كې پيدا شوى او د پيدايښت ځاى يې د بغداد ښار دى.

د قدوري وجه تسميه صاحب مدينة العلوم ويلي دي چې د قدوري مطلب ديګ جوړول دي. د دوى خاندان خلكو ديګونه جوړول يا يې د هغو خريد او فروخت كولو. نو څكه د هغو طرفته په منسوب كولو سره قدوري ورته ويل كيږي، يا دا چې دى د هغه كلي اوسيدونكى وو د كوم نام چې قدر وو. هغه كلي ته د نسبت په كولو سره قدوري ورته ويل شوي.

علمي رشته امام قدوري علم فقه او علم حديث له ابو عبدالله محمد يحى څخه حاصل كړي كوم چې د امام ابو بكر جصاص شاګرد دى، او امام ابو بكر، ابوالحسن عبيدالله شاګرد دى او عبيدالله د ابو سعيد بردعي شاګرد دى او ابو سعيد د موسى رازي فيض يافته دى او موسى رازي د امام محمد شاګرد دى ګويا كه چې امام قدوري په پنځو واسطو سره علم فقه له امام محمد شيباني څخه حاصله كړې

په فقه او حدیث کې یې ځای د ابن کمال پاشا او علامه کفول په نزد دی او د هدایه صاحب د فقهاؤ له پنځمې طبقې څخه دی. او علماؤ د یوه ستر تولي په نزد له دریمې طبقې څخه دي او د څلورمې طبقې قول هم شته دی. البته د دریمې طبقې قول ته زیات صحیح ویل شوي دي لکه چې په عمدة الرعایه کې راغلي دي

په علم حدیث کې لوړ مقام ورته حاصل وه. صدیق او ثقه وه. د خطیب بغدادي په شان خطیب له ده څخه روایت نقل کړی دی. دی هغه څوک دی چې په عراق کې د حنفي مذهب ریاست د کمال درجې ته رسولی. ابو محمد القاضي په طبقات کې د ده یادونه کړې ده او په ډیرو شاندارو الفاظو یې د ده ذکر کړی دی

عمومي اوصاف: د خطابت او انشا، په فن کې ستر مهارت ورته حاصل وه. د کلام الله تلاوت یې معمول وه. د اهل فضل او کمال عزت کول یې عادت وه. له شیخ ابو حامد اسفرائني شافعي سره به یې علمي مناظره کوله مګر د تعظیم او تکریم لمن یې به یې نه پریښوده

وفات: امام قدوري په ۴۲۸ د رجب په **5** په بغداد ښار کې د ۶۶ کلونو په عمر وفات شوی او په همدغه ورځ د بغداد په درب ابی خلف کې دفن شوی. له دې وروسته دی د شراع منصور طرفته منتقل شوی، دا وخت دی د ابو بکر خوارزمي په څنګ کې آرام کوي

تصنیفونه: ده ډیر زیات کتابونه په یادګار کې پریښي دي:

۱: تجرید: دا په اوه جلدونو کې ده. په هغه کې د اصحاب حنفیه او شافعیه په اختلافي مسائلو باندې محققانه بحث شوی دی.

۲: مسائل الخلاف: د امام ابو حنیفة او د هغه د ملګرو په مینځ کې چې کوم فروعي اختلاف دی هغه پکې بیان شوی دی

۳: تقریب: په دې کې مسائل سره له دلائلو ذکر شوي دي

۴: شرح مختصر الکرخي

5: شرح ادب القاضي

۶: المختصر للقدوري: د دې کتاب زیاتره مسائل له آیات، احادیث، اقوال صحابه یا د تابعینو له فتوی څخه مستنبط شوي دي. ډیرې کمې مسئلې دي کوم چې د قیاس لیکل شوې دي او هغه هم د اصولو ماتحت مستخرج دي

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ

ترجمه: ټول تعريفونه الله تعالى لپاره مخصوص دي

حمد: مصدر تعريف کول **حمد الشئ (س) حمدا ومحمدا ومحمدة** تعريف کول، خوبي بيانول
اصطلاحي تعريف يې دا ده چې د اختياري کمالاتو او خوبيانو په اساس باندې د ممدوح په ژبه تعريف کول، برابره ده که د نعمت په مقابله کې وي يا د غير نعمت

رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ

ترجمه: پالونکي د ټول عالم (نړۍ)
رب مصدر مالک سردار، سموونکی، پرورش کوونکی، رب القوم رب مالک کېدل، الولد د هلک تر بالغ کېدو پورې پالنه کول، درجه په درجه کمال ته رسيدل، دا لفظ د خدای تعالى له ذات سره مخصوص دی، کوم مخلوق ته له اضافت پرته ربُّ ويل روا ندي، ځکه چې مخلوق په خپله تربيت ته محتاج دی نو د نورو به څه تربيت وکړي، مثلا **ارجع الى ربك، رب الثوب، اذكرني عند ربك فانساه الشيطان ذكر ربه**، مفتي محمد شفيع صاحب د معارف القرآن په اول جلد کې ليکلي دي چې تربيت ديته ويل کيږي چې کوم شی د هغه د ټولو مصالحو په رعايت کولو سره درجه په درجه مخ پر وړاندې ولاړ شي تردې چې هغه کمال ته ورسيږي
امام راغب اصفهاني ويلي دي چې الله تعالى د کائناتو رب دی چې د وجود او حيات له ټولو اسبابو سره پرورش کړی دی، ظاهري پرورش د نعمت په واسطه، باطني د د رحمت په واسطه او د عابديو نفوس د شرعي احکامو په واسطه، د سختو زړونو د د آدب او طريقت په واسطه. عالم: دا له علامت څخه مشتق دی کوم چې د خاتم او طابع طرفته د فاعل په وزن باندې ده د آله لپاره مستعمل دی. هغه ته عالم ځکه ويل کيږي چې د کائناتو د درستې نړۍ د جوړيدو په خپله نښاندهي کړې ده
د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دی چې الله تعالى څلوېښت زره مخلوقات پيدا کړی دی، او حضرت مقاتل امام التفسير د اتيا زره عالم يادونه کړې ده په هغو کې يو عالم په دنيا سره موسوم دی (قرطبي)

وَالۡعَاقِبَةُ لِلۡمُتَّقِيۡنَ

ترجمه: او له خدای تعالى څخه د ويريدونکو لپاره بهترين انجام دی
العاقبة: مصدر انجام، آخر، بنه بدله، د عاقبتْ مونث دی جمع عواقب. **عقب الرجل عقبا عقوبا وعاقبة**، شاته راتلل، د دې استعمال د هر شي د آخر او انجام لپاره شوی دی، امام راغب تصريح کړی

ده چې د دې استعمال د ثواب لپاره مخصوص دی، لکه والعاقبة للمتقين، او د اضافت په صورت کې کله کله د عقوبت لپاره هم راغلی دی لکه ثم كان عاقبة الذين اساؤا آخر عاقبت یې خراب شو د هغو خلکو کومو چې ناوړه کارونه کړي وه.

المتقين اسم فاعل جمع مذکر منصوب ومجرور، د المتقي جمع ده، د هغه مصدر اتقاء دی کوم چې له باب افتعال څخه دی، پرهيزګار په کوم کې چې د تقوی صفت وي، د تقوی لغوي معنی ده د نفس له هغه شي څخه ساتل او په حفاظت کې ساتل د کوم چې ويره وي، د شرع په عرف کې تقوی د نفس له هغه شي څخه د ساتلو نام دی کوم چې د ګناه طرف ته بیول کوي.

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ

ترجمه: درود او سلام دې د الله په رسول ﷺ باندې د **هغه** ﷺ **په آل او د ده** ﷺ په ټولو اصحابو باندې دې وي

الصلوة دا د تصليه اسم دی، لغوي معنی يې دعا ده، يعني طلب رحمت، جمهورو دلته همدا حقيقي معنی اخيستې ده او له دې پرته چې کومې معناوې دي هغه مجازي دي، د دې متعلق مشهور دي چې کله يې نسبت د الله طرفته وکړی شي نو دا وخت د طلب له معنی څخه خالي کيږي صرف د رحمت معنی به يې وي، ځکه چې د خدای تعالی ذات د طلب له معنی څخه بري دی، الله تعالی صلوة او رحمت نازل کړی دی او کله يې چې نسبت د ملائکو طرفته وکړی شي نو د استغفار په معنی کې به وي، او کله د مؤمنينو طرفته وکړی شي نو د دعاء په معنی کې به وي، او کله د طيور طرفته وکړی شي نو د تسبيح په معنی به وي، په ظاهر دا تفريق دلالت کوي چې دا لفظ مشترک دی برابره ده که په لفظي ډول وي او که په معنوي ډول وي، او داسې نده بلکې د مختلف نسبت له امله په معنی کې د تعدد لوازم په اعتبار سره ده (تحقيق المرضی).

السلام دا د تسليم اسم ده لکه له **تكليم** څخه کلام، **سلم يسلم تسليماً وسلاماً** سلام کول، د سلامتي دعاء کول، اطاعت او فرمانبرداري کول، محفوظ ساتل، دا لفظ د الله تعالی له اسماء الحسنی څخه هم دی، دلته د سلامتي او حفاظت معنی مراد ده، نجات موندل، محفوظ او سالم کيدل، بري کيدل، د صلوة او سلام دواړو د بيانولو لامل دا ده چې د مؤمنانو لپاره په قرآن کريم کې د دې حکم شوی چې دوی دې صلوة او سلام دواړه اداء کړي، الهي ارشاد دی **يا ايها الذين امنوا صلوا عليه وسلموا تسليماً**

رسول ليږل شوی پيغمبر، دا لفظ له رسالت څخه ده، شيخ شمس الدين قهستاني ليکلي دي فعول مبالغه ده، مرسل مفعل بالفتح او د فعول استعمال په دې ډول نادر شوی دی، دا يو تفصيلي بحث ده کوم چې دلته مناسب ندی

محمد: اسم مفعول، واحد مذکر، مصدر تحميد ده، بر وزن تفعيل، اصل ماده حمد ده، هغه کس په کوم کې چې په کثرت سره خصائل حميده او غوره صفات وي، محمد اګر که د رسول الله ﷺ مبارک نوم دی ليکن په آيت محمد رسول الله کې باوجود علميت د وصفيت طرفته اشاره ده، ګوا که دا ښودل شوي دي چې د رسول الله ﷺ په ذات کې دننه په کثرت سره خصائل محموده او صفات حسنه کريمه موجود دي (راغب) د الله تعالی د يو زر نومونو په شان د رسول الله ﷺ د توفيقي نومونو شمير هم يو زر دي په کومو کې چې دوه نومونه يعنې محمد او احمد مشهور او افضل دي، د ده ﷺ دنيا ته له تشريف راوړلو مخکې درې کسان د محمد په نام سره وه د کومو پلرونو چې له اهل کتاب څخه د ده ﷺ مبارک نام آوريدلی وه، هغوی په لاندې ډول دي:

(اول) محمد بن حمران بن ربيعه (دويم) محمد بن سفيان بن مجاشع (دريم) محمد ابن اضيحه (کتاب المعارف)

قَالَ الشَّيْخُ	الْإِمَامُ	الْأَجَلُّ	الزَّاهِدُ	أَبُوالْحَسَنِ أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ
فرمايي شيخ	پيشوا	د مرتبې خاوند	له دنيا څخه بې نيازه	ابوالحسن احمد بن محمد
	بْنِ جَعْفَرِ الْبَغْدَادِيُّ		الْمَعْرُوْفُ بِالْقُدُوْرِيِّ	
	بن جعفر بغدادي		کوم چې مشهور دی په قدوري سره	

الشيخ: سپين ږيری (بوډا)، داسې انسان کوم چې له پنځوسو کلونو پورته وي، د اصطلاح په اعتبار هر هغه کس (شخص) ته ويل کيدلای شي کوم چې د خلکو په نظر کې د علم او مرتبې په لحاظ لوی (ستر) وي اګر که په عمر کې کم وي.

الامام: پيشوا، مقتدا، يعنې د کوم چې اقتدا کيږي، د حنفي فقهاؤ په نزد کله چې د امام لفظ مطلق وويل شي نو امام ابوحنيفة رحمه الله مراد دی، او دلته امام قدوري رحمه الله مراد دی

ابوالحسن: دا د امام قدوري رحمه الله کنيه ده، مګر صحيح ابوالحسين ده.

فائده: قال الشيخ الی آخره: دا عبارت د امام قدوري رحمه الله د کوم شاګرد دی

كتاب الطهارة

طَہَارَۃ: بفتح الطاء، هغو اوبو ته ویل کیږي په کومو سره چې پاکي حاصلیږي، بکسر الطاء د نظافت د آلې نام دی، او بضم الطاء د نظافت په معنی کې ده.

د بندګانو افعال په دوه قسمه دي (اول) عبادات (حقوق الله) (دویم) معاملات (حقوق العباد) عبادت د همدې عظمت په نظر کې نیولو له امله مقدم کړی شوي دي بیا د اسلام ارکان له توحید وروسته فرض کړی شوي دي او د ین ستنې دي، نو ځکه هغه په ټولو عباداتو باندې مقدم شوي. او طهارت چونکه د لمانځه شرط دی او شرط له شي ځخه مقدم دی نو ځکه طهارت په لمانځه (صلوة) باندې مقدم شوی دی.

د طهارت مختلف قسمونه دي مثلا اودس، غسل، تیمم دباغت وغیره نو ځکه طهارات د جمع صیغه راوړل پکار وه مګر طهارت مصدر دی او په هغه کې افراد اصل دي او دا قلیل او کثیر ټولو لره شامل دی نو ځکه د جمع ضرورت نشته، کومو خلکو چې د جمع صیغه استعمال کړې ده لکه د هدایه صاحب نو هغه د طهارت د انواعو او اقسامو لحاظ کړی دی. هغه هم په خپل ځای باندې صحیح دي.

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی		يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا	اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ
الله تعالی جَلَّجَلَالُهٗ فرمایلي		اې ایمان لرونکو	کله چې تاسو لمانځه ته د ریدو اراده وکړی
فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ	وَاَيْدِيَكُمْ	اِلَى الْمَرَافِقِ	وَامْسَحُوْا
نو پریمینځئ خپل مخونه	او خپل لاسونه	تر څنګلو پورې	او مسح وکړئ
بِرُءُوْسِكُمْ		وَاَرْجُلَكُمْ	اِلَى الْكَعْبَيْنِ
په خپل سرونو باندې		او پریمینځئ خپلې پښې	تر ښنګرو پورې

د لغاتو حل: **اذا**: که چیرته د شرط موندلو یقین وه نو هلته اذا استعمالولی شي، **قمتم**، جمع مذکر حاضر ماضي معروف، چې ودریږی یعنې چې تاسو اراده وکړی، قام یقوم قوماً وقومة دریدل، **فاغسلوا** د امر حاضر صیغه ده، تاسو یې پریمنځئ، غسل الشئ (ض) غسلاً په اوبو سره د خیرو لیرې کول، **الغسلة**: د لاس مخ مینځلو شی، **وجوهکم**: وجوه جمع ده د وجه، مخ (چهره)، **ایدیکم**: د ایدی جمع ده لاس، **المرافق**: جمع ده د مرفق، څنګل، یعنې هغه شی په کوم سره چې قوت پیدا کیږي او تکیه پرې لګول کیږي، **امسحوا**: د مسح ځخه امر جمع مذکر حاضر تاسو مسح وکړئ، تاسو لاس راتیر کړئ، مسح الشئ (ف) مسحًا د لاس تیرول، **رؤسکم**: رؤس جمع ده د رأس سر، **ارجلکم**: ارجل جمع ده د رجل، **الکعبین**: د کعب تثنیه ده، په حالت جري کې ده، د هډوکو بند، یعنې په قدم باندې دپاسه ښکاره شوی هډوکی، هر لوړ او مرتفع شی، بزرګي او شرف جمع کعاب کعوب اکعب.

خلاصه په يوه مسلمان باندې فرض ده چې کله هغه په اوداسه نوي او د لمانځه اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې اودس وکړي، په دې آيت سره ثابت شوې چې په اوداسه کې څلور شيان فرض دي، يعنې درې اندامونه مخ، دواړه لاسونه او دواړه پښې د دوی مينځل او د سر مسحه کول

تشريح د کتاب صاحب د دې کتاب ابتداء د برکت حاصلولو په خاطر په دې آيت کريمه سره کړې او د هغه طرفته اشاره ده چې دليل اصل دی او حکم يې فرع ده، او اصل په فرع باندې د رتبې په لحاظ سره مقدم شوی دی.

د طهارت دوه قسمونه دي (اول) طهارت صغری لکه اودس (دويم) طهارت کبری لکه غسل. په آيت مبارکه او د جبرئيل په تعليم کې د اوداسه تعليم اول دی او د اوداسه ضرورت زيات شوی دی. نو ځکه اودس په غسل باندې مقدم کړی شوی دی.

د ايديکم عطف په وجوهکم باندې دی (الی المرافق) دلته غايه په مغيا کې داخل ده، د جمهورو همدا مسلک دی، يعنې دواړه لاسونه له څنګلو سره ويمنځئ، (ارجلکم) نافع، ابن عمر کسائي او د حفص په قرائت کې لام له زور سره دی، او د نورو قراؤ په نزد لام له زير سره دی، په اول قرائت کې د پښو مينځلو د فرضيت حکم ښکاره شوی دی او په دې صورت کې ارجلکم په وجوهکم باندې معطوف شوی، او په دويم قرائت کې د مسح کيفيت ښکاره شوی په دې صورت کې د هغه عطف په رؤسکم باندې شوی

له ډيرو احاديثو څخه د مينځلو فرضيت او د مسح ناکافي کيدلو باندې ثبوت ترلاسه شوی دی، د اهل السنة والجماعة په دې باندې اجماع ده. له جماعت څخه وتونکي د اجماع خلاف د لاسونو، پښو او د مخ صرف مسح قائل ګمراه دي.

فَفَرْضُ الطَّهَارَةِ	غَسْلُ الْأَعْضَاءِ الثَّلٰثَةِ		وَمَسْحُ الرَّأْسِ
د اوداسه فرض	د دريو اندامونو پريمينځل		او په سر مسح کول دي
وَالْمِرْفَقَانِ	وَالْكَعْبَانِ	تَدْخُلَانِ	فِي فَرْضِ الْغَسْلِ
دواړه څنګلې	او دواړه ښنګري	داخل دي	د پريمينځلو په فرضو کې
عِنْدَ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ		خِلَافًا لِزُفَرَ	
زمونږ د دريو علماء کرامو په نزد		امام زفر لره اختلاف دی	

د اوداسه د فرائضو بيان

د لغاتو حل **فرض** کټ کول، فرض کول، معلومول، عطيه ورکول، اخيري عمر ته رسيدل، عظمت، دا له باب ضرب څخه دی، د صله په فرق سره په معنی کې تبديلي شوې ده، زمونږ په نزد هغه حکم ته ويل شوي دي کوم چې په داسې قطعي دليل سره ثابت شي کوم چې له شبهه څخه خالي وي، او د هغه

حکم دا ده چې د هغه ترسره کوونکی د ثواب مستحق او پرېښودونکی یې د سزا مستحق دی. **الطهارة** باب (ن ک) پاکول الاعضاء: د عضو جمع ده د بدن برخه **الثلثة**: دري، دا د اعضاء صفت دی. **المرفقان**: د مرفق تثنیه ده په حالت رفعي کې ده څنګلې **الکعبان**: دا د کعب تثنیه ده په حالت رفعي کې ده تفصیل یې تیر شوی دی، تدخلان: فعل مضارع تثنیه مؤنث غائب صیغه ده، دخل (ن) دخولا ومدخلا داخلیدل، **علمائنا الثلثة**: علماء د عالم جمع ده، علماء مضاف نا مضاف الیه، دواړو چې سره یو ځای کړی شي موصوف الثلة صفت یعني زمونږ دری علماء، له دې څخه مراد امام اعظم رحمه الله امام یوسف رحمه الله امام محمد رحمه الله دي، **خلاف**: د باب مفاعله یو مصدر دی خالفه خلافا ومخالفة نه موافقت کول، خلاف، نه موافقت، مختلف فیه مسائل، اختلاف.

خلاصه: په اوداسه کې څلور فرض دي (اول) یو ځل د ټول مخ مینځل (دویم) د دواړو لاسونو له څنګلو سره مینځل (دریم) د دواړو پښو تر ښنګرو پورې مینځل (څلورم) یو ځل د سر مسحه کول، د امام زفر رحمه الله له ائمه ثلاثه سره اختلاف دی، دائمه ثلاثه په نزد له لاسونو سره د څنګلو او له پښو سره د ښنګرو مینځل فرض دي، او د امام زفر په نزد د څنګلو او ښنګرو مینځل فرض ندي.

تشریح: په شرح وقایه او هدایه کې د مخ طول او عرض حد مقرر شوی دی، په طول کې د سر وېښتانو منتها څخه لړ لاندې پورې او په عرض کې د وېښتانو له جړ څخه د غوږونو پورې (المرفقان والکعبان الخ) د څنګلو او ښنګرو مینځل فرض دي او که نه؟ په دې سلسله کې د ائمه ؤ اختلاف دی، امام ابو حنیفه رحمه الله او صاحبینو ویلي دي چې له لاسونو سره د څنګلو او له پښو سره د ښنګرو مینځل فرض دي، همدا قول د امام محمد رحمه الله او امام شافعي رحمه الله دی، یو روایت د امام مالک رحمه الله هم دی. د خبرې منشاء دا ده چې دلته غایه په مغیا کې داخل ده، ځکه چې د غسل غایه په مرفقین او کعبین باندې یوه داسې کلمه داخله ده کومه چې د کلام د صدور او د آغاز نښاندهي کوي، یعني په قرآني آیت کې د (الی) لفظ راغلی دا خبره یې واضحه کړې ده چې له مرفقین او کعبین پرته برخه د غسل له حکم څخه خارج ده، امام زفر رحمه الله ویلي دي چې مرفقین او کعبین په غسل کې داخل ندي، یعنې د څنګلو او ښنګرو مینځل فرض ندي دا هم د امام مالک رحمه الله یو مسلک دی، ځکه چې مرفقین او کعبین د غسل غایه دي او غایه په مغیا کې داخل نده.

وَالْمَفْرُوْضُ فِيْ مَسْحِ الرَّأْسِ	مِقْدَارُ النَّاصِيَةِ	وَهُوَ رُبُعُ الرَّأْسِ
او فرض د سر په مسح کې	د تندي اندازه ده	او هغه څلورمه حصه د سر ده
لِمَا رَوَى الْمُغِيْرَةُ بْنُ شُعْبَةَ		اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د همدې حدیث د کوم روایت چې مغیره بن شعبه کړی		چې رسول الله صلی الله علیه وسلم

أَتَى سُبَاطَةَ قَوْمٍ	فَبَالَ	وَتَوَضَّأَ
د يوه قوم خراب خای ته تشريف راووړ	اودس يې مات کړ	بيا يې اودس وکړ
وَمَسَحَ	عَلَى النَّاصِيَةِ	وَخُفَّيْهِ
او مسح يې وکړه	په تندي (پيشاني)	او په خپلو موزو باندې

د لغاتو حل: **المفروض**: د فرض اسم مفعول دی، د کوم شي د فرضيت په طريقه باندې چې حکم لګول شوی وي، **مسح**: مسح ويل کيږي د لامده لاس تيرولو ته برابره ده که د لاس لوندوالی له لوبنې څخه په را اخيستل شويو اوبو سره وي يا د کوم مينځل شوي اندام باقي مانده وي، **مقدار**: اندازه جمع مقادير، **النّاصية**: تندی (پيشاني) د سر د کومې برخې د ويښتانو شنه کيدل د مخ له طرفه چې دي هغې برخې ته ناصيه ويل کيږي، د سر څلور برخې دي، يو تندی (پيشاني) دويم د سر شاتنی برخه او د څنګونو دواړه برخې، **المغيرة**: بضم الميم وکسر الغين يو مشهور صحابي دی، د احزاب غزا په موقع يې اسلام قبول کړی، په کوفه کې اوسيدلو او هلته په (۵۰ هجري) يا (۵۱ هجري) کې وفات شو، عمر يې اويا کلونه وو، له ده څخه يو سل شپږ ديرش حديثونه روايت شوي دي، **سباطة**: خراب خای (د خس خخلو او مرداريو غورزولو خای) بال: (ن) بولا ومبالا متيازې کول، **خفيه**: د خف تثنيه ده په حالت جري کې ده، د هاء ضمير طرفته د اضافت له وجهې (ن) ولويده په اصل کې خُفين وه موزه.

خلاصه: د سر په مسح کې د ناصيه په اندازه ضروري ده، د کوم دليل چې د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د يوه قوم خراب خای ته تشريف راووړ، اول يې متيازې وکړې له دې وروسته يې اودس وکړ او د پيشانۍ په اندازه يې د سر مسحه وکړه او په خپلو دواړو موزو يې مسحه هم وکړه.

تشريح: د سر مسحه کول بالاتفاق فرض دي، څکه چې په صريح نص سره يې ثبوت شوی دی، البته په مفروض مقدار کې اختلاف دی، لهذا د حنفي علماؤ په نزد څلورمه برخه د سر مسح کول فرض دي برابره ده که د سر مخکنۍ برخه وي که شاتنۍ برخه وي، د ښي طرف څلورمه وي که د چپ طرف وي، د امام شافعي رحمه الله په نزد مطلق د سر مسح فرض ده، لهذا د ده په نزد درې ويښتان يا د يوه ويښته مسح په کولو سره فرضيت ادا کيږي، د امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد د ټول سر مسح کول فرض دي.

د هر يوه امام (وامسحوا برؤسكم) خپل مستدل جوړ کړی دی، لهذا امام مالک رحمه الله باء زائده بولي له همدې امله د شرح نقايه د تشريح مطابق امام مالک په احتياط باندې په عمل کولو سره د ټول سر مسح فرض بللې ده، او د امام شافعي په نزد د آيت مقدار د مسح په سلسله کې مطلق دی او د المطلق

یجری علی اطلاقه مطابق د مطلق سر مسح فرض ده او مطلق فرضیت د دریو ویښتانو یا د یوه ویښته په مسح کولو سره ادا کیږي

حنفیانو ویلي دي چې مقدار د مسح په سلسله کې آیت مجمل دی او مجمل ته د بیان ضرورت دی او د مغیره حدیث د هغه بیان دی، او په حدیث کې د ناصیة لفظ راغلی دی چې د سر مسح د سر مخکنی برخه ده او په لاس کې ګوتې اصل دي او دری ګوتې اکثر دي او حکم په اکثریت باندي لګول کیږي له همدې امله دری ګوتې د ټولو قائم مقام بلل شوې حکم شوی چې که چیرته د دریو ګوتو په مقدار مسح وکړی شي نو شرعا کافي کیږي

د امام مالک او امام احمد دلیل هغه حدیث دی د کوم چې الفاظ دي:

﴿فبدأ بمقدم رأسه ثم ذهب بيده الى مؤخر الرأس ثم ردهما الى مقدمه﴾

یعنې رسول الله ﷺ د سر له مخکنی برخې څخه مسح شروع کړه او تر اورمیږ پورې یې ورسوله، او د مسح کولو پر مهال (وخت) یې دواړه لاسونه د سر په مخکنی برخه باندې راوستل، له دې حدیث معلومه شوه چې د ټول سر مسح کول فرض دي

ځواب: تاسو په اوداسه کې دننه د ټول سر مسح کول فرض کړي، دا حکم د فرضیت په ډول نه دی، بلکې د کمال فضیلت په ډول دی، دا داسې ده لکه دری دری ځلې له رسول الله ﷺ څخه د اودس کول ثابت دي، لیکن دغه دری ځلې فرض نه دي، بلکې یو ځل فرض دي

د امام شافعي رحمه الله **دلیل**: د اوداسه په آیت کې د سر مسح مطلقًا ذکر شوې د (والمطلق یجری علی اطلاقه) قاعدې مطابق د مطلق سر مسح کول فرض دي

ځواب: د اوداسه په آیت کې د سر مسح مطلقًا نه ده بلکې مجمل دی، او په مجمل باندې د عمل کولو لپاره د متکلم له لوري (جانبه) بیان ضروري دی، او د رسول الله ﷺ عمل یعنې مسح علی الناصیة د همدغه مجمل بیان دی، لهذا مسح علی الناصیة فرض شوه

د احنافو دلیل: ﴿عن ابن عباس بن مالك قال رأيت رسول الله ﷺ يتوضأ عليه عمامة قطرية فأدخل يده من تحت العمامة فمسح مقدم رأسه﴾

له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما رسول الله ﷺ ولیده چې اودس یې کاوه، او په مبارک سر باندې یې قطري پګړی (عمامه) وه، ده مبارک دواړه لاسونه د پګړی لاندې داخل کړل بیا یې د سر د مخکنی برخې مسح وکړه (ښکاره ده چې رسول الله ﷺ مبارک د ټولې مخکنی برخې مسح کړې ده او د سر ټوله مخکنی برخه څلورمه د سر ده، کومې ته چې ناصیه ویل کیږي. کما فی فتح القدیر

قَبْلَ اِدْخَالِهِمَا الْاِنَاءَ	غَسْلُ الْيَدَيْنِ ثَلٰثاً	وَسُنَنُ الطَّهَارَةِ
مخکې له داخلیدو د دواړو لاسونو لوښي ته	مینځل د دواړو لاسونو دي دری ځلې	د اوداسه سنت

إِذَا اسْتَيْقَظَ الْمُتَوَضِّئُ	مِنْ نَوْمِهِ
کله چې بیدار شي اودس کوونکی	له خپل خوب څخه

د اوداسه د سنتو بیان

د لغاتو حل: **سنن**: د سنت جمع ده ظریقه، د شرع په اصطلاح کې سنت هغه طریقه ده په کومه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عبادت په ډول کله کله له ترک کولو سره مداومت او همیشګي کړې وي. **ادخال**: مصدر دی له باب افعال څخه داخلول. **الاناء** جمع انیة (لوښی). **استیقظ**: باب استفعال څخه ویښیدل. **المتوضئ**: باب تفعل څخه او د توضا اسم فاعل دی اودس کولو والا. توضا بالماء للصلوة اودس کول. **نوم**: خوب د نائم جمع ده یا اسم ده، رجل نوم ونوام د ډیر خوب کولو والا سړی
خلاصه: د اوداسه ډیر سنت دي له هغو څخه یو سنت دا ده چې کله یو اودس کوونکی انسان له خوب څخه بیدار شو نو له ټولو مخکې هغه ته پکار دي چې خپل دواړه لاسونه دری ځلې ومینځي، بیا هغه په کوم لوښي کې داخل کړي (او له ټولو مخکې اول ښی لاس بیا چپ لاس)
تشریح: د اوداسه د فرائضو له ذکر کولو وروسته براه راست د سنتو تذکره په دې خبره باندې دلالت کړې دې چې په اوداسه کې کوم شی واجب ندي.
د کتاب صاحب د سنن لفظ جمع او د وضو لفظ مفرد راوړلو سره ښودل غواړي چې د سنت حکم او دلیل په هر اعتبار سره جلا جلا دي او د اوداسه د ارکانو دلیل صرف یو آیت دی او که د اوداسه په ارکانو کې یو هم ترک کړی شي نو بالکل له ثواب څخه محروم کیدی شي، او په سنت کې داسې دي چې کوم سنت ترک کړی شي د هغه ثواب نه ملاویږي او کوم چې ادا کړی شي د هغه ثواب ملاویږي، د اوداسه له کولو مخکې د دواړو لاسونو مینځل مطلق سنت دي، او د قدوري صاحب له خوب څخه د بیداریدو قید اتفاقي قید دی، له خوب څخه بیداري برابره ده که په شپه کې وي که په ورځ کې وي د دواړو حکم د جمهورو په نزد یو شان دی، البته د امام محمد په نزد د ورځې په بیداري کې مستحب ده او د شپې په بیداري کې واجب دي.

وَتَسْمِيَةُ اللهِ تَعَالَى فِي ابْتِدَاءِ الْوُضُوْءِ	وَالسِّوَاكُ وَالْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ
د اوداسه په پیل (شروع) کې بسم الله ویل سنت دي	مسواک وهل غرغره کول پوزه کې اوبه اچول

وَمَسْحُ الْاُذُنَيْنِ	وَتَخْلِيْلُ اللِّحْيَةِ	وَالْاَصَابِعِ
د دواړو غوږونو مسح کول	د ږیرې خلالول	د ګوتو خلالول

وَتَكْرَارُ الْغَسْلِ اِلَى الثَّلٰثِ
او دری واري (ځلي) د اندامونو مینځل

د لغاتو حل: تسمیة: مصدر باب تفعیل بسم الله ویل. ابتداء: له باب افتعال څخه دی شروع کول. **السواك**: مسواک. **المضمضة**: غرغره کول. الاستنشاق: په پوزه کې اوبه اچول. **تخلیل**: مصدر دی باب تفعیل څخه خلالول. **اللحیة**: ږیره. **الاصابع**: د اصبع جمع ګوتې.

خلاصه: دلته د اوداسه د اتو سنتو ذکر شوی دی، باقي مفهوم له ترجمه څخه واضح دی، ګوا که په اوداسه کې ټول نهه سنت دي، د اتو ذکر په دې بحث کې دی او د یوه ذکر له دې مخکې شوی دی.

تشریح: وتسمية الله: د اوداسه په شروع کې د بسم الله د حکم په سلسله کې درې نظرونه دي (اول) مستحب (دویم) سنت مؤکده (دریم) واجب، اکثر فقهاء د سنت مؤکده قائل دي، د هدایه صاحب مستحب ویلي دي، امام احمد د اوداسه په شرطونو کې شمار کړې ده له کومې پرته چې اودس نکیږي، د تسمیه ادنی درجه بسم الله ده او اعلی درجه یې بسم الله الرحمن الرحیم ده، او په څینو روایتونو کې بسم الله العظیم والحمد لله علی دین الاسلام هم مرفوعاً منقول دي.

السواک: د مسواک سنت کیدو متعلق درې قولونه دي (اول) د احنافو اکثریت د دې د اوداسه په سنت کیدو باندې قائل دي (دویم) د شافعیانو په نزد د لمانځه له سنتو څخه دی (دریم) امام ابو حنیفه رحمه الله په سنن دین کې شمار کړی دی، که چیرته مسواک نه وه نو ګوته یې قائم مقام کیدی شي.

المضمضة والاستنشاق: د غرغره او په پوزه کې د اوبو اچولو دوه طریقې دي (اول) درې ځلې د غرغره کولو او درې ځلې په پوزه کې د اوبو اچولو لپاره یعنې د دواړو لپاره په هر ځل د نویو اوبو را اخیستل (دویم) چې یوه لپه اوبه را واخیستل شي په هغو سره غرغره او په پوزه کې واچول شي، احنافو اول بهتر ګڼلی دی او شافعیانو دویم بهتر ګڼلی دی، ګوا که اختلاف په افضلیت کې دی، مضمضه او استنشاق دواړه سنت مؤکده دي، بلې امام مالک خو فرض ورته ویلي دي.

مسح الاذنین: د دواړو غوږونو مسح سنت مؤکده دي، کومې اوبه چې د سر مسح لپاره واخیستل شي هماغه اوبه د غوږونو د مسح لپاره کافي دي، د امام مالک په نزد سنت همدا ده او د زیاتره علماؤ هم همدا مسلک دی، د امام احمد او امام شافعي په نزد د غوږونو لپاره جلا اوبه اخیستل کیږي.

تخلیل اللحیة: د ږیرې خلالولو په باره کې له فقهاؤ څخه څلور قولونه منقول دي (اول) مسنون (دویم) مستحب (دریم) واجب (څلورم) جائز، امام شافعي او امام یوسف د مسنون قائلین دي، له امام محمد هم همداسې یو روایت شته دی او همدا زیات صحیح دی، امام ابوحنیفه د مستحب قائل دی، سعید بن جبیر او عبدالحکیم مالکی د مستحب قائل دي، څلورم قول د جائز دی، د هغه مطلب دا ده چې د دې کوونکي ته بدعتي نشي ویل کیدی، د تخلیل اللحیة طریقه دا ده چې د ښي لاس ګوتې د ږیرې له لاندې څخه پورته راوباسل شي.

الاصابع: د دواړو لاسونو او دواړو پښو په ګوتو کې خلال کول، د لاس د ګوتو د خلال کولو طریقه دا ده چې د یوه لاس ګوتې دې د بل لاس په ګوتو کې ورکړی شي، د پښو د ګوتو د خلال طریقه دا ده چې د

چپ لاس په وړه ګوتې سره دې خلال کړی شي، د ښي پښې له وړې ګوتې دې شروع وکړي د چپې پښې په وړه ګوته دې ختم کړي

وتكرار الغسل : او درې ځلې مينځل سنت مؤكده دي، له مجبورۍ پرته د اندامونو صرف يو ځل مينځل مکروه دي لکه چې په نهايه کې دي، او که چيرته عادت جوړ شي نو ګناه ده او له دريو ځخه زيات بدعت دی لکه چې په خلاصه کې دي

د مسواک په سنتيت باندې د ځلورو امامانو اتفاق، د ځلورو امامانو په دې خبره اتفاق دی چې مسواک وهل صرف سنت دي، واجب نه دي، د اصحاب ظواهر په نزد مطلقًا واجب دي

د اصحاب ظواهر دليل : له حضرت رافع بن خديج ځخه روايت دی :

﴿السواك واجبٌ وغسل الجُمُعة واجب على كل مسلم﴾

ځواب : حافظ ابن حجر په تلخيص الجبير کې د همدغه حديث له نقلولو وروسته فرمايلي (اسناده واهٍ) (کمزور) لهذا په همدې سره استدلال کول صحيح نه دي

د ځلورو امامانو دليل : ﴿واستدل في الكافي للسُنِّيَةِ بأنه عليه السلام واظب عليه مع الترك﴾ يعني رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مسواک په وهلو باندې مداومت (هميشه والی) کړی، او کله کله يې پرې ايښې هم دی، مواظبت مع الترک د سنت دليل دی، په ترک مسواک باندې دليل دا ده چې :

﴿أنه عَلَيْهِ السَّلَامُ علّم الاعرابيَّ الوضوء ولم ينقل فيه تعليم السواك﴾

يعني رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه کوچي (بانده چي) ته د اوداسه تعليم ورکاوه، په هغه کې مسواک منقول نه دی، که چيرته مسواک وهل واجب وای نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به يې ضرور تعليم ورکړی وو.

د دواړو غوږونو په مسح کې د فقهاؤ اختلاف : آيا د غوږونو د مسح لپاره نوې (جديد) اوبه اخيستل کيږي، او که د سر په پاتې شونې اوبو يې مسح کيدلای شي، په دې باره کې دوه مذهبونه دي :

(۱) د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د غوږونو مسح د سر په اوبو سنت ده

(۲) د ائمه ثلاثه ؤ په نزد په نويو (جديد) اوبو سره يې مسح کول سنت دي

د ائمه ثلاثه ؤ دليل : هغه حديث دی د کوم چې الفاظ دي :

﴿فأخذ لأُذُنيه ماءً خلاف الماء الذي أخذ لرأسه﴾ يعني رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غوږونو مسح کولو لپاره له هغو اوبو پرته (علاوه) نورې اوبه را واخيستې کومې يې چې د سر مسح کولو لپاره را اخيستل شوې وې، له دې حديث ځخه معلومه شوه چې د غوږونو مسح کولو لپاره نوې (جديد) اوبه سنت دي

ځواب : دا حديث په هغه صورت باندې محمول دی کله چې د لاسونو بيخي (بالکل) وچې شوې وې، د سر له مسح کولو وروسته په لاسونو باندې لوندوالی بيخي پاتې نه وي، په همداسې صورت کې زمونږ په نزد هم د نويو (جديد) اوبو را اخيستل مشروع او مسنون دي

د احنافو دليل : هغه حديث دی د کوم چې ابن حزيمه ابن حبان او حاکم روايت کړی دی :

﴿عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ الا اخبركم بوضوء رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فذكره وفيه ثم غرف غرفة فمسح بها رأسه وأذنيه﴾ يعني رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يوه لپه اوبه را واخيستې او په هغو يې د خپل مبارک سر او دواړو مبارکو غوږونو مسح وکړه، له دې حديث څخه معلومه شوه چې د غوږونو مسح کولو لپاره نويو (جديد) اوبو ته ضرورت نشته.

د لاسونو او پښو د ګوتو د خلال حکم او د ائمه ؤ اختلاف : (۱) د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د لاسونو او د پښو د ګوتو خلالول سنت دي.

(۲) د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد مستحب دي.

(۳) د ځينو اهل ظواهر په نزد واجب دي، همداسې يو روايت له امام احمد رَحِمَهُ اللهُ څخه منقول دی.

د اصحاب ظواهر دليل : د حضرت لقيط بن صبرة روايت دی کوم چې په ابوداؤد کې درته دی، د هغه الفاظ دي :

﴿فقلتُ يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أخبرني عن الوضوء قال أسبغ الوضوء وخلل بين الاصابع﴾.

ما عرض وکړ يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ! ماته اودس را وښايه، هغه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : اودس په کامله توګه وکړه او د ګوتو په مينځ کې خلال وکړه، په دغه حديث کې د امر صيغه د وجوب لپاره استعمال شوې ده.

ځواب : په حديث کې د امر صيغه په استحباب باندې محمول شوې، د وجوب لپاره نه ده، که چيرته د ګوتو خلالول واجب واى نو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د اوداسه د حکايت کوونکو له ډيرو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنهُم څخه يوازې څو ذکر کړی نو ټولو به ذکر کړی وو.

او د کوچي (اعرابي) په حديث کې د هغه ذکر ضرور (خامخا) وو، ځکه چې په همدغه حديث کې د اوداسه واجبات په اهتمام سره ذکر شوي دي.

د احنافو دليل : ﴿عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اذا قمتَ الى الصلوة فليسبغ الوضوء واجعل الماء بين أصابع رجليك ويديك﴾ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : کله چې تاسو لمانځه ته اراده وکړی نو اودس په کامله توګه وکړئ او د خپلو لاسونو او د پښو د ګوتو خلال وکړئ.

وَيُسْتَحَبُّ لِلْمُتَوَضِّئِ	أَنْ يَّنْوِيَ الطَّهَارَةَ
او مستحب دي د اودس کوونکي لپاره	چې د پاکي (طهارت) نيت وکړي
وَيَسْتَوْعِبَ رَأْسَهُ بِالْمَسْحِ	
او د خپل ټول سر مسح کول هم سنت دي.	

د اوداسه د مستحباتو بیان

د لغاتو حل : **ینوی** : نوالشئ ینوی نواه ونیة اراده کول، نیت کول، **یستوعب** : استوعب استیعابا ټول رانیول، ګیرول.

خلاصه : دلته د اوداسه د مستحباتو بیان کول کیږي، د قدوري صاحب په دې کتاب کې د شپږو مستحباتو ذکر کړی دی دلته د دوه بیان دی (اول) د طهارت نیت کول (دویم) یو ځل د ټول سر مسح کول

تشریح : ان ینوی الطهارة : نیت د زړه د پخې ارادې نوم دی، او په شرعي ډول د رباني اطاعت یا تقرب خداوندي د ارادې نام دی، په اوداسه کې نیت د حدث ازاله مقصود ده، یا داسې عبادت کوم چې له طهارت پرته نه صحیح کیږي، له دې موقع یو اصول په یاد ولرئ چې د متاخرینو په اصطلاح کې مستحب د سنت په مقابله کې دی، او د متقدمینو په اصطلاح کې د استحباب معنی عامه ده چې د هغه په زمره کې سنت او واجب راتلی شي

احنافو نیت ته مسنون ویلي دي، د امام مالک امام شافعي او امام احمد په نزد نیت فرض دی. د نیت مقصد په عباداتو او عاداتو کې امتیاز پیدا کول دي، نیت د عبادت لپاره فرض کړی شوی دی، آیت کریمه **(وما امروا الا لیعبدالله مخلصین له الدین)** کې په اخلاص سره نیت مراد دی، او له عباداتو پرته ځینې ځای مسنون او ځینې ځای مستحب دی، د نیت ځای زړه دی او په ژبې سره یې اظهار مسنون دی.

ویستوعب : د ټول سر یو ځل مسح کول سنت مؤکده دي، د قدري صاحب په نزد د استحباب معنی د متقدمینو په نزد د عامې معنی په اعتبار سره دی. شافعیانو دلته د سر مسح درې ځلې او هر ځل یې په نویو اوبو سره کول مسنون دي

د سر د مسح طریقه دواړه ورغوي او د دواړو لاسونو درې درې ګوتې د سر په مخکنی برخه باندې کیښودل شي او دواړه بتې (غټې) ګوتې او د شهادت ګوتې به او ورغوي به جدا وساتل شي هغه به د شا طرفته کش کړی شي، بیا به دواړه ورغوي د سر په دواړو طرفونو راکش کړی شي د مخ طرفته به راوړل شي بیا به په دواړو غټو ګوتو سره د غوږونو ظاهر او د شهادت په ګوتو سره به د غوږونو باطن مسح کړی شي او د دواړو لاسونو په ظاهر سره به د غاړې مسح وکړی شي لکه چې په فتح القدیر او نهایه کې چې دي.

وَيُرَتِّبُ الْوُضُوْءَ	فَيَبْتَدِأُ بِمَا
او اودس په ترتیب سره وکړی	پس له هغه اندام څخه شروع وکړی
بَدَأَ اللّٰهُ تَعَالٰى بِذِكْرِهٖ	وَبِالْمَيَامِنِ
د کوم له ذکر څخه چې الله تعالی شروع کړې	او له ښي اندام څخه شروع وکړی.
وَالتَّوَالِيْ	وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ
او پیوسته پریمینځل	او د غاړې مسح کول (مستحب دي)

د لغاتو حل يرتب: له باب تفعيل څخه ده مصدر ترتيب راغلى دى، د مرتبې لحاظ ساتل، ترتيب وار ساتل، بدا: بدأ الشئ وبه (ف) بدأ شروع كول، بدأ بذكر الله د الله په ذكر شروع كول، **الميامين**: دا د ميمنه جمع ده د ښي طرف ولې، **التوالى**: باب تفاعل مصدر پيوسته كول، د دي اصل ماده ولى ده، الرقبة: غاړه جمع رقاب.

خلاصه: له دي مخكې د دوه مستحبو بيان اوشو، دلته د پاتې څلورو ذكر دى، (اول) د اوداسه په مفروضه اندامونو كې د ترتيب رعايت كول، يعنې په قرآن كريم كې چې كوم ترتيب بيان شوى دى د هماغه ترتيب لحاظ ساتل (دويم) د اندامونو د مينځلو په وخت كې له ښي طرف شروع كول (دريم) پيوسته اودس كول (څلورم) د غاړې مسح كول

تشريح: يرتب: په دي لفظ سره دې خبرې طرفته اشاره ده چې مسنون ترتيب هغه دى كوم چې په ايت كريمه ﴿فاغسلوا وجوهكم﴾ كې دى، يعنې اول مخ، بيا دواړه لاسونه، بيا د سر مسح له دوي وروسته د دواړو پښو مينځل، د ترتيب استحباب د قدروي صاحب په نزد هغه دى كوم چې د متقدمينو په نزد سنت دى، د حنفي علماؤ په نزد دلته همدا ترتيب مسنون دى، د امام مالك رَحِمَهُ اللهُ امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد ترتيب فرض دى، ګوا كه د ترتيب له رعايت پرته اودس نكيږي.

وبالميامين: يعنې د اوداسه د اندامونو مينځلو په وخت كې له ښي طرف شروع كول مستحب دي.

والتوالى: يعنې د اوداسه اندامونه دې داسې پيوسته ومينځل شي چې د يوه اندام له وچيدو مخكې دويم اندام ومينځل شي، د صاحب قدوري د اصطلاح مطابق مستحب دي، د احنافو په نزد مسنون دي، او د حضرت امام مالك په نزد فرض دي.

ومسح الرقبة: د غاړې مسح له مستحباتو څخه شمار شوې ده، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد مسنون ده، د اكثرو فقهاؤ راجح قول همدا دى، د دواړو لاسونو په شا باندې د غاړې مسح كول مستحب دي، او د حلق مسح بدعت دى (فتح القدير).

د فقهې په عامو كتابونو كې د اوداسه په مستحبانو كې صرف دوه يعنې تيامن او د غاړې د مسح ذكر شوى دى، د دي مطلب دا ندى چې د اوداسه د مستحباتو شمېر بس دوه دي، بلكې تنوير الابصار درمختار او طحاوي كې د ذكر شوي شمير مطابق مستحبات درى څلويښت پورې رسيدلي دي.

پيوسته د اندامونو پريمينځلو حكم او د ائمه ؤ اقوال: پيوسته (مسلسل) په داسې طريقه باندې د اندامونو پريمينځل چې لومړى (اول) اندام وچ نشي چې دويم پريمينځل شي د مالكيه ؤ او حنابله ؤ په نزد فرض دي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ يو قول هم همداسې دى، د احنافو په نزد په اوداسه كې موالاة سنت دى، همداسې يو قول د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دى

د مالكيه ؤ او حنابله ؤ دليل: ﴿عن بعض اصحاب النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رأى رجلاً يصلى وفى ظهر قدمه لمعة قدر الدرهم لم يصبها الماء فأمره النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يعيد

الوضوء والصلوة﴾ یعنې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له ځینو اصحابو څخه منقول دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو کس ولید چې د درهم په اندازه د هغه د پښو برخه وچه پاتې شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوداسه او د لمانځه راګرځولو حکم وکړ، له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې موالاة فرض دی.

ځواب: دا حدیث ضعیف دی، ځکه چې په سند کې یې بقیه بن ولید راوي دی، کوم چې حجت نه دی

کما قال الشوکاني اعله المنذري ببقیة الولید وقال عن بجیر وهو ضعیف.

همدارنګه دا احتمال هم شته چې د اوداسه راګرځولو حکم یې د استحباب په طریقه کړی وي

د احنافو دلیل: ﴿واستدل في المعراج علی عدم فرضیة الولاء بأن ابن عمر رضي الله عنه توضأ في السوق فغسل وجهه ویدیه ومسح برأسه ثم دعی الی جنازة فدخل المسجد ثم مسح علی خفیه﴾.

یو ځل ابن عمر رضي الله عنه په بازار کې اودس وکړ، یوازې (صرف) مخ او دواړه لاسونه یې پریمینځل او په سر یې مسح وکړه، بیا د جنازې لمانځه اداء کولو لپاره جوماث (مسجد) ته ولاړ، هلته چې ورسید د تولو حاضرینو پر وړاندې یې په دواړو موزو باندې مسح وکړه، کله چې اودس وچ شوی وو او په دې باندې په حاضرینو کې هیچا نکیر ونکړ (یعنې دا یې بد ونه ګڼل)

د غاړې مسح کولو حکم، د احنافو او شافعیانو په مینځ کې اختلاف: د احنافو په کتابونو کې د غاړې مسح له مستحباتو او د اوداسه له آدابو څخه شمار شوې ده، او د امام شافعي رحمه الله پخوانی (قدیم) قول هم همداسې دی.

علامه نووي شافعي رحمه الله د غاړې مسح بدعت لیکلې ده، خو په نورو علماء کرامو په هغه باندې تنقید کړی دی، حافظ ابن قیم ویلي چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د غاړې په مسح کې قطعاً هیڅ حدیث ثابت نه دی

وَالْمَعَانِي النَّاقِضَةُ لِلْوُضُوْءِ كُلُّ	مَاخَرَجَ مِنَ السَّبِيْلَيْنِ
اودس ماتوونکې هر هغه شی ده	کوم چې د متیازو یا د غټو بولو له لارې خارج شي

د لغاتو حل: **المعاني**: دا د معنی جمع ده مقصود، مدلول، دلته د اسبابو او علل په معنی کې ده، **الناقضة**: دا له نقض څخه د صفت صیغه ده، ماتوونکي شیان، د نقض اضافت چې کله هم کوم شي ته وکړی شي نو مقصد د هغه د ترکیبي اجزاؤ جدا کول دي، لکه نقض العظیم (ن نقضاً د هډوکي ماتیدل، **نقض البناء**: د عمارت ړنګول، او کله یې چې اضافت د معناګانو طرفته وکړی شي نو د هغې معنی د مقصود او نفع ختمول دي، لکه نقض وضوء، نقض عهد، له دوې چې کومه فایده مقصود وه هغه ختمه شوه، په اوداسه سره د لمانځه مباح کیدل مقصود وه هغه ختم شول.

تشریح المعاني: د فرائضو سننو او مستحباتو له بیان څخه له فارغ کیدو وروسته اوس د نواقض وضوء بیان دی، د اوداسه نواقض په دری ډوله بیان شوي دي (اول) له بدن څخه خارج شوی شی (دویم) په بدن کې دننه داخل شوی شی (دریم) انساني احوال او کیفیات، باقي اقسام کوم چې متفرع شوي د دوی په رڼا کې متفرع شوي دي، برابره ده که د متیازو او بولو له لارې خارج شوي وي او که له کومې بلې لارې خارج شوي وي لکه د خولې یا زخم وغیره له لارې، که د عادت مطابق وي او که د عادت خلاف وي، د متیازو او بولو له لارې داخل شوی وي لکه حقنه یا له دې پرته د خولې له لارې لکه خوراک وغیره، انساني کیفیت د عادت په ډول وي لکه ویده کیدل یا خلاف عادت وي لکه قهقهه، د عقل مغلوب کیدل، اول او دویم قسم ته ناقض وضوء حقیقي او دریم قسم ته حکمي ویل شوي دي

د قدوري د صاحب طریقه دا ده چې په لومړي فرصت کې متفق علیه مسائل راوړي له هغه وروسته اختلافي مسائل بیانوي، د همدې اصول مطابق ویلې دي چې د متیازو او بولو له لارې وتونکې شیان ناقض وضوء دي په دې باندې د ټولو اتفاق دی، د دې عبارت مطلب دا ده چې د اوداسه ماتیدو لپاره سیلان شرط ندی، په (کل ماخرج) کې د (کل) په کلمه کې دومره عمومیت دی چې دا حکم معتاد او غیر معتاد ټولو ته شامل دی، د معتاد خارج کیدو شیانو متعلق چې اودس پرې ماتیږي د ټولو پرې اتفاق دی البته د غیر معتاد په باره کې د امام مالک رحمه الله اختلاف دی، د ده په نزد دلته د نقض لپاره معتاد کیدل شرط دي، البته امام ابوحنیفه رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد په غیر معتاد سره اودس ماتیدی شي

وَالدَّمُ وَالْقَيْحُ وَالصَّدِيْدُ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْبَدَنِ	فَتَجَاوَزَ إِلَى مَوْضِعٍ
وینه، پیپ او زوه کله چې له بدن څخه ووځي	او وبهیږي هغه طرفته
يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيْرِ	وَالْقَيْءُ إِذَا كَانَ مِلأَ الْفَمِ
د کوم د پاکولو چې حکم شوی	او قی کله چې په ډکه خوله وي

د لغاتو حل: **القیح**: پیپ، په کوم کې چې د وینې آموزش نوي، **الصدید**: پیپ په کوم کې چې د وینې آموزش وي، **تجاوز**: تجاوز الموضع تجاوزاً تجاوز کول، تیریدل، **یلحقه**: (س) لحقاً ولحاقاً یو ځای کیدل، رسیدل، ټولې معناوې یې نږدې نږدې دي، **ملأ**: مصدر (س) ډک، ډکیدل، **الفم**: خوله

خلاصه: پیپ کله چې د یوه انسان له بدن څخه ووځي داسې ځای طرفته ولاړ شي د کوم چې په اوداسه یا غسل کې شریعت د هغه د پاکولو حکم کړی وي، نو په دې صورت کې اودس ماتیږي او همدارنګه په ډکه خوله قی هم اودس ماتوونکی دی.

تشریح والدم الخ: له دې مخکې د سبیلینو له لارې په وتونکو شیانو د اوداسه ماتیدلو بیان وه اوس دلته د اوداسه ماتوونکو بیان کیږي کوم چې خارج من غیر السبیلین دي، په دې موقع د ائمه ثلاثه

امام شافعي او امام زفر اختلاف دی، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد چې خارج من غير السبيلين مطلقا ناقض وضوء ندي، د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا ناقض وضوء دي، لهذا نه سيلان شرط دی او نه بلکې د قليل او کثير مقدار کوم لحاظ شوی دی، نو څکه د وينې يا د پيپ ظهور او کم قی ناقض وضوء دي، د حنفيانو په نزد دلته د ائمه ثلاثه په نزد ظهور کافي ندی بلکې سيلان شرط دی ګوا که بالفعل ندي بلکې د سيلان قوت او استعداد کافي دی، مثلا وينه په زخم باندې دپاسه په دومره مقدار کې وه چې بهيدلې شوه، مګر هغه په کومې طريقې سره سيلان بند کړ نو په داسې صورت کې اودس ماتيږي، د دې شکل دا ده چې وينه په تدريج سره بهيږي او بار بار په صفا کولو سره يې بهيدل بنديږي نو په داسې صورت کې اودس ماتيږي، او قی چې په ډکه خوله وکړی شي اودس ماتيږي

د ائمه ؤ اختلاف: د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد يوازې (صرف) د هغې ناپاکې په وتلو سره اودس ماتيږي کومه چې په خپله هم معتاد وي (هغه ناپاکي کومه چې په عام ډول د هر انسان له بدن څخه ووځي، لکه متيازې او غټې بولې) او د هغه مخرج هم معتاد وي (سبيلين) لهذا په وينه، پيپ، زوې، قي او وغيره سره اودس نه ماتيږي

د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مخرج معتاد کيدل خو ضروري دي، مګر د خارج معتاد کيدل ضروري نه دي، نو څکه په ذکر شويو شيانو سره اودس ماتيږي

په وينه د اودس په نه ماتيدلو باندې دليل د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې په ذات الرقاع غزاء کې حضرت عباد بن بشر ته درې غشي رسيدلي وو، د هغه له بدن څخه وينه بهيدله، او هغه په همداسې حالت کې لمونځ کاوه له دې واقعې معلومه شوه چې وينه اودس ماتوونکې نه ده.

خواب: په اصل حقيقت کې حضرت عباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د لمانځه او د قرآنکريم د تلاوت په خوند کې په دې اندازه غرق وو چې هغه ته د وينې وتلو هيڅ خبر نه وو، په ده باندې د حال غلبه او د استغراق کيفيت وو، له کوم څخه چې هيڅ فقهي مسئله مستنبط کيدلای نشي

(۲) دا د صحابي فعل ده، ممکنه ده چې د هغه همدا مذهب وو

(۳) د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابي دغه جزئي واقعه د صحيحه او صريحه احاديثو مقابله نشي کولای

وَالنَّوْمُ مُضْطَجِعًا	أَوْمُتَّكِئًا	أَوْمُسْتَنِدًا	إِلَى شَيْءٍ لَوْأُزِيْلَ
اوخوب په اړخ	يا تکيه وهل	يا څنګ لګول	کوم شي ته که ترې ليرې کړی شي
لَسَقَطَ عَنْهُ	وَالْغَلَبَةُ عَلَى الْعَقْلِ بِالْإِغْمَاءِ		وَالْجُنُوْنُ
نو لويږي	او د بې هوشي له امله په عقل باندې غلبه		او ليونی کيدل
وَالْقَهْقَهَةُ	فِيْ كُلِّ صَلٰوةٍ		ذَاتِ رُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ
او په زوره خندا کول	په هر داسې لمانځه کې		چې د رکوع او سجدو لرونکې وي

د لغاتو حل : **مضطجعًا** په اړخ باندې، **متكئا** تکيه لګول، **مستنداً** : ځنګ لګول، يعنې کوم ديوال ته ډډه لګول، **ازيل** له باب افعال څخه فعل ماضي مجهول لرې کېدل، **سقط** : باب (ن) مصدر سقوط کول، **اغماء** : بيهوشي داسې ناروغي ده په کومې سره چې عقل پټېږي، **جنون** : ليونی کېدل داسې ناروغي ده په کومې سره چې عقل له منځه ځي او ختمېږي، **قهقهة** : په زوره خندا کول

خلاصه : له دې مخکې د حقيقي اوداسه ماتوونکو بيان وه دلته د حکمي نواقض وضوء بيان دی، لهذا که چېرته يو انسان په ځنګ لګولو يا په تکيه لګولو يا کوم ديوال ته په ډډه لګولو سره ويده شي او د همدې شيانو د لېرې کېدو په صورت کې هغه کس لويدلی شي نو په داسې صورت کې اودس ماتيږي، همدارنګه که چېرته کوم کس بيهوشه شي په کوم کې چې انسان معتوز العقل او مغلوب العقل شي يا ليونی شي په کوم کې چې عقل له منځه ځي او ختمېږي يا هر د رکوع او سجدو لرونکې لمانځه کې په زوره وخاندي نو په داسې صورت کې هم اودس ماتيږي

تشريح : **والغلبة على العقل بالاغماء الخ** : د بيهوشي او ليونتوب حکم د اختياراتو او قدرت په ختمېدو کې له خوب څخه هم ډېر سخت دی، ځکه چې دوی دواړو ته هغه هوښياري نشته کومه چې يوه له خوب څخه بيدار شوي کس ته حاصله ده.

القهقهة : خندا په درې قسمه ده (اول) داسې په زوره خندل چې په خپله يې هم واوري او شاو خوا خلک هم د هغې آواز واوري د دې نوم قهقهه ده (دويم) داسې خندل چې نورو ته يې آواز ونه رسيږي په دې سره لمونځ فاسديږي اودس باقي پاتې کيږي د دې نوم ضحک دی (دريم) داسې خندا په کومه کې چې د غاښونو له ښکاره کېدو پرته بل څوک يې وا نه آوري په دې سره لمونځ او اودس دواړه باقي پاتې کيږي، د دې نوم تبسم دی.

پورته ذکر شوی حکم د عاقل بالغ لمونځ کوونکي لپاره دی کله چې د لمانځه په حالت کې وي.

د کتاب صاحب په مجموعې ډول اته نواقض وضوء ذکر کړي دي او د نور الايضاح صاحب دولس ښودلي دي.

وَفَرْضُ الْغُسْلِ	اَلْمَضْمَضَةُ	وَالْاِسْتِنْشَاقُ	وَغَسْلُ سَائِرِ الْبَدَنِ
او د غسل فرض	غرغره کول	په پوزه کې اوبه اچول	او د ټول بدن پرېمينځل دي
وَسُنَّةُ الْغُسْلِ		أَنْ يَبْدَأَ الْمُغْتَسِلُ	بِغَسْلِ يَدَيْهِ وَفَرْجِهِ
او د غسل سنت طريقه دا ده		چې غسل کوونکی شروع وکړي	د خپل لاسونو او شرمګاه په مينځلو سره
وَيُزِيْلُ النَّجَاسَةَ		إِنْ كَانَتْ عَلَى بَدَنِهِ	ثُمَّ يَتَوَضَّأُ
او نجاست (پليتي) لېرې کړي		که چېرته وي د هغه په بدن باندې	بيا اودس وکړي

وُضُوْءَهُ لِلصَّلٰوةِ	اِلَّا غَسْلَ رِجْلَيْهِ	ثُمَّ يُفِيْضُ الْمَاءَ عَلٰى رَأْسِهٖ
د لمانځه په شان اودس	پرته د دواړو پښو له مينځلو	بيا اوبه واچوي په خپل سر باندې
وَعَلٰى سَائِرِ بَدَنِهٖ ثَلٰثًا	ثُمَّ يَتَنَحّٰى عَنْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ	فَيَغْسِلُ رِجْلَيْهِ
او په ټول بدن باندې درې ځلې	بيا له دې ځاى څخه په څنګ شي	او پښې پرېمينځي

غسل د هغه د فرائضو او سنتو بيان

د لغاتو حل **يزيل**: افعال څخه ليرې كول، صفا كول. **يفيض**: باب افعال فعل مضارع افاض الماء اوبه توبول، بهيول. **سائر**: بقيه، مراد ټوله برخه ده. **يتنحى**: د باب تفعل فعل مضارع تنحى عن موضعه په څنګ كيدل، جدا كيدل.

خلاصه: مصنف د غسل درې فرائض بيان كړي دي (اول) غرغره كول (دويم) په پوزه كې اوبه اچول (دريم) د ټول بدن مينځل. او د غسل مسنون طريقه دا ده چې له ټولو اول دواړه لاسونه تر مړوندونو پرېمنځل شي (ځكه چې د پاكولو آله دي) او خپله شرمګاه ومينځي ځكه چې د نجاست د محل له وجهې د نجاست احتمال شته دى. كه چيرته په بدن باندې حقيقي نجاست لګيدلى وو نو هغه دې هم ليرې كړي، بيا څرنګه چې د لمانځه لپاره اودس كيدى شي هماغه اودس دې وكړى شي. البته دواړه پښې دې تر دا وخت نه مينځي له دې وروسته دې په خپل سر باندې او په ټول بدن باندې درې وارې اوبه واچوي بيا دې د غسل له ځاى څخه ولاړ شي پښې دې ومينځي. البته كه د كوم لاهل له امله د مستعمل اوبو د جمع كيدو امكان نه وو بيا د دواړو پښو په مينځلو كې تاخير ته ضرورت نشته، مثلا په كوم لوړ شي باندې ناست وي، د اوسني عصر غسل خانې خو ډيرې عصري شوې دي.

تشريح: د غسل په مقابل كې د اوداسه زيات ضرورت دى او د اوداسه محل د بدن جزء دى او د غسل محل ټول بدن دى او تقديم الجزء على الكل مسلم دى نو ځكه د اوداسه احكام د غسل په احكامو باندې مقدم كړى شوي دي.

المضمضة الخ: غرغره كول په پوزه كې اوبه اچول د امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد سنت دي، خو د احنافو په نزد فرض دي.

ثم يتوضأ وضوءه: د اصح قول مطابق د اوداسه په شان د سر مسح كول هم پكار دي، په دې عبارت سره همدې طرفته اشاره كول دي.

وَلَيْسَ عَلَى الْمَرْأَةِ	أَنْ تَنْقُضَ ضَفَائِرَهَا	فِي الْغُسْلِ
او نشته په ښځه باندې	چې خلاص كړي كوڅۍ شوي ويښتان	په غسل كې

اِذَا بَلَغَ الْمَاءُ	اُصُوْلَ الشَّعْرِ
کله چي رسيږي اوبه	بيخ د ويښتانو ته

د لغاتو حل **ينقض**: نقض الحبل (ن) نقضاً رسی خلاصول، **ضفائر**: د ضفيرة جمع ده اوبدل شوي ويښتان (کمڅی شوي)، **اصول**: جر (بيخ) هغه شی کوم چي د فرع په مقابل کي وي اوله معنی مراد ده.

تشريح **وليس علی المراة**: د غسل چي کوم حکم بيانول کيږي دا حيض او نفاس تولو له شامل دی. که چيرته د ښځي د سر ويښتانو بيخونو ته اوبه رسول کيږي نو د ويښتانو خلاصول واجب ندي، ځکه چي په دي کي مشقت دی، دا د جمهورو فقهاؤ په نزد دی، د امام احمد په نزد په حايضي ښځي باندي د ويښتانو خلاصول او بيخونو ته يي اوبه رسول لازم دي، البته د جنابت په صورت کي نشته.

المراة: دي قيد ښودلي ده چي د سړي لپاره د ويښتانو خلاصول او مينځل واجب دي، همدارنگه سږيو ته ږيري ته د اوبو رسول واجب دي ځکه چي په دي کي هيڅ مشقت نشته دی.

وَالْمَعَانِي الْمُوْجِبَةُ لِلْغُسْلِ	اِنْزَالُ الْمَنِيّ	عَلٰی وَجْهِ الدَّفْقِ
او د غسل واجب کوونکي اسباب	د مني وتل دي	په توپ وهلو سره
وَالشَّهْوَةِ	مِنَ الرَّجُلِ	وَالْمَرْأَةِ
او شهوت	له سړي څخه وي	يا له ښځي څخه

وَالْتِقَاءِ الْخِتَانَيْنِ	مِنْ غَيْرِ اِنْزَالٍ	وَالْحَيْضُ	وَالنِّفَاسُ
او د شرمگاوو يو ځای کيدل	اگر که انزال ونشي	او حيض	او نفاس

د موجبات غسل بيان

د لغاتو حل: **الدفق**: په توپ وهلو سره بهيدل، **التقاء**: مصدر يو ځای کيدل، **ختانين**: په حالت جري کي ده ختان يي تثنيه ده د سړي او ښځي ختنه (د قطع) کولو ځای.

خلاصه: د قدوري صاحب په دي عبارت کي موجبات غسل بيان کړي دي، ويلي دي چي که چيرته مني له توپ او شهوت سره وتلي وي نو د حنفيانو په نزد غسل واجب دی، د مني وتل برابره ده که له سړي څخه وي که له ښځي څخه وي، د خوب په حالت کي وي که د بيداري په حالت کي وي، همدارنگه که چيرته ختانين سره يو ځای شي او حشفه د ښځي په شرمگاه کي ډوبه شي نو په دواړو باندي غسل واجب شو که انزال اوشي او که اونشي، او حيض او نفاس هم موجبات غسل دي، گوا که دلته د څلورو موجباتو ذکر شوی دی (اول) انزال منی مع الشهوة (دويم) التقاء ختانين (دريم) حيض (څلورم) نفاس

تشريح: د حنفيانو په نزد د وجوب غسل لپاره د مني له شهوت سره وتل شرط دي، د امام مالک او امام شافعي په نزد دلته د وجوب غسل لپاره مطلقا د مني وتل کافي دي، د شهوت او عدم شهوت کوم قيد نشته، د حنفيانو په نزد بالاتفاق د وجوب غسل لپاره د مني له خپل ځای څخه د جدا کيدو په وخت کې د شهوت موندل شرط دي، مگر له عضوه تناسل څخه د وتلو په وخت کې شهوت شرط دی او که ندی په دې سلسله کې اختلاف دی، د طرفينو په نزد د مني د ظهور په وخت کې د شهوت موندل ضروري ندي، خو د امام يوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا وخت هم شهوت شرط دی، التقاء الختانين: دې جملې ښودلې ده چې نفس ادخال موجبات غسل دي که انزال اوشي او که اونشي.

د ائمه ؤ اختلاف: د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقاً د منی په وتلو سره غسل واجبيږي، برابره ده که مني له شهوت سره وتلي وي او که له شهوت پرته وتلي وي، همدا قول د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ او امام زفر رَحِمَهُ اللهُ دی

دليل: له حضرت ابو ايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه منقول دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: ﴿الماء من الماء﴾

يعني غسل په مني سره واجبيږي، دا حديث د شهوت له قيد څخه مطلق ده، لهذا د (المطلق يجرى على اطلاقه) قاعدې مطابق حديث په خپل اطلاق باندې باقي پاتې شوی

ځواب: دا حديث د مني خروج بشهوة باندې محمول دی، ځکه حديث عام ده، مذي، ودي، منی بشهوة او بغير شهوة ټولو ته شامل دی، او بالاتفاق په حديث کې ټول شيان مراد نه دي، چونکه په مني بشهوة سره بالاتفاق غسل واجبيږي لهذا حديث به په همدې باندې محمول کولی شي

د احنافو په نزد غسل په هغه وخت کې واجبيږي کله چې مني په ټوپ وهلو له شهوت سره ووځي

دليل: ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ په لغت کې جنابت ويل کيږي په شهوت سره د مني وتلو ته، لهذا په شهوت سره د منيو په انزال سره غسل واجبيږي

وَسَنَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلَ	لِلْجُمُعَةِ	وَالْعِيْدَيْنِ	وَالْإِحْرَامِ	وَعَرَفَةَ	
او سنت کړی دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غسل	د جمعې	داخترونو	د احرام	او عرفې لپاره غسل	
وَلَيْسَ فِي الْمَذِيِّ	وَالْوَدِيِّ	غُسْلٌ	وَفِيْهِمَا	الْوُضُوْءُ	
او نشته په مذي	او ودي کې	غسل	او په دغو دواړو کې	اودس دی	

د مسنون غسل ذکر

د لغاتو حل: سَنَّ: فعل ماضي سن عليهم السنة (ن) سنا طريقه مقررول، **عرفه**: نهم د ذی الحجې، **مذی**: يو ډول نرمه سپينه ماده ده کومه چې زياتره وخت له ښځې سره د مستۍ کولو په نتيجه کې ووځي، **ودی**: له مني سره مشابهت لرونکې سخته ماده ده د کومې چې يوه يا نيمه قطره له متيازو وروسته وي

خلاصه : د قدوري صاحب ویلي دي چې په څلور صورتونو کې غسل مسنون دی (اول) جمعه (دویم) اخترونه (دریم) عرفه (څلورم) احرام، د مذي او ودي وتلو په صورت کې غسل واجب ندی بلکې محض اودس کافي دی (ځینو حضراتو همدا څلور مستحب بللي دي)

تشریح سنن : د جمهورو علماؤ په نزد د جمعې ورځې غسل مسنون دی. د هدایه صاحب له امام مالک رَحِمَهُ اللهُ څخه د وجوب قول نقل کړی دی، په دې سلسله کې دومره خبره په ذهن کې وساتئ چې دا تحقیق ناقابل اعتماد دی، بلکې ابن عبدالبر مالکي او حضرت اشهب قول معتبر دی چې د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د جمعې ورځې غسل مسنون او حسن دی، له امام محمد رَحِمَهُ اللهُ څخه په مبسوط کې د جمعې ورځې د غسل متعلق د حسن لفظ منقول دی، او په همدې د حسن په لفظ کې د مسنون او مستحب دواړو احتمال دی، وجه دا ده چې متقدمینو علماؤ د حسن لفظ معنی په عموم کې استعمال کړې ده د کوم ماتحت چې مسنون مستحب بلکې واجب هم داخل شوي دي، د امام یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد د جمعې غسل د جمعې لمانځه لپاره دی او د حسن بن زیاد په نزد د جمعې غسل د جمعې د ورځې لپاره دی، نتیجه دا ده چې یو کس د جمعې غسل وکړ او د حدث لاحق کیدو له امله هغه ته د اوداسه کول دي نو د امام یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد سنت غسل ادا نشو او د حسن بن زیاد په نزد سنت ادا شول.

وَالطَّهَارَةُ مِنَ الْأَحْدَاثِ	جَائِزَةٌ	بِمَاءِ السَّمَاءِ	وَالْأَوْدِيَةِ	وَالْعُيُوْنِ
او پاکوالی له حدث څخه	روا دي	په اوبو د باران	د کندو	د چینو
وَالْآبَارِ	وَمَاءِ الْبِحَارِ	وَلَا تَجُوْزُ الطَّهَارَةُ بِمَاءٍ		
د کوهیانو	اوبه اوبو د سمندورنو	او روا ندي پاکوالي په هغو اوبو سره		
اُعْتُصِرَ	مِنَ الشَّجَرِ	وَالثَّمَرِ	وَلَا بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ	
چې نچوړ شوې وي	له ونې	اوله میوې	او نه په داسې اوبو چې غالب شوې وي پرې نور شیان	
فَأَخْرَجَهُ عَنْ طَبْعِ الْمَاءِ	كَالْأَشْرِبَةِ	وَالْخَلِّ	وَالْمَرَقِ	وَمَاءِ الْبَاقِلَاءِ
او وباسلي وي له طبعیت د اوبو څخه	لکه شربتونه	سرکه	ښوروا	د باقلي اوبه
وَمَاءِ الْوَرْدِ	وَمَاءِ الزَّرْدَجِ			
د ګلاب اوبه	او د ګجرو اوبه			

د لغاتو حل **الطهارة** څخه مراد اودس او غسل اخیستل شوي. **الاحداث** دا د حدث جمع ده، الف لام عهدي دی هر ډول ناپاک شی متیازې، بولې، حیض، نفاس، وغیره، **ماءالسماء** د باران اوبه. له سماء څخه مراد باران دی، **الاودیة** د وادی جمع ده داسې پراخې کومه چې د غرونو او اړخیو په مینځ کې وي، د صحراء اوبه مراد دي کومې چې د باران اوبو له وجهې جمع شوې وي لکه صحرانې ډنډونه، په

فارسي ورته رود ویل کیږي، **عیون** د عین جمع ده چینه، **آبار** د بئر جمع ده کوهي، **بحار** د بحر جمع ده سمندر، دریاب، **اعتصر** له باب افتعال څخه ماضي مجهول ده، نچوړ کړی شوي، حاصل کړی شوي، **شجر** ونه جمع اشجار، **ثمر** میوه جمع اثمار، **الاشربة** هر د څښاک شی مراد شربت دی. واحد الشراب، **الخل** سرکه، **العرق** ښوروا، **الباقلاء** پہ دې کې دوه شکلونه نور دي الباقلی او الباقلی لوبیا، **ورد** ګلاب ګل، **وردج** ګاجره.

خلاصه د قدوري صاحب په طهارتینو یعني اودس او غسل څخه له فارغ کیدو وروسته هغه شیان بیان کړي دي په کومو سره چې پاکي او طهارت حاصلیدلی شي، ویلي دي چې د باران اوبه، د کندو اوبه، د ډنډونو اوبه، د چینو اوبه، د کوهیانو اوبه د دریابونو او د سمندرونو په اوبو سره له هر ډول نجاست او حدث څخه پاکي حاصلیدلی شي، برابره ده که حدث اصغر وي که اکبر وي، او له ونو څخه یا له میوو څخه په ویستل شویو اوبو سره پاکي حاصلول روا ندي، همدارنګه په داسې اوبو سره پاکي حاصلول شرعا معتبر ندي له کومو سره چې کوم بل شی ګډ کړی شي په اوبو باندې غالب شي تردې چې اوبه له خپل طبیعت څخه وباسي (او د اوبو طبیعت رقت او سیلان دی) لکه شربت، سرکه، ښوروا، عرق ګلاب، عرق لوبیا، عرق زردک، د لوبیا له عرق څخه مراد دي چې کومه لوبیا په اوبو کې پخه کړی شي او په هغې دومره تغیر راغلي وي چې په یخیدو سره په هغو کې ټینګوالی راشي.

تشریح **جائزة** دا لفظ د دې لپاره استعمال شوی دی چې که چیرته تولې اوبه یا کوم یو موجودې وي او په وخت کې هم پراخي وي نو په دې صورت کې روا دي، لیکن که چیرته د ټول سهولت باوجود وخت تنګ وه نو په دې وخت کې کوم هم موجود وي په هغه سره پاکي حاصلول واجب دي.

بماء اعتصر له میوې څخه وباسل شوې یا نچوړ شوې اوبه ماء مطلق ندي، نو ځکه بالاتفاق په هغو سره اودس کول روا ندي، مګر د اعتصر مجهول صیغه دا ښودلې ده چې که چیرته اوبه په خپله له انګورو وغیره څخه څڅیدلې وي نو په داسې اوبو سره اودس صحیح کیږي، په هدایه او جوامع یوسف کې همداسې لیکل شوي دي.

ولا بماء غلب علیه غیره د غلب غیره قید ښودلې ده چې که چیرته اوبه غالبې او نور شیان مغلوب وه نو په داسې اوبو سره پاکي حاصلول صحیح دي.

یوه مسئله قابل غور ده چې که په اوبو باندې د کوم بل شي غلبه اوشي نو په دې غلبه کې د اوصافو لحاظ کول کیږي که د اجزاؤ، په دې سلسله کې د فقهاؤ اختلاف دی، مګر فیصله کوونکی قول دا ده چې اعتبار اجزاؤ لره کیږي، د هدایه صاحب او امام ابویوسف د دې قائل دي، د صاحب قدوري او امام محمد په نزد د اوصافو او الوان اعتبار کول کیږي، تفصیلي بحث په هدایه کې وګورئ.

وَتَجُوزُ الطَّهَارَةُ	بِمَاءٍ	خَالَطَهُ شَيْءٌ طَاهِرٌ	فَغَيَّرَ أَحَدَ أَوْصَافِهِ
او روا ده پاکي په	داسې اوبو	له کومو سره ګډ شي پاک شی	او د اوبو اوصاف بدل کړي

كَمَاءِ الْمَدِّ	وَالْمَاءِ الَّذِي	يَخْتَلِطُ بِهِ الْأُشْنَانُ	وَالصَّابُونُ	وَالزَّعْفَرَانُ
لكه د سيلاب اوبه	او هغه اوبه	په كومو كې چې كډ شوي وي اشنان	صابون	او زعفران
وَكُلُّ مَاءٍ دَائِمٍ		إِذَا وَقَعَتْ فِيهِ نَجَاسَةٌ		لَمْ يَجُزِ الْوُضُوءُ بِهِ
او هر ولاړې اوبه		چې پريوځي په هغو كې نجاست		نو روا ندى اودس په همدې اوبو
قَلِيلًا كَانَ	أَوْكَثِيرًا	لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ		أَمَرَ بِحِفْظِ الْمَاءِ
كه كمې وي	كه زياتې وي	ځكه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ		د اوبو د پاكو ساتلو حكم كړى
مِنَ النَّجَاسَةِ	فَقَالَ	لَايَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ		فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ
له نجاست څخه	فرمايلي دي	متيازې دې نكوي له تاسو څخه هيڅوك		په اوبو ولاړو كې
وَلَايَغْتَسِلَنَّ فِيهِ	مِنَ الْجَنَابَةِ	وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ		إِذَا اسْتَيْقَظَ
نه دې غسل كوي په هغو كې	د جنابت څخه	او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي		كله چې بيدار شي
أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ		فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ		
په تاسو كې كې كوم كس له خپل خوب څخه		نو هغه دې نه داخلوي لاس خپل په لوښي كې		
حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا		فَإِنَّهُ لَايَدْرِي		أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ
تر دې چې وې مينځي درې وارې		ځكه هغه خبر ندى		چيرته شپه تيره كړې لاس د ده

د لغاتو حل: **خالطة**: له باب مفاعله څخه دى يو ځاى كيدل، **المد**: سيلاب جمع مدود، **يختلط**: باب افتعال څخه يو ځاى كيدل، **الاشنان**: يو قسم نبات ده كوم چې د لاس په مينځلو كې استعماليدى شى، **دائم**: اسم فاعل ولاړې، باب (ن) څخه ده، **يبولن**: فعل مضارع بانون ثقيله متيازې كول باب (ن) څخه مصدر بول دى، **استيقظ**: باب استفعال څخه بيداريدل، **باتت**: باب (ض س) بيتا وبيوتة شپه تيرول.

خلاصه: كه چيرته په اوبو كې كوم شى ګډ شي او په هغه سره د اوبو درى اوصاف رنګ، خوند او بوى كې كوم يو وصف بدل شي په همداسې اوبو سره اودس كول روا دي لكه د سيلاب اوبه، يا د اشنان يا د صابون يا د زعفران اوبه، كه چيرته اوبه يو ځاى دريدلې وي او په هغو كې كوم نجاست ولويږي نو په هغو اوبو سره اودس نه روا كيږي، دغه نجاست برابره ده كه لږ وي كه زيات وي، ځكه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له نجاست څخه د اوبو د ساتلو حكم كړى دى، د دې په دليل كې د قدوري صاحب د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه فرمان نقل كړي دي، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد الخ په ترجمه دې وكتل شي.

تشريح: **وتجوز الطهارة**: په دې عبارت كې دې خبرې طرفته اشاره ده چې كه چيرته د اوبو دوه وصفه يا زيات متغير شول نو په هغو سره اودس كول روا ندي، مګر د اصح قول مطابق اودس كول روا دي.

والماء الذي يختلط به : د امام شافعي په نزد زعفران او همدا ډول هغه شیان کوم چې د زمکې له جنس څخه نشي شمار کیدی د هغو په اوبو سره اودس کول روا ندي، ځکه د ده په نزد هغو مقید اوبه ویل شوي دي کله چې هغه مطلق هم دي لکه چې د کوهي او چینې اوبه مطلق دي.

وكل ماء دائم اذا وقعت : د ولاړو اوبو چې کوم حکم پورته ذکر کړی شوی هغه د احنافو په نزد دی، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد په اوصافو ثلثه ؤ که چیرته کوم وصف نشته نو د وقوع نجاست باوجود اودس کول صحیح دي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد اوبه که چیرته د دوه مشکو په مقدار وې نو په هغو سره اودس روا دی او د کمو په صورت کې ناروا دی.

وَأَمَّا الْمَاءُ الْجَارِيْ	اِذَا وَقَعَتْ فِيْهِ	نَجَاسَةٌ	جَازَ الْوُضُوْءُ			
او هر چې جاري اوبه دي	کله چې ولوېږي په هغوکې	نجاست	نو اودس روا دی			
اِذَا لَمْ يُرَ لَهَا أَثَرٌ	لِأَنَّهَا لَا تَسْتَقِرُّ	مَعَ جَرَيَانِ الْمَاءِ				
ترڅو چې ونه لیدل شي د هغه اثر	ځکه چې نشي پاتې کیدی	د اوبو له جریان سره				
وَالْغَدِيْرُ الْعَظِيْمُ الَّذِيْ	لَا يَتَحَرَّكُ أَحَدُ طَرَفَيْهِ					
او لوی ډنډ هغه ده	د کوم چې نه ښوري یو د طرفونو یې					
بِتَحْرِيْكِ الطَّرَفِ الْآخَرِ	اِذَا وَقَعَتْ فِيْ أَحَدِ جَانِبَيْهِ	نَجَاسَةٌ				
په ښورولو د بل طرف سره	کله چې ولوېږي د هغه په یوه طرف کې	نجاست				
جَازَ الْوُضُوْءُ	مِنَ الْجَانِبِ الْآخَرِ					
نو روا دی اودس	له هغه بل طرف نه					
لِأَنَّ الظَّاهِرَ	أَنَّ النَّجَاسَةَ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ	وَمَوْتُ مَا لَيْسَ لَهُ				
ځکه ښکاره ده	چې نجاست ندی رسیدلی هغه ته	او مړ کیدل د هغه چې نه وي هغه لره				
نَفْسٌ سَائِلَةٌ	فِي الْمَاءِ	لَا يُفْسِدُ الْمَاءَ	كَالْبَقِّ	وَالذُّبَابِ	وَالزَّنَابِيْرِ	وَالْعَقَارِبِ
وینه بهیدونکې	په اوبو کې	نو نه فاسدوي اوبه	لکه غوماشی	مچ	غومبس	لړم
وَمَوْتُ مَا يَعِيْشُ فِي الْمَاءِ	لَا يُفْسِدُ الْمَاءَ كَالسَّمَكِ وَالضِّفْدَعِ وَالسَّرَطَانِ					
او مړ کیدل د هغه کوم چې ژوند کوي په اوبو کې	نه فاسدوي اوبه لکه ماهي چنلاخ کونیکبر					

د لغاتو حل : **اثر** : اوصاف ثلاثه یعنې رنګ، خوند او بوی، **جریان** : مصدر دی جاري کیدل، بهیدل، **الغدیر** : نهر، ډنډ، **البق** : مچر (غوماشی) **الذباب** : مچ، **الذنبور** : د ذنبور جمع ده غومبس، **العقارب** : د

العقرب جمع ده لړم، **السمك** : ماهي، **الضفدع** : چونډخ، **السرطان** : کينسر يعنې هغه دانه په کومه کې چې د کونيکبر د پښو په شان رګونه ترسترګو کيږي، دلته اوله معنی مراد ده.

خلاصه : دلته څلور مسئلې بيان شوې دي (اول) په جاري اوبو کې که چيرته نجاست ولوېږي نو په هغو سره اودس کول روا دي، مګر شرط دا ده چې په هغو کې د ګندګي او نجاست کوم اثر ونه ليدل شي، ځکه چې د اوبو د بهيدو په مقابله کې دريدلی نشي (دويم) او لوی ډنډ يا حوض د کوم د يوه طرف په حرکت سره بل طرفته د هغه اثر نه رسيږي که چيرته د هغه په کوم طرف کې نجاست ولوېږي نو په دويم طرف کې اودس کول روا دي، ځکه په ظاهره د يوه طرف د څنډې د نجاست اثر دويم طرفته نشي رسيدلی، ځکه چې د حرکت اثر د نجاست په مقابل کې تيز رسيدلی شي (دريم) داسې خناور په کوم کې چې بهيدونکې وينه نوي د هغه په مړينې سره اوبه نه ناپاکه کيږي، لکه غوماشی، غومبس، مچ، لړم وغيره (څلورم) که چيرته د اوبو خناور وه او په اوبو کې مړ شي نو اوبه که کمې وي که ډيرې وي د هغه په مړينې سره نه ناپاکه کيږي، لکه چونډخ او کونيکبر.

تشريح : **الماءالجاري** : د جاري اوبو په تعريف کې مختلف اقوال دي (اول) په عام عرف کې کومو ته چې جاري ويل شوي هغه جاري اوبه دي (دويم) چې اوبه دومره اندازه وي چې کله اودس کوونکی دوباره له اوبو لپه ډکوي نو هغه ته نوې اوبه په لاس کې ورځي او لومړی اوبه بهيږي (دريم) که چيرته کوم کس عرضاً خپل لاس په اوبو کې کيږدي نو اوبه نه دريږي، لومړی قول زيات ظاهر او دويم قول زيات مشهور دی.

الغديرالعظيم : په غټ ډنډ کې حرکت لره اعتبار دی، په دغه حرکت کې تحريک بالاغتسال يا تحريک باليد يا بالوضوء لره اعتبار دی په دې کې اختلاف دی، امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ تحريک بالاغتسال (غسل) معتبر منلی دی، د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد په يوه روايت کې تحريک باليد په دويم روايت کې تحريک بالوضوء معتبر دی، خو ابو سليمان جوزاني د سهولت په نظر کې نيولو سره مساحت (د پيمائش) اعتبار کړی دی، يعنې هغه ډنډ يا حوض چې لس ګزه اوږد او لس ګزه پلن وي، عامو مشائخو همدا قول غوره کړی دی او همدا مفتی به دی، او د ژوروالي اندازه دا ده چې په لپه سره د اوبو را اخيستو په وخت ژمکه نه ترسترګو کيږي همدا صحيح دی.

جازالوضوءمن الجانب الاخر : جمهور خو اوبه پاکې ګڼي، خو له شافعي څخه دوه قولونه منقول دي، يو قول د احنافو په شان دی د جمهورو او شافعيانو په نزد همدا معتبر دی او دويم قول د ناپاکي دی.

موت مايعيش فی الماء : په دغه سلسله کې صرف د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ اختلاف دی، ده صرف د ماهي استثناء کړې ده، يعنې د چونډخ او کونيکبر په مړينې سره اوبه ناپاکه کيږي.

فِي طَهَارَةِ الْأَحْدَاثِ	اِسْتِعْمَالُهُ	لَايَجُوْزُ	وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ
په پاکولو د احداثو کې	استعمال د دوي	روا ندي	او په مستعملو اوبو

وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ	كُلُّ مَاءٍ	أُزِيلَ	بِهِ	حَدَثٌ
او مستعملې اوبه	هر هغه اوبه دي	چې ليرې شوي وي	په هغو سره	نجاست
اَوِاسْتُعْمِلَ	فِي الْبَدَنِ	عَلَى وَجْهِ الْقُرْبَةِ		
يا استعمال شوې وي	په بدن کې	د الهي قربت په ډول		

د مستعمل اوبو بيان

تشريح: اوس د مستعمل په سلسله کې څلور نکته قابل بحث دي (اول) وجه استعمال (دويم) د استعمال وخت (دريم) د هغو اوبو صفت (څلورم) د اوبو حکم.

(اول) وجه استعمال: وضاحت يې دا ده چې د ابوعبدالله جرجاني رَحِمَهُ اللهُ په تحقيق د ائمه ثلاثه په نزد د قربت نيت يا د حدث ازاله په دوی کې د يوه په موندلو سره اوبه مستعملې کيږي، خو ځينو د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ طرفته صرف د قربت نيت منسوب کړی دی، مګر د هغو مذهب دا ده چې د حدث ازاله اوبه مستعملې کوي، د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف د حدث ازاله اوبه مستعملې کوي.

(دويم) د استعمال وخت: ډيرو فقهاؤ له اندام څخه له جدا کيدو وروسته په کوم ځای کې د استقرار شرط لګولی دی، ليکن د احنافو او محققينو مشائخو مذهب دا ده چې له اندام څخه په جدا کيدو سره اوبه مستعملې کيږي.

(دريم) د مستعمل اوبو صفت: په دغه سلسله کې له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ څخه دری روايتونه دي (اول) د حسن بن زياد په روايت نجس په نجاست غليظه دي (دويم) د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په روايت نجاست خفيفه دي (دريم) د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په روايت طاهر غير مطهره دي، او د امام صاحب همدا اخيرنی قول مشهور دی.

(څلورم) د اوبو حکم: د امام محمد مسلک او د امام ابو حنيفه په يوه روايت کې طاهر غير مطهر دي، يعنې په همدې اوبو سره دوباره اودس يا غسل صحيح ندي، البته حقيقي نجاست ليرې کولی شي، له امام مالک څخه همدا سې يو روايت او د امام شافعي او امام احمد يو قول منقول دی، د امام زفر او يو قول د امام شافعي دا ده چې با اودسه کس د اوداسه اوبه مستعمل طاهر او مطهر دي ليکن د بې اودسه کس د اوداسه اوبه مستعمل طاهر غير مطهر دي، دريم قول د امام شافعي او امام مالک د طاهر او مطهر دی.

وَكُلُّ إِهَابٍ	دُبِغَ	فَقَدْ طَهُرَ	جَازَتِ الصَّلٰوةُ فِيْهِ	وَالْوُضُوْءُ مِنْهُ
او هر پوستکی	چې آش کړی شي	نو پاکيږي	روا دی لمونځ کول په هغه	او اودس کول له هغه
إِلَّا جِلْدِ الْخِنْزِيْرِ	وَالْآدَمِيِّ	وَشَعْرُ الْمَيْتَةِ	وَعَظْمُهَا طَاهِرٌ	
مګر پوستکی د خنزير	او د انسان پوستکی	او ويښتان د مرداري	او هډوکي پاک دي	

څرمنې ته د اش ورکولو ذکر

د لغاتو حل : **اهاب** : جمع يې اهب او أهُب ده، له دباغت مخکې ورته اهاب وايي او له دباغت وروسته ورته اديم وايي او د جلد لفظ په دواړو کې مشترک دی.

خلاصه : پوستکی ته له دباغت ورکولو سره دری مسئلې متعلق دي (اول) د هغه پوستکي پاکيدل د دې تعلق له کتاب الصيد سره دی (دويم) له د لباس جوړول اغوستل يې او لمونځ ورباندې کول د دې تعلق له کتاب الصلوة سره دی (دريم) له هغه مشکيزه جوړول اودس ورباندې کول د دې تعلق له دې باب سره دی، د حنفيانو په نزد د خنزير او انسان له پوستکي پرته هر پوستکي ته چې دباغت ورکړی شي پاکيږي، دباغت که هر قسم وي، لهذا د دباغت شوي پوستکی لباس اغوستل لمونځ ورباندې کول او د هغه له مسکيزې د اوبو را اخيستل اودس ورباندې کول روا دي.

تشريح : **وکل اهاب** : د دباغت دوه قسمونه دي (اول) حقيقي کوم چې د مختلفو مصالحو (دارو) په ذريعه کول کيږي، په دې سره د پوستکی باطل ټول رطبتونه له منځه ځي (دويم) حکمي، په دې کې دارو (مصالحه) نشي استعماليدی بلکې محض په ګرمي، خاورو مالګه او د هوا په ذريعه دباغت ورکول کيږي، له حقيقي دباغت وروسته د اوبو په لګيدلو سره کوم فرق نراځي، مګر د حکمي دباغت په سلسله کې فقهاؤ ليکلي دي چې د اوبو په لګيدلو سره څرمنه نه ناپاکه کيږي، د صاحب قدروي مراد عموم دباغت دی.

د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مرداري پوستکی په دباغت سره پاکيدی نشي، مګر د جامد شيانو لپاره له دباغت وروسته استعماليدی شي او د سيال شيانو لپاره ممنوع دی.

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د حنفيانو طرفته مائل دی پرته د سپي په پوستکي د ده په نزد د سپي پوستکی د خنزير په شان دی، همدارنګه د شافعيانو په نزد حقيقي دباغت لره اعتبار دی.

د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په نزد د مرداري پوستکی په دباغت سره نه پاکيږي، ليکن له دباغت وروسته د استعمال په سلسله کې دوه روايتونه دي، په يوه روايت کې مطلقا استعمال روا ندی او په دويم روايت کې استعمال روا دی ديته ترجيح حاصله ده (الفقه الاسلامي وادلته) د همدې ائمه ؤ دلائل په هدايه کې دې وکتل شي.

وشعر الميتة : د مرداري دا شيان پاک دي (اول) ويښتان (دويم) ښکرونه (دريم) وړې (دريم) نوکان (څلورم) وزرونه (پنځم) مښوکه، د بحث ماحصل دا ده چې هر داسې شی پاک دی په کوم کې چې ژوند نوي، البته خنزير له دې ځخه مستثنی دی، ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد بالکل ناپاک دي.

وَاِذَا وَقَعَتْ فِي الْبِئْرِ نَجَاسَةٌ نُزِحَتْ وَكَانَ نَزْحُ مَافِيْهَا مِنَ الْمَاءِ

او چې ولويږي په کوهي کې نجاست نو ودې باسل شي او دې وباسل د هغه چې په کوهي کې دي له اوبو

طَهَارَةً لَهَا فَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا فَأْرَةٌ أَوْعَصْفُوْرَةٌ أَوْصَعْوَةٌ أَوْسُوْدَانِيَّةٌ
دا د کوهي لپاره پاکي شوه که چيرته مړ شي په کوهي کې موږک چڼچڼه يا کوچنۍ مرغۍ يا توره مرغۍ
أَوْسَامٌ أَبْرَصَ نُزِحَ مِنْهَا مَابَيْنَ عِشْرِيْنَ دَلْوًا اِلَى ثَلَثِيْنَ بِحَسْبِ كِبْرِ الدَّلْوِ
يا کربوړې نو ودې باسل شي له کوهي څخه له شلو تر ديرشو پورې بوقې په اندازه د غټوالي د بوقو
وَصِغَرِهَا وَاِنْ مَاتَتْ فِيهَا حَمَامَةٌ أَوْدَجَاجَةٌ أَوْسِنَّوْرٌ نُزِحَ مِنْهَا
او کوچنوالي سره که چيرته مړه شي په دې کې کفتره يا چرګه يا پيشو نو ودې باسل شي له هغه
مَابَيْنَ أَرْبَعِيْنَ دَلْوًا اِلَى خَمْسِيْنَ وَاِنْ مَاتَتْ فِيهَا كَلْبٌ أَوْشَاةٌ أَوْآدَمِيٌّ
له څلوېښتو تر پنځوسو پورې بوقې او که چيرته مړ شي په دې کې سپی يا پسه يا انسان
نُزِحَ جَمِيْعُ مَافِيهَا مِنَ الْمَاءِ وَاِنْ انْتَفَخَ الْحَيْوَانُ فِيهَا أَوْتَفَسَّخَ
نو ودې باسل شي ټومره چې پکې دې اوبه او که وپړسيږي ځناور په کوهي کې يا وشرېږي
نُزِحَ جَمِيْعُ مَافِيهَا صَغُرَ الْحَيْوَانُ أَوْكَبُرَ
نو ودې باسل شي ټولې هغه کومې چې پکې وي ځناور که کوچنی وي او که لوی

دکوهي مسائل

د لغاتو حل : نزحت : فعل ماضي مجهول باب (ف) څخه نزح البئر نزحًا اوبه وباسل تردې پورې چې ډېرې کمې شي يا ختمې شي، د کوم کوهي چې زياتې يا ټولې اوبه وباسل شي جمع انزاح، **عصفور** : چڼچڼه، له کبوترې کوچنۍ (وړه) مرغۍ جمع عصافير، **سام‌ابرص** : کربوړې، کبر : (ک) بالضم والکسر د شي لويه غټه، برخه، **سنور** : پيشو، انتفخ : باب افتعال څخه پړسيدل، **تفسخ** : باب تفعل ماضي ده دا لفظ د مړي لپاره مخصوص دی، شريدل، ټوټې ټوټې کيدل

خلاصه : د کوهي له اوبو سره د تعلق په بنياد باندې دا بحث له احکام المياه سره بيان شوی دی، او د نزحت نسبت د بئر طرفته ذکر المحل وارادة الحال مجازي دی، لکه چې ارشاد باري تعالی دی ﴿واسئل القرية﴾ اهل القريه مراد دي.

له دې مخکې دا بيان تير شوی دی چې په کمو اوبو کې نجاست ولوېږي نو د ټولو اوبو ناپاک کيدو له وجهې توی کيږي، مگر په کوهي کې په داسې کيفيت باندې په څينو صورتونو کې د ټولو اوبو د وباسلو حکم نشته دی، له همدې امله د همدې اختلاف په نظر کې نيولو سره په مستقل ډول احکام جلا بيان شوي دي

په ياد ولرئ کوم ځناور چې په کوهي کې ولوېږي د هغه اووه شکلونه دي، څکه هغه به يا کوچنی وي لکه موږک وغيره يا به درميانه وي لکه کبتره وغيره يا به غټ وي لکه پسه وغيره، بيا په دوی کې هر

بو يا ژوندی را وباسل شوی وي يا مړ، که چیرته مړ دی نو د هغه دوه شکلونه دي پړسيدلی يا شړيدلی به وي يا به نوي.

لاندي د متن ماحصل وړاندې شوی، په دې کې يو حکم عمومي او څلور مسئلې بيان شوي دي (اول) که چيرته په کوهي کې کوم نجاست ولويږي لکه متيازې، شراب، وينه يا خنزير او که نجاست که لږ وي که زيات وي نو د کوهي ټولې اوبه وباسل کيږي او له کوهي څخه د اوبو وباسل د کوهي لپاره هم طهارت دی، يعنې کوهي پاکيږي، د هغه د ديوالونو مينځل ضروري ندي، محض د اوبو په وباسلو سره ټول کوهي پاکيږي.

(اوله مسئله) که چيرته په کوهي کې موږک يا مرغۍ يا د دوي په شان کوم خناور ولويږي او مړ شي او سمدستي راوباسل شي نو له شلو څخه تر ديرشو بوقو پورې د اوبو راوباسلو حکم دی، د شلو وباسل واجب او د ديرشو وباسل مستحب دي، که چيرته بوقه غټه وي نو شل او که وړه وي نو ديرش بوقې.

(دويمه مسئله) که چيرته کبتره يا چرګه يا پيشو ولويږي او مړه شي نو له څلوېښتو څخه تر پنځوس بوقو پورې وباسل کيږي، د څلوېښتو وباسل واجب او د پنځوسو مستحب دي، او په يوه روايت کې د شپيتو وباسل مستحب دي.

(دريمه مسئله) که چيرته په کوهي کې سپی يا پسه يا انسان ولويږي او مړ شي نو د کوهي د ټولو اوبو وباسل واجب او ضروري دي.

(څلورمه مسئله) که چيرته خناور په کوهي کې ولويږي مړ شي او پړسيږي نو د کوهي ټولې اوبه وباسل کيږي برابره ده که خناور کوچنی وي که غټ وي.

تشريح: واضحه دې وي چې د کوهي د احکامو او د مسائلو مدار په قياس او رأيه باندې ندي، بلکې په سلف اثار او نقول باندې دي.

فَإِنْ مَاتَ فِيهَا فَارَةٌ پورته چې کوم حکم د موږک يا د پيشو په باره کې بيان شوی دی، دا په داسې صورت کې ده کله چې له ويرې (خوف) او زخمي کيدو پرته لويدلي وي، مګر که چيرته موږک له پيشو څخه وويريږي يا پيشو له سپي ووريږي يا زخمي شوي ولويږي که ژوندي هم راوباسل شي بيا هم د ټولو اوبو د وباسلو حکم دی، ځکه چې په همداسې صورت کې يې متيازې تويږي او متيازې ناپاکې دي، د موږک په سلسله کې چې کوم حکم بيان شوی دی هغه له يوه څخه تر څلورو پورې دی، که چيرته له پنځو څخه تر نهو پورې موږکان ولويږي نو تر څلوېښتو بوقو پورې وباسل واجب دي، او د لسو په صورت کې د ټولو اوبو وباسلو حکم دی.

وَعَدَدُ الدِّلَاءِ يُعْتَبَرُ	بِالدَّلْوِ الْوَسْطِ الْمُسْتَعْمَلِ
او شمار د بوقو معتبر دی	په هغې درميانه بوقې سره استعماليږي

لِلْآبَارِ فِي الْبُلْدَانِ	فَإِنْ نُزِحَ مِنْهَا	بِدَلْوٍ عَظِيمٍ
د کوهي ګانو لپاره په ښارونو کې	که چيرته وباسل شي له هغه	په غټې بوقې سره
قَدْرَ مَا يَسَعُ مِنَ الدِّلَاءِ الْوَسَطِ	أُحْتُسِبَ	بِهِ
په اندازه د هغه چې ځائيږي په درميانه بوقو کې	نو حسابيږي به	په هغو سره
وَإِنْ كَانَ الْبِئْرُ مَعِيناً	لَايُنْزَحُ	وَوَجَبَ نَزْحُ مَا فِيهَا
او که چيرته کوهي جاري وو	نشي وباسل کيدی	او ضروري وي وباسل د هغو چې پکې دي
أُخْرِجُوا مِقْدَارَ مَا فِيهَا مِنَ الْمَاءِ	وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَسَنِ رَحِمَهُ اللهُ	
نو ودې باسل شي په اندازه د هغو چې پکې دي له اوبو څخه	او له امام محمد رَحِمَهُ اللهُ څخه مروي دي	
أَنَّهُ قَالَ	يُنْزَحُ مِنْهَا	مِائَتَا دَلْوٍ إِلَى ثَلٰثِ مِائَةٍ
هغه ويلي	ودې باسل شي له هغه	له دوه سوه بوقو څخه تر درې سوه پورې

د لغاتو حل : **الدلاء** : د دلو جمع بوقه، **الابار** : بير جمع کوهي، **بلدان** : د بلد جمع ښار، **يسع** : وسع المکان (س) سعة کشاده کيدل، ځائيدل، په ترجمه کې دويمه معنی لحاظ شوې ده، **احتسب به** : دا له باب افتعال څخه ده فعل ماضي مجهول ده احتسب به شمار کول، حساب لګول، **معيناً** : چينه لرونکی (چشمه دار) او جاري اوبه.

خلاصه : د وجوبي مقدار د وباسلو په سلسله کې هغې درميانه بوقې ته اعتبار ورکول کيږي د کومو استعمال چې عموما په ښارونو کې په کوهي ګانو کې کيږي، يعنې د هر کوهي هغه بوقه په کومې چې د هغې اوبه را وباسل کيږي، او که چيرته يو چا د غټې بوقې په ذريعه له کوهي اوبه را وباسلې کومه چې د درميانه بوقې مساوي شوه نو کافي شمارل کيږي، او که چيرته کوهي د چشمه دار کيدو له امله ټولې اوبه يې نشواى وباسل کيدی نو دا وخت د موجوده اوبو وباسل کافي بلل شوي دي.

تشريح : **عددالدلاء** : که چيرته د کوم کوهي بوقه مقرره نوي نو په داسې صورت کې هغه بوقه معتبره کيږي په کومه کې چې د يو صاع اوبو ګنجايش وي، او له صاع څخه د کم زيات بوقې حساب د يوه صاع په بوقې سره کيږي، که چيرته غټه بوقه د شلو يا ديرشو برابره وه نو محض د يوې بوقې وباسل کافي کيږي (که چيرته همدا مقدار واجب وي) ځکه چې د واجب مقدار وباسل حاصل شول بيا د بوقو په مقدار کې زياته برخه (له نيمايي زياته بوقې) اعتبار للاکثر حکم الکل لاندې کيږي.

وان کان البير معيناً لاينزح الخ : د موجودو اوبو متعلق شپږ قولونه دي خو مفتی به قول هغه ده کوم چې د کتاب صاحب نقل کړی دی يعنې چې له دوه سوه څخه تر درې سوه پورې بوقې دې وباسل شي

د جاري کوهي حکم - د مسئلې صورت دا ده که چيرته په کوهي کې دومره سورې وي چې ټولې اوبه نشي وباسل کيدلی، څومره اوبه چې وباسي په هماغه اندازه نورې اوبه له هغه ځخه راووځي، نو په داسې صورت کې حکم دا ده چې د نجاست لويدو په وخت کې په هغه کې چې څومره اوبه موجودې وې د هغو اندازه دې وکړي او په هماغومره اندازه دې وباسل شي، که نه نو درې سوه بوقې دې وباسي کوهی پاکيږي.

د ائمه ؤ اختلاف : (۱) د نجس کوهي پاکولو لپاره دې دومره اوبه وباسل شي چې اوبه هغه وچ او مغلوب کړي.

(۲) هغه کسان کوم چې د اوبو په پيژندلو کې مهارت لري هغوی دې اندازه وکړي، څومره بوقې چې هغوی معلومې کړي هومره دې وباسل شي، لومړی (اول) قول له امام صاحب ځخه منقول دی، او دويم قول له ابو نصر محمد بن سلام ځخه منقول دی).

(۳) کوهي ته دې رسۍ (پړی) ور واچول شي چې څو لاسه اوبه پکې دي، بيا چې څو بوقې وباسل شي بيا دې رسۍ (پړی) ور واچول شي چې څو لاسه اوبه کمې شوې، په همدې حساب سره دې اوبه وباسل شي، مثلاً چې رسۍ ور واچول شي او وليدل شي چې لس لاسه اوبه دي، له سلو بوقو وباسلو وروسته بيا رسۍ ور واچول شي نو وليدل شي چې يو لاس کمې شوې دي، نو نهه سوه نورې بوقې دې هم وباسل شي

(۴) په کوهي کې چې په څومره اندازه اوبه دي په هومره اندازه ژور خای دې وکنستل شي، او بيا دې دومره اندازه اوبه وباسل شي چې همدغه ژور شوی خای ورباندې ډک شي، دغه دواړه قولونه له امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ ځخه منقول دي.

(۵) له دوو سوو ځخه تر درې سوه پورې بوقې دې وباسل شي.

(۶) له دوه نيم سوه ځخه تر درې سوه پورې دې وباسل شي، دغه دواړه قولونه له امام محمد رَحِمَهُ اللهُ ځخه منقول دي

د خلکو د آسانۍ په خاطر فتوی د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په قول باندې ده (۱)

وَإِذَا وُجِدَ فِي الْبِئْرِ	فَارَةٌ مَيِّتَةٌ	أَوْ غَيْرُهَا	وَلَا يَدْرُوْنَ
او کله چې پيدا شي په کوهي کې	موږک مړ شوی	يا بل شی	او خلکو ته معلومه نه وي
مَتَى وَقَعَتْ	وَلَمْ تَنْتَفِخْ وَلَمْ تَنْفَسِخْ		أَعَادُوْا صَلٰوةَ يَوْمٍ
چې کله ور لويدلی دی	پړسيدلی او شريدلی نه وي		نو را ودې ګرځوي لمنځونه د يوې ورځې
وَلَيْلَةٍ	إِذَا كَانُوْا تَوَضَّأُوْا مِنْهَا		وَغَسَلُوْا كُلَّ شَيْءٍ أَصَابَهُ
او د يوې شپې	که يې اودس کړی وي په هغو		او ودې مينځې هر هغه شی چې رسيدلې وي

(۱) البحر الرائق، ج: ۱، ص: ۱۲۹، اللباب في شرح الكتاب، ج: ۱، ص: ۵۰

مَآئُهَا	وَاِنِ انْتَفَخَتْ أَوْتَفَسَّخَتْ	أَعَادُوْا صَلٰوةَ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ
د هغه اوبه	او كه چيرته پړسيدلى يا شړيدلى وي	نو را ودې ګرځوي لمنځونه د دريو ورځو

وَلَيَالِيْهَا	فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ	وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ
او دريو شپو	د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په قول	او ويلي دي امام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ او محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ

لَيْسَ عَلَيْهِمْ	إِعَادَةُ شَيْءٍ	حَتّٰى يَتَحَقَّقُوْا	مَتٰى وَقَعَتْ
نشته په دوى باندې	د هيڅ شي راګرځول	تردې چې ثابته كړي	كله ور لويدلى دى

تشريح : وغسلوا كل شئ اصابه ماؤها : بيان كړى شوى حكم په هغه صورت كې ده كوم وخت چې د اوبو استعمال د حدث اصغر يا حدث اكبر يا د حقيقي نجاست د ازاله لپاره شوى وي، ليكن كه چيرته مذكور درى شيان مقصود نه وه بلكې اودس يا غسل يا د جامو مينځل وه نو په داسې صورت كې بالاتفاق اعاده لازم نده.

وَسُوْرُ الْأٰدَمِيِّ	وَمَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ	طَاهِرٌ	وَسُوْرُ الْكَلْبِ
جوټه د انسان	د هغه چې غوښه يې خوړل كيږي	پاكه ده	او جوټه د سپي

وَالْخِنْزِيْرِ	وَسِبَاعِ الْبَهَائِمِ	نَجَسٌ	وَسُوْرُ الْهِرَّةِ	وَالدَّجَاجَةِ الْمُخَلَّاةِ
د خنزير	او درنده ګانو	ناپاكه ده	او د پيشو جوټه	او د چرګې په كوڅو كې ګرځيدونكې

وَسِبَاعِ الطُّيُوْرِ	وَمَا يَسْكُنُ فِي الْبُيُوْتِ	مِثْلُ الْحَيَّةِ وَالْفَارَةِ مَكْرُوْهٌ
د ښكاري مرغانو جوټه	او د هغو چې اوسيږي په كورونو كې	لكه مار او موږك مكروه ده

د څناورانو د جوټه مسائل

د لغاتو حل : **سور** جوټه، سباع : د سبع جمع ده درنده، **البهائم** : د بهيمة جمع ده څناور، **المخلاة** : آزاد، طيور : طير جمع مرغه، **سباع الطيور** : ښكاري مرغه، **الحية** : مار.

تشريح : له دې مخكې دا بيان تير شوى دى چې كه چيرته څناور په اوبو كې ولويږي نو د هغه به څه حكم وي، اوس دلته د څناورانو د جوټه بيان دى، د جوټه او پس خورده پنځه قسمونه دي (اول) بالاتفاق د ټولو په نزد پاكه ده (دويم) بالاتفاق د ټولو په نزد نجسه ده (دريم) پاكه ده كه نجسه د فقهاؤ اختلاف دى (څلورم) مكروه (پنځم) مشكوك.

سور الادمي الخ : د دې بحث تعلق له اول قسم سره دى، د انسان جوټه پاكه ده برابره ده كه مسلمان وي كه كافر وي، جنب وي كه حايضه. همدارنګه د هغو څناورانو د كومو چې غوښه خوړل كيږي لكه غوا بزه پسه اوښ وغيره (د انسان په باره كې دا شرط دى چې په ظاهره به د هغه خوله نجسه نوي لهذا كه د

شرابو له څښلو یا له خولې څخه د وینې تللو سمدستي وروسته یې اوبه وڅښلې نو هغه جوټه ناپاکه ده، البته که له څه وقفې وروسته یا څو وارې د وینې له وباسلو وروسته اوبه وڅښي نو د صحیح قول مطابق پاکه ده، لیکن که د شراب خور بریتونه اوږده وي نو په هر صورت کې اوبه ناپاکه کیږي، ځکه چې په همداسې صورت کې د بریتونو د ککړ کیدو احتمال دی.

وسور الکلب والخنزیر : دلته د دویم قسم بیان دی، د جمهورو فقهاؤ په نزد د سپي او خنزیر پس خورده ناپاکه ده، البته د سپي متعلق د امام مالک اختلاف منقول دی، د تطهیر په طریقه کې قدرې اختلاف دی، د امام احمد امام شافعي او امام مالک په نزد د تعبدي امر ماتحت اووه خلې په مینځلو سره لوښی پاکیږي، د امام ابو حنیفه په نزد صرف درې خلې مینځل کافي دي (درس ترمذي) د تعبدي امر تعلق صرف له امام مالک رحمه الله سره دی.

وسباع البهائم : دلته د دریم قسم بیان دی، زمونږ په نزد درندگان مثلاً فیل، زمری، پړانګ، لیوه وغیره جوټه نجسه ده او د امام شافعي رحمه الله په نزد له سپي او خنزیر پرته د نورو درندګانو جوټه پاکه ده، البته ائمه ثلاثه یعنې امام محمد رحمه الله امام ابویوسف رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د نجاست د تعین په سلسله کې څه قدرې اختلاف دی، امام محمد خو پس خورده نجسه بللې ده بیا یې د غلیظه یا خفیه کوم تعین ندی کړی، د امام ابوحنیفه په نزد غلیظه او د امام ابویوسف په نزد نجاست خفیفه ده لکه چې په نهایه کې دي.

سور الهرة والدجاجة الخ : دلته د څلورم قسم بیان دی، پیشو او ازاده ګرځیدونکې چرګه او همدارنګه ښکاري مرغان مثلاً باز وغیره او کورني ځناوران لکه مار موږک وغیره د دوي تولو پس خورده مکروه ده، د ائمه ثلاثه او امام ابویوسف په نزد له کراهیت پرته پاکه ده، خو د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد مکروه تنزیهي ده او همدا مفتی به قول ده، البته نور مرغان کوم چې بند کړی شوي وي له ګندګي څخه لیرې اوسي د هغو پس خورده مکروه نده.

توضیح : د پیشو پس خورده خو پاکه ده، لیکن مکروه ده، لهذا د نورو اوبو په موجودیت کې دې په همدغو اوبو سره اودس نه کیږي، او که اوبه نه پیدا کیدې نو په همدغو سره دې وکړی شي، خلاصې ګرځیدونکې چرګې کومې چې یوه خوا بله خوا ګرځي راګرځي مردار او پلیت شیان خوري د هغې پس خورده مکروه ده. او کومه چرګه چې بنده وي د هغې پس خورده مکروه نه ده بلکې پاکه ده، ښکار کوونکي مرغان لکه باز او وغیره د هغو پس خورده مکروه ده، لیکن کوم چې ساتل شوي وي او مرداره نخوري او نه یې په مښوکه باندې د نجاست شبه وي د هغه پس خورده پاکه ده، او کوم شیان چې په کورونو کې ژوند کوي (اوسیږي) لکه مار، لړم، موږک، کربوړي او وغیره د هغو پس خورده مکروه ده.

دليل: «عن عمرة عن عائشة رضي الله عنها قالت كنت أتوضأ أنا ورسول الله صلى الله عليه وسلم من اناءٍ قد أصاب منه الهرّ قبل ذلك» يعنې له حضرت عائشة رضي الله عنها څخه روايت دی هغې ويلي دي چې ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم له يوه لوښي څخه اودس وکړ سره له دې چې له دې مخکې پيشو په هغه کې اوبه څښلې وې (دا حديث په دې خبره باندې ښکاره دليل ده چې د پيشو پس خورده له کراهيت پرته پاکه ده).

ځواب: له کومو روايتونو څخه چې د پيشو د پس خورده د پاکيدو درک لګيږي، د هغو ټولو ځواب دا ده چې ټول روايتونه د جواز په بيان باندې محمول دي، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په لوښي کې د پيشو په څښلو سره دا نه ثابتيږي چې هغه مکروه تنزيهي کيدلای هم نشي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د همدغه جواز د بيان لپاره په مکروه تنزيهي باندې کله کله عمل کول ثابت دي.

د طرفينو په نزد د پيشو پس خورده پاکه ده خو مکروه ده، د راجح قول په بناء مکروه تنزيهي ده، فتوی په همدغه قول باندې ده

دليل: «الهرة سبع» يعنې پيشو يوه درنده دی، په دې قول سره د رسول الله ﷺ د مقصد حکم بيانول دي چې د پيشو حکم هغه ده کوم چې د درنده ده، نو د درنده په څير (شان) د هغې پس خورده ناپاکه کيدل پکار وو، ليکن د پيشو پس خورده د حرام او نجس کيدو په صورت کې مشقت لازميږي، ځکه چې دا په کورنو کې د ګرځيدونکو ځناورانو له جملې څخه ده، لکه د ابو قتادة په روايت کې چې دي:

«انما هي من الطوافين عليكم أو الطوافات»

چنانچه د همدغه مشقت په بناء د پيشو په پس خورده کې تخفيف پيدا کړی شو، له حرام څخه د مکروه په درجه کې راوړل شوې ده.

دغه حکم د مار، لړم او موږک په سلسله کې شو.

مکروه تنزيهي: هغه کار ته ويل کيږي د کوم چې په پريښودلو کې ثواب ده، او په کولو کې خو يې عذاب نشته، ليکن يو ډول (قسم) بدي ده.

وَسُؤْرُ الْحِمَارِ	وَالْبَغْلِ	مَشْكُوكٌ	فَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْإِنْسَانُ	غَيْرَهُ
جوټه د خره	او قچر	مشکوکه ده	که پيدا نکړي کوم انسان	نورې اوبه
تَوَضَّأَ	بِهِ	وَتَيَمَّمَ	وَبِأَيِّهِمَا بَدَأَ أَجَازَ	
نو اودس دې وکړي	په هغو سره	او تيمم دې ووهي	او چې په هر يوه يې شروع وکړه روا ده	

خلاصه: د قدوري صاحب د جوټه (پس خورده) پنځم قسم ذکر کړی دی، چې د ساتل شوي خره پس خورده او له خره څخه د پيدا شوي قچر پس خورده مشکوک ده، اوس که چيرته له يو چا سره له دې مشکوک اوبو پرته خالص اوبه نوي نو په داسې صورت کې حکم دی چې اودس او تيمم دواړه وکړي، په دې دواړو کې د تقديم او تاخير اختيار اودس کوونکي لره دی

تشریح : **وسور الحمار والبغل الخ** : له خره څخه سائل شوی خر مراد دی او له قچر څخه مراد هغه قچر دی کوم چې له خره څخه پیدا شوی وي، ځکه که چیرته همدا قچر له آس څخه پیدا شوی وي نو د هغه جوټه پاکه ده، د خره متعلق چې کوم حکم بیان شوی دی هغه د زیاتره مشائخو په نزد دی، شیخ ابو طاهر د مشکوک حکم سخت مخالف دی، د ده په نزد جوټه پاکه ده خو احتیاطا د اوداسه او تیمم دواړو حکم یې کړی دی، د امام شافعي په نزد طاهر او مطهر دواړه دي، البته د مشائخو په نزد د خره پس خورده اوبه په طاهر او مطهر کیدو کې اختلاف دی، ځینو مشائخو ته د هغو په طهارت کې شک دی او د ځینو یې په مطهر کیدو کې شک دی، د هدایه د صاحب په نزد شک خو د مطهر کیدو په باره کې دی نه د طهارت په باره کې، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د حمار د طهارت په باره کې صراحت دی، ویلي دي چې څلور شیان داسې دي که چیرته په هغو کې جامه ډوبه شي نو نه ناپاکه کیږي (اول) د خره پس خورده (دویم) مستعمل اوبه (دریم) د خرې شیدې (څلورم) د ماکول اللحم څناور متیازې.

وبأيهما الخ: د اوداسه او تیمم دواړو په اجتماعي صورت کې د حنفیانو په نزد ترتیب ضروري ندی، یعنې چې په اوداسه او تیمم کې کوم یو وغواړي مقدم دې کړي، مګر د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په نزد د اوداسه په تیمم باندې مقدم کول لازم او ضروري دی، ځکه مشکوک اوبه واجب الاستعمال دي لهذا دا له مطلق اوبو سره مشابه شوې

د ائمه ؤ اختلاف : د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د خره پس خورده صرف طاهره نه ده بلکې مطهره (پاکوونکې) هم ده.

دلیل : د کوم څناور په پوستکي سره چې ګټه روا ده د هغه پس خورده هم پاکه ده، او د خره په پوستکي سره هم چونکه ګټه اخیستل روا دي له همدې وجهې د هغه پس خورده هم پاکه ده .

ځواب : د پس خورده بلا واسطه تعلق د هغه له پوستکي سره نه ده، چې په پوستکي سره د ګټې اخیستو له وجهې د هغه پس خورده ته پاک وویل شي، بلکې د پس خورده تعلق له غوښې سره دی، ځکه چې له غوښې څخه لیاړې (لعاب) جوړیږي، او د هغه غوښه نجسه ده، له همدې وجهې د هغه پس خورده هم نجسه شوه.

د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد د خره پس خورده ناپاکه ده

دلیل : «**وروی أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حرم لحوم الحمر الأهلية يوم خيبر**» ، یعنې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خیبر په ورځ د پالونکو خرو غوښه حرامه کړې

له دې حدیث څخه صراحتاً معلومیږي چې د خرو غوښه حرامه ده او لیاړې (لعاب) هم له غوښې جوړیږي، لهذا لعاب هم نجس شول، او په کومو اوبو کې چې هغه خوله ووهي له هغو سره د لیاړو (لعاب) یو ځای کیدل یقیني دي، نو ځکه د هغو پس خورده هم نجسه شوه. لیکن لکه څرنګه چې په احادیثو سره د هغه د غوښې حرمت ثابت دی، په همداسې احادیثو سره یې حلت هم ثابت دی مثلاً

﴿روی أن غالب بن فهر سأل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وقال لم يبق لی مال الا حميرات فقال عَلَيْهِ السَّلَام كل من سمين مالك﴾.

غالب بن فهر له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه معلومه کړه او ویل فرمایل چې له ما سره له خرو پرته (علاوه) نور هیڅ باقي نه دي پاتې، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل له خپل مال څخه چې کوم چاغ دي هغه وخوره، دغه حدیث د خره د غوښې په حلالوالي باندې دلالت کوي، له همدې وجهې د دلایلو د تعارض په بناء زیاتره احناف د هغه د پس خورده په مشکوک کېدو باندې قائل دي.

بَابُ التَّيَمُّمِ

د لغت له رویه تیمم د قصد او ارادې نوم دی، او د شرع په اصطلاح کې پاکې خاورې یا هغه شي ته کوم چې د پاکې خاورې قائم مقام وي لکه کاڼي، چونه وغیره قصد کول او د طهارت په نیت د دواړو لاسونو په خاورو باندې وهل په مخ او دواړو لاسونو باندې مسح کول مرا دي.

د تیمم مشروعیت د امت محمدیه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له خصوصیاتو څخه دي، او د تیمم ثبوت په قرآن او سنت دواړو سره شوی دی الهي ارشاد دی ﴿فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيبا﴾ او ارشاد نبوي دی ﴿جعلت لى الارض مسجدا وطهورا﴾ د ځمکې مخ په ځانګړې ډول زمونږ لپاره مسجد او د پاکې ذریعه جوړ شوی دی، په دویم روایت کې دي ﴿التيمم طهور المسلم مالم يجد الماء﴾ تیمم د مسلمان پاکوونکی دی ترڅو پورې چې اوبه موجودې نه وي، د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قیصه په کومه کې چې د تیمم آیت نازل شوی دی د هغه په مقام او د وخت په باره کې اختلاف دی، لهذا د وخت په باره کې درې قولونه دي (۴ هجري) (۵ هجري) (۶ هجري) او د مقام په باره کې دوه قولونه دي (اول) غزوه مریسیع یا غزوه مصطلق (دویم) غزوه ذات الرقاع، تیمم چونکه د اوداسه قائم مقام دی د قائم مقام او خلیفه مرتبه له اصل څخه وروسته وي نو ځکه له باب الوضوء وروسته ذکر کړی شو، د همدې ترتیب دویمه وجه قرآني آیت ﴿واذا قمتم الى الصلوة الاية﴾ اتباع ده په کوم کې چې اودس، غسل او تیمم په همدې ترتیب سره ذکر شوي دي.

وَمَنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ	وَهُوَ مُسَافِرٌ	أَوْخَارِجُ الْمِصْرِ
او کوم کس چې اوبه پیدا نکړي	حالانکه دغه کس مسافر وي	یا له ښار څخه د باندې وي
وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمِصْرِ	نَحْوُ الْمِيلِ أَوْ أَكْثَرَ	أَوْكَانَ يَجِدُ الْمَاءَ
د ده او د ښار په مینځ کې	د یوه میل یا زیاته فاصله ده	یا خو اوبه پیدا کولی شي
إِلَّا أَنَّهُ مَرِيضٌ فَخَافَ	إِنِ اسْتَعْمَلَ الْمَاءَ	اِشْتَدَّ مَرَضُهُ
لیکن هغه ناروغ دی پس ویرېږي	که چیرته اوبه استعمال کړي	نو د ده مرض به زیات شي

أَوْخَافَ الْجُنُبُ	إِنِ اغْتَسَلَ بِالْمَاءِ	يُقْتَلُهُ الْبَرْدُ
يا جنب ته ويره وي	که چيرته په اوبو غسل وکړي	نو يخ به يې ووژني
أَوْيُمْرِضُهُ	فَإِنَّهُ	يَتَيَمَّمُ بِالصَّعِيْدِ
يا به يې ناروغ (ناجوړه) کړي	نو داسې کس دې	په پاکه خاوره تيمم وکړي

د لغاتو حل البرد: يخني – سردي، **يمرضه**: له باب تفعيل څخه مضارع ده مريض جوړيدل، **الصعيد**: خاوره جمع صُعُد

خلاصه: که چيرته کوم کس د سفر په حالت کې وي يا له ښار څخه د ليرې والي له وجهې هغه ته اوبه ميسير نه وي او د ښار مسافه يو ميل يا له دې څخه زياته وي، يا دا چې اوبه موجودې وي ليکن د ناروغي له وجهې به ناروغی کې د زياتوالي قوي انديښنه وي يا جنب کس ته قوي خطر وي که چيرته غسل وکړي نو د يخني د سختوالي په نتيجه کې به مړ شي يا ناروغي ورته پيدا کيدلی شي نو داسې کس ته په پاکه خاوره باندې تيمم وهل صحيح دي.

تشريح ومن لم يجد الماء الخ: د همدې وجود په تشريح کولو سره شارحينو ليکلي دي چې له وجود څخه دوه مفهومه معلوميدلی شي (اول) اوبه موجودې دي مګر په استعمال يې قدرت نشته دی برابره ده که د مرض له وجهې وي يا کوهي شته دی مګر د راوباسلو لپاره يې بوقه نشته، يا چينه نږدې ده ليکن د دښمن د ويرې له وجهې يا د درنده يا د مار د ويرې له وجهې چينې ته ورتللی نشي نو داسې کس د اوبه نه موندونکی بلل کيږي (دويم) اوبه موجود دي مګر دومره مقدار ندي چې د حدث رفع کولو لپاره کفايت وکړې شي نو د داسې کس لپاره تيمم کافي کيږي

او خارج المصر: په دې عبارت سره دا ښودل شوي دي چې که په ښار کې دننه وي نو صرف په دريو صورتونو کې تيمم صحيح دی (اول) د جنازې لمونځ (دويم) چې د لوی او واړه اختر د لمنځونو د فوت کيدو خطر وي (دريم) يا جنب ته د سختې يخني له وجهې د ناروغي پيدا کيدو ويره وي.

نحو الميل: په قرآن کريم کې په مشکل د اوبو پيدا کيدل د تيمم شرط بلل شوی دی نه د اوبو غير موجودګي، د تيمم او د اوبو په مينځ کې کم له کمه د يو ميل مسافه ليرې والی معيار بلل شوی دی، د زياتره علماؤ په نږد همدا مسافه معتبره ده، د څينو خيال دا دی چې مسافه دومره ليرې وي چې هغه د آذان اواز اوريدی نشي، د څينو په نږد د چلا اواز چې نه رسيږي هومره ليرې والی معتبر دی، د څينو په نږد د سفرطرف د دوه ميله په اندازه معتبر دی، د څينو په نږد هر طرف ته دوه ميله مسافه معتبره او لازم ده، د امام ابويوسف رحمه الله په نږد دا شرط ده چې د اوبو ليرې والی دومره وي چې د هغو په لټون کې په وتلو سره قافله او د سفر ملګري له سترګو پناه کيدی شي او له همدې وجهې د خان مال د نقصان خطره وي، د صاحب ذخيره په نږد دا قول احسن دی، د امام زفر رحمه الله په نږد که چيرته د

لمانځه قضار کیدو خطره وي نو د تیمم اجازت دی، مګر صاحب هدایه (دون خوف الفوت) په ویلو سره تردید کړی چې دا کوتاهي په خپله د هغه کس ده نو ځکه معذور بلل کیږي اجازت نشته دی.

تنبیه : د عنایه صاحب ویلي دي چې یو میل درې فرسخه وي او یو فرسخ دوولس زره قدمه، ابن شجاع ویلي دي چې میل درې نیم زره ګځه تر ځلور زره ګزه پورې کیدی شي

الاانه مریض : د الجوهرة النیرة صاحب ویلي دي چې د ناروغي درې حالتونه دي (اول) چې د مریض لپاره د اوبو استعمال نقصان رسوونکی وي مثلا تبه یا د چیچک ناروغ وي، داسې کس بالاتفاق تیمم کولی شي (دویم) د مریض لپاره اوبه نقصان رسوونکې نه وي بلکې د هغه لپاره حرکت کول مضر وي د دستو شکایت وي یا عرق مدني (نارو رشته) کې مبتلا کیدل، د معاون د نه موجودیت په صورت کې بالاتفاق تیمم صحیح دی او د معاون د موجودیت په صورت کې د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد تیمم صحیح دی، دغه معاون برابره ده که د ده ماتحت افراد وي لکه اولاد یا خادم وغیره لیکن د صاحبینو په نزد تیمم صحیح ندی، مګر د محیط صاحب لیکلي دي چې د معاون په موجودګي کې بالاتفاق تیمم صحیح دی (دریم) چې مریض ته په اوداسه باندې قدرت نه وي، نه په خپله نه د بل چا په امداد سره، په داسې صورت کې ځینو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په قول باندې په قیاس کولو سره خیال دا ده چې ترڅو پورې مریض ته په همدې دوارو کې په یوه باندې قدرت حاصل شوی نه وي ترهغه وخته دې لمونځ نکوي، د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد د لمانځه کوونکو په شان مشابهت دې غوره کړي لمونځ دې وکړي او له قدرت وروسته دې لمونځ را وګرځوي، او د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ قول په دې سلسله کې مضطرب شوی دی، لهذا روایتونه په زیادت کې له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ سره دي او د ابو سلیمان د روایت مطابق له امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ سره دي.

اشتدمرضه : د داؤد ظاهري وغیره په نزد دلته په معمولي شکایت باندې هم د تیمم اجازت دی، مګر د احنافو په نزد د تیمم د جواز لپاره د حرج او نقصان وجود ضروري دی، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د تیمم د جواز لپاره هلاکت یا د اندام له منځه تلل شرط دي مګر آیت کریمه **﴿وان کنتم مرضی﴾** (ظاهر النص) سره د دې تردید شوی دی، ځکه چې په آیت کې هیڅ داسې قید نشته دی، البته د احنافو په نزد د امتداد او اشتداد چې کوم قید موندل شوی دی هغه صرف له دې امله دی چې د تیمم د جواز غرض د حرج دفعه ده او په امتداد مرض او اشتداد مرض کې حرج ښکاره دی او په قرآن کې دي **﴿ما یرید الله لیجعل علیکم من حرج﴾** ګوا که قرآني آیت د حرج طرف واضح کړی دی، او د علامه عیني په قول د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول قدیم صحیح مشهور قول د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ د قول مطابق دی، په سراج الوجیز کې دي چې په عام ډول اصحاب ابو حنیفه او امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ او د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ همدا قول دی او په حیله کې دیته اصح ویل شوي دي، له همدې امله عمل په هغه باندې په هر وخت کې موزون او مناسب دي.

اوخاف ان اغتسل الخ　دا مسئله خو له ښار څخه دباندې راتلو په صورت کې وه البته که چیرته همدا پېښه په ښار کې دننه مخته راشي نو د امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ په نزد همدا حکم دی یعنې د هغه لپاره تیمم روا دی، مګر د صاحبینو په نزد د تیمم اجازت نشته، دا حکم د غسل په سلسله کې وه لکن د اودا سه په سلسله کې بالاتفاق د تیمم اجازت نشته دی.

وَالتَّيَمُّمُ ضَرْبَتَانِ	يَمْسَحُ بِإِحْدَاهُمَا	وَجْهَهُ
او تیمم دوه ضربونه دي	مسح دې وکړي شي په یوه ضرب سره	د خپلو مخونو
وَبِالْأُخْرَىٰ	يَدَيْهِ	إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ
او په دویم ضرب سره	د خپلو دواړو لاسونو	تر څنګلو پورې

خلاصه: په دې عبارت کې د تیمم کیفیت بیان شوی دی، لهذا ویل شوي دي چې د تیمم دوه ضربونه دي، په یوه ضرب سره دې د مخ مسح وکړي او په دویم سره د دواړو لاسونو تر څنګلو پورې. طریقه یې داده چې اول دې دواړه لاسونه په زمکه باندې ووهي او هومره اندازه دې هغه وڅنډي چې خاورې ترې توی شي په هغه سره دې خپل مخ مسح کړي، بیا دې دویم خل په زمکه باندې لاسونه ووهي هغه دې وڅنډي او د خپل چپ لاس د څلورو ګوتو په باطن سره د خپل ښي لاس ظاهر دې داسې مسح کړي چې د ګوتو له سرونو دې شروع وکړي په څنګلو دې ختم کړي بیا دې د چپ لاس د ورغوي په باطن سره د خپل ښي لاس باطن تر مړوند پورې مسح کړي او د خپل لاس د ګوتو باطن ته د خپل ښي لاس د ګوتو په ظاهر باندې را تیرې کړي بیا دې همداسې په ښي لاس سره مسح وکړي.

تشریح: د تیمم په طریقه کې دوه مسئلې مختلف فیه دي ‹اول› د ضربونو شمیر څو دی ‹دویم› د لاسونو د مسح حد څومره دی، په اوله مسئله کې علامه عیني پنځه مذهبونه نقل کړي دي.

‹اول› د جمهور ائمه ؤ په نزد دوه ضربونه دي یو د مخ لپاره او بل د لاسونو لپاره ‹دویم› امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او په یوه روایت کې د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف یو ضرب دی ‹دریم› د حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ په نزد دی دوه ضربونه دي مګر په هر ضرب کې د مخ او د لاسونو مسح ده ‹څلورم› د محمد بن سیرین رَحِمَهُ اللهُ په نزد دری ضربونه دي یو د مخ لپاره او دویم د لاسونو لپاره او دریم د دواړو لپاره ‹پنځم› د ابن بزیزه په نزد څلو ضربونه دي دوه د مخ لپاره او دوه د لاسونو لپاره.

دویم اختلاف د لاسونو د مسح په مقدار کې ده په دې کې څلور مذهبونه دي:

‹اول› تر مرفقین پورې مسح واجب ده، دا د جمهورو ائمه ؤ مسلک دی ‹دویم› د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد دلته صرف تر رسغین پورې مسح واجب ده ‹دریم› تر رسغین پورې واجب او تر مرفقین پورې مسنون ده، ابن رشد رَحِمَهُ اللهُ د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ي، روایت بللی دی او زرقاني رَحِمَهُ اللهُ د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ مسلک ګڼلی دی، د نووي رَحِمَهُ اللهُ د بیان مطابق د روایتونو په مابین کې تطبیق بهترینه طریقه ده ‹څلورم› د ابن شهاب زهری په نزد دلاسونو تیمم تر ولیو ‹اوږو› او تخرګونو پورې دی.

په اصل کې بنیادي اختلاف په دوه مسئلو کې د جمهورو او امام احمد او اسحق په مابین کې ده، د جمهورو په نزد دوه ضربونه دي او د لاسونو مسح تر مرفقین پورې ده، د احمد او اسحق په نزد یو ضرب دی او د لاسونو مسح تر رسغین پورې ده

والتیمم ضربتان د فقهي په زیاتره کتابونو کې د ضرب لفظ راغلی دی مگر په مبسوط کې د ضع لفظ راغلی دی، دلته یو سوال دی چې ضرب د تیمم رکن دی او که نه؟ د الجوهرة النیرة صاحب د دې جواب ورکړی دی چې ابن شجاع خو د رکن قائل دی لهذا که چیرته بعد الضرب او قبل مسح الوجه حدث لاحق شي یا نیت له ضرب وروسته وکړي نو تیمم نه صحیح کیږي، دا داسې ده لکه په اوداسه کې د ځینو اندامونو له مینځلو وروسته چې حدث لاحق شي نو مینځل کالعدم ګڼل کیږي، د امام اسبیجابي په نزد ضرب رکن ندی لهذا تیمم صحیح کیږي، یا داسې کیږي لکه په لاس کې د اوبه اخیستو وروسته او له استعمال مخکې حدث لاحق شي، لیکن د فتح القدیر او غایة البیان مطابق تحقیقي خبره دا ده چې په تیمم کې دننه د دلیل په موخه ضرب معتبر ندی ځکه چې په قرآن کریم کې محض د مسح حکم شوی دی او په حدیث کې د ضرب تذکره د عادت په ډول باندې ده.

الی المرفقین په ځینو نسخو کې اشتراط استیعاب صراحت دی او همدا صحیح دی، او له امام صاحب څخه د حسن روایت دا ده چې استیعاب شرط ندی، لهذا که چیرته په زیاته برخه باندې مسح وکړي شي نو کافي کیږي، مگر د هدایه صاحب ویلي دي چې تیمم د اوداسه قائم مقام دی نو ځکه د ظاهر الروایة مطابق استیعاب ضروري دی (الجوهرة).

وَالتَّيَمُّمُ	فِي الْجَنَابَةِ	وَالْحَدَثِ سَوَاءٌ
تیمم	په جنابت	او حدث کې برابر دی.
وَيَجُوزُ التَّيَمُّمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ		وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ
او روا (جائز) دی تیمم د امام ابوحنیفة رحمه الله		او امام محمد رحمه الله په نزد
بِكُلِّ مَا	كَانَ مِنْ جِنْسِ الْأَرْضِ	كَالتُّرَابِ وَالرَّمْلِ
په هر هغه شي سره	کوم چې د زمکې له جنس څخه وي	لکه خاوره شګه
وَالْحَجَرِ وَالْجَصِّ وَالنُّورَةِ وَالْكُحْلِ وَالزَّرْنِيخِ		وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ لَا يَجُوزُ
کاڼي، ګچ، چونه، رانجه زرنیخ،		امام ابویوسف وایي چې روا نه ده
إِلَّا	بِالتُّرَابِ	وَالرَّمْلِ خَاصَّةً
مګر	په خاوره	او شګو باندې خاصةً

د لغاتو حل **رمل**: شګه، **جص**: ګچ، **نورة**: چونه، **کحل**: رانجه، **الزرنیخ**: یو ډول زهر لرونکی معدن

خلاصه : د قدوري صاحب ويلي دي د تيمم جواز، د تيمم كيفيت او د تيمم په آله كې حدث يعنې بې اودسه كيدل او جناب دواړه برابر دي، يعنې د حدث اصغر او حدث اكبر دواړو لپاره تيمم مشروع دى او د دواړو كيفيت يو دى او همدا حكم د حائضه او نفاسه والا ښځو ته هم دى، او هر هغه شى كوم چې د زمكې له جنس څخه وي لكه خاوره، شګه، كانى، ګچ، چونه، رانجه، د غره مالګه، ياقوت، زمرود، زبرجد وغيره په همدې شيانو باندې د تيمم د جواز په باره كې د طرفينو او امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ اختلاف دى. طرفين د جواز قائل دي، البته د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف په خاوره او شګو سره روا دى. او نيت په تيمم كې فرض دى او په اوداسه كې مستحب دى.

تشريح : **والتيمم في الجنابة الخ** : د نيت او فعل په اعتبار سره همدا حكم د حيض او نفاس والا ښځو ته هم دى، د ابوبكر رازي په نزد د نيت په ذريعه د فرق او امتياز پيدا كول ضروري دي، يعنې محدث د د حدث د ازاله او جنبي د جنابت د ازاله نيت دې وكړي مګر صحيح دا ده چې د همداسې امتياز ضرورت نشته، په حديث شريف كې په يوه ريګستاني سيمه كې د يوه اوسيدونكي قوم قيصه بيان شوې ده چې هغوى د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې حاضر شول او عرض يې وكړ اې د الله رسوله ! مونږ د ريګستان اوسيدونكو ته يوه يوه دوه دوه مياشتې اوبه نه پيدا كيږي او مونږ ته حيض نفاس او جنابت پيدا كيږي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل چې تاسو ته له زمكې څخه د خپل ضرورت پوره كول پكار دي.

من جنس الارض الخ : له زمكې څخه د جنس كيدو پيژندنه دا ده چې كوم شى سوځيږي ايره كيږي لكه ونې او كوم شيان چې نرم كيږي لكه اوسپنه، پيتل، سپين زر او سره زر وغيره نو دا د زمكې له جنس څخه ندي، له دې پرته نور شيان د زمكې له جنس څخه دي لكه خاوره وغيره، تفصيلي خبرې په خلاصه كې وګورى، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف په دوړجنه خاوره باندې تيمم روا دى، ليكن د اصح قول مطابق په خپله د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د دې شرط نشته، ځكه چې په پاكه خاوره تيمم روا دى اګر كه ګردجنه نوي او په ناپاكه روا ندى اګر كه دوړجنه وي.

فرض في التيمم : البته د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په نزد فرض ندى، ځكه تيمم د اوداسه خليفه ده لهذا د وصف په صحت كې تيمم د اوداسه مخالف كيدى نشي، مونږ دا ويلي دي چې د تيمم معنى قصد او اراده ده او قصد نام دى د نيت او قاعده ده چې په اسماء شرعيه ؤ كې معانى لغويه ؤ لره اعتبار كول كيږي، له همدې وجهې زمونږ په نزد په تيمم كې نيت كول ضروري دي.

وَالنِّيَّةُ فَرْضٌ	فِي التَّيَمُّمِ	وَمُسْتَحَبَّةٌ فِي الْوُضُوْءِ
او نيت فرض دى	په تيمم كې	او مستحب دى په اوداسه كې
وَيَنْقُضُ التَّيَمُّمَ	كُلُّ شَيْءٍ	يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ
او ماتوي تيمم	هر هغه شى	چې ماتوي اودس

وَيَنْقُضُهُ أَيْضًا رُؤْيَةُ الْمَاءِ		إِذَا قَدَرَ عَلَى اسْتِعْمَالِهِ
او ماتوي تیمم همدارنګه د اوبو لیدل		کله چې د اوبو په استعمال باندې قادر وي
وَلَا يَجُوزُ التَّيَمُّمُ	إِلَّا بِصَعِيْدٍ طَاهِرٍ	وَيُسْتَحَبُّ لِمَنْ
او نه ده روا تیمم	مګر په پاکې خاورې سره	او مستحب ده د هغه کس لپاره
لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ	وَهُوَ يَرْجُوْا أَنْ يَّجِدَهُ	فِيْ اٰخِرِ الْوَقْتِ
چې اوبه پیدا نکړي	او هغه ته امید وي چې پیدا به کړي اوبه	په اخیر وخت کې
اَنْ يُّؤَخِّرَ الصَّلٰوةَ	اِلٰى اٰخِرِ الْوَقْتِ	فَاِنْ وَّجَدَ الْمَاءَ
چې وروسته کړي لمونځ	تر اخیر وخت پورې	پس که چیرته هغه اوبه پیدا کړې
تَوَضَّاَ	وَصَلّٰى	وَاِلَّا تَيَمَّمَ
نو اودس دې وکړي	او لمونځ دې وکړي	که نه نو تیمم دې وکړي

د تیمم ماتوونکو شیانو بیان

خلاصه: له دې ځای څخه د نواقض تیمم بیان شروع شوی دی، لهذا د قدوري صاحب ویلي دي چې کوم شی ناقض وضوء دی هغه ناقض تیمم هم دی، ځکه تیمم د اوداسه خلیفه دی لهذا کوم حکم چې د اوداسه دی هماغه حکم د تیمم هم دی، وړاندې ویلي دي چې ځینې شیان داسې دي کوم چې د اودس ماتوونکي ندي مګر د تیمم ماتوونکي دي، لهذا که چیرته متیمم اوبه ووینې او هغو په استعمال باندې قدرت ورته حاصل وي نو په همدې اوبو سره یې تیمم ماتیږي، او ویلي دي چې تیمم صرف په پاکه خاوره باندې روا دی ځکه چې په آیت کریمه کې ﴿فتیمم صعیدا طیبا﴾ کې طیب څخه بالاتفاق طاهر مراد دی، وړاندې یوه مسئله ده هغه دا ده چې که چیرته لاس په لاس اوبه موجودې نوې او تر اخیر وخت پورې د اوبو پیدا کیدو امکان وو نو په داسې صورت کې د لمانځه تر اخیر مستحب وخت پورې وروسته کول مستحب دي، د اوبو پیدا کیدو په صورت کې دې اودس وکړي لمونځ دې اداء کړي که نه نو تیمم دې وکړي او لمونځ دې وکړي.

تشریح: ینقض التیمم: واضحه دې وي کوم چې د غسل لپاره ناقض شي هغه د اوداسه لپاره ناقض کیږي مګر دا خبره چې هر ناقض وضوء به ناقض غسل وي دا ضروري نده، ځکه چې د بوې لوټې اوبو په پیدا کولو سره تیمم اودس ماتولی شي مګر تیمم غسل ندی

وینقضه ایضاً رویة الماء: په اصل کې خو ناقض مخکنی حدث دی مګر دا چې لاس په لاس اوبه نه تر سترګو کیږي له همدې امله په مجازي ډول د ناقض نسبت د اوبو لیدلو طرفته شوی دی، بهر حال د اوبو لیدل د تیمم ماتیدو لپاره کافي دي، لیکن که چیرته همدا قدرت د لمانځه په دوران کې حاصل

شي نو غیر معتبر کیږي او تیمم بدستو باقي پاتې کیږي لکه چې د امام ابو حنیفه رحمه الله امام ابو یوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله او اکثرو علماؤ همدا قول دی.

ان یؤخر : د همدې تاخیر په حکم کې د ماښام لمونځ هم داخل دی، له همدې وجهې تر غروب الشفق پورې انتظار کول پکار دي، او تاخیر تر مستحب وخت پورې پکار دی

وَيُصَلِّيْ بِتَيَمُّمِهٖ	مَاشَاءَ	مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ		
او لمونځ دې وکړي په خپل تیمم سره	څه چې غواړي	له فرایضو او نوافلو څخه		
وَيَجُوْزُ التَّيَمُّمُ	لِلصَّحِيْحِ الْمُقِيْمِ	اِذَا حَضَرَتْ جَنَازَةٌ		
او روا ده تیمم	د تندرست مقیم لپاره	کله چې راشي کومه جنازه		
وَالْوَلِيُّ غَيْرُهٗ	فَخَافَ	اِنِ اشْتَغَلَ	بِالطَّهَارَةِ	
او کله چې ولي بل څوک وي	پس ووېرېږي	که مشغول شي	په اوداسه کې	
اَنْ تَفُوْتَهٗ صَلٰوةُ الْجَنَازَةِ	فَلَهٗ اَنْ يَّتَيَمَّمَ	وَيُصَلِّيَ		
نو له ده څخه به د جنازې لمونځ فوت شي	نو تیمم دې وکړي	او لمونځ دې وکړي		
وَكَذٰلِكَ	مَنْ حَضَرَ الْعِيْدَ	فَخَافَ	اِنِ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ	
همدارنګه	هغه کس اختر لمانځه ته حاضر شي	پس ووېرېږي	که مشغول شي په اوداسه کې	
اَنْ يَّفُوْتَهُ الْعِيْدُ	وَاِنْ خَافَ	مَنْ شَهِدَ الْجُمُعَةَ		
نو له ده څخه د اختر لمونځ تېرېږي	او که وېرېده	هغه کس چې د جمعې لپاره راغلی وي		
اِنِ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ	اَنْ تَفُوْتَهُ الْجُمُعَةُ			
که په اوداسه کې مشغول شي	نو د جمعې لمونځ به ترې قضاء شي			
تَوَضَّأَ	فَاِنْ اَدْرَكَ الْجُمُعَةَ صَلَّاهَا			
نو اودس دې وکړي	بیا که چیرته د جمعې لمونځ یې پیدا کړ نو اداء دې کړي			
وَاِلَّا صَلَّى الظُّهْرَ اَرْبَعًا	وَكَذٰلِكَ اِنْ ضَاقَ الْوَقْتُ			
که نه نو د ماسپښین څلور رکعته دې وکړي	همدارنګه که چیرته وخت تنګ وو			
فَخَشِيَ	اِنْ تَوَضَّأَ	فَاتَهُ الْوَقْتُ	لَمْ يَتَيَمَّمْ	وَلٰكِنَّهٗ
او وېرېده	که چیرته اودس کوي	وخت تېرېږي	نو تیمم دې نکوي	بلکې

يَتَوَضَّأُ	وَيُصَلِّيْ	فَاْتَتْهُ
اودس دې وکړي	او لمونځ دې وکړي	ترې قضاء شوی

د لغاتو حل : **اشتغل** : باب افتعال څخه ده اشتغل بكذا مشغول كيدل، **شهد** : باب (س) څخه شهد المجلس شهودا، حاضريدل، **ادرك** : باب افعال څخه لاحق كيدل، موندل، **ضاق** : باب (ض) څخه مضدر ضيقا تنگ كيدل.

تشريح : په دې عبارت کې پنځه مسئلې ذکر شوې دي:

ويصلي بتيممه : (اوله مسئله) د احنافو په نزد په يو تيمم سره ډير لمنځونه كيدلى شي، كه فرائض وي كه نوافل وي، په يوه وخت کې يا په ډيرو وختونو کې ترڅو چې ناقض تيمم پيدا نشي، او د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د هر فرض لمانځه لپاره جلا تيمم ضروري دى، البته د ډېرو نفلونو لپاره يو تيمم كافي دى

للصحيح المقيم : (دويمه مسئله) يو تندرست كس په ښار کې تيمم كولى شي، كه چيرته جنازه حاضره شوه او ولي له ده پرته بل كس دى او له ده سره ويره شته چې كه چيرته اودس كوي نو لمونځ به ترې پاتې شي نو د تيمم اجازت شته، او كه چيرته په خپله ولي دى نو دا چې هغه ته د لمانځه راګرځولو حق شته دى نو څكه هغه ته د تيمم اجازت نشته.

وكذلك من حضر العيد : (دريمه مسئله) د اختر په لمانځه کې شركت كوونكي ته د اوداسه كولو په صورت کې د لمانځه د فوت كيدو ويره ده نو تيمم كول ورته روا دي څكه چې د اختر د لمانځه قضائي نشته

وان خاف من شهد الجمعة : (څلورمه مسئله) د جمعې په لمانځه کې شركت كوونكي ته د اوداسه كولو په صورت کې د جمعې لمانځه د فوت كيدو ويره ده نو تيمم كول ورته صحيح ندي، بلكې اودس دې وكړي، كه يې اودس وكړ او جمعه يې پيدا كړه نو بهتره ده كه نو څلور ركعته د ماسپښين لمونځ دې ادا كړي، څكه چې ماسپښين د جمعې نائب او خليفه دى.

وكذا ان ضاق الوقت : (پنځمه مسئله) د وخت د تنګې په صورت کې په اوداسه كولو باندې كه د وخت تيريدو انديښنه وه بيا هم تيمم كول روا ندي، څكه چې د وقتي لمانځه قضائي راوړل كيدى شي

وَالْمُسَافِرُ	اِذَا نَسِيَ الْمَاءَ	فِيْ رَحْلِهِ	فَتَيَمَّمَ	وَصَلَّى
او مسافر	كله يې چې هيرې شي اوبه	په خپل اسباب کې	بيا تيمم وكړي	او لمونځ اداء كړي
ثُمَّ ذَكَرَ الْمَاءَ	فِي الْوَقْتِ	لَمْ يُعِدْ صَلوتَهُ	عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ	
بيا ور په زړه شي اوبه	په وخت کې	نو لمونځ دې نه راګرځوي	د طرفينو په نزد	
	وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ	يُعِيْدُ		
	او امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ ويلي	لمونځ دې راوګرځوي		

د لغاتو حل: **نسی**: باب (س) څخه نسی الشئ نسیانا ونسیا هیریدل، رحله: کجاوه جمع رحال وارحل. **یعد**: باب افعال څخه اعاد الامر اعادة راګرځول، د لم د دخول له وجهې یا ساقط شوې ده، په اصل کې یعید وه.

خلاصه: که چیرته د مسافر اوبه کجاوه کې ایښې وې او هیرې شي تیمم وکړي او لمونځ ادا کړي بیا په همدې وخت کې د ننه اوبه ور په یاد شي نو د طرفینو په نزد د لمانځه راګرځول واجب ندي، او د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد یې راګرځول واجب دي، همدا قول د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دی

تشریح: د مسئلې درې صورتونه دي (اول) مسافر اوبه په کجاوه کې په خپله کیښودې او د اوداسه په وخت کې یې ونه غوښتلې تیمم یې وکړ او لمونځ یې ادا کړ (دویم) مسافر اوبه په خپله ندي ایښې بلکې د هغه غلام یا بل چا ایښې دي او ده ته معلومې ندي هغه تیمم وکړ او لمونځ یې ادا کړ (دریم) اوبه یې په خپله ایښې دي او هیرې شوې، په اول صورت کې بالاجماع د هغه لمونځ صحیح ندی راګرځول یې ضروري دي، په دویم صورت کې لمونځ کیږي راګرځول یې ضروري ندي، ځکه یو کس د بل د عمل له امله د حکم مخاطب کیدی نشي، او دریم صورت هغه ده کوم چې د قدوري صاحب ذکر کړی دی.

المسافر: دا قید اتفاقي دی، ځکه همدا حکم د مقیم لپاره هم دی، نسی: د نسیان د قید مقصد دا ده چې که چیرته مسافر د اوبو د ختمیدو ظن یا شک په کولو سره تیمم وکړي نو بالاجماع د لمانځه اعاده ضروري شوه، رحل: د دې قید مقصد دا ده چې که چیرته د اوبو مشکیزه په شا باندې تړل شوې وه یا په غاړه کې ځوړند شوې وه یا مخته موجوده وه هیره شوه او تیمم یې وکړ او لمونځ یې ادا کړ نو بالاجماع لمونځ نه صحیح کیږي، ذکر الماء الخ: که چیرته په عین لمانځه کې ور په یاد شي نو د لمانځه ختمول او راګرځول یې ضروري دي

وَلَيْسَ عَلَى الْمُتَيَمِّمِ	إِذَا لَمْ يَغْلِبْ عَلَى ظَنِّهِ	أَنْ بِقُرْبِهِ مَاءٌ
او نشته په تیمم کوونکي	کله چې غالب نشي د ده په ګمان باندې	چې ده ته نږدې اوبه شته
أَنْ يَطْلُبَ الْمَاءَ	وَإِنْ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ	أَنَّ هُنَاكَ مَاءً
چې د اوبو پلټنه وکړي	او که غالب شوه د ده په ګمان	چې دلته اوبه شته دي
لَمْ يَجُزْ لَهُ	أَنْ يَتَيَمَّمَ	حَتَّى يَطْلُبَهُ
نو روا نه ده د ده لپاره	چې تیمم وکړي	تر دې چې پلټنه وکړي

وَإِنْ كَانَ	مَعَ رَفِيقِهِ	مَاءٌ	طَلَبَهُ مِنْهُ	قَبْلَ	أَنْ يَتَيَمَّمَ
که چیرته وي	له ملګري سره	اوبه	ودې غواړي له هغه نه	مخکې له دې	چې تیمم وکړي

فَإِنْ مَنَعَهُ مِنْهُ	تَيَمَّمَ	وَصَلَّى
که یې منعه کړي له ده څخه	نو تیمم دې وکړي	او لمونځ دې ادا کړي

خلاصه: د احنافو په نزد د تیمم په اراده کوونکي باندې د اوبو لټون واجب ندی، په دې شرط چې د هغه غلب ګمان وي چې نږدې ورته اوبه نشته دی، البته د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ښي او چپ طرفته د اوبو لټون شرط دې، او که چیرته د هغه غالب ګمان وه چې دلته اوبه موجودې دي نو هغه ته تر هغه وخته پورې تیمم کول روا ندي چې هغه اوبه طلب نکړي، همدارنګه که چیرته د سفر له ملګري سره اوبه وي نو د هغه لپاره تیمم دا ده چې لومړی اوبه طلب کړي که چیرته یې اوبه ورکړې نو اودس دې وکړي لمونځ دې ادا کړي او که نه نو تیمم دې وکړي.

یطلبه: له دری سوه ګزه نه تر څلور سوه ګزه پورې د اوبو لټون کول واجب دي په دې شرط چې د اوبو د نږدې والي غالب ګمان وي که نه نو واجب ندي.

د ائمه ؤ اختلاف: د تیمم په اراده کوونکي باندې د اوبو پلټنه ضروري نه ده، په دې شرط چې ده ته د اوبو په نږدیوالي باندې د ده غالب ګمان نه وو، د احنافو مسلک همدا دی.

دویم مذهب: د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ښي او چپ طرفته د اوبو پلټنه کول شرط دي، همداسې یو روایت له امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ څخه منقول دی.

دلیل ﴿فلم تجدوا ماء فتیمموا﴾ په دغه آیت کریمه کې د تیمم کولو حکم د اوبو نه پیدا کیدلو په وخت کې دی او د اوبو نه پیدا کیدل له پلټنې وروسته ثابتیږي، نو څکه له تیمم کولو مخکې د اوبو پلټنه کول ضروري دي.

ځواب: له طلب پرته هم وجود متفق کیدلی شي، لکه د الله د نبي ارشاد دی ﴿من وجد لُقطة فلیعرفها﴾ یعنې چا چې لقطه پیدا کړه هغه تشهیر کول پکار دي، په دغه حدیث کې همدغه کس پیدا کیدونکی ویل شوي، سره له دې چې د ده له طرفه پیدا کیدل نه دي طلب شوي لهذا ستاسو دا ویل چې د وجود لپاره طلب ضروري دی صحي نه دي.

د احنافو دلیل: د تیمم آیت مطلق دی، د طلب او غیر طلب هیڅ قید نشته، لهذا په همدغه اطلاق باندې عمل کیدی شي، او د آیت شریف په طلب او وغیره قید سره نشي مقید کیدلی، او په عام ډول په میدانونو او ځنګونو کې اوبه نه وي، او د اوبو په موجودیت باندې کوم دلیل هم نه وي، نو څکه له طلب پرته تیمم کول روا دي

له ملګري څخه د اوبو غوښتل واجب دي او که نه دي او پرته له غوښتلو تیمم روا دی او که ناروا؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي

(۱) د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ او د امام شافعي حسن بن زیاد په نزد له ملګري څخه د اوبو غوښتل واجب نه دي

دليل سوال کول د عيب او ذلت خبره ده، پرته له دې په سوال کې حرج هم دی، کله چې تيمم د حرج ليرې کولو لپاره مشروع شوی دی.

ځواب په عام ډول د اوداسه لپاره اوبه مصرف کيدلی شي او خلک د هغو په غوښتلو کې هيڅ پيغور نه محسوسوي، نو د ذلت سوال نه راځي، ذلت خو د ډيرو سوالونو او د غير ضروري شيانو لپاره خلکو ته په بار بار سوال کولو کې دی، پرته له دې رسول الله ﷺ خپل ضروري حاجتونه له نورو خلکو څخه غوښتي دي، او د رسول الله ﷺ په شان د ستر مقام او مرتبې والا څوک کيدلی شي د صاحبينو مذهب دا ده چې له ملګري څخه د اوبو غوښتل واجب دي.

دليل اوبه داسې شی ده له کومو چې په عام ډول څوک انکار نکوي، نو ځکه له ملګري سره د اوبو د موجوديت په حالت کې دی قادر ګڼل کيږي په دغه مسئله کې فتوی د صاحبينو په قول باندې ده.

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

دا باب په موزو باندې د مسح په بيان کې دی

دا باب له باب التيمم سمدستي وروسته د يوشمير حکمتونو ماتحت ذکر شوی دی.

(اول) په دواړو کې د مسح په ذريعه طهارت دی (دويم) دواړه بدل دي، تيمم د اوداسه او د مسح د غسل رجلين (دريم) په دواړو کې مؤقت رخصت دی.

همدارنګه باب التيمم په باب المسح علی الخفين باندې له څو وجوهاتو مقدم کړی شوی دی:

(اول) د تيمم ثبوت په قرآن کريم سره او د مسح ثبوت په سنت نبويه سره نو ځکه تيمم قوي او د تقديم مستحق دی (دويم) تيمم حدث اصغر او اکبر دواړه ليرې کولی شي او مسح صرف حدث اصغر، ګوا که تيمم د حدث په ازاله کې قوي دی او مسح د هغه په مقابل کې ضعيفه ده او ښکاره خبره ده چې قوي لره په ضعيف باندې د تقديم حق حاصل دی، د مسح مشروعيت په مشهورو احاديثو سره شوی دی، د راويانو شمير يې له اتياؤ زيات دی، دا د محمدي امت له خصوصياتو څخه ده د هغې په تاييد کې د احاديثو ذخيره شتون لري د کوم له امله چې په هغې قائل کيدل د اهل السنة والجماعة نښه ګڼل شوې ده، بلکې په يوه زمانه کې د اهل السنة شعار جوړه شوې وه، لهذا د امام ابو حنيفه رحمه الله قول دی (نفضل الشيخين) حضرت ابوبکر او عمر (ونحب الختنين) (حضرت عثمان او حضرت علي) (ونری المسح علی الخفين) بهر صورت خوارج او روافض پريږده ټول امت په مسح علی الخفين باندې متفق دی، ځينو حضراتو د امام مالک رحمه الله طرفته د عدم جواز نسبت کړی دی خو هغه غلط دی لکه چې علامه باجي مالکي په دې تصريح کړې ده، امام ابو حنيفه رحمه الله امام ابويوسف رحمه الله او علامه کرخي وغيره د وينا په رڼائي کې له مسح علی الخفين منکرينو ته کافر ويل صحيح دي

اَلْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ جَائِزٌ	بِالسُّنَّةِ	مِنْ كُلِّ حَدَثٍ		مُوْجِبٍ لِلْوُضُوْءِ
مسح په موزو باندې روا ده	په سنت سره	له هر داسې حدث څخه		چې د اوداسه واجب کوونکی وي
اِذَا لَبِسَ الْخُفَّيْنِ	عَلَى طَهَارَةٍ	ثُمَّ اَحْدَثَ		
کله چې واغوستل شي موزې	په طهارت کې	بیا بې اودسه شي		

خلاصه د کتاب صاحب وېلي دي چې په موزو باندې د مسح جواز په سنت سره ثابت دی، په موزو باندې مسح کول د هر محدث لپاره روا دي برابره ده که ښځې وي که سړی وي، خو شرط دا ده چې موزې په طهارت باندې اغوستل شوې وي، د قدوري صاحب په موزو باندې مسح کول و لپاره دوه شرطونه مقرر کړي دي.

(اول) حدث به د اودسه موجب کوونکی وي، ځکه چېرته حدث د اوداسه موجب کوونکی نوي بلکې موجب د غسل وي نو مسح نه روا کېږي (دويم) حدث به له اوداسه وروسته پېښ شوی وي.

د موزو اغوستلو په وخت کې کامل طهارت شرط ندي، بلکې د حدث په وخت کې طهارت کامله شرط دي، دا زمونږ مذهب دی، لهذا که چېرته پښه ومينځلې د موزه له اغوستلو وروسته د مکمل طهارت له حاصلولو وروسته حدث لاحق شي بيا هم مسح سهي کېږي، بهر کيف د پښې مينځل بهتر دي او مسح کول روا دي، د جائز په لفظ سره همدې ته اشاره شوې ده، البته د ځينو فقهاؤ رأيه ده که چېرته په داسې موقع باندې وه چېرته د روافضو او خوراجو شک وي نو هلته په ځانګړي ډول مسح کول بهتر دي.

د ائمه ؤ اختلاف د موزو په وخت کې طهارت کامله ضروري دی او که نه، يعنې که چېرته د دواړو پښو له پرېمينځلو وروسته موزې واغوستل شي او له دې وروسته د اوداسه تکميل وکړي دا صحي ده او که د مکمل اوداسه له کولو وروسته يې اغوستل شرط دي، په دغه سلسله کې دوه مذهبونه نقل کولی شي.

(۱) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ، امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او د اسحق بن راهويه په نزد د اغوستلو په وخت کې طهارت کامله شرط دی.

(۲) د احنافو او سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ په نزد د موزو اغوستلو په وخت کې طهارت کامله شرط نه دی، بلکې د حدث په وخت کې طهارت کامله شرط دی، چنانچه که يو چا مخکې خپلې پښې پرېمينځلې او موزې يې واغوستې بيا يې پاتې اودس پوره کړ، بيا بې اودسه شو نو هغه ته په موزو باندې مسح کول روا دي.

د ائمه ثلاثه ؤ دليل ﴿ثم أهويت لأنزع خفيه فقال دعهما فاني أدخلتهما طاهرتين فمسح عليهما﴾.

حضرت مغيره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وېلي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د موزو ايستلو اراده وکړه نو وې فرمايل چې موزې پرېږده، ځکه چې ما خپلې پښې په موزو کې داخلې کړې دي او هغه دواړه پاکې

وي، چنانچه پرې مسح وکړه، له دغه حديث څخه معلومه شوه چې د موزو اغوستلو په وخت کې طهارت کامله شرط دی.

خواب: په حديث سره د لُبس په وخت کې صرف د پښو طهارت ثابتيږي نه مکمل طهارت، ځکه چې د عربو په محاوره کې د (انی ادخلتهما طاهرتین) مفهوم او مراد (انی ادخلت کلامنهما وهی طاهرة) دی.

يعني ما خپلې پښې په موزو کې دخلې کړې دي او په همدغو دواړو پښو کې هره يوه پاکه وه، د عربو په محاوره کې دخلنا البلد رکبانًا دی د کوم مطلب چې ای دخل کل منا وهو راکب دی، نه چې ان جمیعنا راکب عند دخول کل منا، حاصل دا ده چې په حکم وحدت رجل مراد دی نه دا چې د رجلین په تثنيه باندې حکم مرتب دی.

د احنافو دليل: موزه په قدم کې د حدث حلول کول راګرځوي، لهذا د راګرځولو په وخت کې دې د کمال طهارت رعايت وکړی شي.

فَإِنْ كَانَ مُقِيمًا	مَسَحَ	يَوْمًا وَلَيْلَةً	وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا		مَسَحَ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ
که مقيم وي	مسح دې وکړي	يوه ورځ او يوه شپه	که مسافر وي		مسح دې وکړي درې ورځې
وَلَيَالِيَهَا	وَابْتِدَاؤُهَا عَقِيبَ الْحَدَثِ	وَالْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ			عَلَى ظَاهِرِهِمَا
او درې شپې	او ابتداء يې له حدث وروسته ده	او مسح د دواړو موزو			په ظاهري برخه باندې ده
خُطُوطًا بِالْأَصَابِعِ	يَبْتَدِأُ مِنَ الْأَصَابِعِ	إِلَى السَّاقِ			وَفَرْضُ ذٰلِكَ
چې خطونه کش کړی شي په ګوتو سره	چې شروع وکړي له ګوتو	تر پنډيو			او د هغې فرض
مِقْدَارُ ثَلٰثِ أَصَابِعَ	مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ				
اندازه د دريو ګوتو ده	له ګوتو د لاس څخه				

په موزو باندې د مسح کولو د مودې (نيټې) بيان

د لغاتو حل: **عقيب**: شاته راتلونکی، **خفين**: د خف تثنيه ده او دا له خفت څخه ماخوذ دی د کوم معنی چې سهولت او اساني ده، لهذا په شريعت کې هم په دې کې د مينځلو په مقابل کې اساني ده، په اصطلاح کې داسې شي ته خف ويل کيږي کوم چې تو له پښه تر ښنګرو پورې پټه کړی شي او په هغې کې څو ميله د تګ (تللو) قدرت وي.

خلاصه: په دې عبارت کې د مسح موده مقدار کيفيت او فرضيت بيان شوي دي، لهذا ويل شوي دي چې د مسح موده د مقيم لپاره يوه ورځ او يوه شپه ده او د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې دي او د عامو علماو مذهب دا ده چې ابتداء، به د حدث په وخت کې وي، د موزو په ظاهري برخه باندې مسح کول ضروري دي. د هغې طريقه دا ده چې د ښي لاس ګوتې به د ښي موزې په مخکنې برخه باندې کښودل شي او د چپ لاس ګوتې به د چپې موزې په مخکنې برخه باندې کېښودل شي بيا د پنډيو

طرفته له ښنګرو پورته کش کړي شي او ګوتې به خلاصې ساتي، په موزو باندې د مسح کولو همدا مسنون طریقه ده او د دریو ګوتو په اندازه مسح فرض ده.

تشریح فان کان مقیما د قدوري عبارت ښودلې ده چې په موزو باندې په مسح کې د وخت تحدید دی، له امام مالک رحمه الله څخه دوه روایتونه دي، ی، دا ده چې مقیم دې په موزو باندې بالکل مسح نکوي او د مسافر لپاره د وخت هیڅ تحدید نشته دی، دویم روایت دا ده چې د مقیم حکم د مسافر په شان دی

علی ظاهرهما د امام مالک رحمه الله په نزد په ظاهر او باطن دواړو باندې مسح کول مسنون دي، د حنفیه او حنابله په نزد صرف په ظاهر باندې. البته امام شافعي رحمه الله په ظاهر باندې واجب او په باطن باندې مستحب بللې ده، په موزو باندې مسح کول خلاف قیاس ثابت دي د شریعت ورود د موزو په ظاهر باندې دی، نو څکه د موزو په ظاهر باندې مسح کول مشروع شول نه په باطن باندې، د مسح په مقدار کې د لاس ګوتو لره اعتبار دی، البته د امام کرخي په نزد د پښو ګوتې معتبر دي، خو اول قول زیات صحیح دی

وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ	عَلٰى خُفٍّ	فِيْهِ	خَرْقٌ كَثِيْرٌ	يَتَبَيَّنُ مِنْهُ
روا نه ده مسح	په هغې موزې باندې	چې وي پکې	څیرې والی زیات	چې ښکاري له هغې څخه
قَدْرُ ثَلٰثِ اَصَابِعِ الرِّجْلِ	وَاِنْ كَانَ	اَقَلَّ	مِنْ ذٰلِكَ	جَازَ
په اندازه د دریو ګوتو د پښو	او که چیرته وي	کم	له دې څخه	نو روا ده

د لغاتو حل خرق مصدر باب (ن ض) څیرې کیدل. یتبین باب تفعل څخه ښکاره کیدل.

خلاصه په داسې موزو باندې مسح کول روا ندي کومه چې دومره څیرې شوې وي چې د پښې درې کوچنۍ ګوتې ترې ښکاریږي، البته که له دې څخه د کم څیرې کیدو په صورت کې مسح روا کیږي.

تشریح د موجوده مسئلې په جواز او عدم جواز کې څلور مذهبونه دي (اول) لومړی مذهب هغه دی کوم چې په متن کې ده (دویم) د امام شافعي رحمه الله او امام زفر رحمه الله په نزد په دواړو صورتونو کې روا نده (دریم) د سفیان ثوري په نزد په دواړو صورتونو کې روا ده (څلورم) د امام اوزاعي رحمه الله په نزد د څیرې والي له امله چې کومه برخه ښکاري هغه دې ومینځل شي په پاتې برخه دې مسح وکړي، په مسح کولو کې د لاس ګوتې معتبرې دي، البته په ښکاره کیدو کې د پښو ګوتې.

وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ	عَلَى الْخُفَّيْنِ	لِمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْغُسْلُ	وَيَنْقُضُ الْمَسْحَ
روا نه ده مسح	په موزو باندې	د هغه لپاره چې واجب شوی وي پرې غسل	او ماتوي مسح

مَا يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ	وَيَنْقُضُهُ أَيْضًا	نَزْعُ الْخُفِّ	وَمُضِيُّ الْمُدَّةِ
هغه شی چې ماتوي اودس	او ماتوي همدارنګه	د موزو وباسل	او د مودې تیریدل

فَإِذَا مَضَتِ الْمُدَّةُ	نَزَعَ خُفَّيْهِ	وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ	وَصَلَّى
کله چې موده تیره شي	ودې باسل شي موزې	او ودې مینځي دواړه پښې	او لمونځ دې وکړي
وَلَيْسَ	عَلَيْهِ	إِعَادَةُ	بَقِيَّةِ الْوُضُوْءِ
او نشته	په ده باندې	راګرځول	د پاتې اوداسه

د ناقض مسح بیان

د لغاتو حل: **نزع** مصدر باب (ض) څخه وباسل، **مضی** بتشدید الیاء مصدر باب (ن ض) تیریدل

خلاصه: **مسئله** په کوم کس چې غسل واجب شو د هغه لپاره مسح کول روا ندي، مثلا یوه کس اودس وکړ موزې یې واغوستې بیا جنب شو، او هغه ته دومره اوبه پیدا شوې کومې اوداسه ته کفایت کولو نو په داسې صورت کې به د جنابت لپاره تیمم کوي او په دې اوبو سره دې اودس وکړي او پښې دې ومینځي، مسح کول روا ندي، د قدوري صاحب ویلي دي چې په کومو شیانو سره اودس ماتیږي هماغه شیان د مسح په ماتیدو کې کارورکوونکي دي، همدارنګه د موزې وباسل هم د مسح ماتوونکې دي، څکه چې په قدم کې د حدث له سرایت کولو څخه موزه مانع وه او د مانع په لیرې کیدو سره حدث سرایت وکړ او مسح ماته شوه، همدارنګه د مسح د مودې په پوره کیدو سره هم مسح ماتیږي، اوس مسح کوونکي ته پکار دي چې موزې وباسي پښې ومینځي لمونځ وکړي، البته د اوداسه راګرځول ضروري ندي، د امام شافعي په نزد راګرځول یې ضروري دي، حتی که چیرته د لمانځه په وخت کې یې موده پوره شوه نو فاسدیږي دېته اشبه بافقه ویل شوي دي (په تبیین او فتح القدیر کې د دې وضاحت دی) په دې شرط چې اوبه میسر وي.

وَمَنِ ابْتَدَأَ الْمَسْحَ	وَهُوَ مُقِيْمٌ	فَسَافَرَ	قَبْلَ تَمَامِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ
چا چې شروع کړه مسح	او دی مقیم وه	بیا مسافر شو	مخکې له پوره کولو د یوې ورځې او یوې شپې
مَسَحَ	تَمَامَ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا	وَمَنِ ابْتَدَأَ الْمَسْحَ	
مسح دې کوي	پوره دری ورځې او شپې	او کوم کس چې شروع کړه مسح	
وَهُوَ مُسَافِرٌ	ثُمَّ أَقَامَ	فَإِنْ كَانَ مَسَحَ	يَوْمًا وَلَيْلَةً
او دی مسافر وه	بیا مقیم شو	که یې مسح کړې وه	د یوې ورځې او شپې
أَوْ أَكْثَرَ	لَزِمَهُ نَزْعُ خُفَّيْهِ	وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْهُ	تَمَّمَ مَسْحَ
یا له دې څخه زیاته	نو لازم دي د موزو وباسل	او که یې کمه کړې وه له دې څخه	پوره دې کړي مسح
يَوْمٍ	وَلَيْلَةٍ		
یوه ورځ	او یوه شپه		

خلاصه: د دې مسئلې څلور صورتونه دي (اول) مقيم چې په کوم طهارت باندې موزې اغوستې وې د هغې له ماتيدو مخکې يې سفر شروع کړ بيا د سفر حالت له کومې وجهې د هغه طهارت ختم شو نو په دې صورت کې بالاجماع د اقامت موده د سفر طرفته منتقل کيږي، يعنې بالاتفاق د مسح موده درې ورځې او درې شپې کيږي (دويم) له حدث وروسته او د اقامت مودې له پوره کولو وروسته يې سفر غوره کړ نو په دغه صورت کې بالاتفاق د اقامت موده د سفر مودې طرفته نه منتقل کيږي، يعنې د يوې ورځې او شپې په تيريدو سره دې موزې وباسي (دريم) له حدث وروسته او اقامت مودې له پوره کيدو مخکې يې سفر شروع کړ نو په دغه صورت کې د احنافو په نزد د اقامت موده د سفر طرفته منتقل کيږي، يعنې تر دريو ورځو پورې دې مسح وکړي، او د امام شافعي په نزد د اقامت موده د سفر طرفته نه منتقل کيږي، بلکې چې يوه ورځ او شپه پوره کړي نو د موزو وباسل ضروري دي (څلورم) يو کس مسافر وه موزې يې اغوستې وې او په هغو باندې يوه ورځ يا شپه يا يې له دې زياته مسح کړې وه بيا يې اقامت غوره کړ نو هغه ته پکار دي چې موزې وباسي پښې ومينځي، ليکن که چيرته د يوې ورځې او شپې له مکمل کيدو مخکې مقيم شو نو بيا دې هغه د اقامت موده پوره کړي، يعنې که يې دولس ساعته مسح کړې ده نو دولس ساعته دې نور پوره کړي موزې دې وباسي

وَمَنْ لَبِسَ الْجُرْمُوْقَ	فَوْقَ الْخُفِّ		مَسَحَ عَلَيْهِ	وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ
او څوک چې واغوندي جرموق	دپاسه په موزو باندې		مسح دې وکړي په هغو باند	او روا نه ده مسح
عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ	اِلَّا	أَنْ يَكُوْنَا	مُجَلَّدَيْنِ	أَوْ مُنَعَّلَيْنِ
په جوربينو باندې	مګر	چې وي	مجلدينې	يا منعلين
وَقَالَا	يَجُوْزُ	اِذَا كَانَا	ثَخِيْنَيْنِ لَا يَشِفَّانِ	
او ويلي دي صاحبينو	روا ده	هر کله چې وي	پيړې (غټې) نرۍ نه وي	

د لغاتو حل: **الجوموق** هغه شی کوم چې په موزو باندې دپاسه د هغو د حفاظت لپاره اغوستل کيږي. د هغو ساق د موزو له ساق څخه کوچنی وي، خلکو ورته لوش ويلي دي، **الجوربين**: د جوب تثنيه ده پاتابه، يا وړينې يا اوني وي، **مجلدين**: د مجلد تثنيه ده په جورب باندې که چيرته په پورتنۍ او لاندنی برخه باندې څرمن وه نو هغو ته مجلد ويل کيږي، **منعلين**: دا د منعل تثنيه ده پيړې (غټې) سختې، **يشفان**: يشف څخه تثنيه فعل مضارع ده باب (ض) څخه مصدر شفوفا شفيفا شففا، د کوم شي دومره باريک کيدل چې هغه بل طرفته شی ترې ښکاره کيږي، الشف باريکه پرده

تشريح: کلام بالکل واضح دی، څکه خو د کلام خلاصه ته ضرورت نشته

ومن لبس الجرموق الخ: که چيرته يو څوک په موزو باندې دپاسه جرموق واغوندي نو د حنفيانو په نزد په جرموق باندې مسح کول روا دي، البته د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد روا ندي.

په جرموق باندې د مسح دوه شرطونه دي (اول) جرموق د موزو له اغوستلو وروسته د حدث لاحق کېدو او طهارت ماتېدو او په موزو باندې له مسح کولو مخکې اغوستل شوي وه په داسې صورت کې په جرموق باندې مسح کول روا دي، البته که د موزو له اغوستلو وروسته حدث لاحق شي او په موزه مسح وکړي له دې وروسته جرموق واغوندي نو په داسې صورت کې په جرموق باندې مسح کول روا ندي (دويم) جرموق د څرمنې وي که چېرته دواړه جلا کړی شي نو په دواړو مسح کېدلی شي ترڅو که په هغو کې غټ څيرې والی وي نو په هغو به مسح روا نوي (الجوهره والشامي).

ولايجوز المسح على الجوربين الخ په جورېينو باندې د مسح درې صورتونه دي (اول) په جوربين مجلدين او جوربين منعلين باندې بالاتفاق مسح روا ده (دويم) که چېرته جوربين مجلد يا منعل نوي او نرمې (رقيقې) وي يعنې د ثخينين شرط پکې نوي نو په هغو باندې بالاتفاق مسح روا نده (دريم) په جوربين غير مجلدين غير منعلين ثخينين باندې په مسح کولو کې اختلاف دی، د ثخينين مطلب دا ده چې په هغو کې درې شرطونه وموندل شي (اول) شفف به نوي، يعنې که چېرته په هغو باندې اوبه توی (واچول) شي نو پښو ته به نه رسيږي (دويم) پرته له کومې تړلو به په پوندېو پسې نښتې وي (دريم) چې واغوستل شي نو مسلسل تګ به ممکن وي، د جمهورو ائمهؤ او صاحبينو په نزد مسح روا ده، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد مسح روا نده، ليکن له امام صاحب څخه په اخير کې وخت د جمهورو د مسلک طرفته رجوع ثابته ده.

وَلَايَجُوْزُ الْمَسْحُ	عَلَى الْعِمَامَةِ	وَالْقَلَنْسُوَةِ	وَالْبُرْقَعِ	وَالْقُفَّازَيْنِ
روا نه ده مسح	په پګړۍ	خولۍ	برقعه	او دستانو باندې
وَيَجُوْزُ عَلَى الْجَبَائِرِ	وَاِنْ شَدَّهَا	عَلَى غَيْرِ وُضُوْءٍ	فَاِنْ سَقَطَتْ	
او روا ده په پټيو باندې	اګر که ترل شوي وي	له اوداسه پرته	که ولوېږي پټۍ	
مِنْ غَيْرِ بُرْءٍ	لَمْ يَبْطُلِ الْمَسْحُ	وَاِنْ سَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ	بَطَلَ	
د زخم له جوړېدو پرته	نه باطلېږي مسح	او که ولوېږي په جوړېدو سره	نو باطلېږي	

د لغاتو حل. **العمامة** پګړۍ، **القلنسوة** خولۍ (ټوپۍ)، **البقرع** نقاب کوم چې پرده ناکې ښځې استعمالوي د کوم د سترګو پټۍ چې جالۍ داره وي، **القفازين** د قفاز تثنيه دستانه جمه قفافيز، **الجبائر** د جبيرة جمع، په مات شوي هډوکي باندې ترل شوی لرګی يا پټۍ، **شد** فعل ماضي باب (ض ن) څخه مصدر شدا ترل، **برء** مصدر دی برئ من المرض (س ف ک) د مرض ختمېدل، شفا موندل

تشريح **ولايجوز الخ** د حنفيانو په نزد په پګړۍ، خولۍ، برقعه او دستانو (لاموغانو) باندې مسح کول روا ندي، په موزو باندې د مسح جواز د مصلحت او تکليف ليرې کولو لپاره دی، او د همدې شيانو په ليرې کولو کې هيڅ تکليف نشته دی نو ځکه روا نده. لهذا امام مالک رَحِمَهُ اللهُ هم په پګړۍ باندې د

مسح په جواز باندې قائل نه دی. د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد له څو شرطونو سره دی. د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد په پګړۍ باندې په مسح کولو اکتفاء کول سهي نه دي. بلکې د سر په مفروض برخه دې مسح کړي له دې وروسته سنت استیعاب په مسح علی العمامه سره ادا کړي. په دې شرط که د پګړۍ خلاصول د تکلیف باعث وه. په کومو روایتونو سره چې په پګړۍ باندې د مسح ثبوت ترلاسه کیږي د هغو جواب دا ده چې اول د پګړۍ مسح وه وروسته منسوخ شوه.

ویجوز علی الجبائر: په حدیث کې د دې د جواز ثبوت شته دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله هم مسح کړې ده او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې هم د دې حکم کړی دی. همدارنګه بالمقابل د موزې په وباسلو کې زیات تکلیف دی له همدې امله په درجه اولی د هغې روا کیدل پکار دي. ګوا که په نقلي او عقلي دواړو دلیلونو سره ثابت ده. د زخم په اکثر پټۍ باندې مسح کول هم کافي دي او همدا مفتی به قول دی.

په مسح علی الجبرة او مسح علی الخفین په مینځ کې په څلورو خبرو کې فرق دی:

(اول) که چیرته زخم روغ شو پټۍ خلاصه شوه نو صرف د هغه ځای مینځل کافي دي. لیکن په خفین (موزو) کې د یوې په وباسلو سره د دواړو پښو مینځل لازمي دي (دویم) د زخم له ښه کیدو مخکې پټۍ خلاصه شوه نو دوباره چې ترل کیږي د مسح راګرځول ضروري نه دي (دریم) د هغې لپاره د وخت تحدید نشته دی مګر په موزو باندې په مسح کې همداسې دي (څلورم) په زخم باندې د پټۍ په ترلو کې د طهارت او عدم طهارت کوم قید نشته دی. البته په موزو باندې مسح له طهارت پرته روا نه ده.

بَابُ الْحَيْضِ

د قدوري صاحب له کثیر الوقوع احداث یعني حدث اصغر او حدث اکبر څخه له فارغیدو وروسته قلیل الوقوع احداث یعنې حیض او نفاس (کوم چې له ښځو سره مخصوص دي) بیان کړي دي. او د حیض وقوع د نفاس په مقابل کې زیات دي له همدې امله د باب عنوان محض (حیض) راوړل شو. د همدې باب ماتحت د نفاس مستقل بیانولو مقصد د دواړو په مینځ کې امتیاز پیدا کول دي. لهذا که په نفاس باندې د حیض اطلاق وکړی شي نو هیڅ خبره نشته. له روایت معلومه شوې ده چې له ټولو اول حیض حواء ته پیدا شوی وه کله چې هغه له جنت څخه زمکې ته راکوزه کړی شوې وه.

الحیض لغوي معنی یې ده بهیدل، جاري کیدل. له باب (ض) څخه اهل عرب وایي (حاض الوادي) وادي (کنده) وبهیدله. د لغت له مخې حیض صرف له انساني ښځو سره مخصوص نه دی بلکې ښځو حیواناتو ته هم حیض ورځي. لکه خرګوش (سوی) اوښه، اسپه وغیره. او اصطلاحي معنی یې دا ده داسې وینه کومه چې د بالغې ښځې له رحم څخه ووځي او هغې ته کومه ناروغه پېښه نوي او نه هغه د ایاس سن ته رسیدلې وي

أَقَلُّ الْحَيْضِ	ثَلٰثَةُ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا	وَمَا نَقَصَ مِنْ ذٰلِكَ	فَلَيْسَ بِحَيْضٍ
کم حیض	دری ورځې او درې شپې ده	او چې کم شي له دې نه	هغه حیض نه ده
وَهُوَ اسْتِحَاضَةٌ	وَأَكْثَرُهُ عَشَرَةُ أَيَّامٍ	وَمَا زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ	فَهُوَ اسْتِحَاضَةٌ
هغه استحاضه ده	او زيات یې لس ورځې ده	او چې زيات شي له دې	هغه استحاضه ده

د حیض د مودې بیان

خلاصه: په دې متن کې د حيض کمه موده او زياته موده بيان شوې ده، چې د حيض کمه موده دري ورځې او دري شپې ده، کومه وينه چې له دې معلومې مودې کمه وي هغه د حيض وينه نه ګڼل کيږي د استحاضه وينه ګڼل کيږي، همدارنګه د حيض زياته موده لس ورځې ده او کومه وينه چې له دې مودې زياته شي هغې ته استحاضه ويل کيږي.

تشريح اقل الحيض: د ادنى مودې په باره کې يو څه اختلاف دی، د احنافو مسلک د متن مطابق دی، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد کمه موده دوه ورځې مکمل او د دريمې ورځې زياته برخه ده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد کمه موده يوه ورځ او يوه شپه ده، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد اولس ورځې ده، له امام احمد رَحِمَهُ اللهُ څخه د دريواړو مذاهبو په شان دری روايتونه دي، ليکن خرقي پنځلس ورځې او ابن قدامه د لسو ورځو روايت ته ترجيح ورکړې ده، الحاصل کومه وينه چې له شرعي اندازې څخه کمه يا زياته وي هغه حيض نه دی بلکې استحاضه ورته ويل کيږي.

د حیض په مسئله کې د ائمه ؤ اختلاف سره له دلايلو او جوابونو

د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د کم هيڅ حد نشته، يوه قطره (څاڅکی) هم د ده په نزد حيض دی، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد يوه ورځ او يوه شپه ده د احنافو په نزد دری ورځې او دری شپې ده.

د زياتې مودې په سلسله کې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ مذهب دا ده چې پنځلس ورځې ده

د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد اوه لس ورځې او د احنافو په نزد لس ورځې دي

د احنافو دليل: ﴿عن أبي امامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال أقل الحيض ثلاث وأكثره عشر﴾

له دې پرته د واثله، انس، معاذ بن جبل، ابوسعيد خدري او د حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايتونه هم د احنافو د مذهب تاييد کوي، همدغه ټول روايتونه اګر که ضعيف دي، ليکن د هغه روايت په مقابل کې احسن دي په کوم سره چې د شافعيانو استدلال دی

د شافعیانو او حنابله ؤ دلیل: په دې روایت سره دی د کوم چې الفاظ دي ﴿تكث احداكن شطر عمرها لاتصلي﴾ یعني په تاسو کې هر یوه د خپل عمر نیمايي برخه خنډول شوې یاست لمونځ نشی کولی، له دغه حدیث څخه دا خبره معلومېږي چې نیم عمر د لمانځه قابل نه پاتې کیږي او دا خبره هغه وخت کیدلی شي کله چې د حیض زیاته موده پنځلس ورځې شي.

خواب: د همدغه حدیث متعلق ابن الجوزي فرمایلي ﴿حدیث لایعرف﴾ امام بیهقي فرمایلي ﴿انه لم یجده﴾ امام نووي رَحِمَهُ اللهُ فرمایلي ﴿حدیث باطل لایعرف﴾

او که چیرته بالفرض دغه حدیث صحي هم ومنل شي او د شافعیانو او حنابله ؤ د مذهب مطابق پنځلس ورځې د حیض شمار کړل شي بیا هم په ټول عمر کې د حیض برخه نیمايي کیدلی نشي، ځکه چې قبل البلوغ (له بلوغ مخکې) او بعدالایاس (سخت زوړوالي) زمانه له حیض پرته وي.

د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ استدلال: ﴿ویسئلونك عن المحیض قل هواذی﴾ په دغه آیت کریمه کې له تعین او تقدیر پرته حیض ګندګي ګڼل شوې

خواب: د حضرت ابو امامه او نورو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ټولو روایتونو د همدغه آیت کریمه د اجمال تفسیر بیان کړی دی

وَمَاتَرَاهُ الْمَرْأَةُ	مِنَ الْحُمْرَةِ	وَالصُّفْرَةِ	وَالْكُدْرَةِ	فِيْ اَيَّامِ الْحَيْضِ
او هغه چې ویني ښځه	له سوروالي	زیړوالي	توروالي	د حیض په ورځو کې
فَهُوَحَيْضٌ	حَتّٰى	تَرَى الْبَيَاضَ	خَالِصًا	
دا ټول حیض دی	تر دې	چې ویني سپینوالی	خالص (سوچه)	

د حیض د رنګونو بیان

د لغاتو حل: **الحمرة**: سرخي، **الصفرة**: زردي، **الكدرة**: توروالی

خلاصه: مصنف د حیض د رنګونو بیان کړی دی چې حائضه ښځه د حیض په ورځو کې د سره زیړ تور رنګ وینه وګوري ټول حیض شمارل کیږي، تردې چې خالص سپین رطوبت ویني

تشریح: د حیض وینه شپږ رنګه وي (اول) سره (دویم) زیړه (دریمه) خاورینه (څلورم) توره (پنځم) شنه (شپږم) غلیظه، بهر کیف د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد د کوم رنګ چې راشي هغه حیض دی په دې شرط چې د حیض په ورځو کې راشي، تردې پورې چې بالکل سپین رطوبت د ښځې له شرمګاه څخه راشي، یعني ترڅو پورې چې همدا رطوبت رانشي تر هغه وخته پورې هره وینه د حیض ده، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف سور او تور رنګ د حیض وینه ده، باقي د استحاضه رنګونه دي همدا مسلک د حنابله ؤ دی، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد زیړ او توریخن رنګ هم د حیض وینه ده، د صاحب

هدایه مطابق د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا که د حیض په اخیر کې خارج شي نو حیض شمارل کیږي که خارج نشي نه شمارل کیږي، حتی تری البیاض د خالص بیاض (سپینوالي) راتلل د حیض قطعه کیدو نښه ده، یعنې د حیض وینې له بندیدو وروسته د ښځې له شرمگاه څخه له سپینو اوبو سره مشابه یو رطوبت خارجیږي

فائده د احنافو په نزد د حیض شروع کیدو او ختمیدو دار مدار په ورځو باندې دی، رنګونو لره هیڅ اعتبار نشته، د هر رنګ حیض راتلی شي، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف تمیز لره اعتبار دی، عادت لره اعتبار نشته، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد که چیرته صرف عادت وو نو هغه لره هم اعتبار دی، او که صرف تمیز وو هغه هم معتبر دی، او که چیرته دواړه خبرې سره یو ځای شي نو د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد تمیز مقدم کیږي او د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد عادت مقدم کیږي

د رنګونو د تمیز په مشروعیت باندې د ائمه ثلاثه ؤ استدلال د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان دی ﴿اذا کان دم الحیضة فانه أسود یعرف فأذا کان کذلك فامسکی عن الصلاة الخ﴾

یعنې د حیض وینه یو ډول ځانګړې (خاصه) توره وي کومه چې پیژندل کیږي، لهذا که چیرته همداسې وي نو لمونځ دې پریږدي او هر کله چې د همدغه ځانګړي (خاص) رنګ وینه ختمه شي او دویمه شروع شي نو لمونځ دې شروع کړي، له دې حدیث معلومه شوه چې په رنګ سره د حیض معلومات کیږي

ځواب: امام ابوداؤد رَحِمَهُ اللهُ دغه حدیث ضعیف ګڼلی، او ابو حاتم منکر بللی

همدارنګه ابن أبی حاتم په خپل علل کې لیکلي چې ما له خپل والد ابو حاتم څخه په دې باره کې پوښتنه وکړه هغه راته وفرمایل:

﴿هومنکر﴾ ابن القطان ویلي ﴿هو في رأيي منقطع﴾

د احنافو دلیل: ﴿ان النساء کن یبعثن بالکرسف الی عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فکانت تقول لا حتی ترین القصة البیضاء﴾

یعنې ښځو د حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته کرسف (د حیض په وینو ککړې جامې) ور لیږلې وې (همدغو ښځو د لمانځه په باره کې پوښتنه کړې وه) حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته فرمایلي وو: داسې نه ده (بیړه مکوئ) تر دې چې خالص سپینوالی ونه وینی (کوم چې د حیض د ختمیدو نښه ده) له دغه روایت څخه معلومه شوه چې رنګونو لره هیڅ اعتبار نشته، بلکې ټول رنګونه له سپینوالي پرته د حیض کیدلی شي

وَالْحَيْضُ يُسْقِطُ	عَنِ الْحَائِضِ	الصَّلٰوةَ	وَيُحَرِّمُ	عَلَيْهَا	الصَّوْمَ
او حیض ساقطوي	له حایضې	لمونځ	او حراموي	په هغې	روژه ساتل
وَتَقْضِي الصَّوْمَ		وَلَا تَقْضِي الصَّلٰوةَ			وَلَا تَدْخُلُ الْمَسْجِدَ
قضائي به راوړي د روژو		او قضائي به نه راوړي د لمنځونو			او نه به داخلیږي جومات ته

وَلَا تَطُوْفُ بِالْبَيْتِ	وَلَا يَأْتِيْهَا زَوْجُهَا	وَلَا يَجُوْزُ لِحَائِضٍ	
طواف به نکوي د کعبې	او نه به ورته راځي میړه د هغې	او روا نه دي حایضې ته	
وَلَا الْجُنُبِ	قِرَائَةُ الْقُرْآنِ	وَلَا يَجُوْزُ لِلْمُحْدِثِ	مَسُّ الْمُصْحَفِ
او نه جنب ته	لوستل د قرآن	او روا نه دي بې اودسه ته	لمس کول قرآن
	اِلَّا اَنْ يَأْخُذَهُ	بِغِلَافِهِ	
	مګر چې ونیسي هغه	په غلاف سره	

د حیض د احکامو بیان

دلغاتوحل: **یسقط**: باب افعال څخه ساقط کول، **یأتیهاَ**: باب (ض) څخه اتی یاتی اتیانا راتلل، دا له کوروالي او جماع څخه کنایه ده لکه چې الهي ارشاد دی «فاذا تطهرن فاتوهن» **مس**: مصدر باب (ن) لمس کول، **المصحف**: قرآن کریم، **غلاف**: هغه شی په کوم کې چې کوم شی داخل کړی شي (جزدان) جمع غلف، دلته اخیرنی معنی مراد ده، دا له قرآن کریم څخه جلا پوښ وي کوم چې په عام ډول له کیړې جوړولی شي.

خلاصه: دلته د حیض احکام بیانول کیږي، د حیض دولس احکام دي، اته داسې دي په کومو کې چې حیض او نفاس مشترک دي، او څلور داسې دي کوم چې له حیض سره مخصوص دي، له هغو اتو څخه (اول) له حایضې ښځې څخه لمونځ ساقطیږي د هغه قضاء واجب نده (دویم) په حایضه ښځه باندې روژه نیول حرام دي او د هغې قضاء واجب ده (دریم) حایضه ښځه دې جومات ته نه داخلیږي (څلورم) حایضه ښځه دې د بیت الله طواف نکوي (پنځم) له حایضې ښځې سره کوروالی کول حرام دي (شپږم) او د قرآن کریم تلاوت نه حایضې ته روا دی او نه جنبي لپاره که سړي وي که ښځه وي (اووم) محدث په دې کې حایضه نفساء او جنبي ټول داخل دي) لپاره له غلاف (جزدان) پرته د قرآن کریم لمس کول روا ندي، اتم حکم وړاندې را روان دی.

تشریح: **لاتدخل المسجد**: د جمهورو ائمه ؤ په دې باندې اتفاق دی چې د حایضې لپاره جومات ته داخلیدل حرام دي، همدارنګه د هغې دریدل او تیریدل هم، د امام شافعي رحمه الله په نزد تیریدل روا دي.

ولایاتیهازوجها: له حایضې ښځې سره وطی کول حرام دي، الهي ارشاد دی **«ولاتقربوهن حتی یطهرن»** د جوهره صاحب لیکلی دي چې که چیرته میړه خپله حایضه ښځه حلاله وګڼي کوروالی وکړي نو هغه کافر کیږي، او که یې حرام ګڼي نو هغه فاسق او د ګناه مرتکب شو، لهذا هغه ته توبه او استغفار واجب دي، او مستحب طریقه دا ده چې یو دینار یا نیم دینار صدقه کړي، او د ځینو خیال دی چې که یې د حیض په شروع کې نږدې والی کړی وي نو یو دینار دی او که یې په اخیر کې کړی وي نو نیم

دینار دې صدقه کړي، پاتې شوه دا مسئله چې له حایضې ښځې سره له جماع پرته خوند اخیستل څنګه دي؟ نو د شیخینو او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد له نامه نیولې تر زنګنونو پورې حرام دي، د امام احمد او محمد په نزد چې فرج پرېښودل شي له نورو ټولو برخو خوند اخیستلی شي، لهذا دا معلومه شوه چې له ښځې هر ډول کار اخیستلی شي، د هغې دلاس پخه کړی شوې ډوډۍ خوړل روا دي، د یهودیانو شعار دی چې دوې حایضه ښځه بالکل جلا کوي، اسلام د دې مخالف دی.

ولا یجوز لحائض ولا لجنب قراءة القرآن : د حایضې او جنب لپاره د ائمه ثلاثه جمهور صحابه او تابعینو په نزد د قرآن تلاوت ناروا دی، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د حایضې لپاره د قرآن تلاوت روا دی، البته د جمهورو په نزد دا روا ده چې د کار کولو په وخت کې بسم الله ووایي یا د شکر په وخت کې الحمد لله ووایي

للمحدث : د قدوري صاحب صرف (للمحدث) ویلي، حائضه نفساء او جنبي یې ندي بیان کړي، ځکه چې د دوې دریوارو لپاره بلا مس د قرآن تلاوت هم روا ندی، او د بې اودسه لپاره بلا مس د قرآن تلاوت روا دی، له همدې امله په درجه اولی د دې دریوارو لپاره د مصحف لمس کول روا ندي، د محدث حائضه وغیره په مینځ کې د فرق کولو سبب دا ده چې د حدث اثر خو صرف په لاس کې دی او د جنابت اثر په لاس او خوله دواړو کې دی، له همدې وجهې د جنابت په غسل کې د لاس او خولې دواړو مینځل واجب دي

فَإِذَا انْقَطَعَ	دَمُ الْحَيْضِ	لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ	لَمْ يَجُزْ وَطْيُهَا
کله چې بنده شي	وینه د حیض	کم له لسو ورځو	نه دي روا وطی کول د هغې
حَتَّى تَغْتَسِلَ	أَوْ يَمْضِيَ عَلَيْهَا	وَقْتُ صَلوةٍ كَامِلَةٍ	
تر دې چې غسل وکړي	یا تیر شي په هغې	وخت د لمانځه کامل	
وَإِنِ انْقَطَعَ دَمُهَا	لِعَشَرَةِ أَيَّامٍ	جَازَ وَطْيُهَا	قَبْلَ الْغُسْلِ
او که بنده شوه وینه د هغې	په لسو ورځو کې	روا دي وطی کول د هغې	مخکې له غسل کولو

خلاصه : اتم حکم دا ده چې که چېرته د عادت مطابق له لسو ورځو په کمو باندې د حیض وینه بنده شوه نو له هغې سره کوروالی کول روا ندي، د کوروالي کولو د اجازت دوه شکلونه دي، یو شکل دا ده چې د حیض له بندش وروسته غسل وکړي، دویم شکل دا ده چې په هغې باندې د لمانځه ادنی وخت تیر شي، یعنې دومره اندازه چې ښځه په هغه کې غسل کول او تکبیر تحریمه تړلی شول (له وخت ځخه د لمانځه اخیري وخت مراد دی)، د وخت په تیریدو باندې ښځه حکماً پاکه ګڼل کیږي، ځکه کله چې د لمانځه فرض کیدو حکم لګولی نو ګوا که د هغې د پاک کیدو حکم یې لګولی دی، ځکه چې د حیض په حالت کې خو لمونځ ساقط شوی دی.

لم يجز وطيها : په دې سره دې طرفته اشاره ده چې دا اجازت محض د همبستري په حق کې ده نه د قرآن د تلاوت په حق کې، که چيرته د حيض وينه مکمل د لسو ورځو مودې په تيريدو باندې بنده شوه نو له ښځې سره د غسل له کولو مخکې د همبسترۍ کولو اجازت شته دی. ليکن مستحب دا ده چې له غسل مخکې همبستري ونکړی شي، د امام زفر او امام شافعي په نزد له غسل پرته د همبسترۍ اجازه نشته

تشريح فاذا انقطع دم الحيض الخ که چيرته د حيض وينه له دريو ورځو مخکې مګر له عادت څخه په کم کې بنده شوه مثلاً عادت اوه ورځې دی او وينه پنځه ورځې راغله بنده شوه نو په داسې صورت کې مکمل د عادت ورځو له تيريدو مخکې همبستري روا نده، برابره ده که هغه غسل ولې ونکړي، ځکه تراوسه د عادت موافق د وينې راتلو غالب ګمان دی. بس په ترک کولو کې احتياط دی. اته احکام مکمل شول په کومو کې چې حيض او نفاس مشترک دي. لاندې هغه څلور احکام بيانولی شي کوم چې له حيض سره مخصوص دي.

(اول) د حيض په ذريعه د مودې تکميل (دويم) د رحم استبراء (دريم) د بالغ کيدو علم (څلورم) د طلاق سني او طلاق بدعي فرق

وَالطُّهْرُ اِذَا تَخَلَّلَ	بَيْنَ الدَّمَيْنِ	فِيْ مُدَّةِ الْحَيْضِ	فَهُوَ كَالدَّمِ الْجَارِيْ
او چې پاکي متخلل شي	د دوارو وينو په مينځ کې	په موده د حيض کې	نو دا د جاري وينې په شان ده
وَاَقَلُّ الطُّهْرِ	خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا	وَلَا غَايَةَ لِاَكْثَرِهٖ	
او کمه پاکي	پنځلس ورځې ده	او انتهاء نشته د زياتې يې	

د طهر متخلل بيان

خلاصه : د دوه وينو په مينځ کې که چيرته اوبه واقع شي نو هغه پيوسته د وينې په شان ګڼل کيږي که چيرته د حيض په موده کې دي نو حيض او که د نفاس په موده کې دي نو نفاس ګڼل کيږي، او د طهر کم له کمه موده پنځلس ورځې دي، پاتې شوه د طهر او پاکي زياته موده نو د دې حد مقرر ندی، البته که کومې ښځې ته هميشه وينه راځي نو د هغې کوم عادت مقرر وي نو په دغه شکل کې دې د هغې د عادت په اعتبار سره تحديد وکړی شي

تشريح طهر : د دوه وينو منځنی فاصله ته ويل کيږي، د طهر دوه قسمونه دي (اول) طهر ناقص (دويم) طهر کامل، طهر کامل بالاتفاق فاصل دی، د طهر ناقص په فاصل کيدو او نه فاصل کيدو کې له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ څخه شپږ قولونه منقول دي، د کتاب صاحب هغه قول نقل کړی دی کوم چې مفتي او مستفتي دوارو لپاره اسان دی، لهذا په همدې قول باندې فتوی ده، هغه قول امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ نقل کړی دی، باقي له پنځو قولونو څخه د يوه راوري امام محمد رَحِمَهُ اللهُ

دی، د دویم عبدالله بن المبارک دی، د دریم راوي امام محمد دی دا د امام مسلک دی، د څلورم راوي ابو سهیل دی او د پنځم راوي حسن بن زیاد دی.

د متن تشریح دا ده چې که چیرته طهر ناقص د وینو په دواړو طرفونو کې په ګیره کې وه برابره ده که یوه ورځ وه که زیات همدارنګه که په لسو ورځو کې دننه وه که د باندې نو طهر متخلل حیض شو، که چیرته ښځه مبتدیه ده نو مکمل لس ورځې او د معتاده په صورت کې د حیض ورځې حیض شمارل کیږي، مثلا یوه ښځه هره میاشت له اول تاریخ څخه تر لسو ورځو پورې د وینې راتلو عادتي ده، بیا هغې له مقرر عادت مخکې یوه ورځ وینه ولیدله او تر لسو ورځو پاکه وه بیا یې یوه ورځ وینه ولیدله نو حسب عادت لس ورځې حیض ګڼل کیږي، ځکه چې اوس د دواړو وینو مابین عشره په کومه چې وینه بالکل لیدل شوې نده هغه حیض دی او له عادت څخه مخکې وینه او لس ورځې وروسته چې کومه وینه راغلې (اول او اخیر دواړه وینې) هغه د استحاضه په حکم کې دي، همدا د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ اخیري قول دی کوم چې مفتی به دی، د مزید پنځو قولونو تفصیل دې په هدایه او شرح وقایه کې وکتل شي.

د طهر متخلل مسئله: د طهر تعریف: هغه وینه کومه چې د دوو وینو په مینځ کې حد فاصل ده، د دې کم له کمه موده پنځلس ورځې ده او د زیاتې یې هیڅ اندازه نه ده مقرره شوې، که چیرته پنځلس ورځې وو نو دیته طهر کامل ویل کیدی شي، او په دې باندې له حیض څخه د پاکي حاصلولو احکام مرتب کیږي، او که چیرته یې له پنځلسو کمه موده وه نو هغه ته طهر ناقص ویل کیږي، او د دې په فاصل کیدو او نه فاصل کیدو کې اختلاف دی.

د طهر کامل مثال: یوې ښځې درې ورځې وینه ولیدله، بیا یې پنځلس ورځې پاکي ولیده او بیا یې درې ورځې وینه ولیدله، نو دغه پنځلس ورځې بالاتفاق طهر دی او د دواړو وینو په مینځ کې حد فاصل دی، د طهر ناقص په فاصل کیدو او نه فاصل کیدو کې له امام صاحب څخه څلور روایتونه دي:

طهر ناقص مطلقاً فاصل نه وي (یعني که چیرته طهر ناقص له دواړو طرفونو څخه وینه ګیر کړې وي برابره ده که یوه ورځ وي یا زیات له لس ورځو وي یا له دې څخه د باندې وي) په مینځ کې یې پاکي حیض ګڼل کیږي، که چیرته د ښځې عادت معلوم وي نو د عادت ورځې حیض او پاتې نورې استحاضه، او که چیرته عادت معلوم نه وي نو لس ورځې حیض او پاتې نورې استحاضه

مثال: یوې ښځې یوه ورځ وینه ولیدله، بیا څوارلس ورځې پاکه وه، بیا یې یوه ورځ وینه ولیدله او هره میاشت د هغې عادت اته ورځې وینه راتلل دي نو د هغې د عادت مطابق اته ورځې حیض ګڼل کیږي او پاتې نورې استحاضه، او که چیرته عادت معلوم نه وي نو د شروع لس ورځې حیض او پاتې نورې استحاضه شوه، دا قول د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللَّهُ دی او همدا د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللَّهُ اخیري قول دی، په ښځو باندې د آساني لپاره په همدغه قول باندې علماء کرامو فتوی ورکړې ده، د صاحب عنایه په نزد په همدې مذهب کې مفتي او مستفتي دواړه لپاره آساني ده، همدا قول امام قدوري رَحِمَهُ اللَّهُ په

کتاب کې ذکر کړي، د زيات تفصيل لپاره له امام ابوحنيفة رحمه الله څخه منقول درې روايتونه بيان کولی شي، ترڅو به قدوري کې په ذکر شوې نقشه باندې پوهيدل آسانه شي.

(۱) د امام محمد رحمه الله روايت کوم چې له امام صاحب څخه منقول دی هغه دا ده چې که چیرته طهر ناقص د دواړو وينو په مينځ کې د حيض په موده کې واقع شي نو دغه طهر نه فاصل کيږي، بلکې مسلسل د وينې په حکم کې کيږي، لکه چې يوه ورځ وينه ووينې، بيا پنځه ورځې پاکه وي، بيا يوه ورځ وينه ووينې نو اوه ورځې حيض شمارل کيږي، او د امام محمد رحمه الله مذهب په کوم کې چې له ذکر شوي شرط سره دا هم شرط دی چې په مينځ کې پاکي کله چې له دريو ورځو څخه کمه وي نو ټولې ورځې حيض ګڼل کيږي، او که چيرته په مينځ کې پاکي درې ورځې يا له دې زياته ده نو بيا دې وکتل شي چې پاکي له دواړو وينو سره برابره ده که کمه ده. په همدغو دواړو صورتونو کې هم ټولې ورځې د حيض ګڼل کيږي، او که چيرته په مينځ کې پاکي د دواړو طرفونو له وينو څخه زياته وه نو بيا دې غور وکړی شي که چيرته د دواړو طرفونو په وينو کې يوه يې د حيض جوړيدو صلاحيت درلود نو هغه حيض جوړيږي، او د دويم طرف وينه استحاضه، او که چيرته د حيض جوړيدو صلاحيت يکې نه وي نو بيا ټولې ورځې د حيض ګڼل کيږي.

مثالونه : يوې ښځې دوه ورځې وينه وليدله، بيا پنځه ورځې پاکه وه، بيا يې درې ورځې وينه وليدله، په دې صورت کې ټوله وينه له طهر سره برابره ده.

دويم صورت : درې ورځې يې وينه وليدله، درې ورځې پاکه وه، بيا يې يوه ورځ وينه وليدله، په دې صورت کې ټوله وينه له طهر څخه زياته ده، لهذا په دواړو صورتونو کې طهر نه فاصل کيږي، بلکې ټولې ورځې په حيض کې شمارل کيږي.

دريم صورت : يوې ښځې دوه ورځې وينه وليدله، بيا پنځه ورځې پاکه شوه، بيا يې دوه ورځې وينه وليدله، چونکه په دغه صورت کې پاکي له ټولې وينې زياته ده او په هيڅ طرف کې يې د حيض جوړيدو صلاحيت هم نشته، لهذا ټولې ورځې د استحاضې دي.

دويم روايت : د امام زفر رحمه الله په نزد کله چې د حيض په اکثره موده کې د کمې مودې په اندازه وينه وليدل شي نو په مينځ کې پاکي د جاري وينې په څير ده، چنانچه ټولې ورځې د حيض شمارل کيږي، او که چيرته د حيض په اکثره موده کې د کمې مودې په اندازه وينه وه ليدل شوه نو بيا هيڅ هم حيض نه ګڼل کيږي، مثال : يوې ښځې دوه ورځې وينه وليدله، اوه ورځې پاکه شوه، بيا يې يوه ورځ وينه وليدله نو ټولې ورځې د حيض دي، ځکه چې د حيض په اکثره موده کې د کمې مودې په اندازه وينه ليدل شوې ده.

دويم مثال : يوه ورځ وينه وليدل شوه، اته ورځې پاکه شوه، بيا يې يوه ورځ وينه وليدله، په دغه صورت کې هيڅ هم حيض نه دی، ځکه چې په اکثره موده کې د کمې مودې په اندازه وينه نه ده ليدل شوې.

دريم روايت کوم چې حسن بن زياد له امام صاحب څخه منقول کړی هغه دا ده چې په مينځ کې پاکي کله چې له دريو ورځو کمه وي نو ټولې د حيض کيږي، لکه څرنګه چې امام زفر رحمه الله بيان کړې دي،

او که چيرته درې ورځې وي يا له دريو څخه زياته وي برابره ده که پاکي د دواړو طرفونو له وينې سره برابره وي يا د دواړو طرفونو وينه له پاکي څخه زياته وه، نو په ټولو صورتونو کې مطلقًا فاصل کيږي

مثال يوې ښځې يوه ورځ وينه وليدله، اوه ورځې پاکه شوه، بيا يې دوه ورځې وينه وليدله، په دغه صورت کې هيڅ حيض نشته

وَدَمُ الْاِسْتِحَاضَةِ	هُوَمَاتَرَاهُ الْمَرْأَةُ	اَقَلَّ مِنْ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ
او وينه د استحاضې	هغه ده چې ليدلې وي ښځې	کمه له دريو ورځو
أَوْ اَكْثَرَ مِنْ عَشَرَةِ اَيَّامٍ فَحُكْمُهُ	حُكْمُ الرُّعَافِ	لَايَمْنَعُ الصَّلٰوةَ
يا زياته له لسو ورځو حکم د هغې	حکم د نکسير دی	چې نه منعه کوي لمونځ
وَلَا الصَّوْمَ وَلَا الْوَطْيَ	وَاِذَازَادَالدَّمُ	عَلَى الْعَشَرَةِ وَلِلْمَرْأَةِ
نه روژه نه کوروالی	او که زياته شوه وينه	په لسو ورځو او د ښځې
عَادَةٌ مَعْرُوْفَةٌ	رُدَّتْ اِلٰى اَيَّامِ عَادَتِهَا	وَمَازَادَ
عادت معلوم دی	نو رد کيږي د خپل عادت طرفته	او کومه چې زياته شي
عَلٰى ذٰلِكَ فَهُوَاِسْتِحَاضَةٌ	وَاِنِ ابْتَدَأَتْ مَعَ الْبُلُوْغِ	مُسْتَحَاضَةً
په دې باندې هغه استحاضه ده	او که د استحاضې په حالت کې	بالغه شي
فَحَيْضُهَا عَشَرَةُ اَيَّامٍ	مِنْ كُلِّ شَهْرٍ	وَالْبَاقِيْ اِسْتِحَاضَةٌ
نو حيض د هغې لس ورځې دی	له هرې مياشتې څخه	او باقي اسحاضه ده.

د استحاضه د وينې بيان

دلغاتوحل الرعاف نکسير، **الوطی** کوروالی، **ردت** فعل ماضي مجهول گرځيدل

خلاصه: د استحاضې وينه د نکسير وينې په شان ده، يعني څرنګه چې د نکسير له وجهې د لمانځه او د روژې ممانعت نشته دی همدارنګه د استحاضې له وجهې د لمانځه روژې او له ښځې سره د کوروالي ممانعت نشته دی. که چيرته د کومې ښځې د حيض وينه له لسو ورځو زياته راشي کله چې د هغې عادت له دې څخه کم وي نو د مقرر عادت مطابق حيض شمارل کيږي او زياته وينه د استحاضه ده که چيرته ښځه په ابتدائي ډول باندې له بالغ کيدو سره مستحاضه شوه نو د هغې حيض به هره مياشت لس ورځې وي او باقي استحاضه. ځکه چې لس ورځې په يقيني ډول حيض دی

تشريح د مستحاضه درې حالتونه دي ﴿اول﴾ مبتدأه، داسې ښځه کومې ته چې اوس د حيض راتلل شروع شوې وي ﴿دويم﴾ معتاده، د کومې چې د حيض په سلسله کې کوم عادت وي، د معتاده دوه

قسمونه دي (اول) د کومې چې باظابطه عادت وي (دويم) د کومې په عادت کې چې بې ظابطګي وي. يعني چې حيض يې کله پنځه ورځې راځي او کله اوه ورځې راځي (دريم) متحيره، هغه ښځه کومه چې معتاده ده بيا وينه دوامداره شي مګر خپل پخوانی عادت يې هير شي، د دې يو قسم مميزه هم ده، هغه ښځه کومه چې د وينې رنګ ته وګوري پيژني يې چې کومه وينه د حيض ده او د کومه د استحاضه ده، که چيرته د مبتداء موده له لسو ورځو څخه زياته شي نو بالاتفاق لس ورځې د حيض او باقي ورځې د استحاضه دي، او د مقرر عادت په وينه له لسو ورځو څخه زياتيدو باندې خو د احنافو په نزد بالاتفاق د عادت طرفته ګرځول کيږي، مثلا عادت يې د پنځو ورځو وه مګر تر دوولس ورځو پورې راغله نو پنځه ورځې د حيض او اوه ورځې د استحاضه ګڼل کيږي، که چيرته حيض تر لسو ورځو پورې راغی نو علی وجه الاتفاق همدا ټولې ورځې د حيض ګڼل کيږي. برابره ده که ښځه معتاده وه که مبتدأ وه، متفقه وه که مختلفه وه او داخل په عادت کې تصور کړی شي

وَالْمُسْتَحَاضَةُ	وَمَنْ بِهٖ سَلَسُ الْبَوْلِ	وَالرُّعَافُ الدَّائِمُ
مستحاضه	او هغه چې هر وخت يې متيازې څڅيږي	او چاته چې دائمي نکسير وي

وَالْجُرْحُ الَّذِيْ	لَا يَرْقَأُ	يَتَوَضَّؤُنَ	لِوَقْتِ كُلِّ صَلٰوةٍ
او هغه زخم	چې نه اوچيږي	نو اودس دې وکړي	د هر لمانځه د وخت لپاره
وَيُصَلُّوْنَ	بِذٰلِكَ الْوُضُوْءِ	فِى الْوَقْتِ	مَاشَاءُوْا مِنَ الْفَرَائِضِ
لمونځ دې وکړي	په همدې اوداسه سره	په وخت کې دننه	هر څه چې غواړي له فرايضو
وَالنَّوَافِلِ	فَاِذَا خَرَجَ الْوَقْتُ	بَطَلَ وُضُوْءُهُمْ	وَكَانَ عَلَيْهِمْ
او نوافل	او کله چې تير شي وخت	نو باطليږي اودس يې	او په هغه باندې لازمه ده
اِسْتِيْنَافُ الْوُضُوْءِ		لِصَلٰوةٍ اُخْرٰى	
راګرځول د اوداسه		د نورو لمنځونو لپاره	

د مستحاضه او معذورانو احکام

دلغاتوحل: سلسل البول: بې ارادې د متيازو وتل، **الرعاف الدائم**: دائمي نکسير، **الجرح**: زخم، **يرقأ**: باب (ن) څخه رقا الدم رقا ورقوا د وينې وچيدل، د بهيدلو سلسله بنديدل، لايرقأ: باب (ن) پيوسته بهيدل، **استيناف**: باب افتعال څخه له نوي سره يې کول

خلاصه: کومې ښځې ته چې د استحاضه شکايت وي يا داسې کس د کوم چې بې ارادې متيازې بهيږي يا کوم کس د دائمي نکسير مريض وي يا کوم زخم چې پيوسته بهيږي، نود حنفيانو په نزد د همداسې معذورانو لپاره حکم دا دی چې په همدې اوداسه سره په وخت کې دننه چې څومره لمنځونه

کول وغواړي ادا دې کړي برابره ده که فرائض وي که نوافل وي واجب وي که نذر وي، خو د وخت له وتلو وروسته د بل لمانځه لپاره دې با قاعده د بل اوداسه کول دي، ځکه چې د وخت تیریدل د اوداسه په ماتیدو باندې اثر غورځوونکی دی.

تشریح حیض د خپل کثیر الوقوع په سبب مقدم شوی همدارنګه دلته استحاضه په نسبت سره نفاس ته د کثیر الوقوع په نسبت د تقدیم حق حاصل دی، لهذا ښځه کله د حمل په حالت کې د وینې لیدو له امله مستحاضه کیږي یا کله له مقررو ورځو څخه د زیاتې وینې راتلو له امله یا کله له دریو ورځو کمې وینې راتلو له امله وغیره وغیره، د هغه متخلف اسباب دي، مګر د نفاس صرف یو سبب دی یعنې د ماشوم ولادت

یتوضؤن لوقت کل صلوة په پورته سطرونو کې تیر شوي دي چې د احنافو په نزد د معذورانو لپاره د یو وخت په اوداسه سره د څومره لمنځونو اجازت دی، د امام شافعي په نزد د هر فرض لمانځه به د نوی اودسه کول وي، یعنې معذور په یوه اوداسه سره صرف یو لمونځ کولی شي

د معذورانو لپاره د وخت تیریدل د اوداسه ماتوونکی دی که دخول وخت، په دې کې څه اندازه اختلاف دی، د طرفینو په نزد د وخت تیریدل د اوداسه ماتوونکی دی، د امام زفر په نزد د وخت دخول د اوداسه ماتوونکی دی او د امام ابویوسف په نزد تیریدل او داخلیدل دواړه دي، مثلا یوه معذور له طلوع فجر وروسته اودس وکړ بیا لمر راوخوت په دې صورت کې د ائمه ثلاثه په نزد اودس ماتیږي، ځکه چې د وخت تیریدل وموندل شول، د امام زفر په نزد نه ماتیږي چې تراوسه د زوال وخت داخل شوی ندی

وَالنِّفَاسُ	هُوَالدَّمُ الْخَارِجُ	عَقِيْبَ الْوِلَادَةِ	
او نفاس	هغه وینه ده چې ووځي	وروسته د اولاد له پیدا کیدو	
وَالدَّمُ الَّذِيْ	تَرَاهُ الْحَامِلُ	وَمَاتَرَاهُ الْمَرْأَةُ	فِيْ حَالِ وِلَادَتِهَا
او هغه وینه	چې ویني حامله	او هغه چې ویني ښځه	په حالت د ولادت کې
قَبْلَ خُرُوْجِ الْوَلَدِ	اِسْتِحَاضَةٌ	وَاَقَلُّ النِّفَاسِ	لَاحَدَّ لَهُ
مخکې د ماشوم له پیدا کیدو	هغه استحاضه ده	او کم د نفاس	نشته اندازه هغه لره
وَاَكْثَرُهُ	اَرْبَعُوْنَ يَوْمًا	وَمَازَادَ عَلٰى ذٰلِكَ	فَهُوَاِسْتِحَاضَةٌ
او زیاته یې	خلوېښت ورځې ده	او چې زیاته شي په دې باندې	هغه استحاضه ده
وَاِذَاتَجَاوَزَالدَّمُ	عَلَى الْاَرْبَعِيْنَ	وَقَدْ كَانَتْ هٰذِهِ الْمَرْأَةُ	
او چې زیاته شي وینه	په خلوېښتو باندې	حال دا ده چې وي همدغه ښځه	

وُلِدَتْ قَبْلَ ذٰلِكَ	وَلَهَا عَادَةٌ فِي النِّفَاسِ	رُدَّتْ إِلٰى أَيَّامِ عَادَتِهَا
اولاد يې زيږولى له دې مخکې	او هغې لره عادت دى په نفاس کې	نو ورګرځي ورځو د عادت ته يې
وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهَا عَادَةٌ	فَنِفَاسُهَا	أَرْبَعُونَ يَوْمًا
او که نوي هغې لره عادت	نو نفاس د هغې	څلويښت ورځې ده

د نفاس بيان

دلغاتوحل **نفاس**: مصدر نفست المرأة (س) نفسا نفاسا ماشوم زيږول. **النفاس**: زچګي، له ولادت وروسته وينه، کله دا د نفساء جمع لپاره استعمالولى شي. **عقيب**: وروسته. **ولادة**: پيدا ينبت.

تشريح **النفاس هوالدم**: د حيض، استحاضه او نفاس دا درې قسمه وينه له ښځې سره مخصوص ده، له دې مخکې د حيض او استحاضه بيان تير شوى دى. اوس دلته دريم قسم د نفاس بيان کيږي، ويلې شوي دي چې د ماشوم له پيدا کيدو وروسته راتلونکې وينې ته نفاس ويل کيږي، که چيرته حامله ښځه د حمل په دوران کې يا د ماشوم د پيدا کيدو په حالت کې د پيدا کيدو په وخت کې له پيدا کيدو مخکې وينه ووينې نو هغه وينه د احنافو په نزد د استحاضه وينه ده، ليکن د امام شافعي په نزد د حيض وينه ده، که چيرته له ولادت وروسته وينه ونه ليدل شي نو دا ښځې نه نفساء کيږي او په هغو باندې غسل واجب ندى البته اودس واجب دى، لکه چې صاحبينو ويلي دي او همدا مفتى به قول دى.

اقل النفاس لاحدله: د جمهورو په نزد د نفاس ادنى (کمه) موده مقرره نده، که چيرته له ولادت وروسته يو ساعت هم وينه راشي او بنده شي نو ښځه پاکه ګڼل کيږي او په هغې باندې لمونځ او روژه واجبيږي، همدا مفتى به قول دى، د اکثره علماؤ په نزد د نفاس زياته موده څلويښت ورځې ده البته د امام شافعي په نزد شپيته ورځې ده

واذاتجاوزالدم الخ صورت د مسئلې دا ده چې له ولادت وروسته له څلويښتو ورځو زياتې وينې راتلو په صورت کې دېته کتل دي چې په دې سلسله کې د هغې کوم عادت شته او که نشته. که چيرته عادت شته نو د عادت ورځې د نفاس موده ګڼل کيږي او باقي استحاضه، مثلا د هغې عادت ديرش ورځې وه او دا خل پنځوس ورځې راغله نو ديرش ورځې د نفاس او شل ورځې د استحاضه ګڼل کيږي، او که مقرر عادت نه وو نو په داسې صورت کې بيا څلويښت ورځې نفاس شمارل کيږي او باقي ورځې د استحاضه دي

وَمَنْ وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ	فَنِفَاسُهَا مَا خَرَجَ مِنَ الدَّمِ
او کومې ښځې چې وزيږول دوه ماشومان په يوه ځيټه	نو د هغې نفاس هغه وينه شوه کومه چې وتلې ده

عَقِيْبَ الْوَلَدِ الْاَوَّلِ	عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَاَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى
د اولين ماشوم له پيدا کيدو وروسته	د شيخينو په نزد
وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى	مِنَ الْوَلَدِ الثَّانِيْ
امام محمد او امام زفر ويلي	چې د دويم ماشوم له پيدا کيدو وروسته ده

خلاصه: که چيرته د کومې ښځې له يوې خيټې دوه ماشومان پيدا شول يعنې د دوه ماشومان په مينځ کې فاصله له شپږو مياشتو کمه وه نو د شيخينو په نزد د نفاس ابتداء له اول ماشوم څخه کيږي اگر که د دواړو په مينځ کې د څلويښتو ورځو فاصله وه، د امام محمد او امام زفر په نزد د نفاس ابتداء له دويم ماشوم څخه کيږي

تشريح: که چيرته کومې ښځې ته په همداسې حالت کې طلاق ورکړی شي نو بالاتفاق د هغې عدت د دويم ماشوم له پيدا کيدو څخه کيږي، ځکه چې د عدت پوره کيدل د حمل له وضع سره متعلق دي د کوم ضافت چې د ښځې طرفته دی، الهي ارشاد دی ﴿واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن﴾ سره د دې تاييد شوی چې عدت د حمل له وضع کيدو وروسته مکمل کيږي او حمل صرف اول ماشوم ندی بلکې څومره ماشومان چې په خيټه کې دي ټول حمل دي، نو ځکه د ټولو له وضع وروسته عدت پوره کيږي

بَابُ الْاَنْجَاسِ

دا باب د نجاستونو په بيان کې دی

الانجاس د نجس جمع ده. بفتح الجيم ناپاکي او گندگي. **بکسر الجيم**: ناپاک شی. دا لفظ د نجاست حقيقي او حکمي دواړو لپاره مستعمل شوی دی، له دې باب څخه په مخکنې باب کې د نجاست حکمي د هغه د پاکولو طريقه او احکام بيان شوي وه، او په دې باب کې نجاست حقيقي سره له احکامو بيانولی شي. حکمي نجاست د کم مقدار باوجود د لمانځه د جواز لپاره مانع دی، ليکن د حقيقي نجاست کم مقدار د لمانځه د جواز لپاره مانع ندی، نو ځکه حکمي په حقيقي باندې مقدم کړی شوی دی.

تَطْهِيْرُ النَّجَاسَةِ وَاجِبٌ	مِنْ بَدَنِ الْمُصَلِّيْ	وَثَوْبِهٖ	وَالْمَكَانِ الَّذِيْ
د نجاست پاکول واجب دي	له بدن د لمونځ کوونکي	د هغه له جامې	او له هغه ځای څخه
يُصَلِّيْ عَلَيْهِ	وَيَجُوْزُ تَطْهِيْرُ النَّجَاسَةِ	بِالْمَاءِ	وَبِكُلِّ مَائِعٍ طَاهِرٍ
چېرته چې لمونځ کوي	او روا دي پاکول د نجاست	په اوبو سره	او په هر بهيدونکي چې پاک وي
يُمْكِنُ	اِزَالَتُهَا بِهٖ	كَالْخَلِّ	وَمَاءِ الْوَرْدِ
چې ممکن وي	زائل کې دلد نجاست په هغه سره	لکه سرکه	او اوبه د گلاب

دلغاتوحل **تطهيرالنجاسة**: عين نجاست پاک کیدی نشي، له همدي امله له نجاست څخه مخکي مضاف پټ منل پکار دي، یعني تطهیر محل النجاسة لکه چې په قرآن کریم کې دي ﴿**واسئل القرية**﴾ یعني اهل القریة، **واجب** دا د فرض په معنی کې ده، مائع بهیدونکی، الورد: عرق گلاب.

خلاصه: د مسئلې صورت دا ده چې د لمونځ کوونکي بدن، د هغه جامې او په کوم ځای باندې چې لمونځ کوي له هغه ځای څخه د نجاست لیرې کول فرض دي، او د نجاست ځای په اوبو او هر داسې شي سره پاک کیدلی شي د کوم په ذریعه چې نجاست لیرې کیدی شي، لکه سرکه عرق گلاب وغیره.

تشریح: په اوبو او هر سیال شي سره د نجاست ځای نجاست لیرې کیدی شي، د کوم په ذریعه چې د نجاست ازاله ممکن وي، دا د شیخینو په نزد دي، امام محمد امام مالک او امام شافعي په نزد د نجاست ځای پاکي صرف د اوبو په ذریعه کیدی شي.

واضحه دې وي چې د نجاست په ځای کې د دریدلو ځای معتبر دی، لهذا که چیرته په هغه ځای باندې له یو درهم څخه زیات نجاست وي نو لمونځ فاسدیږي، د دریدلو ځای له پاکي سره د سجدې لگولو ځای پاکي هم شرط ده، لیکن د دې په تعین کې اختلاف دی، د طرفینو په نزد د سجدې ځای د تندي ایښودلو ځای دی او د ځای له یوه درهم څخه زیات وي نو څکه د هغه پاکوالی شرط دی، د امام ابویوسف په نزد سجده د پوزې کیښودلو ځای دی او هغه ځای د یوه درهم له مقدار څخه کم دی نو څکه د امام ابویوسف په نزد د سجدې د ځای پاکوالی شرط ندی

وَاِذَا اَصَابَتِ الْخُفَّ	نَجَاسَةٌ	لَهَا جِرْمٌ	فَدَلَکَهٗ بِالْاَرْضِ
او کله چې ورسیږي موزو ته	د نجاست	کوم لره چې جسم وي	په زمکه دې ومښلی شي
جَازَ الصَّلٰوةُ فِيْهِ		وَالْمَنِيُّ نَجَسٌ	يَجِبُ غَسْلُ رَطْبِهٖ
روا دی لمونځ په هغه کې		او مني ناپاک دي	واجب دي مینځل د لمدو منیو
فَاِذَا جَفَّ عَلَى الثَّوْبِ		اَجْزَاهُ فِيْهِ الْفَرْكُ	وَالنَّجَاسَةُ
کله چې وچ شي په جامه باندې		کافي دي په هغو کې ګرول	او نجاست
اِذَا اَصَابَتِ الْمِرْاٰةَ		اَوِالسَّيْفَ	اِكْتَفٰى بِمَسْحِهِمَا
چې ورسیږي آئینه ته		یا تورې ته	نو کافي دي د هغو مښل
وَاِنْ اَصَابَتِ الْاَرْضَ	نَجَاسَةٌ		فَجَفَّتْ بِالشَّمْسِ
او که ورسیږي زمکې ته	نجاست		بیا وچ شي په لمر سره
وَذَهَبَ اَثَرُهَا		جَازَتِ الصَّلٰوةُ	عَلٰى مَكَانِهَا
او ولاړ شي اثر د هغه		روا دی لمونځ کول	په همداسې ځای باندې

وَلَا يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ مِنْهَا

او روا ندي تیمم وهل په هغه باندې

لغاتوحل اصابت باب افعال څخه دا له اصاب السهم د غشي په نښه باندې له لګیدلو څخه دی. **جرم** جسم، **جفت** باب (ض) څخه مصدر حفافا وجفوفا وچیدل. **دلك** دلک الشئ (ن) دلکا مښل، **رطب** لوند، **فرك** فرک الشئ عن الثوب (ن) ګرول، **المرآة** آینه، **السیف** توره، **الشمس** دلته د ګرمي په معنی کې ده، **اثر** نښان

خلاصه د مسئلې صورت دا ده چې که په موزه باندې جسم لرونکی نجاست ولګیږي لکه بولې، غوشایي، وینه او مني وغیره او له وچیدو وروسته هغه ومښل شي نو د شیخینو په نزد موزه استحسانا پاکیږي او چې واغوستل شي لمونځ کولی شي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دواړو صورتونو کې مینځل ضروري دي، مني زموږ په نزد ناپاک دي، د لوندوالي په حالت کې مینځل ضروري دی، لیکن د وچیدو په صورت کې ګرول کافي دي، مینځلو ته یې کوم ضرورت نشته، د امام شافعي په نزد مني پاک ده، که په آینه توره وغیره باندې نجاست ولګیږي نو د دوی د پاکي لپاره صرف مښل او ګرول کافي دي، په زمکه باندې نجاست پروت دی په ګرمي سره وچ شوی دی د هغه اثرات ختم شوي نو د احنافو په نزد په دې زمکه باندې لمونځ کیدلی شي، البته د تیمم اجازت نشته، د امام شافعي دوه قولونه مروي دي، یو خو د احنافو مطابق دی، او په دویم قول کې د لمانځه اجازت نشته، همدا قول د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ هم دی

د احنافو په نزد د ناپاکې زمکې د پاکیدو طریقې درې دی: (۱) وچوالی لکه څرنګه چې وړاندې ذکر کړی شول (۲) د اوبو په اچولو سره هم ناپاکه زمکه پاکیږي (۳) د ناپاک ځای په کنستلو او د ناپاکې خاورې په منتقلولو سره هم پاکیږي

(۱) د جفاف (وچیدا) ثبوت د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت سره دی

﴿كانت الكلاب تبول وتقبل وتدبر في المسجد فلم يكونوا يرشون شيئاً من ذلك﴾

یعنې سپي به جومات ته راتلل او په هغه کې به یې متیازې کولې او له دې وروسته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصحابو به هغو باندې اوبه او وغیره نه دي اچولي، له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې په وچیدلو سره زمکه پاکیږي

(۲) صب الماء (د اوبو اچولو) ثبوت په دې روایت سره دی په کوم کې چې دي چې یو کوچی راغی او په مسجد نبوي کې یې متیازې وکړې، له دې وروسته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته حکم وکړ چې ﴿اهريقوا عليه سجلاً من ماء﴾ چې په هغو باندې بوقه اوبه واچوئ، له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې د زمکې د پاکیدو لپاره په هغې باندې د اوبو اچول ضروري دي

(۳) حفر (کنستلو) ثبوت د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې فرمان سره دی:

﴿خذوا ما بال عليه من التراب فالقوه واهريقوا على مكانه ماء﴾ په کوم ځای چې هغه متیازې کړې دي د هغه ځای خاورې را وباسئ؛ وې غورځوئ او په همغه ځای باندې اوبه واچوئ.

دويم مذهب: د ائمه ثلاثه ؤ په نزد صرف د اوبو په اچولو (بهیولو) سره زمکه پاکیږي.

دليل: د اعرابي (کوچي) حدیث کوم چې وړاندې د (صب الماء) لاندې ذکر کړی شو. له دغه حدیث معلومیږي چې د زمکې پاکیدو لپاره د اوبو بیول ضروري دي، په جفاف (وچیدا) او وغیره سره نه پاکیږي.

ځواب: ستاسو دا خبره چې صرف د اوبو په بهیولو سره زمکه پاکیږي صحیح نه ده، ځکه چې په احادیثو کې نورې طریقې هم ذکر شوې دي، لکه چې د احادیثو په رڼا کې د جفاف او حفر په ذریعه طهارت ثابت شوی دی.

وَمَنْ اَصَابَتْهُ مِنَ النَّجَاسَةِ الْمُغَلَّظَةِ	كَالدَّمِ	وَالْبَوْلِ
او چا چې ورسیږي له نجاست غلیظه څخه	لکه وینه	او متیازې

وَالْغَائِطِ	وَالْخَمْرِ	مِقْدَارَ الدِّرْهَمِ	وَمَادُوْنَهُ	جَازَتِ الصَّلٰوةُ مَعَهُ
بولې	شراب	د یوه درهم په اندازه	یا کم	روا دی لمونځ له هغه سره

وَاِنْ زَادَ لَمْ يَجُزْ	وَاِنْ اَصَابَتْهُ نَجَاسَةٌ مُخَفَّفَةٌ		كَبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ
که زیات وو بیا نه دی روا	او که ورسیږي نجاست خفیفه		لکه متیازې د هغو چې خوړل کیږي غوښه یې

جَازَتِ الصَّلٰوةُ مَعَهُ	مَالَمْ تَبْلُغْ رُبْعَ الثَّوْبِ
روا دی لمونځ له هغه سره	چې نه وي رسیدلی څلورمې برخې د جامې ته

د نجاست غليظه او خفيفه بيان

خلاصه: که چیرته د چا په بدن یا جامه باندې نجاست غلیظه ولګیږي لکه وینه متیازې بولې وغیره او هغه د یوه درهم (دری نیمې ماشه) په اندازه یا له دې کم وي نو د احنافو په نزد معاف دي، له همدې نجاست سره د لمانځه کولو اجازت شته دی، او که له یوه درهم زیات وي نو معاف ندي، د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد قلیل او کثیر یو شان دي هیڅ معاف ندي، او که نجاست خفیفه ولګیږي مثلاً د ماکول اللحم څناور متیازې ولګیږي او د (نجاست ځای) له څلورمې مقدار څخه کم وي نو معاف دی له هغه سره د لمانځه اجازت دی.

تشریح : د نجاست حقیقي دوه قسمونه دي (اول) غلیظه (دویم) خفیفه

د همدې دواړو په تعریف کې د صاحبینو او امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ اختلاف دی، د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد غلیظه هغه نجاست دی د کوم ثبوت چې په داسې نص سره شوی وي د کوم خلاف چې کوم داسې نص نوې کوم چې د طهارت ثابت کوونکی وي، او که چیرته په دوه نصوصو کې تعارض موجود شي یو د طهارت وي بل د نجاست نو دیته نجاست خفیفه ویل کیږي

او د صاحبینو په نزد نجاست غلیظه هغه ده د کوم په نجس کیدو باندې چې اجماع شوې وي، او خفیفه هغه نجاست دی د کوم چې نجاست او طهارت د علماؤ په مینځ کې مختلف فیه وي، د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد نجاست غلیظه دی او د صاحبینو په نزد نجاست خفیفه دی.

کالدم والبول : دا د نجاست غلیظه مثال دی، له وینې څخه مراد د انسان یا د څناور بهیدونکې وینه ده، او له متیازو څخه د انسان او د غیر ماکول اللحم متیازې مقصود دي، البته موږک ترې مستثنی دی.

مقدار الدرهم وما دونه : که چیرته ټینګ نجاست دی نو د درهم په اندازه، او که سیال دی نو د ورغوي د ژوروالي اعتبار دی.

جازت الصلوٰة معه : د جواز صلوٰة مفهوم دا ده چې دا کس له فرضیت څخه سبکدوش شوی دی، لمونځ باطل ندی د لمانځه ادائیګي په کراهیت تحریمي شوی، د نجاست مینځل ضروري دي که یې لمونځ شروع کړی نو د مینځلو په خاطر د لمانځه ماتول روا دي.

وان اصابته نجاسة مخففة : د نجاست مخففه حکم دا ده چې که چیرته د ماکول اللحم څناور متیازې په جامه ولګیږي نو د جامې له څلورمې برخې څخه په کمې باندې د لګیدلو په صورت کې معاف دی، په دې جامه کې لمونځ سهي دی.

ربع الثوب : د مفتی به قول مطابق د نجاست څلورمه برخه مراد ده، د ټول بدن یا د ټولې جامې څلورمه برخه مراد ندي، لکه چې ځینو مراد اخیستي دي

وَتَطْهِيْرُ النَّجَاسَةِ	اَلَّتِيْ يَجِبُ غَسْلُهَا	عَلٰى وَجْهَيْنِ
او پاکول د نجاست	د هغه چې واجب دي پرېمینځل د هغه	په دوه طریقو دي
فَمَا كَانَ لَهٗ عَيْنٌ مَرْئِيَّةٌ	فَطَهَارَتُهَا	زَوَالُ عَيْنِهَا
پس کوم چې بعینه لیدل کیږي	د هغه پاکي	د هغه د عین زائل کول دي
اِلَّا اَنْ يَّبْقٰى	مِنْ اَثَرِهَا	مَا يَشُقُّ اِزَالَتُهَا
مګر دا چې پاتې شي	د هغه له اثر څخه	هغه چې سخت وي لیرې کول د هغه

وَمَالَيْسَ لَهُ عَيْنٌ مَرْئِيَّةٌ	فَطَهَارَتُهَا	أَنْ يَغْسِلَ
او کوم چې بعينه نه ليدل کيږي	پاکوالی د هغه دا ده	چې ومينځل شي
حَتَّى يَغْلِبَ عَلَى ظَنِّ الْغَاسِلِ		أَنَّهُ قَدْ طَهُرَ
تردې چې غالب شي گمان د پريمينځونکي		چې هغه بيشکه پاک شو

د نجاست مرئيه او غير مرئيه بيان

دلغاتوحل: **عين مرئية**: داسې نجاست کوم چې په وچيدو وروسته ليدل کيږي، **اثر**: نښان، **يشق**: باب (ن) څخه مصدر مشقة سخت کيدل، **الغاسل**: پريمنځونکی.

خلاصه: د نجاست دوه قسمونه دي (اول) نجاست مرئي (دويم) نجاست غير مرئي
(اول) نجاست مرئي: که چيرې دا نجاست په بدن باندې يا په کپړه باندې ولگيږي نو له دې څخه د نجاست ځای د پاکولو طريقه دا ده چې اصل نجاست ليرې کړی شي او که چيرته کوم داغ (تاپی) باقي پاتې شي او د هغه ليرې کول مشکل او سخت وي، نو هغه شرعاً د درگزر قابل دی.
(دويم) نجاست غير مرئي: له دې نجاست څخه د هغه ځای د پاکولو طريقه دا ده چې هغه دې بار بار ومينځل شي چې په خپله د پريمينځونکي غالب گمان راشي چې اوس جامه پاکه شوه، او دا گمان په درې وارې سره حاصليدلی شي، لهذا هغه دې درې وارې ومينځل شي.

تشريح: **عين مرئية**: داسې نجاست کوم چې له وچيدو وروسته ليدل کيږي، لکه بولې وغيره او کوم چې له وچيدو روسته نه ليدل کيږي هغه ته غير مرئيه ويل کيږي

فطهارتها زوال عينها: د کلام منشاء دا ده چې د عين نجاست له ليرې کيدو وروسته د هغه ځای لازيات مينځل شرط ندي برابره که په وار مينځلو پاک هم شي، گوا که د ځينو فقهاؤ رأيه دا ده چې د عين له زوال وروسته دې هم درې وارې ومينځل شي، بهر کيف تعداد شرط ندی بلکې مقصود د نجاست ازاله ده.

مايشق ازالتها: د دې کلام منشاء دا ده: نجاست د اثر په ليرې کولو کې له اوبو پرته صابون گرمو اوبو وغيره ته ضرورت محسوس کيږي.

وَالْاِسْتِنْجَاءُ سُنَّةٌ	يُجْزِءُ فِيْهِ	الْحَجَرُ وَالْمَدَرُ	وَمَا قَامَ مَقَامَهُمَا
او استنجاء سنت ده	کافي کيږي په دې کې	کاڼی لوټه	او هغه چې قائم مقام وي د دوی
يَمْسَحُهُ	حَتَّى يُنَقِّيَهُ		وَلَيْسَ فِيْهِ عَدَدٌ مَسْنُوْنٌ
مخرج ته په رسيدلو کې	تر دې چې صفا کړ هغه		او نشته په دې کې عدد د مسنون

وَغَسْلُهُ بِالْمَاءِ أَفْضَلُ او په اوبو سره يې پريمينځل بهتر دي	وَإِنْ تَجَاوَزَتِ النَّجَاسَةُ او که تجاوز وکړي نجاست	مَخْرَجَهَا له مخرج خپل ځنه
لَمْ يُجْزِ فِيهِ روا نه دي په هغه کې	إِلَّا الْمَاءُ أَوِ الْمَائِعُ مگر اوبه يا بهيدونکي شی	وَلَا يَسْتَنْجِي بِعَظْمٍ او استنجاء دې نکوي په هډوکي
وَلَا رَوْثٍ نه په غوشايو سره	وَلَا بِطَعَامٍ نه په خوراک سره	وَلَا بِيَمِينِهِ او نه په خپل ښي لاس سره

د استنجاء بيان

دلغاتوحل الاستنجاء: دا له نجو ځنه ماخوذ دی او نجو له خيتې ځنه وتونکي شي ته ويل کيږي، لوړ ځای. استنجاء ويل کيږي د بولو او متيازو له لارې ځنه چې کوم نجاست ووځي د هغه مخرج پاکولو برابره ده که د اوبو په ذريعه وي که د خاورو په ذريعه وي، **المدر**: لوټه، **ينقيه**: باب تفعيل ځنه مصدر تنقيه صفا ستره کول. **المائع**: سيال شی، **روث**: غوشايې، **يمين**: ښی طرف.

خلاصه: د قدوري امام د امام محمد رحمه الله طرز عمل په غوره کولو سره د استنجاء بيان په باب الانجاس کې ذکر کړی، د ځينو حضراتو د گمان مطابق د اوداسه د سنتو ماتحت يې ذکر کول پکار وه، د دوی جواب دا ده چې د استنجاء تعلق له نجاست حقيقيه سره دی او د اوداسه د سنتو تعلق له نجاست حکميه سره دی، نو ځکه په باب الانجاس کې ذکر کړی شو. ويلې شوي دي چې استنجاء سنت ده، او په استنجاء کې کاڼي، لوټه يا داسې شی کافي گڼل شوی کوم چې د دوي قائم مقام وي، يعنې چې په خپله پاک وي او په هغه کې د نجاست د ليرې کولو صلاحيت وي او کم قيمته وي لکه خاورې کپړه وغيره. د دې طريقه دا ده چې دومره اندازه ومښلی شي چې پاکه صفا شي ځکه چې مقصود پاکول دي. لهذا له همدې امله د کاڼو لوټو وغيره کوم شمير مسنون ندی، او د لوټو له استعمالولو وروسته د اوبو استعمال بهتر دی، او که نجاست له اصل ځای ځنه ولاړ شي يو خوا بله خوا خپور شي نو بيا صرف په اوبو يا په سيال شي سره ليرې کيدلی شي، په هډوکي او غوشايو سره استنجاء کول مشروع ندي، همدارنگه په خوراک او ښي لاس سره استنجاء کول ممنوع دي.

تشريح: فيه الحجر الخ: دا حکم د نجاست په معتاد کيدو په صورت کې دی، ليکن که وينه يا پيپ وه نو صرف په اوبو سره يې ازاله کيدی شي، البته د کاڼو له استعمال وروسته د زياتې صفائي لپاره د اوبو استعمال بهتر دی.

يمسحه حتى ينقيه الخ: د استنجاء په وخت په چپه پښه باندې زور کول پکار دي، چې قبلې ته مخامخ نوي، د بولو د صفائي لپاره کم له کمه د دريو لوټو استعمال دی، د هغو طريقه داده چې څيرته د گرمي موسم وه نو لومړی لوټه دې د مخې له لوري د شا طرفته کش کړی شي دويمه دې د شا له طرفه

د مخې طرفته کش کړی شي او دريمه دې د مخې له طرفه دشا طرفته، په يخ موسم کې د دې برعکس، او ښځې دې په هر موسم کې د ګرمي والاطريقه غوره کړي

وليس فيه عدد الخ : حنفيانو په دې ځای کې د لوټو هيڅ تخصيص ندی کړی، ځکه چې له استنجاء ځخه مقصود د نجاست صفائي ده، البته د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د دريو تعداد ضروري دی

وان تجاوز الخ : له مخرج څخه د تجاوز په صورت کې د اوبو استعمال ضروري دی، د مانع مقدار اعتبار له استنجاء پرته دی يا له هغه سره؟ د شيخينو په نزد د هغه اعتبار د استنجاء له ځای پرته ده، ځکه په خپله په استنجاء کې دا مقدار ساقط الاعتبار دی، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د هغه اعتبار د استنجاء له مقام سره دی.

ولايستنجي بعظم الخ : په هډوکي او غوشايو سره استنجاء مکروه تحريمي ده، ځکه چې په حديث کې د دې ممانعت دی.

په هډوکي او غوشايو سره د استنجاء کولو حکم څه دی؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

(۱) د ائمه ثلاثه و په نزد په هډوکي او غوشايو سره استنجاء کول ناروا دي، که چيرته په همدې سره استنجاء وکړی شي او صفائي هم حاصله شي نو داسې ويل کيږي چې استنجاء شوې نه ده،

دليل : ﴿**عن عبدالله بن مسعود** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **قال قال رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **لاتستنجوا بالروث ولا بالعظام فانه زاد أخوانكم من الجن**﴾ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : تاسو خلک په هډوکي او غوشايو سره استنجاء مکوئ، ځکه چې هغه ستاسو د وروڼو يعني جناتو (پيريانو) توښه ده، له دغه روايت څخه واضحه کيږي چې په هډوکي او غوشايو باندې په استنجاء کولو سره فرض شوې استنجاء نشي ادا کيدلی

ځواب : په کومو روايتونو کې دننه چې په هډوکي او غوشايو سره د استنجاء کولو منع راغلې هغه د احکامو له قبيلې څخه نه دي، بلکې د شفقت له قبيلې څخه دي، همدارنګه په هډوکي سره په استنجاء کولو کې د مخرج ککړيدو خطر دی، او په غوشايو سره په استنجاء کولو سره په انسان کې دننه نظافت باقي نه پاتې کيږي، نو ځکه منع شوې

دويم ځواب : هډوکي د جناتو (پيريانو) خوراک دی، او غوشايي د جناتو د څناورو خوراک دی، نو د دوی خوراک د نجاستونو په ذريعه له ملوث کولو څخه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع وکړه لهذا په کومو روايتونو کې چې ممانعت دی هغه د همدغو علتونو په بناء دی، داسې نه ده چې په هډوکي او غوشايو سره استنجاء کيدی نشي

دويم مذهب : د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د دويم قول مطابق په هډوکي او غوشايو سره استنجاء کول مکروه دي، ليکن که چيرته صفائي حاصله شي نو د استنجاء فريضه ساقطيږي، او داسې نشي ويل کيدی چې هغه استنجاء نه ده کړې

دليل: د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه په يوه اورده کې راغلي دي ﴿فقال يا ابا هريرة رضي الله عنه ابغني احجارًا استطيب بهن ولاتأتيني بعظم ولاروث الى اخره﴾

يعني رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل اې ابوهريره ! زما لپاره څه داسې کاڼي پيدا کړه چې زه په هغو سره پاکي حاصله کړم، په هغو کې غوشايي او هډوکي نه دي پکار، بيا ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې په کاڼي. هډوکي او غوشايو کې څه فرق دی؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم خواب راکړ چې هډوکي او غوشايي د پيريانو خوراک دی، اوس که په همدې حالت کې که چيرته په هډوکي او غوشايو سره استنجاء وکړی شي نو يقيناً د پيريانو خوراک به په نجاستونو سره ملوث کړی شي، په همدې بناء باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم ممانعت وکړ، نو د دې لپاره چې په همدغو شيانو سره پاکي نه حاصليږي، لهذا زمونږ مدعا ثابته او ستاسو مدعا باطله شوه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كِتَابُ الصَّلٰوةِ

لمونځ د ام العبادات کيدو له وجهې په ټولو عباداتو باندې مقدم شوی دی، چونکه طهارت د لمانځه لپاره شرط دی او اصول دي چې شرط شی له شي څخه مقدم دی نو ځکه کتاب الطهارة په کتاب الصلوة باندې مقدم کړی شوی.

صلوة: له صلي څخه مشتق دی معنی يې ده کوږ لرګی په اور سره سمول، لمونځ يو مهمترين عبادت په دې مناسبت سره دی چې د انساني نفس د فطري کوږوالي علاج صرف لمونځ دی، ځکه چې انسان په الهي دربار کې له همدې کوږوالي سره دريږي نو د هغه ذات د هيبت او عظمت حرارت د هغه کوږوالی ليرې کوي، د دې معنی دعا هم راغلې ده، الهي ارشاد دی ﴿وصل عليهم ان صلوتک سکن لهم﴾ دلته د صلوة معنی دعا ده. د شرع په اصطلاح کې د افعال معلومه او ارکان مخصوصه نوم لمونځ دی. لمانځه ته صلوة ځکه ويل کيږي چې دی مشتمل په دعا باندې دی، قرآن کريم نبوي احاديث او د امت په اجماع سره د لمانځه د فرضيت ثبوت شوی دی، د قرآن کريم ځينو آيتونو پنځه وخته لمونځ اجمالاً ثابت کړی دی، مثلاً ﴿ان الصلوة کانت على المؤمنين کتابا موقوتا﴾ او ځينو آيتونو په تفصيلي ډول ثابت کړی دی مثلاً ﴿وسبح بحمد ربک قبل طلوع الشمس وقبل غروبها ومن اناءِ الليل فسبح واطراف النهار﴾ له قبل طلوع الشمس څخه د سهار لمونځ مراد دی، له قبل غروبها څخه د مازديګر لمونځ مراد دی. له اناءِ الليل څخه د ماښام او ماسخوتن مراد دي او له اطراف النهار څخه د ماسپښين مراد دی، د اهل سير او حديث په دې باندې اتفاق دی چې پنځه لمنځونه د معراج په شپه فرض شوي دي، د فرضيت په کال کې د مؤرخينو اختلاف دی، البته جمهور د پنځه هجري قائل دي.

د معراج له شپې مخکې د لمانځه په فرضیت او عدم فرضیت کې اختلاف دی، زیاتره علماء د عدم فرضیت قائل دي، د امام شافعي رَحمَهُ الله په نزد له دې مخکې د تهجد لمونځ فرض وه، د ځینو علماؤ د رأیې مطابق د تهجد لمونځ صرف په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې فرض وه، د ځینو علماؤ رأیه دا ده چې په عامو مسلمانانو باندې له صلوة خمسه مخکې د ماسخوتن او سهار لمنځونه فرض شوي وه، الهي ارشاد دی ﴿وسبح بحمد ربک بالعشی والابکار﴾ د دې آیت نزول له اسراء مخکې دی، په سورة جن کې د جناتو چې کومه سماع په قرآن کې ذکر ده هغه د سهار (فجر) په لمانځه کې شوې وه، او دا واقعه غالبًا له اسراء څخه مخکې ده، دا دواړه لمنځونه په دوي باندې فرض وه، یا دوی تطوعًا کړي وه، په احادیثو کې د دې هیڅ صراحت نشته دی

أَوَّلُ وَقْتُ الْفَجْرِ	إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ الثَّانِي	وَهُوَ الْبَيَاضُ	الْمُعْتَرِضُ
اول وخت د سهار	کله چې راوخیږي فجر ثاني	او هغه یو سپینوالی دی	چې خپور وي
فِي الْأُفُقِ	وَآخِرُ وَقْتِهَا	مَا	لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ
د آسمان په کنارو کې	او اخیر وخت د سهار	هغه ده	ترڅو چې لمر نه وي راختلی

د سهار لمانځه د وخت بیان

دلغاتوحل: **الفجر الثانی** : دویم فجر، له دې څخه مراد صبح صادق دی، کوم چې د آسمان په کنارو کې ښي او چپ طرفته خپور شوی وي او لمحه په لمحه د هغه په رڼاني کې زیاتوالی راځي، د ده په مقابل کې یو صبح کاذب دی کوم چې د لیوه د لکۍ په شان لوړ دی او د آسمان په اوږدو کې ښکاره کیږي، مګر څه وخت وروسته د هغې سپینوالی په توروالي کې پټ شي، **البیاض** : سپینوالی، **المعترض** : اسم فاعل داسې شی کوم چې په پلنوالي خپور شي، دا له باب افتعال څخه دی، **الافق** : د آسمان کناره جمع افاق

خلاصه : (د لمانځه وختونه د لمانځه له اسبابو څخه دي او د شي سبب په شي باندې طبعًا مقدم وي له همدې امله وضعًا هم د وختونو اسباب مقدم کړی شوي دي، ګوا که په حدیث کې د ماسپښین وخت مقدم دی لیکن د سهار یو داسې لمونځ دی د کوم چې په اول وخت او اخیر وخت باندې د ټولو اتفاق دی د دې برعکس د نورو لمنځونو په وختونو کې اختلاف دی نو ځکه د کتاب صاحب د سهار وخت له ټولو مخکې بیان کړی دی چې د سهار ابتدائي وخت له صبح صادق څخه شروع شوی او اخیر وخت یې د لمر تر راختلو پورې دی (د صبح صادق تشریح پورته تیره شوه، د کتاب صاحب د الفجر الثاني په قید سره الفجر الاول یعني صبح کاذب وباسلی دی)

وَأَوَّلُ وَقْتِ الظُّهْرِ	إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ	وَآخِرُ وَقْتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ
اول وخت د ماسپښین	کله چې لمر وګرځي	او اخیري وخت یې د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ الله په نزد

اِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ	مِثْلَيْهِ	سِوَى	فَيْءِ الزَّوَالِ
کله چې وګرځي سيورى د هر شي	دوه چنده	پرته	له اصلي سيوري
وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ	اِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ		مِثْلَهُ
ويلي دي امام ابويوسف او امام محمد	کله چې وګرځي سيورى د هر شي		د هغه په اندازه
وَاَوَّلُ وَقْتِ الْعَصْرِ	اِذَا خَرَجَ وَقْتُ الظُّهْرِ		عَلَى الْقَوْلَيْنِ
او اول وخت د مازديګر	کله چې ووځي وخت د ماسپښين		د دواړو قولونو مطابق
وَآخِرُ وَقْتِهَا	مَالَمْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ		
او اخير وخت يې	ترڅو چې لويدلى نوي لمر		

د ماسپښين او مازديګر لمانځه د وخت بيان

تشريح : مسئله : د ماسپښين لمانځه وخت د لمر له زوال څخه شروع کيږي، ګوا که له دي مخکې د ماسپښين لمونځ ادا کړى شي نو لمونځ نه صحيح کيږي، په دې باندې د جمهورو اتفاق دى، البته د اخير وخت په باره کې د ائمه کرامو اختلاف دى، د امام ابوحنيفه رحمه الله د قول مطابق د ماسپښين وخت هغه وخت باقي پاتې کيدى شي چې د هر شي سيورى اصلي سيورى پريږدي دوه چنده شي، د امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد د امام صاحب د يوه قول مطابق د ماسپښين وخت تر هغه وخته پاتې کيدى شي ترڅو پورې چې له اصلي سايه پرته د هر شي سيورى د هغه برابر شي، د امام مالک امام شافعي امام زفر او امام احمد رحمهم الله هم همدا مسلک دى.

د ائمه ؤ اختلاف : د ماسپښين په اول وخت کې ټول ائمه په دې خبره متفق دي چې د لمر له زوال وروسته شروع کيږي، البته د ماسپښين په اخيري وخت او د مازديګر په اول وخت کې اختلاف دى، د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد د ماسپښين وخت په دوه مثل باندې ختميږي، له دې وروسته پيوسته (متصل) د مازديګر وخت شروع کيږي، د صاحبينو او جمهورو په نزد په يوه مثل باندې ختميږي او د مازديګر وخت شروع کيږي

د امام دليل : د حضرت ابوذر رضي الله عنه په روايت کې دي ﴿فقال النبي صلى الله عليه وسلم أبرد ثم اراد أن يؤذن فقال له ابرد حتى رأينا فيئ التعلول﴾

ترجمه : يعني حضرت بلال رضي الله عنه د ماسپښين لمانځه لپاره د آذان اراده وکړه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ابرد حکم وکړ (اوس ودريږه د ګرمي تيزي دې کمه شي) بيا څه وخت وروسته د آذان کولو اراده وکړه رسول الله صلى الله عليه وسلم بيا وفرمايل : (ابرد) بيا حضرت بلال رضي الله عنه دومره ځنډ (تاخير) وکړ چې مونږ خلکو ته د غونډيو سيوري په نظر راغلل.

د استدلال وجه د عربو غونډی پرتې (پلنې) او اوږدې دي. د هغو سيورې په زمکه باندې ژر نه شروع کيږي، بلکې په کافي ځنډ سره خپريږي، د هغو سيورې يو مثل هغه وخت کيدلی شي کله چې د نورو شيانو سيوری دوه مثله شي

د صاحبينو او جمهورو دليل په حديث جبرئيل کې دي ﴿ثم صلى العصر حين كان كل شيئ مثل ظله﴾ بيا حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ د مازديګر لمونځ اداء کړ کوم وخت چې د هر شي سيوری د هغه برابر شوی وو.

له دغه حديث څخه معلومه شوه چې په مثل اول باندې د ماسپښين وخت ختم او د مازديګر شروع کيږي

ځواب حديث جبرئيل منسوخ دی، ځکه چې هغه مقدم دی او په کومو احاديثو سره چې د مثلينو ثبوت تر لاسه کيږي هغه مؤخر دي.

وَاَوَّلُ وَقْتِ الْمَغْرِبِ	اِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ	وَآخِرُ وَقْتِهَا
او اول وخت د ماښام	کله چې ولويږي لمر	او اخير وخت د هغه
مَا لَمْ تَغِبِ الشَّفَقُ	وَهُوَ الْبَيَاضُ الَّذِیْ	يُرٰی فِی الْاُفُقِ
هغه ده ترڅو چې غائب شوی نه وي شفق	او هغه يو سپينوالی دی	چې ليدل کيږي په کنارو کې
بَعْدَ الْحُمْرَةِ عِنْدَ اَبِیْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ		
وروسته له سرخي د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد،		
وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ		هُوَالْحُمْرَةُ
ويلي دي امام ابويوسف او امام محمد		شفق سرخي ده

د ماښام لمانځه د وخت بيان

تشريح د لمر له لويدو وروسته د ماښام وخت شروع شوی او اخير وخت د شفق تر لويدو پورې وي، د ماښام د اخيري وخت په باره کې د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ د يوه روايت مطابق صرف دومره وخت ځنډ کيدی شي په کوم وخت کې چې پنځه رکعته کول کيدی شي، ليکن د امام شافعي مفتی به قول د جمهورو د قول مطابق دی. البته د شفق د تعين په باره کې اختلاف دی، ائمه ثلاثه او صاحبين له شفق څخه شفق احمر مراد اخيستی، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد له شفق څخه شفق ابيض مراد دی او د يوه روايت مطابق امام مالک هم د شفق ابيض قائل دی. شفق ابيض هغه سپينوالی دی کوم چې له شفق احمر وروسته د آسمان په کنارو کې تر سترګو کيږي. شفق احمر هغه سورخي ده کومه چې د لمر له لويدو وروسته د مغرب طرفته وي. بهر کيف اهل لغت او د فقهاؤ د تحقيق په رڼائي کې د امام ابو حنيفه مسلک قوي او راجح معلوم شوی دی

د شفق په تعین کې د ائمه ؤ اختلاف: د صاحبینو او جمهورو په نزد د شفق احمر له غائب کیدو وروسته د ماښام وخت ختمیږي، یعني د لمر له لویدو وروسته تقریباً تر پاو کم یوه ساعته پورې د ماښام وخت باقي پاتې کیږي. د امام اعظم رحمه الله په نزد د شفق ابیض په ختمیدو سره د ماښام وخت ختمیږي، یعني د لمر له لویدو وروسته تقریباً تر پاو باندې یوه ساعته پورې د ماښام وخت باقي پاتې کیږي، له دې وروسته ختمیږي

د امام اعظم رحمه الله **دلیل**: د ماښام اخیرې وخت بیانولو په وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿حين يسود الافق﴾

یعنې کوم وخت چې د آسمان کنارې تیاره شي او د کنارو تیاره کیدل له سپینوالي وروسته وي.

فائده: محقق ابن الهمام په فتح القدیر کې او علامه ابن نجیم مصري په البحر الرائق کې د امام اعظم رحمه الله قول صحیح او مفتی به بللی.

وَاَوَّلُ وَقْتِ الْعِشَاءِ	اِذَا غَابَ الشَّفَقُ	وَآخِرُ وَقْتِهَا
اول وخت د ماسخوتن	کله چې غائب شي شفق	او اخیر وخت د هغه
مَالَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ الثَّانِيْ	وَاَوَّلُ وَقْتِ الْوِتْرِ	بَعْدَ الْعِشَاءِ
ترڅو چې راختلی نوي فجر ثاني (صبح صادق)	او اول وخت د وترو	وروسته دی له ماسخوتن
وَآخِرُ وَقْتِهَا	مَالَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ	
او اخیر وخت د هغه	ترڅو چې ختلی نه وي فجر	

تشریح: د ماسخوتن ابتدائي وخت د شفق له لویدو وروسته شروع کیږي او دا وخت تر طلوع صبح پورې برقرار پاتې کیږي، یعنې د ماسخوتن لمونځ د صبح صادق تر راختلو پورې کیدلی شي، او له کراهیت پرته تر نیمایي شپې کولی شي، او مستحب وخت یې دریمه د شپې ده، د صحیح قول مطابق د ماسخوتن د اخیرې وخت متعلق هیڅ اختلاف نشته دی، د وترو ابتدائي وخت د ماسخوتن له لمانځه وروسته شروع کیږي او تر طلوع صبح صادق پورې وي، د صاحبینو او د امام ابو حنیفه رحمه الله اختلاف دی، د صاحبینو مسلک هغه ده کوم چې په متن کې ذکر دی او د امام ابو حنیفه په نزد د ماسخوتن او د وترو دواړو وخت یو شان دی، یعنې د شفق له لویدو څخه تر طلوع صبح صادق پورې، لیکن چونکه ترتیب واجب دی نو ځکه له ماسخوتن مخکې د وترو کول سهي ندي مگر سهواً

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد وتر واجب دي. د صاحبینو او ائمه ثلاثه په نزد وتر سنت دي. د دې اختلاف ثمره په داسې کس باندې مرتب کیدی شي کوم چې د ماسخوتن لمونځ په هیره بې اودسه وکړي او وتر په اوداسه وکړي، له دې وروسته ورته په یاد شي چې د ماسخوتن لمونځ یې بې اودسه کړی دی نو په داسې صورت کې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د وترو راګرځول واجب ندي او د

صاحبینو په نزد یې راګرځول واجبیږي، البته که کوم کس قصداً وتر د ماسخوتن له لمانځه مخکې وکړل نو بالاتفاق یې راګرځول واجبیږي.

وَيُسْتَحَبُّ	الْاَسْفَارُ بِالْفَجْرِ	وَالْاِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِي الصَّيْفِ
او مستحب دہ	رڼاوالی په سهار کې	او یخوالی په ماسپښین کې په اوړي کې
وَتَقْدِيْمُهَا فِي الشِّتَاءِ	وَتَاخِيْرُ الْعَصْرِ	مَالَمْ تَتَغَيَّرِ الشَّمْسُ
او مخکې کول د دوي دي په ژمي کې	او وروسته کول د مازدیګر دي	ترڅو چې تغیر ونکړي لمر
وَتَعْجِيْلُ الْمَغْرِبِ	وَتَاخِيْرُ الْعِشَاءِ	اِلٰى مَاقَبْلَ ثُلُثِ اللَّيْلِ
او بیړه کول دي په ماښام کې	او وروسته کول د ماسخوتن دي	تر مخکې د شپې د دریمې برخې پورې
وَيُسْتَحَبُّ فِي الْوِتْرِ	لِمَنْ يَّاْلَفُ صَلٰوةَ اللَّيْلِ	اَنْ يُّؤَخِّرَ الْوِتْرَ
او مستحب دہ په وترو کې	د هغه لپاره چې شوقین وي د شپې د لمانځه	چې وروسته کړي وتر
اِلٰى آخِرِ اللَّيْلِ	وَاِنْ لَّمْ يَثِقْ بِالْاِنْتِبَاهِ	اَوْتَرَ قَبْلَ النَّوْمِ
د شپې تر اخیره پورې	او که یقین یې نه وو په راویښیدو باندې	وتر دې وکړي له ویده کیدو مخکې

د لمانځه د مستحب وختونو بیان

دلغاتوحل الاسفار باب افعال څخه رڼا کیدل. د با په ذریعه متعدي شوی لکه اسفروا بالفجر، فجر روښانه کړئ. **الابراد** یخول. **الصیف** د ګرمي موسم. **الشتاء** د یخني موسم. **یألف** باب (س) څخه مصدر الفأ شوقین کیدل، دوستي او محبت کول. **یثق** باب (ض) څخه مصدر وثوقاً اعتماد کول. **انتباه** بیداریدل. **اوتر** فعل ماضي، وتر کول.

تشریح له دې مخکې د لمانځه د روا وختونو ذکر اوشو اوس دلته تول مستحب وختونه بیانولی شي، د احنافو په نزد په فجر (سهار) کې اسفار مستحب دی البته د امام شافعي رحمه الله په نزد یې په غلس او تیاره کې کول مستحب دي، یعنې تر اوسه رڼائي په افق کې خپره شوې نوي، او د ماسپښین لمونځ د ګرمي په موسم کې په یخ وخت کې یې کول مستحب دي، او د یخني په زمانه کې په اول وخت کې مستحب دي، او د مازدیګر لمونځ هر وخت په تاخیر سره یې کول مستحب دي، په دې شرط چې لمر متغیر شوی نوي یعنې د هغه چمک باقي وي، د امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد تعجیل بهتر دی. د ماښام په لمانځه کې بیړه کول مستحب دي، په هغه کې د موسم هیڅ رعایت نشته، د کوم کس چې له قیام اللیل سره شوق وي او په بیداریدو یې پوره یقین وي نو د هغه لپاره مستحب ده چې د وتر لمونځ له د تهجد وروسته د شپې په اخیر کې وکړي، البته د چا چې په خپل بیداریدو باندې یقین نوي نو هغه ته له ویده کیدو مخکې د وترو کول پکار دي.

بَابُ الْاَذَانِ

د اذان بيان

د كتاب صاحب له دې مخكې د لمانځه د وختونو بيان كړى دى او په دې باب كې يې د لمانځه لپاره د اعلان كولو طريقه بيان كړې ده، چونكه مقصود د لمانځه د وخت راتلو خبر وركول كيدل نو ځكه وخت مخكې بيان شوى، د اذان لغوي معنى خبرول دي، د خبر رسول دي، او د شرع په اصطلاح كې په مخصوص وختونو كې د مخصوصو الفاظو په ذريعه د لمانځه لپاره رابلل. د لمانځه د وخت راتلو اعلان كول، د اذان مشروعيت په مدينه منوره كې په (اول هجري) كې شوى او د اذان د كلماتو واقعه په (دويم هجري) كې مخته راغلې ده، په اول كې د مسلمانانو شمير ډير زيات كم وه نو ځكه پرته له كومې اطلاع صحابه كرام په جوماتو كې سره راټوليدل، ليكن كله چې د اسلام حلقه پراخه شوه نو بيا ديته ضرورت محسوس كړى شو، رسول الله ﷺ له صحابه كرامو رضي الله عنهم مشوره وغوښتله، ځينو حضراتو د وخت په راتلو د اور بلولو خبره وكړه، ځينو حضراتو د وخت په راتلو د ناقوس ږغولو مشوره وركړه، بهر حال كوم تجويز باندې پريكړه ونكړى شوه، صحابه كرامو خپل خپل كور ته تشريف ويوړلو، مگر د رسول الله ﷺ فكرمندي يې چې وليدله ځينې صحابه كرام ډير فكرمند وه، په دوى كې يو صحابي عبدالله بن زيد بن عبد ربه رضي الله عنه ډير زيات فكرمند وه، هغه ويده شو نو په خوب كې يو كس د لمانځه د اعلان لپاره ولاړ وليده چې هغه په لوړ آواز الله اكبر الله اكبر ويل، بيا هغه د اذان ټولې كلمې ادا كړې، سبا د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو ټول خوب يې ورته بيان كړ، چونكه رسول الله ﷺ په ليلة الاسراء، كې همدا كلمات له ملائكو څخه آوريدلي وو نو ځكه يې بلا تامل وفرمايل: (ان هذه لرؤيا حق) يعنې خوب بالكل رښتونى دى، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: پورته شه بلال له ځان سره كړه اذان وكړې، ځكه چې د بلال آواز ستا له آواز څخه اوچت دى، په روايتونو كې راغلي دي چې په همدغه شپه تقريبا يولس صحابه كرامو خوبونه ليدلي وه.

اَلْاَذَانُ سُنَّةٌ	لِلصَّلَوٰتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ	دُوْنَ مَاسِوَاهَا	وَلَاتَرْجِيْعَ فِيْهِ
آذان سنت دى	د پنځو لمنځونو او جمعې لپاره	نه له دوې پرته د نورو لپاره	او نشته ترجيع په هغه كې

خلاصه اذان د پنځو لمنځونو او جمعې لپاره مسنون دى، گوا كه ځينو مشائخو ورته واجب ويلي دي، ځكه چې امام محمد رحمه الله ويلي دي د اذان په ترك كولو باندې له اتفاق كوونكو سره دې قتال وكړى شي او قتال د واجبو په ترك باندې دى نه د سنتو په ترك باندې، مگر اذان خو سنت دى البته له همداسې عمل كوونكو سره قتال كول ضروري دي، همدارنگه د اذان په كلماتو كې د احنافو په نزد

ترجيع نشته، امام مالک او امام شافعي ويلي دي چې ترجيع سنت ده، يعنې د اذان په کلماتو کې د شهادتينو څلور ځلې ويل دي دوه ځلې په کرار او دوه ځلې په لوړ آواز.

د ائمه ؤ اختلاف: د امام مالک رحمه الله په نزد په آذان کې ترجيع بهتره ده، لهذا د ده په نزد د آذان کلمات اولس دي، په شروع کې الله اکبر دوه ځلې او په شهادتين کې ترجيع يعنې اته کلمات، د حيعلتين څلور کلمات، بيا الله اکبر دوه ځلې او په اخير کې کلمه توحيد يو ځل.

د امام شافعي رحمه الله په نزد هم په آذان کې ترجيع بهتره ده، د ده په نزد د آذان کلمات نولس کيږي، په شروع کې الله اکبر څلور ځلې او په شهادتين کې ترجيع، باقي الفاظ معروف دي.

د احنافو او حنابله ؤ په نزد د آذان کلمات پنځلس دي، په شروع کې تکبير څلور ځلې، شهادتين څلور ځلې (ترجيع نشته) حيعلتين څلور کلمات، بيا دوه ځلې تکبير او يو ځل کلمه توحيد

د مالکيانو او شافعيانو استدلال د حضرت ابومحذوره رضي الله عنه په روايت سره دی په کوم کې چې د شهادتينو ترجيع په صراحت سره موجوده ده:

﴿واستدل القائلون بالترجيع بأذان أبي محذورة وفيه الترجيع﴾

ځواب: د حضرت ابومحذوره په روايت کې چې کومه ترجيع ده هغه له يوه علت سره معلوله ده چې په دې وخت کې هغه اسلام قبول کړی نه وو، نو د لومړنيو (اولنيو) شهادتينو مقصد د ده مسلمان کول وو، او په دويم ځل شهادتين د آذان د تعليم په ډول وو.

دويم ځواب: هغه ترجيع نه وه، بلکې د تعليم په غرض بار بار د آذان د کلماتو راګرځول وو.

د احنافو دليل: د حضرت عبدالله بن زيد رضي الله عنه روايت کوم چې د آذان په باب کې د اصل حيثيت لري هغه له ترجيع پر ته ثابت دی.

وَيَزِيْدُ فِي أَذَانِ الْفَجْرِ	بَعْدَ الْفَلَاحِ	الصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ
او زيات دې کړي د سهار په آذان کې	وروسته له حي على الفلاح	الصلوة خير من النوم
مَرَّتَيْنِ	وَالْإِقَامَةُ مِثْلُ الْأَذَانِ	إِلَّا أَنَّهُ يَزِيْدُ فِيْهَا بَعْدَ
دوه ځلې	او تکبير د آذان په شان دی	مګر دا چې زيات کړی شي په تکبير کې وروسته
حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ	قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ	مَرَّتَيْنِ
له على الفلاح	قد قامت الصلوة	دوه ځلې
وَيَتَرَسَّلُ فِي الْأَذَانِ	يَحْدِرُ فِي الْإِقَامَةِ	وَيَسْتَقْبِلُ
او په کرار کرار دې وايي آذان	او لږ په بيړه دې وايي تکبير	او مخ دې وګرځوي
بِهِمَا الْقِبْلَةَ	فَإِذَا بَلَغَ إِلَى الصَّلٰوةِ وَالْفَلَاحِ	حَوَّلَ
په دواړو کې قبلې ته	کله چې ورسيږي حي على الصلوة او حي على الفلاح ته	ودې ګرځوي

وَجْهَهُ	**يَمِيْنًا وَشِمَالًا**	**وَيُؤَذِّنُ لِلْفَائِتَةِ**	**وَيُقِيْمُ**	
مخ خپل	ښي او چپ طرفته	او آذان دې وكړى شي د قضاء شويو لپاره	او تكبير دې وكړي	
فَإِنْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ	**أَذَّنَ لِلْأُوْلَى**	**وَأَقَامَ**	**وَكَانَ مُخَيَّرًا**	
كه قضاء شوې وې ډير لمنځونه	اذان دې وكړي د اولني لپاره	اقامت دې وكړي	او دى اختيار مند	
فِي الثَّانِيَةِ	**إِنْ شَاءَ أَذَّنَ وَأَقَامَ**	**وَإِنْ شَاءَ اقْتَصَرَ عَلَى الْإِقَامَةِ**		
په نورو كې	كه غواړي اذان او اقامت دې وكړي	او كه غواړي اكتفاء دې وكړي په اقامت باندې		
وَيَنْبَغِيْ	**أَنْ يُؤَذِّنَ وَيُقِيْمَ**	**عَلَى طُهْرٍ**	**فَإِنْ أَذَّنَ عَلَى غَيْرِ وُضُوْءٍ**	**جَازَ**
او مناسب ده چې	آذان او اقامت وكړي	په اودسه	كه يې آذان وكړې بې اودسه	نو روا ده
وَيُكْرَهُ	**أَنْ يُقِيْمَ عَلَى غَيْرِ وُضُوْءٍ**	**أَوْ يُؤَذِّنَ وَهُوَ جُنُبٌ**		
او مكروه ده	چې تكبير ووايي بې اودسه	او چې آذان وكړي د ناپاكي په حالت كې		
وَلَا يُؤَذِّنُ لِصَلوٰةٍ	**قَبْلَ دُخُوْلِ وَقْتِهَا**	**إِلَّا فِي الْفَجْرِ عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ**		
او آذان دې نه كيږي د لمانځه لپاره	مخكې له داخليدو د وخت څخه	مګر په سهار كې د ابو يوسف په نزد		

دلغاتوحل: **الفلاح**: كاميابي، **النوم**: خوب، **يترسل**: باب تفعل څخه كرار كرار ويل، **يحدر**: لړ په بيړه ويل، **حول**: باب تفعيل څخه ګرځول، **اقام**: تكبير ويل، **اقتصر على**: اكتفاء كول، **غير وضوء**: له اودسه پرته، **جنب**: ناپاک.

تشريح: **ويزيد**: د سهار په اذان كې له حي على الصلوة څخه وروسته دوه ځلې د الصلوة خير من النوم ويل مستحب دي، حضرت بلال رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د سهار لمانځه خبر وركولو په اتفاقي ډول دوي صلى الله عليه وسلم ويده وه الصلوة خير من النوم يې وويل، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا كلمات خوښ شول، نو ځكه يې د هغو د سهار په اذان كې د شاملولو حكم وكړ، ګوا كه الصلوة خير من النوم د بلال رضي الله عنه په عمل او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ارشاد سره ثابت دي.

والاقامة مثل الاذان: يعني د اذان په شان د تكبير د كلماتو هم دوه ځلې ويل پكار دي، البته الله اكبر دې په ابتداء كې څلور ځلې دي، او د امام شافعي په نزد د تكبير كلمات يو ځل دي، البته د قد قامت الصلوة ويل دوه ځلې دي، د امام مالک په نزد د تكبير كلمات مفرد دي، الحاصل په اقامت ابو محذوره كې تكرار وه، ګوا كه احنافو اذان د بلال او اقامت د ابو محذوره غوره كړى دى.

ويترسل في الاذان: د دوه كلمو په مينځ كې فصل ته ترسل ويل كيږي، د دې شكل دا ده چې په يوه ساه كې الله اكبر دوه ځلې وويل شي وقفه غوره كړي، بيا په دويمه ساه كې الله اكبر دوه ځلې وويل شي ودريږي. بيا په هره ساه كې يوه يوه كلمه ويل كيږي، او د تكبير حدر دا ده چې په اوله ساه كې څلور

خلې الله اکبر ووايي. له دې وروسته په هره ساه کې دوه کلمې وويل شي او لا اله الا الله دا اخيره کلمه په يوه ساه کې ووايي

ويؤذن للفائتة : مسئله : د قضاء لمانځه لپاره دې اذان او اقامت دواړه ووايي برابره ده که تنها وي که جماعت وي، د امام مالک او امام شافعي په نزد صرف اقامت کافي دی

مسئله : که چيرته له کوم کس ډير لمنځونه قضاء شوي نو د اول لمانځه لپاره دې اذان او اقامت دواړه وکړي، البته په باقي لمنځونو کې هغه لره اختيار دی که وغواړي نو د هر يوه لپاره دې اذان او اقامت وکړي او که وغواړي نو صرف په اقامت باندې دې اکتفاء وکړي، امام محمد رحمه الله ويلي دي چې له اول لمانځه وروسته لمانځه لپاره د اقامت ويل ضروري دي، د مشائخو بيان ده چې کيدلی شي چې همدا قول د امام ابو حنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله هم وي.

ولايؤذن لصلوة : د طرفينو په نزد له وخت مخکې اذان کول صحيح ندي (مکروه تحريمي دي) که چيرته يو چا له وخت مخکې اذان وکړ نو په وخت کې دننه دې د هغه اعاده وکړی شي، لکه چې د هدايه صاحب بيان کړي دي، البته امام ابويوسف رحمه الله او د ائمه ثلاثه په نزد د سهار اذان د شپې په اخير کې هم روا دی.

بَابُ شُرُوطِ الصَّلوةِ اللَّتِيْ تَتَقَدَّمُهَا

د لمانځه د شرطونو بيان کوم چې په لمانځه باندې مقدم شوي دي

د دې موقع لپاره درې لفظونه استعمال شوي دي (اول) شروط (دويم) اشراط (دريم) شرائط.

(اول) شروط : دا د شرط (بالسکون الراء) جمع ده، د کوم شي لازم نيول، اصطلاحي مفهوم يې هغه شی په کوم باندې چې د بل شي د وجود انحصار وي مگر هغه يې په ماهيت کې داخل نوي، لکه اودس او که چيرته په ماهيت کې داخل وي نو د هغه نوم رکن ده، لکه رکوع سجده وغيره.

(دويم) اشراط : دا د شريطة جمع ده، د غوږ شوي غوږ والاوښ، په دغه ځای کې د مشروع متعلقاتو تعبير په شروط سره شوی دی، په عامو کتابونو کې د شروط لفظ ذکر شوی، د شرط دوه قسمونه دي (اول) شرط حقيقي (دويم) شرط جعلي، د شرط جعلي دوه قسمونه دي (اول) شرط شرعي (دويم) شرط غير شرعي.

د لمانځه د شرطونو درې قسمونه دي :

(اول) د شرط انعقاد لکه (اول) د لمانځه نيت (دويم) تکبير تحريمه (دريم) د لمانځه وخت (څلورم) د جمعې خطبه.

(دويم) شرط دوام لکه (اول) د حدث پاکي (دويم) له نجاست څخه پاکي (دريم) د عورت پټول (څلورم) قبلې ته مخامخ کيدل.

(دریم) شروط بقاء، لکه قرائت په دې قسم کې صرف قرائت داخل دی، دا درې اقسام په شرعي شرط کې داخل دي

يَجِبُ عَلَى الْمُصَلِّيْ	اَنْ يُّقَدِّمَ الطَّهَارَةَ	مِنَ الْاَحْدَاثِ وَالْاَنْجَاسِ
واجب ده په لمونځ کوونکي	چې مقدم کړي پاکي	له احداثو او انجاسو
عَلٰى مَاقَدَّمْنَاهُ	وَيَسْتُرُ عَوْرَتَهُ	وَالْعَوْرَةُ مِنَ الرَّجُلِ مَاتَحْتَ السُّرَّةِ
لکه چې مخکې بيان شوي دي	او پټ دې کړي عورت خپل	او عورت د سړي له نامه نيولې
اِلَى الرُّكْبَةِ	وَالرُّكْبَةُ عَوْرَةٌ / دُوْنَ السُّرَّةِ	وَبَدَنُ الْمَرْأَةِ الْحُرَّةِ
تر زنګنو پورې دی	او زنګون عورت دی / نه نوم (نو)	او بدن د آزادې ښځې
كُلُّهُ عَوْرَةٌ	اِلَّا وَجْهَهَا	وَكَفَّيْهَا
ټول عورت دی	مګر مخ د هغې	او دواړه ورغوي يې

د لمانځه د شرطونو تفصيل

دلغاتوحل : **احداث** : د حدث جمع ناپاکي، بولې. **يستر** : باب (ض ن) څخه مصدر سترا وسترا د کوم شي پټول، **عورة** : د انسان اعضاء په کوم سره چې حياء پټول کيدی شي، جمع عورات، **السرة** : نوم، **الركبة** : زنګون

خلاصه : په تيرو صفحو کې اسباب يعنې د وختونو بيان شوی دی له هغه وروسته د علاماتو يعنې اذان ذکر شوی دی او اوس په دې باب کې د لمانځه شرطونه بيان شوي دي، ويل شوي دي چې په لمونځ کوونکي باندې فرض دي چې له ټولو مخکې له حدث اصغر او حدث اکبر څخه پاکي حاصله کړي، او د حصول طهارت طريقه هغه ده کومه چې په باب الانجاس کې ذکر شوې ده، دويم شرط د خپل شرم او حياء ځايونو پټول دي، د دې د فرضيت ثبوت هم په آيت کريمه (خذوا زينتكم عند كل مسجد) سره شوی دی، دا د احنافو، امام شافعي احمد او عامو فقهاؤ په نزد شرط دی (وړاندې د ستر مقام حد بندي بيان شوې ده) زمونږ د ائمه ثلاثه په نزد د سړي واجب الستر بدن له نامه څخه لاندې تر زنګنونو پورې دی يعنې نوم په ستر عورت کې داخل ندی، البته زنګون داخل دی، او د امام شافعي په نزد نوم په ستر کې داخل دی او زنګون داخل ندی، او د ازادې ښځې مخ او ورغوي پرته باقي ټول بدن واجب الستر دی يعنې قابل شرم او حياء دی.

وَمَاكَانَ عَوْرَةً	مِنَ الرَّجُلِ	فَهُوَعَوْرَةٌ
او هغه چې دی عورت	د نارينه	هماغه عورت دی
مِنَ الْاَمَةِ	وَبَطْنُهَا	
د مينزې هم	او خيټه يې	

وَظَهْرُهَا	عَوْرَةٌ	وَمَاسِوَى ذٰلِكَ	مِنْ بَدَنِهَا	لَيْسَ بِعَوْرَةٍ
او شا يې	عورت دی	او پرته له دې	د هغې له بدن څخه	ندی عورت
وَمَنْ لَمْ يَجِدْ مَايُزِيْلُ بِهِ النَّجَاسَةَ			صَلّٰى مَعَهَا وَلَمْ يُعِدْ	
او څوک چې پیدا نکړي هغه چې لیرې کړي په هغه سره نجاست			لمونځ دې وکړي له هغه سره او نه دې راګرځوي	
وَمَنْ لَمْ يَجِدْ ثَوْبًا	صَلّٰى عُرْيَانًا قَاعِدًا		يُوْمِيُ بِالرُّكُوْعِ	
او څوک پیدا نکړي جامه	نو لمونځ دې وکړي لوڅ په ناسته		اشاره دې وکړي په رکوع	
وَالسُّجُوْدِ	فَإِنْ صَلّٰى قَائِمًا	أَجْزَأَهُ	اَلْاَوَّلُ اَفْضَلُ	
او سجده کې	که یې لمونځ وکړ په ولاړه	هغه لره کافي دی	خو اول صورت بهتر دی	

دلغاتوحل: **الامة**: مینزه، **بطن**: خیټه، **ظهر**: شا، **نجاسة**: ګندګي، ناپاکي، **عريانا**: لوڅ، **يؤمي**: اشاره دې وکړي، **اجزأ**: کافي کیدل، روا کیدل

خلاصه: په دې عبارت کې د مینزې له ستر عورت سره دوه مسئلې ذکر شوې دي، لهذا دقدوري صاحب ویلي دي چې د سرې کومه برخه بدن واجب الستر دی هغه د مینزې هم دی، یعنې له نامه څخه تر زنګنونو پورې، له دې پرته د مینزې خیټه او شا هم په ستر عورت کې داخل دي، ځکه چې همدا دواړه د شهوت ځایونه دي، البته له دې پرته بدن په ستر عورت کې داخل ندی

اوله مسئله: که چیرته له کوم کس سره له نجسی جامو پرته بله پاکه جامه نه وه او د نجاست لیرې کولو کوم شی هم نه وه نو د هغه لپاره حکم دا ده چې په همدې نجس جامې کې لمونځ ادا کړي او بیا د هغه د راګرځولو ضرورت نشته.

دویمه مسئله: که چیرته له یو چا سره هیڅ پاکه یا ناپاکه جامه نوه نو د هغه لپاره حکم دا ده چې په ناسته لوڅ لمونځ وکړي او رکوع او سجده په اشاره سره وکړي، ځکه دغه کس حکمًا له قیام څخه عاجز دی نو ځکه د همدې عجز له امله په ناسته ورته لمونځ کول سهي دي، لیکن د هغه لپاره په ناسته د لوڅوالي په حالت کې لمونځ کول بهتري لري، ځکه چې په دې کې پرده کول د لمانځه په حق او د خلکو په حق کې شته دي یعنې د دواړو لپاره واجب دي، او طهارت صرف د لمانځه د حق له امله واجب دی

تشریح: ومن لم یجد ما یزیل به النجاسة: د دې دوه صورتونه دي:

اول که چیرته څلورمه یا له دې څخه زیاته جامه پاکه وه نو په دې صورت کې دې په همدې کپړه کې لمونځ وکړي ځکه چې څلورمې ته د کل درجه حاصله ده، پس د څلورمې پاکوالي ته د کل پاکوالی ویل شوي دي، نو ځکه د پاکو کپړو پریښودل لوڅ لمونځ کول روا ندي

(دويم) كه چيرته له خلورمې كمه پاكه وه نو په دې كې اختلاف دى، د شيخينو په نزد لمونځ كوونكي لره اختيار دى كه لوڅ لمونځ كوي او كه په همدې نجسه جامه كې لمونځ كوي، خو په نجسه جامه كې لمونځ كول بهتر دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په همدې نجسه جامه كې لمونځ كول واجب او ضروري دي، امام مالک هم د دې قائل دى او د امام شافعي دوه قولونه دي، يو قول يې همداسې دى او دويم قول يې د لوڅ لمونځ كولو دى او همدا قول د امام شافعي ظاهري مذهب دى.

وَيَنْوِيْ لِلصَّلٰوةِ الَّتِيْ يَدْخُلُ فِيْهَا	بِنِيَّةٍ لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا		
او نيت دې وكړي د لمانځه د هغه چې داخليږي په هغه كې	په داسې نيت سره چې فصل ونكړي په مابين د دوه		
وَبَيْنَ التَّحْرِيْمَةِ	بِعَمَلٍ	وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ	إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ
او مابين د تحريمه كې	. په يو كار سره	او مخامخ دې شي قبلې ته	مګر دا كه وه
خَائِفًا	فَيُصَلِّيْ إِلٰى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرَ	فَإِنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ	
ويريدونكى	نو لمونځ دې وكړي په كوم طرف چې قادر وي	او كه چيرته وركه شي له ده څخه	
الْقِبْلَةُ	وَلَيْسَ بِحَضْرَتِهِ مَنْ يَسْأَلُهُ عَنْهَا	اِجْتَهَدَ وَصَلّٰى	
قبله	او نه وي له ده سره داسې څوک چې پوښتنه ترې كړي د قبلې	نو غور دې وكړي او لمونځ دې وكړي	
فَإِنْ عَلِمَ	أَنَّهُ أَخْطَأَ	بَعْدَ مَا صَلّٰى	فَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ
بيا كه معلومه شوه	چې دى غلط شوى دى	وروسته له لمانځه	نو نشته په ده باندې راګرځول
وَإِنْ عَلِمَ ذٰلِكَ	وَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ	اِسْتَدَارَ إِلَى الْقِبْلَةِ	
او كه معلومه شي دا غلطي	او دى په لمانځه كې وي	نو ودې ګرځي د قبلې طرفته	
وَبَنٰى عَلَيْهَا			
او شروع دې وكړي په هغه باندې			

دلغاتو حل: **يفصل**: بين السنين، فاصله كول باب (ض) څخه مصدر فصلاً، **جهة**: طرف، **حضرة**: په موجودګي كې، **اجتهد**: كوشش كول، تحري غور او فكر كول، دلته دويمه معنى مراد ده، **استدار** راګرځيدل، **بنى عليها**: د مخكنې كيفيت نقل كول، له نوي سره يې كول.

خلاصه: واضحه دې وي چې دلته پنځه مسئلې بيان شوې دي:

(اول مسئله) دا ده چې لمونځ كوونكى په كوم لمانځه كې داخليږي د هغه دې نيت وكړي په دې شرط چې د نيت او تكبير تحريمه په مينځ كې كوم عمل فاصل جوړ نكړي، يعنې د نيت د اعتبار لپاره د

دواړو په مینځ کې اتصال ضروري دی. او قبلې ته مخ کول هم د لمانځه له شرطونو څخه دي (یعنې که بلا عذر قصدا له قبلې پرته بل طرفته لمونځ وکړی شي نو کفر دی).

(دویمه مسئله) که چیرته کوم کس د ویرې (خوف) له امله قبلې ته په مخ کولو باندې قدرت ونلري نو کوم طرفته چې قادر وي هماغه طرفته دې لمونځ وکړي. دا ویره که ځاني وي که مالي وي، که د دښمن وي که د درنده وي یا غلو وي.

(دریمه مسئله) که چیرته کوم کس ته د قبلې په طرف کې اشتباه وه او کوم خبردار کس نه وه له کوم چې د قبلې د طرف متعلق پوښتنه وکړي نو په داسې صورت کې حکم ده چې له غور او فکر څخه کار واخلي او د کوم طرف په باره کې یې چې د قبلې اطمینان اوشو هغه طرفته دې مخ کړي او لمونځ دې وکړي.

(څلورمه مسئله) که چیرته د اشتباه له امله له تحری وروسته لمونځ وکړي او له لمانځه وروسته ورته معلومه شي چې په تحری کې غلط شوی دی نو د احنافو په نزد د لمانځه راګرځول واجب ندي، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وایلي دي که چیرته په تحری سره د لمانځه په کولو کې دا ثابته شي چې شا یې د قبلې طرفته وه نو د لمانځه راګرځول واجب دي.

(پنځمه مسئله) د تحری په کولو سره لمونځ کوونکي ته د لمانځه په وخت کې دا معلومه شوه چې زه په تحری کې غلط شوی یم نو په دې صورت کې دې د قبلې طرفته وګرځي (څکه چې کله اهل قباء ته د لمانځه په وخت کې معلومه شوه چې اوس قبله د بیت المقدس پر ځای خانه کعبه شوه نو هغوی په لمانځه کې د رکوع په حالت کې د خانه کعبه طرفته وګرځیدل. لهذا د لمانځه کولو پر مهال د معلومیدو په صورت کې تحویل قبله دې وکړي د پاتې لمانځه هغه ته پوره کول پکار دي).

تشریح : وینوی للصلوة : په عبادت مقصوده کې نیت ضروري دی. لمونځ چونکه په عبادت مقصوده کې داخل دی نو ځکه د لمانځه له شرطونو څخه او د صحت لمانځه لپاره یو شرط نیت هم دی په کوم باندې چې د ټولو مسلمانانو اجماع ده کما قال ابن المنذر، ارشاد نبوي دی (انما الاعمال بالنیات) یعني د اعمالو دار مدار په نیت باندې دی، صاحب هدایه او یوشمیر نورو حضراتو په همدې حدیث سره استدلال کړی دی چې نیت کول ضروري دي. د صحت نیت لپاره قلبي اراده کافي ده د ژبې استعمال ته ضرورت نشته او که چیرته دواړه وکړی شي نو سبحان الله، په نفل لمنځونو کې مطلق نیت کافي دی او په فرض لمونځونو کې د فرض تعین لازمي دی لکه چې د ماسپښین فرض لمونځ دی یا د ماز دیګر دی یا نور دي

بَابُ صِفَةِ الصَّلٰوةِ

د لمانځه د صفت بيان

تردې ځايه د لمانځه د مقدماتو بيان وه، او اوس اصل مقصود يعنې د لمانځه بيان دی.
صفة: په صرفي اعتبار سره د دې اصل وصف دی واو حذف شوی په اخير کې ة لګول شوې ده او عين کلمه يعني صاد ته کسره ورکړې شوې ده، صفت شوی په معنی د نعمت، خوبي، او از روی لغت وصف او صفة دواړه مترادف او مصدر دي لکه وعداً او عدة وعظ او عظة ليکن زمونږ د متکلمينو علماؤ په نزد په دواړو کې فرق دی، قائم بالواصف يعنې د ممدوح تعريف بيانوونکي کلام ته وصف ويل شوي دي. لکه زيد عالم، عالم کيدل د زيد وصف دی، او قائم بالموصوف يعنې هغه صفات حميده کوم چې له ممدوح سره قائم دي هغه ته صفت ويل شوي دي، لکه علم جمال وغيره، صفت د مراد په سلسله کې مختلف رأی ده.
د عنايه صاحب د تحقيق مطابق له صفت څخه مراد د لمانځه هغه هيئت دی کوم چې د هغه په ارکانو او عوارضو سره حاصليدی شي او د هغه اطلاق په قيام قعود سجود او قرائت وغيره باندې شوی دی، زياتړو همدا بيان کړی دی، او د ځينو په نزد صفت د هغه کيفيت په مفهوم کې دی کوم چې فرض واجب سنتو او مستحب ټوله شامل دی.

فَرَائِضُ الصَّلٰوةِ	سِتَّةٌ	اَلتَّحْرِيْمَةُ	وَالْقِيَامُ	وَالْقِرَاءَةُ
فرائض د لمانځه	شپږ دي	تکبير تحريمه ده	قيام ده	قرأت ده
وَالرُّكُوْعُ	وَالسُّجُوْدُ	وَالْقَعْدَةُ الْاَخِيْرَةُ		مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ
رکوع ده	سجدې دي	او اخيره ناسته ده		په اندازه د تشهد
وَمَا زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ			فَهُوَ سُنَّةٌ	
او چې زيات دي په دې باندې			هغه سنت دي	

تشريح: د قدوري امام دلته د لمانځه د فرائضو ابتداء بيان کړې ده:
فرائض: دا د فرض جمع ده اندازه کول، په اصطلاح کې فرض هغه ته ويل شوي د کوم مشروعيت چې په قطعي دليل سره ثابت شوي که رکن دی که شرط دی، او رکن هغه دی کوم چې په اصل ماهيت کې داخل وي، د دې دوه تعريفونه دي چې د کوم عمل په قطعي دليل سره ثابت وي او د هغه منکر کافر وي.

د لمانځه ټول فرائض شپږ دي

﴿اول تکبير تحريمه﴾ لکه الله اکبر، تحريم د کوم شي حرام کول، چونکه په يوه لمونځ کوونکي باندې له تحريمه مخکې خبرې وغيره ورته روا وي هغه په تحريمه سره حرامې شوې نو ځکه يې نوم تحريمه

اپښودل شوی دی، ارشاد باري تعالی دی (وربک فکبر) د مفسرينو په اجماع دلته له تکبير څخه تکبير تحريمه او تکبير افتتاح مقصود دی، د صاحب قدوري په نزد تحريمه په ارکانو کې داخل دی، امام محمد هم همداسې ويلي دي، البته د شيخينو په نزد په شرط کې داخله ده

(دويم قيام) ارشاد باري تعالی دی (وقوموا لله قانتين) له دې څخه د مفسرينو په اجماع د لمانځه قيام مقصود دی، او علی وجه الاتفاق قيام د لمانځه له ارکانو څخه دی په دې شرط چې په سجده او قيام باندې قدرت وي.

(دريم قراءت) ارشاد باري تعالی دی (فاقرء وماتيسر من القرآن) قراءت دومره اندازه فرض دی څومره چې آسانه وي، د اصح قول مطابق د هغه مقدار يو ستر آيت دی، عند الجمهور دا په رکن کې داخل دی.

(څلورم او پنځم رکوع او سجدې) ارشاد باري تعالی دی (وارکعوا واسجدوا) د دوی دواړو رکن او فرض کېدل متفق عليه دي.

(شپږم مقدار تشهد قعده اخيره) رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته وفرمايل کله چې دا ووايې نو ستا لمونځ مکمل شو، معلومه دا شوه چې د لمانځه تکميل په قدر د تشهد په اخيره قعده کې په کيناستو باندې موقوف دی، لوستل شرط ندي البته د واجب په درجه کې دي، د نفس قعده متعلق مختلف خيالات دي، د ځينو په نزد رکن ده، د ځينو په نزد شرط او د ځينو په نزد رکن زائد دی، صاحب بدائع د همدې اخيرنی نظريه تصحيح کړې ده.

فهو سنة: د قدوري صاحب له شپږو شيانو پرته نور سنت بللي دي کله چې په وما زاد ذلک کې واجب هم داخل دي لکه د اخترونو تکبيرات، له فاتحه سره د سورت يو ځای کول، لهذا دلته د سنت ويلو مطلب دا ده چې د هغو د واجب کېدو ثبوت په سنت سره شوی دی.

وَاِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ	فِيْ صَلٰوتِهٖ	كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ
او کله چې داخل شي انسان	په خپل لمانځه کې	تکبير دې ووايي او پورته دې کړي لاسونه خپل
مَعَ التَّكْبِيْرِ	حَتّٰى يُحَاذِيَ بِاِبْهَامَيْهِ	شَحْمَةَ اُذُنَيْهِ
له تکبير سره	تردې چې برابرې شي ګوتې يې	د غوږونو له نرميو سره

فَاِنْ قَالَ	بَدَلًا مِنَ التَّكْبِيْرِ	اَللّٰهُ اَجَلُّ	اَوْ اَعْظَمُ
که يې وويل	بدل د تکبير پر ځای	الله اجل	يا الله اعظم

اَوِ الرَّحْمٰنُ اَكْبَرُ	اَجْزَاهُ	عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى
يا الرحمن اکبر	روا ده	د امام ابو حنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد
وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى	لَا يَجُوْزُ	اِلَّا اَنْ يَّقُوْلَ
امام ابو يوسف رحمه الله ويلي	روا نه ده	مګر دا چې ووايي

اَللّٰهُ اَكْبَرُ	اَوِاللّٰهُ الْاَكْبَرُ	اَوِاللّٰهُ الْكَبِيْرُ
الله اکبر	یا الله الاکبر	یا الله الکبیر

دلغاتوحل: يحاذي: مصدر محاذاة مخامخ کیدل، **ابهاميه**: د ابهام تثنیه ده، د اضافت له امله د تثنیه نون لویدلی دی، ګوته، **شحمة**: د غوږونو نرمي.

تشريح: **ادخل الرجل الخ**: مسئله: کله چې د لمانځه شروع کولو اراده وکړي لمونځ که فرض وي نو تکبیر تحریمه دې په ولاړه ووایي، او سرې دې خپل دواړه لاسونه له تکبیر سره دومره اندازه پورته کړي چې دواړه لاسونه یې د دواړو غوږونو نرمیو ته ورسیږي، دا د حنفیانو په نزد دي، د امام شافعي په نزد تر اوږو پورې، د امام مالک په نزد تر سر پورې او د طاؤس په نزد له سره پورته پورې، همدا اختلاف د قنوت، اخترونو جنازې د تکبیر په وخت کې د لاسونو په پورته کولو کې هم دی.

فان قال بدلا الخ: په دې عبارت کې د لمانځه د افتتاح د الفاظو بیان شوی دی، ویل شوي دي چې که چیرته کوم کس د الله اکبر پر ځای نور رباني اسماء مثلا الله اجل، الله اعظم الرحمن اکبر څخه په کوم سره د لمانځه شروع کول غواړي نو په دې صورت کې د فقهاؤ اختلاف دی، د طرفینو په نزد په ذکر شویو الفاظو سره د لمانځه شروع کول روا دي، امام ابو یوسف رحمه الله ویلي دي چې که چیرته هغه په ښه طریقه د تکبیر په ویلو باندې قادر وي نو د هغه لپاره صرف دری الفاظ یعنې الله اکبر، الله الاکبر او الله الکبیر څخه په کوم یوه سره د لمانځه شروع کول روا دي، له دې پرته په کوم بل سره روا ندي، امام شافعي صرف په الله اکبر الله الاکبر سره روا بللي دي، او د امام مالک په نزد صرف له الله اکبر سره روا دی، همدا د امام احمد قول دی، د شامي تحقیق دا ده چې صحیح قول د طرفینو دی.

د تکبیر تحریمه په وخت کې لاسونه تر کومه ځایه پورته کیدلی شي په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

د ائمه ؤ اختلاف: د ائمه ثلاثه ؤ په نزد د دواړو لاسونو تر اوږو پورې پورته کول سنت دي.

دليل: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په روایت کې دي: ﴿رأيت النبي صلى الله عليه وسلم اذا قام فى الصلوة رفع يديه حتى تكونا حذاء منكبيه﴾ ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ولید کله چې هغه صلى الله عليه وسلم د لمانځه لپاره ودرید نو خپل دواړه لاسونه یې له خپلو اوږو سره مقابل (برابر) کړل.

ځواب: ستاسو لخوا وړاندې شوی روایت د عذر په حالت باندې محمول دی، هغه دا چې صحابه کرامو رضي الله عنهم د یخنۍ په زمانه کې غټې (پیړې) جامې اغوستې وې او غټې غټې څادورنه یې له ځانونو تاو کړي وو، د سختې یخنۍ له امله یې صرف تر اوږو پورې لاسونه پورته کړي وو

دويم مذهب: د احنافو په نزد د لاسونو له غوږونو سره برابر په دې دول باید پورته کړی شي چې دواړه ګوتې د غوږونو له نرمیو سره برابرې شي او دا سنت دي

دليل: د حضرت انس رضي الله عنه په روايت کې دي چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم تکبير ووايه نو خپل دواړه لاسونه يې له خپلو غوږونو سره برابر پورته کړل

د افتتاح صلوة د الفاظو بيان: آيا له الله اکبر پرته (علاوه) په نورو الفاظو سره هم لمونځ شروع کېدلی شي او که نه؟ په دې باره کې څلور مذهبونه دي:

(۱) د طرفينو په نزد په هر داسې لفظ سره لمونځ شروع کول صحي دي کوم چې د الله تعالی جل جلاله په تعظيم باندې دلالت وکړي، لکه الله اکبر، الله اجل او وغيره.

(۲) د امام ابويوسف رحمه الله په نزد که چيرته په ښه طريقه د تکبير په ويلو باندې قادر وو نو الله اکبر، الله الاکبر، الله الکبير، الله کبير، په همدغو څلورو کې په هر يو سره د لمانځه شروع کول روا دي، له دې پرته ناروا دي

(۳) د شافعيانو په نزد يوازې (صرف) په الله اکبر، الله الاکبر سره يې شروع کول صحي دي

(۴) د امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد صرف په الله اکبر سره يې شروع کول روا دي.

د طرفينو دليل: په لغت کې تکبير په معنی د تعظيم سره دی، او د تعظيم معنی په هغو ټولو الفاظو سره حاصليږي، لهذا د لمانځه شروع کول په هغو ټولو الفاظو سره صحي کيږي (صحيح قول د طرفينو دی

وَيَعْتَمِدُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى	عَلَى الْيُسْرَى	وَيَضَعُهَا تَحْتَ السُّرَّةِ
او ودې نيسي په ښي لاس سره	چپ لاس	او ودې ترلي دواړه تر نامه لاندې

ثُمَّ يَقُولُ	سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ	وَبِحَمْدِكَ	وَتَبَارَكَ اسْمُكَ
بيا دې وايي	اې الله! ستا د پاکي اقرارا کوم	ستا تعريف کوم	ستا نوم ډير برکتي دی

وَتَعَالَى جَدُّكَ	وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ	وَيَسْتَعِيذُ بِاللّٰهِ
ستا بزرګي لوړه ده	او نشته له تا پرته د عبادت مستحق	او پناه دې وغواړي په الله سره
مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ	وَيَقْرَأُ	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
له شيطان رټل شوي څخه	او ودې وايي	بسم الله الرحمن الرحيم
وَيُسِرُّ بِهِمَا	ثُمَّ يَقْرَأُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ	وَسُوْرَةً مَعَهَا
او په کرار دې ووايي دواړه	بيا دې وايي سورة فاتحه	او کوم سورت له هغې سره

أَوْ ثَلٰثَ آيَاتٍ	مِنْ أَيِّ سُوْرَةٍ شَاءَ	وَإِذَا قَالَ الْإِمَامُ	وَلَا الضَّالِّيْنَ
يا دې درې آيتونه ووايي	له هر سورت يې چې خوښه شي	او چې کله ووايي امام	ولا الضالين

قَالَ آمِيْنَ	وَيَقُوْلُهَا الْمُؤْتَمُّ	وَيُخْفِيْهَا
ودې وايي آمين	او ودې وايي دواړه مقتديان	او په کرار دې ووايي

دلغاتوحل : **يعتمد** : اعتمد عليه يقين كول، دلته نيول مراد دي، **يستعين** : پناه غوښتل، **يسر** : اسر اليه بكذا، په پټه بيانول، **الموتم** : مقتدي، **يخفي** : از (افعال) پټول .

خلاصه : په لمانځه کې د ښي لاس په چپ لاس باندي له نامه لاندي نيول سنت دي، له دې وروسته دې ثناء ووايي، بيا دې تعوذ او تسميه ووايي دا كه امام وي كه منفرد، او مقتدي تعوذ او تسميه نشي ويلى او د دې تعوذ او تسميه په كرار كرار ويل سنت دي، له دې وروسته دې سورت فاتحه ووايي او له هغې سره دې كوم سورت يا كوچني درې آيتونه يا يو اوږد آيت له كوم سورت بې چې وغواړي ودې وايي، او كله چې د سورت فاتحه په مكمل باندې امام ولاالضالين ووايي نو امام او مقتدي دواړه دې په كرار آمين ووايي

تشريح : **ويضعهما تحت السرة** : د امام شافعي رحمه الله په نزد د لاسونو په سينې باندې ايښودل پكار دي، او امام مالک رحمه الله د مشهور مذهب مطابق د لاسونو پريښودل پكار دي همدا راجح قول دی.
ويستعيذ بالله : د امام مالک په نزد امام ته نه ثناء ويل پكار دي او نه اعوذ بالله، ثناء د اعوذ بالله تابع ده كه د قرائت، د امام ابو يوسف په نزد ثناء د اعوذ بالله تابع ده خو د طرفينو په نزد دا د قرائت تابع ده او راجح قول همدا دی.

ويسر بهما : د امام ابو حنيفه رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد له سورت فاتحه مخكې په اعوذ بالله او بسم الله كې مسنون دا ده چې په كرار يې ووايي، د امام مالک رحمه الله په نزد په فرض لمونځونو كې د بسم الله ويل سهي ندي، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په جهري لمنځونو كې د بسم الله په زوره ويلو قائل دي.

ويقولها المؤتم ويخفيها : د احنافو په نزد د آمين په كرار ويل مطلقا مسنون دي، د امام مالک په نزد آمين ويل صرف د مقتدي لپاره دي، د شافعي مذهب مطابق امام او مقتدي ټولو ته آمين په جهر سره ويل پكار دي، د امام احمد هم همدا قول دی.

امين ويل د چا وظيفه ده؟

(۱) آمين د چا وظيفه ده؟ د امام مالک رحمه الله مشهور روايت دا ده چې آمين به صرف مقتدي وايي امام به يې نه وايي

دليل : د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه په مرفوع روايت سره استدلال كوي : ﴿ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اذا قال الامام غيرالمغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين﴾ ، له دغه حديث څخه معلومه شوې چې د امام كار دا ده چې هغه ولاالضالين ووايي، او د مقتدي كار دا ده چې هغه آمين ووايي ﴿والقسمة تنافي الشركة﴾.

ځواب : د دغه حديث مقصد تقسيم نه دی، بلكې مقصود دا ده چې امام او مقتدي دواړه دې په يوه وخت آمين ووايي

(۲) د جمهورو علماؤ مذهب دا ده چې د مقتدي او امام دواړو لپاره آمین ویل سنت دي.

دلیل: د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه مرفوع روایت دی: **«اذا امن الامام فآمنوا»**.

یعني کله چې امام آمین ووایي نو تاسو هم آمین ووایئ، دغه روایت د جمهورو په مذهب باندې بالکل واضح دلیل دی.

مسئله (۲): په دې باندې د علماؤ اتفاق دی چې آمین ویل سراً (پټ) او جهراً (په زوره) په دواړو طریقو سره روا دي، لیکن په افضلیت کې اختلاف دی:

(۱) شافعیانو او حنابله ؤ په زوره بهتر ګڼلی.

د شافعیانو او حنابله ؤ دلیل د حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه (غیر المغضوب علیهم ولا الضالین) ویل واوریدل او هغه صلی الله علیه وسلم آمین وویل (ومد بها صوته)، او له آمین سره یې خپل آواز راکش کړ. د راکش کولو مطلب دا ده چې هغه صلی الله علیه وسلم په زوره آمین ووایه نو څکه دا بهتر دی.

ځواب: په دغه حدیث کې له مده څخه مراد جهر نه دی، بلکې د آمین د (ی) کش کول دي.

حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه ته یې د ورښودلو په غرض په لمانځه کې په زوره آمین ویلی وو، له همدې وجهې دغه حدیث ستاسو دلیل نشي جوړیدلی.

د مالکیانو او احنافو دلیل: **«ان النبي صلی الله علیه وسلم قرأ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فقال آمین وخفض بها صوته»** رسول الله صلی الله علیه وسلم له آمین سره خپل آواز په کرار کړ.

ثُمَّ يُكَبِّرُ	وَيَرْكَعُ	وَيَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ	وَيُفَرِّجُ أَصَابِعَهُ
بیا دې تکبیر ووایي	رکوع دې وکړي	او ودې نیسي په دواړو لاسونو زنګنونه	او خلاصې دې وساتي ګوتې
وَيَبْسُطُ ظَهْرَهُ	وَلَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ	وَلَا يُنَكِّسُهُ	
او برابره دې وساتي خیټه خپله	او نه دې پورته کوي سر خپل	او نه دې ځوړند کوي	
وَيَقُولُ فِي رُكُوعِهِ	سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ	ثَلَاثًا	وَذَلِكَ أَدْنَاهُ
او وایي دې په رکوع کې	سبحان ربي العظیم	درې ځلې	او دا د هغه ادنی درجه ده
ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ	وَيَقُولُ	سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ	وَيَقُولُ الْمُؤْتَمُّ
بیا دې راپورته کړي سر	او ودې وایي	سمع الله لمن حمده	او ودې وایي مقتدي
رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ	فَإِذَا اسْتَوَى قَائِمًا	كَبَّرَ	وَسَجَدَ
ربنا لک الحمد	بیا کله چې برابر شي په ولاړه	تکبیر دې ووایي	او سجده دې وکړي

وَاعْتَمَدَ بِيَدَيْهِ　عَلَى الْأَرْضِ　وَوَضَعَ وَجْهَهُ　بَيْنَ كَفَّيْهِ

او کیدي ایږدي لاسونه　په زمکه باندې　او کیدي ایږدي مخ　په مینځ د دواړو ورغویو کې

وَسَجَدَ　عَلَى أَنْفِهِ　وَجَبْهَتِهِ　فَإِنِ اقْتَصَرَ عَلَى أَحَدِهِمَا　جَازَ

سجده دې وکړي　په پوزه　او تندي باندې　که يې اکتفاء وکړه په یوه باندې　نو روا ده

عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى　وَقَالَا　لَا يَجُوزُ الْاِقْتِصَارُ　عَلَى الْأَنْفِ

د امام ابوحنیفة رحمہ اللہ په نزد　او صاحبینو ویلي　روا نه دي اکتفاء کول　په پوزه باندې

إِلَّا مِنْ عُذْرٍ　فَإِنْ سَجَدَ　عَلَى كَوْرِ عِمَامَتِهِ　أَوْ عَلَى فَاضِلِ ثَوْبِهِ　جَازَ

مگر د عذر له امله　که يې سجده وکړه　د پګړۍ په وله باندې　یا په زیاته جامه باندې　نو روا ده

وَيُبْدِي ضَبْعَيْهِ　وَيُجَافِي بَطْنَهُ　عَنْ فَخِذَيْهِ

او پراخ دې ونیسي خپل بغلونه　او لیرې دې وساتي خیټه　له ورنونو څخه

وَيُوَجِّهُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ　نَحْوَ الْقِبْلَةِ　وَيَقُولُ

او متوجه دې کړي ګوتې د پښو　طرف د قبلې ته　او وایي دې

فِي سُجُودِهِ　سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى　ثَلٰثًا　وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ

په سجدې کې　سبحان ربي الاعلی　درې ځلې　او دا يې ادنی مقدار دی

ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ　وَيُكَبِّرُ　وَإِذَا اطْمَأَنَّ جَالِسًا　كَبَّرَ وَسَجَدَ

بیا دې راپورته کړي سر　تکبیر دې ووايي　کله چې په اطمینان سره کښیني　تکبیر دې ووايي او سجده دې وکړي

فَإِذَا اطْمَأَنَّ سَاجِدًا　كَبَّرَ　وَاسْتَوَى قَائِمًا　عَلَى صُدُورِ قَدَمَيْهِ

کله چې په اطمینان سره سجده وکړي　تکبیر دې ووايي　نیغ دې ودریږي　د خپلو پنجو په زور

وَلَا يَقْعُدُ　وَلَا يَعْتَمِدُ　بِيَدَيْهِ　عَلَى الْأَرْضِ

نه دې کښیني　نه دې ځنګ لګوي　په خپلو لاسونو سره　په زمکه باندې

دلغاتو حل **يفرج** تفریجا خلاصول، کشاده کول. **اصابع** جمع اصبع ګوتې، **يبسط** (ن) بسطا خپرول، ظهر شا، ينكسه تنکيسا مراد خوړند کول دي، **استوى قائما** نیغ دریدل. **كف** ورغوی، **انف** پوزه، **جبهة** تندی، **كور** ول، **عمامة** پګړی، **فاضل** زائد، **يبدي** ابداء ظاهر کول دلته د خلاصولو په معنی کې ده، ضبعيه د اضافت له امله نون تثنيه ساقط شوی دی بغل، د بازو مینځ، دلته بغل مراد اخیستی شوی دی، جمع اضباع، يجافي مجافاة جلا ساتل، **فخذ** ورون، صدور القدم ...

تشریح: ثم یکبرویرکع یعنې د صاحب قدوري په نزد د قیام په حالت کې دې تکبیر وکړي بیا دې رکوع ته ولاړ شي او همدا مذهب صحیح دی، نو د جامع صغیر د تصریح مطابق رکوع ته د تلو په وخت کې دې تکبیر ووایي او په رکوع کې دې پوره کړي، د امام طحاوي په نزد همدا صحیح دی.

وذلک ادناه: په رکوع او سجده کې درې ځلې تسبیح ویل د کمال سنت ادنی درجه ده، ترک تسبیح یا له ادنی درجې څخه د کم ویل مکروه تنزیهي دي، د منفرد په حق کې له دریو زیات ویل بهتر دي د طاق عدد له رعایت سره، امام احمد یو ځل د تسبیح ویلو د وجوب قائل دی.

ویقول المؤتم: د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد امام دې صرف سمیع الله لمن حمده ووایي او مقتدي صرف ربنا لک الحمد او د صاحبینو په نزد امام دې هم په کراره ربنا لک الحمد ووایي، او د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد امام او مقتدي دواړه دې سمع الله لمن حمده او ربنا لک الحمد ووایي، او د منفرد لپاره درې قولونه دي (اول) صرف سمع الله لمن حمده دې ووایي (دویم) صرف ربنا لک الحمد دې ووایي (دریم) دواړه دې ووایي، د صاحب هدایه په نزد دا دریم قول ډیر زیات صحیح دی، د ربنا لک الحمد په سلسله کې له ټولو زیات بهتر اللهم ربنا والک الحمد دی، له دې وروسته اللهم ربنا لک الحمد له هغه وروسته ربنا ولک الحمد، او د شامي په قول د ربنا لک الحمد په مینځ کې واو زائد دی، یا د عطف لپاره دی.

وسجد علی انفه: په دغه سلسله کې مفتی به قول د صاحبینو دی چې بلا عذر په پوزه باندې سجده کول روا ندي، د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ رجوع د صاحبینو د قول طرفته ثابته ده، د امام شافعي په نزد په پوزه او تندي دواړو باندې سجده فرض ده.

ثم یرفع راسه: د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د لمانځه سجده د سر په پورته کولو باندې دی او په دې باندې فتوی ده، د امام ابو یوسف په نزد صرف د سر په اینبودلو سره.

واذا اطمان: د طرفینو په نزد د لمانځه په ټولو ارکانو کې طمانیت واجب دی، د امام ابو یوسف په نزد فرض دی.

وَيَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ	مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي الْأُولَىٰ	إِلَّا أَنَّهُ
او ودې کړي په دویم رکعت کې	په مثل د هغه چې کړی دی په اول رکعت کې	مگر دا چې
لَا يَسْتَفْتِحُ وَلَا يَتَعَوَّذُ	وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ	
سبحانک اللهم او اعوذ دې نه وایي	او نه دې پورته کوي لاسونه خپل	
إِلَّا فِي التَّكْبِيرَةِ الْأُولَىٰ		
مگر په تکبیر تحریمه کې		

خلاصه: د اول رکعت له مکمل کیدو وروسته دویم رکعت دې شروع کړی شي نو په همدې رکعت کې دې هم هماغه عمل وکړي کوم چې په اول رکعت کې شوی دی، بس دومره فرق دی چې په همدې دویم رکعت کې دې سبحانک اللهم او اعوذ بالله نه وایي او له تکبیر تحریمه پرته په کوم بل تکبیر دې لاسونه نه پورته کوي.

تشریح: ولایرفعیدیه: د احنافو په نزد د لاسونو پورته کول صرف په تکبیر تحریمه کې دي، جمهور اهل کوفه، اکثر اهل مدینه او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د یوه روایت په اعتبار سره له احنافو سره دی، امام شافعي او امام احمد رکوع ته د تللو په وخت کې او له رکوع څخه د راپورته کیدو په وخت د لاسونو پورته کولو قائل دي.

په رفع الیدین کې د ائمه ؤ اختلاف: په دې باره کې دوه مذهبونه دي: (۱) د شافعیانو او حنابله ؤ په نزد له رکوع څخه د راپورته کیدو په وخت کې او رکوع ته د تلو په وخت کې رفع یدین (د لاسونو پورته کول) بهتر دي.

دلیل: د همدغو حضراتو تر ټولو ستر استدلال د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث سره دی، په کوم کې چې دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله لمونځ شروع کاوه نو خپل دواړه لاسونه به یې تر اوږو پورې پورته کول، همداسې کله به چې رکوع ته تلو او چې له رکوع څخه به یې سر راپورته کاوه له دې پرته نور هم ډیر احادیث دي له کومو څخه چې د رفع الیدین ثبوت ترلاسه کیږي.

ځواب: په حقیقت کې له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه رفع او ترک رفع دواړه ثابت دي، نو په ثبوت او عدم ثبوت کې یې هیڅ اختلاف نشته، بلکې اختلاف محض په افضلیت او عدم افضلیت کې دی، مونږ ترک رفع ته ترجیح ورکړې ده.

د ترجیح وجوه: (۱) د ترک رفع روایتونه له قرآن سره موافق دي، ځکه ﴿قوموا لله قانتین﴾ تقاضا دا ده چې په لمانځه کې دې حرکت کم وي.

(۲) د علم د دوو سترو (لویو) مرکزونو مدینې او کوفې د اصحابو تعامل د ترک رفع وو.

دویم مذهب: د مالکیه ؤ او احنافو په نزد ترک رفع بهتر دی.

دلیل: د حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث دی په کوم کې چې راغلي چې یو ځل هغه وفرمایل چې آیا زه تاسو ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لمونځ کول در ونه ښایم، بیا هغه د لمانځه کول وښودل او له تکبیر تحریمه پرته یې هیڅ لاس پورته نکړ.

دغه حدیث بالکل واضح دی چې په لمانځه کې له تکبیر تحریمه پرته رفع الیدین نشته، همدارنګه د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت له هر ډول اضطراب څخه پاک دی او په خپله د هغه عمل هم په همدې باندې وو.

فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ	مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ	فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ
بيا كله چې راپورته كړي سر خپل	له دويمې سجدې	په دويم ركعت كې
اِفْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى	فَجَلَسَ عَلَيْهَا	وَنَصَبَ الْيُمْنَى نَصْبًا
ودې غوړوي چپه پښه	كښيني به په هغې باندې	او دروي به ښي پښه نيغه
وَوَجَّهَ أَصَابِعَهُ	نَحْوَ الْقِبْلَةِ	وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ
او مخامخ دې كړي ګوتې	طرف د قبلې ته	او كيږدې لاسونه په ورنونو باندې
وَبَسَطَ أَصَابِعَهُ ثُمَّ يَتَشَهَّدُ وَالتَّشَهُّدُ أَنْ يَقُولَ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ		
او وبه غوړوي ګوتې بيا دې تشهد ووايي او تشهدا دا ده چې ووايي ټول قولي عبادتونه، ټول فعلي عبادتونه او ټول مالي عبادتونه د الله لپاره دي		
اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ	أَيُّهَا النَّبِيُّ	وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ
سلام دې وي په تا باندې	اې نبي	او د الله رحمت او د هغه بركتونه دې وي
اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا	وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ	أَشْهَدُ
سلام دې وي په موږ باندې	او په بندګانو د الله چې نېكان دي	ګواهي وركوم
أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ	وَأَشْهَدُ	أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ
چې نشته له الله پرته هيڅ معبود	او ګواهي وركوم	چې محمد بنده د الله او رسول د الله دی
وَلَا يَزِيْدُ عَلَى هٰذَا	فِي الْقَعْدَةِ الْأُوْلَى	وَيَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ
او نه دې زياتوي په دې باندې	په اوله قعده كې	او ودې وايي په دوه ركعتونو اخيرنيو كې
بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ خَاصَّةً		
صرف سورت فاتحه خاص		

دلغاتوحل **افترش** افتراش غوړول، يو لفظ تورك راغلی دی كوم چې د افتراش په مقابل كې دی، معنی يې ده په كوناټې باندې كيناستل. د افتراش كيفيت دا ده چې چپه پښه وغوړوي په هغې باندې كښيني او ښی پښه ودروي او د هغې ګوتې د قبلې طرفته متوجه كړي. د تورك كيفيت دا ده چې خپل چپ كوناټي باندې كښيني او دواړه پښې ښې طرفته وباسي. **التحيات** قولي عبادت. **الصلوات** بدني عبادات. **الطيبات** مالي عبادات. **فاتحة الكتاب** سورت فاتحه

تشريح: فاذا رفع راسه الخ: د احنافو په نزد د سړيو (نارينه ؤ) لپاره افتراش او د ښځو لپاره تورک مسنون دی. امام شافعي په اوله قعده کې افتراش او په اخيره قعده کې د تورک قائل دی. د امام مالک په نزد په دواړو قعدو کې تورک مسنون دی، د امام احمد په نزد په دوه رکعتيز لمانځه کې او د څلور رکعتيز لمانځه په اوله قعده کې افتراش او په اخيره قعده کې تورک مسنون دی.

التشهد: د تشهد په الفاظو کې د صحابه کرامو په نزد اختلاف دی، ليکن عام صحابه کرام عام محدثين او د احنافو علماؤ د ابن مسعود تشهد غوره کړی دی، امام شافعي د ابن عباس تشهد غوره کړی دی. د اصح قول په بناء باندې په اوله قعده کې تشهد ويل واجب دي.

ولايزيد على هذا: په اوله قعده کې دې د تشهد په مقدار باندې زياتوالی نکوي، د امام شافعي په نوي قول کې په اوله قعده کې صلوة النبي هم مسنون دی.

ويقرأ في الركعتين الخ: مسئله دا ده چې د ماسپښين مازديګر او ماسخوتن په اخيرنيو دوه رکعتونو کې او د ماښام په اخيري رکعت کې د سورت فاتحه ويل بهتر دي، لهذا که دری خلې تسبيح وويل شي يا همدومره وخت خاموش وه وسي بيا هم روا دی.

فَاِذَا جَلَسَ فِيْ اٰخِرِ الصَّلٰوةِ		جَلَسَ كَمَا جَلَسَ فِي الْاُوْلٰى
کله چې کښيني په اخير د لمانځه کې		نو کښيني به لکه چې ناست وه په اوله قعده کې
وَتَشَهَّدَ	وَصَلّٰى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	وَدَعَا بِمَا شَاءَ
او تشهد دې ووايي	او درود دې ووايي په رسول الله باندې	او دعا دې وغواړي په هغه چې غواړي
مِمَّا يُشْبِهُ اَلْفَاظَ الْقُرْاٰنِ	وَالْاَدْعِيَةَ الْمَأْثُوْرَةَ	وَلَايَدْعُوْا
کوم چې مشابه وي له الفاظو د قرآن سره	او په دعاګانو منقوله ؤ سره	او دعا دې نه غواړي
بِمَا يُشْبِهُ كَلَامَ النَّاسِ	ثُمَّ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهٖ	وَيَقُوْلُ
کوم چې مشابه وي له خبرو د خلکو سره	بيا دې سلام وګرځوي ښي طرفته	او ودې وايي
اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ		وَيُسَلِّمُ عَنْ يَسَارِهٖ مِثْلَ ذٰلِكَ
سلام دې وي په تاسو او د الله رحمت دې وي		او سلام دې واړوي چپ طرفته په شان د هغه

خلاصه: ويل شوي دي چې په اوله قعده کې د ناستې چې کوم هيئت وه هماغه هيئت په اخيره قعده کې هم د ناستې دی. له دې وروسته د تشهد ويل دي کوم چې د احنافو په نزد واجب ده، بيا دې درود شريف ووايي کوم چې د احنافو په نزد مسنون دی. له درود وروسته دې له خدای تعالی څخه دې په عربي ژبه کې دعا وغواړي، البته د دعا الفاظ دې د قرآن کريم له الفاظو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د منقول دعاګانو له الفاظو سره مشابهت ولري او د دې خبرې دې هم خيال وساتل شي چې دعاګانې دې

په داسې الفاظو سره نوي کوم چې د خلکو له الفاظو سره مشابه وي، له دې وروسته دې ښي او چپ طرفته دې سلام ورګرځول شي او دا الفاظ دې ووايي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

تشریح: وتشهد الخ: د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د تشهد او درود شریف دواړو ویل فرض دي او د هغو په پرېښودلو سره لمونځ نکیږي.

ما یشبه الفاظ القرآن الکریم والادعیة الخ: مثلا ربنا ظلمنا انفسنا، ربنا اتینا فی الدنیا حسنة وفی الاخرة حسنة وقنا عذاب النار، یا د دوي هم معنی نورې دعاګانې، یا ماثوره دعاګانې مثلا: **اللهم عافنی فی بدنی اللهم عافنی فی سمعی اللهم عافنی فی بصری لا اله الا انت، یا اللهم انی ظلمت نفسی ظلما کثیرا الخ.**

ما یشبه کلام الناس: د کومو شیانو چې له بندګانو څخه غوښتل محال نوي لکه چې ویل کیدی شي اللهم زوجني فلانة نو دا له کلام الناس سره مشابه دي، او کله چې د شیانو غوښتل له بندګانو څخه محال وي لکه اللهم اغفر لی نو دا له کلام الناس سره مشابه ندي

ثم یسلم الخ: د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف د مخ طرفته یو سلام دی، تردې خایه د سرېو د لمانځه طریقه بیان شوې ده.

د ائمه ؤ اختلاف: (۱) په اخیره ناسته (قعده) کې له تشهد وروسته چې کوم درود شریف دی د هغه متعلق امام شافعيؒ فرمایلي چې هغه فرض دی، لکه څرنګه چې د تشهد ویل فرض دي، له هغه پرته لمونځ نکیږي، همدا د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ مذهب دی.

دلیل: ﴿**یا ایها الذین آمنوا صلوا**﴾ په دغه آیت کریمه کې صلوة مطلق دی او مطلق امر د فرضیت لپاره راغلی دی.

ځواب: په آیت کریمه کې د صلوا امر د وجوب لپاره نه دی، بلکې د ندب لپاره دی، همدارنګه په آیت کریمه کې د مطلق درود شریف ویلو حکم دی، کوم چې د وجوب فی الجمله تقاضا کوي، لهذا له لمانځه څخه د باندې په ویلو سره یې هم دغه وجوب ساقطیږي

(۲) جمهورو ائمه ؤ، امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ له تشهد وروسته درود ته سنت ویلي دي

د همدغو حضراتو دلیل: د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه حدیث دی په کوم کې چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تشهد په اندازه په ناسته باندې د لمانځه مکمل کیدو حکم ورکړی، دا د عدم فرضیت ښکاره دلیل دی.

د سلام په تعداد او کیفیت کې اختلاف

(۱) د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد په منفرد او امام باندې صرف مخته طرفته یو سلام کول لازمي دي، له دې (۱) ښي (۲) چپ (۳) مخته طرفته څخه زیات مشروع نه دي، او په مقتدي باندې درې سلامونه لازمي دي

(۲) د احنافو، شافعیانو او حنابله ؤ په نزد د امام، مقتدي او منفرد ټولو لپاره دوه سلامه کول مشروع دي، (۱) ښي (۲) چپ طرفته

له لمانځه د فراغت حاصلولو لپاره د السلام لفظ استعمالول فرض دي سنت دي او که واجب؟ په دې باره کې درې مذهبونه دي:

(۱) د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د السلام لفظ او دواړه سلامونه فرض دي

(۲) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د سلام لفظ فرض دی، لیکن دواړه سلامونه فرض نه دي، بلکې یو سلام فرض دی.

(۳) د احنافو په نزد د سلام لفظ فرض نه دی، بلکې دواړه سلامونه سنت بمعنی واجب دي، هذا مذهب اصح دی

وَيَجْهَرُ بِالْقِرَاْءَةِ		فِي الْفَجْرِ	وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْنِ
او په زوره دې وایي قرائت		په سهار کې	او په دوه رکعتونو اولنیو کې
مِنَ الْمَغْرِبِ	وَالْعِشَاءِ	اِنْ كَانَ اِمَامًا	وَيُخْفِي الْقِرَاْءَةِ
په ماښام	او ماسخوتن کې	که چیرته امام وي	او په کرار دې وایي قرائت
فِيْ مَابَعْدَ الْأُوْلَيَيْنِ		وَاِنْ كَانَ مُنْفَرِدًا	فَهُوَ مُخَيَّرٌ
له لومړنیو دوو رکعتونو نه په وروسته کې		او که تنها وه	نو هغه اختیار مند دی
اِنْ شَاءَ جَهَرَ	وَاَسْمَعَ نَفْسَهُ	وَاِنْ شَاءَ	خَافَتَ
که وغواړي په زوره دې ووایي	او خپل ځانته دې واوروي	او که وغواړي	په کرار دې ووایي
وَيُخْفِي الْاِمَامُ الْقِرَاْءَةَ		فِي الظُّهْرِ	وَالْعَصْرِ
او پټ دې ووایي امام قرائت		په ماسپښین	او مازدیگر کې

د جهري او سري لمنځونو بیان

خلاصه له دې مخکې د لمانځه کیفیت، ارکان، فرائض واجبات او د هغه د سنتو بیان تیر شوی دی، اوس په دې موقع باندې د قرائت احکام بیان شوي دي. وییل شوي دي چې که چیرته امام وه نو د هغه لپاره واجب ده چې د سهار په لمانځه، د ماښام په لمانځه او د ماسخوتن په لمانځه کې په اولنیو دوو رکعتونو کې همدارنګه د جمعې او د اخترونو په لمنځونو کې په زوره قرائت ووایي، او په باقي رکعتونو یعنې د ماښام په دریم رکعت او د ماسخوتن په وروستنیو دوو رکعتونو کې په پټه قرائت ووایي، او په ماسپښین او مازدیگر کې قرائت په کرار ووایي، او د منفرد لپاره په جهري لمونځونه کې اختیار دی که قرائت په زوره وایي چې په خپله یې واوري او که یې پټ وایي، لیکن په زوره یې ویل بهتر دي او په نورو لمنځونو کې په پټه

وَالْوِتْرُ ثَلٰثُ رَكَعَاتٍ	لَايَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ	بِسَلَامٍ	
تر دري رکعتونه دي	جدائي دې نکوي د دوي په مینځ کې	په سلام سره	
وَيَقْنُتُ فِي الثَّالِثَةِ	قَبْلَ الرُّكُوْعِ	فِيْ جَمِيْعِ السَّنَةِ	
قنوت دې ووايي په دريم رکعت کې	مخکې له رکوع	په ټول کال کې	
وَيَقْرَأُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ مِّنَ الْوِتْرِ	فَاتِحَةَ الْكِتَابِ	وَسُوْرَةً مَّعَهَا	
او ودې وايي په هر رکعت د وترو کې	سورة فاتحه	او کوم سورت له هغې سره	
فَإِذَا أَرَادَ	أَنْ يَّقْنُتَ	كَبَّرَ	وَرَفَعَ يَدَيْهِ
بیا کله چې اراده وکړي	چې قنوت ووايي	تکبیر دې ووايي	او پورته دې کړي لاسونه
ثُمَّ قَنَتَ			
بیا دې قنوت ووايي			

د وتر لمانځه بیان

خلاصه: د کتاب صاحب دلته د وترو بیان کړی دی. ویلي دي چې د وترو دری رکعتونه په یوه سلام سره واجب دي، په مینځ کې دې په یوه بل سلام سره فصل نکول کیږي. او قنوت د په دریم رکعت کې له رکوع مخکې ټول کال یې ویل واجب دي، د وترو په هر رکعت کې له سورت فاتحه سره د یوه بل سورت یو ځای کول بالاتفاق واجب دي او چې له هغه وروسته د قنوت ویلو اراده وي نو اول دې تکبیر ووايي دواړه لاسونه دې غوږونو ته پورته کړي بیا دې دعا قنوت ووايي: او د تکبیر ویل واجب دي.

تشریح: والوتر الخ: د وترو په سلسله کې له امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه دری روایتونه منقول دي (اول) واجب دي دا اخیرنی قول دی (دویم) سنت مؤکده دي دا صاحبینو او امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ته نږدې دی (دریم) فرض دي دا امام زفر او مالکیه ؤ ته نږدې دی، د وترو منکر کافر ندی، د هغه قضائي راوړل واجب دي، له امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه یې د شمیر په باره کې دوه قولونه راغلي دي، یو د احنافو د قول مطابق دی، دویم قول کوم چې د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دی چې وترو دری رکعتونه په دوه سلامونو سره دي، او د ځینو په قول وتر یو رکعت دی

ویقنت فی الثالثة: د دعا قنوت په محل کې اختلاف دی، د احنافو په نزد د دعا قنوت محل له رکوع مخکې دی او د شافعیانو په نزد له رکوع وروسته دی.

ویقنت فی جمیع السنة: د احنافو په نزد یې ټول کال ویل واجب دي، خو د شافعیانو په نزد صرف د رمضان په نصف اخیر کې یې ویل مستحب دي، او ټول کال له کراهت پرته روا دي

ورفع يديه : په وترو کې د قنوت ويلو په وخت کې دې اول تکبير وويل شي بيا دې لاسونه تر غوږونو پورې پورته کړی شي، صاحبينو ويلي دي چې له دې وروسته دې لاسونه وتړي، قنوت خو مطلق دعا ده او مطلق دعا واجب ده، البته اللهم انا نستعينک الخ ويل مسنون دي، له دې پرته که چيرته بل قنوت ووايي بيا هم روا دي.

تشريح : مسئله (۱) د وتر لمونځ واجب دی او د واجبو مرتبه فرضو ته نږدې نږدې ده، په ترک کولو سړی بې ستره (لويه) گناه شته ده، که چيرته کوم وخت قضاء کړل شي نو کله هم چې موقع پيدا شي سمدستي يې قضائي راوړل پکار دي.

(۲) وتر دری رکعتونه دي، چې دوه رکعته وکړی شي نو به کيني او صرف التحيات به ووايي، له دې وروسته سمدستي به ودريږي، الحمدلله او سورت به ووايي او الله اکبر به ووايي لاسونه به پورته کړي او بيا به لاسونه وتړي بيا به دعاء قنوت ووايي او رکوع به وکړي، او په دريیم رکعت به کيني التحيات او درود شريف او دعاء به ووايي سلام به وگرځوي.

د همدغه عبارت لاندې ځلور مهمې مسئلې بيانولی شي

مسئله (۱) : د وتر لمونځ واجب دی که سنت؟ په دغه سلسله کې دوه مذهبونه دي

(۱) امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله ويلي دي چې د وتر لمونځ واجب دی.

(۲) د ائمه ثلاثه او صاحبينو په نزد وتر لمونځ واجب نه دی، بلکې سنت دی، او د احنافو فتوی د امام اعظم رحمه الله د قول مطابق ده.

د ائمه ثلاثه ؤ دليل : د حضرت علي رضي الله عنه ارشاد دی : ﴿**الوتر ليس بحتم كصلوتك المكتوبة ولكن سن رسول الله صلى الله عليه وسلم**﴾ وتر ستاسو د فرض لمنځونو په څير (شان) لازمي نه دی، ليکن رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت گرځولی.

ځواب : حضرت علي رضي الله عنه د وترو د فرضين نفي کړې، د وجوب نفي يې نه ده کړې، او د فرضيت د نفي مطلب دا ده چې د وتر لمانځه درجه له فرض لمنځونو څخه کمه ده، او له فرضو څخه کمه درجه د واجبو ده نه د سنتو، نو ځکه د حضرت علي رضي الله عنه په ارشاد سره د وتر لمانځه سنت ثابتول صحي نه دي.

د امام ابوحنيفة رحمه الله دليل : د رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمان دی : ﴿**الوتر حق فمن لم يؤتر فليس منا**﴾، وتر حق دي، چنانچه کوم کس چې وتر ونکړل هغه له مونږ څخه نه دی، دغه جمله رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ځلې وفرمايله، او حق دلته د واجبو په معنی کې ده، معلومه شوه چې وتر واجب دي

(۲) د وتر په لمانځه کې څو رکعتونه دي: د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د وترو لمونځ له يوه رکعت څخه تر يوولسو رکعتونو پورې دی، يعنې يو رکعت، درې رکعتونه، پنځه رکعتونه، اوه رکعتونه، نه رکعتونه او يوولس رکعتونه

دلائل سره له ځوابونو: د يوه رکعت په ثبوت کې ﴿الوتر ركعة من آخر الليل﴾.

ځواب: د دغه حديث مطلب دا دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې لمونځ دوه رکعته کړی وو، مګر کله يې چې د وتر لمانځه ته اراده وکړه نو له دوه رکعتونو سره يې يو رکعت يو ځای کړ وتر يې ترې جوړ کړي وو، دا مطلب نه دی چې هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو رکعت وتر لمونځ اداء کړی وو

﴿اوتر بثلث﴾ د احنافو مذهب هم همدا دی نو ځکه يې ځواب ته ضرورت نشته

د پنځو رکعتونو واله حديث: ﴿اوتر بخمس﴾ د دې ځواب دا دی چې پنځه رکعتونه د وترو نه وو، بلکې درې رکعتونه د وترو وو، او دوه رکعته نفل وو، راوي دواړه يو ځای بيان کړي.

د اوو رکعتونو واله حديث: ﴿اوتر بسبع﴾ د دې ځواب دا دی چې په دې کې درې رکعتونه د وتر وو او څلور رکعتونه د تهجد وو، راوي دواړه يو ځای بيان کړي.

د نهو رکعتونو واله حديث: ﴿اوتر بتسع﴾، د دې ځواب دا دی چې په دې کې شپږ رکعتونه د تهجد وو او درې رکعتونه د وتر وو، راوي دواړه يو ځای بيان کړي دي.

د يوولسو واله حديث: ﴿احدى عشر ركعة﴾ د دې ځواب دا دی چې شپږ رکعتونه د تهجد وو، درې وتر وو، او دوه رکعته له وترو وروسته وو، کوم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ناسته اداء کړي وو، راوي ټول يو ځای بيان کړي

(۲) د احنافو په نزد وتر درې رکعتونه دي، له دې څخه زيات روا نه دي.

دليل: د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دی: ﴿كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوتر بثلاث﴾ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درې رکعته وتر اداء کړي وو، دغه حديث د احنافو په مذهب باندې ښکاره دليل دی.

(۳) وتر لمونځ په يوه سلام سره دی او که په دوو سلامونو سره دی؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

(۱) د ائمه ثلاثه ؤ په نزد وتر لمونځ له دوو سلامونو سره دی.

دليل: په دغه مسئله کې له ائمه ثلاثه ؤ هيڅ کوم صحيح يا صريح حديث موجود نه دی، او نه د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ معمول پاتې شوی، البته دوی د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په عمل سره استدلال کړی: ﴿كان يسلم بين الركعتين والركعة﴾، چې هغه به دوه د دوو رکعتونو په مينځ کې سلام ګرځولی وو

ګرځولی وو او دويم سلام يې په اخيرني رکعت باندې ګرځولی وو، او همدارنګه هغه په خپل اجتهاد کې تنها وو، دويم دا که

ځواب: دا ده چې دا د هغه خپل اجتهاد وو، او همدارنګه هغه په خپل اجتهاد کې تنها وو، دويم دا که چيرته وتر له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه په دوو سلامونو سره ثابت وای نو دا به يو غير معمولي عمل

وو او صحابه کرامو رضي الله عنهم به ضرور نقل کړي وو، حالانکه له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه د دې هيڅ تفصيل نه دی ذکر شوی، بلکې د دې برعکس ثابت دی

(۲) د احنافو مذهب دا دی چې وتر له يوه سلام سره دي، په مينځ کې يې هيڅ سلام نشته.

دليل حضرت عائشة رضي الله عنها اعلم الناس (له خلکو ښه خبره) د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وترو باندې وه، ليکن هغې هيڅکله په وترو کې د دوو سلامونو ذکر نه دی کړی، بلکې په ځينو احاديثو کې له هغې څخه نفي وارد شوې ده، په يوه حديث کې دي ﴿ثم اوتر بثلاث لايفصل بينهن﴾.

دويم حديث دی ﴿الوتر ثلاث كثلاث المغرب﴾ برته له دې له لويو صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه هم دا ثابته ده چې هغوی وتر په يوه سلام سره کړي وو

مسئله (۴) له وتر لمانځه پرته (علاوه) په بل کوم لمانځه کې هم قنوت ويل کيدی شي او که نه؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي

(۱) د شافعيانو او مالکيانو په نزد د سهار په لمانځه کې ټول کال قنوت مشروع دی.

دليل له حضرت انس رضي الله عنه څخه منقول دي ﴿مازال رسول الله صلى الله عليه وسلم يقنت في الفجر حتى فارق الدنيا﴾

يعنې رسول الله صلى الله عليه وسلم د سهار په لمانځه کې قنوت لوستلو تردې چې له دنيا څخه رخصت شو.

ځواب په کومو روايتونو کې چې د سهار په لمانځه کې د قنوت ذکر راغلی له هغې څخه قنوت نازله مراد ده، کله هم چې په مسلمانانو باندې کوم مصيبت راغلی نو قنوت نازله يې لوستلی، تردې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له دنيا څخه رخصت شو

(۲) د احنافو او حنابلهؤ په نزد د سهار په لمانځه کې قنوت دائماً مشروع نه دی (

ليکن کله چې په مسلمانانو باندې د کفارو له لوري (جانبه) حمله وکړی شي او په مسلمانانو باندې ظلم او ستم شروع کړی شي نو د اسلام د دښمنانو لپاره د بد دعاء لپآره په عارضي ډول د سهار په لمانځه کې د قنوت نازله ويل مشروع دي، او په عامو حالاتو کې مشروع نه دي.

دليل د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه حديث دی ﴿ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان لايقنت في صلاة الا اذا دعا القوم او دعا على قوم﴾ يعنې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سهار په لمانځه کې صرف په هغه وخت کې قنوت ويلو کله به يې چې کوم قوم ته دعا يا بد دعا کوله، دغه حديث بالکل واضح دی چې په سهار لمانځه کې قنوت دائماً مشروع نه دی

وَلَايَقْنُتُ	فِي صَلوةٍ غَيْرِهَا
او قنوت دې نه وايي	په لمنځونو نورو کې

تشريح ولايقنت الخ: د احنافو په نزد له وترو پرته په کوم بل لمانځه کې قنوت نشته، د امام شافعي په نزد د سهار په لمانځه کې قنوت مسنون دی، د امام ترمذي د تصريح مطابق اهل علم د سهار په لمانځه کې پرته له کوم سبب د قنوت ويلو قائل ندي، له روايتونه دومره معلومه شوې ده رسول الله ﷺ کومې قبلې ته د بد دعا کولو لپاره کومې چې اويا يا اتيا قاريان شهيدان کړي وه د سهار په لمانځه کې تر يوې مياشتې پورې د قنوت عمل جاري وساتلو، له دې وروسته يې پرېښود، دوي ﷺ نه له دې واقعې مخکې کله ويلې وه او نه له دې وروسته، او دا په اصل حقيقت کې قنوت نازله وه کومه چې منسوخه شوې

وَلَيْسَ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلٰوةِ	قِرَأَةُ سُوْرَةٍ	بِعَيْنِهَا	
او نشته کوم شی په لمانځه کې	ويل د کوم سورت	معلوم	
لَايَجُوْزُ غَيْرُهَا	وَيُكْرَهُ اَنْ يَّتَّخِذَ	قِرَأَةُ سُوْرَةٍ بِعَيْنِهَا	لِلصَّلٰوةِ
چې روا ندی له هغه پرته بل	او مکروه دي چې چې ونيسي	ويل د کوم سورت معلوم	د لمانځه لپاره
لَايَقْرَأُ فِيْهَا غَيْرَهَا	وَاَدْنٰى مَا يُجْزِءُ مِنَ الْقِرَأَةِ	فِي الصَّلٰوةِ	
چې نه به وايي پکې کوم بل	او ادنی چې کافي دي له قرائت څخه	په لمانځه کې	
مَايَتَنَاوَلُهُ اِسْمُ الْقُرْآنِ	عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ	وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ	
هغه ده کوم ته چې قرآن ويل کيدی شي	په نزد د امام ابوحنيفة	او ويلي دي امام ابويوسف	
وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ	لَايَجُوْزُ	اَقَلُّ مِنْ ثَلٰثِ آيَاتٍ	قِصَارٍ
او امام محمد رحمهما الله	روا نه ده	کم له دريو آيتونو	کوچنيو څخه
اَوْ اٰيَةٍ طَوِيْلَةٍ			
يا له يوه آيت لوی څخه			

خلاصه په هر لمانځه کې د سورت فاتحه ويل واجب دي، او له دې پرته د کوم معلوم سورت په دې اندازسره معلوم کول چې له دغه پرته د کوم بل سورت ويل روا ندي صحيح ندي، او همدارنګه د لمانځه لپاره د کوم سورت معلومول چې له دې پرته د کوم بل سورت تلاوت به نکوم نو داسې کول مکروه دي، مثلا د جمعې د سهار په اول رکعت کې آلم سجده او په دويم رکعت کې سورت دهر معلومول د کراهيت باعث دي، البته که د نبي عليه السلام د اتباع په ډول د معلوم سورت تلاوت وکړي او کله کله بل سورت هم ووايي نو بيا کراهيت نشته. د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په لمانځه کې د قرائت ادنی مقدار په کوم سره چې لمونځ روا کيدی شي هغه ده په کوم باندې چې د قرآن نوم صادق کيدی شي يو آيت دی (که چيرته په دوه کلمو يا زياتو باندې مشتمل وه نو د مشائخو په اتفاق لمونځ

روا کيږي لکه چې الهي ارشاد دی (فقتل کيف قدر) او که يوه کلمه دی لکه (مدهامتان) يا يو حرف دی لکه (ص، ق) نو په دې کې د مشائخو اختلاف دی، د ځينو په نزد کافي کيږي او د ځينو په نزد نه کافي کيږي، او د صاحبينو په نزد کم له کمه درې کوچني آيتونه يا د يوه ستر آيت کيدل ضروري دي، لکه آية الکرسي او آيت دين، له دې ځخه د کم په صورت کې قرائت هم نه کافي کيږي.

وَلَا يَقْرَأُ الْمُؤْتَمُّ خَلْفَ الْإِمَامِ	وَمَنْ أَرَادَ الدُّخُولَ فِي صَلٰوةِ غَيْرِهِ
او نه دې وايي مقتدي وروسته په امام پسې قرآئت	او څوک چې اراده وکړي د دخول د بل په لمانځه کې

يَحْتَاجُ إِلَى نِيَّتَيْنِ	نِيَّةِ الصَّلٰوةِ	وَنِيَّةِ الْمُتَابَعَةِ
نو محتاج دی دوه نيتونو ته	يو نيت د لمانځه	او بل نيت د اقتداء

خلاصه: د قدوري صاحب ويلي دي چې د احنافو په نزد مقتدي دې په امام پسې شاته بالکل قرائت نکوي، نه فاتحه او نه کوم بل سورت، لمونځ که جهري وي که سري وي، او د امام شافعي رحمه الله جديد او صحيح قول دا دی چې د مقتدي لپاره په هر لمانځه کې که جهري وي که سري وي فاتحه ويل واجب دي، د امام مالک رحمه الله په نزد د جهري او سري لمنځونو په کومو رکعتونو کې چې جهر نشته په هغو کې د مقتدي لپاره د فاتحه ويل واجب دي، د امام شافعي مخکنی قول همدا دی، يوه بله مسئله دا بيان شوې ده چې که چيرته کوم کس په بل کس پسې شاته لمونځ کول وغواړي نو د هغه لپاره چې دوه نيتونه وکړي يو د لمانځه نيت او بل د اقتداء نيت.

په امام پسې وروسته د فاتحې په ويلو کې د ائمه ؤ مذاهب: د امام شافعي رحمه الله په نزد په مقتدي باندې سورة فاتحه ويل فرض دي، برابره ده که جهري لمونځ وي او که سري وي.

دليل: د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه حديث چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د سهار لمونځ کاوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته قرآنت کول ګران شول، بيا چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم له لمانځه ځخه فارغ شو نو وې فرمايل چې زه تاسو په امام پسې شاته قرآئت کوونکي وينم، راوي وايي چې مونږ وويل هو! يارسول الله صلى الله عليه وسلم! رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل په اينده کې داسې مکوئ پرته له سورة فاتحې، ځکه چې له هغې پرته د هيچا لمونځ نکيږي.

ځواب: ذکر شوی حديث صحي نه دی، بلکې ډير زيات ضعيف دی، په سند او متن دواړو کې يې اضطراب دی، نو ځکه په دې سره د فاتحې فرضيت نشي ثابتيدلی.

د امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله په نزد په امام پسې شاته د سورت فاتحې ويل مکروه تحريمي دي، برابره ده که جهري لمونځ وي او که سري لمونځ وي.

دليل: ﴿واذاقرء القرآن فاستمعوا له وانصتوا﴾ کله چې قرآن ويل کيږي نو هغه په غور سره واورئ او چوپ شئ، په دغه آيت کريمه کې د الله تعالى جل جلاله په واضح ډول له قرائت خلف الامام ځخه منع

کړي ده، نو ځکه په امام پسې شاته قرائت کول روا کېدلی نشي، برابره ده که سورت فاتحه وي او که کوم بل سورت وي؛

د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په جهري لمانځه کې په امام پسې وروسته فاتحه ویل مکروه دي، لیکن په سري لمانځه کې مستحب دي، همداسې یو روایت له امام محمد رَحِمَهُ اللهُ څخه هم منقول دی.

بَابُ الْجَمَاعَةِ

د جماعت بیان

له دې څخه په مخکې باب کې د منفرد د لمانځه مسائل بیان شول او په دې باب کې د جماعت او امامت ذکر شوی دی، د جماعت په باره کې د امت د فقهاؤ څلور مذهبونه دي (اول) فرض عین دی، یعني په هر کس باندې فرض دی (دویم) فرض کفایي دی، یعني چې یو څو کسان یې وکړي نو له باقي حضراتو ګناه ساقطیږي (دریم) واجب دی (څلورم) سنت مؤکده دی، له دې تاکید څخه وجوب مراد دی ګوا که چې د سنت مؤکده او د وجوب قول په مینځ کې کوم فرق نشته دی، اول قول د امام محمد او اهل ظواهره ؤ دی مګر د صحت لمانځه لپاره شرط ندی، دویم قول د امام شافعي دی، دریم قول دی مشائخ احناف دی، دې قول ته صحیح او قوي ویل شوي دي، څلورم قول صاحب کتاب غوره کړی دی، مګر د صحت جمعه او اخترونو لپاره جماعت شرط دی، د دې د سنّتیت دلیل د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی (الجماعة من سنن الهدی لایتخلفها الا المنافق) جماعت له سنن هدی څخه دی له هغه څخه منافق شاته پاتې کیږي، د فضیلت په باره کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی (صلوة الجماعة افضل من صلوة احدکم وحده بخمسة وعشرین درجة) یعني په جماعت سره لمونځ کول په نسبت سره تنها لمانځه ته پنځه ویشت درجې بهتر دی او په یوه روایت کې اوه ویشت درجې بهتر دی.

وَالْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ	وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ	أَعْلَمُهُمْ
او جماعت سنت مؤکده دی	او بهتر په خلکو کې د امامت لپاره	ښه پوهیدونکی د دوی دی
بِالسُّنَّةِ	فَإِنْ تَسَاوَوْا فَأَقْرَأُهُمْ	فَإِنْ تَسَاوَوْا فَأَوْرَعُهُمْ
په سنتو باندې	که په دې تول برابر وو بیا ښه قاري دی	که په دې کې هم برابر وو بیا پرهیزګار دی

فَإِنْ تَسَاوَوْا	فَأَسَنُّهُمْ	وَيُكْرَهُ تَقْدِيمُ	الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ
که په دې کې هم برابر وو	بیا د زیات عمر لرونکی دی	او مکروه دی وړاندې کول	د غلام د کوچي

وَالْفَاسِقِ	وَالْأَعْمَى	وَوَلَدِ الزِّنَا	فَإِنْ تَقَدَّمُوا	جَازَ
د فاسق	ړانده	د حرامزاده	او که یې وړاندې کړل دوی	نو روا دي

وَيَنْبَغِيْ	لِلْاِمَامِ	اَنْ لَّا يُطَوِّلَ	بِهِمُ الصَّلٰوةَ
او مناسب ده	د امام لپاره	چې اوږد نکړي	په مقتديانو باندې لمونځ

د امامت استحقاق او د کومو خلکو امامت مکروه دی؟

دلغاتوحل: **اولی النّاس**: په خلکو کې زيات حقدار، زيات لائق. **اعلم**: زيات پوهيدونکی. **تساووا** برابر کیدل. **اورعهم**: په خلکو کې زيات متقي. **الاعرابي**: کوچی. **الاعمٰی**: ړوند. **ولدالزنا**: حرامي

تشريح: **الاعلم بالسنة**: يعنې چې د لمانځه له مسائلو او احکامو زيات خبر وي اگر که په نورو مسائلو دومره نوي خبر، او همدارنگه په مايجوز به الصلوة باندې قدرت ورته حاصل وي، د امام ابويوسف او طرفينو اختلاف دی. د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد اقرأ له اعلم بالسنة څخه مقدم دی، او طرفينو د دې برعکس ويلي دي، يعنې اعلم بالسنة په اقرأ باندې مقدم دی، ځکه چې په اوسنی زمانه کې د يوه ښه عمده قاري د لمانځه د مسائلو طرفته توجو ډيره کمه وي او د صحابه ؓ په زمانه کې به چې کوم اقرأ وه اعلم به هم وه، نو ځکه په حديث کې اقرأ ته په اعلم باندې تقديم حاصل دی، ليکن په اوسنی زمانه کې داسې ندي، نو ځکه اعلم په اقرأ باندې مقدم دی، هو که چيرته د علم په اعتبار سره ټول يو برابر وه نو د ښه او عمده قاري امامت بيا اولی دی

اورعهم: که چيرته ټول جماعت په اعلم بالسنة او اقرأ کې سره برابر وه نو کوم چې متقي وي هغه د امامت ډير مستحق دی. په ورع او تقوی کې فرق: ورع ويل کيږي له شبهاتو احتراز کول، تقوی ويل شوي دي له محرماتو ځان ساتل.

ويکره تقديم العبد الخ: په دې عبارت کې د دې بيان دی چې د کوم خلکو امامت مکروه دی، ويل شوي دي چې د غلام امامت، همدارنگه د جاهل امامت د عدم علم او جهل له امله د فاسق امامت د شريعت د احترام نکولو له امله د ړانده امامت په پاکي کې د عدم اختياط له امله او د ولدالزنا امامت د سهي تعليم او تربيت نه موندلو له امله مکروه دی، ليکن که چيرته په کومه موقع باندې له دوی پرته بل څوک موجود نه وه نو د دوی امام جوړول بلا کراهيت روا دي، البته د فاسق امامت له کراهيت سره روا دی، ځکه چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دی: لمونځ د هر نيک او بد شاته وکړئ.

وينبغي للامام ان لايطول: دا چې په مقتديانو کې د ډير عمر خلک ناروغان او ضرورتمند خلک هم وي نو ځکه د امام فرض دي چې لمونځ اوږد نکړي او د کمزورو خلکو خيال وساتي.

وَيُكْرَهُ	لِلنِّسَاءِ	اَنْ يُصَلِّيْنَ وَحْدَهُنَّ	بِجَمَاعَةٍ	فَاِنْ فَعَلْنَ
او مکروه ده	د ښځو لپاره	چې لمونځ وکړي تنها	په جماعت سره	که دوی همداسې کوي
وَقَفَتِ الْاِمَامَةُ	وَسْطَهُنَّ	كَالْعُرَاةِ	وَمَنْ صَلّٰى	مَعَ وَاحِدٍ
نو ودې دريږي امام	په مينځ د دوی کې	لکه د لوڅو او کوم چې لمونځ کوي		له يوه کس سره
اَقَامَهُ عَنْ يَمِيْنِهٖ		وَاِنْ كَانَا اِثْنَيْنِ		تَقَدَّمَهُمَا
نو ودې دروي هغه ښي طرفته		او که دوه وو		مخکې دې شي امام له دوی څخه
وَلَا يَجُوْزُ لِلرِّجَالِ	اَنْ يَقْتَدُوْا	بِاِمْرَاَةٍ		اَوْصَبِيٍّ
او روا نه دي سړيو ته	چې اقتداء وکړي	په ښځه		يا ماشوم پسې

تنها د ښځو د جماعت حکم

تشريح **ويكره للنساء الخ** په جماعت سره د ښځو لمونځ مکروه تحريمي دی او همدا حکم د لوڅو خلکو د جماعت هم دی، که چيرته دوی امامت کوي نو امام دې د دوي په مينځ کې ودرېږي چې د عورت کشف زيات نه وي، البته د جنازې لمونځ مستثنی دی چې د ښځو د جنازې لمانځه جماعت مکروه ندی

ومن صلی مع واحد: د يوه مقتدي په صورت کې د هغه د امام ښي طرفته دريدل دي، او که مقتدي له يوه زيات وه نو امام دې مخته ودريږي، په مينځ کې د دريدو په صورت کې د کراهيت حکم دی

ولايجوز للرجال الخ د سړيو لپاره په ښځو پسې اقتداء کول روا ندي، ځکه چې د امام لپاره سړی (نر) کيدل شرط دي، او د نابالغ اقتداء هم روا نده، ځکه چې د نابالغ لمونځ نفل وي او اقتداء المفترض خلف المتنفل روا نده، د امام شافعي په نزد د ماشوم امامت سهي دی

توضيح ښځو ته د سړيو امامت کول بالاتفاق د څلورو امامانو په نزد روا نه دي ﴿لحديث آخروهن من حيث اخرهن الله﴾ (ښځې وروسته کړئ ځکه چې الله تعالی هغوی وروسته کړې دي، پس کله چې الله تعالی ښځې وروسته کړې دي نو د هغو مخکې (وړاندې) کول يعنې امام جوړول هم روا نشول، د جمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه و په نزد د ماشوم امامت هم روا نه دی، البته د امام شافعي رحمه الله په نزد روا دی

د امام شافعي رحمه الله **دليل** د عمرو بن سلمه واقعه ده، کومه چې د ابوداؤد، ج ۱، ص ۸۶ کې موجوده ده

خواب د دغه حديث ځواب دا ده چې هماغو خلکو همداسې په خپل اجتهاد سره کړي وو، او ښکاره ده چې د هغه اطلاع هم رسول الله صلى الله عليه وسلم ته نه وه شوې

وَيُصَفُّ الرِّجَالُ	ثُمَّ الصِّبْيَانُ	ثُمَّ الْخُنْثٰى	ثُمَّ النِّسَاءُ
او صف دي جوړ کړی شي د سړیو	بیا د ماشومانو	بیا د نرښځیو	بیا د ښځو
فَإِنْ قَامَتْ اِمْرَأَةٌ	اِلٰى جَنْبِ رَجُلٍ	وَهُمَا مُشْتَرِكَانِ	
که چیرته ولاړه وه ښځه	څنګ د سړي ته	او دواړه شریکان وو	
فِي صَلٰوةٍ وَاحِدَةٍ	فَسَدَتْ صَلٰوتُهٗ		
په یوه لمانځه کې	نو فاسدیږي لمونځ د سړي		

د صفونو د ترتیب او برابري بیان

تشریح : ویصف الرجال الخ : په دې عبارت کې د امام شاته د دریدلو د ترتیب بیان شوی دی، له امام وروسته له ټولو اول د سړیو صف جوړیدل پکار دي، بیا د ماشومانو بیا د نرښځیو له دوی وروسته د ښځو.

فان قامت امرأة الخ : په دې عبارت کې د محاذاة (برابري) مسئله بیان شوې ده، د مسئلې صورت دا ده که چیرته ښځه راغله او له سړي سره په څنګ کې یې نیت وتړلو او دواړه د یوه لمانځه په تحریمه کې شریکان شول نو د سړي لمونځ استحسانا فاسدیږي خو په دې شرط چې امام د ښځې د امامت نیت کړی وي، البته قیاسا د سړي لمونځ نه فاسدیږي لکه چې د امام شافعي همدأسې وینا ده، د استحسانا وجه دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې فرمان (اخروهن من حیث اخرهن الله) مخاطب سړي دي نه ښځې، او سړي د نبي د فرمان خلاف کړي دي، نو ځکه فساد د سړي په لمانځه کې راغی نه د ښځې په لمانځه کې

وَيُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ	حُضُوْرُ الْجَمَاعَةِ	وَلَا بَأْسَ بِأَنْ تَخْرُجَ		
او مکروه ده د ښځو لپاره	حاضریدل په جماعت کې	او پروا نشته چې ووځي		
الْعَجُوْزُ	فِي الْفَجْرِ	وَالْمَغْرِبِ	وَالْعِشَاءِ	عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ
سپین سرې	په سهار	ماښام	او ماسخوتن کې	په نزد د امام ابوحنیفة رحمه الله
وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ	يَجُوْزُ	خُرُوْجُ الْعَجُوْزِ	فِي سَائِرِ الصَّلٰوةِ	
ویلي دي امام ابویوسف او امام محمد	روا دي	وتل د بوډۍ ښځې	په ټولو لمنځونو کې	
وَلَا يُصَلِّي الطَّاهِرُ	خَلْفَ مَنْ بِهٖ سَلَسُ الْبَوْلِ	وَلَا الطَّاهِرَاتُ		
او لمونځ دې نکوي پاک سړی	شاته د هغه کس کوم چې وي سلس البول	او نه پاکې ښځې		
خَلْفَ الْمُسْتَحَاضَةِ	وَلَا الْقَارِءُ	خَلْفَ الْأُمِّيِّ	وَلَا الْمُكْتَسِيْ	
شاته د مستحاضې	او نه قاري	شاته د نالوست	او نه د جامو اغوستونکی	

خَلْفَ الْعُرْيَانِ

شاته په لوڅ پسې

دلغاتوحل حضور الجماعة : په جماعت کې ګډون کول، **العجوز** : سپین سرې ښځې جمع عجائز، **سلس البول** : بلاارادہ د متیازو وتل، **الامي** : نالوست، **المکتسي** : د جامو اغوستونکی، **عریان** : لوڅ

خلاصه : د قدوري صاحب ویلي دي چې ځوانو ښځو ته په جماعت کې شرکت کول مکروه دي، د احنافو په نزد سپین سرو ښځو ته د جومات طرفته د وتلو په باره کې د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او د صاحبینو اختلاف دی، د امام ابو حنیفه په نزد سپین سرې ښځې په سهار ماښام او ماسخوتن کې وتلی شي او په ماسپښین او مازدیګر کې یې وتل مکروه دي، او د صاحبینو په نزد سپین سرو ښځو ته د ټولو لمنځونو لپاره وتل روا دي، (د فقهاؤ په اصطلاح کې مستحاضه او کومه چې د مستحاضه په حکم کې وي هغو ته معذور ویل شوي دي) د مسئلې صورت دا ده چې پاک سړی په سلسل البول کې د مبتلا کس شاته دې لمونځ نکوي او نه دې پاکه ښځه د مستحاضې شاته لمونځ کوي، همدارنګه د یوه نالوست شاته دې تعلیم لرونکی کس لمونځ نکوي، همدارنګه هغه کس کوم چې جامې اغوستې وي د کوم لوڅ کس شاته دې لمونځ نکوي

تشریح ویکره للنساء : د امام شافعي په نزد د جوماتو طرفته د ښځو وتل مطلقا روا دي، د حنفیانو په نزد سپین سرو ښځو ته په جمعه او اخترونو کې شرکت مطلقا روا دی، لیکن د فساد زمانه له امله علی الاطلاق د عدم جواز دی.

ولایصلي الطاهر : په دې ځای کې دوه خبرې په ذهن کې وساتئ (اوله) د مقتدي په مقابل کې د امام اعلی کیدل یا کم له کمه د مقتدي برابر کیدل، دا قانون له نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان (الامام ضامن) څخه مستنبط شوی دی یعنې د امام لمونځ د مقتدي لمانځه په صحت او فساد کې متضمن دی. (دویمه) شی له خان څخه کمتر یا خپل هم مثل ته متضمن شوی دی مګر د خپل مافوق ته ندی متضمن شوی. مسئله دا ده چې د معذور شاته د غیر معذور او صحتمند لمونځ سهي ندی، ځکه چې معذور د غیر معذور په مقابل کې ادنی دی، البته امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د اصح قول مطابق د معذور شاته صحتمند لمونځ کولی شي، په احنافو کې د امام زفر رَحِمَهُ اللّٰهُ هم د دې قائل دی.

ولا القاري خلف الامي الخ : د قاري لمونځ د امي شاته روا ندی، همدارنګه د ستر پټوونکی د لوڅ اقتداء نشي کولی، ځکه چې د امي او لوڅ په نسبت د قاري او د لباس اغوستونکي حالت قوي دی، او د قوي حالت والا امام جوړیدی شی د امي او لوڅ حالت ضعیف دی نو ځکه دوی دواړه امام نشي جوړیدی.

د ښځو وتل جوماتونو ته : د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د ښځو جوماتونو (مسجدونو) ته د لمانځه لپاره تلل روا دي.

او په اخترونو کې د سپین سرو ښځو تلل مستحب دي)
د امام احمد رحمه الله په نزد ښځو لره صرف په اخترونو کې تلل روا دي)
د امام مالک رحمه الله په نزد ځوانو ښځو ته پنځګانه لمنځونو او اخترونو ته تلل روا نه دي، لیکن سپین
سرو ښځو لپاره روا دي)
د صاحبینو په نزد د سپین سرو (بوډیو) لپاره په پنځګانه لمنځونو کې ګډون کول روا دي)

دلیل د حضرت عطیه د حدیث الفاظ دي: «ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یخرج الابکار والعواتق وذوات الخدور والحیض فی العیدین» نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اخترونو لپاره ځوانې، بوډۍ، پرده ناکې بلکې تر حیض لرونکو ښځو پورې د وتلو حکم کړی وو، له دغه حدیث څخه په اخترونو کې د ښځو د ګډون کولو جواز معلومیږي

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه حدیث دی: «اذا استأذنت امراة احدکم الی المسجد فلا یمنعنها» (که چیرته په تاسو کې کومه ښځه جمات ته د تلو اجازه وغواړي نو هغه هیڅکله مه منعه کوئ. له دغه حدیث څخه مسجد (جومات) ته د ښځو د تلو جواز معلومیږي.

ځواب له کومو احادیثو څخه چې جومات ته د ښځو د تلو جواز معلومیږي هغه له هغې زمانې سره متعلق دي کله چې ښځو ته د دې اجازه وه، وروسته د فتنو له ویرې هغوی منعه شوې دي، او په دې زمانه کې خو د فتنو ویره ډیره زیاته ده نو ځکه متاخرینو په عدم جواز باندې اجماع کړې ده)

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ځوانو ښځو ته د پنځګانه لمنځونو لپاره جومات ته او د اخترونو لپاره عیدګاه ته تلل روا نه دي، البته د زړو (سپین سرو) ښځو لپاره صرف په سهار، ماښام او ماسخوتن کې جومات ته د تلو اجازه ده، خو د دوی لپاره هم بهتره دا ده چې په کور کې لمونځ وکړي

دلیل: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه حدیث دی: «وبیوتهن خیرلهن» د دوی لپاره د دوی کورونه بهتر دي، حضرت عائشة رضی الله عنها د خپلې زمانې په باره کې فرمایلې چې که چیرته رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه شیان لیدلي وای کوم چې ښځو راویستلي دي نو هغوی به یې خامخا منع کړې وای، لکه څرنګه یې چې د بني اسرائیلو ښځې منع کړی شوې وې

معلومه شوه چې د ښځو لپاره جومات ته تلل د فتنې سبب جوړیدی شي نو ځکه ناروا دي

ويجوز ان يؤم المتيمم	المتوضئين	والماسح على الخفين	
او روا ده چې امامت وکړي تیمم کوونکی	د اودس کوونکو	او مسح کوونکی په موزو باندې	
الغاسلين	ويصلي القائم	خلف القاعد	ولا يصلي الذي
د پریمینځونکو	او لمونځ دې وکړي ولاړ	شاته د ناست	او لمونځ دې نکوي هغه

يَرْكَعُ	وَيَسْجُدُ	خَلْفَ الْمُوْمِيْ	وَلَايُصَلِّي الْمُفْتَرِضُ
چي رکوع کوي	او سجده کوي	شاته د اشاره کوونکي	او لمونځ دي نکوي فرض کوونکی
خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ	وَلَامَنْ يُصَلِّي فَرْضًا		خَلْفَ مَنْ يُصَلِّي
شاته د نفل کوونکي	او نه هغه څوک چي لمونځ کوي فرض		شاته د هغه کس چي لمونځ کوي
فَرْضًا آخَرَ	وَيُصَلِّي الْمُتَنَفِّلُ	خَلْفَ الْمُفْتَرِضِ	وَمَنِ اقْتَدٰى
بل فرض	او لمونځ دي کوي نفل کوونکی	شاته د فرضو کوونکي	او هغه چي اقتداء وکړي
بِإِمَامٍ	ثُمَّ عَلِمَ	أَنَّهُ عَلٰى غَيْرِطَهَارَةٍ	أَعَادَ الصَّلٰوةَ
په امام پسي	بيا معلومه شوه	چي هغه بې اودسه دی	نو را ودي ګرځوي لمونځ

دلغاتوحل : **يؤم** : (ن) اماما امامت کول، **القائم** : ولاړ کس، **خلف** : شاته، **الومي** : اشاره کوونکی، **مفترض** : د فرض لمانځه کوونکی، **متنفل** : د نفل کوونکی

خلاصه : د کتاب صاحب په دې مختصر عبارت کې اته مسئلې بیان کړې دي، ویلي دي (اول) د تیمم کوونکي لپاره اودس کوونکو ته امامت کول روا دي (دویم) په موزو باندي مسح کوونکی د پښو مينځونکو امامت کولی شي (دریم) ولاړ د ناست اقتداء کولی شي (څلورم) له رکوع او سجدې سره لمونځ کوونکی د اشاره کوونکي شاته لمونځ نشي کولی (پنځم) د مفترض لپاره د متنفل اقتداء روا ندي (شپږم) د یو فرض کوونکی د بل فرض کوونکي اقتداء نشي کولی (اوم) د نفل ادا کوونکی د فرض ادا کوونکي شاته لمونځ کولی شي (اتم) په کوم امام پسي له اقتداء کولو وروسته معلومه شوه چي امام بې اودسه دی نو مقتدي ته د لمانځه راګرځول ضروري دي.

تشریح : **ويجوزان يؤم المتيمم الخ** : په دغه مسئله کې د شیخینو او د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ اختلاف دی، د شیخینو په نزد متوضي د متیمم اقتداء کولی شي او د امام محمد په نزد نشي کولی.

ويصلي القائم خلف القاعد : د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد ولاړ د ناست اقتداء نشي کولی.

ولامن يصلي فرضا الخ : البته د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد اقتداء کول روا دي، همدارنګه په څلورمه او پنځمه مسئله کې هم د امام شافعي په نزد روا دي

ومن اقتدى بامام الخ : د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د لمانځه راګرځول واجب ندي

وَيُكْرَهُ	لِلْمُصَلِّي	اَنْ يَّعْبَثَ بِثَوْبِهٖ	اَوْبِجَسَدِهٖ وَلَايُقَلِّبُ الْحَصٰى
او مکروه ده	د لمانځه کوونکي لپاره	چي لوبي وکړي په جامو	یا په بدن او نه دي اړوي شګي

إِلَّا أَنْ لَّا يُمْكِنَهُ	السُّجُوْدُ عَلَيْهِ	فَيُسَوِّيَهِ	مَرَّةً وَّاحِدَةً
مګر دا که ممکنه نه وه	سجده کول په هغو باندې	نو برابرې دې کړې	يو ځل
وَلَا يُفَرْقِعُ أَصَابِعَهُ	وَلَا يُشَبِّكُ		
او نه دې په ګوتو کې تکونه وباسي	او نه دې په يوه او بله کې داخلوي		

د لمانځه د مکروهاتو بيان

دلغاتوحل :يعبث : باب (س) ځخه عبثا لوبې او مستي کول، **يقلب** : باب تفعيل ځخه اړول را اړول، مراد رغړول دي، **الحصى** : شګې جمع حصيات، **يفرقع** : فرقعة فرقاعاً تکونه وباسل، **يشبک** تشبيکاً، په يو بل کې داخول

خلاصه : د قدوري صاحب په دې عبارت کې د لمانځه مکروهات بيان کړي دي، وېلي دي چې : لمونځ کوونکي لپاره په خپلو جامو باندې لوبې کول مکروه دي، د لمانځه په حالت کې د شګو اړول هم مکروه دي، البته که د سجدې په ځګولو کې سختي وه نو يو ځل د سجدې ځاى برابرولى شي، په غير ظاهر الرواية کې د دوه ځلو اجازت دى، ليکن بهتره دا ده چې له يو ځل وروسته يې پرېږدي، همدا رنګه له ګوتو تکونه وباسل او د ځينو ګوتو په نورو کې داخلول هم مکروه دي.

وَلَا يَتَخَصَّرُ	وَلَا يَسْدُلُ ثَوْبَهُ	وَلَا يَكُفُّهُ	وَلَا يَعْقِصُ شَعْرَهُ
او نه دې په تشو باندې لاس ايږدي	او نه دې ځپلې جامې راځوړوي	او نه دې هغه رانغاړي	او نه دې ځپل ويښتان تاوه وي
وَلَا يَلْتَفِتُ يَمِيْنًا وَّشِمَالًا	وَلَا يُقْعِيْ كَإِقْعَاءِ الْكَلْبِ		
او نه دې ګوري ښى او چپ طرفته	او نه دې د سپي په شان کښيني		
وَلَا يَرُدُّ السَّلَامَ	بِلِسَانِهِ وَلَا بِيَدِهِ	وَلَا يَتَرَبَّعُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ	
او نه دې رد کوي سلام	په ژبه او نه په لاس سره	او په څلورو دې نه کښيني مګر د عذر له وجهې	
وَلَا يَأْكُلُ	وَلَا يَشْرَبُ		
نه دې خوراک کوي	او نه دې څښاک کوي		

دلغاتوحل: يتخصر په تشو باندې لاس ايښودل، **يسدل** (ض ن) سدلا ځوړندول، **يكفه** (ن) كفا وكفافاً الشئ جمع کول، راټولول، **يعقص** (ض) عقصا د ويښتانو غوټه کول، **يلتفت** التفاتا مخ ګرځول (کتل)، **يقعي** د سپي په شان کيناستل، **يتربع** په څلورو زنګنونو باندې کيناستل

خلاصه : د کتاب صاحب په دې عبارت کې لس مسائل بيان کړي دي په کومو کې چې د ځينو تعلق له مکروهاتو سره دى او د ځينو تعلق له مفسداتو سره دى، وېلي دي (اول) د لمانځه په حالت کې په تشو

باندې لاس اېښودل مکروه تحریمي دي، دا د امام ابو حنیفه رحمه الله امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد دي (دویم) د جامې ځوړندول مکروه تحریمي دي (دریم) د جامې له خاورو څخه د ساتلو په موخه راټولول مکروه دي (څلورم) د لمانځه په حالت کې د سر ویښتان سمول مکروه دي (پنځم) د لمانځه په حالت کې ښي او چپ طرفته کتل مکروه تحریمي دي (شپږم) په لمانځه کې د سپي په شان کیناستل مکروه تحریمي دي (اوم) د لمانځه په حالت کې په ژبه د سلام جواب ورکول لمونځ فاسدوي او په لاس سره جواب ورکول مکروه تنزیهي دي (اتم) د لمانځه په حالت کې له کوم عذر پرته په څلورو زنګنونو کیناستل مکروه دي (نهم) د لمانځه په حالت کې خوراک کول (لسم) د لمانځه په حالت کې څښاک کول دواړه د لمانځه فاسد کوونکي دي

تشریح : **سدل** : دوه تفسیرونه شوي دي (اول) په سر یا اوږو باندې جامه ځوړندول او څنډې یې ښکته طرفته پرېښودل دا د امام کرخي تفسیر دی (دویم) چې څادر یا چپنه په اوږه باندې واچول شي او لاسونه په ستوڼي کې دننه نکړي برابره ده که په قمیص دپاسه وي که د لاندې وي، دا تفسیر د صاحب کفایه دی

لایعقص : د دې درې صورتونه دي (اول) چې د سر له ویښتانو کوڅۍ جوړوي لکه ښځې یې چې جوړوي (دویم) چې په تندي باندې یې جمع کړي او بیا یې وتړي (دریم) چې په کوم لیس وغیره یې پټ کړي

ولایقعی : د اقعاء دوه تفسیرونه دي، یو د امام طحاوي په نزد دویم د امام کرخي په نزد، مګر د طحاوي تفسیر صحیح دی، د هدایه صاحب هغه غوره کړی دی، د امام طحاوي تفسیر دا ده چې په خپل کوناټي باندې کښیني خپل دواړه ورنونه ودروي خپلې دواړه څنګلې له سینې سره ولګوي او دواړه لاسونه په زمکه باندې کیږدي، د امام کرخي تفسیر دا ده چې خپل دواړه قدمونه ودروي په څنګلو باندې کښیني او دواړه لاسونه په زمکه باندې کیږدي

فَإِنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ	اِنْصَرَفَ	وَتَوَضَّأَ	وَبَنَى عَلَى صَلَوتِهِ
که پیښه شي بې اودسي	نو پس دې شي	اودس دې وکړي	او شروع دې وکړي په لمانځه
اِنْ لَمْ يَكُنْ اِمَامًا	فَاِنْ كَانَ اِمَامًا	اِسْتَخْلَفَ	وَتَوَضَّأَ
که چیرته امام نه وي	او که امام وي	نائب دې جوړ کړي	او اودس دې وکړي
وَبَنَى عَلَى صَلَوتِهِ	مَا لَمْ يَتَكَلَّمْ	وَالْاِسْتِينَافُ اَفْضَلُ	
او شروع دې وکړي په لمانځه	ترڅو چې خبرې نه وي کړې	او له نوي سره د لمانځه کول بهتر دي	

په لمانځه کې د اوس ماتیدو بیان

خلاصه : د مسئلې صورت دا ده چې که چیرته کوم کس د لمانځه په وخت کې بې اودسي پیدا شي کومه چې غیر اختیاري ده نو هغه دې سمدستي بلا تاخیر واپس شي اودس دې وکړي او خپل پاتې لمونځ دې ادا کړي، که چیرته امام دی نو د کوم مدرک جامه دې وښیسي محراب ته دې وړاندې کړي خپل نائب دې

جوړ کړي اودس دې وکړي او خپل پاتې لمونځ دې پوره کړي، او له نوي سره يې کول بهتر دي ترڅو چې د اختلاف له شبه څخه خان وساتل شي، د امام شافعي او امام مالک په نزد بناء روا ندي، نو ځکه استيناف کول پکار دي، د قدوري شرح د صحت بناء، دیارلس شرطونه وړاندې کړي دي

وَاِنْ نَامَ	فَاحْتَلَمَ	اَوْجُنَّ	اَوْاُغْمِيَ عَلَيْهِ	اَوْقَهْقَهَ	اِسْتَاْنَفَ
او که ويده شو	شيطان خطا کړ	يا ليونی شو	يا بې هوشي راغله په هغه	يا قهقهه وکړه	راودې ګرځوي
الْوُضُوْءَ	وَالصَّلٰوةَ	وَاِنْ تَكَلَّمَ	فِيْ صَلٰوتِهٖ	عَامِدًا	
اودس	او لمونځ	او که خبرې يې وکړې	په لمانځه خپل کې	قصداً	
اَوْسَاهِيًا	بَطَلَتْ صَلٰوتُهٗ	وَاِنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ	بَعْدَ مَاقَعَدَ		
يا سهواً	باطليږي لمونځ د هغه	او که وړيبنه شي بې اودسي	روسته له هغه چې کښيني		
قَدْرَ التَّشَهُّدِ	تَوَضَّاَ	وَسَلَّمَ	وَاِنْ تَعَمَّدَ الْحَدَثَ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ		
په اندازه د تشهد	اودس دې وکړي	سلام دې وګرځوي	او که بې اودسه شو په همدې حالت کې		
اَوْتَكَلَّمَ	اَوْعَمِلَ عَمَلًا	يُنَافِي الصَّلٰوةَ	تَمَّتْ صَلٰاتُهٗ		
يا يې خبرې وکړې	يا يې عمل وکړ داسې عمل	چې منافي وي د لمانځه سره	نو د هغه لمونځ پوره شو		
وَاِنْ رَاَى الْمُتَيَمِّمُ	الْمَاءَ	فِيْ صَلٰاتِهٖ	بَطَلَتْ صَلٰاتُهٗ		
او که وليدې تيمم کوونکي	اوبه	په لمانځه کې	نو د هغه لمونځ باطل شو		

د لمانځه د مفسداتو بيان

دلغاتوحل: **اغمي عليه**: بيهوشي پرې راغله، **استأنف**: له نوي سره يې کول، **ساهيا**: سهوه له قوت مدرکه څخه د صورت زائل کيدو نام دی

خلاصه: په دې موقع پنځه مسئلې بيان شوې دي (اوله) د لمانځه په دوران کې د ويده کيدو په حالت کې په شيطان خطا کولو سره يا په ليوني کيدو سره يا په بيهوشه کيدو سره يا په زوره خندلو سره لمونځ فاسديږي، د دې لپاره له نوي سره د اودس کولو او د لمانځه راګرځولو حکم دی (ځکه دا ټول نادر الوقوع عملونه دي او بناء په غير نادر الوقوع عمل کې وي) (دويمه) او که چيرته يو چا سهواً يا قصداً د لمانځه پر مهال خبرې وکړې نو د هغه لمونځ باطل شو (دريمه) که چيرته کوم لمونځ کوونکي ته د تشهد په اندازه له ناستې وروسته بې اودسي پيدا شوه نو حکم دا ده چې اودس وکړي بيا سلام وګرځوي ځکه چې د احنافو په نزد تسليم واجب دی نو ځکه اودس کول ضروري شول ترڅو چې د سلام وجوب ادا کړي (البته د شافعيانو په نزد لمونځ فاسد شو ځکه چې د دوي په نزد تسليم فرض دی) (څلورمه) که چيرته له تشهد وروسته لمونځ کوونکي قصدا ځان بې اودسه کړ يا يې قصدا خبرې

وکړي يا يې داسې عمل وکړ کوم چې له لمانځه سره منافي دی نو چونکه په قصدي عمل سره خروج بصنعه موجود دی نو ځکه د هغه لمونځ پوره شو (د امام شافعي په دې صورت کې هم اختلاف دی) ليکن چونکه تسليم واجب دی نو ځکه د ترک واجب له امله د لمانځه راګرځول دي (پنځمه) که چيرته تيمم کوونکي ته په لمانځه کې د اوبو په استعمال باندې قدرت پيدا شو نو د هغه لمونځ باطليږي، هغه ته پکار دي چې اودس وکړي او بيا لمونځ وکړي

تشريح : وان تكلم في صلوته الخ: د امام شافعي امام مالک او امام احمد اختلاف دی، د امام شافعي په نزد د خطا او نسيان په صورت کې کلام مفسد صلوة ندی په دې شرط چې کلام اوږد نوي، البته که يې خبرې قصدا وکړې يا د مصلحت په بناء يا د يو چا د جبر په بناء نو لمونځ فاسديږي، جمهورو فقهاؤ هم همداسې ويلي دي، د امام مالک په نزد مصلحتاً خبرې مفسدې ندي او هيره د جهل او قصد په درجه کې دی يعني مفسد دي، له امام احمد څخه دوه روايتونه دي، د يوه روايت مطابق مصلحتاً خبرې مفسدې ندي او د دويم روايت مطابق مفسدې دي.

په لمانځه کې د خبرو شرعي حيثيت : د امام شافعي رحمه الله په نزد که چيرته سهواً وي يا له حکم څخه د ناخبري په بناء وي نو لمونځ نه فاسديږي، په دې شرط چې خبره اوږده نه وي (

د امام مالک رحمه الله په نزد د لمانځه د اصلاح لپاره د امام له مقتدي سره او د مقتدي له امام سره د دوی په مينځ کې خبرې کول مفسد صلوة نه دي (

له امام محمد رحمه الله څخه څلور روايتونه منقول دي، دری روايتونه د ائمه ثلاثه ؤ د مذهب مطابق دي، او څلورم روايت دا ده چې که چيرته لمونځ کوونکی په دې پوه وو چې زما لمونځ تراوسه پوره شوی نه دی خبرې يې وکړې نو دا خبرې مفسد صلوة دي، او که چيرته په دې پوه وو چې زما لمونځ اوس پوره شوی دی او خبرې يې وکړې نو بيا د ده په خبرو سره لمونځ نه فاسديږي

دليل : د حضرت ذواليدين حديث ده په کوم کې چې په دې تصريح شوې چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم يو خل د ماسپښين په لمانځه سهواً په دوه رکعتونو باندې سلام وګرځاوه، يا دا چې حضرت ذواليدين رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه : يارسول الله صلى الله عليه وسلم ! آيا تاسو قصداً لمونځ لنډ (مختصر) کړ يا که له تاسو هير شو؟ بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه رکعتونه نور وکړل څلور رکعتونه يې پوره کړل په دغه واقعه کې د ذواليدين ور په ياد کول او د رسول الله صلى الله عليه وسلم لخوا د هغه تصديق کول دا ټول د لمانځه په مينځ کې وو ليکن لمونځ فاسد نشو، معلومه شوه چې په لمانځه کې د خبرو اترو ګنجايش شته

ځواب : د ذواليدين حديث منسوخ شوی دی، او د هغه لپاره ټول احاديث ناسخ دي په کومو کې چې په لمانځه کې له خبرو کولو منع شوې، نو ځکه دغه واقعه ستاسو مستدل نشي جوړيدلی (

د احنافو په نزد د لمانځه په مينځ کې خبرې کول نه دي روا، برابره ده که د اصلاح صلوة (د لمانځه د اصلاح) لپاره وي، که سهواً يا له بلې وجهې څخه وي، هر رنګه خبرې کول په هر حال کې ناروا او

دلیل د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه حدیث دی چې موږ به لمانځه کې خبرې کولې، یوه کس له خپل ملګري سره کوم چې په لمانځه کې له ده سره برابر وو خبرې به ورسره کولې، تر دې چې د ﴿وقوموا لله قانتین﴾ آیت کریمه نازل شو چنانچه موږ ته د چپ اوسیدو حکم وکړی شو او له خبرو کولو څخه منع کړی شولو، دغه حدیث صراحتا دلالت کوي چې کلام فی الصلوة به لمانځه کې خبرې کول منسوخ شوي دي.

وَاِنْ رَاٰهُ	بَعْدَ مَاقَعَدَ	قَدْرَ التَّشَهُّدِ	اَوْكَانَ
او که ولیدي تیمم کونکي اوبه	وروسته له هغه چې کښناست	په اندازه د تشهد	یا وه
مَاسِحًا	فَانْقَضَتْ مُدَّةُ مَسْحِهٖ	اَوْخَلَعَ خُفَّيْهِ	
مسح کوونکی	پس تیره شوه موده د مسح یې	یا یې وباسلې دواړه موزې	
بِعَمَلٍ قَلِيْلٍ	اَوْكَانَ اُمِّيًّا	فَتَعَلَّمَ سُوْرَةً	
په عمل کم سره	یا وه بې تعلیمه	پس زده یې کړه سورت	
اَوْعُرْيَانًا	فَوَجَدَ ثَوْبًا	اَوْمُوْمِيًا	فَقَدَرَ عَلَى الرُّكُوْعِ
یا لوڅ وو	پیدا یې کړه جامه	یا اشاره کوونکی وو	قادر شو په رکوع باندې
وَالسُّجُوْدِ	اَوْتَذَكَّرَ	اَنَّ عَلَيْهِ صَلٰوةً	قَبْلَ هٰذِهٖ
او سجده باندې	یا ور په یاد شول	چې د ده په ذمه لمونځ دی	مخکې له دې
اَوْاَحْدَثَ الْاِمَامُ الْقَارِئُ	فَاسْتَخْلَفَ اُمِّيًّا		
یا بې اودسه شو امام قاري	او خلیفه یې جوړ کړ نالوست		
اَوْطَلَعَتِ الشَّمْسُ	فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ	اَوْدَخَلَ وَقْتُ الْعَصْرِ	
یا راوخوت لمر	په لمانځه د سهار کې	یا داخل شو وخت د ماز دیگر	
فِي الْجُمُعَةِ	اَوْكَانَ مَاسِحًا عَلَى الْجَبِيْرَةِ	فَسَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ	
د جمعې په لمانځه کې	یا مسح کوونکی وه په جبیره باندې	پس ولویده له زخم څخه	
اَوْكَانَتْ مُسْتَحَاضَةً	فَبَرَاَتْ	بَطَلَتْ صَلٰوتُهُمْ	
یا وه مستحاضه	پس ښه شوله	نو باطل شول د دوي ټولو لمونځونه	
فِيْ قَوْلِ اَبِيْ حَنِيْفَةَ	وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ	تَمَّتْ صَلٰوتُهُمْ	فِيْ هٰذِهِ الْمَسَائِلِ
په قول د امام ابوحنیفة	ویلي دي امام ابویوسف او امام محمد	پوره د دوي ټولو لمونځ	په همدې ټولو مسائلو کې

مسائل اثنا عشریه او د هغو حکم

دلغاتوحل: **خلع**: وباسل، عریان، لوڅ، **مومی**: اشاره کوونکی کس، **الجبیرة**: په مات شوي هډوکي تړل شوې لرګی یا پټی، جمع جبائر، **برء**: مصدر باب (س) صحتمند کېدل

خلاصه: په دې متن کې د کتاب صاحب هغه دولس مسائل بیان کړي دي کوم چې د تشهد په انداز ه له کېناستو وروسته پېښې شي

له تشهد وروسته د ناستې په باره کې دوولس مسائل دي، د لمانځه په مکمل کېدو او باطل کېدو کې د فقهاؤ اختلاف

(۱) تیمم کوونکی لمونځ ګزار د تشهد په انداز ه له ناستې وروسته د ومره او به ولیدلې کومې چې د ودانسه لپاره کافي دي

(۲) په موزو باندې د مسح موده پوره شوه

(۳) په کم عمل سره یې موزې وباسلې، او کم عمل دا دی چې موزې یې دومره سستې کړې وي چې لاسونو ته ضرورت نه پیدا کېږي بوازې د پښو په اشاره سره کومه موزه وباسل کېږي

(۴) لمونځ کوونکي بې تعلیمه وو هغه کوم سورت زده کړ، یعنې قرآن یې هېر شوی وو. لیکن د تشهد په اندازې له ناستې وروسته ور په یاد شو

(۵) لوڅ (الغر) دومره جامه پیدا کړه په کومه چې ستر پټېدلی شو

(۶) په اشاره سره لمونځ کوونکی په رکوع او سجده باندې قادر شو

(۷) د ترتیب صاحب ته قضائي لمنځونه ور په یاد شول

(۸) امام قاري کوم امي خلیفه جوړ کړ

(۹) د سهار په لمانځه لمر راوخوت

(۱۰) د جمعې په لمانځه کې د ماز دیګر وخت داخل شو

(۱۱) د زخم پټه کېدو له وجهې پټی ولوېدله

(۱۲) مستحاضه یا یا د سلس البول مریض دی د دوی عذر ختم شو

په همدغو دوولسو مسئلو کې د امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ په نزد لمونځ باطل شو، او د صاحبینو په نزد لمونځ پوره شو.

د اختلاف بنیاد: امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ په نزد له لمانځه څخه وتل د لمونځ کوونکي په اختیاري فعل سره فرض دي نو څکه له اخیرنی ناستې وروسته د همدغو عوارضو پېښېدل داسې دي لکه چې د لمانځه په مېنځ کې چې پېښ شي، نو څکه لمونځ باطلېږي

د صاحبینو په نزد له اخیرنی ناستې وروسته د همدغو عوارضو پېښېدل داسې دي لکه د سلام له ګرځولو وروسته چې پېښ شوي وي، نو څکه لمونځ نه فاسدېږي

احتیاط د امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ په قول کې دی

بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ

د قضاء شویو لمنځونو د قضائي بیان

په تیر باب کې د لمانځه اداء کولو بیان دی، چونکه قضاء د اداء فرع او د هغه خلیفه دی نو ځکه له اداء وروسته بیان شوی دی. د قضاء الفوائت مطلب دا ده چې په غیر اختیاري ډول مثلا غفلت خوب او د هیرې له امله د لمانځه قضاء کیدل دي، ځکه چې د مؤمن له شان څخه ډیره بعیده ده چې هغه په دانسته ډول لمونځ ترک کړي، لهذا له همدې امله یې قضاء المتروک استعمال نکړ قضاء الفوائت یې استعمال کړی

اداء: عین واجب ته د هغه د مستحق حواله کول. قضاء: مثل واجب ته سپارل.
د مامور به درې قسمونه بیان کړی شوي دي (اول) اداء (دویم) اعاده (دریم) قضاء.

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلٰوةٌ	قَضَاهَا	اِذَا ذَكَرَهَا	وَقَدَّمَهَا
او له چا چې قضاء شوي دی لمونځ	نو اداء دې کړي	کله چې ور په یاد شي	او مقدم دې کړي
عَلٰى صَلٰوةِ الْوَقْتِ	اِلَّا اَنْ يَّخَافَ	فَوْتَ صَلٰوةِ الْوَقْتِ	
په لمانځه د وخت باندې	مګر که ویریده	د وقتي لمانځه په قضاء کیدو	
فَيُقَدِّمُ صَلٰوةَ الْوَقْتِ	عَلَى الْفَائِتِ	ثُمَّ يَقْضِيْهَا	
نو مقدم دې کړي وقتي لمونځ	په قضاء باندې	بیا دې قضاء شوی اداء کړي	
وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ	رَتَّبَهَا فِي الْقَضَاءِ	كَمَا وَجَبَتْ فِي الْاَصْلِ	
او له چا چې قضاء شي لمنځونه	نو په ترتیب دې اداء کړي په قضاء کې	څرنګه چې واجب شوي په اصل کې	
اِلَّا اَنْ تَزِيْدَ الْفَوَائِتُ	عَلٰى خَمْسِ صَلَوَاتٍ	فَيَسْقُطُ التَّرْتِيْبُ فِيْهَا	
مګر که زیات وه قضاء شوي	په پنځو لمنځونو باندې	نو ساقطیږي ترتیب په هغو کې	

خلاصه: که چیرته یو کس صاحب ترتیب وي او له هغه لمنځونه قضاء شوي دي نو د ور په یاد کیدو په وخت کې دې هغه سمدستي اداء کړي که چیرته په وخت کې ګنجایش شته دی نو هغه دې په وقتي لمانځه باندې مقدم کړي، ځکه چې د صاحب ترتیب لپاره د قضاء شویو او وقتي لمانځه په مینځ کې ترتیب واجب دی. او که وخت تنګ وي او د دې خبرې ویره وي که قضاء شوی وکړي نو وقت به تیر شي نو وقتي لمونځ دې اول وکړي وروسته دې قضائي لمونځ وکړي (ځکه درې شیان ترتیب ساقط کوي، (اول) د وخت تنګي (دویم) نسیان (دریم) د فائته ؤ کثرت. او له کوم کس چې څو لمنځونه قضاء شي نو د هغه قضاء دې له هغه له ترتیب سره وکړي له کوم ترتیب سره یې چې اداء واجب شوي ده. او که چیرته

د قضاء شويو لمنځونو شمير له پنځو څخه زيات وه نو ترتيب ساقطيږي، ځکه چې کثرت فوائت د ترتيب په ساقط کيدو کې مؤثر دي او د شپږو لمنځونو کيدل په کثرت باندې دليل دی لهذا ترتيب ضروري ندی

نوټ: د امام شافعي رحمه الله په نزد دلته ترتيب مستحب دی.

بَابُ الْاَوْقَاتِ الَّتِيْ تُكْرَهُ فِيْهَا الصَّلٰوةُ

د هغو وختونو بيان په کومو کې چې لمونځ کول مکروه دي

د قياس د غوښتنې مطابق د دې باب په باب المواقيت کې ذکر کول پکار وه ليکن د کراهيت عوارضو سره د تعلق له امله له فوائت سره يې مشابهت دی نو ځکه دا باب دلته ذکر شوی دی. او د باب ابتداء په عدم جواز سره شوی دی. ليکن د کراهيت د عدم جواز په معامله کې د اغلب او عام کيدو له امله باب ته د کراهيت عنوان ورکړی شوی دی.

لَاتَجُوْزُ الصَّلَاةُ	عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ	وَلَا عِنْدَ غُرُوْبِهَا
نه ده روا لمونځ	په وخت د ختلو د لمر کې	او نه د هغه د لويدو په وخت کې
اِلَّا عَصْرَ يَوْمِهٖ	وَلَا عِنْدَ قِيَامِهَا	فِي الظَّهِيْرَةِ
مګر د همدغې ورځې د مازديګر	او نه د هغه د دريدو په وخت کې	په غرمه کې
وَلَا يُصَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍ	وَلَا يَسْجُدُ لِلتِّلَاوَةِ	
او لمونځ دې کوي په جنازه باندې	او نه دې سجده کوي د تلاوت	

خلاصه: مسئله دا ده چې د لمر راختلو په وخت کې، د لمر لويدو په وخت کې همدارنګه د لمر دريدو يعنې د نصف النهار په وخت کې د فرائضو نوافلو، جنازې لمونځ او سجده تلاوت روا ندي په دې وختونو کې ممانعت د ډيرو صحابه کرامو په روايتونو سره ثابت دي، البته د همدې ورځې د مازديګر لمونځ د لمر لويدو په وخت کې روا دی.

وَيُكْرَهُ اَنْ يَّتَنَفَّلَ	بَعْدَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ	حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ
او مکروه دي نفل کول	وروسته له لمانځه د سهار	تردې چې راوخيږي لمر
وَبَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ	حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ	وَلَا بَأْسَ
اووروسته له لمانځه د مازديګر	تردې چې ولويږي لمر	او هيڅ خبره نشته
بِاَنْ يُّصَلِّيَ فِيْ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ	الْفَوَائِتَ	وَيُكْرَهُ
چې لمونځ وکړی شي په همدې وختونو کې	قضائي	او مکروه دي

اَنْ يَّتَنَفَّلَ	بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ	بِاَكْثَرَ مِنْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ
چې نفل وکړي شي	وروسته له ختلو د فجر	زيات له دوه رکعتونو د سهار
وَلَا يَتَنَفَّلُ	قَبْلَ الْمَغْرِبِ	
او نه دي نفل کوي	مخکې له ماښام څخه	

خلاصه : **مسئله** : د سهار له لمانځه وروسته نيولې د لمر تر راختلو پورې همدارنګه د ماذيګر له لمانځه وروسته نيولې د لمر تر لويدو پورې د نفلي لمنځونو کول مکروه دي (ځکه چې له نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دربار څخه د دې ممانعت منقول دی) هو که چيرته يو څوک په همدې وختونو کې قضائي لمونځ سجده تلاوت او د جنازې لمونځ وکړي نو بلا کراهيت روا دی، له طلوع صبح صادق وروسته او د سهار له لمانځه مخکې که چيرته کوم کس د سهار له دوه رکعته سنتو زيات کوم نفل کوي نو مکروه دي (دا کراهيت صرف د سهار سنتو له امله دی) په اخير کې يوه مسئله بيان شوې ده چې د لمر له لويدو وروسته د ماښام له لمانځه مخکې نفل لمونځ مکروه دی، ځکه په داسې صورت کې په ماښام کې تاخير راتلی شي کوم چې مکروه تنزيهي دی.

بَابُ النَّوَافِلِ

د نفلي لمنځونو بيان

په تيرو پاڼو کې د فرائضو او واجباتو بيان وه، په دې باب کې د سنتو او نفلونو بيان دی، نوافل يو داسې لفظ دی کوم چې سنتو او نفلونو دواړو لره شامل دی، نو ځکه په باب کې د نوافل عنوان ذکر کړی شو. د نوافلو مشروعيت په فرائضو کې د نقص ليرې کيدو لپاره دی ګوا که نوافل مکملات فرائض دي.

النوافل : د نافله جمع ده، زياتی، غنيمت کوم چې په اصل مال باندې زيات وي، په شريعت کې نفل هغه عبادت ته ويل شوي دي کوم چې په فرائضو او واجباتو باندې زيات وي، د هغو په کولو باندې ثواب دی او په نکولو يې کوم عذاب نشته دی.

اَلسُّنَّةُ فِي الصَّلٰوةِ	اَنْ يُّصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ	بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ		
سنت لمنځونه دا دي	چې لمونځ وکړی شي دوه رکعته	وروسته له راختلو د فجر		
وَاَرْبَعًا	قَبْلَ	الظُّهْرِ	وَرَكْعَتَيْنِ	بَعْدَهَا
او څلور رکعته له ماسپښين مخکې او دوه رکعته له هغه وروسته (۳-۲۹۰)				
وَاَرْبَعًا	قَبْلَ	الْعَصْرِ		
وَاِنْ	شَاءَ	رَكْعَتَيْنِ		
او څلور رکعته له ماذيګر مخکې				
او که وغواړي نو دوه رکعته دې وکړي (۴-۲۹۱)				
وَرَكْعَتَيْنِ	بَعْدَ الْمَغْرِبِ	وَاَرْبَعًا		
او دوه رکعته له ماښام وروسته (۵-۲۹۲) او څلور رکعته				

رَكْعَتَيْنِ	شَاءَ	وَاِنْ	بَعْدَهَا	وَاَرْبَعًا	الْعِشَاءِ	قَبْلَ

له ماسخوتن مخکې او څلور له هغه وروسته او که وغواړي دوه رکعته دې وکړي.

خلاصه لومړی دا بیان شوي چې سنت په دوه قسمه دي مؤکده او غیر مؤکده، مؤکده هغه سنت دي په کومو باندې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم همیشه والی کړی وي کله کله یې ترک کړي هم وي. غیر مؤکده هغه سنت دي په کومو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مواظبت نوي کړی، سنت مؤکده دولس رکعتونه دي، دوه له سهار مخکې، څلور له ماسپښین مخکې او دوه ترې وروسته، دوه له ماښام وروسته، دوه له ماسخوتن وروسته، له دې پرته چې څومره سنت دي هغه غیر مؤکده دي، د قدوري صاحب بلا تفریق دواړه یو ځای سره ذکر کړي دي چې د سهار له لمانځه مخکې دوه رکعته، له ماسپښین مخکې څلور رکعته او دوه رکعته ترې وروسته، له مازدیګر مخکې څلور رکعته که وغواړي نو دوه رکعته دې وکړي، له ماښام وروسته دوه رکعته، له ماسخوتن مخکې څلور رکعته او له ماسخوتن وروسته څلور رکعته او که وغواړي نو دوه رکعته دې وکړي.

تشریح **السنة فی الصلوة** : د سهار سنت په ټولو سنتو باندې د هغو د تاکید کیدو له امله مقدم شوي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د سهار له سنتو څخه زیات په نورو کومو سنتو باندې ډیر اهتمام نه دی کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سنت هیڅکله ندي پرېښي نه په سفر کې او نه په حضر کې، لهذا ځینو فقهاؤ ورته واجب ویلي دي او ځینو واجبو ته نږدې، د سهار سنت که چیرته تنها قضاء کړی شي نو د شیخینو په نزد د هغو قضاء نشته مګر د امام محمد په نزد قضاء یې شته.

اربعًا قبل الظهر : که چیرته د ماسپښین څلور رکعته سنت پاتې شي نو د شیخینو په نزد له فرضو وروسته دې دوه رکعته وکړی شي بیا دې لومړي څلور رکعته وکړي، د امام محمد رحمه الله په نزد لومړی دې څلور رکعته وکړي بیا دې دوه رکعته وکړي.

فائده له فرائضو مخکې د سنتو مشروعیت د شیطان د حرص ختمولو لپاره دي، چې کله انسان دغه سنت وکړي نو شیطان وایي چې کوم شی پرې فرض نه وه هغه یې پرېنښودل نو فرض به څنګه پرېږدي، او وروسته د سنتو مشروعیت په فرائضو کې د نسیان وغیره له امله د پیدا شده کمي لیرې کولو لپاره دي

بِتَسْلِيْمَةٍ وَّاحِدَةٍ	صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ	اِنْ شَاءَ	وَنَوَافِلُ النَّهَارِ
په یوه سلام سره	ودې کړي دوه رکعته	که یې خوښه شوه	او نفلونه د ورځې
فَاَمَّا نَوَافِلُ اللَّيْلِ	وَيَكْرَهُ الزِّيَادَةُ عَلٰى ذٰلِكَ		وَاِنْ شَاءَ اَرْبَعًا
هر چې نفلونه د شپې دي	او مکروه دی زیاتوالی په دې باندې		او که خوښه شوه څلور دې وکړي
بِتَسْلِيْمَةٍ وَّاحِدَةٍ	اِنْ صَلّٰى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ		فَقَالَ اَبُوْحَنِيْفَةَ
په یوه سلام سره	که یې وکړل اته رکعتونه		ویلي دي امام ابوحنیفة

جَازَ	وَيُكْرَهُ الزِّيَادَةُ عَلَى ذٰلِكَ	وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ
نو روا دي	او مکروه دي زياتوالي په دې باندې	او ويلي دي صاحبينو
لَا يَزِيْدُ بِاللَّيْلِ	عَلٰى رَكْعَتَيْنِ	بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ
نه دي زياتوي په شپه کې	په دوه رکعتونو باندې	په يوه سلام سره

خلاصه: له دې ځخه په پورته ذکر شوېو سطرونو کې د سنتو بيان وه اوس د نوافلو بيان دی، په شپه او ورځ کې د افضليت او اباحت په اعتبار سره د نفلونو د مقدار متعلق د علماؤ مختلفې رايې دي، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد په ورځ کې له يوه سلام سره دوه رکعته وکړی شي که ځلور دوا۶ه روا دي، البته له دې ځخه د زياتو په کولو کې کراهيت دی، او په شپه کې په يوه سلام سره د اتو رکعتونو کولو اجازت دی، البته له دې ځخه د زياتو کول مکروه دي، د صاحبينو په نزد د شپې په نفل لمنځونو کې بهتره دا ده چې په يوه سلام سره دوه رکعته وکړي (د کوم بنياد چې نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد صلوة الليل مثنى مثنى دی) او د ورځې په نفلونو کې په يوه سلام سره د ځلورو ځلورو رکعتونو کول بهتر دي.

د ائمه ؤ اختلاف: (۱) د ائمه ثلاثه ؤ په نزد په شپه او ورځ دوا۶و کې په يوه تحريمه سره له دوو ځخه د زياتو سنتو او نفلونو کول مشروع نه دي[۱].

(۲) زمونږ د ائمه ثلاثه ؤ په نزد د ورځې نفلونه او سنت په يوه تحريمه سره ځلور ځلور رکعته کول هم روا دي، بلکې ځلور ځلور رکعته کول ډېر بهتر دي[۲].

(۳) د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د شپې نفلونه په يوه تحريمه سره دوه دوه، ځلور ځلور، شپږ شپږ او اته اته رکعتونه کول مشروع دي، او له دې ځخه زيات مکروه دي[۳].

(۴) د صاحبينو په نزد د شپې نفلونه په يوه تحريمه سره له دوو رکعتونو ځخه زيات مشروع نه دي[۴].

دلوم۶ي (اول) مذهب دليل: د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان دی: ﴿صلوة الليل والنهار مثنى مثنى﴾ له دغه حديث ځخه معلومه شوه چې دوه دوه رکعته بهتر دي.

ځواب: د ذکر شوي حديث راوي حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دی او د ده عمل د روايت خلاف دی، ځکه چې ده په شپه کې دوه دوه رکعته او په ورځ کې ځلور ځلور رکعتونه کړي وو، او راوي چې کله د خپل روايت خلاف عمل وکړي نو روايت د اعتبار وړ نه پاتې کيږي.

د دويم مذهب دليل: د حضرت ابوايوب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه حديث دی د کوم چې الفاظ دي:

---

(۱) معارف السنن، ج: ۴، ص: ۱۱۷.

(۲) معارف السنن، ج: ۴، ص: ۱۱۷.

(۳) معارف السنن، ج: ۴، ص: ۱۱۷.

(۴) معارف السنن، ج: ۴، ص: ۱۱۷، عمدة القاري، ج: ۵، ص: ۲۶۳.

﴿اربع قبل الظهر ليس فيهن تسليم تفتح لهن ابواب السماء﴾ يعني له ماسپښين مخکې چې کوم څلور سنت دي د هغو په يوه سلام سره کول پکار دي، د همدغه لمانځه لپاره د آسمان دروازې خلاصيږي

د دريم مذهب دليل: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به شپه کې يوولس رکعته کړي وو، په هغو کې درې رکعته د وترو وو او پاتې نور اته رکعته نفل وو له دغه حديث څخه معلومه شوه چې له وترو پرته اته رکعته يې په يوه تحريمه سره کړي وو

ځواب: له حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه منقول دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په همدوی کې د هرو دوو رکعتونو په مينځ کې سلام ګرځولی وو، د صحابه کرامو او تابعينو په اقوالو او افعالو کې په يوه سره هم په يوه تحريمه سره له دوه رکعته څخه د زياتو کول ثابت نه دي، لهذا د شپې لمونځ له دوه رکعتونو څخه زيات مشروع نشو.

د دليل په اعتبار سره د صاحبينو مذهب راجح دی او د متاخرينو فتوی هم په همدې ده.

د څلورم مذهب دليل: د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان دی: ﴿صلوة الليل مثنى مثنى﴾، دا روايت صريح دی چې په شپه کې دوه دوه رکعته کول بهتر دي، او په کومو روايتونو کې چې لفظ نهار زيات دی هغه ضعيف دی

وَالْقِرَاءَةُ فِي الْفَرَائِضِ	وَاجِبَةٌ	فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ
او قرائت په فرائضو کې	واجب دی	په رکعتونو دوه اولنيو کې

وَهُوَ مُخَيَّرٌ	إِنْ شَاءَ	قَرَأَ الْفَاتِحَةَ	وَإِنْ شَاءَ	سَكَتَ
او دی اختيارمند دی	که يې خوښه شوه	ودې وايي سورت فاتحه	او که يې خوښه شوه	چُپ دې شي

وَإِنْ شَاءَ	سَبَّحَ	وَالْقِرَاءَةُ وَاجِبَةٌ	فِي جَمِيعِ رَكَعَاتِ النَّفْلِ
او که يې خوښه شوه	تسبيح دې ووايي	او قرائت واجب دی	په ټولو رکعتونو د نفلو کې

وَجَمِيعِ الْوِتْرِ
او په ټولو وترو کې

خلاصه: په دې عبارت کې د قدوري صاحب د قرائت مسئله ذکر کړې ده.

تشريح: د ائمه اربعه ؤ او جمهورو په نزد په لمانځه کې قرائت کول رکن او فرض دي، بيا وروسته د تفصيل دی، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په ټولو رکعتونو کې قرائت فرض دی، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دريو رکعتونو کې فرض دی، او د احنافو په نزد صرف د شروع په دوو رکعتونو کې فرض دی [1].

---

[1] التعليقات على تنظيم الاشتات، ج: ۱، ص: ۵۱۰، معارف السنن، ج: ۳، ص: ۱۴۷.

صاحب قدوري رحمه الله ویلي دي چې په اخیرنیو دوو رکعتونو کې لمونځ کوونکي لره اختیار دی، که سورت فاتحه قرائت کوي، یا د دریو تسبیحاتو په اندازه چوپ دریږي یا که دري تسبیح وایي، مګر په اخیرنیو کې د سورت فاتحه قرائت کول بهتر دي، لکه څرنګه چې د معارف السنن په ج ۳، ص ۱۴۷ کې لیکل شوي دي

د قدوري امام رحمه الله فرمایلي دي چې قرائت د نفلو او وترو په ټولو رکعتونو کې واجب دی، ځکه چې د نفلو هر دوه رکعتونه جلا لمونځ دی، او د وترو په ټولو رکعتونو کې قرائت له دې وجهې واجب دی چې په لمانځه کې قرائت اصلي رکن دی، او د وترو وجوب په حدیث سره ثابت شوی دی، چنانچه په وترو کې د نفل کیدو احتمال پیدا شو، نو له همدې وجهې احتیاطًا د وترو په ټولو رکعتونو کې قرائت واجب کړی شو

وَمَنْ دَخَلَ فِي صَلٰوةِ النَّفْلِ ،	ثُمَّ أَفْسَدَهَا	قَضَاهَا
چا چې شروع وکړه په نفل لمانځه	بیا یې فاسد کړ هغه	د هغه قضائي دې راوړي
فَإِنْ صَلّٰى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ	وَقَعَدَ فِي الْأُولَيَيْنِ	ثُمَّ أَفْسَدَ
که یې د څلور رکعتونو نیت کړی وو	او ناست وو په اولنیو دوو کې	بیا یې فاسد کړل

الْأُخْرَيَيْنِ	قَضٰى رَكْعَتَيْنِ	وَقَالَ أَبُويُوسُفَ	يَقْضِيْ
اخیرني دوه رکعته	قضائي دې راوړي د دوه	ویلي دي امام ابویوسف	قضائي دې راوړي
أَرْبَعًا	وَيُصَلِّي النَّافِلَةَ	قَاعِداً	مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ
د څلورو	او کولی شي نفل	په ناسته	سره له قدرته په ولاړه باندې

وَإِنِ افْتَتَحَهَا	قَائِمًا	ثُمَّ قَعَدَ	جَازَ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ
او که یې شروع وکړه په نفلو	په ولاړه	بیا کښیني	روا دي	د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد

وَقَالَا	لَا يَجُوزُ	إِلَّا مِنْ عُذْرٍ	وَمَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ	يَتَنَفَّلُ
او ویلي دي صاحبینو	روا نه ده	مګر د عذر له وجهې	او کوم کس چې له ښار څخه د باندې وي	نفل دې وکړي

عَلٰى دَابَّتِهِ	إِلٰى أَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَتْ	يُومِئُ إِيمَاءً
په سپرلۍ باندې	هر طرفته یې چې مخ شي	د اشارې په کولو سره

تشریح ومن دخل الخ دا مسئله مختلف فیه ده چې نفل لمونځ یا د روژې په شروع کولو سره لازمیږي او که نه؟ احنافو ویلي دي چې نفل لمونځ په شروع کولو سره لازمیږي، لهذا که کوم کس له شروع کولو وروسته فاسد کړل نو د هغو قضائي واجب ده. او د امام شافعي په نزد نفل په شروع کولو سره نه لازمیږي، لهذا که کوم کس نفل لمونځ شروع کړي او فاسد یې کړي نو د هغو قضائي واجب نده

فان صلی اربع رکعات : که چیرته هغه د څلورو رکعتونو نیت وتړلو دوه رکعته یې پوره کړل په اوله قعده کې کیناست بیا یې دوه وروستني رکعتونه فاسد کړل نو د طرفینو او د امام ابویوسف اختلاف دی، د طرفینو په نزد د نفل لمانځه هره شفعه جلا لمونځ دی او اوله شفعه د تشهد په اندازه په ناستې سره مکمل شوې ده نو ځکه صرف د دویمې شفعه قضائي واجب ده. د امام ابویوسف په نزد څلورو رکعتونو ته د یوه لمانځه درجه حاصله ده نو ځکه احتیاطا د څلورو رکعتونو قضائي واجب ده.

ویصلی النافلة قاعداً : که چیرته یو کس په ولاړه باندې د قدرت لرلو باوجود نفل سرنخ په ناسته کول غواړي نو داسې کول سهي دي، ځکه چې نبوي ﷺ ارشاد دی چې په ولاړه د لمانځه په کولو کې په نسبت سره په ناسته د لمانځه په کولو نیمایي ثواب دی. البته د ناستې د کیفیت په باره کې اختلاف دی، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد اختیار دی، په کوم کیفیت چې وغواړي کیناستی شي، د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد د احتباء کیفیت (دواړه ورنونه دې ولاړ وساتي او کوناټي دې په زمکه باندې ولګوي) داسې دې کښیني، د امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په نزد د تشهد په کیفیت باندې دې کښیني، همدا کیفیت مفتی به دی، ځکه چې په لمانځه کې همدا طریقه مشروع معلومه شوې ده.

وان افتتح قائما الخ : که چیرته کوم کس په ولاړه نفل شروع کړل او بلا عذر کیناست نو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد روا دي، لیکن د صاحبینو په نزد بلا عذر کیناستل سهي ندي.

ومن کان خارج المصر : یو مقیم کس له ښار څخه د باندې په داسې ځای کې دی چیرته چې مسافر قصر کولی شي نو په داسې ځای کې په سپرلۍ باندې نفل لمونځ کولی شي سپرلی که په هر طرف وي، د احنافو په نزد د لمانځه په وخت کې قبلې ته مخامخ کیدل شرط ندي، خو د امام شافعي په نزد قبلې ته مخامخ کیدل شرط دي

بَابُ سُجُوْدُ السَّهْوِ

د سجدې سهوې بیان

سجود السهو : دا د اضافت المسبب الی السبب له قبیلې څخه دی یعنې سهوه د وجوب سجده سبب ده، د کتاب صاحب له دې مخکې د فرائضو او نفلونو د اداء او قضاء بیان کړی وه او دلته د سجده سهوې بیان کوي، یعنې داسې سجده کومه چې په لمنځونو کې پیدا شوی کمی پوره کوي.

سُجُوْدُ السَّهْوِ وَاجِبٌ	فِي الزِّيَادَةِ	وَالنُّقْصَانِ	بَعْدَ السَّلَامِ
سجده سهوه واجب ده	په زیاتي	او نقصان کې	وروسته له سلام څخه
يَسْجُدُ سُجْدَتَيْنِ		ثُمَّ يَتَشَهَّدُ	وَيُسَلِّمُ
سجدې دې وکړي دوه سجدې		بیا دې تشهد ووایي	او سلام دې وګرځوي

خلاصه مسئله: که چیرته په لمانځه کې دننه د کوم فعل زیاتی وکړی شي یا کمی وکړی شي نو په دې سره دوه سجدې سهوې واجبیږي، اول دې سلام وګرځوي بیا دې سجده سهوه وکړي له دې وروسته دې تشهد ووایي بیا دې سلام وګرځوي.

د ائمه ؤ اختلاف: (۱) سجده سهوه واجب ده که سنت؟ (۲) سجده سهوه له سلام مخکې ده او که له سلام وروسته؟ (۳) د سجده سهوې کولو طریقه.

(۱) سجده سهوه د احنافو په نزد واجب ده، او د امام شافعي رحمه الله په نزد سنت ده (.

(۲) د شافعیانو په نزد سجده سهوه له سلام مخکې بهتره ده، برابره ده که په لمانځه کې کمی شوی وي که نقصان، د احنافو په نزد سجده سهوه له سلام وروسته بهتره ده مطلقًا.

د امام مالک رحمه الله په نزد سجده سهوه که چیرته د کوم نقصان له وجهې واجب شوې وه نو له سلام مخکې سجده بهتره ده، او که چیرته د کوم زیاتي له وجهې واجب شوې وه نو له سلام وروسته بهتره ده، د دوی د مذهب یادولو طریقه دا ده چې دغه عبارت په ذهن کې کښېنول شي: ﴿القاف بالقاف والدال بالدال﴾ یعنې د نقصان سجده له سلام مخکې او د زیاتي سجده له سلام وروسته.

د امام احمد رحمه الله په نزد په کومه سهوه کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له سلام مخکې سجده کړې ده، مونږ خلک هم باید په هماغسې سهوه کې له سلام مخکې سجده وکړو، او په کومه سهوه کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له سلام وروسته سجده کړې ده، مونږ خلک هم باید په هماغسې سهوه کې له سلام وروسته سجده وکړو، او په کومو صورتونو کې چې له هغه صلی الله علیه وسلم څخه څه منقول نه دي په هغو کې دې له سلام مخکې شي).

د ائمه ثلاثه ؤ دلیل: د حضرت عبدالله بن بحینه حدیث دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل د ماسپښین په لمانځه کې (په دویم رکعت کې) ودرید سره له دې چې ده ته کیناستل وو، چنانچه کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ پوره کړ نو سجده سهوه یې وکړه، په هره سجده کې یې تکبیر هم ووایه بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم کیناست له سلام ګرځولو مخکې له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې سجده سهوه له سلام مخکې ده.

ځواب: ذکر شوی حدیث په جواز باندې محمول دی، یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیان جواز لپاره له سلام مخکې سجده کړې وه.

د احنافو دلیل: د حضرت ثوبان رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ﴿لکل سهو سجدتان بعد ما یسلم﴾، د هرې سهوې لپاره دوه سجدې دي له سلام ګرځولو وروسته، په دغه حدیث کې مطلق ارشاد فرمایل شوی چې د هرې سهوې لپاره دوه سجدې دي له سلام ګرځولو وروسته، اوس برابره ده که هغه د نقصان یا د زیاتي یا له کومې بلې وجهې واجب شوې وي د ټولو حکم یو دی

مسئله (٣) د سجدې سهوې کولو طريقه دا ده چې په اخيرني رکعت کې صرف التحيات ولولي يوه طرفته سلام وګرځوي دوه سجدې وکړي، بيا کښيني التحيات، درود شريف او دعا ولولي دواړو طرفونو ته سلام وګرځوي او لمونځ ختم کړي

وَيَلْزَمُ سُجُوْدُ السَّهْوِ	إِذَا زَادَ فِي صَلَاتِهِ	فِعْلًا مِنْ جِنْسِهَا	
او لازميږي سجده سهوه	کله چې زيات کړي شي په لمانځه کې	داسې عمل چې د هغه له جنس څخه وي	
لَيْسَ مِنْهَا	أَوْ تَرَكَ فِعْلًا مَسْنُوْنًا	أَوْ تَرَكَ قِرَاءَةَ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ	
د لمانځه جزء نه وي	يا پريږدي کوم مسنون فعل	يا پريښودل شي سورت فاتحه	
أَوِ الْقُنُوْتَ أَوِ التَّشَهُّدَ	أَوْ تَكْبِيْرَاتِ الْعِيْدَيْنِ	أَوْ جَهَرَ الْإِمَامُ	
يا قنوت يا تشهد	يا تکبيرات د اخترونو	يا په زوره سره قرائت وکړي امام	
فِيْمَا يُخَافِتُ فِيْهِ	أَوْ خَافَتَ فِيْمَا يُجْهَرُ	وَسَهْوُ الْإِمَامِ يُوْجِبُ	
په هغو کې چې په کرار کيږي په هغو کې	يا يې کرار وکړي په هغو چې په زوره پکې ويل کيږي	او سهوه د امام واجبوي	
عَلَى الْمُؤْتَمِّ السُّجُوْدَ	فَإِنْ لَمْ يَسْجُدِ الْإِمَامُ	لَمْ يَسْجُدِ الْمُؤْتَمُّ	
په مقتدي باندې سجده	که سجده ونکړه امام	نو سجده دې نکوي مقتدي	
فَإِنْ سَهَى الْمُؤْتَمُّ	لَمْ يَلْزَمِ الْإِمَامَ	وَلَا الْمُؤْتَمَّ السُّجُوْدُ	
که سهوه شي مقتدي	نه ده لازم په امام باندې	او نه په مقتدي باندې سجده	
وَمَنْ سَهَى عَنِ الْقَعْدَةِ الْأُوْلَى	ثُمَّ ذَكَرَ	وَهُوَ إِلَى حَالِ الْقُعُوْدِ أَقْرَبُ	
او څوک چې اوله ناسته هيره شي	بيا ور په ياد شي	په داسې حال کې چې ناستې ته نږدې وو	
عَادَ	فَقَعَدَ	وَتَشَهَّدَ	وَإِنْ كَانَ إِلَى حَالِ الْقِيَامِ أَقْرَبُ
نو ودې ګرځي	قعده دې وکړي	تشهد دې ووايي	او که ولاړې ته ډېر نږدې وو
لَمْ يَعُدْ	وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ		
نه دې ګرځي	او سجده دې وکړي د سهوې		

خلاصه: په تیر بحث کې دا ښودل شوي وه چې د زیاتي او نقصان له امله سجده سهوه واجبیږي، دلته هغه نقصان او زیاتی بیان شوی دی کوم چې د سجدې سهوې موجب دي، لهذا د کتاب صاحب ویلي دي چې سجده سهوه د هغه فعل په زیاتولو سره لازمیږي کوم فعل چې د لمانځه له جنس څخه وي مګر د لمانځه جزء نه وي، مثلاً چې په یوه رکعت کې دننه دوه رکوع وکړي یا درې سجدې وکړي، نو د رکوع او سجدې زیاتی کوم چې له جنس د لمانځه څخه خو دي مګر د لمانځه جزء ندي، لهذا دغه زیاتی موجب سهوه دي، یا کوم مسنون یعنې واجب عمل ترک کړي د مثال په ډول د سورت فاتحه تلاوت پریږدي یا دعاء قنوت پریږدي، یا تکبیر قنوت پریږدي یا تشهد پریږدي یا د اخترونو تکبیرات پریږدي ‹چونکه رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې مواظبت کړی دی کله یې هم ترک ندي او دا د وجوب علامه ده لهذا› سجدې سهوه واجب شوه، همدارنګه که امام په سري لمانځه کې جهر وکړ یا یې په جهري لمانځه کې اخفاء وکړه نو د حنفیانو په نزد سجده سهوه واجبیږي، همدارنګه که له امام څخه کومه سهوه اوشوه نو له امام سره سره په مقتدي باندې هم سجده سهوه لازم شوه ‹ځکه چې په مقتدي باندې په صحت فساد او اقامت کې د امام متابعت لازمي دی› لهذا که امام سجده سهوه ونکړه نو مقتدي دې هم سجده سهوه نکوي ‹که نه نو د مخالفت له امله به متابعت ختم کړی شي› او که چیرته مقتدي سهوه شي نو له همدې امله نه په امام باندې سجده سهوه واجب شوه او نه په مقتدي باندې، مثلاً مقتدي په اوله قعده کې تشهد ونه ویله نو په هیڅ باندې سجده سهوه نه واجبیږي، همدارنګه که د کوم کس په درې رکعتیز یا څلور رکعتیز لمانځه کې اوله قعده هیره شوه بیا هغه ته ور په یاد شوه نو اوس د دې دوه صورتونه دي یا به ناستې ته ډیر نږدې وي یا به قیام ته ډیر نږدې وي، که چیرته اول صورت وي نو ودې ګرځي قعده دې وکړي او تشهد دې وکړي ‹ځکه چې د هر شي حکم د هغه د نږدې په شان دی نو دلته دربدل د ناستې له امله دی› او په دې صورت کې د صحیح قول مطابق سجده سهوه نه واجبیږي، او که دویم صورت دی نو نه دې ګرځي بلکې د دریم رکعت لپاره دې ودریږي ‹ځکه چې دا د دریدو په حکم کې دي› په دې صورت کې بالاتفاق سجده سهوه لازمیږي.

تشریح: ولوجهر الامام الخ: د امام مالک او امام احمد په نزد په سرّي او جهري دواړو صورتونو کې سجده سهوه واجب ده، بس فرق دا ده چې که یې په سري لمانځه کې جهر وکړ نو له سلام وروسته او د دې برعکس کې له سلام مخکې، د امام شافعي په نزد بالکل سجده سهوه نه واجبیږي.

فان لم یسجد الامام الخ: امام شافعي رحمه الله امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله ویلي دي اګر که امام سجده ونکړه خو په مقتدي باندې سجده کول واجب دي.

وَإِنْ سَهَى عَنِ الْقَعْدَةِ الْأَخِيرَةِ	فَقَامَ	إِلَى الْخَامِسَةِ
او که یې هیره شي اخیره ناسته	او ودریږي	پنځم رکعت لپاره
رَجَعَ إِلَى الْقَعْدَةِ	مَا لَمْ يَسْجُدْ	وَأَلْغَى الْخَامِسَةَ
را ودې ګرځي قعدې ته	ترڅو یې چې سجده نه وي کړې	او پنځم رکعت دې پریږدي

وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ	وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ	بِسَجْدَةٍ بَطَلَ فَرْضُهُ
او سجده دې وکړي لپاره د سهوې	او که يې مقيد کړ پنځم رکعت	په سجدې سره نو باطل شول فرض د هغه
وَتَحَوَّلَتْ صَلَاتُهُ نَفْلًا	وَكَانَ عَلَيْهِ	أَنْ يَضُمَّ إِلَيْهَا
او وګرځيده لمونځ د هغه نفل	او شته په هغه باندې	چې يو ځای کړي له هغو سره
رَكْعَةً سَادِسَةً	وَإِنْ قَعَدَ فِي الرَّابِعَةِ	ثُمَّ قَامَ
رکعت شپږم	او که کيناست په څلورم کې	بيا ودريده
وَلَمْ يُسَلِّمْ	يَظُنُّهَا الْقَعْدَةَ الْأُولَى	عَادَ إِلَى الْقُعُودِ
او سلام يې نه وو ګرځولی	په ګمان د لومړی قعدې	را دې ګرځي د ناستې طرفته
مَا لَمْ يَسْجُدْ لِلْخَامِسَةِ	سَلَّمَ	وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ
ترڅو يې چې سجده نه وي کړې د پنځم رکعت	سلام دې وګرځوي	او سجده دې وکړي د سهوې
وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ بِسَجْدَةٍ	ضَمَّ إِلَيْهَا	رَكْعَةً أُخْرَى
او که يې مقيد کړ پنځم په سجدې سره	نو يو ځای دې کړي له هغه سره	بل رکعت
وَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهُ	وَالرَّكْعَتَانِ نَافِلَةٌ	
او پوره شو لمونځ د هغه	او دوه رکعته نفل شول	

خلاصه: که چيرته کوم کس په څلور رکعتيز لمانځه کې اخيره قعده هيره کړي او د پنځم لپاره ودريده نو د دې دوه صورتونه دي، يا به يې په سجده مقيد کړی نوي يا به يې مقيد کړی وي، که اول صورت دی نو د ناستې طرفته دې را وګرځي او سجده سهوه دې وکړي په دې صورت کې پنځم رکعت لغوه کيږي (د سجدې سهوې حکم له دې امله دی چې اخيره قعده کومه چې فرض ده په هغې کې تاخير وکړی شو) او که دويم صورت دی نو د احنافو په نزد فرض لمونځ باطليږي او ټول لمونځ په نفلو بدليږي، لهذا هغه ته پکار دي چې له همدې زيات رکعت سره يو بل رکعت يو ځای کړي ترڅو چې نفل جفت راشي او په نه يو ځای کيدو کې کومه خبره نشته او سجده سهوه نه واجبيږي، همدارنګه که لمونځ کونکی په اخيره قعده کې د تشهد په اندازه کيناست بيا يې اوله قعده وګڼله ودريده نو دلته هم دوه صورتونه دي يا به يې همدا رکعت په سجدې سره مقيد کړی نه وي يا به يې مقيد کړی وي، که اول صورت دی نو د قعده طرفته دې را وګرځي سلام دې وګرځوي او سجده سهوه دې وکړي، او که دويم شکل دی نو له هغو سره دې يو رکعت بل ملګری کړي برابره ده که سهار مازديګر يا ماښام دی لهذا د هغه به فرض هم پوره شي، ځکه صرف د واجب سلام کوم رکن باقي ندی د کوم تکميل چې په سجده سهوې سره اوشي، او دوه رکعته به نفل شي ځکه چې د يوه رکعت ممانعت دی.

تشریح : وان قید الخامسة بسجدة بطل فرضه : په دې صورت کې د امام شافعي په احنافو سره اختلاف دی، دې حضراتو ویلي دي چونکه سهوه هم داسې شوې ده نو ځکه فرض نه باطلیږي، بلکې پنځم رکعت دې پریږدي د قعدې طرفته دې راشي سلام دې وګرځوي او سجده سهوه دې وکړي، لیکن که قصدا د پنځم رکعت لپاره دریدلی وي نو د هغه لمونځ فاسدیږي، خو د احنافو په نزد باندې د قصداً په صورت کې که زیاتی له یوه رکعت څخه کم وي نو لمونځ نه فاسدیږي

او په احنافو کې د امام محمد له شیخینو سره اختلاف دی، د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد اصل لمونځ باطلیږي ځکه چې دا لمونځ د اخیرنی قعدې له کولو پرته شوی دی، لهذا نه فرض لمونځ اوشو او نه نفل د پنځم رکعت د سجدې په کولو سره لمونځ فاسد شوی دی، لیکن اوس دیته کتل کیږي چې د سجدې وقوع په زمکه باندې د تندي په کیښودلو سره ثابت شوې او که د تندي په پورته کولو سره، په دې کې د امام ابویوسف او امام محمد اختلاف دی، امام ابویوسف د اول قائل دی او امام محمد د دویم قائل دی (تفصیل یې په هدایه کې وګورئ)

وان قید الخامسة بسجدة ضم الیها : د امام شافعي په نزد د شپږم رکعت په یو ځای کولو سره لمونځ فاسدیږي، ځکه چې سلام فرض دی او د فرضو په ترک سره لمونځ فاسدیږي، د یوه رکعت لمانځه کول روا دي نو ځکه د شپږم رکعت یو ځای کولو ته ضرورت نشته.

وَمَنْ شَكَّ فِي صَلَاتِهِ	فَلَمْ يَدْرِ أَثَلَاثًا صَلَّى أَمْ أَرْبَعًا	وَذَٰلِكَ
او چاته ته چې شک پیدا شي په لمانځه کې	ورته معلومه نه وي چې درې رکعته یې کړي که څلور	او دا شک
أَوَّلُ مَا عَرَضَ لَهُ	اِسْتَأْنَفَ الصَّلَاةَ	فَإِنْ كَانَ
اولنی شک وي چې ده ته پیښ شوی	له نوي سره دې لمونځ وکړي	او که چیرته وو دغه کس
يَعْرِضُ لَهُ كَثِيرًا	بَنَى عَلَى غَالِبِ ظَنِّهِ	إِنْ كَانَ لَهُ ظَنٌّ
هیریدل یې زیات وه	نو په خپل غالب ګمان دې بناء وکړي	که چیرته ده لره غالب ګمان وو
وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ ظَنٌّ	بَنَى عَلَى الْيَقِينِ	
او که ده لره غالب ګمان نه وه	نو بناء دې وکړي په یقین باندې	

نوټ : له ترجمه څخه د مسئلې نوعیت بالکل واضح دی، نو ځکه د زیاتې تشریح ضرورت نشته.

بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيضِ

د ناروغ د لمانځه بيان

د كتاب صاحب له دې مخكې د صحت متعلق احكام بيان كړي دي او اوس له ناروغي سره متعلق احكام ذكر كوي، ناروغي او سهوه دواړه آسماني عوارض دي خو سهوه يې مخكې بيان كړه، په صلوة المريض كې د صلوة اضافت د مريض طرفته اضافت الفعل الى الفاعل له قبيلې څخه دى، يا اضافت د فعل الى المحل له قبيلې څخه دى.

إِذَا تَعَذَّرَ عَلَى الْمَرِيضِ الْقِيَامُ صَلَّى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ

كله چې مشكل شي په ناروغ باندې دريدل لمونځ دې وكړي په ناسته ركوع دې وكړي او سجده دې وكړي

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ أَوْمَأَ إِيمَاءً

كه يې طاقت د ركوع او سجدې نه درلود نو اشاره دې وكړي

وَجَعَلَ السُّجُودَ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوعِ وَلَا يَرْفَعُ إِلَى وَجْهِهِ شَيْئًا

د سجدې اشاره دې د ركوع په نسبت زياته ښكته وكړي او نه دې پورته كوي د خپل مخ طرفته داسې شى

يَسْجُدُ عَلَيْهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُودَ اسْتَلْقَى عَلَى قَفَاهُ

چې سجده وكړي په هغه باندې او كه يې طاقت نه وه د ناستې نو په خپله شا باندې دې څملي

وَجَعَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْقِبْلَةِ وَأَوْمَى بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

او ودې كړخوي پښې خپلې د قبلې طرفته اشاره دې وكړي په ركوع او سجدې سره

وَإِنِ اضْطَجَعَ عَلَى جَنْبِهِ وَوَجْهُهُ إِلَى الْقِبْلَةِ وَأَوْمَى جَازَ

كه په اړخ څملي او مخ يې د قبلې طرفته وي او اشاره وكړي نو روا دى

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْإِيمَاءَ بِرَأْسِهِ أَخَّرَ الصَّلَاةَ وَلَا يُومِئُ بِعَيْنَيْهِ

او كه طاقت نلري د اشاره په سر سره وروسته دې كړي لمونځ او اشاره دې نكوي په سترګو سره

وَلَا بِحَاجِبَيْهِ وَلَا بِقَلْبِهِ

نه په وريځو سره او نه په زړه سره

دلغاتوحل: **مریض**: د فعیل په وزن او د فاعل په معنی کې دی (سمع) **تعذر**: سخت کیدل، اومې اشاره کول، **اخفض**: اسم تفضیل خفض (ض) خفضا ښکته کیدل، **استلقی**: استلقاء ستوني ستاغ کیدل، په شا باندې څملاستل، قفا: شا، اضطجع: اضطجاعا په اړخ څملاستل، **حاجبیه**: وریځې، د تثنیه نون د اضافت له امله لویدلی دی

تشریح: عبارت ډیر اسانه دی او مسئله بیخي واضحه ده، نو ځکه یې د خلاصه ضرورت نشته ویرفع الی وجهه: د سجدې کولو لپاره د تندي طرفته دې کوم لوړ شی نه پورته کوي، په حدیث کې دې ممانعت منقول دی، له همدې امله فقهاؤ مکروه تحریمي لیکلي دي، البته له حضرت ام سلمه ځخه د مرض له امله په تکیه باندې سجده کول او د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نه منعه کول دا ښودلې دي چې که چیرته تکیه وغیره کوم شی په زمکه باندې ایښی وي نو په هغه باندې په سجده کولو کې هیڅ کراهیت نشته

اخر الصلوة الخ: اصح دا ده چې که چیرته په سرباندې د اشارې کولو قدرت نه وه نو لمونځ دې وروسته کړي، په سترګو یا وریځو یا زړه سره دې اشاره نکوي، د امام مالک او امام شافعي په نزد په همدې دریوارو سره اشاره روا ده، امام زفر هم د دې قائل دی خو دا یې هم ویلي دي چې که په سر باندې په اشاره کولو سره قادر شو نو راګرځول یې ضروري دي

فَإِنْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ	وَلَمْ يَقْدِرْ	عَلَى الرُّكُوعِ	وَالسُّجُودِ
او که قادر وو په ولاړه	او قادر نه وو	په رکوع	او سجده باندې
لَمْ يَلْزَمْهُ الْقِيَامُ		وَجَازَ أَنْ يُصَلِّيَ قَاعِدًا	يُومِئُ إِيمَاءً
نو لازم ندي په هغه باندې دریدل		او روا دي چې لمونځ وکړي په ناسته	په اشارې سره
فَإِذَا صَلَّى الصَّحِيحُ		بَعْضَ صَلَاتِهِ قَائِمًا	ثُمَّ حَدَثَ بِهِ مَرَضٌ
که لمونځ وکړ تندرست		یو څه لمونځ په ولاړه	بیا پیښنه شوه هغه ته ناروغي
أَتَمَّهَا قَاعِدًا	يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ	أَوْيُومِئُ إِيمَاءً	إِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الرُّكُوعَ
پوره دې کړي لمونځ په ناسته	رکوع او سجده دې وکړي	یا دې اشاره وکړي	که یې طاقت نه وو د رکوع
وَالسُّجُودَ	أَوْمُسْتَلْقِيًا	إِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُودَ	وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا
او د سجدې	یا دې ستوني ستاغ شي	که یې طاقت نه وو د ناستې	او چا چې لمونځ وکړ په ناسته
يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ لِمَرَضٍ		ثُمَّ صَحَّ	بَنَى عَلَى صَلَاتِهِ قَائِمًا
رکوع او سجده یې وکړل د ناروغي له وجهې		بیا جوړ شو	شروع دې وکړي په لمانځه په ولاړه

فَإِنْ صَلَّى بَعْضَ صَلَاتِهِ بِإِيمَاءٍ		ثُمَّ قَدَرَ عَلَى الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ
او كه يې لمونځ وكړې يو څه په اشارې سره		بيا قادر شو په ركوع او سجده باندې
اِسْتَأْنَفَ الصَّلَاةَ	وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ	خَمْسَ صَلَوَاتٍ
له سره دې وكړي لمونځ	او په چا چې بيهوشي راشي	د پنځو لمنځو

فَمَا دُونَهَا	قَضَاهَا	إِذَا صَحَّ	وَإِنْ فَاتَتْهُ بِالْإِغْمَاءِ
يا له دې كمه	قضائي دې راوړي	كله چې جوړ شي	او كه قضاء شي د بيهوشي له وجهې
أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ		لَمْ يَقْضِ	
زيات له دې څخه		نو قضائي دې نه راوړي	

تشريح فان قدر على القيام: په دې صورت كې ناروغ ته د قيام په حالت يا د ناستې په حالت كې په اشارې سره د كولو اختيار وركړى شوى دى مګر د ناستې حالت بهتر ګڼل شوى دى، ځكه چې د ناستې په حالت كې د سجدې اشاره له حقيقي سجدې سره زياته مشابه ده، ځكه چې سر له ځمكې سره زيات نږدې كيږي په نسبت سره په ولاړه اشارې كولو ته، خو امام زفر او امام شافعي په نزد په قيام باندې د قدرت له امله قيام ساقط كيدى نشي.

فاذاصلى الصحيح : په دغه مسئله كې صرف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد له نوي سره دې لمونځ وكړي، طرفين ناروغ ته د لمانځه پر مهال د ناروغي پيدا كيدو له امله اختيار وركړى دى چې په ناسته په اشارې سره يا په شا باندې په څملاستلو سره لمونځ پوره كړي، يعنې څرنګه يې چې قدرت وي، ځكه چې باقي لمونځ ادنى دى نو د ادنى بناء په اعلى باندې روا شوې

ومن صلى..... بنى على صلوته : په دغه صورت كې چونكه ناروغ د لمانځه پر مهال په ولاړه باندې قادر شوى دى نو د شيخينو په نزد پاتې لمونځ دې په ولاړه پوره كړي، د امام محمد په نزد له نوي سره دې وكړي، د دې بنيادي وجه دا ده چې د شيخينو په نزد قائم د قائد اقتداء كولى شي، خو د امام محمد په نزد يې نشي كولى.

فان صلى بعض صلوته .... استانف الصلوة : د احنافو په نزد دلته اصول دې چې ركوع كوونكي ته د اشاره كوونكي اقتداء روا نده، د همدې اصولو ماتحت په زير بحث مسئله كې ائمه ثلاثه (ابوحنيفه او صاحبينو) په نزد ناروغ دې لمونځ له نوي سره وكړي، د امام زفر رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد بناء كول روا دي لكه چې په مخكنى مسئله كې روا وه.

ومن اغمى عليه.... لم يقض: په دغه مسئله كې د حنفيانو له امام مالک شافعي او امام احمد سره اختلاف دى، د امام مالک او شافعي په نزد دلته د بيهوشي له امله د قضاء شويو لمنځونو قضاء نشته، قلت او

کثرت لره هیڅ اعتبار نشته دی، د امام احمد رحمه الله په نزد دلته مطلقا د لمانځه قضاء واجب ده که لمنځونه هر څومره زیات هم وي، د احنافو په نزد دلته تفصیل دا ده چې که چیرته لمنځونه کم وه یعني بیهوشي تر پنځو لمنځونو یا له دې کمه وه نو قضاء واجب ده، او که له دې زیاته وه نو قضاء واجب نده، دا حکم په استحسان باندې مبنی ده، که نه نو قیاس غوښتنه دا ده چې که چیرته بیهوشي یو لمونځ ګیر کړ نو په هغه باندې قضاء نه واجبیږي لکه چې د امام مالک او شافعي په نزد دي.

بَابُ سُجُودِ التِّلَاوَةِ

د سجدې تلاوت د احکامو بیان

په سجده سهوه او سجده تلاوت دواړو کې چونکه د سجدې وجود دی نو ښکه مناسبه وه چې له سجدې سهوې وروسته سجده تلاوت ذکر کړي، دا چې ناروغي او سهوه دواړه اسماني عوارض دي د کوم له امله چې له سجده سهوې وروسته د ناروغ لمانځه بیان شوی دی، له همدې امله په لازمي ډول د دې باب وروسته کول وه

په سجده تلاوت کې د حکم اضافت د سبب طرفته دی، ښکه بالاتفاق د تلاوت سجدې سبب تلاوت دی، څرنګه چې تلاوت د سجدې سبب دی همدارنګه سماع هم، لهذا له همدې امله سجدة التلاوة وویل شول او سجدة التلاوة والسماع ونه ویل شول، ګوا که د تلاوت ذکر من وجه د سماع ذکر لره شامل دی، یوه خبره دا هم معلومه شوې چې د آیت سجدې په کتابت سره سجده نه واجبیږي.

فِي الْقُرْآنِ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَجْدَةً	فِي آخِرِ الْأَعْرَافِ	وَفِي الرَّعْدِ
په قرآن کې څوارلس سجدې دي	په اخیر د سورت اعراف کې	او په سورت رعد کې
وَفِي النَّحْلِ	وَفِي بَنِي إِسْرَائِيلَ	وَمَرْيَمَ	وَالْأُولَى فِي الْحَجِّ
په سورت نحل کې	په سورت بني اسرائیل کې	په سورت مریم کې	او اوله په سورت حج کې
وَالْفُرْقَانِ	وَالنَّمْلِ	وَالَمْ تَنْزِيلُ	وَص	وَحم السَّجْدَةِ
په سورت فرقان کې	په سورت نمل کې	په سورت الم تنزیل کې	په سورت ص کې	په سورت حم السجدة کې
وَالنَّجْمِ	وَالْانْشِقَاقِ	وَالْعَلَقِ	وَالسُّجُودُ وَاجِبٌ
په سورت نجم کې	په سورت انشقاق کې	په سورت علق کې	او سجده کول واجب دي
فِي هَذِهِ الْمَوَاضِعِ	عَلَى التَّالِي	وَالسَّامِعِ	سَوَاءٌ
په همدې ځایونو کې	په تلاوت کوونکي	او په آوریدونکي	برابره ده

قَصَدَ سَمَاعَ الْقُرْآنِ	أَوْلَمْ يَقْصِدْ
که یې اراده د آوریدلو کړې وي د قرآن	او که یې نوي کړي

تشریح - هغه څوارلس سورتونه په کومو کې چې د سجدې آیتونه دي په لاندې ډول دي

(۱) سورت اعراف (۲) سورت رعد (۳) سورت نحل (۴) سورت بني اسرائیل (۵) سورت مریم (۶) سورت حج (۷) سورت فرقان (۸) سورت نمل (۹) الم تنزیل (۱۰) ص (۱۱) سورت حم سجده (۱۲) سورت نجم (۱۳) سورت انشقاق (۱۴) سورت اقرأ، په همدغو هر سورت کې د سجدې په ځای کې د سجدې نښه (نښان) موجود دی، لیکن په سورت حج کې صرف په اول ځای (مقام) کې سجده لازمه ده، په دویم ځای (مقام) کې د حضرت امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ په نزد سجده لازمه نه ده.

او په سورت (ص) کې په ﴿رَاكِعًا وَأَنَابَ﴾ باندې د سجدې نښان موجود دی، لیکن دا صحي نه ده، بلکې صحي دا ده چې په ﴿وَحُسْنَ مَآبٍ﴾ باندې سجده وکړې شي، او په سورت حم سجده کې په ﴿لَا يَسْأَمُونَ﴾ باندې سجده کول پکار دي.

(۲) په ټول قرآنکریم کې په څوارلسو ځایونو کې د سجدې آیتونه دي، د همدغو آیتونو په لوستونکي باندې او په آوریدونکي باندې سجده کول واجب دي، که د قرآنکریم آوریدلو په اراده ناست وي یا د کوم بل کار لپاره راغلی وي او له ارادې پرته یې د سجدې آیت آوریدلی وي، که په همدغو ځایونو کې سجده ونکړي نو ګنهګار به شي.

د سجدې تلاوت په شمیر کې د ائمه ؤ اختلاف - په ټول قرآنکریم کې څو سجدې دي، په دغه سلسله کې درې مذهبونه بیانولی شي:

(۱) د حنابله ؤ په نزد په ټول قرآنکریم کې په پنځلسو ځایونو کې د سجدې آیتونه دي، له همدې وجهې د سجدې آیتونه پنځلس شول، په سورت حج کې دوه او پاتې تفصیل د احنافو په شان دی.

(۲) د مالکیانو په نزد په ټول قرآنکریم کې ټول په یوولسو ځایونو کې د سجدې آیتونه دي، په سورت نجم، سورت انشقاق او سورت اقرأ، کې سجدې نشته دي.

(۳) د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد ټول په څوارلسو ځایونو کې سجدې دي، توپیر (فرق) دومره ده چې د امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ په نزد په سورت حج کې یوه سجده ده او په سورت (ص) کې هم یوه سجده ده، او د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد په سورت حج کې دوه سجدې دي او په سورت (ص) کې هیڅ سجده نشته.

د سورت حج د دویمې سجدې په باره کې د شافعیانو او حنابله ؤ استدلال د حضرت عقبه بن عامر په روایت سره دی چې ما وویل یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! سورت حج ته فضیلت ورکړې شوی دی، ځکه چې په هغه کې دوه سجدې دي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هو! چا چې همدغه دواړه ونکړې ګوا که چې هغه یې ونه لوستې)

دى﴾.

خواب: د همدغه روايت دار مدار په ابن لهيعه باندې دی د کوم صعف چې مشهور دی،

شافعيان په سورت ﴿ص﴾ کې د سجدې په نه موجوديت باندې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روايت

سره استدلال کوي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې هغه صلى الله عليه وسلم په سورت ﴿ص﴾ کې سجده

کړې ده ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې دا له عزائم سجود څخه نه ده

خواب: دا ابن عباس رضي الله عنه خپله رأيه ده او د نبي كريم صلى الله عليه وسلم عمل د اتباع زيات لايق دی

د امام مالک رحمه الله **استدلال**: د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه په روايت سره دی چې ما د رسول الله

صلى الله عليه وسلم پر وړاندې سورت نجم ولووست رسول الله صلى الله عليه وسلم سجده ونکړه

خواب: په داسې وخت کې يې تلاوت کړی وو په کوم وخت کې چې سجده تلاوت مشروع نه وه، يعنې

د طلوع الشمس، نصف النهار، غروب الشمس وخت وو

مسئله ﴿۲۹﴾: سجده تلاوت واجب ده که سنت؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

﴿۱﴾ د ائمه ثلاثه و په نزد سجده تلاوت واجب نه ده، بلکې سنت ده﴾.

دليل: حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر وړاندې سورت نجم تلاوت کړ ليکن

هيڅ سجده ونکړه ﴿له دغه حديث څخه معلومه شوه چې سجده تلاوت واجب نه ده بلکې سنت ده.

خواب: دا د سجود على الفور نفي ده او في الفور سجده زموږ په نزد هم واجب نه ده، په دغه حديث

کې د وجوب نفي نه ده

د احنافو په نزد سجده تلاوت واجب ده.

دليل: د احنافو استدلال د سجدې په هغو ټولو آيتونو سره دی په کومو کې چې د امر صيغه راغلې ده،

شيخ ابن الهمام ويلي دي چې د سجدې آيتونه په درې ډوله ﴿قسمه﴾ دي ﴿۱﴾ په هغو کې د سجدې حکم

دی ﴿۲﴾ د کفارو له سجدې څخه د انکار ذکر دی ﴿۳﴾ د انبياؤ سجدې نقل شوې دي او د امر تعميل هم

واجب دی د کفارو مخالفت هم او د انبياؤ عليهم السلام اتباع هم.

وَإِذَا تَلَا الْإِمَامُ آيَةَ السَّجْدَةِ	سَجَدَهَا	وَسَجَدَ الْمَأْمُومُ مَعَهُ
کله چې تلاوت کړي امام آيت د سجدې	سجده دې وکړي	او سجده دې وکړي مقتدي له هغه سره
فَإِنْ تَلَا الْمَأْمُومُ	لَمْ يَلْزَمِ الْإِمَامَ وَلَا الْمَأْمُومَ	السُّجُودُ
او که تلاوت کړ مقتدي	لازمه نه ده په امام او نه په مقتدي	سجده
وَإِنْ سَمِعُوا · وَهُمْ فِي الصَّلَاةِ	آيَةَ سَجْدَةٍ مِنْ رَجُلٍ	لَيْسَ
او که واوريدله دوي · او دوي د لمانځه په حالت کې وو	آيت د سجدې له داسې انسان	چې نه وه
مَعَهُمْ · فِي الصَّلَاةِ	لَمْ يَسْجُدُوهَا فِي الصَّلَاةِ	وَسَجَدُوهَا
له دوي سره · په لمانځه کې	سجده دې نکوي په لمانځه کې	او سجده دې وکړي

بَعْدَ الصَّلَاةِ   فَإِنْ سَجَدُوهَا فِي الصَّلَاةِ   لَمْ تُجْزِهِمْ
وروسته له لمانځه   او که یې سجده وکړه په لمانځه کې   نه کافي کېږي له دوي څخه

وَلَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُمْ   وَمَنْ تَلَا آيَةَ سَجْدَةٍ   خَارِجَ الصَّلٰوةِ
او نه فاسدېږي لمونځ د دوي   او کوم کس چې تلاوت کړ آیت د سجدې   له لمانځه څخه د باندې

وَلَمْ يَسْجُدْهَا   حَتّٰى دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ   فَتَلَاهَا   وَسَجَدَ
او سجده یې ونکړه   تردې چې داخل شو په لمانځه کې   بیا یې تلاوت کړ هغه   او سجده یې وکړه

أَجْزَأَتْهُ السَّجْدَةُ   عَنِ التِّلَاوَتَيْنِ   وَإِنْ تَلَاهَا
کافي کېږي سجده   له دواړو تلاوتونو څخه   که یې تلاوت کړ هغه

فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ   فَسَجَدَ   ثُمَّ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ   فَتَلَاهَا
پرته له لمانځه څخه   او سجده یې وکړه   بیا داخل شو په لمانځه کې   بیا یې تلاوت کړ

سَجَدَ لَهَا ثَانِيًا   وَلَمْ تُجْزِئْهُ السَّجْدَةُ الْأُولٰى   وَمَنْ كَرَّرَ
نو سجده دې وکړي د هغې لپاره دویمه   او نه کافي کېږي اوله سجده   او چا چې مکرر کړ

تِلَاوَةَ سَجْدَةٍ وَاحِدَةٍ   فِي مَجْلِسٍ وَاحِدٍ   أَجْزَأَتْهُ سَجْدَةٌ وَاحِدَةٌ
تلاوت د یوې سجدې   په یوه مجلس کې   نو کافي ده هغه ته یوه سجده

وَمَنْ أَرَادَ السُّجُودَ   كَبَّرَ   وَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ   وَسَجَدَ   ثُمَّ كَبَّرَ
او چا چې اراده وکړه د سجدې   تکبیر دې ووایي   او نه دې پورته کوي لاسونه   سجده دې وکړي   بیا دې تکبیر ووایي

وَرَفَعَ رَأْسَهُ   وَلَا تَشَهُّدَ عَلَيْهِ   وَلَا سَلَامَ
او پورته دې کړي سر خپل   نه تشهد شته په هغه باندې   او نه سلام

تشریح: فان تلا المامور: په دغه صورت کې د امام محمد په نزد له لمانځه څخه له فارغ کېدو وروسته سجده کول ضروري دي.

وان سمعوا........ لم تفسد صلاتهم: په دې صورت کې د امام محمد په نزد لمونځ فاسدېږي، شیخینو ویلي دي چې په لمانځه کې د سجدې کولو باوجود د سجدې راګرځول ضروري دي

ومن تلا آیة السجدة.... عن التلاوتین: په دغه صورت کې اوله سجده هم اداء شوه سره له دې چې د هغې نیت یې نه دی کړی، ځکه چې د لمانځه والا سجده د افضلیت له امله له لومړی سجدې څخه قوي ده، په نوادر کې دي چې دویمه سجده دې له لمانځه وروسته اداء کړي (دلائل دې په هدایه کې وکتل شي)

بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

د مسافر د لمانځه بيان

دلته د صلوة اضافت مسافر ته اضافت الشئ الى شرط يا د اضافت الفعل الى الفاعل له قبيلې څخه دی، د دې باب له تير شوي باب سره مناسبت دا دی چې د دواړو بابونو تعلق له هغو عوارضو سره دی د کوم چې انسان کسب کړی دی، يعني تلاوت د سجدې سبب دی او سفر د لمانځه د قصر سبب دی، د باب سجود التلاوة په دې باب باندې د مقدم کولو لامل دا دی چې په سجده کې اصل عبادت دی او په سفر کې اصل اباحت دی، او د عبادت په مباح امر باندې مقدم کول بالکل واضح دي.

السَّفَرُ الَّذِي	تَتَغَيَّرُ بِهِ الْأَحْكَامُ	هُوَ	أَنْ يَقْصِدَ الْإِنْسَانُ	مَوْضِعًا
هغه سفر	چې بدليدی شي په هغه سره احکام	دا ده	چې اراده وکړي انسان	داسې ځای ته

بَيْنَهُ	وَبَيْنَ الْمَقْصِدِ	مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ	بِسَيْرِ الْإِبِلِ	وَمَشْيِ الْأَقْدَامِ
چې په مينځ د ده	او په مينځ د هغه ځای کې	مسافه د دريو ورځو وي	په تګ اوښ	يا د پياده مزل په تګ

وَلَا مُعْتَبَرَ فِي ذَلِكَ	بِالسَّيْرِ فِي الْمَاءِ
او اعتبار ندی په دې کې	تګ لره په اوبو کې

د لغاتو حل: **مسيرة**: مسافه، **بسيرالابل**: د اوښ تګ (رفتار)، **مشى الاقدام**: پياده مزل، **السيرفى الماء**: په اوبو کې مزل.

خلاصه: د قدوري صاحب د شرعي سفر په تعريف کولو کې ويلي دي چې سفر په کوم سره چې احکام متغير کيدی شي دا ده چې انسان د دريو شپو او دريو ورځو مسافه د تګ اراده وکړي، او په وچه کې درميانه رفتار د اوښ يا پياده مزل معتبر دی، د اوبو رفتار معتبر ندی.

د سفر په مسافه کې تحقيقي بحث: د سفر د مسافې په باره کې په شامي او د فقهې په نورو معتبرو کتابونو کې څلور قولونه نقل شوي دي: (١) ٦٤ ميله (٢) ٥٤ ميله (٣) ٤٨ ميله (٤) ٤٥ ميله ليکن د اکابرو فقهاؤ فتوی ٤٨ ميله ته ترجيح ورکړې ده او ٤٨ شرعي ميله په موجوده زمانه کې ٨٧ کلوميتره ٧٨٢ ميتره ٤٠ سانتي ميتره کيږي، که چيرته د ٤٥ شرعي ميله اعتبار وکړی شي نو ٨٢ کلوميتره ٢٩٦ ميتره مسافه جوړيږي، معلومه شوه چې د شرعي ميل په لحاظ سره چې له ٨٢ کلوميتره ٢٩٦ ميتره څخه په کمه مسافه کې قصر روا نه دی.

وَفَرْضُ الْمُسَافِرِ	عِنْدَنَا	فِي كُلِّ صَلَاةٍ رُبَاعِيَّةٍ	رَكْعَتَانِ
او فرض د مسافر	زمونږ په نزد	په هر لمانځه څلور رکعتيز کې	دوه رکعته دي

وَلَا تَجُوزُ لَهُ	الزِّيَادَةُ عَلَيْهِمَا	فَإِنْ صَلَّى أَرْبَعًا	وَقَدْ قَعَدَ
او روا ندي د هغه لپاره	زيادت په دې باندې	كه يې لمونځ وكړ څلور ركعته	او ناست وه
فِي الثَّانِيَةِ	مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ	أَجْزَأَتْهُ	رَكْعَتَانِ عَنْ فَرْضِهِ
په دويم ركعت كې	په اندازه د تشهد	كافي شول	دوه ركعته د فرضو له طرفه
وَكَانَتِ الْأُخْرَيَانِ لَهُ	نَافِلَةٌ	وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ فِي الثَّانِيَةِ	
او شول اخيرني له ده څخه	نفل	او كه نه وي ناست په دويم ركعت باندې	
مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ	فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ	بَطَلَتْ صَلَاتُهُ	
په اندازه د تشهد	په ركعتونو دوه اولنيو كې	نو باطل شو لمونځ د هغه	

د ائمه ؤ اختلاف (۱) : د ائمه ثلاثه ؤ په نزد د مسافر لپاره د قصر حكم د عزيمت او فرض په درجه كې نه دى، بلكې د رخصت او سنت په درجه كې دى.

(۲) د احنافو په نزد د مسافر لپاره د قصر حكم د رخصت او سنت په درجه كې نه دى، بلكې د فرض په درجه كې دى.

د ائمه ثلاثه ؤ دليل : د حضرت عائشة رضي الله عنها روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم په سفر كې قصر هم كړى وو، اتمام هم افطار يې هم كړى وو، او روژه يې هم ساتلې وه له دغه حديث څخه معلومه شوه چې قصر فرض يا عزيمت بيخي نه دى، بلكې رخصت دى.

خواب : د همدې حديث څواب علامه ابن تيميه رحمه الله دا وركړى چې (دا حضرت عائشة رضي الله عنها ته منسوب شوى) په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دروغ تړل شوي دي پرته (علاوه) له دې له همدې حديث څخه دا مطلب هم كيدلى شي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په كم سفر كې كوم چې له درى منزل څخه كم وو اتمام كړى او په اوږده سفر كې يې قصر كړى وو.

د احنافو دليل : د حضرت عباس رضي الله عنه حديث دى چې الله تبارك وتعالى ستاسو د نبي په ژبه لمونځ فرض كړى دى، په حضر كې څلور ركعته او د سفر په حالت كې دوه ركعته

وَمَنْ خَرَجَ مُسَافِرًا	صَلَّى رَكْعَتَيْنِ	إِذَا فَارَقَ بُيُوتَ الْمِصْرِ	
او څوك چې ووځي په سفر	لمونځ دې كوي دوه ركعته	كله چې جدا شي له آبادي د ښار	
وَلَا يَزَالُ عَلَى حُكْمِ الْمُسَافِرِ	حَتَّى يَنْوِيَ الْإِقَامَةَ	فِي بَلَدٍ	
او برابر د مسافر په حكم كې دى	تردې چې نيت وكړي د اقامت	په كوم ښار كې	
خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا	فَصَاعِدًا	فَيَلْزَمُهُ الْإِتْمَامُ	وَإِنْ نَوَى الْإِقَامَةَ
د پنځلسو ورځو	يا د زياتو	پس لازم شو پوره كول د لمانځه	او كه يې نيت وكړ د اقامت

أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ	لَمْ يُتِمَّ	وَمَنْ دَخَلَ بَلَدًا	وَلَمْ يَنْوِ أَنْ يُقِيمَ فِيهِ
كم له دې څخه	ندي پوره كوي	او څوك چې داخل شي ښار ته	او نيت يې نوي چې مقيم شي پکې
خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا	وَإِنَّمَا يَقُولُ غَدًا أَخْرُجُ	أَوْ بَعْدَ غَدٍ أَخْرُجُ	
پنځلس ورځې	بلكې وايي چې سبا وځم	يا بل سبا وځم	
حَتّٰى بَقِيَ عَلٰى ذٰلِكَ سِنِينَ	صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ	وَإِذَا دَخَلَ الْعَسْكَرُ	
تردې چې پاتې شي په همدې كلونه	نو لمونځ دې كوي دوه ركعته	او چې داخل شي عسكر	
فِي أَرْضِ الْحَرْبِ	فَنَوَوا الْإِقَامَةَ	خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا	لَمْ يُتِمُّوا الصَّلٰوةَ
زمكې د دارالحرب ته	او نيت وكړي د اقامت	پنځلس ورځې	نو پوره دې نكوي لمونځ

دلغاتوحل: **فارق مفارقة**: جدا كيدل، يوزې تنها كيدل، دلته د وتلو په معنى كې ده، **ببيوت المصر**: د ښار ابادى، **بلدة اوبلد**: آباد يا غير آباد ځاى، ښار، **فصاعداً يوما فصاعداً**: له يوې ورځې زيات، **بعد غد**: سبا ورځ، **سنين**: جمع سنة كال، **عسكر**: لښكر.

تشريح: مسافر دې هغه وخت د قصر لمونځ شروع كړي كله چې له آبادى څخه ووځي او د سفر حكم تر هغه وخته پورې جاري وي ترڅو پورې چې په ښار يا كلي كې د پنځلسو ورځو يا له دې څخه د زياتو د اقامت نيت ونكړي، او له پنځلسو ورځو د كمو نيت په صورت كې د سفر حكم باقي پاتې كيږي او مسافر به قصر كوي. د امام مالك او امام شافعي په نزد د څلورو ورځو په نيت كولو سره مسافر مقيم كيږي. د امام شافعي يو قول دا ده چې كله يې له څلورو ورځو زيات قيام وكړ نو مقيم كيږي نيت ييخي شرط ندى

ومن دخل الخ: له دې عبارت څخه تر اخيره پورې چې كومې مسئلې بيان شوې دي بالكل له ترجمې څخه معلومې شوې دي، زيات وضاحت يې د تكرار باعث كيږي.

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسَافِرُ	فِي صَلَاةِ الْمُقِيمِ	مَعَ بَقَاءِ الْوَقْتِ	أَتَمَّ الصَّلَاةَ
او كله چې داخل شي مسافر	په لمانځه د مقيم كې	سره له بقاء د وخت	پوره دې وكړي لمونځ
وَإِنْ دَخَلَ مَعَهُ	فِي فَائِتَةٍ	لَمْ تَجُزْ صَلَاتُهُ خَلْفَهُ	وَإِذَا صَلَّى الْمُسَافِرُ
او كه داخل شو له هغه سره	په قضائي كې	نه روا كيږي لمونځ يې په هغه پسې	او چې لمونځ وركوي مسافر
بِالْمُقِيمِينَ	صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ	وَسَلَّمَ	ثُمَّ أَتَمَّ الْمُقِيمُونَ صَلَاتَهُمْ
مقيمو ته	نو لمونځ دې وكړي دوه ركعته	سلام دې وګرځوي	بيا دې پوره كړي مقيمان لمنځونه

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ إِذَا سَلَّمَ أَنْ يَقُولَ لَهُمْ أَتِمُّوا صَلَاتَكُمْ فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ

او مستحب ده د امام لپاره چې سلام وګرځوي چې ووايي دوی ته پوره کړئ لمنځونه مونږ مسافر یو.

دلغاتوحل: مع بقاء الوقت : په وخت کې دننه، **خلف** : شاته، **صلی به** : لمونځ کول، **قوم سفر** : مسافرین، سفر د مسافر جمع ده لکه چې د صاحب جمع صحب ده.

خلاصه : د کتاب صاحب په دې عبارت کې دوه حکمونه بیان کړي دي (اول) مسافر دې د مقیم اقتداء په وخت کې دننه دننه وکړي او په وخت کې دننه د اقتداء له امله د قصر په ځای دې مکمل څلور رکعته وکړي، لیکن د وخت له تیریدلو وروسته د مسافر لپاره د مقیم اقتداء روا نده (دویم) د مقیم لپاره د مسافر اقتداء کول په وخت کې دننه او له وخت د باندې په دواړو صورتونو کې روا ده، لهذا کله چې مسافر مقیم ته لمونځ ورکوي نو له دوه رکعتونو وروسته له سلام ګرځولو وروسته دې مقتدیانو ته ووايي چې زه مسافر یم نو ځکه تاسو خپل خپل لمنځونه پوره کړئ.

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسَافِرُ مِصْرَهُ أَتَمَّ الصَّلَاةَ وَإِنْ لَمْ يَنْوِ الْمُقَامَ

او کله چې داخل شي مسافر ښار خپل ته پوره دې کړي لمونځ اګر که یې د پاتې کیدو نیت نه وي کړی

فِيهِ وَمَنْ كَانَ لَهُ وَطَنٌ فَانْتَقَلَ عَنْهُ وَاسْتَوْطَنَ غَيْرَهُ ثُمَّ سَافَرَ

په هغه کې او چا لره چې وطن وو بیا ترې ولاړ او وطن یې جوړ کړ بل بیا یې سفر وکړ

فَدَخَلَ وَطَنَهُ الْأَوَّلَ لَمْ يُتِمَّ الصَّلَاةَ وَإِذَا نَوَى الْمُسَافِرُ أَنْ يُقِيمَ

او داخل شو اول وطن ته نه دې پوره کوي لمونځ او کله چې نیت وکړي مسافر چې مقیم شي

بِمَكَّةَ وَمِنًى خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا لَمْ يُتِمَّ الصَّلَاةَ وَالْجَمْعُ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ

په مکه او منی کې د پنځلسو ورځو نه دې پوره کوي لمونځ او یو ځای کول د دوو لمنځونو

لِلْمُسَافِرِ يَجُوزُ فِعْلًا وَلَا يَجُوزُ وَقْتًا وَتَجُوزُ الصَّلوٰةُ فِي سَفِينَةٍ

د مسافر لپاره روا دي فعلاً او روا نه دي وقتاً او روا دي لمونځ کول په کښتی کې

قَاعِدًا عَلَى كُلِّ حَالٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَعِنْدَهُمَا لَا تَجُوزُ

په ناسته په هر حالت کې په نزد د امام ابوحنیفة او د صاحبینو په نزد روا نه دي

إِلَّا بِعُذْرٍ وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ فِي السَّفَرِ قَضَاهَا فِي الْحَضَرِ رَكْعَتَيْنِ

مګر د عذر له وجهې او له چا چې قضاء شي لمونځ په سفر کې قضائي دې راوړي په حضر کې دوه رکعته

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ فِي الْحَضَرِ قَضَاهَا فِي السَّفَرِ أَرْبَعًا وَالْعَاصِي

او له چا چې قضاء شي لمونځ په حضر کې قضائي دې راوړي په سفر کې څلور رکعته ګنهګار

سَوَاءٌ	فِي السَّفَرِفِي الرُّخْصَةِ	وَالْمُطِيعُ
برابر دي.	د سفر په رخصت کي	او فرمانبردار

دلغاتوحل: **استوطن**: وطن يې جوړ کړ، **سفينة**: کشتي، **حضر**: اقامت، **العاصي**: گنهگار، **المطيع** فرمانبردار

تشريح: **واذاداخل المسافر**: د کتاب صاحب په دې عبارت کې د وطن احکام بيان کړي دي، د وطن درې قسمونه دي (اول) وطن اصلي (دويم) وطن اقامت (دريم) وطن سکنی، وطن اصلي هغه ځای دی کوم چې د انسان د پيدايښت ځای وي، همدارنگه کوم ځای کې چې هغه واده کړی وي او د کورني ژوند انتظام يې جوړ کړی وي، وطن اقامت هغه ځای ده چيرته يې چې د پنځلسو ورځو د قيام اراده کړې وي، وطن سکنی هغه ځای دی چيرته يې چې له پنځلسو ورځو څخه د کومو اراده کړې دي، محققينو وطن سکنی ته اعتبار ندی ورکړی، وطن اصلي په وطن اصلي سره باطل شوی په سفر سره ندی، وطن اقامت په وطن اقامت سفر او وطن اصلي درېواړو سره باطل شوی دی، د صاحب قدوري د عبارت مطلب دا ده چې که مسافر وطن اصلي ته راشي نو محض وطن ته په راتلو سره مقيم کيږي اگر که هغه د اقامت نيت نوي کړی او پوره لمونځ به کوي.

د دې عبارت مفهوم دا ده چې د يوه کس وطن اصلي دی بيا له هغه ځای څخه ولاړ بل ځای يې خپل وطن جوړ کړ برابره ده که د دې دواړو ځايونو په مابين کې شرعي مسافه وه او که نوه نو لومړی وطن اصلي باطل کيږي. اوس که چيرته هغه لومړي وطن ته راشي نو قصر به کوي، له همدې رسول الله ﷺ کله چې له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ او له هجرت وروسته يې مکې مکرمې ته تشريف راوړلو نو دوي ﷺ خان په مسافرو کې شمار کړ او د لمانځه له کولو وروسته يې وفرمايل چې اې د مکې اوسيدونکو تاسو خپل لمنځونه پوره کړئ مونږ مسافر يو.

واذانوى المسافران يقيم الخ: د مسئلې صورت دا ده چې يوه مسافر په مکه او مدينې دواړو ځايونو کې د پنځلسو ورځو د قيام نيت وکړ نو دا کس مسافر کيدی نشي بلکې مقيم پاتې کيږي او لمونځ به قصر کوي، د هدايه صاحب ويلي دي چې په دوه ځايونو کې د اقامت نيت معتبر کيدل د دې خبرې غوښتنه کوي چې له دوه څخه په زياتو ځايونو کې هم د نيت اعتبار وکړی شي او همدارنگه په ډيرو ځايونو کې د اقامت د نيت اعتبار کول دې خبرې ته بلنه ورکوي چې انسان به کله هم مسافر نشي نو خکه په دوه ځايونو کې د اقامت نيت ته هيڅ اعتبار نشته دی.

والجمع بين الصلوتين الخ: د عبارت په مفهوم باندې له پوهيدو مخکې عرض دی چې د جمع دوه قسمونه دي (اول) صوري (دويم) حقيقي، جمع صوري دا ده چې يو لمونځ په اخير وخت کې او دويم لمونځ په اول وخت کې اداء کړی شي، جمع حقيقي دا ده چې لمنځونه په يوه وخت کې وکړی شي، د عبارت مطلب دا ده چې د دوه فرض لمنځونو په يوه وخت کې جمع کول ممنوع دي اگر که کوم عذر

ولې نوي، صرف د حج په موقع باندې په عرفات او مزدلفه کې د دوه لمنځونو جمع کول فعلا او صورة روا دي، مګر په حقیقي ډول یې جمع کول ناروا دي، د امام مالک او شافعي په نزد حقیقةً هم روا دي، یعنې په عرفات کې د ماشپښین او مازدیګر او په مزدلفه کې د ماښام او ماسخوتن یو ځای کول، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د روایت مطابق له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي

ویجوز الصلوة الخ: په دغه مسئله کې د امام ابوحنیفه رحمه الله له صاحبینو سره اختلاف دی، د امام صاحب په نزد له کوم عذر پرته په روانه کشتۍ کې په ناسته لمونځ کول روا دي، البته په ولاړه یې کول بهتر دي، د صاحبینو په نزد عذر شرط دی، ائمه ثلاثه و هم همداسې ویلې دي

ومن فاتته....... في السفر اربعا: یعنې که کوم کس په سفر کې د قضاء شویو لمنځونو قضائي په اقامت کې وغواړي نو د دوه رکعتونو قضائي دې وکړي، او په اقامت کې د قضاء شویو که په سفر کې قضائي وغواړي نو څلور رکعتونو قضائي دې وکړي

والعاصي والمطیع الخ: فقهاؤ د سفر درې قسمونه بیان کړي دي (اول) سفر طاعت لکه حج او جهاد (دویم) سفر مباح لکه تجارت (دریم) سفر معصیت لکه غلا او زنا کولو په اراده سفر کول. په قرآن آیت کې (فمن کان منکم مریضا او علی سفر فعدة من ایام اخر) نبوي ارشاد (فرض المسافر رکعتان) کې د مطیع او عاصي کوم تفصیل نشته، له دې وروسته د عبارت مفهوم دا ده چې سفر برابره ده که د معصیت سفر وي که د طاعت سفر وي دواړه په رخصت کې برابر دي، البته د امام شافعي په نزد د معصیت په سفر کې رخصت نشته دی، همدا قول د امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله هم دی

بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ

د جمعې لمانځه بیان

دا باب د مسافر له باب سره په تصنیف صلوة کې مناسبت درلود یعنې تصنیف په قصر کې دننه د سفر له امله دی او په جمعه کې د خطبې له امله دی، لیکن په سفر کې د رباعي لمانځه د منصف کیدو له امله عام دی او د جمعې خطبه صرف د ماسپښین په لمانځه کې د منصف کیدو له امله خاص ده، او د عام تقدیم په خاص باندې مشهور دي نو ځکه د مسافر له باب وروسته ذکر کړی شو

جمعه: دا له اجماع څخه مشتق ده لکه فرقت چې له افتراق څخه مشتق ده، میم بالضم والفتح والسکون درېواړه روا دي خو بالضم فصیح دی معنی یې ده جمع کیدل، جمعه ته جمعه ځکه ویل کیږي چې الله تعالی پکې خصال خیر په کثرت سره جمع کړي دي، د جمعه په وجه تسمیه کې قولونه منقول دي، د تفصیل لپاره دې د تاریخ کتابونه وکتل شي

د جمعې ثبوت په قرآنکریم سره

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره آذان وکړی شي نو د الله تعالی د ذکر طرفته ولاړ شئ.

په دې باندې د مفسرينو اتفاق دی چې له ذکر الله څخه مراد خطبه ده او د امر صيغه د وجوب لپاره ده، چنانچه په آيت سره د خطبې طرفته د سعی واجب کيدل ثابت شول او سعی الى الخطبة د جمعې د لمانځه له شرايطو څخه ده، چنانچه کله چې د جمعې طرفته د سعی واجب کيدل ثابت شول نو د جمعې لمونځ کوم چې مقصود دی په درجه اولی فرض شو

د جمعې ثبوت په حديث سره: ﴿الجمعة حق واجب على كل مسلم في جماعة﴾

د جمعې لمونځ په هر مسلمان باندې په جماعت سره يې کول فرض دي

د جمعې ثبوت په اجماع سره: ټول مسلمه امت د جمعې په فرض کيدو باندې متفق دی.

د جمعې مشروعيت په کال (١ هجري) کې شوی)

د جمعې د فرض کيدو دوولس شرطونه دي: شپږ د وجوب شپږ د صحت

د وجوب شرطونه: (١) آزاد کيدل (٢) نارينه توب (٣) مقيم والی (٤) تندرست والی (٥) د پښو سلامت والی (٦) د سترګو سلامت والی.

شپږ د صحت: (١) ښار (٢) بادشاه يا د هغه نائب په وي (٣) وخت (٤) خطبه (٥) جماعت (٦) عامه اجازه.

لَاتَصِحُّ الْجُمُعَةُ	إِلَّافِي مِصْرٍ جَامِعٍ	أَوْفِي مُصَلَّى الْمِصْرِ	وَلَاتَجُوْزُ
نه صحي کيږي جمعه	مګر په ښار جامع کې	يا د ښار په څنډه کې	او روا نه ده
فِي الْقُرَى	وَلَاتَجُوْزُ إِقَامَتُهَا	إِلَّالِلسُّلْطَانِ	أَوْلِمَنْ أَمَرَهُ السُّلْطَانُ
په کليو کې	او روا نه ده قائمول د جمعې	مګر د بادشاه لپاره	يا د هغه لپاره چې امر ورته کړی وي بادشاه
وَمِنْ شَرَائِطِهَا	اَلْوَقْتُ	فَتَصِحُّ فِي وَقْتِ الظُّهْرِ	وَلَاتَصِحُّ بَعْدَهُ.
او له شرطونو د جمعې	وخت دی	پس صحيح کيږي په وخت د ماسپښين کې	او نه صحيح کيږي وروسته له هغه

خلاصه: د جمعې لمونځ په ښار او د ښار په څنډه دواړو کې روا دی، البته په کليو کې جمعه روا نده، او د جمعې قائم کولو حکم بادشاه کولی شي يا چې چاته بادشاه حکم او اجازت ورکړی وي لکه امير قاضي يا خطيب، او د جمعې له شرطونو څخه يو شرط وخت دی، لهذا د جمعې لمونځ صرف د ماسپښين په وخت کې صحيح دی له هغه وروسته صحيح ندی.

تشريح: د کتاب صاحب په دې عبارت کې د تحقق جمعې له ټولو شرطونو څخه صرف درې شرطونه ذکر کړي دي (اول) جامع ښار يا د ښار څنډه (دويم) بادشاه يا د هغه نائب (دريم) وخت، دلته دوه شيان مصر جامع او مصلى المصر قابل غور دي:

مصر جامع هغه لوی (ستر) ښار په کوم چې باقاعده سړکونه وي ګلي او کوڅې وي او بازار وي، امير يا قاضي وي کوم چې د احکامو په جاري کولو او د شرعي سزاګانو په قايمولو باندې قادر وي، له دې پرته مختلف تعريفونه شوي دي، ليکن تحقيق دا ده چې د مصر هيڅ جامع او مانع تعريف نشي کيدلی، بلکې د هغه مدار په عرف باندې دی. که چيرته په عرف کې کوم کلي ته ښار ويل کيږي نو هلته د جمعې لمونځ روا دی او که داسې نه وي نو نه دی روا

مصلی المصر: د ښار مصلی عيدګاه وي، ليکن دلته له مصلی څخه د ښار فناء مراد ده. د ښار فناء لره هيڅ حد مقرر نه دی، بلکې د ښار ضرورتونه تر کومه ځايه هم چې پوره کيدلی شي تر هماغه ځايه سيمه په ښار کې داخله ده، لکه هديره (قبرستان) عيدګاه، مذبح او وغيره.

(۲) ځينو خلکو له فناء ښار څخه مراد دا اخيستې چې کوم خلک له ښار څخه په دومره فاصله باندې اوسيږي که چيرته هغوی په ښار کې د جمعې لمونځ اداء کړي له ماښام کيدو مخکې بلا تکلف خپل ځای ته رسيدلی شي بيا هم په دوی باندې جمعه فرض ده، او که داسې نه وي بيا فرض نه ده، د بدائع صاحب همدغه قول غوره کړی وهذا حسن)

له دغه تفصيل وروسته ملاحظه شوه چې د مسئلې صورت دا ده چې د جمعې لمونځ په ښار او فناء ښار دواړو ځايونو کې روا دی، البته په کليو کې جمعه روا نه ده

د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ او وغيره په نزد د جمعې لمونځ په هر داسې کلي کې قايم کيدلی شي کوم چې مستقل آباد وي، يعنې د ځو ورځو لپاره هلته عارضي اوسيدل (قيام) نه وي، هلته باقاعده جوړ شوي مکانونه (تعميرات) وي، برابره ده که پاخه وي او که خام وي، څلوېښت عاقل، بالغ، مقيم آزاد سړي وي

الحاصل: د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ او جمهورو علماؤ په نزد مطلقًا که وړه (کوچنی) قريه وي که لويه (ستره) قريه وي په دواړو کې د جمعې لمونځ روا دی

دليل د حضرت عبدالرحمن بن کعب بن مالک روايت دی چې ما والد کعب ليدلی چې کله به هم هغه د جمعې په ورځ د جمعې آذان واوريده نو د اسعد بن زراره لپاره به يې د مغفرت دعا کوله، عبدالرحمن ويلې دي چې يوه ورځ ما له خپل والد څخه د دې پوښتنه وکړه، هغه راته وفرمايل چې اسعد بن زراره دلته د مدينې منورې يو ځای د کوم نام چې هزم النبيت دی مونږ خلکو ته له ټولو مخکې د جمعې لمونځ راکړی وو)

هزم النبيت خو يوه قريه ده ښار خو نه دی، معلومه شوه چې په کليو کې جمعه صحي ده.

ځواب: همدغو حضراتو دا جمعه په خپل اجتهاد سره د جمعې له فرضيت څخه مخکې کړې وه، کله چې همدا وخت د جمعې لمونځ مشروع شوی هم نه وو، د دې تفصيل په مصنف عبدالرزاق کې موجود دی.

د احنافو په نزد د جمعې لمانځه د صحي کيدو لپاره مصر (ښار) شرط دی، او اهل فتوی لويه (ستره) قريه هم په همدې حکم کې ليکلې ده چې د کوم کلي آبادي دری څلور زره وي مطلقًا که مسلمان وي او

که غیر مسلمان، همدارنګه چې هلته د ضروري حاجتونو شیان هم پیدا کیږي، د کانونه وي نو هغې ته لویه قریه قصبه ویل کیږي، په هغې کې هم د جمعې کول روا دي.

دلیل: د حضرت عائشة رضي الله عنها روایت دی: ﴿قالت کان الناس ینتابون الجمعة من منازلهم والعوالی﴾ یعني اهل عوالی (د مدینې د نږدې خایونو نام دی) نوبتونه مقرر کړي وو چې په جمعه کې د شرکت (ګډون) لپاره مدینې طیبې ته راغلي وو، له دغه روایت څخه معلومه شوې چې که چیرته په ورو (کوچنیو) کلیو کې جمعه روا وای نو هغوی ته د جمعې لپاره نوبتونه مقرر ول او مدینې منورې ته د راتلو ضرورت نه وو، بلکې هغوی به په عوالي کې جمعه قایمه کړې وه.

ولاتجوزفي القرى: د امام شافعي او امام مالک په نزد په کلیو کې هم جمعه روا ده.

الاللسلطان: د امام شافعي په نزد د جمعې د اداء لپاره بادشاه یا د هغه نائب شرط ندي، د بادشاه یا د هغه د نائب شرط صرف له دې امله دی چې خلک په اجتماع کې د اختلاف ښکار نشي او امن وساتل شي، خکه چې هر کس جلا جلا رأیه لري، څوک کوم امام ته ترجیح ورکوي، څوک په کوم جومات کې د جمعې کولو خبره کوي او څوک په کوم مسجد کې، نو څکه د وخت بادشاه یا د هغه نائب وجود ضروري دی، ترڅو چې امن خراب نکړي شي.

ومن شرطها الوقت: که چیرته د سلام له اړولو مخکې وخت تیر شو په دې سره لمونځ فاسدیږي او که نه په دې کې څه قدري اختلاف دی، صاحبینو ویلي دي چې که چیرته د تشهد په اندازه له کیناستلو وروسته وخت تیر شوی دی نو لمونځ پوره کیږي، د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد لمونځ فاسدیږي، بلکې له نوي سره دې د ماسپښین لمونځ وکړي شي.

د جمعې په وخت کې د ائمه ؤ اختلاف: د جمعې وخت څه دی؟ په دې باره کې دوه مذهبه دي:

(۱) د امام احمد رحمه الله په نزد د جمعې لمونځ له زوال څخه مخکې یې کول روا دي.

دلیل: ﴿ماکنا نقیل ولانتغدی الابعد الجمعة﴾.

یعني مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې قیلوله او د سهار خوراک له جمعې وروسته کړی وو، په عربي ژبه کې (غداء) هغه خوراک ته ویل کیږي کوم چې د لمر له راختو وروسته او له زوال څخه مخکې خوړل کیږي، معلومه شوه چې د جمعې لمونځ له زوال څخه ډیر مخکې شوی وو.

خواب: اګر چه د لغت په اعتبار سره د غداء اطلاق په زوال څخه د مخکې خوراک لپاره راغلی مګر عرفاً له زوال وروسته د خوراک لپاره ویل کیږي، نو څکه د (نتغدی) په لفظ سره استدلال صحي نه دی.

د ائمه ثلاثه ؤ په نزد: جمعې وخت هغه دی کوم چې د ماسپښین دی.

دلیل: ﴿ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یصلی الجمعة حین تمیل الشمس﴾.

یعنې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جمعې لمونځ په داسې وخت کې کړی وو کله چې لمر تاو شوی وو، له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې جمعه له زوال وروسته ده نه له زوال څخه مخکې

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْخُطْبَةُ قَبْلَ الصَّلَاةِ يَخْطُبُ الْإِمَامُ خُطْبَتَيْنِ

او له شرطونو د جمعې خطبه ده مخکې له لمانځه خطبې به وایي امام دوه خطبې

يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِقَعْدَةٍ وَيَخْطُبُ قَائِمًا عَلَى طَهَارَةٍ

جدا والی به کوي د دواړو په مینځ کې په ناستې سره او خطبه دې ووایي په ولاړه په اوداسه

فَإِنِ اقْتَصَرَ عَلَى ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

که اکتفاء وکړي په ذکر د الله تعالی روا ده په نزد د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ

وَقَالَا لَا بُدَّ مِنْ ذِكْرٍ طَوِيلٍ يُسَمَّى خُطْبَةً فَإِنْ خَطَبَ قَاعِدًا

ویلي دي صاحبینو ضروري دی یو داسې اوږد ذکر کوم ته چې خطبه ویل کیدی شي که یې خطبه ووېله په ناسته

أَوْ عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ جَازَ وَيُكْرَهُ وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْجَمَاعَةُ

او یا بې اودسه روا ده خو مکروه ده او له شرطونو د جمعې جماعت دی

وَأَقَلُّهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ وَقَالَا اثْنَانِ

او کم شمیر یې په نزد د امام ابوحنیفة درې دي له امام پرته او صاحبینو ویلي دوه دي

سِوَى الْإِمَامِ وَيَجْهَرُ الْإِمَامُ بِقِرَائَتِهِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ

له امام پرته او په زوره دې وایي امام قرائت په دوو رکعتونو کې

وَلَيْسَ فِيهِمَا قِرَاءَةُ سُورَةٍ بِعَيْنِهَا

او نشته په دې دواړو کې ویل د کوم معلوم سورت

خلاصه: په تیر شوي عبارت کې درې شرطونه تیر شوي دي، او په دې عبارت کې د دوه نورو شرطونو ذکر دی، (څلورم) خطبه (پنځم) جماعت، د کتاب صاحب ویلي دي څلورم شرط خطبه ده (رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تول عمر کومه جمعه له خطبې پرته نده اداء کړې) دا خطبه د جمعې له لمانځه مخکې او له زوال وروسته واجب ده له دې پرته روا نده، امام دې په اوداسه د ولاړې په حالت کې دوه خطبې ووایي او د دواړو خطبو په مینځ کې دې (د دریو آیتونو په اندازه) په ناستې سره فصل وکړي (له بزرګانو څخه هم همداسې منقول دي کوم چې فقط د استراحت لپاره شرط نده) د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد په خطبه کې صرف د الله ذکر کافي دی (د کوم اداء، کول چې په سبحان الله الحمد لله یا لا اله الا الله سره کیدی شي خو په دې شرط چې د خطبې په ارادې سره وي) خو د صاحبینو په نزد داسې اوږد ذکر

ضروري دی کوم ته چې خطبه ویل کیدی شي، او که چیرته امام بې اودسه او په ناسته خطبه وویله روا ده خو مکروه ده، د جمعې د صحیح کیدو لپاره پنځم شرط جماعت دی، د امام ابو حنیفه په نزد له امام پرته کم له کمه درې سړي دي او د صاحبینو په نزد له امام پرته دوه کسان کافي دي، امام دې د جمعې په لمانځه کې په جهر سره قرائت وکړي او امام لره اختیار دی د کوم سورت تلاوت کول چې وغواړي تلاوت دې کړي، د سورت هیڅ تعین نشته دی.

تشریح: جماعت بالاتفاق د جمعې شرط دی، البته د وګړیو (افرادو) په شمیر کې اختلاف دی چې د جمعې په لمانځه کې د څومره کسانو ګډون (شرکت) ضروري دی.

د ائمه ؤ اخلاف: په دې باره کې څلور مذهبه دي:

(۱) د شافعیانو او حنابله ؤ په نزد د څلویښتو کسانو ګډون ضروري دی.

دلیل: د حضرت عبدالرحمن بن کعب بن مالک د روایت په اخیر کې دي ﴿قلت کم انتم یومئذ قال أربعون﴾ له دې معلومه شوه چې د څلویښتو کسانو ګډون ضروري دی.

ځواب: ستاسو ذکر شوی روایت ضعیف دی.

(۲) د امام مالک رحمه الله په نزد د دوولسو کسانو حاضریدل ضروري دي.

(۳) د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد له امام پرته د دریو کسانو ګډون ضروري دی، همدا د امام زفر رحمه الله قول هم دی.

دلیل: ﴿فاسعوا الی ذکر الله﴾ کې د فاسعوا په ذریعه خطاب په جمع سره دی او د جمع صحیح اطلاق کم له کمه په دریو باندې کیږي.

(۴) د صاحبینو په نزد له امام پرته دوه کسان کافي دي.

دلیل: د جمعې لغوي معنی جمع کیدل دي او په دوو کې د جمع کیدو معنی موجوده ده، شراحو د امام صاحب قول ته ترجیح ورکړې ده.

د قرائت مسئله په دې کې دوه مسئلې بیان شوې دي:

(۱) د جمعې په لمانځه کې په لوړ (اوچت) آواز سره قرائت کول واجب دي.

(۲) په لمنځونو کې چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د کومو سورتونو قرائت منقول دی د هغو لوستل مستحب دي، لیکن په هغو باندې پابندي کول مناسب نه دي، ترڅو چې عوام د همدغو سورتونو ویل واجب ونه ګڼي، په جمعه کې په دریو طریقو باندې قرائت منقول دی.

(۱) په اول رکعت کې سورت جمعه او په دویم رکعت کې سورت منافقون.

(۲) په اول رکعت کې سبح اسم او په دویم رکعت کې سورت غاشیه.

(۳) په اول رکعت کې سورت جمعه او په دویم کې سورت غاشیه.

که چیرته کوم وخت له دې پرته نور ولوستل شي نو خلاف سنت نه دي، له همدې وجهې د احنافو په نزد دلته د سورت تعین نشته

وَلَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ	عَلَى مُسَافِرٍ	وَلَا امْرَأَةٍ	وَلَا مَرِيضٍ	وَلَا صَبِيٍّ
واجب نه ده جمعه	په مسافر باندې	نه په ښځه باندې	نه په ناروغ باندې	نه په ماشوم باندې
وَلَا عَبْدٍ	وَلَا أَعْمَى	فَإِنْ حَضَرُوا	وَصَلَّوْا مَعَ النَّاسِ	أَجْزَأَهُمْ
نه په غلام	نه په ړانده	که حاضر شول دوي	لمونځ يې وکړ له خلکو سره	کافي شوه جمعه د دوي
عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ	وَيَجُوزُ لِلْعَبْدِ	وَالْمُسَافِرِ	وَالْمَرِيضِ	
له فرض وخت څخه	او روا ده د غلام	د مسافر	او ناروغ لپاره	
أَنْ يَؤُمُّوا	فِي الْجُمُعَةِ			
چې امامت وکړي	په جمعه کې			

تشريح: **ولاتجب الجمعة على مسافر** : د کتاب صاحب په دې عبارت سره د وجوب جمعه شرطونه بيان کړي دي، د وجوب جمعه شرطونه شپږ دي (اول) مقيم کيدل (دويم) مذکر کيدل (دريم) تندرست کيدل (څلورم) آزاد والی (پنځم) د سترګو او د پښو روغوالی (شپږم) عاقل او بالغ کيدل، په کومو حضراتو باندې چې جمعه واجب نده لامل يې دا دی چې همدې خلکو ته په جمعه کې حاضريدلو سره تکليف رسيږي د همدې تکليف د ليرې کولو له امله همدغه حضرات معذور ګڼل شوي دي، د صاحبينو په نزد که چيرته ړوند رهبر ولري نو په هغه باندې جمعه واجب ده، او که چيرته همدغه معذوران شرکت وکړي نو وقتي فرض يعني د ماسپښين لمونځ اداء کيږي.

ويجوزللعبد : په غلام مسافر او ناروغ باندې اګر که جمعه واجب نده ليکن د دوی د جمعې لمانځه امام جوړول روا دي، ځکه همدې حضراتو ته رخصت صرف د سختي او تکليف له امله ورکړی شوی دی که نه نو اصلا خو جمعه په هر چا باندې فرض عين ده، ليکن بيا هم کله چې جومات ته حاضر شي نو د دوی لمونځ اداء کيږي نو د اهليت په موجوديت کې امام جوړيدلی شی البته د امام زفر رحمه الله په نزد اجازت نشته دی

وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ	فِي مَنْزِلِهِ	يَوْمَ الْجُمُعَةِ	قَبْلَ صَلَاةِ الْإِمَامِ
او څوک چې لمونځ وکړي	په خپل کور کې	د جمعې په ورځ	مخکې له لمانځه د امام
وَلَا عُذْرَ لَهُ	كُرِهَ لَهُ ذَلِكَ	وَجَازَتْ صَلَاتُهُ	فَإِنْ بَدَا لَهُ
او د هغه هيڅ عذر نوي	نو مکروه ده د هغه لپاره	او لمونځ يې کيږي	بيا يې که په زړه کې راغله
أَنْ يَحْضُرَ الْجُمُعَةَ	فَتَوَجَّهَ إِلَيْهَا	بَطَلَتْ صَلَاةُ الظُّهْرِ	
چې حاضر شه جمعې ته	پس د جمعې طرفته متوجه شو	نو باطل شو لمونځ د ماسپښين يې	

عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ	بِالسَّعْيِ إِلَيْهَا	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ	
په نزد د امام ابوحنيفه رحمه الله	په كوشش سره د هغې طرفته	او ويلي دي صاحبينو	
لَا تَبْطُلُ	حَتَّى يَدْخُلَ مَعَ الْإِمَامِ	وَيُكْرَهُ	أَنْ يُصَلِّيَ الْمَعْذُورُ الظُّهْرَ
نه باطليږي	تردې چې داخل شي له امام سره	او مكروه ده	چې لمونځ وكړي معذور د ماسپښين
بِجَمَاعَةٍ	يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَكَذَا أَهْلُ السِّجْنِ	وَمَنْ أَدْرَكَ الْإِمَامَ	يَوْمَ الْجُمُعَةِ
په جماعت سره	د جمعې په ورځ همدارنګه بنديان	او كوم كس چې پيدا كړ امام	د جمعې په ورځ
صَلَّى مَعَهُ	مَا أَدْرَكَ	وَبَنَى عَلَيْهَا الْجُمُعَةَ	وَإِنْ أَدْرَكَهُ فِي التَّشَهُّدِ
لمونځ دې وكړي له هغه سره	څه يې چې موندلي	او په هغه دې بناء كړي جمعه	او كه يې پيدا كړ په تشهد
أَوْ فِي سُجُودِ السَّهْوِ	بَنَى عَلَيْهِ الْجُمُعَةَ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ	
يا په سجده سهوه كې	نو بناء دې كړي په هغه جمعه	د شيخينو په نزد	
وَقَالَ مُحَمَّدٌ	إِنْ أَدْرَكَ مَعَهُ	أَكْثَرَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ	بَنَى عَلَيْهَا الْجُمُعَةَ
او ويلي دي امام محمد	كه يې پيدا كړ له امام سره	زياته برخه د دويم ركعت	نو بناء دې كړي په هغه جمعه
وَإِنْ أَدْرَكَ مَعَهُ	أَقَلَّهَا	بَنَى عَلَيْهَا الظُّهْرَ	
او كه يې پيدا كړ له امام سره	كمه برخه د دويم ركعت	نو بناء دې كړي په هغه ماسپښين	

تشريح : كه چيرته يوه كس د جمعې په ورځ امام د جمعې په لمانځه كې پيدا كړ او د دويم ركعت په ركوع كې له امام سره شريك شو نو بالاتفاق دغه كس له امام سره د جمعې لمونځ اداء كړ، او يو ركعت كوم چې تير شوى هغه دې د امام له سلام ګرځولو وروسته پوره كړي، د همدغه كس دغه لمونځ جمعه ګڼل كيږي نه د ماسپښين لمونځ

او كه چيرته يې امام په تشهد كې يا په سجده سهوه كې پيدا كړ يعنې د دويم ركعت زياته برخه يې پيدا نكړه بلكې په دويم ركعت كې له ركوع وروسته شريك شو نو په دغه صورت كې د جمعې لمونځ پوره كړي او كه د ماسپښين لمونځ پوره كړي؟ په دې باره كې دوه مذهبه دي :

(١) د ائمه ثلاثه ؤ په نزد په داسې كس باندې د ماسپښين لمونځ واجبيږي او هغه ته د جمعې پيدا كوونكى نشي ويل كيدى، همدا د امام محمد رحمه الله مذهب دى

دليل د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه روايت دى چې كوم كس د جمعې يو ركعت پيدا كړ هغه ته پكار دي چې دويم ركعت هم وكړي، او له چا څخه چې دواړه ركعتونه تير شي نو هغه دې د ماسپښين څلور ركعته اداء كړي

ځواب: د دوارو رکعتونو له فوت کیدو څخه د ټول لمانځه فوت کیدل مراد دي، داسې نه ده چې د دویم رکعت رکوع تیره شي نو د ماسپښین لمونځ دې اداء کړي، بلکې کله چې دویم رکعت ټول تیر شي سره له سلامه بیا هم دا حکم دی

(۲) د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد که چیرته کوم کس د جمعې په لمانځه کې له سلام ګرځولو مخکې مخکې شریک شي هغه ته د جمعې پیدا کوونکی ویل کیدی شي، همدا مسلک د امام ابویوسف رحمه الله دی

دلیل: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایلي دي ﴿من ادرك التشهد فقد ادرك الصلاة﴾ چا چې تشهد پیدا کړ هغه لمونځ پیدا کړ، په دغه روایت سره دا خبره واضحه شوه چې د لمانځه پیدا کیدو لپاره د اخیرني رکعت رکوع پیدا کول ضروري نه دي، بلکې که چیرته له رکوع وروسته له سلام مخکې شریک شي نو جمعه پیدا شوه.

وَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ	تَرَكَ النَّاسُ	الصَّلَاةَ	وَالْكَلَامَ
کله چې ووځي امام په ورځ د جمعې	پرې دې ایږدي خلک	لمونځ	او خبرې
حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ	وَقَالَا لَا بَأْسَ	بِأَنْ يَتَكَلَّمَ	مَا لَمْ يَبْدَأْ
تر دې چې فارغ شي له خطبې	اوویلي دي یارانو هیڅ باک نشته	چې خبرې وکړي	شروع نوي کړي امام
بِالْخُطْبَةِ	وَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ	يَوْمَ الْجُمُعَةِ	الْأَذَانَ الْأَوَّلَ
په خطبه باندې	او کله چې آذان وکړي مؤذن	په ورځ د جمعې	اول آذان
تَرَكَ النَّاسُ	الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ	وَتَوَجَّهُوا	إِلَى الْجُمُعَةِ
پرې دې ږدي خلک	خرڅول او اخیستل	او ځي دې	د جمعې لپاره
فَإِذَا صَعِدَ الْإِمَامُ الْمِنْبَرَ	جَلَسَ	وَأَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ	
بیا چې وخیژي امام منبر ته	کښیني	او آذان وکړي مؤذن	
بَيْنَ يَدَيِ الْمِنْبَرِ	ثُمَّ يَخْطُبُ الْإِمَامُ	فَإِذَا فَرَغَ	
مخامخ منبر ته	بیا دې خطبه ووایي امام	او کله چې فارغ شي امام	
مِنْ خُطْبَتِهِ	أَقَامُوا الصَّلٰوةَ		
له خطبې څخه	نو ودې دروي لمونځ		

تشریح: دلته دوه مسئلې بیان شوې دي (اوله) صورت د مسئلې دا ده چې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد کله چې امام له خپلې کمرې څخه د جمعې لپاره راووځي د منبر طرفته ولاړ شي نو د امام له خطبې څخه

تر فارغ كيدو پورې دې نه لمونځ كول كيږي او نه دې خبرې كول كيږي، البته د قضائي لمانځه د كولو اجازت شته دى، او د صاحبينو په نزد د خطبې له شروع كيدو مخكې او له خطبې وروسته له تكبير مخكې د خبرو وغيره په كولو كې كومه خبره نشته، البته د لمانځه وغيره كولو اجازت نشته، د امام شافعي په نزد د خطبه په وخت كې هم تحية المسجد او د سلام جواب وركول روا دى، خو د امام نووي امام مالك بلكې د جمهورو صحابه ؤ او تابعينو په نزد په ذكر شوي وخت كې نه د خبرو گنجايش شته او نه د لمانځه (دويمه) دويمه مسئله دا ده چې كله مؤذن اول اذان وكړي نو خلك دې خريد او فروخت بند كړي او د جمعې طرفته دې متوجه شي، له كوم اذان وروسته چې بيع حرام او سعي واجب ده په دې كې اختلاف دى، امام طحاوي ويلي دي چې د بيع حرمت او د سعي په واجب كيدو كې هغه اذان معتبر دى كوم چې منبر ته مخامخ وكړى شي، امام شافعي امام احمد او اكثر فقهاؤ همدېته ترجيح وركړې ده، خو د هدايه صاحب ويلي دي چې هغه اذان معتبر دى كوم چې د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه كې د خلكو د كثرت له امله ايجاد شوى دى، هغه اذان ته اول اذان ويل كيږي، حسن بن زياد له امام ابو حنيفه څخه روايت كړى دى چې د بيع په حرمت او د سعي په واجب كيدو كې اول اذان معتبر دى، څكه چې په دويم اذان باندې د خريد او فروخت بندولو او د سعي الى الجمعه په صورت كې د جمعې د سنتو او د خطبې پاتې كيدو امكان دى او كه كور له جامع جومات څخه ليرې وي نو د جمعې قضاء كيدو هم خطر دى نو څكه اول اذان معتبر دى خو په دې شرط چې له زوال مخكې شوى وي، او په قرآني آيت كې د نداء مقصد اذان دى هغه په همدې سره حاصل دى.

بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

د اخترونو د لمانځه بيان

د دې باب له باب صلوة الجمعة سره مناسبت په دې ډول دى چې دواړه لمنځونه په ښار كې، د ورځې، له جهري قرائت سره او په يوه ستر جماعت جم غفير كې اداء كيدلى شي، له خطبې پرته د دواړو په شرطونو كې يو شانته والى دى، څكه چې خطبه د جمعې لپاره شرط ده او د اخترونو لپاره شرط نده، همدارنگه د باب الجمعة په دې باب باندې د مقدم كولو وجه دا ده چې جمعه فرض عين ده او اخترونه واجب دي، او فرض د واجب په نسبت قوي دي او قوي لره په ضعيف باندې تقدم حاصل دى نو څكه جمعه په اخترونو باندې مقدم كړى شوه.

د اختر لمانځه ثبوت: د قرآنكريم په دغه آيت كريمه سره دى: ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾ پس ته د خپل رب جل جلاله لمونځ اداء كړه او قرباني وكړه.

د اخترونو ثبوت په حديث سره: نبي كريم صلى الله عليه وسلم د اخترونو لمونځ كړى وو.

په اجماع سره هم ثابت دي چې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم له زمانې را نيولې تر نن ورځې پورې د عامو مسلمانانو اتفاق په همدې را روان دى.

د اختر وجه تسميه: عيد له عود څخه ماخوذ دی د کوم چې معنی ده بيا بيا راتلل، چونکه دغه مقدسه ورځ هم بيا بيا په کال کې راځي نو ځکه ورته د عيد نام کيښودل شو، د عيدالفطر لمانځه په باره کې ليکل شوي دي چې په سنه (۲ هجري) کې مشروع شوی او د همدغه کال د شعبان په مياشت کې روژې فرض شوې دي)

وَيُسْتَحَبُّ	يَوْمَ الْفِطْرِ	أَنْ يَطْعَمَ الْإِنْسَانُ	قَبْلَ الْخُرُوجِ
مستحب ده	د کوچني اختر په ورځ	چې وخوري انسان	مخکې له وتلو
إِلَى الْمُصَلَّى	وَيَغْتَسِلَ	وَيَتَطَيَّبَ	وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ
عيدګاه ته	او غسل وکړي	خوشبو ولګوي	او واغوندي ښې (غوره) جامې
وَيَتَوَجَّهَ إِلَى الْمُصَلَّى	وَلَا يُكَبِّرُ	فِي طَرِيقِ الْمُصَلَّى	
او روان شي عيدګاه ته	او تکبير دې نه وايي	په لار د عيدګاه کې	
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى	وَيُكَبِّرُ عِنْدَهُمَا	وَلَا يَتَنَفَّلُ	
په نزد د امام ابوحنيفة رحمه الله	او تکبير دې وايي د صاحبينو په نزد	او نفل دې نکوي	
فِي الْمُصَلَّى	قَبْلَ صَلَاةِ الْعِيدِ	فَإِذَا حَلَّتِ الصَّلَاةُ	
په عيدګاه کې	مخکې د اختر له لمانځه	بيا لمونځ کول روا کيږي	
بِارْتِفَاعِ الشَّمْسِ	دَخَلَ وَقْتُهَا	إِلَى الزَّوَالِ	فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ
په راپورته کيدو د لمر	داخل شو وخت يې	تر زوال پورې	بيا کله چې زائل شو
خَرَجَ وَقْتُهَا	وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ	رَكْعَتَيْنِ	يُكَبِّرُ فِي الْأُولَى
نو ووتلو وخت يې	او لمونځ دې ورکړي امام خلکو ته	دوه رکعته	تمبير دې ووايي په اول رکعت کې
تَكْبِيرَةَ الْإِحْرَامِ	وَثَلَاثًا بَعْدَهَا	ثُمَّ يَقْرَأُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ	وَسُورَةً مَعَهَا
تکبير تحريمه	او درې له هغه وروسته	بيا دې ووايي سورت فاتحه	او يو بل سورت له هغې سره
ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً يَرْكَعُ بِهَا	ثُمَّ يَبْتَدِأُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ		
بيا دې تکبير ووايي داسې تکبير چې رکوع وکړي په هغه سره	بيا دې شروع وکړي په دويم رکعت په قرائت سره		
فَإِذَا فَرَغَ مِنَ الْقِرَاءَةِ	كَبَّرَ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ	وَكَبَّرَ تَكْبِيرَةً رَابِعَةً	
بيا کله چې فارغ شي له قرائت څخه	تکبير دې ووايي درې تکبيرونه	او تکبير دې ووايي څلورم تکبير	

في تَكْبِيرَاتِ الْعِيدَيْنِ	وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ	يَرْكَعُ بِهِمَا
په تکبیرونو د اخترونو کې	او پورته دې کړي لاسونه	رکوع دې وکړي په هغه سره

خلاصه: د واړه اختر مستحبات دولس دي، د کتاب صاحب د څلورو ذکر کړی (اول) عیدګاه ته له تللو مخکې د کوم شي خوړل (دویم) غسل کول (دریم) خوشبو لګول (څلورم) په ښکلو جامو کې د ښو جامو اغوستل او باقي دا دي (پنځم) مسواک وهل (شپږم) لمانځه ته له وتلو مخکې د صدقه فطر ورکول (اوم) پګړۍ وهل (اتم) سهار وختي پورته کیدل (نهم) عیدګاه ته وختي تلل (لسم) د محله په جومات کې د سهار لمونځ کول (یولسم) عیدګاه ته پیاده تلل (دولسم) په یوه لاره تلل او په بله لاره راتلل. په لار کې د تکبیراتو په ویلو کې د احنافو اختلاف دی او دوه قوله منقول دي، اول خو د کتاب صاحب ذکر کړی دی، دویم قول دا ده چې د امام صاحب په نزد تکبیر دې په کرار وایي او د صاحبینو په نزد په لوړ آواز دې وایي، فتوی د صاحبینو په قول باندې ده، د لوی اختر په جهري تکبیر باندې اتفاق دی، له اختر مخکې دې نفل لمونځ نکول کیږي نه په کور کې نه په عیدګاه کې (او له لمانځه وروسته دې په عیدګاه کې نکول کیږي) ځکه چې له رسول الله ﷺ څخه ممانعت منقول دی او کله چې لمر راوخوت یوه نیزه یا دوه نیزې راپورته شو نو د اختر لمانځه وخت شروع شو او د هغه وخت د لمر تر زائل کیدو پورې دی (د کتاب صاحب د اختر لمانځه کیفیت د احنافو د مذهب مطابق بیان کړی دی چې د احنافو په نزد تکبیرات زائده شپږ دي) امام دې خلکو ته دوه رکعته لمونځ په دې طریقه ورکړي چې اول دې تکبیر تحریمه ووایي بیا دې ثناء ووایي درې زائد تکبیرونه دې ووایي، بیا دې سورت فاتحه او ورسره دې یو سورت ووایي بیا دې تکبیر ووایي رکوع دې وکړي، بیا دې سجده وکړي په دې ډول به اول رکعت پوره شي، بیا دې په دویم رکعت کې سورت فاتحه او ورسره دې سورت ووایي بیا دې درې زائد تکبیرونه ووایي او د رکوع تکبیر دې ووایي رکوع دې وکړي او په دې زائدو تکبیرونو کې دې لاسونه تر غوږونو پورته کړي او بیا دې خوړند پریږدي (زائد تکبیرونه د امام مالک او امام احمد په نزد لس دي شپږ په اول رکعت کې او څلور په دویم رکعت کې، او د امام شافعي په نزد دولس دي (۷) اووه په اول رکعت کې او پنځه په دویم رکعت کې)

صَدَقَةَ الْفِطْرِ	يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهِمَا	خُطْبَتَيْنِ	بَعْدَ الصَّلَاةِ	ثُمَّ يَخْطُبُ
صدقه فطر	ور دې ښيي خلکو ته په هغې کې	دوه خطبې	وروسته له لمانځه	بیا دې خطبه ووایي

لَمْ يَقْضِهَا	مَعَ الْإِمَامِ	صَلَاةُ الْعِيدِ	وَمَنْ فَاتَتْهُ	وَأَحْكَامَهَا
قضائي دې نه راوړي	له امام سره	د اختر لمونځ	له چا چې قضاء شي	او د هغې احکام

بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ	وَشَهِدُوا عِنْدَ الْإِمَامِ	فَإِنْ غُمَّ الْهِلَالُ عَلَى النَّاسِ
په لیدلو د سپوږمۍ	او شاهدي ورکړه د امام پر وړاندې	بیا که پټه شوه سپوږمۍ له خلکو

بَعْدَ الزَّوَالِ	صَلَّى الْعِيدَ مِنَ الْغَدِ	فَإِنْ حَدَثَ عُذْرٌ	مَنَعَ النَّاسَ	
وروسته له زوال	لمونځ دې وکړي د اختر په دويمه ورځ	که پيدا شو داسې عذر	چې منع کړل خلک	
مِنَ الصَّلٰوةِ	فِي الْيَوْمِ الثَّانِي	لَمْ يُصَلِّهَا بَعْدَهُ	وَيُسْتَحَبُّ فِي يَوْمِ	
د لمانځه څخه	په دويمه ورځ	نو لمونځ دې نکوي وروسته له دې	او مستحب دے په ورځ	
الْأَضْحٰى	أَنْ يَغْتَسِلَ وَيَتَطَيَّبَ	وَيُؤَخِّرَ الْأَكْلَ	حَتّٰى يَفْرُغَ	مِنَ الصَّلَاةِ
د لوی اختر	چې غسل وکړي او خوشبو ولګوي	او وروسته کړي خوراک	تر دې چې فارغ شي	له لمانځه څخه
وَيَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلّٰى	وَهُوَ يُكَبِّرُ	وَيُصَلِّي الْأَضْحٰى	رَكْعَتَيْنِ	
او روان شي عيدګاه ته	او تکبير به وايي	او لمونځ به کوي د لوی اختر	دوه رکعته	
كَصَلَاةِ الْفِطْرِ	وَيَخْطُبُ بَعْدَهَا	خُطْبَتَيْنِ	يُعَلِّمُ النَّاسَ	
لکه لمونځ د واړه اختر	او خطبه به وايي وروسته له هغه	دوه خطبې	ور زده کوي به خلکو ته	
فِيهِمَا الْأُضْحِيَّةَ	وَتَكْبِيرَاتِ التَّشْرِيقِ	فَإِنْ حَدَثَ عُذْرٌ	يَمْنَعُ النَّاسَ	
په دواړو کې قرباني	او د تشريق تکبيرونه	بيا که پيښ شي داسې عذر	چې منع کوي خلک	
مِنَ الصَّلَاةِ	يَوْمَ الْأَضْحٰى	صَلَّاهَا مِنَ الْغَدِ	وَبَعْدَ الْغَدِ	
له لمانځه څخه	په ورځ د لوی اختر	نو لمونځ دې وکړي په دويمه ورځ	يا دريمه ورځ	
وَلَا يُصَلِّيهَا	بَعْدَ ذٰلِكَ			
او لمونځ دې نکوي	وروسته له دې			

د لغاتو حل: **غم عليه الامر**: پټيدل، **الهلال**: سپوږمی، **الغد**: راتلونکی سبا، **بعدالغد**: بل سبا يا دريمه
ورځ، **يتطيب**: خوشبو لګول، **المصلی**: عيدګاه تحقيق يې تير شوی دی، **الاضحية**: قرباني، **يوم الاضحی**: د
(پيښيدل)
ذی الحجه لسم تاريخ، ديته يوم النحر هم ويل کيږي، **حدث**: باب (ن) څخه مخته راتلل
خلاصه: امام له لمانځه څخه له فارغ کيدو وروسته دې دوه خطبې ووايي په هغو کې صدقه فطر او د
هغې احکام ور زده کړي چې صدقه فطر په کوم کس، کله څومره او په کوم شي سره واجب ده.
د کتاب صاحب دلته دری مسئلې بيان کړې دي:
(اوله مسئله) که چيرته له يو چا د اخترونو لمونځ قضاء شي نو د طرفينو په نزد د هغو قضائي نشته برابره
ده که د هغه په فاسد کولو سره وي، د امام ابو يوسف په نزد د فاسد کولو په صورت کې قضاء شته، فتوی
د طرفينو په قول باندې ده (د امام مالک په نزد قضاء نشته، د امام شافعي په نزد قضاء شته)

ﺩﻭﻳﻤﻪ مسئله﴾ که چیرته کوم عذر مثلا باران وغیره له امله په نه ویشتم د رمضان سپوږمۍ ونه لیدل شوه او په دیرشم د رمضان له زوال وروسته خلکو د امام پر وړاندې د سپوږمۍ لیدلو شاهدي ورکړه او امام یې شاهدي ومنله نو روژه دې ماته کړي او امام دې سبا ورځ خلکو ته لمونځ ورکړي، او که چیرته په دویم د شوال هم د کوم عذر له امله لمونځ اداء نکړی شو نو په دریم د شوال د لمانځه کولو اجازت نشته ﴿دریمه مسئله﴾ که چیرته د ذی الحجه په لسم تاریخ د کوم عذر له امله لمونځ اداء نکړی شو نو په یولسم تاریخ دې اداء کړی شي، او که په همدې تاریخ هم عذر موجود وه نو په دولسم تاریخ دې د اختر لمونځ اداء کړي، خو که چیرته په همدې تاریخ هم عذر موجود وه نو د هغه د تاخیر اجازت نشته. ځکه چې د لوی اختر لمونځ درې ورځې لسم یولسم دولسم د لمر تر زوال پورې کیدلی شي

وَتَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ أَوَّلُهُ	عَقِيبَ صَلَاةِ الْفَجْرِ	مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ
او د تکبیر تشریق ابتداء	وروسته ده له لمانځه د سهار څخه	د عرفه له ورځې
وَآخِرُهُ	عَقِيبَ صَلَاةِ الْعَصْرِ	مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ
او انتهاء یې	وروسته له لمانځه د مازدیگر	د قرباني په ورځ په نزد د امام ابوحنیفة رحمه الله
وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ	إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ	مِنْ آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ
او ویلي دي صاحبینو	تر لمانځه د مازدیگر دی	له اخیرې ورځې د تشریق
وَالتَّكْبِيرُ	عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ الْمَفْرُوضَاتِ	
او تکبیرونه	وروسته دي له فرضي لمنځونو	
اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ		

تشریح : د تشریق تکبیر د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد د ۹ ذی الحجې له سهار له لمانځه وروسته شروع دی او ختمیدل یې د ۱۰ د ذی الحجې له مازدیگر لمانځه وروسته دی، همدارنګه د امام صاحب رحمه الله په نزد صرف له اتو ﴿۸﴾ لمنځونو وروسته تکبیر تشریق ویل کیږي، همدارنګه د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد په ښځو باندې، د کلیو په اوسیدونکو باندې ﴿چیرته چې د جمعې لمونځ واجب نه وي﴾ په مسافر باندې او په تنها ﴿یوازې﴾ لمونځ کوونکي باندې تکبیر تشریق واجب نه دی، د صاحبینو په نزد د تکبیر تشریق ابتداء د ۹ ذی الحجې له سهار نیولې د ذی الحجې د دیارلسمې ورځې تر مازدیګره پورې دی، په همدې ډول چې ټول سره یو ځای کړل شي نو ۲۳ لمنځونه کیږي، همدارنګه د صاحبینو په نزد په هر هغه کس باندې تکبیر واجب دی کوم چې فرض لمونځ اداء کوي، برابره ده که په ښار کې وي او که په کلي کې، مسافر وي که مقیم وي، په جماعت سره یې کوي او که تنها، سړی وي که ښځه، فتوی او عمل د صاحبینو په قول باندې دی

د تکبیر تشریق ابتداء: کله چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله تعالی په حکم سره اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام ذبحه کاوه نو حضرت جبرئیل آمین عَلَیْهِ السَّلَام له جنت څخه د هغه عوض (بدل) راوړو را ورسید او له هغه سره ویره وه هسې نه چې ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام بیړه وکړي او حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام ذبحه کړي، چنانچه په همدې وخت کې د هغه په ژبه باندې دغه کلمات جاري وو (الله اکبر الله اکبر) حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام چې کله حضرت جبرئیل عَلَیْهِ السَّلَام ولید نو سمدستي یې وویل (لااله الاالله والله اکبر) او کله چې د حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام په عوض کې د فدیې له راتلو خبر نو وې فرمایل (الله اکبر ولله الحمد).

بَابُ صَلَاةِ الْكُسُوفِ

د کسوف لمانځه بیان

په صلوة العیدین او صلوة الکسوف کې مناسبت په دې ډول دی چې دواړه لمونځونه په ورځ کې له اذان او اقامت پرته اداء کیدلی شي، البته په دواړو کې یو څه فرق هم شته دی، او هغه دا ده چې اخترونه د خوشحالي او دا د غم موقع ده، همدارنګه په اخترونو کې د جماعت شرط او په زوره قرائت واجب دي خو په کسوف کې داسې ندي، همدارنګه په اخترونو کې خطبې دي او په کسوف کې خطبه نشته. او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ چې کومه خطبه ورکړې وه هغه یې له دې امله ورکړې وه چې په نبوي عهد کې په کومه ورځ چې کسوف اوشو په هماغه ورځ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لختې جګر حضرت ابراهیم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفات شوی وه د کوم چې اتلس میاشتې عمر وه، خلکو ګمان وکړ چې دا کسوف د هغه د مړینې له امله شوی د همدې خیال د تردید لپاره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خطبه ورکړې وه. البته امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د همدې واقعې له امله د دې قائل دی، بهر حال د کسوف لمانځه په مشروعیت باندې د امت اتفاق دی.

د کسوف لغوي معنی: بې نوره کیدل، د خسوف معنی نقصان

اصطلاحي تعریف: کسوف د لمر توریدا ته او خسوف د سپوږمۍ توریدا ته ویل کیږي، دغه قول د علامه عیني په قول افصح دی.

د کسوف لمانځه حکم: د لمر توریدا په وخت کې په جماعت سره لمونځ اداء کول متفق علیه مسئله ده، او دغه لمونځ د ائمه اربعه ؒ په نزد سنت مؤکده دی.

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې لمر کله تور شوی وو؟: په لومړي (اول) خل د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې په (۵ هجري) کال کې کسوف واقع شوی وو، او په دویم خل په هغه ورځ وشو په کومه ورځ چې د هغه صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ د زوی ابراهیم انتقام وشو، کوم چې د مشهور قول په بناء په (۱۰ هجري) کې مخته راغلی.

وَإِذَا كَسَفَتِ الشَّمْسُ	صَلَّى الْإِمَامُ	بِالنَّاسِ	رَكْعَتَيْنِ
کله چې تور شي لمر	لمونځ دې ورکړي امام	خلکو ته	دوه رکعته
كَهَيْئَةِ النَّافِلَةِ	فِي كُلِّ رَكْعَةٍ رُكُوعٌ وَاحِدٌ	وَيُطَوِّلُ الْقِرَاءَةَ	
د نفلو په شان	په هر رکعت کې رکوع ده يوه	او اوږد دې کړي قرائت	
فِيهِمَا	وَيُخْفِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَجْهَرُ	
په دواړو کې	او په کرار دې وايي په نزد د امام ابوحنيفة	او ويلي دي صاحبينو جهر دې وکړي	
ثُمَّ يَدْعُو بَعْدَهَا	حَتَّى تَنْجَلِيَ الشَّمْسُ	وَيُصَلِّي بِالنَّاسِ	
بيا دې دعا وکړي له لمانځه ورسته	تردې چې لمر رڼا شي	او لمونځ دې ورکړي خلکو ته	
الْإِمَامُ الَّذِي	يُصَلِّي بِهِمْ	الْجُمُعَةَ	فَإِنْ لَمْ يَحْضُرِ الْإِمَامُ
هغه امام	کوم چې لمونځ ورکوي دوی ته	د جمعې	که امام حاضر نه وو
صَلَّاهَا النَّاسُ	فُرَادَى	وَلَيْسَ فِي خُسُوفِ الْقَمَرِ	جَمَاعَةٌ
لمونځ دې وکړي خلک	تنها	او نشته په توريدا د سپوږمۍ کې	جماعت
وَإِنَّمَا يُصَلِّي كُلُّ وَاحِدٍ	بِنَفْسِهِ	وَلَيْسَ فِي الْكُسُوفِ خُطْبَةٌ	
بلکې لمونځ دې وکړي هر انسان	خپل	او نشته په توريدا د لمر کې خطبه	

دلغاتوحل: **الكسوف**: از انفعال د لمر توريدل، **تنجلى**: از انفعال رڼا کيدل، **فرادى**: تنها.

په کسوف لمانځه کې د ائمه ؤ اختلاف: (۱) د ائمه ثلاثه او جمهورو فقهاؤ په نزد په کسوف لمانځه قرائت سرا (پټ) سنت دی.

(۲) له حنفيانو څخه د صاحبينو او امام احمد رحمه الله په نزد جهرا (په زوره) قرائت سنت دی.

د ائمه ثلاثه ؤ استدلال د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه په روايت سره دی. ﴿قال صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فی کسوف لاتسمع له صوتا﴾ يعنې مونږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د کسوف لمونځ کاوه او د قرائت يو حرف مو هم ونه آوريده.

د صاحبينو استدلال: د حضرت عائشة رضي الله عنها په روايت سره دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د کسوف لمونځ کاوه او په هغه کې په زوره قرائت وکړ.

خواب: ذکر شوی روايت په نماز خسوف (د سپوږمۍ توريدا) په لمانځه باندې محمول دی.

فائده متاخرينو حنفيانو ويلي دي که چيرته د مقتدیانو د تنگيدلو ويره وه نو په کسوف لمانځه کې هم جهر کیدلی شي

ولیس فی الکسوف خطبة: احنافو او مالکیان د خطبې قائل ندي، د امام شافعي په نزد له کسوف لمانځه وروسته خطبه شته ده

بَابُ صَلَاةِ الِاسْتِسْقَاءِ

د استسقاء لمانځه بيان

د دې باب له تير شوي باب سره مناسبت داسې دی چې دواړه لمنځونه په يوه ستره اجتماع کې د غم او خفگان له امله اداء کيدلی شي، دا باب له صلوة کسوف څخه صرف له دې امله وروسته ذکر شوی چې د دې په سنتيت او عدم سنتيت کې د علماؤ په مابين کې اختلاف دی، د استسقاء لغوي معنی د اوبو غوښتل دي، د شرع په اصطلاح کې د وچکالي يا د باران نه کيدو په موقع له يوې خانگړي اندازې سره د دعا غوښتل يا د لمانځه کولو ته ویل کیږي، د محمدي امت له خصوصياتو څخه دی، په شپږمه هجري کې د دې ابتداء شوې ده، استسقاء د سخت ضرورت په وخت کې په داسې کې کول کيدی شي چيرته چې نه د ځان او نه د خپلو څناورانو لپاره د اوبو ورکولو ډنډ چينه وغيره نوي او که وي خو چې د ضرورت په اندازه نوي، کله چې د استسقاء لمانځه اراده وي نو مستحبه دا ده چې تر دريو ورځو پورې روژه ونيول شي او د توبې کولو حکم وکړی شي او په څلورم ورځ د عيدگاه طرفته ووځي، د دې ثبوت په کتاب الله (فقلت استغفروا ربکم) سنت رسول الله ﷺ او په اجماع سره دی چې له رسول الله ﷺ وروسته خلفاؤ او امت بلا نکير همداسې کړي دي

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ	لَيْسَ فِي الِاسْتِسْقَاءِ	صَلَاةٌ مَسْنُونَةٌ	بِالْجَمَاعَةِ
ويلي دي امام ابوحنيفة	نشته په استسقاء کې	لمونځ مسنون	په جماعت سره
فَإِنْ صَلَّى النَّاسُ	وُحْدَانًا	جَازَ	إِنَّمَا الِاسْتِسْقَاءُ الدُّعَاءُ
که لمونځ وکړ خلکو	تنها تنها	روا دي	او په تحقيق استسقاء دعا ده
وَالِاسْتِغْفَارُ	وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالَى		يُصَلِّي الْإِمَامُ
استغفار ده	او ويلي دي صاحبينو		لمونځ دې ورکړي امام
رَكْعَتَيْنِ	يَجْهَرُ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ	ثُمَّ يَخْطُبُ	وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ
دوه رکعته	جهر دې وکړي په دواړو کې په قرائت سره	بيا دې خطبه ووايي	مخامخ دې شي د قبلې طرفته

بِالدُّعَاءِ	وَيَقْلِبُ الْإِمَامُ رِدَاءَهُ	وَلَا يُقَلِّبُ الْقَوْمُ أَرْدِيَتَهُمْ
په دعاء سره	او وا دې اړوي امام څادر خپل	او نه دې اړوي قوم څادرونه خپل
وَلَا يَحْضُرُ	أَهْلُ الذِّمَّةِ	لِلْاِسْتِسْقَاءِ
او نه دې حاضريږي	ذميان	د استسقاء لپاره

تشريح: د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد استسقاء صرف دعا او استغفار دى او كه چيرته خلک تنها تنها لمونځ وكړي نو روا دى، ليكن په جماعت سره لمونځ كول مسنون ندي، او له دوي صلی الله علیه وسلم څخه په استسقاء كې كله لمونځ كول او كله په ترک كولو سره مسنون كيدل ثابت شوي ندي، بلكې د جواز ثبوت شوى دى او سنت هغه دي په كوم باندې چې دوي صلی الله علیه وسلم هميشه والى كړى وي، او د صاحبينو په نزد امام دې دوه ركعته لمونځ وكړي، امام مالک رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله د دې قائل دي، د يوه روايت مطابق امام ابويوسف رحمه الله له امام صاحب سره دى.

ثم يخطب الخ: امام صاحب د جماعت قائل ندى نو د خطبې سوال له كومه شو، البته صاحبين د دې قائل دي، امام ابويوسف د يوې خطبې او امام محمد د دوه خطبو قائل دي په كومو كې چې د دعا او استغفار زيات اهتمام كول پكار دي.

ويقلب الامام: د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد استسقاء يوه دعا ده نو څكه په هغې كې قلب رداء نشته او د امام محمد رحمه الله امام ابويوسف رحمه الله امام مالک رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد امام دې قلب رداء وكړي (يعني څادر دې واړوي) له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د دې ثبوت ترلاسه شوى دى، فتوى د امام محمد رحمه الله په قول باندې ده، د دې طريقه دا ده چې كه چيرته څادر څلور كونجه وى نو ښكته برخه دې پورته او پورته برخه دې ښكته كړي، او كه چيرته گرد وى نو ښى برخه دې په چپه اوږه باندې او چپه برخه دې په ښى اوږه باندې كړي په دې ډول چې دواړه لاسونه شا طرفته ويوړل شي او په ښي لاس سره دې د چپ لاس كوزه برخه او په چپ لاس سره دې د ښي لاس كوزه برخه ونيول شي

ولا يحضر اهل الذمة: دا چې استسقاء د رحمت باران وريدو لپاره دعا ده او په كافر او ذمي باندې د خداى تعالى د لعنت باران وريږي نو څكه په دې كې ذمي خلكو ته په دې كې د شركت كولو حكم نكول كيږي، هو!! كه چيرته په خپله پكې شريک شي نو هغوى دې نه منعه كول كيږي لكه چې امام شافعي او امام احمد ويلي دي.

بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

په رمضان المبارک کې د تراويح کولو بيان

له قيام شهر رمضان څخه مراد تراويح دي، د تراويحو لمونځ له نفلونو څخه په ډيرو شيانو کې امتياز لري نو ځکه ورته مستقل باب راوړی شو، په تراويحو کې د ننه د جماعت کيدل، د رکعتونو د شمير معلومول، په مخصوصو ورځو يعنې رمضان کې کول، يو ځل د قرآن کريم ختم کول بله دا چې دا له شپې سره خاص شوې دی نفلونه له دې ټولو خصوصياتو څخه خالي دي، د رسول الله ﷺ تراويح کول په صحيح احاديثو سره ثابت دي، رسول الله ﷺ صرف په امت باندې د فرض کيدو له ويرې پرې هميشه والې ندی کړې، رافضي له تراويحو منکر دی.

تراويح له نبي کريم ﷺ څخه ثابت دي: تراويح نبي کريم ﷺ درې شپې کړې دي، بيا صحابه کرامو رضي الله عنهم له رسول الله ﷺ وروسته په دې باندې پابندي کړې ده، لهذا تراويح په جماعت سره شوې.

له نبي کريم ﷺ څخه د شلويښتو رکعتونو ثبوت: حضرت ابن عباس رضي الله عنه ويلي دي چې نبي کريم ﷺ په رمضان کې شل رکعته له وترو پرته اداء کړي دي

د قرانکريم ختم او تراويح جلا جلا سنت دي: په رمضان المبارک کې تراويح جلا سنت دي او په تراويح کې کم له کمه يو ځل د قرآنکريم ختم کول جلا سنت دي، کوم مؤمن بنده چې له الله تعالی څخه د رحمت اميد لري په پابندي سره د تراويح لمونځ اداء کوي، الله تعالی د هغه مخکني ټول ګناهونه معاف کوي

وَيُسْتَحَبُّ	اَنْ يَّجْتَمِعَ النَّاسُ	فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ	بَعْدَ الْعِشَاءِ
مستحبه ده	چې جمع شي خلک	په مياشت د رمضان کې	وروسته له ماسخوتن
فَيُصَلِّيَ بِهِمْ إِمَامُهُمْ	خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ	فِيْ كُلِّ تَرْوِيحَةٍ	تَسْلِيْمَتَانِ
لمونځ دې ورکړي دوی ته امام	پنځه تراويح	په هره ترويحه کې	دوه سلامه وي
وَيَجْلِسُ	بَيْنَ كُلِّ تَرْوِيحَتَيْنِ	مِقْدَارَ تَرْوِيحَةٍ	ثُمَّ يُوْتِرُ بِهِمْ
کښيني به	په مينځ د هرو ترويحو کې	په اندازه د يوې ترويحې	بيا وتر ورکړي دوی ته
وَلَا يُصَلِّي الْوِتْرَ	بِجَمَاعَةٍ	فِيْ غَيْرِ شَهْرِ رَمَضَانَ	
او لمونځ دې نکوي د وترو	په جماعت سره	پرته له مياشتې د رمضان	

خلاصه : د قدوري صاحب ویلي دي چې د رمضان په میاشت کې له ماسختون وروسته دې د تراویحو لپاره د خلکو راټولېدل مستحب دي، امام دې تراویح له پنځو تراویحو سره وکړي او هره ترویحه دې په دوه سلامونو باندې مشتمل وي او د هرو دوه ترویحو په مینځ کې دې د یوې ترویحې په اندازه د آرام کولو په نیت کښیني. له دې وروسته دې د وترو لمونځ وکړي، له دې میاشتې پرته په کومه بله میاشت کې دې وتر په جماعت سره نکوي (لیکن که وکړي شي نو روا دي خو له کراهیت څخه خالي ندي)

تشریح : **یستحب** : د رمضان په میاشت کې شل رکعته تراویح سنت مؤکده دي او په جماعت سره کول یې مستحب دي، د زیاترو مشائخو او علماؤ همدا نظر دی، د یستحب لفظ مطلب هم همدا دی.

خمس ترویحات : له روایتونو څخه له شلو څخه د زیاتو رکعتونو ثبوت ترلاسه شوی دی، خو جمهور علماء، امام ابو حنیفه، امام شافعي او د یوه قول په اعتبار سره امام مالک هم د شلو رکعتونو قائل دي

بَابُ صَلَاةِ الْخَوْفِ

د ویرې د لمانځه بیان

د دې باب له تیر باب سره مناسبت بحیثیت تضاد دی، ځکه چې د رمضان قیام د خوشحالي د کیفیت لپاره شوی دی او په خوف کې د خزن او خفګان کیفیت دی خوشحالي او خفګان دواړه متضاد دي، صلوة الخوف هغه لمانځه ته ویل کیږي کوم چې د کفارو د ویرې یا له دښمن سره د مخامخ کېدو له ویرې کیږي، دا لمونځ په کتاب او سنت سره ثابت دی د دې د مشروعیت د خندق له غزا وروسته شوی دی، د جمهورو علماؤ په دې باندې اتفاق دی چې دا لمونځ تر عهد رسالت پورې مخصوص وه او نه صرف د سفر لپاره بلکې دا لمونځ اوس هم باقي او ثابت دی او د سفر او حضر دواړو لپاره دی د احنافو همدا مسلک دی، د امام مالک رحمه الله په نزد صرف د سفر لپاره مخصوص دی، د حسن بن زیاد او امام ابویوسف رحمه الله په نزد صرف د عهد رسالت لپاره مخصوص وه ځکه چې د دوې صلی الله علیه وسلم په موجودیت کې بل څوک امام نشو جوړېدلی او اوس ممکن ده چې یو له بل وروسته دوه امامان لمونځ وکړي خو اوس د دې ضرورت باقي پاتې ندی، او په وروسته کې امام ابویوسف رحمه الله د جمهورو علماؤ قول طرفته رجوع کړې وه ګوا که دی هم د عمومیت قائل دی، د دې د اداء کولو چې څومره طریقې هم په احادیثو کې منقولې دي د علماؤ په نزد ټولې معتبرې دي، البته اختلاف صرف د ترجیح په باره کې دی، لهذا امام ابو حنیفه رحمه الله صرف هغې طریقې ته ترجیح ورکړې ده کومه چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په روایت سره منقوله ده، د احادیثو کتابونو له مطالعه معلومه شوې ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة الخوف تقریبا څلرویشت ځلې اداء کړی دی، د فتح طبرستان په موقع باندې حضرت حذیفه د لښکر سعید بن المعاص صلوة الخوف یو یو رکعت اداء کړی (ابو داؤد) حضرت علي رضي الله عنه د جنګ صفین په موقع صلوة الخوف اداء کړ او دا د ماښام لمونځ وه (بیهقي)

إِذَا اشْتَدَّ الْخَوْفُ	جَعَلَ الْإِمَامُ النَّاسَ	طَائِفَتَيْنِ	طَائِفَةً	
کله چې سخته شي ویره	ودې ګرځوي امام خلک	دوه ډلې	یوه ډله	
إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ	وَطَائِفَةً خَلْفَهُ	فَيُصَلِّي بِهَذِهِ الطَّائِفَةِ		
طرف د دښمن ته	او بله ډله د خان شاته	لمونځ دې ورکړي همدغې ډلې ته		
رَكْعَةً	وَسَجْدَتَيْنِ	فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ	مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ	
یو رکعت	او دوه سجدې	کله چې راپورته کړي سر خپل	له دویمې سجدې څخه	
مَضَتْ هَذِهِ الطَّائِفَةُ	إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ	وَجَاءَتْ تِلْكَ الطَّائِفَةُ		
ولاړه دې شي دغه ډله	طرف د دښمن ته	او را دې شي هغه بله ډله		
فَيُصَلِّي بِهِمُ الْإِمَامُ	رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ	وَتَشَهَّدَ	وَسَلَّمَ	
لمونځ دې ورکړي دوي ته امام	یو رکعت او دوه سجدې	تشهد دې ووایي	او سلام دې وګرځوي	
وَلَمْ يُسَلِّمُوا	وَذَهَبُوا إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ	وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُولَى		
او سلام دې نه ګرځوي دغه ډله	ولاړه دې شي طرف د دښمن ته	او را دې شي لومړی ډله		
فَصَلُّوا وُحْدَانًا	رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ	بِغَيْرِ قِرَاءَةٍ	وَتَشَهَّدُوا	وَسَلَّمُوا
لمونځ دې وکړي تنها تنها	یو رکعت او دوه سجدې	بغیر له قرائته	تشهد دې ووایي	او سلام دې وګرځوي
وَمَضَوْا إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ	وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى	وَصَلَّوْا		
او ولاړه دې شي طرف د دښمن ته	او را دې شي دویمه ډله	او ودې کړي		
رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ	بِقِرَاءَةٍ	وَتَشَهَّدُوا	وَسَلَّمُوا	
یو رکعت او دوه سجدې	په قرائته سره	تشهد دې ووایي	او سلام دې وګرځوي	

د لغاتو حل: **اشتد**: از افتعال قوي کېدل (سختېدل) **اشتد الخوف**: د ویرې زیاتېدل، **العدو**: د دښمن مقابله، له دښمن سره مخامخ کېدل، **طائفة**: ډله، **وحدانا**: تنها (یوازې)

تشریح: **اذا اشتد الخوف**: ظاهري عبارت په دې خبره باندې دلالت کوي چې د صلوة خوف د جواز لپاره ویره شرط ده، او د علماؤ په نزد داشې نده، بلکې د دښمن مخته موجودیت کافي دی، له همدې امله د دښمن خینو حضراتو حقیقي معنی نده مراد کړې صرف د دښمن حاضرېدل یې مراد اخیستي، پس د دښمن شتون د ویرې قائم مقام دی، لکه نفس سفر د مشقت قائم مقام دی د قصر صلوة او رخصت افطار سبب دی.

د صلوة الخوف کولو په احاديثو کې مختلفې طريقې راغلې دي

د ويرې لمانځه د اداء کولو طريقه (۱) د احنافو په نزد که چيرته د مسلمانانو امام (د لښکر امير) مسافر دی نو بهتره دا ده چې لښکر دوه ډلې جوړ کړي، يوه ډله د دښمن په مقابل کې ودروي او يوه ډله د امام شاته، امام دې دوی ته يو رکعت ورکړي چې يو رکعت وکړي دغه ډله دې د دښمن مقابلې ته ولاړه شي او کومه ډله چې د دښمن په مقابله کې وه هغه دې د امام شاته راشي امام دې هغو ته هم يو رکعت ورکړي، چونکه د امام دوه رکعته شول نو ځکه دې هغه خپل لمونځ په تنهائي کې پوره کړي او سلام دې وګرځوي، او دغه دويمه ډله کومې چې له امام سره يو رکعت وکړ د دښمن مقابلې ته دې ولاړه شي، له دې وروسته لومړنی ډله دې خپل پاتې رکعت همدلته يا چيرته چې جماعت شوی وو هلته دې ولاړه شي رکعت دې وکړي او سلام دې وګرځوي، او دغه يو رکعت دې له قرائت پرته پوره کړي، ځکه چې دوی لاحق دي او په لاحق باندې قرائت نشته دی، بيا دې له دې وروسته همدغه ډله د دښمن مقابلې ته ولاړه شي او دويمه ډله دې هم باقي مانده رکعت پوره کړي، او که چيرته د لښکر امير مقيم دی نو لومړنۍ ډلې ته دې هم دوه رکعته ورکړي او دويمې ډلې ته دې هم دوه رکعته ورکړي، او که چيرته د ماښام لمونځ وو نو لومړنۍ ډلې ته دې دوه رکعته ورکړي او دويمې ته دې يو رکعت ورکړي

(۲) د ائمه ثلاثه ؤ په نزد بهتر صورت دا دی کله چې اوله ډله له امام سره يو رکعت وکړي نو هغه دې همدا وخت دويم رکعت تنها وکړي سلام دې وګرځوي او د دښمن مقابلې ته دې ولاړه شي، امام دې دومره وخت ودريږي انتظار دې وکړي، بيا دې دويمه ډله راشي امام دې هغې ته يو رکعت ورکړي او تنها دې سلام وګرځوي او دغه ډله دې همدا وخت دويم رکعت هم وکړي

د حنفيانو د مذهب د ترجيح وجه: حنفيانو چې د ويرې لمانځه کومه طريقه غوره کړې ده هغه له ترتيب سره زياته موافقه ده، ځکه چې د ائمه ثلاثه ؤ په طريقه کې اوله ډله له امام څخه مخکې له لمانځه څخه فارغيږي کومه چې موضوع امامت خلاف ده.

فَإِنْ كَانَ مُقِيمًا	صَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُولَى	رَكْعَتَيْنِ	وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَتَيْنِ
که وه امام مقيم	لمونځ دې ورکړي لومړۍ ډلې ته	دوه رکعته	او دويمې ډلې ته دوه رکعته
وَيُصَلِّي بِالطَّائِفَةِ الْأُولَى	رَكْعَتَيْنِ	مِنَ الْمَغْرِبِ	وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَةً
او ورد ې کړي لومړۍ ډلې ته	دوه رکعته	د ماښام	او دويمې ډلې ته يو رکعت
وَلَا يُقَاتِلُونَ	فِي حَالِ الصَّلَاةِ	فَإِنْ فَعَلُوا ذٰلِكَ	بَطَلَتْ صَلَاتُهُمْ
او جګړه دې نکوي	د لمانځه په حالت کې	که يې همداسې وکړل	نو باطليږي لمونځ د دوی
وَإِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ	صَلَّوْا رُكْبَانًا وُحْدَانًا		يُومِئُونَ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ
او که سخته شوه ويره	لمونځ دې وکړي په سپرلۍ باندې تنها		په اشاره دې وکړي رکوع او سجده

اِلٰى أَيِّ جِهَةٍ شَاءُوْا	اِذَا لَمْ يَقْدِرُوْا	عَلَى التَّوَجُّهِ اِلَى الْقِبْلَةِ
هر طرفته يې چې خوښه شي	كه قادر نه وي	په مخامخ كيدو باندې طرف د قبلې ته

خلاصه په دې عبارت كې د كتاب صاحب دوه مسئلې بيان كړې دي (اوله مسئله) كه چيرته امام مقيم دی نو هر يوې ډلې ته دې دوه دوه ركعته وركړي (څكه چې دی د اقامت په حالت كې د ماسپښين لمونځ همداسې كوي) او د ماښام په لمانځه كې لومړی ډلی ته د هغې د مقدم والي له امله دوه ركعته او دويمې ډلې ته دې يو ركعت وركړي (څكه چې د ماښام په لمانځه كې تصنيف ممكن ندی) او د لمانځه په حالت كې د جګړې په كولو سره لمونځ باطليږي (دويمه مسئله) كه چيرته د دښمن ويرې دومره سختوالی غوره كړ چې مسلمانانو ته له سپرلۍ كوزيدل او د لمانځه كولو موقع نه ملاويدله نو په همداسې صورت كې دې په سپرليو باندې د سپوروالي په حالت كې دې ركوع او سجده په اشارې سره وكړي هر طرفته يې چې قدرت وي تنها تنها دې وكړي، او كه چيرته د دې قدرت هم نه وه نو قضاء دې كړي

بَابُ الْجَنَائِزِ

د جنازې بيان

د دې باب له ماقبل باب سره مناسبت په دې ډول دی چې لومړی د هغو لمنځونو ذكر وه د كومو تعلق چې د انسان له ژوند سره وه اوس د هغه لمانځه ذكر دی كوم چې د هغه له مرينې وروسته او په زمكه كې له ښخيدو مخكې ضروري دی، يا دا چې ډير وخت ويره د مرينې سبب كيږي نو څكه د جنازې لمونځ د ويرې له لمانځه وروسته ذكر كړی شو، يا دا چې د انسان ته په وريښيدونكو ټولو عوارضو كې مرګ اخيرنی عارض دی نو څكه د جنازې لمونځ له ټولو په اخير كې ذكر كړی شو او الصلوة فی الكعبة بيا له ټولو وروسته د دې لپاره ذكر شوی دی چې د كتاب الصلوة اختتام بركتني شي

الجنائز: دا د جنازه جمع ده لغوي معنی يې ده جمع كول، جيم بالفتح والكسر دواړه استعمال شوی دی خو بالكسر افصح دی، په اصطلاح كې جنازه مړي ته ويل كيږي كوم چې په تخته يا تابوت باندې وي، ځينو حضراتو ويلي دي چې جنازه بفتح الجيم د مړي لپاره مستعمل شوی دی او بكسر الجيم هغه تخت ته ويل كيږي په كوم باندې چې مړی اچولی شي او وړلی شي، او ځينو د دې برعكس ويلي دي، يعنې بالفتح د مړي تخته او بالكسر مړي ته ويل كيږي

وَاِذَا احْتُضِرَ الرَّجُلُ	وُجِّهَ اِلَى الْقِبْلَةِ	عَلٰى شِقِّهِ الْاَيْمَنِ
كله چې انسان مرګ ته نږدې شي	نو ودې ګرځول شي د قبلې طرفته	په ښي اړخ باندې

وَلُقِّنَ الشَّهَادَتَيْنِ	فَإِذَا مَاتَ	شَدُّوا لِحْيَتَهُ
او د شهادتينو تلقين دې ورته وکړی شي	کله چې مړ شي	ودې تړل شي زنې د هغه
وَغَمَّضُوا عَيْنَيْهِ		
او بندې دې کړي د هغه سترگې		

د لغاتو حل: **احتضر**: باب افتعال څخه مصدر احتضار دی مرگ ته نږدې کېدل، **شق**: طرف، **شقة الايمن**: ښی طرف، ښی اړخ، **لقن**: مصدر تلقين دی، **تلقين**: په شهادتينو کې هم داسې کېږي چې د هغه پر وړاندې کلمه ويل کېږي ترڅو چې هغه پوه شي او وې وايي، **شدوا**: (ض ن) شدا تړل، **لحية**: زنه، **غمضوا**: مصدر تغميض دی **تغميض العين**: د سترگو بندول.

تشريح: کله چې انسان مرگ ته نږدې شي نو د هغه څه نښې ليدل کېږي، مثلا دواړه قدمونه يې سست شي، په پوزه کې کوږوالی راشي، د سترگو رڼائي ختمه شي وغيره د همداسې کيفيت په وخت کې دې همداسې کس د قبلې طرفته مخامخ کړی شي او د شهادتينو تلقين دې ورکړی شي، هغه دې حکم نکول کېږي ځکه چې دا د ډېر سخت تکليف وخت دی نعوذ بالله که چېرته هغه انکار وکړي نو خاتمه به يې په کفر شي، نبوي ارشاد دی (لقنوا موتاکم شهادة ان لااله الاالله) له دې وروسته دې د مړي زنې په کپړه يا بل څه باندې وتړي او دواړه سترگې دې بندې کړي، له لويانو څخه همدا طريقه را روانه ده.

فَإِذَا أَرَادُوا غُسْلَهُ	وَضَعُوهُ عَلَى السَّرِيرِ	وَجَعَلُوا عَلَى عَوْرَتِهِ
کله چې اراده وکړي د غسل ورکولو	وادې اچول شي په تخته باندې	او وادې اچوي په عورت باندې
وَنَزَعُوا ثِيَابَهُ خِرْقَةً	وَوَضَّئُوهُ	وَلَا يُمَضْمِضُ وَلَا يُسْتَنْشَقُ
ټوټه او ودې باسي د هغه جامې	اودس دې ورکړي	خو غرغره او استنشاق دې نه ورکوي
ثُمَّ يُفِيضُونَ الْمَاءَ عَلَيْهِ	وَيُجَمِّرُ سَرِيرَهُ وِتْرًا	وَيُغْلَى الْمَاءُ
بيا دې واچول شي اوبه په هغه باندې	ودې مېنځل شي تخته طاق	او جوش دې شي اوبه
بِالسِّدْرِ أَوْ بِالْحُرُضِ	فَإِنْ لَمْ يَكُنْ	فَالْمَاءُ الْقَرَاحُ
د بېرې په پاڼو يا په اشنان گياه سره	که دا موجود نه وي	بيا خالص اوبه کافي دي
وَيُغْسَلُ رَأْسُهُ	وَلِحْيَتُهُ بِالْخِطْمِيِّ	ثُمَّ يُضْجَعُ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ
او ودې مېنځل شي د هغه سر	او د هغه ږيره په خطمي سره	بيا دې واړول شي په چپ اړخ باندې

فَيَغْسَلُ بِالْمَاءِ وَالسِّدْرِ	حَتَّى يُرَى أَنَّ الْمَاءَ وَصَلَ		
ودې مينځل شي په اوبو او د بيرې په پاڼو	تردې چې ووينې چې اوبه رسيدلې دي		
إِلَى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ	ثُمَّ يُضْجَعُ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ		
کومه برخه چې له تختې سره لګيدلې وي	بيا دې وارول شي په ښي ارخ باندې		
فَيُغْسَلُ بِالْمَاءِ	حَتَّى يُرَى أَنَّ الْمَاءَ قَدْ وَصَلَ		
بيا دې ومينځل شي په اوبو سره	تردې چې معلومه شي چې اوبه ورسيدې		
إِلَى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ	ثُمَّ يُجْلِسُهُ	وَيُسْنِدُهُ إِلَيْهِ وَيَمْسَحُ بَطْنَهُ	
کومه برخه چې له تختې سره لګيدلې ده	بيا دې راکښينوي	او خانته دې را تکيه کړي او خيټه دې ومښي	
مَسْحًا رَقِيقًا	فَإِنْ خَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ	غَسَلَهُ	وَلَا يُعِيدُ غُسْلَهُ
په کرار مښلو سره	که ووځي له هغه کوم شی	ودې مينځل شي	او غسل دې يې نه راګرځوي
ثُمَّ يُنَشِّفُهُ فِي ثَوْبٍ	وَيُدْرِجُ فِي أَكْفَانِهِ	وَيَجْعَلُ الْحَنُوطَ	
بيا دې وچ کړی شي په جامې سره	او تاو دې کړي شي په کفنو کې	او ودې لګول شي خوشبو	
عَلَى رَأْسِهِ	وَلِحْيَتِهِ	وَالْكَافُورُ	عَلَى مَسَاجِدِهِ
د هغه په سر	او ږيره باندې	او کافور	د سجدې په اندامونو باندې

خلاصه : په دغه بشپړ عبارت کې مړي ته د غسل ورکولو کيفيت بيان شوی، چنانچه د قدوري امام رحمه الله ويلي دي چې کله مړي ته د غسل ورکولو اراده وکړی نو کومه تخته په اګربتي يا وغيره خوشبو لرونکي شي باندې پريمينځي، له درې پنځو يا اوو ځل مينځلو وروسته مړی په هغې باندې واچوی او جامې ترينه وباسي، او کومه بله جامه له نامه نيولې تر زنګنونو پورې پرې واچوی ترڅو چې همدغه بدن پټ شي، ځکه چې د ستر پټول فرض دي.

د غسل ورکولو طريقه دا ده چې مړي ته استنجاء ورکړی، ليکن د هغه په ورانه او د استنجاء پر ځای خپل لاس مه لګوی، بيا هغه ته اودس ورکړی، ليکن مه غرغره ورکوی او مه يې په خوله کې اوبه ور اچوی، او مه يې لاسونه مينځې، بلکې لومړی (اول) يې مخ ومينځی، بيا يې دواړه لاسونه له څنګلو سره بيا د سر مسح بيا دواړه پښې، که چيرته درې خلې لامده شوي مالوچ په غاښونو باندې ومښل شي او د پوزې په دواړو سوريو (سپږمو) کې ووهل شي نو هم روا دي، او که چيرته مړی د ناپاکي په حالت کې مړ شوی دی نو په همدې ډول يې خولې او پوزې ته اوبه رسول ضروري دي، او په پوزه، خوله

او غوږونو کې یې مالوچ ورکیږدي ترڅو چې د اوداسه په وخت او د غسل ورکولو په وخت کې اوبه دننه ولاړې نشي
د اوداسه له ورکولو وروسته سر او ږیره یې په ګل خیرو، یا صابن یا وغیره په کوم سره چې صفا کیږي ومینځي. بیا مړی په چپ اړخ باندې واچوي د بیرې پاڼې پکې واچوي په پخو نیمه ګرمې اوبه درې ځلې له سر څخه تر پښو پورې پرې واچوي ترڅو چې ښي طرفته یې ورسیږي، همدارنګه په ښي اړخ یې واچوي او اوبه پرې واچوي. له دې وروسته مړي ته د خپل بدن تکیه ورکړي لږ یې راکښینوي او د هغه خېټه په کرار کرار ومښي او زور ورکړي، که چیرته مرداري را ووځي هغه صفا کړي او وې مینځي. دوباره اوداسه او غسل ته ضرورت نشته

وَالسُّنَّةُ أَنْ يُكَفَّنَ الرَّجُلُ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ إِزَارٌ وَقَمِيصٌ وَلِفَافَةٌ
سنت دا ده چې کفن ورکړی شي سړي ته په دریو جامو کې ازار قمیص او لفافه

فَإِنِ اقْتَصَرُوا عَلَى ثَوْبَيْنِ جَازَ وَإِذَا أَرَادُوا لَفَّ اللِّفَافَةِ عَلَيْهِ
که یې اکتفاء وکړه په دوو جامو نو روا دي او کله چې د لفافه تاوه ول وغواړي په مړي باندې

ابْتَدَءُوا بِالْجَانِبِ الْأَيْسَرِ فَأَلْقَوْهُ عَلَيْهِ ثُمَّ بِالْأَيْمَنِ فَإِنْ خَافُوا
نو شروع وکړي له طرف چپ څخه وادې اچول شي په مړي بیا دې شروع وکړي له ښي طرف څخه که ویره وه

أَنْ يَنْتَشِرَ الْكَفَنُ عَنْهُ عَقَدُوهُ وَتُكَفَّنُ الْمَرْأَةُ فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ
چې منتشر به شي کفن له مړي نو هغه دې وتړل شي او کفن ورکول کیږي ښځې ته په پنځو جامو کې

إِزَارٌ وَقَمِيصٌ وَخِمَارٌ وَخِرْقَةٌ تُرْبَطُ بِهَا ثَدْيَاهَا وَلِفَافَةٌ
ازار کرته ټیکری او یو پټی په کومه چې تړل کیږي د هغې تیونه او یوه لفافه

فَإِنِ اقْتَصَرُوا عَلَى ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ جَازَ وَيَكُونُ الْخِمَارُ
که اکتفاء وکړی شي په دریو جامو باندې نو روا دي او وي به ټیکری

فَوْقَ الْقَمِيصِ تَحْتَ اللِّفَافَةِ وَيُجْعَلُ شَعْرُهَا عَلَى صَدْرِهَا
د پاسه په قمیص او لاندې له لفافې څخه او کیدې ږدي ویښتان د هغې په سینه باندې

وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُ الْمَيِّتِ وَلَا لِحْيَتُهُ وَلَا يُقَصُّ ظُفْرُهُ
او نه دې ګومنځ کیږي ویښتان د مړي او نه ږیره او نه دې پرې کیږي نوکان د هغه

وَلَا يُقَصُّ شَعْرُهُ وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ قَبْلَ أَنْ يُدْرَجَ فِيهَا وِتْرًا
او نه دې ویښتان پرېکوي او ودې مینځل شي کفن مخکې له دې چې تاو کړی شي په هغو کې طاق

دلغاتوحل ازار: ځادر، **قمیص**: قمیص (کفني) **لفافه**: لفافه، **لف**: تاوه ول، **خمار**: ټیکری، **خرقه**: پټی، **تربط**: تړل، **ثدیا**: تیونه، د اضافت له امله نون د تثنیه لویدلی دی، **صدر**: سینه، **یسرح**: ګومنځول، **یقص**: (ن) څخه مصدر دی قصا پریکول، ظفر: نوکان جمع اظفار، **تجمر**: مصدر تجمیر جمر الثوب پریمنځل

تشریح: **والسنة**: کفن په دری قسمه دي (اول) مسنون کفن (دویم) کفایه کفن (دریم) ضروري کفن، د قدوري صاحب لومړی د دوه قسمونو بیان کړی دی او دریم قسم د هدایه صاحب ذکر کړی دی. ویل شوي دي چې د سړي لپاره مسنون کفن دری جامې دي (اول) ازار کوم چې له سر څخه تر پښو پورې وي (دویم) قمیص کوم چې بغیر له غاړې او ړستوني وي له غاړې څخه تر قدمونو پورې (دریم) لفافه له سر څخه تر پښو پورې وي، او په کفن کفایه کې دوه جامې دي (اول) ازار (دویم) لفافه، حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه د حکم مطابق د ده په دوه جامو کې کومې یې چې د ناروغي په حالت کې اغوستې وې کفن کړی شوی وه، د ښځو په حق مسنون کفن پنځه جامې دي (اول) کرته (دویم) ازار (دریم) ټیکری، (څلورم) لفافه (پنځم) سینه بند، او په کفن کفایه کې دری جامې دي (اول) ازار (دویم) لفافه (دریم) ټیکری، واضحه دې وي چې کفن د مړي له اینښودو مخکې طاق خلې مینځل کیږي، دریم قسم کفن ضرورت یعنې کوم چې میسر وي، لهذا حضرت مصعب بن عمیر رضي الله عنه په یوه جامه کې کفن کړی شوی وه، په کفن کې اوني کپړه بهتره ده، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې سپینې جامې واغوندی څکه چې دا بهترینې کپړې دي او په هغو کې خپلو مړو ته کفن ورکړی.

ویکون الخمار: د ښځو د کفن کولو طریقه دا ده چې اول دې ځادر وغوړول شي، بیا ازار، له هغه وروسته کرته، اول دې کرته ور واغوستل شي، د سر ویښتان دې دوه برخې کړی شي په کرته له پاسه په سینه دې واچول شي چې یوه برخه یې ښي طرفته شي او بله برخه چپ طرفته، له دې وروسته د کتاب صاحب ویلي دي چې د مړي په ویښتانو کې دې نه ګومنځ وهل کیږي، نه یې نوکان غوځ کړی او نه یې کوم بل ویښته غوځ کړی په خپل حالت یې پریږدی، بیا فرمایي لومړی (اول) دې کفن دری یا پنځه یا اووه خلې په لوبان(۱) یا بل څه سره ومینځل شي، بیا په هغه کې مړي ته کفن ورکړی.

ولایسرح: که چیرته د مړي نوکان کټ کړی شي یا یې ویښتان پریکړل شي نو هغه دې په کفن کې کیښودل شي، څکه چې دغه شیان د زینت لپاره دي او د مړي لپاره سهي ندي.

وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ عَلَيْهِ	صَلُّوا عَلَيْهِ	فَإِذَا فَرَغُوا مِنْهُ
او اولی په خلکو کې د امامت په هغه باندې	لمونځ دې وکړي په هغه	کله چې فارغ شي له دې

(۱) دا یو ډول خوشبو ده چې په اور باندې په اینبودلو سره خوشبو ورکوي (فیروز اللغات).

السُّلْطَانُ	إِنْ حَضَرَ	فَإِنْ لَمْ يَحْضُرْ	فَيُسْتَحَبُّ تَقْدِيمُ
بادشاه دی	که حاضر وه بادشاه	او که حاضر نشو	مستحبه ده وړاندې کېدل
إِمَامِ الْحَيِّ	ثُمَّ الْوَلِيِّ	فَإِنْ صَلَّى عَلَيْهِ	غَيْرُ الْوَلِيِّ وَالسُّلْطَانِ
د محله امام ته	بيا ولي ته	که لمونځ وکړي په مړي باندې	له ولي يا بادشاه پرته بل څوک
أَعَادَ الْوَلِيُّ		وَإِنْ صَلَّى عَلَيْهِ الْوَلِيُّ	لَمْ يَجُزْ أَنْ يُصَلِّيَ أَحَدٌ
راودې ګرځوي ولي		او که لمونځ کړې وي ولي	روا نه ده چې لمونځ وکړي پرې بل څوک
بَعْدَهُ	فَإِنْ دُفِنَ	وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ	
وروسته له هغه	که دفن شوی وي	او لمونځ نه وي شوی په هغه باندې	
صَلَّى عَلَى قَبْرِهِ	إِلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ	وَلَا يُصَلَّى	
نو لمونځ دې وکړي په قبر باندې	تر دريو ورځو پورې	او لمونځ دې نکول کيږي	
بَعْدَ ذَلِكَ	وَيَقُومُ الْمُصَلِّي	بِحِذَاءِ صَدْرِ الْمَيِّتِ	
وروسته له دې	او ودې دريږي لمونځ ورکوونکی	برابر سينې د مړي ته	

د امامت مستحق څوک دی؟

خلاصه: مړي ته له غسل او کفن ورکولو وروسته په هغه دې لمونځ وکړی شي، د جنازې لمانځه زيات مستحق د وخت بادشاه دی که چيرته په همدې موقع باندې موجود وه، او نه موجوديت په صورت کې دې د محله امام وړاندې شي، او د دوی دواړو په نه شتون کې ولي ته د امامت حق حاصل دی، که چيرته له ولي او بادشاه پرته کوم بل دريم کس د جنازې لمونځ وکړي نو ولي ته د لمانځه راګرځولو حق شته دی، خو د ولي لخوا د کولو په صورت کې هيڅا ته دوباره د جنازې کولو حق نشته، او که چيرته له لمونځ څخه مخکې د تدفين مراسم ترسره شي نو د هغه په قبر باندې صرف تر دريو ورځو پورې د جنازې لمانځه کولو اجازت دی، او د جنازې لمانځه امام دې بالکل مخامخ د مړي سينې ته ودريږي

د جنازې لمانځه طريقه: وَالصَّلَاةُ أَنْ يُكَبِّرَ تَكْبِيرَةً يَحْمَدُ اللَّهَ تَعَالَى عَقِيبَهَا ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً ثَانِيَةً وَيُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً ثَالِثَةً يَدْعُو فِيهَا لِنَفْسِهِ وَلِلْمَيِّتِ وَلِلْمُسْلِمِينَ ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً رَابِعَةً وَيُسَلِّمُ وَلَا يُصَلَّى عَلَى مَيِّتٍ فِي مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ

د جنازې لمونځ دا ده چې يو الله اکبر وويل شي د الله حمد او ثناء وکړی شي، بيا يو تکبير وويل شي په رسول الله ﷺ درود شريف وويل شي، بيا دريم تکبير وويل شي د خان لپاره د مړي لپاره او د ټولو مسلمانانو لپاره دعا وکړی شي، بيا څلورم تکبير وويل شي او سلام وګرځول شي، او صرف په

اول تکبیر کې دې لاسونه پورته کړی شي، او په هیڅ مړي دې په جماعت والا مسجد کې د جنازې لمونځ نکول کیږي.

خلاصه: د جنازې لمونځ فرض کفایي دی له هغه منکر کافر دی، د هغه دوه رکنه دي (اول) څلور تکبیرونه (دویم) قیام، او څلور یې شرطونه دي (اول) مسلمان کیدل (دویم) پاک والی (دریم) د امام مخنه د مړي شتون (څلورم) په زمکه باندې ایښودل شوی، او سنت یې درې دي (اول) تحمید (دویم) ثناء (دریم) دعاء، د جنازې لمونځ د څلورو تکبیرونو نوم دی، ځکه رسول الله ﷺ له ټولو په اخیرې د جنازې لمانځه کې څلور تکبیرونه ویلي دي.

په قبر باندې د جنازې په لمانځه کې د ائمه ؤ اختلاف

په دې باره کې درې مذهبه دي:

(١) د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد په قبر باندې د جنازې لمونځ کول مطلقًا ناروا دي، یعنې برابره ده که په همدغه مړي باندې پخوا د جنازې لمونځ شوی وي او که نه وي شوی.

(٢) د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد کوم کس چې د مړي د جنازې لمونځ نه وي کړی د هغه لپاره لمونځ کول روا دي، او له دفن کیدو وروسته تر یوې میاشتې پورې د لمانځه ګنجایش شته دی

(٣) د حنفیانو مسلک دا ده چې په قبر باندې لمونځ یوازې (صرف) د ولي لپاره روا دی، کله چې هغه له دفن کیدو مخکې په لمانځه کې شریک شوی نه وي، یا بیا په داسې صورت کې روا دی کله چې کوم کس له جنازې کولو پرته خبن کړی شوی وي، له دې پرته د حنفیانو په نزد د جواز هیڅ صورت نشته بیا د حنفیانو په نزد چې په کومو دوو صورتونو کې جواز دی هغه صرف تر دومره مودې پورې ده تر څه وخته پورې چې د مړي اندامونه منتشر شوي نه وي، بیا یې د دې حد درې ورځې بیان کړې دي، لیکن اصح دا ده چې د دې هیڅ موده مقرره نه ده، بلکې د ځایونو او موسمونو په اختلاف سره حکم مختلف کیدلی شي.

فَإِذَا حَمَلُوهُ عَلَى سَرِيرِهِ أَخَذُوا بِقَوَائِمِهِ الْأَرْبَعِ وَيَمْشُونَ بِهِ
کله چې پورته کړل شي په کټ باندې ودې نیول شي د هغه څلور پښې او وړي دې هغه
مُسْرِعِينَ دُونَ الْخَبَبِ فَإِذَا بَلَغُوا إِلَى قَبْرِهِ كُرِهَ لِلنَّاسِ أَنْ يَجْلِسُوا
په تیزي سره نه د منډې په وهلو سره بیا چې ورسیږي قبر ته مکروه ده د خلکو لپاره چې کښیني
قَبْلَ أَنْ يُوضَعَ مِنْ أَعْنَاقِ الرِّجَالِ وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ وَيُلْحَدُ
مخکې له دې چې راکوز کړل شي له اوږو د خلکو قبر دې وکندل شي او لحد دې ووهل شي
وَيُدْخَلُ الْمَيِّتُ مِمَّا يَلِي الْقِبْلَةَ • فَإِذَا وُضِعَ فِي لَحْدِهِ
او ورکوز دې کړل شي مړی له هغه طرفه چې نږدې وي قبلې ته کله چې کېښودل شي په لحد کې

قَالَ الَّذِي يَضَعُهُ	بِاسْمِ اللّٰهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ			
ودې وايي هغه چې کېږدي	په نامه د خداى او په ملت د رسول الله			
وَيُوَجِّهُهُ إِلَى الْقِبْلَةِ	وَتُحَلُّ الْعُقْدَةُ	وَيُسَوَّى اللَّبِنُ		
او مخامخ دې کړي د قبلې طرفته	خلاصه دې کړي د کفن غوټه	برابرې دې کړل شي خامې خښتې		
عَلَى اللَّحْدِ	وَيُكْرَهُ الْآجُرُّ	وَالْخَشَبُ	وَلَا بَأْسَ بِالْقَصَبِ	
په لحد باندې	او مکروه دې پخې خښتې	او لرګي لګول	او پروا نکوي د بانس لګول	
ثُمَّ يُهَالُ التُّرَابُ عَلَيْهِ	وَيُسَنَّمُ الْقَبْرُ	وَلَا يُسَطَّحُ		
بيا دې واچول شي خاورې په هغه باندې	د کوپه شان دې جوړ کړي قبر	او مسطح دې نه جوړوي		
وَمَنِ اسْتَهَلَّ	بَعْدَ الْوِلَادَةِ	سُمِّيَ	وَغُسِّلَ	وَصُلِّيَ عَلَيْهِ
که آواز وکړ ماشوم	له پيدا کيدو وروسته	نامدار دې شي	غسل دې ورکړل شي	او لمونځ دې پرې وکړل شي
وَإِنْ لَمْ يَسْتَهِلَّ	أُدْرِجَ فِي خِرْقَةٍ	وَدُفِنَ	وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ	
او که يې آواز ونکړ	تاو دې کړل شي په جامه کې	دفن دې کړل شي	او په هغه دې لمونځ نکول کيږي	

دلغاتوحل: **قوائم** واحد يې قوائمه ده پښه، **الخبب**: منډه وهل، **اعناق**: واحد عنق اوږه، **يحفر** (ض) حفراً کندل (ژوړول)، **يلحد**: (ف) لحداً للميت د بغلي قبر وهل، **يحل**: (ن) حلا العقدة د غوټې خلاصول، **يسوى**: مصدر تسوية برابرول، **اللبن**: په دې کې درې لغت دي لَبِن لِبن لِبْن خامې خښتې، **الاجر** پخې خښتې، **الخشب** لرګي، **القصب**: بانس، **يهال**: هيلا عليه التراب د خاورو اچول، **يسنم**: مصدر تسنيم سنم القبر د قبر د کوپه شان جوړول، **استهل**: د پيدا کيدو په وخت کې آواز کول (ژړل).

تشريح **فاذاحملوه الخ**: د کتاب صاحب د جنازې پورته کولو په باره کې ويلي دي چې سنت طريقه دا ده چې لومړې: هغه له مخکني سر څخه د مړي ښي طرف په خپله ښي اوږه باندې کيښودل شي بيا له همدې طرفه شاته په خپله ښي اوږه باندې کيښودل شي له دې وروسته له مخکني سر څخه د مړي چپ طرف په خپله چپه اوږه باندې کيښودل شي بيا له همدې طرفه شاته په خپله چپه اوږه باندې کيښودل شي، د تللو رفتار به تيز وي مګر منډه وهل به نوي لکه چې په حديث سره ثابت دي، او د جنازې له اينبودلو مخکې کيناستل مکروه دي.

د قبر، لحد او شق مسئله او د مړي کوزولو طريقه

د قبر، لحد او شق مسئله او د مړي کوزولو طريقه: د حنفيانو په نزد قبر ژوړول او لحد جوړول سنت دي، يعنې په قبر کې دننه د قبلې طرفته دې بغل جوړ کړل شي، ديته بغلي قبر ويل بږي، لحد په هغه وخت کې سنت دی کله چې زمکه نرمه نه وي، او که چيرته زمکه داسې نرمه وه چې

د لحد جوړول ممکن نه وي نو شق روا دی، یعنې څلور کونجه قبر دې ووهل شي او په هغه کې دې د نالۍ (نهر) په شان جوړ کړل شي او په هغه کې دې مړی خښ (دفن) کړل شي.

له دې وروسته د کتاب صاحب فرمايلي دي چې د احنافو په نزد قبر ته د مړي کوزولو سنت طريقه دا ده چې مړی د قبلې له لوري (جانبه) قبر ته داخل کړل شي، د کوم چې صورت داسې ده چې جنازه به له قبر سره د قبلې طرفته کېښودل شي او بيا به هغه له هماغه طرف څخه د قبر په پلنوالي کې قبر ته دننه ورکوز کړل شي.

د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد قبر ته د مړي کوزولو سنت طريقه دا ده چې مړی به د قبر د پښو طرفته داسې کېښودل شي چې د مړي سر د قبر له پښو سره وي، بيا به قبر ته ورکوز کړل شي په داسې طريقه چې لومړی (اول) يې سر قبر ته داخل شي بيا يې پښې داخلې شي.

دليل: رسول الله ﷺ په همدې ډول قبر ته ورکوز کړل شوی دی.

ځواب: رسول الله ﷺ د ضرورت په بنياد په همدې ډول کوز کړل شوی وو، ځکه چې ځای تنګ وو، د قبلې له طرف څخه کوزول مشکل وو، نو ځکه همداسې وشول.

د احنافو دليل: نبي کريم ﷺ حضرت ابودجانه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قبلې له طرفه (جانبه) قبر ته ورکوز کړی دی

بيا وړاندې فرمايي چې په لحد کې مړی کېښودل شي نو د قبلې طرفته دې متوجه کړل شي. يعنې په ښي اړخ دې واړول شي او د قبلې طرفته دې متوجه کړل شي، په قبر کې د مړي له کېښودلو وروسته دې د هغه د کفن غوټه دې خلاصه کړل شي، ځکه چې اوس د کفن منتشر کېدو ويره نشته، له دې وروسته دې په لحد باندې خامې خښتې راوتاو کړل شي، ځکه چې د رسول الله ﷺ په مبارک قبر باندې خامې خښتې لګول شوې وې

په قبر کې د پخو خښتو او لرګيو لګول مکروه دي، ځکه چې دغه دواړه شيان د عمارت مضبوطولو لپاره دي او قبر د هر څه خرابولو ځای دی، نو په قبر کې د همداسې شيانو لګول اسراف دی، البته چېرته چې زمکه نرمه وي، يا د سيلاب له وجهې د قبر ماتېدلو ويره وي نو په پخو خښتو يا د لرګيو په تختو سره دې بند کړل شي، د بانس په استعمال کې هيڅ خبره نشته، بيا دې په قبر باندې خاورې واړول شي

وړاندې د قدوري صاحب فرمايلي دي چې قبر دې د کو په څېر (شان) جوړ کړل شي او مسطح دې نه جوړېږي، له زمکې څخه د يوې لوېشتې په اندازه د قبر پورته کول (لوړول) د زياترو فقهاؤ په نزد مشروع دي، او کوم قبر چې له دې څخه پورته وي د هغه يوې لوېشتې ته راوستل مستحب دي، بيا د يوې لوېشتې په اندازه د قبرونو پورته کولو هېنت به څه وي؟ په دې باره کې د فقهاؤ اختلاف دی، او په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

(١) د ائمه ثلاثه ؤ مذهب دا ده چې قبر دې د کو په څير جوړ کړل شي (٢) د امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په نزد قبر دې څلور کونجه جوړ کړل شي.

د احنافو دليل: د سفيان تمار روايت دی چې زه هغه ځای ته داخل شوم چيرته چې د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک قبر وو، ما د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک قبر او د شيخينو قبرونه کو ته ورته (يعني د اوښ د کو) په شان وليدل

د امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ **دليل**: نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل زوی ابراهيم قبر څلور کونجه جوړ کړی وو.

ځواب: لومړی (اول) يې څلور کونجه جوړ کړ، بيا يې د کو په څير جوړ کړی وو

بَابُ الشَّهِيدِ

د شهيد بيان

د مقتول متعلق د اهل السنت والجماعت مسلک دا ده چې هغه ته مرگ په خپل مقرر وخت باندې راغلی دی لکه څرنگه چې عام انسان ته مرگ په خپل مقرر وخت باندې راشي، خو د دې باب په مستقل ډول د ذکر کولو لامل دا ده چې د شهيد درجه له عام مړي يو څه لوړه ده، له جنازې وروسته د شهيد ذکر داسې دی لکه په قرآن کريم کې د عامو ملائکه ؤ له ذکر وروسته د جبرئيل او ميکائيل ذکر شوی دی، د شهيد لفظ لغوي تحقيق دا ده چې شهيد يا په وزن د فعيل ده په معنی د مفعول يعنې مشهود په معنی کې ده، مطلب دا ده چې فرښتې د تکريم او تعظيم په نظر کې نيولو سره د هغه په مرگ باندې شهادت ورکړی دی يا د هغه د جنتي کيدو وعده ده، يا بمعنی فاعل يعنې د شاهد په معنی کې ده ځکه چې هغه له خدای تعالی سره موجود دی، نو ځکه په قرآن کريم کې شهيد او مقتول فی سبيل الله ته د مړه له ويلو منعه شوې ده، گوا که شهيد ته د شهيد ويلو حکمت بيان شوی دی، د خبرې خلاصه دا ده چې د شهيد په لغوي معنی کې موجود او حاضر کيدل. د هغه اصطلاحي تعريف د کتاب صاحب په خپله ذکر کړی دی د کوم وضاحت چې په لاندې کرښو کې شوی دی

د شهيد دوه قسمونه دي (اول) کوم ته چې غسل او کفن نشي ورکول کيدی بلکې په هماغو مستعمل جامې کې له غسل ورکولو پرته د جنازې لمانځه له کولو وروسته دفن کول کيږي، دا د دنيا او آخرت داواړو په اعتبار سره شهيد دی (دويم) کوم چې د آخرت د احکامو په اعتبار سره شهيد دی اگر که د عامو مسلمانانو په شان هغه ته هم غسل او کفن ورکول کيدی شي.

اَلشَّهِيدُ	مَنْ قَتَلَهُ الْمُشْرِكُونَ	أَوْ وُجِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ	وَبِهِ أَثَرُ الْجِرَاحَةِ
شهيد	هغه دی چې وژلی وي مشرکينو	يا پيدا شوی وي په جنگ کې	او په هغه د زخم نښې وي
أَوْ قَتَلَهُ الْمُسْلِمُونَ	ظُلْمًا	وَلَمْ يَجِبْ بِقَتْلِهِ دِيَةٌ	فَيُكَفَّنُ
يا وژلی وي مسلمانانو	په ظلم سره	او واجب شوی نه وي په وژلو سره يې ديت	کفن دې ورکړی شي

وَيُصَلَّى عَلَيْهِ	وَلَا يُغَسَّلُ
لمونځ دې وکړل شي په هغه	او غسل دې نه ورکول کیږي

تشریح: د کتاب صاحب د شهید تعریف بیان کړی دی د کوم چې درې صورتونه دي (اول) کوم مسلمان مشرکانو ووژلو که په کومه آله وه یا په لرګي وه یا بل څه باندې (دویم) کوم مسلمان د جنګ په میدان کې ومونډل شو او د هغه په بدن باندې د زخمونو نښانې موجودې وي (دریم) کوم مسلمان بل مسلمان په ظلم سره ووژلو او د هغه د وژلو له امله دیت واجب شوی نه وه، په دې ټولو صورتونو کې دې شهید ته بالاتفاق کفن ورکول کیږي او غسل نشي ورکول کیدی، تدفین یې په هماغو په وینو باندې په ککړو جامو کې کیږي، البته د لمانځه متعلق اختلاف دی.

اختلاف الائمة: (۱) د ائمه ثلاثه ؤ په نزد په شهید باندې د جنازې لمونځ مشروع نه دی، لکه څرنګه چې غسل ورکول مشروع نه دي.

(۲) د احنافو په نزد د عامو مړیو په څیر د شهید د جنازې لمونځ هم واجب د

د ائمه ثلاثه ؤ دلیل: د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احد د شهیدانو د هغوی په وینو کې د دفن کولو حکم ورکړی دی، نه یې هغو ته غسل ورکړی دی او نه یې په هغو باندې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنازې لمونځ اداء کړی دی

ځواب: د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت کې دوه احتماله دي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څکه د جنازې لمونځ پرې ونکړ چې د شهید لپاره سنت طریقه دا ده چې د جنازې له لمانځه پرته دفن کړی شي، لکه څرنګه چې له غسل ورکولو پرته د شهید دفن کول سنت دي.

(۲) ممکنه ده چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کوم عذر له وجهې د جنازې لمونځ نه وي اداء کړی، خو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د جنازې لمونځ اداء کړی دی، او د همدغه احتمال په تائید کې ډیر روایتونه شته دي، لکه د حضرت سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له روایت څخه چې معلومیږي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارک سر باندې سخت زخم راغلی وو او له هغه مسلسل وینه بهیدله ګوا که چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لمانځه له کولو څخه معذور وو

د احنافو دلیل: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احد په ټولو شهیدانو باندې د جنازې لمونځ اداء کړی دی، لکه د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له روایت څخه چې معلوم شوي دي

وَإِذَا اسْتُشْهِدَ الْجُنُبُ	غُسِّلَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ	وَكَذَلِكَ الصَّبِيُّ
کله چې شهید شي جنب	غسل ورکول کیږي په نزد د امام ابوحنیفة	او همدا حکم د ماشوم هم دی

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ	لَا يُغَسَّلَانِ	وَلَا يُغْسَلُ	عَنِ الشَّهِيدِ	دَمُهُ
ویلي دي صاحبینو	غسل نه ورکول کیږي	او نه دې مینځل کیږي	له شهید څخه	د هغه وینې

وَلَا يُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ	وَيُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ	وَالْحَشْوُ	وَالْخُفُّ وَالسِّلَاحُ
نه دې وباسي له هغه جامې د هغه	ودې باسل شي له هغه پوستين	له مالوچو جوړه جامه	موزې اسلحه

وَمَنْ أُرْتُثَّ غُسِّلَ	وَالْاِرْتِثَاثُ أَنْ يَأْكُلَ	أَوْ يَشْرَبَ
او چې مرتث شي غسل دې ورکړی شي	او ارتثاث دا ده چې څه وخوري	يا يې وڅښي

أَوْ يُدَاوِىٰ	أَوْ يَبْقَىٰ حَيًّا	حَتّٰى يَمْضِيَ عَلَيْهِ وَقْتُ صَلَاةٍ	وَهُوَ يَعْقِلُ
يا علاج وکړي	يا پاتې شي ژوندی	تردې چې تېر شي پرې د يوه لمانځه وخت	او دی پوهېږي

أَوْ يُنْقَلُ مِنَ الْمَعْرَكَةِ	وَهُوَ حَيًّا	وَمَنْ قُتِلَ فِي حَدٍّ	أَوْ قِصَاصٍ
يا نقل کړی شي د جنګ له ميدان څخه	او دی ژوندی وي	او چې ووژل شي په حد	يا په قصاص کې

غُسِّلَ	وَصُلِّيَ عَلَيْهِ	وَمَنْ قُتِلَ مِنَ الْبُغَاةِ
غسل دې ورکړی شي	لمونځ دې وربانديې وکړی شي	او کوم کس چې ووژل شي له باغيانو

أَوْ قُطَّاعِ الطَّرِيقِ	لَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ
يا له ډاکوانو	نو لمونځ دې نکول کېږي په هغو باندې

تشريح واذا استشهد الجنب : د صحت شهادت متعلق په حنفيانو کې اختلاف دی، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد د صحت شهادت لپاره د شهيد عاقل والې او له جنابت څخه پاک کېدل شرط دي، لهذا که چيرته کوم جنب يا ليونی يا کوم ماشوم شهيد شي نو هغوی ته دې غسل ورکړی شي، او د صاحبينو په نزد نشي ورکول کېدی

ولاينزع الخ : د شهيد له بدن څخه دې جامې نه وباسل کېږي، بلکې هغه دې په هماغو په وينو ککړو جامو کې تاو کړی شي، هو هغه شيان د کوم تعلق چې له کفنو سره ندی لکه پوستين، مالوچ لرونکې کپړې، موزې وسله وغيره هغه دې وباسل شي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احد د شهيدانو په باره کې همداسې حکم کړی وه، د هدايه صاحب ويلي دي چې د مسنون کفن په نظر کې نيولو سره په وينو ککړو جامو کې که د مسنون عدد په اعتبار سره کمی وي نو هغه دې پوره کړي او که زياتې وي نو کمې دې کړي او مسنون عدد دې پرېښودل شي.

ومن ارتث غسل که چيرته د خدای په لاز کې شهيد شوی کس زخمي شي او د ژوند ګټې ترلاسه کړي مثلاً څه وخوري او وڅښي يا يې څه علاج وکړی شي يا په هغه باندې د يوه لمانځه وخت تير شي هوش صورتونو کې دې همداسې شهيد ته غسل ورکړی شي، يا د هوش په حالت کې د جنګ له ميدان څخه راوړل شي نو په همداسې ټولو

ومن قتل في حد الخ او کوم کس چې په حد یا قصاص کې ووژل شي هغه ته دې غسل ورکړی شي لمونځ دې هم ورباندې وکړی شي، دا کس په ظلم ندی وژل شوی بلکې د ایفاء حق له امله وژل شوی دی نو ځکه د هغه شمار په شهیدانو کې نکیږي، او که چیرته کوم باغي یا ډاکو ووژل شي نو د هغه د جنازې لمونځ دې نکول کیږي، ځکه چې امیر المؤمنین حضرت علي رضي الله عنه د نهروان د خوارجو د جنازې لمونځ نکولو او فرمایل یې (اخواننا بغوا علینا) دوی د لمانځه نکولو علت سره بغاوت طرفته اشاره کړې ده.

بَابُ الصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ

په کعبه شریفه کې دننه د لمانځه کولو بیان

دا باب له ټولو په اخیر کې ځکه ذکر کړی شو ترڅو چې د کتاب الصلوة اختتام بر کتې شي.

الصَّلَاةُ فِي الْكَعْبَةِ	جَائِزَةٌ	فَرْضُهَا وَنَفْلُهَا	وَإِنْ صَلَّى الْإِمَامُ
لمونځ په کعبه کې	روا دی	فرض هم او نفل هم	که چیرته لمونځ کوي امام
بِجَمَاعَةٍ	فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ ظَهْرَهُ	إِلَى ظَهْرِ الْإِمَامِ	جَازَ
په جماعت سره	او وګرځوي له مقتدیانو څخه خلک خپله شا	شا د امام ته	نو روا دي
وَمَنْ جَعَلَ مِنْهُمْ	وَجْهَهُ	إِلَى وَجْهِ الْإِمَامِ	جَازَ وَيُكْرَهُ
او چې وګرځوي له دوی یو څوک	مخ خپل	مخ د امام ته	روا دي مګر مکروه دي
وَمَنْ جَعَلَ مِنْهُمْ	ظَهْرَهُ	إِلَى وَجْهِ الْإِمَامِ	لَمْ تَجُزْ صَلَاتُهُ
او څوک چې وګرځوي له دوی څخه	خپله شا	مخ د امام ته	نه روا کیږي لمونځ یې
وَإِذَا صَلَّى الْإِمَامُ	فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	تَحَلَّقَ النَّاسُ	حَوْلَ الْكَعْبَةِ
کله چې لمونځ کوي امام	په مسجد حرام کې	خلکو حلقه جوړه کړې وي	د کعبې څلور طرفه
وَصَلَّوْا بِصَلَاةِ الْإِمَامِ	فَمَنْ كَانَ مِنْهُمْ أَقْرَبَ إِلَى الْكَعْبَةِ		مِنَ الْإِمَامِ
او لمونځ کوي د امام له لمانځه سره	پس کوم کس چې له دوی ډیر نږدې وي کعبې ته		له امام څخه
جَازَتْ صَلَاتُهُ	إِذَا لَمْ يَكُنْ فِي جَانِبِ الْإِمَامِ		وَمَنْ صَلَّى
روا کیږي لمونځ د هغه	کله چې نه وي دی د امام په طرف کې		او کوم کس چې لمونځ وکړي
عَلَى ظَهْرِ الْكَعْبَةِ	جَازَتْ صَلَاتُهُ		
په چت د کعبې باندې	روا کیږي لمونځ د هغه		

تشريح الصلوة في الكعبة په كعبه كې دننه د فرضي او نفلي لمنځونو كولو په باره كې څه قدري اختلاف دى، د حنفيانو په نزد فرض او نفل دواړه روا دي، د امام شافعي په نزد د دواړو لمنځونو كول سهي ندي، د امام مالک په نزد صرف د نفلو كولو اجازت دى.

وان صلى الامام... لم تجز صلوته په كعبه كې دننه په جماعت سره د لمانځه كولو څلور صورتونه دي (اول) چې د مقتديانو شا د امام د شا طرفته وي (دويم) چې د مقتدي مخ د امام د مخ طرفته وي (دريم) چې د مقتدي شا د امام د مخ طرفته وي (څلورم) چې د مقتدي مخ د امام د شا طرفته وي، په دې كې اول او څلورم صورت له كراهيت پرته روا دي، او په دويم صورت كې له كراهيت سره روا دى، او په دريم صورت كې بيخي روا ندى، د كتاب صاحب پورته درى صورتونه بيان كړي دي.

واذا صلى الامام في جانب الامام كه چيرته مقتديان له كعبه چار چاپيره حلقه جوړه كړي او لمونځ كوي نو لمونځ صحيح كيږي، اوس كوم كس چې د امام په نسبت خانه كعبې ته ډير ورنږدې وي په دې شرط چې د امام په طرف كې نه وي نو د هغه لمونځ صحيح كيږي ځكه دى حكما د امام شاته دى، ليكن كه مقتدي د امام په طرف كې دى او كعبې ته د امام په نسبت زيات ورنږدې دى نو د مقتدي لمونځ نه صحيح كيږي، ځكه په دې صورت كې مقتدي له امام څخه وړاندې دى او كوم مقتدي چې له امام څخه وړاندې شي د هغه لمونځ نه صحيح كيږي

ومن صلى على ظهر الخ زمونږ په نزد د كعبې شريفې په چت باندې لمونځ كول روا دي، مگر مكروه دي، ځكه چې د كعبې شريفې چت ته په ختلو باندې د كعبې شريفې تعظيم ختميږي.

كِتَابُ الزَّكَاةِ

د عبادت درى قسمونه دي (اول) عبادت بدني لكه لمونځ روژه (دويم) عبادت مالي لكه زكوة، (دريم) عبادت بدني او مالي لكه حج، د قياس د تقاضا مطابق له كتاب الصلوة وروسته د كتاب الصوم ذكر كول پكار وه، خو داسې ونشول بلكې د كتاب الزكوة په ذكر كولو سره دې خبرې طرفته اشاره شوې ده چې په دې ترتيب كې د الهي كلام او نبوي كلام اتباع مقصود ده، په قرآن كريم كې درى ديرش ځايه له لمانځه وروسته متصل د زكوة ذكر شوى دى، كوم چې د دې خبرې دليل دى چې په دوى دواړو كې كمال اتصال موجود دى، گوا كه د كتاب صاحب د الهي او نبوي كلام اتباع د كمال اتصال او ارتباط په بنياد باندې له كتاب الصلوة وروسته كتاب الزكوة ذكر كړى دى.

په عام ډول د لغت له مخې زكوة په دريو معناگانو كې مستعمل شوى دى (اول) طهارت (دويم) نمو (دريم) بركت.

(اول) طهارت الهي ارشاد دی (قد افلح من تزکی) خذ من اموالهم صدقة تطهرهم وتزکیهم بها، وحنانا من لدنا وزکوة) یعني په هر ایت کې طهارت د پاکي مفهوم دی، لهذا زکوة ته زکوة له دې امله ویل شوي چې دا زکوة ورکوونکی له ګناهونو او نورو ناوړه خویونو لکه بخل وغیره څخه پاکوي

(دویم) نمو (زیاتیدل) په محاوره کې ویل شوي دي (زکا الزرع) فصل زیات شولو، په همدې اعتبار سره د زکوة وجه تسمیه دا ده چې د زکوة په ورکولو سره په مال کې زیاتوالی راځي په دې ډول چې د زکوة ورکوونکي ته په دنیا کې د هغه بدله ورکول کیږي او په آخرت کې ورته ثواب ورکول کیږي، الهي ارشاد دی (وما انفقتم من شئ فهو یخلفه) یعني څوک چې خرج کړي کوم شی د هغه عوض ورکول کیږي

(دریم) برکت ویل شوي دي (زکت البقعة ای بورك فیها) په همدې اعتبار سره د زکوة وجه تسمیه دا شوه چې د همدې عمل د تاثیر له امله په مال کې برکت پیدا کیږي.

د زکوة یو نوم صدقه هم دی، ځکه چې دا عمل د زکوة ورکوونکي د ایمان تصدیق کوي.

د زکوة اصطلاحي تعریف دا ده: د شریعت له بیان سره سم د خپل مال معلومه اندازه کوم مسلمان فقیر ته د الهي حکم د تعمیل په نیت یې په بشپړ ډول مالک جوړول، او له مالک جوړونکي څخه به د ده منفعت بالکل ختم وي، په دې شرط چې هغه فقیر به هاشمي او ازاد کرده غلام نه وي

زکوة د اسلام دریم رکن دی کوم چې د رمضان له فرض کیدو څخه مخکې په دویمه هجري کې فرض شوی دی، د کوم ثبوت چې په قرآن سنت او اجماع دریواړو سره شوی دی، الهي ارشاد دی (اقیموا الصلوة واتوا الزکوة) نبوي ارشاد دی (بنی الاسلام علی خمس شهادة ان لا اله الا الله وان محمد رسول الله واقام الصلوة وایتاء الزکوة) او په همدې باندې اجماع منعقده ده، حافظ ابن حجر ویلي دي چې په شریعت کې د زکوة فرضیت داسې قطعي امر دی د کوم منکر چې کافر دی.

الزَّكَاةُ وَاجِبَةٌ	عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ	الْعَاقِلِ	الْبَالِغِ	إِذَا مَلَكَ
زکوة فرض دی	په آزاد مسلمان	عاقل	بالغ باندي	کله چي څښتن شي
نِصَابًا كَامِلًا	مِلْكًا تَامًّا	وَحَالَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ		وَلَيْسَ عَلَى صَبِيٍّ
د پوره نصاب	په بشپړ ډول	او تیر شي په هغه باندي کال		او نشته دی په ماشوم
وَلَا مَجْنُونٍ	وَلَا مُكَاتَبٍ	زَكَاةٌ	وَمَنْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ	مُحِيطٌ بِمَالِهِ
نه لیوني	نه مکاتب باندي	زکوة	او په چا چي قرض	او احاطه یي کړي وي د هغه په مال
فَلَا زَكَاةَ عَلَيْهِ	وَإِنْ كَانَ مَالُهُ	أَكْثَرَ مِنَ الدَّيْنِ		زَكَّى الْفَاضِلَ
نو نشته زکوة په هغه باندي	او که وي مال د هغه	زیات له قرض څخه		زکوة دي ورکړي د زیات

اِذَا بَلَغَ نِصَابًا	وَلَيْسَ فِي دُوْرِ السُّكْنَى	وَثِيَابِ الْبَدَنِ	وَأَثَاثِ الْمَنْزِلِ	
كله چي ورسيږي نصاب ته	نشته د اوسيدو په كور كي	د اغوستلو په جامو كي	د كور په سامان كي	
وَدَوَابِّ الرُّكُوْبِ	وَعَبِيْدِ الْخِدْمَةِ	وَسِلَاحِ الْاِسْتِعْمَالِ	زَكَاةٌ	وَلَا يَجُوْزُ
د سپرلى په څناورانو كي	د خدمت په غلامانو كي	د استعمال په اسلحه كي	زكوة	او روا ندى
أَدَاءُ الزَّكَاةِ	إِلَّا بِنِيَّةٍ	مُقَارِنَةٍ لِلْأَدَاءِ	أَوْ مُقَارِنَةٍ لِعَزْلِ مِقْدَارِ الْوَاجِبِ	
اداء كول د زكوة	مگر له نيت سره	چي د اداء كولو په وخت كي وي	يا د واجب مقدار د جلا كولو په وخت كي وي	
وَمَنْ تَصَدَّقَ بِجَمِيْعِ مَالِهِ	وَلَمْ يَنْوِ الزَّكَاةَ	سَقَطَ فَرْضُهَا عَنْهُ		
او څوک چي خيرات كړي ټول مال	او د زكوة نيت پكي ونكړي	ساقطيږي فرض د زكوة له هغه څخه		

د وجوب زكوة شرطونه

د لغاتو حل: واجبة: دلته د فرض په معنى كي ده، او داسي شوي دي چي فرض يا واجب د يوه او بل په معنى كي مستعمل شوي دي، دلته هم همدا خبره ده چي د فرض په ځاى د واجب لفظ مجازا استعمال شوى دى، حال عليه الحول: چي په هغه باندي كال تير شي، دين: قرض، **محيط**: گيروونكى (احاطه كول) زكى: واحد غائب مصدر تزكيه د زكوة اداء كول، **الفاضل**: اسم فاعل زائد، **دور**: واحد، دار، كور، **سكنى**: اوسيدل، **اثاث**: د كور سامان، **دواب**: واحد دابه څناوران، **الركوب**: سپرلى جمع ركاب، **عبيد**: واحد عبد غلام، **الخدمة**: مصدر (ن ض) خدمت كول، **سلاح**: وسله جمع اسلحه، مقارنة: مصدر دى، پيوسته، **عزل**: مصدر (ض) جلا كول.

تشريح: **الزكوة واجبة**: دلته له وجوب څخه فرضيت مراد دى، د وجوب زكوة اته شرطونه دي، د پنځو تعلق د مال له نصاب سره دى او د دريو تعلق له مملوک سره دى، د مملوک شرطونه دا دي (اول) عقل والى (دويم) بالغ والى (دريم) مسلمان والى (څلورم) ازاد والى (پنځم) د مالک نصاب په ذمه به دين محيط نه وي، د مال شرطونه دا دي (اول) د نصاب كامل كيدل (دويم) په مال باندي د كال تيريدل (دريم) د مال د تجارت لپاره كيدل، د همدي اخيرني شرط بيان وړاندي راغلى دى.

وليس على الصبي الخ: د ائمه ثلاثه په نزد په ماشوم او ليوني باندي زكوة واجب ندى.

ومن كان عليه دين الخ: مسئله دا ده چي كه چيرته په يوه كس باندي دومره قرض دى چي د هغه ټول مال يې گير كړى دى نو د احنافو په نزد په هغه باندي زكوة نشته دى، او د امام شافعي په نزد په هغه باندي زكوة شته دى.

وان كان ماله الخ: د مسئلي صورت دا ده چي كه چيرته له مديون سره له قرض څخه زيات مال وه د نصاب په اندازه نو په هغه باندي زكوة واجب دى.

ولیس في دور السکنی ..... وسلاح الاستعمال : د کتاب صاحب په دغه عبارت کې دا مسئله بیان کړې ده چې کوم شي په حاجت اصلیه کې مشغول وي او په کوم اعتبار سره نامي نه وي یعنې نه په خلقي اعتبار سره لکه سره زر یا سپین زر او نه په تجارتي اعتبار سره لکه د تجارت مال، نو په هغو کې زکوة واجب نه دی، لهذا په متن کې د اوسیدو له کور نیولې د استعمال وسلې پورې شیان په همدې اصولو کې داخل دي نو ځکه په همدې شیانو کې زکوة واجب نه دی.

ولایجوز اداء الزکوة الخ : په دغه عبارت کې د زکوة ورکولو شرط بیان شوی دی، یعنې د زکوة مال فقیر ته د ورکولو په وخت کې د زکوة نیت کول یعنې په زړه کې دا اراده کول چې په ما باندې څومره اندازه مال فرض شوی وو محض د الله تعالی د خوشنودي لپاره یې ورکوم، که چیرته یو څوک د زکوة له ورکولو وروسته نیت وکړي او مال له فقیر یعنې چاته یې چې د زکوة مال ورکړی دی تر همدې وخته له هغه سره موجود دی نو دا نیت صحي کیږي، او که چیرته د زکوة مال له فقیر ځخه مصرف شوی وو نو نیت نه صحي کیږي، او بیا به دوباره زکوة ورکوي، او که چیرته کوم کس له خپل مال ځخه د زکوة مال جلا کړي او د جلا کیدو په وخت کې یې په زړه کې د زکوة نیت وي نو دا کافي دی، اګر که فقیر ته د ورکولو په وخت کې نیت هم ونکړي.

ومن تصدق الخ : چا چې خپل ټول مال خیرات کړ خو د زکوة نیت یې ونکړ نو د استحسان په ډول د همدغه کس له ذمه ځخه زکوة ساقطیږي، یعنې د قیاس تقاضه (غوښتنه) خو دا وه چې له نیت پرته زکوة اداء نشي، مګر دا چې دا وخت له هغه سره هیڅ مال باقي پاتې نه دی نو ځکه په همداسې صورت کې زکوة د هغه له ذمه ځخه ساقطیږي (۱)

بَابُ زَكَاةِ الْإِبِلِ

د اوښانو د زکوة بيان

د کتاب صاحب د زکات مالونو شروع له سوائمو څخه کړې او په هغو کې يې بيا د اوښانو انتخاب کړی دی، شارحينو د دې دوه مصلحتونه بيان کړي دي (اول) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابو بکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د زکات متعلق چې کوم مکتوب ليږلی وه په هغه کې له ټولو مخکې د اوښانو د زکات بيان دی، يعنې په همدې ترتيب کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکتوب پيروي مقصود ده (دويم) د عربو په نزد له ټولو زيات قيمتي مال اوښان دي نو ځکه يې د زکات په مالونو کې له اوښانو شروع وکړه.

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسٍ	ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ	صَدَقَةٌ	فَإِذَا بَلَغَتْ	
نشته په کم له پنځو	اوښانو کې	زکوة	کله چې ورسيږي	
خَمْسًا	سَائِمَةً	وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ	فَفِيهَا شَاةٌ	إِلَى تِسْعٍ
پنځو ته	څريدونکي	اوتير شي په هغو باندې کال	په هغو کې يو پسه دی	تر نهو پورې
فَإِذَا كَانَتْ عَشْرًا	فَفِيهَا شَاتَانِ	إِلَى أَرْبَعَ عَشْرَةَ	فَإِذَا كَانَتْ	
بيا چې ورسيږي لسو ته	په هغو کې دوه پسونه دي	تر څوارلسو پورې	کله چې ورسيږي	
خَمْسَ عَشْرَةَ	فَفِيهَا ثَلٰثُ شِيَاهٍ	إِلَى تِسْعَ عَشْرَةَ	فَإِذَا كَانَتْ	
پنځلسو ته	په هغو کې درې پسونه دي	تر نولسو پورې	بيا چې ورسيږي	
عِشْرِيْنَ	فَفِيهَا أَرْبَعَةُ شِيَاهٍ	إِلَى أَرْبَعٍ وَعِشْرِيْنَ	فَإِذَا بَلَغَتْ	
شلو ته	په هغو کې څلور پسونه دي	تر څلرويشت پورې	بيا کله چې ورسيږي	
خَمْسًا وَعِشْرِيْنَ	فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ	إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِيْنَ		
پنځه ويشتو ته	په هغو کې يو بنت مخاض دی	تر پنځه ديرشو پورې		
فَإِذَا بَلَغَتْ	سِتًّا وَثَلَاثِيْنَ	فَفِيهَا بِنْتُ لَبُوْنٍ	إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِيْنَ	
او چې ورسيږي	شپږ ديرشو ته	په هغو کې يو بنت لبون دی	تر پنځه څلوېښت پورې	
فَإِذَا بَلَغَتْ	سِتًّا وَأَرْبَعِيْنَ	فَفِيهَا حِقَّةٌ	إِلَى سِتِّيْنَ	فَإِذَا بَلَغَتْ
بيا چې ورسيږي	شپږ څلوېښت ته	په هغو کې يوه حقه ده	تر شپيتو پورې	او چې ورسيږي

إِحْدَى وَسِتِّينَ	فَفِيهَا جِذَعَةٌ	إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ	فَإِذَا بَلَغَتْ	
یو شپیته ته	په هغو کې یوه جذعه ده	تر پنځه اویا پورې	بیا چې ورسیږي	
سِتًّا وَسَبْعِينَ	فَفِيهَا بِنْتَا لَبُونٍ	إِلَى تِسْعِينَ	وَإِذَا كَانَتْ	
شپږ اویا ته	په هغو کې دوه بنت لبون دي	تر نوي پورې	بیا چې ورسیږي	
إِحْدَى وَتِسْعِينَ	فَفِيهَا حِقَّتَانِ	إِلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ		
یو نوي ته	په هغو کې دوه حقې دي	تر یوسل شل پورې		

د لغاتو حل ذود: اوښ، **صدقة**: دلته مراد زکات دی، **سائمة**: په صحراء کې څریدونکي، **شاة** واحد شاة پسه، **بنت مخاض**: هغه ماده اوښه بچې د کومې چې یو کال پوره شوی وي او په دویم کال کې داخله شوې وي، **جذعه**: کومه چې د پنځو کلونو وي

تشریح مصنف په خپل دې عبارت کې د اوښانو نصاب او په هغو کې د زکات وجوب بیان کړی دی، د اوښانو نصاب پنځه اوښان دي، له دې څخه په کمو کې زکات واجب ندی او د واجب کیدو شرط دا ده چې هغه څناور به څریدونکي وي، یعنې په داسې صحراء کې به څریږي چیرته چې د معاوضه ورکول نه وي، او له هغو څخه مقصود شیدې او نسل وي، غوښه سپړلی یا تجارت مقصود نه وي، که چیرته تجارت مقصود وي بیا به د تجارت په نصاب سره زکات واجبیږي، د کال په زیاتره برخه کې به په مباح صحراء کې څریږي، او که چیرته نیمایي کال تړل شوي او خوراک ورکول کیږي نو بیا په سائمه کې داخل ندي، بهر حال کله چې څناور سائمه وي او په هغو باندې یو کال تیر شي او د پورته ذکر شویو شرطونو سره کوم کس د پنځو اوښانو مالک شي نو په هغو کې پسه واجبیږي، له پنځو څخه تر نهو پورې همداسې دي، او د چا په ملک کې لس اوښان وي نو په هغو کې دوه پسونه واجبیږي تر څوارلسو پورې او که د چا په ملک کې پنځلس اوښان وي نو په هغو کې درې پسونه دي او تر نولسو پورې همداسې دي او د شلو په صورت کې څلور پسونه واجبیږي او تر څلرویشت پورې همداسې دي، او د پنځه ویشتو په صورت کې یو بنت مخاض دی او تر پنځه دیرش پورې همداسې دي، او د شپږ دیرشو په صورت کې یو بنت لبون واجبیږي او تر پنځه څلویښت پورې همداسې دي، او د شپږ څلویښت په صورت کې یوه حقه واجبیږي او تر شپیتو پورې همداسې دي، د یو شپیتو په صورت کې یوه جذعه واجب ده او تر پنځه اویا پورې همداسې دي، او د شپږ اویا په صورت کې دوه بنت لبون دي او تر نوي پورې همداسې دي، او د یو نوي په صورت کې دوه حقې دي او تر یوسل شل پورې همداسې دي

ثُمَّ تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيضَةُ	فَيَكُونُ فِي الْخَمْسِ	شَاةٌ	مَعَ الْحِقَّتَيْنِ
بیا فریضه له نوي سره کیږي	لهذا دی په پنځو کې	یو پسه	سره له دوه حقو

وَفِي الْعَشْرِ	شَاتَانِ	وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ	ثَلٰثُ شِيَاهٍ	وَفِي عِشْرِيْنَ
او په لسو کې	دوه پسونه	او په پنځلسو کې	درې پسونه	او په شلو کې
اَرْبَعُ شِيَاهٍ	وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ	بِنْتُ مَخَاضٍ	اِلٰى مِائَةٍ وَخَمْسِيْنَ	
څلور پسونه	او په پنځه ويشتو کې	يو بنت مخاض	تر يو سل پنځوس پورې	
فَيَكُوْنُ فِيْهَا ثَلٰثُ حِقَاقٍ	ثُمَّ تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيْضَةُ	فَفِي الْخَمْسِ	شَاةٌ	
بيا په هغو کې درې حقې دي	بيا فريضه له نوي سره کيږي	په پنځو کې	يو پسه دی	
وَفِي الْعَشْرِ	شَاتَانِ	وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ	ثَلٰثُ شِيَاهٍ	وَفِي عِشْرِيْنَ
او په لسو کې	دوه پسونه	په پنځلسو کې	درې پسونه	او په شلو کې
اَرْبَعُ شِيَاهٍ	وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ	بِنْتُ مَخَاضٍ	وَفِي سِتٍّ وَثَلٰثِيْنَ	
څلور پسونه	او په پنځه ويشتو کې	يو بنت مخاض	او په شپږ ديرشو کې	
بِنْتُ لَبُوْنٍ	فَاِذَا بَلَغَتْ	مِائَةً وَسِتًّا وَتِسْعِيْنَ	فَفِيْهَا اَرْبَعُ حِقَاقٍ	
يو بنت لبون	بيا چې ورسيږي	يو سل شپږ نوي ته	نو په هغو کې څلور حقې دي	
اِلٰى مِائَتَيْنِ	ثُمَّ تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيْضَةُ اَبَدًا	كَمَا تُسْتَأْنَفُ فِي الْخَمْسِيْنَ		
تر دوو سوو پورې	بيا فريضه له نوي سره کيږي هميشه	لکه چې تيره شوه په پنځوسو کې		
اَللَّتِيْ بَعْدَ الْمِائَةِ وَالْخَمْسِيْنَ	وَالْبُخْتُ وَالْعِرَابُ سَوَاءٌ			
کومه چې له يو سل پنځوسو وروسته وه	بختي او عربي اوښ سره برابر دي			

د لغاتو حل **البخت** : جمع بختی هغه اوښ کوم چې له عربي او عجمي دواړو نسل پيدا شوی وي، **العراب** : واحد عربی خالص عربی النسل اوښ.

تشريح په پورته ليکو کې چې څه بيان شوي دي دا د احنافو په نزد دي او دا هر څه د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضوان الله عليهم په مکتوباتو کې موجود دي، د امام مالک په نزد له يو سل شل څخه د زياتو په صورت کې په هرو څلويښتو باندې يو بنت لبون واجب دی او په هرو پنځوسو کې يوه حقه او له دې زيات تر يو سل نه ويشت پورې دوه حقې او يو بنت لبون واجب دی، بيا په يو سل نوي کې تر دوه سوه پورې درې حقې او يو بنت لبون واجيږي، د امام شافعي په نزد له يو سل شل څخه د زياتو په صورت کې تر يو سل ديرش پورې درې بنت لبون دي، له دې څخه په وروسته صورت کې د امام مالک او امام شافعي يو مسلک دی، او د امام احمد هم همدا مسلک دی.

بَابُ صَدَقَةِ الْبَقَرِ

د غويو د زكوة بيان

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثِينَ مِنَ الْبَقَرِ صَدَقَةٌ فَإِذَا كَانَتْ

نشته كم له ديرشو څخه پـه غويـونو كې زكوة بيا كله چې شي

ثَلَاثِينَ سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا تَبِيعٌ أَوْ تَبِيعَةٌ

ديرش څريدونكې او تير شي پرې كال پـه هغو كې يو خوسى يا يوه خوسۍ ده

وَفِي أَرْبَعِينَ مُسِنٌّ أَوْ مُسِنَّةٌ فَإِذَا زَادَتْ عَلَى الْأَرْبَعِينَ

او پـه څلويښتو كې دوه كلن خوسى يا خوسۍ ده بيا چې زيات شي پـه څلويښتو باندې

وَجَبَ فِي الزِّيَادَةِ بِقَدْرِ ذَٰلِكَ إِلَى سِتِّينَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

واجبيږي پـه زياتو كې پـه همدغه حساب سره تر شپېتو پورې پـه نزد د امام ابوحنيفة رحمه الله

فَفِي الْوَاحِدَةِ رُبُعُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ وَفِي الِاثْنَيْنِ نِصْفُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ

او پـه يوه كې څلورمه د لسمې د د مسنې ده او پـه دوو كې نيمايې د لسمې د مسنې ده

وَفِي الثَّلَاثِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ عُشْرِ مُسِنَّةٍ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ

او پـه دريو كې د مسنه د لسمې دريیمه څلورمه ده او صاحبينو ويلي دي

لَا شَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ حَتَّى تَبْلُغَ سِتِّينَ فَيَكُونَ فِيهَا تَبِيعَانِ أَوْ تَبِيعَتَانِ

هيڅ نشته پـه زائد كې تردې چې ورسيږي شپېتو ته پس دي پـه شپېتو كې يو كلن خوسي يا خوسۍ

وَفِي سَبْعِينَ مُسِنَّةٌ وَتَبِيعٌ وَفِي ثَمَانِينَ مُسِنَّتَانِ

او پـه اوياوو كې يو دوه كلن او يو يو كلن دى او پـه اتياوو كې د دوو كلونو دوه بچي دي

وَفِي تِسْعِينَ ثَلَاثَةُ أَتْبِعَةٍ وَفِي مِائَةٍ تَبِيعَتَانِ وَمُسِنَّةٌ

او پـه نوي كې د يوه كال درې بچي دي او پـه سلو كې دوه بچي يو يو كلن او يو بچى دوه كلن

وَعَلَى هَٰذَا يَتَغَيَّرُ الْفَرْضُ فِي كُلِّ عَشْرٍ مِنْ تَبِيعٍ إِلَى مُسِنَّةٍ

او پـه همدې طريقه بدليږي فرض پـه هرو لسو كې له تبيع څخه د مسنې طرفته

وَالْجَوَامِيسُ وَالْبَقَرُ سَوَاءٌ

مېښې او غويي سره برابر دي

د لغاتو حل: **تبيع**: يو کلن نر بچی، **تبيعة**: يو کلن ماده (ښځه) بچی. **مسن**: هغه بچی کوم چې پوره دوه کلن وي، **الجواميس**: د جاموس جمع ده ميښه.

تشريح: د ائمه اربعه ؤ او جمهورو علماؤ په دې خبره باندې اتفاق دی چې کله چيرته غويي او ميښې له ديرشو څخه کم وي نو په هغو باندې هيڅ زکوة نشته، او په ديرشو باندې د غوا يا د ميښې هغه بچی کوم چې پوره د يوه کال وي په زکوة کې يې ورکول ضروري دي، او له ديرشو وروسته تر نه ديرشو پورې هيڅ هم نشته (صرف يو کلن بچی دی) په څلويښتو غواګانو او ميښو کې پوره د دوو کلونو بچی، بيا د ائمه ثلاثه ؤ او صاحبينو په نزد له څلويښتو څخه په زياتو باندې مزيد هيڅ زکوة نشته دی، تردې چې شمير يې شپيتو ته ورسيږي، د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ يو روايت دا ده چې کله په څلويښتو باندې يوه غوا زياته شي نو په همدغه زائد باندې د دوه کلن بچي څلويښتمه برخه او په دوو زائدو باندې د دوه کلن بچي شلمه برخه او په دريو زائدو باندې د دوه کلن بچي د لسمې برخې د څلورمې درييمه واجبيږي، فتوی د صاحبينو په قول باندې ده ()

کله چې شپيته شي نو يو د يوه کال دوه بچي دې ورکړي، بيا په اوياوو کې يو د يوه کال بچی او يو د دوو کلونو بچی، او کله چې اتيا شي نو د دوو کلونو دوه بچي، او په نوي کې يو د يوه کال درې بچي، او په سلو کې دوه بچي يو د يوه کال او يو بچی د دوو کلونو، لنډه دا چې له شپيتو وروسته بيا له هرو لسو وروسته نصاب بدليږي، له لسو چې کم زيات شي نو په زکوة کې زياتوالی نراځي، د هغه زکوة ورکول دي کوم بيې چې له دې مخکې ورکاوه.

نوټ: د غواګانو او ميښو په نصاب کې ښځه او نر، يعنې غويي، خوسی، کټې او نورو همدا حکم دی.

بَابُ زَكَاةِ الْغَنَمِ

د میږو د زکوة بیان

د میږو زکات د آسانو په زکات باندې د مقدم کولو دوه وجهې بیان شوې دي، لومړۍ وجه دا ده چې میږې د آسانو په مقابل کې په کثرت سره پیدا کیږي نو ځکه د هغوی بیانولو ته ضرورت زیات دی، دویمه وجه دا کیدی شي چې د میږو د زکات متعلق اتفاق دی، مګر د آسانو د زکات متعلق اختلاف دی او مناسبه دا ده چې متفق علیه په مختلف فیه باندې مقدم کړی شي، د غنم لفظ اسم جنس دی کوم چې د میږو او بزو دواړو لپاره ویل کیدی شي، د میږو نصاب څلویښت میږې دي، او په هغو کې هم د اوښانو په شان سائمه کیدل او د ټول کال تیریدل شرط دي، او د میږو د زکات په باره کې چې کوم تفصیل دی هغه په مکتوبات نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مکتوبات شیخین کې ذکر شوی دی.

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً	صَدَقَةٌ	فَإِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ	
نشته کم له څلویښتو پسونو	زکوة	بیا کله چې ورسیږي څلویښتو ته	
سَائِمَةً	وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ	فَفِيهَا شَاةٌ	إِلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ
څریدونکي	او تیر شي په هغو باندې کال	په هغو کې یو پسه دی	تر یو سل شلو پورې
فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ	فَفِيهَا شَاتَانِ	إِلَى مِائَتَيْنِ	
بیا کله چې یو زیات شي	نو په هغو کې دوه پسونه دي	تر دوه سوه پورې	
فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ	فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ	فَإِذَا بَلَغَتْ أَرْبَعَ مِائَةٍ	
بیا کله چې یو زیات شي	نو په هغو کې درې پسونه دي	او کله چې ورسیږي څلورو سوو ته	
فَفِيهَا أَرْبَعُ شِيَاهٍ	ثُمَّ فِي كُلِّ مِائَةٍ	شَاةٌ	وَالضَّأْنُ وَالْمَعْزُ سَوَاءٌ
په هغو کې څلور پسونه دي	بیا په هر سلو کې	یو پسه دی	میږې او بزې سره برابرې دي

تشریح: په څلویښتو بزو باندې یو سیرلی یا یوه سیرلی واجب ده، له څلویښتو څخه تر یو سل شلو پورې همدا یوه واجب ده، بیا له یو سل یوویشت څخه تر دوو سوو پورې دوه بزې دي، بیا له دوو سوو څخه تر درې سوه نه نوي پورې درې بزې دي، بیا په څلورو سوو باندې څلور بزې دي، له دې وروسته په هرو سلو باندې یوه بزه واجب ده، د میږو هم همدا حکم دی.

بَابُ زَكَاةِ الْخَيْلِ

د اسانو د زكوة بيان

إذا كانت الخيل سائمة ذكورا وإناثا وحال عليها الحول

كله چي وي آسونه څرېېدونكي نران او ښځي او تير شي په هغو باندې كال

فصاحبها بالخيار إن شاء أعطى عن كل فرس دينارا

نو خښتن يي اختيار مند دى كه وغواړي وردې كړي د هر آس له طرفه يو دينار

وإن شاء قومها فأعطى عن كل مائتي درهم خمسة دراهم

او كه وغواړي قيمت دې ولګوي او وردې كړي د هرو دوو سوو له طرفه پنځه درهم

وليس في ذكورها منفردة زكوة عند أبي حنيفة وقال أبو يوسف ومحمد

او نشته په نرانو كې تنها زكوة په نزد د امام ابوحنيفة ويلي دي امام ابويوسف او امام محمد

لا زكاة في الخيل ولا شيء في البغال والحمير إلا أن تكون

زكات نشته په آسانو كې او هيڅ شى نشته په قچر او خرو كې مګر كه وي

للتجارة وليس في الفصلان والعجاجيل زكوة عند أبي حنيفة ومحمد

د تجارت لپاره او نشته د اوښې، بزې او غواګانو په بچيانو كې زكوة د طرفينو په نزد

إلا أن يكون معها كبار وقال أبو يوسف تجب فيها واحدة منها

مګر كه وي له هغو سره غټان ويلي دي امام ابويوسف واجب دى په هغو كې يو له هغو څخه

ومن وجب عليه مسن فلم يوجد أخذ المصدق أعلى منها

او په چا چي واجب شي مسن او پيدا نكړى شي ترې وادي اخلي مصدق له هغه څخه اعلى

ورد الفضل أو أخذ دونها وأخذ الفضل ويجوز دفع القيم

او واپس دي كړي زائد يا دي ترې واخلي د كم قيمت والا او وردې كړي زياتي او روا دي د قيمتونو وركول

في الزكاة وليس في العوامل والحوامل والمعلوفة زكوة

په زكوة كې او نشته په كار كوونكو په بار وړونكو او په كور كې په خوراک كوونكو كې زكوة

ولا يأخذ المصدق خيار المال ولا رذالته ويأخذ الوسط

او نه دي اخلي مصدق غوره مال او نه بېخي خراب بلكې وادي اخلي د درميانه

د لغاتو حل **الخيل** : د آسانو ډله، **ذكور** : نران، **اناث** : ښځې، ماده، **دينار** : اشرفي، د سرو سکه، **قوم** : تقويما قيمت لګول، **بغال** : د بغل جمع ده قچر، **حمير** : د حمار جمع ده ساتل شوی خر، **الفصلان** : د فصيل جمع ده د اوښې له کال کم بچي، **الحملان** : د حمل جمع ده د بزې بچي، **العجاجيل** : د عجل جمع ده خوسکی، **الفضل** : زائد، **دون** : خراب، **العوامل** : د عامله جمع ده هغه څناور کوم چې د کار کولو لپاره وي، **الحوامل** : د حامل جمع ده هغه څناور کوم چې د سامان راوړلو لپاره وي، **العلوفة** : په کور باندې ولاړ خوراک کوونکی څناور، **رذالة** : د يوه شي ردي برخه

تشريح : شارحينو دلته د علوفه او سائمه ماتحت په ډېر تفصيل سره خبرې ليکلې دي، له هغو تيرېږو صرف نچوړ يې ذکر کوو ترڅو چې په عبارت کې تطبيق راشي، د امام ابو حنيفه او صاحبينو په نزد د سائمه په سلسله کې اختلاف دی، د صاحبينو په نزد په سائمه آسونو کې زکوة نشته، ائمه ثلاثه هم د دې قائل دي، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد په آسونو کې زکوة واجب کيدو لپاره دوه شرطونه دي (اول) چې سائمه وي (دويم) چې آسونه نران او ښځې دواړه وي، البته څښتن ته يې په مال زکوة کې د دوه شيانو ورکولو اختيار دی، که وغواړي د هر آس له طرفه دې يو دينار ورکړي په زکوة کې او که وغواړي نو له هر دوه سوه درهم څخه دې پنځه درهم ورکړي، دا هم په خيال کې وساتې چې د صحيح قول مطابق د آسونو کوم نصاب مقرر ندی، د يوه آس په موجودګۍ کې هم زکوة واجبيږي، امام زفر له امام اعظم سره دی.

وليس فى ذكورها.....ذكوة دوه آسونه د کومو ګزاره چې په څړيدا باندې ده، د شيدو او نسل لپاره دي او صرف مذکر دي نو د داسې آسونو په باره کې د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ دوه قولونه پيدا شوي، په يوه قول کې زکوة لازم نه دی، او په دويم قول کې زکوة لازم دی، د عدم لزوم قول صحيح دی، او که چيرته صرف آسې وي په هغو کې هم دوه روايتونه دي، د وجوب او عدم وجوب، ليکن نزدې بالصواب دا ده چې صرف په ښځو (اناث) کې واجب دی

ولا شئ فى الخ : له دې وروسته د قدوري صاحب ويلې دي چې په قچر او خرو باندې په هغه وخت کې زکوة واجبيږي کله چې هغه د تجارت لپاره وي، په دغه صورت کې د تجارتي مال په حيثيت سره په هغو کې زکوة واجب دی، د نصاب د قيمت په حساب سره

وليس فى الفصلان الخ د کتاب صاحب ويلي دي چې د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد د اوښ، غوا او د بزې له يوه کال څخه په کم عمره بچيانو کې زکوة واجب نه دی، مطلب دا ده که چيرته صرف بچي وي نو په هغو کې زکوة نشته، هو ! که چيرته له همدغو بچيانو سره غټان (لويان) هم وي يعنې يو کلن يا له دې څخه زيات نو په هغو کې بيا زکوة واجبيږي او پاتې بچيان د هغو تابع ګڼل کيږي او په نصاب کې شمارل کيږي، البته هغه به په زکوة کې نه ورکول کيږي، بلکې په زکوة کې به هغه پوره بزه يا د هغې قيمت ورکول کيږي، همدغه کوچنی بچي د نصاب د تکميل ذريعه جوړ شوی، خو د زکوة اداء کول په

هغه سره صحي نه دی، دا د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ اخيرني قول دی، او همدغه قول امام محمد رَحِمَهُ اللهُ اخيستی دی. له امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ څخه دويم قول دا ده چې په همدغو بچيانو کې د هغو يو واجبيږي، د بيلګې په توګه د بزې په څلويښتو بچيانو کې يو بچی د زکوة په ډول واجب دی، دغه قول د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ دی، علامه شامي د طرفينو قول صحيح نقل کړی دی

ومن وجب عليه مسن الخ: په زکوة کې د درمياني درجې څناور واجب شوی، نه ډير ښه او نه ډير خراب، که چيرته په يو چا باندې د دوو کلونو خوسی يا خوسې واجب شوې (د څلويښتو غواګانو په صورت کې) او د درمياني درجې موجود نه وي نو څه به کوي؟ د کتاب صاحب وايي دي چې د زکوة اخيستونکی دې د اعلی درجې څناور واخلي او زيات قيمت دې واپس بيرته ورکړي، د بيلګې په توګه د اعلی درجې مسنه پنځلس سوو روپيو دی او د درمياني درجې د زرو روپيو دی، اوس دې د زکوة اخيستونکی د اعلی درجې واخلي او پنځه سوه روپۍ دې مالک ته ورکړي، يا مثلا د کمې درجې مسنه موجود دی او د هغه قيمت اته سوه روپۍ ده او د درميانه درجې قيمت زر روپۍ ده، اوس دې د زکوة اخيستونکی د کمې درجې مسنه واخلي او دوه سوه روپۍ دې زياتې واخلي.

وليس في العوامل الخ: په استعمالي، باري او په کور کې په خوراک کوونکو څناورانو کې زکوة واجب نه دی، څکه لکه څرنګه چې د انسان په استعمالي اسلحه کې زکوة نشته، همدارنګه په هغو څناورانو کې هم نشته کوم چې د فصل (کروندې) لپاره ساتل کيږي، يا په کومو سره د بار وړل مقصود وي او کوم چې په کور کې پالل کيږي، په همدغو دريواړو څناورانو باندې زکوة واجب نه دی، ليکن که چيرته د تجارت لپاره وي بيا پرې تجارتي زکوة واجب دی

مصدق دې متوسط څناور واخلي : د ائمه اربعه ؤ او جمهورو فقهاؤ په نزد د زکوة په اخيستونکي باندې لازم دي چې څناور په دريو قسمونو باندې تقسيم کړي:

(۱) ښيخي اعلی او غوره څناور (۲) درميانه (۳) ادنی په کومو کې چې عيب لرونکي هم شامل دي، بيا په همدې ټولو کې د درميانه درجې څناور اخيستل په زکوة اخيستونکي باندې واجب دي، نه ښيخي د اعلی درجې اخيستل روا دي او نه ښيخي عيب لرونکی او د کمې درجې اخيستل روا دي، څکه که چيرته په زکوة کې د اعلی درجې څناور واخيستل شي نو په دې کې د مالکانو نقصان (تاوان) دی، او که چيرته خراب څناور واخيستل شي نو په دې کې د مستحقينو نقصان دی، نو څکه د انصاف غوښتنه دا ده چې د درميانه درجې څناور دې واخيستل شي

وَمَنْ كَانَ لَهُ نِصَابٌ	فَاسْتَفَادَ فِي أَثْنَاءِ الْحَوْلِ	مِنْ جِنْسِهِ ضَمَّهُ إِلَى مَالِهِ
که له چا سره که نصاب وو	بيا يې ګټه وکړه په مينځ د کال کې	د هغه له جنس څخه کړه دې کړي له مال سره
وَزَكَّاهُ بِهِ	وَالسَّائِمَةُ هِيَ الَّتِي	تَكْتَفِي بِالرَّعْيِ فِي أَكْثَرِ الْحَوْلِ
او زکوة دې ورکړي	او څرېدونکې هغه دي	چې اکتفاء کوي په څريدا په زياتره کال کې

فَإِنْ عَلَفَهَا نِصْفَ الْحَوْلِ	أَوْ أَكْثَرَ	فَلَا زَكَاةَ فِيهَا	وَالزَّكَاةُ
که خوراک ورکړل شي نیم کال	یا زیات په کور کې	زکات نشته په هغو کې	او زکات
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ	فِي النِّصَابِ	دُونَ الْعَفْوِ	
په نزد د امام ابوحنيفة او امام ابويوسف	په نصاب کې دی	نه په عفو کې	
وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ	تَجِبُ فِيهِمَا	وَإِذَا هَلَكَ الْمَالُ بَعْدَ وُجُوبِ الزَّكَاةِ	
وېلي دي امام محمد او زفر	واجب دی په دواړو کې	او چې هلاک شي مال وروسته له واجبېدو د زکوة	
سَقَطَتْ	فَإِنْ قَدَّمَ الزَّكَاةَ عَلَى الْحَوْلِ	وَهُوَ مَالِكٌ لِلنِّصَابِ	جَازَ
نو ساقطیږي	که مخکې کړ زکوة په کال	او دی مالک وه د نصاب	نو روا دی

د لغاتو حل : استفاد : کته پوره کول، **اثناء** : مینځ، **الرعی** : مصدر دی څرېدل، **علف** : (ض) علفا څناور ته خوراک ورکول، **عفو** : د دوه نصابونو په مابین کې عدد مثلا په اوښانو کې پنځه اوښان یو نصاب دی او په هغو باندې یو پسه دی باقي څلور اوښان په عفو کې داخل دي. کله چې لس پوره شي نو هغه وخت دوه نصابه کیږي.

تشریح : ومن کان له نصاب الخ : د مال مستفاد دوه قسمونه دي (اول) چې د موجوده نصاب له جنس څخه وي (دویم) چې د موجوده نصاب له جنس څخه نه وي، په متن کې اول قسم بیان شوی دی، مګر د دې هم دوه صورتونه دي (اول) چې مال مستفاد له اصل څخه حاصل شوی وي مثلا د هغه نسل زیات شوی وي (دویم) له کوم بل سبب څخه حاصل شوی وي، مثلا د اخیستو یا د هبه په ذریعه یا د میراث په ذریعه، په اول صورت کې دې له اصل مال سره ضم کړی شي او د اصل مال کال د همدغه مال مستفاد کال شمارل کیږي، او په دویم صورت کې د اصل نصاب له ضم کولو وروسته په اصل نصاب باندې له کال پوره کیدو باندې زکات واجبیږي، د امام شافعي په نزد په مال مستفاد باندې جلا له سره د نوي کال تیریدل شرط دي، تردې ځایه د جنس مال مستفاد بیان وه، اوس که چیرته مال مستفاد غیر جنس وه نو د هغه جلا له نوي سره د کال تیریدل معتبریږي.

دون العفو الخ د دې اختلاف ثمره دلته مرتب کیږي مثلا د یوه کس په ملکیت کې نهه اوښان دي د کال په پوره کیدو سره په هغو کې څلور اوښان هلاک شول نو د شیخینو په نزد په باقي پنځو کې یو پسه واجبیږي، خو د امام محمد او امام زفر په نزد چونکه د زکات تعلق له نصاب او عفو دواړو سره دی نو څکه د دوی په نزد د پسه قیمت دې نهه برخې کړي په هغه باندې پنځه برخې واجبیږي او څلور برخې ساقطیږي

واذاهلك الخ دا مسئله په هغه وخت کې ده کله چې په خپله هلاک شي نو د احنافو په نزد زکات له عین شي سره د متعلق کیدو له امله زکات ساقطیږي ځکه چې عین شی موجود ندی. او د امام شافعي په نزد زکات په ذمه واجب شوی دی لهذا له ادائیګي څخه د عاجز کیدو له امله زکات نه ساقطیږي، او که چیرته د مال څښتن په خپله مال هلاک کړی دی نو زکات نه ساقطیږي.

بَابُ زَكَاةِ الْفِضَّةِ

د سپینو زرو د زکوة بیان

د کتاب صاحب له دې مخکې د سوائم مسائل بیان کړل اوس دلته د نقدو روپیو د زکات مسائل بیانوي. دا چې سوائم ډېر زیات موجود وه او د عربو لپاره قیمتي سرمایه وه نو ځکه یې د هغوی بحث مخکې کړ، او د سپینو زکات د سرو په زکات باندې له دوه وجهو مقدم شوی دی. یو لامل دا ده چې په مکتوب نبوي ﷺ کې زکات الفضة له زکاة الذهب څخه مخکې بیان شوی دی، دویم دا چې د سرو په مقابل کې د سپینو راکړه ورکړه ډېره زیاته ده.

لَيْسَ فِي مَادُونَ مِنْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ	صَدَقَةٌ	فَإِذَا كَانَتْ
نشته په کم له دوو سوو درهمو کې	زکوة	بیا کله چې شي
مِائَتَيْ دِرْهَمٍ	وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ	فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ
دوه سوه درهم	او تیر شي پرې کال	نو په هغو کې پنځه درهم دي
وَلَا شَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ	حَتَّى تَبْلُغَ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا	فَيَكُونُ فِيهَا دِرْهَمٌ
او هیڅ شی نشته په زیاتو کې	تردې چې ورسیږي څلوېښتو درهمو ته	پس کیږي په هغو کې یو درهم
ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا	دِرْهَمٌ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ
بیا په هرو څلوېښتو درهمو کې	یو درهم دی	په نزد د امام ابوحنیفة رحمه الله
وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ	مَازَادَ عَلَى الْمِائَتَيْنِ	فَزَكَاتُهُ بِحِسَابِهِ
ویلي دي امام ابویوسف او امام محمد	کوم چې زیات شي په دوو سوو باندې	زکوة د هغو په حساب سره دي
وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الْوَرِقِ	الْفِضَّةُ	فَهِيَ فِي حُكْمِ الْفِضَّةِ
که زیات وو په ملاوټ سکه باندې	سپین زر	نو هغه د سپینو زرو په حکم کې دي
وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَيْهَا الْغِشُّ		فَهُوَ فِي حُكْمِ الْعُرُوضِ
او که زیات وو په هغو باندې ملاوټ		نو هغه په حکم د سامان کې دي

وَيُعْتَبَرُ أَنْ تَبْلُغَ	قِيمَتُهَا نِصَابًا
او معتبره دا ده چې ورسيږي	د هغو قيمت نصاب ته

د لغاتو حل: الورق: ملاوټ سکه لکه دراهم وغيره، **الغش**: بکسر الغين خيری، دلته له غش څخه مراد له سرو او سپينو زرو پرته نور معدن دي کوم چې له سپينو زرو سره يو ځای کړی شي او سکه ترې جوړه کړی شي، العروض: سامان

تشريح: **د سپينو نصاب په پخوانيو اوزانو سره**: د چا په ملکيت کې د پخوانيو اوزانو په اعتبار سره دوه پنځوس نيمې تولې (۲/۱ – ۵۲) سپين زر دي نو په هغه باندې زکوة فرض دی، نقدي روپۍ هم د سپينو په حکم کې دي.

د سپينو نصاب په موجوده اوزانو سره: دوه پنځوس نيمو تولو (۲/۱ – ۵۲) سپينو زرو وزن د موجوده ګرامونو په حساب سره ۶۱۲ ګرام ۳۶۰ ملي ګرام دی، لهذا د موجوده لس ګرامه د تولې په حساب سره ۶۱ توله ۲ ګرام ۳۶۰ ملي ګرام سپين جوړيږي

بَابُ زَكَاةِ الذَّهَبِ

د سرو زرو د زکوة بيان

لَيْسَ فِيمَا دُونَ عِشْرِينَ مِثْقَالًا مِنَ الذَّهَبِ صَدَقَةٌ		فَإِذَا كَانَتْ
نشته کم له شلو مثقالونو څخه په سرو کې زکوة		پس کله چې شي
عِشْرِينَ مِثْقَالًا	وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ	فَفِيهَا نِصْفُ مِثْقَالٍ
شل مثقاله	او تير شي پرې کال	نو په هغو کې نيم مثقال دی
ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ	قِيرَاطَانِ	وَلَيْسَ فِي مَا دُونَ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ
بيا په هرو څلورو مثقالونو کې	دوه قراطونه دي	او نشته کم له څلورو مثقالونو کې
صَدَقَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَا	مَا زَادَ عَلَى الْعِشْرِينَ	فَزَكَوتُهُ بِحِسَابِهِ
زکوة په نزد د امام ابوحنيفة او صاحبينو ويلي	کوم چې زيات شي په شلو باندې	نو زکوة د هغو په حساب سره دی
وَفِي تِبْرِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ	وَحُلِيِّهِمَا	وَالْآنِيَةِ مِنْهُمَا الزَّكَاةُ
او په توټو سرو او سپينو کې	او په ګاڼو د دوي کې	او په لوښو کې يې هم زکوة شته دی

د لغاتو حل: **الذهب**: سره زر، **مثقال**: له دې هغه مثقال مراد دی د کومو د اوه مثقالونو وزن چې د لسو درهمو برابر وي، په عوام الناس کې همدا وزن مشهور دی د دې جمع مثاقيل دی، **قيراطان**: د قيراط

تثنيه ده، يو خاص وزن دی د دې اصل قراط دی جمع يې قراريط راغلې ده، بيا يوه راء په ياء سره بدله کړی شوې ده قيراط شوی دی، تبر: توټه، حلی: د سرو او سپينو زيور، **آنية**: واحد يې اناء دی لوښي.

تشريح: په دغه عبارت کې مصنف رحمه الله د سرو زرو د زکوة بيان کړی دی، د سرو نصاب شل مثقال دي او له دې څخه په کمو کې زکوة نه واجبيږي، او په شلو مثقالونو کې نيم مثقال واجبيږي، له دې وروسته مصنف رحمه الله فرمايلي دي که چيرته په شلو مثقالونو باندې څلور مثقالونو زيات شول نو له نيم مثقال سره دوه قيراطه نور هم واجبيږي، ځکه چې د څلورو مثقالونو څلويښتمه برخه دوه قيراطه دي، ځکه چې يو مثقال شل قيراطه دی، لهذا څلور قيراطه اتيا قيراطه کيږي او د هغو څلويښتمه برخه دوه کيږي، نو ځکه د څلورو مثقالونو زکوة دوه قيراطه واجبيږي، يو قيراط د پنځو اوربشو له دانو سره برابر دی، چنانچه يو مثقال د يوسل اوربشو د دانو د وزن برابر دی، بيا وړاندې يوه اختلافي مسئله بيان شوې ده چې که چيرته په شلو مثقالونو باندې له څلورو مثقالونو څخه کم زيات شي نو د حضرت امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد په همدغه زياتوالي کې هيڅ زکوة نه واجبيږي، او د صاحبينو په نزد د حساب په اندازه زکوة واجبيږي، د بيلګې په توګه که چيرته په شلو باندې يو مثقال زيات شي نو په زکوة کې نيم مثقال او نيم قيراط واجبيږي، ځکه چې د شلو مثقالونو څلويښتمه برخه نيم مثقال دی، او د يوه مثقال څلويښتمه برخه نيم قيراط دی

فايده: د موجوده ګرامونو په حساب سره د يوه مثقال وزن ۴ ګرام ۳۷۴ ملي ګرامه دی.

د سرو نصاب په پخوانيو اوزانو سره: د چا په ملکيت کې د پخوانيو اوزانو په حساب سره چې اوه نيمې (۲/۱ - ۷) تولې سره وي په هغه باندې زکوة فرض دی.

د سرو نصاب په موجوده اوزانو سره: اووه نيمې تولې (۲/۱ - ۷) وزن د موجوده ګرامونو په حساب سره ۸۷ ګرام ۴۸۰ ملي ګرامه دی، لهذا موجوده لس ګرامه د تولې په حساب سره ۸/ تولې ۷/ ګرام ۴۸۰ ملي ګرامه د سرو نصاب جوړيږي

د يوه مثقال وزن: د يوه مثقال وزن ۴ ماشه ۴ رتی يعنې (۲/۱ ۰ ۴) ماشې کيږي. او د ګرامونو په حساب سره ۴/ ګرامه ۳۷۴ ملي ګرامه د يوه مثقال وزن کيږي، لهذا د شلو مثقالونو وزن ۸۷ ګرامه ۴۸۰ ملي ګرامه کيږي. که چيرته له کوم کس سره ۸۷ ګرامه ۴۸۰ ملي ګرامه سره دي کوم چې د شلو مثقالونو وزن دی نو په هغو کې نيم مثقال يعنې ۲۰ ګرامه ۱۸۷ ملي ګرامه سره وباستل فرض کيږي.

بَابُ زَكَاةِ الْعُرُوضِ

د سامان د زکوة بيان

الزَّكَاةُ وَاجِبَةٌ	فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ	كَائِنَةً مَا كَانَتْ	إِذَا بَلَغَتْ
زکوة واجب دی	په سامان د تجارت کې	که هر ډول سامان وي	کله چې ورسيږي
قِيمَتُهَا نِصَابًا مِنَ الْوَرِقِ أَوِ الذَّهَبِ		يُقَوِّمُهَا بِمَا هُوَ أَنْفَعُ	
قيمت يې نصاب د سپينو زرو يا د سرو زرو ته		قيمت دې ولګول شي په هغه چې ګټه رسوونکې وي	
لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ مِنْهُمَا	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ	يُقَوِّمُ مِمَّا اشْتَرَاهُ بِهِ	
د فقيرانو او مسکينانو لپاره	ويلي دي امام ابويوسف	قيمت دې ولګول شي په هغه چې پرې اخيستل شوی دی	
فَإِنِ اشْتَرَاهُ بِغَيْرِ الثَّمَنِ	يُقَوِّمُ بِالنَّقْدِ	الْغَالِبِ فِي الْمِصْرِ	
که اخيستل شوی پرته له روپۍ	نو قيمت دې ولګول شي په هغه نقدو	چې زياتې وي په ښار کې	
وَقَالَ مُحَمَّدٌ	بِغَالِبِ النَّقْدِ فِي الْمِصْرِ عَلَى كُلِّ حَالٍ		
ويلي دي امام محمد	په غالب نقدو د ښار دې په هر حال کې		

خلاصه: واضحه دې وي چې له نقدو (سرو او سپينو) پرته چې څومره شيان دي ټول په اسباب او سامان کې داخل دي، او د هغو د قيمت اندازه په نقدو سره لګول کيږي، لهذا د کتاب صاحب تر اوسه د نقدو څخه بحث کړی وه او اوس د سامان بحث کوي، د عبارت حاصل دا ده چې د تجارت سامان برابره ده که هر قسم وي په هغو کې زکات واجب دی په دې شرط چې د هغه نصاب د سرو او سپينو نصاب ته ورسيږي، د تجارتي سامان قيمت د سرو او سپينو په لحاظ لګول کيږي، که چيرته د سامان قيمت په دې دوارو کې له کوم يوه سره برابر شو نو په دې کې څلور قولونه دي:

د فقهاؤ اقوال: د احنافو په نزد د زکوة واجب کيدو له شرطونو څخه يو شرط دا ده چې د همدغه تجارتي مال قيمت به د سرو او سپينو په حساب سره نصاب پوره کړی وي، ليکن اوس پوښتنه دا ده چې د قيمت اندازه به له دراهمو سره کيږي او که له دينارو سره به کيږي، په دې باره کې درې قولونه دي:

(۱) د تجارتي مال د قيمت اندازه دې له سرو او سپينو څخه له هغه سره وکړي په کوم کې چې د فقيرانو او مسکينانو ګټه وي، د بيلګې په توګه د تجارت يو سامان دی، کوم چې د سپينو له نصاب سره برابريږي، ليکن د سرو له نصاب سره برابر نه دی، نو هغه دې له دراهمو سره اندازه کړل شي، احتياطاً دې د فقيرانو رعايت په نظر کې نيولو سره همداسې وکړل شي، دا قول له امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ څخه منقول دی.

(۲) دغه سامان دي له سپینو او سرو څخه په کومو سره چې اخیستل شوی دی د هغه قیمت دې اندازه کړل شي، که چیرته د دراهمو په عوض کې اخیستل شوی دی نو له دراهمو سره دې اندازه کړي، او که چیرته د دنانیرو په عوض کې اخیستل شوی وو نو له دنانیر سره دې اندازه کړي، او که چیرته له دراهمو او دنانیرو پرته (علاوه) په بل شي سره اخیستل شوی وي نو په دراهم او دنانیر کې چې د کومو چلند زیات وي له هغه سره دې د قیمت اندازه وکړي، دا قول د امام محمد رحمه الله دی

وَإِذَا كَانَ النِّصَابُ كَامِلًا	فِي طَرَفَيِ الْحَوْلِ		فَنُقْصَانُهُ
کله چې شي نصاب مکمل	په دواړو برخو د کال کې		نو کمیدل د هغه
فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ	لَا يُسْقِطُ الزَّكَاةَ		وَيُضَمُّ قِيمَةُ الْعُرُوضِ
په مینځ د کال کې	ساقط کولی نشي زکوة		او ضم دې کړل شي قیمت د سامان
إِلَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ	وَكَذٰلِكَ يُضَمُّ الذَّهَبُ إِلَى الْفِضَّةِ		
د سرو او سپینو طرفته	او همدارنګه ضم دې کړل شي د سرو د سپینو طرفته		
بِالْقِيمَةِ	حَتّٰى يَتِمَّ النِّصَابُ		عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ
د قیمت په اعتبار	تردې چې پوره شي نصاب		په نزد د امام ابوحنیفة رحمه الله
وَقَالَا	لَا يُضَمُّ الذَّهَبُ إِلَى الْفِضَّةِ	بِالْقِيمَةِ	وَيُضَمُّ بِالْأَجْزَاءِ
ویلي دي صاحبینو	نه دې ضم کیږي سره له سپینو سره	د قیمت په اعتبار	بلکې ضم دې کړل شي د اجزاو په اعتبار

تشریح په دغه عبارت کې مصنف رحمه الله د نصاب د تکمیل لپاره د دوو مختلفو مالونو د ضم کیدو دوه مسئلې بیان کړې دي

(۱) که چیرته له کوم کس سره له څه سرو او څه سپینو سره د تجارت مال دی، خو د یوه نصاب جلا جلا نه پوره کیږي، نو په دغه صورت کې دې د ټولو قیمت ولګول شي د سپینو نصاب دې جوړ کړل شي، او د سپینو نصاب چې ومنل شي او نصاب پوره شي نو زکوة واجب دی که نه ،نه دی واجب

(۲) که چیرته د سرو او سپینو د هر یوه جلا جلا نصاب پوره نشو، یا د یوه پوره شو د بل ناقص نو په دغه صورت کې اختلاف دی

د امام شافعي رحمه الله په نزد په سرو او سپینو کې دې یو له بل سره یو ځای کول نشي نو په هغو کې د هر یوه د نصاب نه پوره کیدو له وجهې زکوة واجب نشو. د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد سره دې له سپینو سره یوځای کړل شي ټول دې د سپینو نصاب جوړ کړل شي او کله چې سره ښکه چې په دې کې د فقیرانو ډیره زیاته ګټه ده

د ضم صورت به څه وي؟ په دې کې د قدوري صاحب اختلاف نقل کړی دی. د امام صاحب په نزد به د قيمت لحاظ وي او د صاحبينو په نزد به د اجزاؤ، يعنې د وزن، همدا د امام مالک رحمه الله مذهب دی
د اختلاف ثمره په دغه مثال کې ښکاره کيږي له يوه کس سره د دوه سوه درهمو سپين دي، او پنځه مثقاله سره دي، او د پنځو مثقالو سرو قيمت يو سل درهمو ته رسيدلی دی. نو په دغه صورت کې د امام صاحب په نزد زکوة واجبيږي، ځکه چې د قيمت په اعتبار سره نصاب پوره شوی دی. او د اجزاؤ په اعتبار سره چونکه نه ده پوره شوی نو ځکه د صاحبينو په نزد زکوة هم نه واجبيږي
که چيرته له يوه کس سره د سلو درهمو سپين دي او پنځه مثقاله سره د کومو قيمت چې پنځوسو درهمو ته رسيدلی دی، نو بالاتفاق زکوة نه واجبيږي، ځکه چې نصاب نه د قيمت په اعتبار سره مکمل دی او نه د اجزاؤ په اعتبار سره مکمل دی. او که چيرته له يوه کس سره لس مثقاله سره او د سلو درهمو سپين وو او د لسو مثقالونو قيمت سلو درهمو ته رسيده نو بالاتفاق زکوة واجبيږي

بَابُ زَكَاةِ الزُّرُوعِ وَالثِّمَارِ

د فصلونو او ميوو د زکوة بيان

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي قَلِيلِ مَا أَخْرَجَتْهُ الْأَرْضُ وَكَثِيرِهِ الْعُشْرُ وَاجِبٌ
ويلي دي امام ابوحنيفة د زمکې حاصل که کم وي که زيات عشر پکې واجب دی
سَوَاءٌ سُقِيَ سَيْحًا أَوْ سَقَتْهُ السَّمَاءُ إِلَّا الْحَطَبَ وَالْقَصَبَ وَالْحَشِيشَ
برابره ده که په جاري اوبو خړوبيږي که د باران پرته له لرګي بانس او وښو څخه
وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رح لَا يَجِبُ الْعُشْرُ إِلَّا فِيمَا لَهُ ثَمَرَةٌ بَاقِيَةٌ
ويلي دي صاحبينو واجب ندی عشر مګر په هغو کې د کومو ميوې چې باقي پاتې کيږي
إِذَا بَلَغَتْ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ وَالْوَسْقُ سِتُّونَ صَاعًا بِصَاعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې ورسيږي پنځو وسقو ته او وسق شپيته صاعه دی د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په صاع سره
وَلَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ عِنْدَهُمَا عُشْرٌ
او نشته په سبزي جاتو کې د صاحبينو په نزد عشر

د لغاتو حل: زکوة: له دې څخه مراد عشر دی، **زروع**: دا د زرع جمع ده فصل، **الثمار**: دا د ثمر جمع ده ميوې، **سقي**: دا فعل ماضي مجهول ده باب (ض) سقيا خړوبول، **سيحا**: بهيدونکې اوبه، **الحطب**: لرګي، **القصب**: بانس، **الحشيش**: واښه، بوس، **اوسق**: دا د وسق جمع ده شپيته صاعه، **خضروات**: سبزياني

خلاصه: د زمکي په حاصل کې د عشر متعلق د امام ابو حنيفه او صاحبينو په مينځ کې اختلاف دی. د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نزد هيڅ نصاب معلوم ندی او نه تول کال باقي پاتې کيدل شرط دي، او د صاحبينو په نزد دوه شيان شرط دي، يو د نصاب معلوميدل يعني حاصل به د پنځه وسقه په اندازه دي، دويم دا چې د زمکي حاصل به پرته له کوم تدبير د همدې کال تر پايه باقي پاتې کيږي، يو وسق د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شپيته صاعه دی، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نزد په لرگي باڅس او وښو کې عشر نشته، البته د کومو وښو چې کښت کيږي په هغو کې عشر واجب دی، او په سبزي جاتو کې د صاحبينو په نزد د دوی د ذکر شويو شرطونو مطابق عشر نشته، ځکه چې له تدبير پرته د دوی باقي پاتې کيدل ممکن ندي، البته د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نزد عشر پکې واجب دی.

وَمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ	أَوْدَالِيَةٍ	أَوْسَانِيَةٍ	فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ
او کومه چې خړوبيږي په بوقې	يا په څرخ سره	يا په اوښ باندې	په هغې کې نيمايي عشر دی
عَلَى الْقَوْلَيْنِ	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ	فِيمَا لَا يُوسَقُ كَالزَّعْفَرَانِ	
د دواړو قولونو په نزد	ويلي دي امام ابو يوسف	په هغو کې چې په وسق نشي خرڅيدی لکه زعفران	
وَالْقُطْنِ	يَجِبُ فِيهِ الْعُشْرُ	إِذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهُ	قِيمَةَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ
مالوچ	واجب ده په هغو کې عشر	کله چې ورسيږي قيمت يې	قيمت د پنځو وسق ته
مِنْ أَدْنَى مَا يَدْخُلُ تَحْتَ الْوَسْقِ	وَقَالَ مُحَمَّدٌ	يَجِبُ الْعُشْرُ	
ادنی د هغه چې په وسق سره ناپ کيدی شي	ويلي دي امام محمد	واجب دی عشر	
إِذَا بَلَغَ الْخَارِجُ	خَمْسَةَ أَمْثَالٍ مِنْ أَعْلَى مَا يُقَدَّرُ بِهِ نَوْعُهُ		
کله چې ورسيږي حاصل	د پنځو داسې اعلی شيانو مقدار ته په کوم سره چې د هغو په شان د نورو اندازه کيدی شي		
فَاعْتُبِرَ فِي الْقُطْنِ	خَمْسَةُ أَحْمَالٍ	وَفِي الزَّعْفَرَانِ خَمْسَةُ أَمْنَاءٍ	
پس معتبر ده په مالوچو کې	پنځه احمال	او په زعفران کې پنځه منه	

د لغاتو حل: **غرب**: غټه بوقه، **دالية**: څرخ، **سانيه**: هغه اوښ په کوم باندې چې له کوهي څخه اوبه را وباسل کيدی شي، **قطن**: مالوچ (پنبه)، **احمال**: د يوه اوښ بار، يو حمل تقريبا درې منه دی، نو پنځه احمال برابر پنځلس منه شول.

خلاصه: وړاندې تير شوي دي چې د صاحبينو په نزد چې د زمکې په حاصل کې د عشر واجب کيدو لپاره د پنځو وسق په اندازه کيدل يې لازمي دي، له دې څخه په کم کې عشر نه واجبيږي، ليکن د کومو شيانو خريد او فروخت چې په وسق سره نشي کيدلی لکه زعفران او مالوچ نو آيا په هغو کې عشر واجب نه دی؟ د قدوري صاحب ويلي دي چې د همداسې شيانو په باره کې د امام ابويوسف

رَحِمَهُ اللهُ قول دا ده چې په زعفران او نورو غیر وسقي شیانو قیمت که چیرته د ادنی درجې وسقي شي پنځه وسق شي نو په هغه کې عشر واجبیږي، د بیلګې په توګه د دوه سوه ګرام زعفران قیمت که چیرته د پنځه وسق جوار قیمت ته ورسیږي نو په دوه سوه ګرام زعفران کې لسمه برخه یعنې ۲۰ ګرامه زعفران واجبیږي، اګر که د زعفران خرید او فروخت په وسق سره نشي کیدلی، او د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ قول دا ده چې په غیر وسقي شیانو کې د اعلی درجې معیار معتبر دی، یعنې په کوم معیار سره چې اندازه کیدلی شي په هغو کې کوم اعلی معیار دی که چیرته هغه د پنځو تعداد ته ورسیږي نو په هغه کې عشر واجبیږي، که نه نشته، په مالوچو کې تر ټولو اعلی معیار حمل دی، چنانچه که چیرته مالوچ پنځه حمل وي نو د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد عشر پکې شته دی، او په زعفران کې تر ټولو غوره معیار من دی، چنانچه که چیرته زعفران د پنځه منو په مقدار کې شي نو په هغو کې عشر واجبیږي، یو حمل دری سوه منه دی، په ۵ حمل کې پنځلس منه دي.

د موجوده کلو ګرام په حساب سره د یوه من وزن ۷۹۶ ګرام ۶۸ ملي ګرامه کیږي، چنانچه د ۱۵۰۰ من وزن ۱۱ کوئنټل ۹۵ کلو ۲ ګرام کیږي، یعنې که چیرته همدومره مالوچ پیدا شي نو د هغو لسمه برخه (یو کیلو ۱۹۵ ګرام ۲ ملی ګرام) ویستل واجبیږي.

او که چیرته ۳ کیلو ۹۸۰ ګرام ۳۴۰ ملي ګرام زعفران پیدا شي نو د هغو لسمه برخه (۳۹۸ ګرام ۳۴ ملی ګرام) ویستل واجبیږي.

وَفِي الْعَسَلِ الْعُشْرُ	إِذَا أُخِذَ مِنْ أَرْضِ الْعُشْرِ	قَلَّ أَوْ كَثُرَ
او په شاتو کې عشر دی	کله چې واخیستل شي له عشري زمکې	کم وي که زیات
وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ	لَا شَيْءَ فِيهِ	حَتَّى يَبْلُغَ عَشَرَةَ أَزْقَاقٍ
ویلي دي امام ابویوسف	هیڅ نشته په دې کې	تردې چې ورسیږي لسو مشکیزو ته
وَقَالَ مُحَمَّدٌ	خَمْسَةُ أَفْرَاقٍ	وَالْفَرَقُ سِتَّةٌ وَثَلَاثُونَ رِطْلًا بِالْعِرَاقِي
ویلي دي امام محمد	کله چې پنځه فرق شي	او فرق شپږدیرش رطله دی په عراقي سره
وَلَيْسَ فِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ عُشْرٌ		
او نشته د خراجي زمکې په حاصل کې عشر		

د لغاتو حل: **العسل**: شات (ګبین)، **ازقاق**: مشک، **الخارج**: حاصل (پیداوار).

تشریح: **وفي العسل العشر**: مسئله دا ده چې د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ، امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او صاحبینو په نزد په شاتو کې عشر واجب دی، د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد شات که کم وي که زیات په هر صورت کې عشر واجبیږي، خکه چې د امام صاحب په نزد په حاصل کې عموم له پخوا څخه دا هم واضح دي چې عامه قاعده دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد عشر صرف په عشري زمکه کې دی په خراجي

زمکه کې نشته دی، د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰه په نزد که چیرته شات د لسو مشکیزو په اندازه وو نو په هغو کې عشر واجبیږي، د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰه په نزد که چیرته لس فرق شي نو عشر واجبیږي، د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰه په نزد په شاتو کې د عشر نصاب پنځه فرق دي (۱)

او یو فرق ۳۶ رطله عراقي دی، لهذا په ۵ فرق کې ۱۸۰ رطله کیږي او یو رطل د موجوده کیلو ګرام په حساب سره ۳۹۸ ګرام ۳۴ ملي ګرامه دی، لهذا په ۳۶۱ رطل کې ۱۴۳۴۰.۲۴ یعني ۱۴ کیلو ۳۴۰ ګرام ۲۴ ملی ګرامه شو، داد یوه فرق وزن شو

د ۱۸۰ رطل وزن د موجوده کیلو ګرام په حساب سره ۷۱ کیلو ۷۰۱ ګرام ۲۰۰ ملی ګرام دی، چنانچه که چیرته کوم کس همدومره شات وباسي نو د هغو لسمه برخه (۷ کیلو ۱۷۰ ګرام ۱۲ ملي ګرام) ویستل کیږي

د شافعیانو او مالکیانو په نزد په شاتو کې عشر نشته دی

د وجوب عشر دلیل: له حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ **څخه منقول دي چې** رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شاتو په باره کې وفرمایل په لسو مشکیزو کې یوه مشکیزه ده، په دغه حدیث سره په شاتو کې د عشر وجوب ثابت شوی دی، لکه څرنګه چې احنافو او حنابله ؤ مذهب دی

د عشري زمکې تعریف: عشري زمکه داسې زمکې ته ویل کیږي د کومې مالک چې مسلمان وي، یا د قوت په ذریعه کوم هیواد یا ښار فتح شوی وي او د هغه زمکه په مجاهدینو باندې ویشل شوې وي

د خراجي زمکې تعریف: هر هغه زمکه ده کومه چې له قهر او غلبې سره فتح شوې وي، او د هغې کافر اوسیدونکي هملته برېښودل شوي وي او زمکه هغو ته سپارل شوې وي

فایده: د احنافو په نزد په کومو شیانو کې چې زکوة واجب دی که چیرته هغه تفصلاً شمار کړی شي نو هغه تول نه دي:

(۱) سره (۲) سپین (۳) د تجارت مال (۴) سوائم کوم چې دری دي - اوښ، غواګانې - میږې او بزې (۵) فصلونه (۶) میوه (۷) شات (ګبین) (۸) آسونه (۹) سبزي جات

بَابُ مَنْ يَجُوزُ دَفْعُ الصَّدَقَةِ إِلَيْهِ وَمَنْ لَا يَجُوزُ

د هغو بیان کومو ته چې د زکات ورکول روا دي او کوم ته یې چې ورکول روا ندي

له دې مخکې د زکات او د هغه د احکامو بیان وه او اوس دلته په دې باب کې د زکات او صدقاتو د مصارفو بیان دی

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی	إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ	لِلْفُقَرَاءِ	وَالْمَسَاكِينِ الْآيَةَ
فرمایلي دي الله جل جلاله	بیشکه زکاتونه	د فقیرانو	او مسکینانو لپاره دي
فَهٰذِهِ ثَمَانِيَةُ أَصْنَافٍ	قَدْ سَقَطَ مِنْهَا الْمُؤَلَّفَةُ قُلُوبُهُمْ	لِأَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی	
پس دغه اته قسمه دي	له کومو چې مؤلفة القلوب ساقط شوي دي	ځکه الله تعالی	
أَعَزَّ اللّٰهُ الْإِسْلَامَ	وَأَغْنٰی عَنْهُمْ	وَالْفَقِيرُ مَنْ لَهُ أَدْنٰی شَيْءٍ	
اسلام غالب کړی دی	او بې پروا کړی دی له دوی څخه	او فقیر هغه دی چې یو څه مال ورسره وي	
وَالْمِسْكِينُ مَنْ لَا شَيْءَ لَهُ	وَالْعَامِلُ يَدْفَعُ إِلَيْهِ الْإِمَامُ		
او مسکین هغه دی چې هیڅ ورسره نه وي	او عامل ور دې ورکړي هغه ته واکمن		
إِنْ عَمِلَ بِقَدْرِ عَمَلِهِ	وَفِي الرِّقَابِ أَنْ يُعَانَ الْمُكَاتَبُونَ		
که یې کار کړی وو د خپل عمل په اندازه	او د غاړو په خلاصولو کې چې مرسته وکړي له مکاتبانو سره		
فِي فَكِّ رِقَابِهِمْ	وَالْغَارِمُ مَنْ لَزِمَهُ دَيْنٌ	وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ	
د دوی د غاړو په خلاصولو کې	او غارم په چا باندې چې قرض لازم وي	او د الله په لار کې	
مُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ	وَابْنُ السَّبِيلِ مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي وَطَنِهِ		
چې له غزا پاتې شوی وي	او ابن السبیل هغه د کوم مال چې په وطن کې وي		
وَهُوَ فِي مَكَانٍ آخَرَ	لَا شَيْءَ لَهُ فِيهِ	فَهٰذِهِ جِهَاتُ الزَّكٰوةِ	
او دی په بل ځای کې وي	چې هیڅ نوي له هغه سره همدلته	پس همدا د زکوة له مصارفو دي	
وَلِلْمَالِكِ أَنْ يَدْفَعَ إِلٰی كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ	وَلَهُ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلٰی صِنْفٍ وَاحِدٍ		
او د مالک اختیار دی چې ورکړي له دوی څخه یو ته	او شته ده لره چې بسوالی وکړي په یو قسم		

تشریح : فقد سقط د زیاتره علماء کرامو په نزد له رسول الله ﷺ وروسته مؤلفة القلوب ندي پاتې شوي، د قدوري محشي د عنایه په حواله لیکلي دي چې مؤلفة القلوب په درې قسمه دي، په اول او دویم قسم کې کافر دي او په دریم قسم کې ضعیف العقیده مسلمانان دي.

د فقیر او د مسکین په تعریف کې د امام ابو حنیفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله اختلاف دی.

الفقیر: د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد فقیر هغه ته ویل کیږي له کوم سره چې یو څه مال وي خو د نصاب په اندازه نوي، او مسکین هغه ته ویل کیږي له کوم سره چې هیڅ هم نوي، او د امام شافعي په نزد فقیر هغه ده له کوم سره چې هیڅ هم نوي او مسکین هغه ده له کوم سره چې څه مال وي خو د نصاب په اندازه نوي.

وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَدْفَعَ الزَّكٰوةَ إِلَى ذِمِّيٍّ	**وَلَا يُبْنٰى بِهَا مَسْجِدٌ**		
روا نه ده چې ورکړي شي زکات ذمي ته	او نه دې جوړېږي په هغه سره جومات		
وَلَا يُكَفَّنُ بِهَا مَيِّتٌ	**وَلَا يُشْتَرٰى بِهَا رَقَبَةٌ يُعْتَقُ**	**وَلَا تُدْفَعُ**	
او نه دې کفن کیږي پرې مړی	او نه دې اخیستل کیږي پرې غلام چې ازاد شي	او نه دې ورکوي	
إِلَى غَنِيٍّ	**وَلَا يَدْفَعُ الْمُزَكِّي زَكَاتَهُ**	**إِلَى أَبِيهِ وَجَدِّهِ**	**وَإِنْ عَلَا**
غني ته	او نه دې ورکوي مزکي زکات خپل	پلار او نیکه ته	اګر که تر پورته پورې وي
وَلَا إِلَى وَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ	**وَإِنْ سَفَلَ**	**وَلَا إِلَى أُمِّهِ وَجَدَّاتِهِ**	**وَإِنْ عَلَتْ**
نه خپل زوی او لمسي ته	تر ښکته پورې	او نه خپلې مور او نیا ته	اګر که تر پورته پورې وي
وَلَا إِلَى امْرَأَتِهِ	**وَلَا تَدْفَعُ الْمَرْأَةُ إِلَى زَوْجِهَا**	**عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ**	
او نه خپلې ښځې ته	او نه دې ورکوي ښځه میړه خپل ته	په نزد د امام ابوحنیفة رحمه الله	
وَقَالَا	**تَدْفَعُ إِلَيْهِ**	**وَلَا تَدْفَعُ إِلَى مُكَاتَبِهِ وَلَا مَمْلُوكِهِ**	
ویلي دي صاحبینو	ور دې کړي دوی ته	او نه دې ورکوي مکاتب خپل او غلام خپل ته	
وَلَا مَمْلُوكِ غَنِيٍّ	**وَوَلَدِ غَنِيٍّ**	**إِذَا كَانَ صَغِيرًا**	**وَلَا يَدْفَعُ**
او نه مالدار غلام ته	او نه د مالدار زوی ته	کله چې وي نابالغ	او نه دې ورکوي
إِلَى بَنِي هَاشِمٍ	**وَهُمْ آلُ عَلِيٍّ**	**وَآلُ عَبَّاسٍ**	**وَآلُ جَعْفَرٍ**
بنو هاشمو ته	او دوی آل د حضرت علي	آل د حضرت عباس	آل د حضرت جعفر
وَآلُ عَقِيلٍ	**وَآلُ حَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ**	**وَمَوَالِيهِمْ**	
آل د حضرت عقیل	آل د حارث بن عبدالمطلب دي	او نه د دوی غلامانو ته	

تشريح: په دې ښيړ عبارت کې تقريبا شپاړس کسان او ځايونه دي کوم چې د زکات له مصرف څخه دباندې دي.

ولايدفع المزكي زكوته الخ: د زكوة روپۍ د جومات په تعمير کې يې مصرف کول او مړي ته يې په تجهيز او تکفين کې ورکول روا نه دي، ځکه چې د زکوة اداء کولو لپاره بلا عوض او بلا خدمت د فقير مالک جوړول شرط دي، او دغه خبره په ذکر شويو شيانو کې نشته، د ضرورت په وخت کې دا صورت کېدلی شي چې د مړي ولي که چيرته د زکوة مستحق وي نو هغه ته دې د زکوة په نيت سره روپۍ ورکړی شي هغه دې په هغو سره تجهيز او تکفين وکړي.

که چيرته د زکوة په مال سره غلام يا مينزه واخيستل شي او ازاده کړل شي نو زکوة نه اداء کيږي، ځکه چې د زکوة رکن مالک جوړيدل دي، او په آزادولو کې د مالک کيدو معنی نه موندل کيږي، بلکې د ملک ساقط کيدو معنی پکې پيدا کيږي نو زکوة هم نه اداء کيږي.

د احنافو په نزد د غني حد معلوم دی، يعنې د نامي نصاب مالک کيدل، لهذا کوم کس چې د نصاب څښتن وي هغه د دوی په نزد غني دی، هغه ته د زکوة ورکول روا نه دي، همدارنګه تولې واجب شوي صدقې لکه عشر، کفارات او صدقة الفطر.

د احنافو په نزد حکم دا ده چې له کومو رشته دارانو سره د پيدايښت تعلق وي هغو ته زکوة نشي ورکول کيدلی، لکه خپله مور، پلار، نيکه، نيا، همدارنګه زوی، لمسی، لور او په ښځه او ميړه کې هم يوه او بل ته زکوة ورکول نه دي روا، ځکه چې د ښځې او ميړه ګټې په عام ډول سره مشترک (ګډ) دي، او دوی عموماً د يوه او بل له شي څخه استفاده کوي، نو ځکه ښځې او ميړه ته په خپل مينځ کې يوه او بل ته د زکوة ورکول روا نه دي.

بني هاشمو ته زکوة ورکول روا نه دي، البته هغوی ته نفلي خيراتونه ورکول کيدلی شي، د عبدالمطلب دوولس اولادونه وو، په همدغو دوولسو کې صرف (يوازې) څلور اولادونه مستثنی شوي دي د پاتې اتو فقير اولاد لپاره زکوة حلال دی، او څلور اولاده کوم چې مستثنی شوي دي هغه د حضرت عبدالله حضرت عباس حضرت حارث او حضرت ابوطالب اولاد دی، او د ابوطالب د دريو بچيانو نسل په دنيا کې شته دي، يعنې د حضرت علي، حضرت عقيل او حضرت جعفر اولاد په دنيا کې موجود دی، د عبدالمطلب د ذکر شويو څلورو اولادونو نسل ته هاشمي ويل کيږي.

			إِذَادَفَعَ الزَّكَاةَ	وَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى
			کله چې ورکړی شي زکوة	ويلي دي طرفينو رحمهم الله تعالی
أَوْكَافِرٌ	أَوْهَاشِمِيٌّ	ثُمَّ بَانَ أَنَّهُ غَنِيٌّ	يَظُنُّهُ فَقِيرًا	إِلَى رَجُلٍ
يا کافر دی	يا هاشمي دی	بيا ښکاره شي چې مالدار دی	په ګمان د فقير	يوه کس ته

أَوْ دَفَعَ فِي ظُلْمَةٍ إِلَى فَقِيرٍ	ثُمَّ بَانَ	أَنَّهُ أَبُوهُ أَوْ ابْنُهُ	
يا يې ورکړي په تياره کې فقير ته	بيا ښکاره شوه	چې هغه د ده پلار يا زوی وو	
فَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ	وَعَلَيْهِ الْإِعَادَةُ	
نشته اعاده په ده باندې	ويلي دي امام ابويوسف	شته په هغه باندې اعاده	
وَلَوْ دَفَعَ إِلَى شَخْصٍ	ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ عَبْدُهُ	أَوْ مُكَاتَبُهُ	لَمْ يَجُزْ
او که ورېې کړ يو کس ته	بيا معلومه شوه چې هغه يې غلام	يا مکاتب وو	نو روا نه ده
فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا	وَلَا يَجُوزُ دَفْعُ الزَّكَاةِ	إِلَى مَنْ يَمْلِكُ نِصَابًا	
په ټولو قولونو کې	او روا نه دي ورکول د زکوة	هغه چا ته چې مالک وي د نصاب	
مِنْ أَيِّ مَالٍ كَانَ	وَيَجُوزُ دَفْعُهَا	إِلَى مَنْ يَمْلِكُ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ	
که له هر مال څخه وي	او روا دي ورکول د زکوة	هغه چا ته چې مالک وي کم له نصاب څخه	
وَإِنْ كَانَ صَحِيحًا مُكْتَسِبًا	وَيُكْرَهُ	نَقْلُ الزَّكَاةِ مِنْ بَلَدٍ	
اګر که تندرست او ګټه کوونکي وي	او مکروه دي	نقل کول د زکوة له يوه ښار څخه	
إِلَى بَلَدٍ آخَرَ	وَإِنَّمَا يُفَرَّقُ صَدَقَةُ كُلِّ قَوْمٍ فِيهِمْ	إِلَّا أَنْ يَحْتَاجَ	
بل ښار ته	بلکې تقسيم دې کړل شي زکات د هر قوم په هغوی کې	مګر که ضرورت وو	
أَنْ يَنْقُلَهَا الْإِنْسَانُ	إِلَى قَرَابَتِهِ	أَوْ إِلَى قَوْمٍ هُمْ أَحْوَجُ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِ بَلَدِهِ	
چې نقل يې کړي انسان	خپلو رشته دارانو	يا داسې خلکو ته چې زيات محتاج وي ورته د ده له ښاريانو څخه	

خلاصه زکوة ورکوونکي يوه کس د زکوة مستحق وګڼه زکوة يې ورکړ، وروسته معلومه شوه چاته چې زکوة ورکړې شوی دی هغه د زکوة مستحق نه دی. د بيلګې په توګه هغه مالدار دی، يا له هاشمي خاندان سره تعلق لري. يا کافر دی، يا د زکوة ورکوونکي پلار دي، يا د هغه زوی دی، نو په همدغو ټولو صورتونو کې د طرفينو په نزد دوباره زکوة ورکول نه لازميږي، بلکې کوم يې چې ورکړی ده هغه کافي ده، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد زکوة نه اداء کيږي، بلکې دوباره زکوة ورکول لازميږي

د طرفينو دليل کومه خبره چې د زکوة ورکوونکي په وس کې وه يعني مالک جوړول هغه يې کړيده، هغه په دې مکلف نه دی چې په تياره (شپه) کې پوښتنه وکړي چې ته څوک يې، د طرفينو قول مفتی به دی.

او که چيرته د زکوة له ورکولو وروسته معلومه شوه چې چاته زکوة ورکړی شوی دی هغه يې غلام دی، يا يې مکاتب دی نو د هغه دغه زکوة نه اداء کيږي، ځکه چې په غلام کې دننه مالک (څښتن) کيدل نه موندل کيږي، حالانکه د زکوة رکن مالک کيدل دي، او چونکه د مکاتب په ګټه کې د آقا حق دی نو ځکه تمليک ناقص وموندل شو، لهذا په همدغه صورت کې هم زکوة اداء نشو

که چیرته کوم کس د نصاب په اندازه مالک وي برابره ده که د سرو او سپینو نصاب وي او که د حیواناتو وي، یا د نور سامان نصاب وي نو هغه ته زکوة ورکول روا نه دي، که چیرته کوم کس روغ جوړ، تندرست، طاقتور د ګټې کولو لایق وي مګر فقیر وي نو د هغه لپاره زکوة او واجبه صدقات حلال دي او که نه دي؟ په دې باره کې دوه مذهبه دي

(۱) د شافعیانو په نزد د همداسې کس لپاره زکوة او واجبه صدقات حلال او روا نه دي

(۲) د احنافو او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د همداسې کس لپاره زکوة او واجبه صدقات حلال او روا دي، د زکوة او واجبه صدقاتو د حلال کیدو لپاره صرف فقیر کیدل شرط دي، برابره ده که فقیر تندرست وي او که معذور یا ناورغ وي د ټولو لپاره صحي دي

د شافعیانو دلیل : د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان دی د مالدار لپاره، د روغ جوړ تندرست او قوت والا کس کوم چې د ګټې کولو وس (طاقت) لري د هغه لپاره صدقه روا نه ده.

ځواب : د تندرست انسان لپاره افضل او بهتر دا دي چې واجبه صدقات ونه خوري، له خپل محنت او ګټې څخه یې وخوري او په ټولنه کې عزتمنده زندګي تیره کړي، او کله کله د عدم افضلیت د شدت لپاره په (لاتحل) لفظ سره تعبیر کیږي، ترڅو د مفت خوړلو عادت جوړ نشي، او له خپلې ګټې څخه د خوړلو عادت جوړ شي.

د احنافو دلیل : د حضرت زیاد بن الحارث صدائي له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه په غوښتنه باندې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته صدقه ورکړه (۱) له دغه روایت څخه معلومه شوې ده چې حضرت زیاد بن الحارث په خپله هم روغ جوړ او تندرست وو ګوډ یا شل نه وو، خو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محض د فقیري له وجهې هغه ته د صدقې مال ورکړی دی.

له کوم ښار او کومې سیمې څخه چې زکوة واخیستل شي د همدغه ښار او سیمې په فقیرانو باندې مصرف کړی شي. کوم بل ښار او کلي ته دې نه لیږل کیږي، د زکوة دغه نقل کول د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد روا نه دي، مګر دا که په همدغه ځای کې د زکوة مستحقین موجود نه وي، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد هم زکوة نشي لیږل کیدی، او که چیرته ولیږل شي نو د اصح قول مطابق زکوة اداء کیږي

د احنافو په نزد د زکوة او صدقاتو لیږل روا دي، البته بهتر دا دي چې د یوې سیمې زکوة له ضرورت پرته بلې سیمې ته ونه لیږل شي، لیکن که چیرته د بل ښار د فقیرانو ضرورت ډیر زیات وو یا د همدغه کس خپل رشته داران لکه ورور، خور، تره خاله او وغیره د زکوة مستحق وو او هغوی په کوم بل هیواد یا ښار کې اوسیدل نو خپل زکوة هغوی ته ور لیږلی شي، بلکې هغوی ته په زکوة ورکولو کې دوه ثوابونه دي

(۱) د زکوة اداء کولو ثواب.

(۲) د صله رحمي ثواب

(۱) طحاوي، ج: ۱، ص: ۳۳۲.

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

د صدقه فطر بيان

د صدقه اضافت د فطر طرفته د اضافت الشى الى شرطه له قبيلې څخه دی لکه حجة الاسلام يا د اضافت الشی الى سببه څخه دی لکه حج البيت او صلوة الظهر كې، او د صدقة الفطر له كتاب الزكوة سره مناسبت په دې ډول ده چې دواړه مالي عبادات دي، مگر د زكوة ثبوت په كتاب الله سره شوی نو ځكه يې درجه د صدقة الفطر په مقابل كې لوړه ده او له همدې وجهې په صدقة الفطر باندې مخكې كړې شوی دی، صدقة الفطر واجب ده او زكوة فرض دی، په صدقة الفطر كې فطر د صدقه شرط دی او فطر د خپل وجود په اعتبار سره له صوم وروسته دی نو ځكه د ترتيب وجودي په لحاظ كولو سره دا له كتاب الصوم وروسته راوړل پكار وه خو دلته صرف د پورته ذكر شوي مناسبت له امله ذكر شو، د صدقې لغوي معنى هغه وركړه ده په كومې سره چې عندالله ثواب مقصود وي، د صدقه وجه تسميه دا ده چې د دې وركړه د صدقه وركوونكي رښتوني رغبت معلوموي، د فطر لفظ له فطرت څخه ماخوذ دی د نفس او خلقت په معنى كې ده، ځكه چې همدا صدقه د هر نفس او هر انسان له لوري وركول كيږي

صَدَقَةُ الْفِطْرِ	وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ	إِذَا كَانَ مَالِكًا	
صدقه فطر	واجب ده په آزاد مسلمان باندې	كله چې وي مالک	
لِمِقْدَارِ النِّصَابِ	فَاضِلًا عَنْ مَسْكَنِهِ	وَثِيَابِهِ	وَفَرَسِهِ
په اندازه د نصاب	چې زيات وي د هغه د اوسيدو په كور	په جامو يې	په آسانو يې
وَسِلَاحِهِ	وَعَبِيْدِهِ لِلْخِدْمَةِ	يُخْرِجُ ذٰلِكَ عَنْ نَفْسِهِ	
اسلحه يې	او له خدمت كوونكو غلامانو څخه	ودې باسي دا فطره د خپل ځان له لوري	
وَعَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ	وَعَبِيْدِهِ لِلْخِدْمَةِ	وَلَا يُؤَدِّي	
د خپل كوچني اولاد	او د خدمت كوونكو غلامانو له لوري	او نه دې اداء كوي	
عَنْ زَوْجَتِهِ وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ	وَإِنْ كَانُوْا فِي عِيَالِهِ		
د خپلې ښځې او خپل غټ اولاد له لوري	اگر كه هغوی د ده په ذمه وارۍ كې وي		
وَلَا يُخْرِجُ عَنْ مُكَاتَبِهِ	وَلَا عَنْ مَمَالِكِهِ لِلتِّجَارَةِ		
او نه دې وباسي د خپل مكاتب له لوري	او نه د تجارتي غلامانو له لوري		

وَالْعَبْدُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ	لَا فِطْرَةَ عَلَى وَاحِدٍ مِنْهُمَا
او غلام په مابین د شریکانو کې	نشته فطره یې په یوه باندې هم له دوی څخه

وَيُؤَدِّي الْمُسْلِمُ	الْفِطْرَةَ	عَنْ عَبْدِهِ الْكَافِرِ
او اداء دې کړي مسلمان	فطره	د کافر غلام له لوري

خلاصه: په دې بشپړ عبارت کې لومړی د صدقه فطر د وجوب شرطونه بیان شوي دي، یعني په کوم چا چې صدقه فطر واجب ده هغه به ازاد وي، مسلمان به وي، د نصاب په اندازه مالک به وي برابره ده که نامي وي که غیر نامي وي، البته له ضروریات اصلیه ؤ څخه به زیات وي، مثلاً د اوسیدو کور جامو وغیره څخه به زیات وي.

د صدقه فطر حکم په حکم کې دوه مذهبه دي: (۱) د زیاتره شافعیانو مالکیانو او حنابله ؤ په نزد صدقه فطر فرض ده. لیکن د دې باوجود د دوئ په نزد له هغې څخه منکر کافر نه دی.

(۲) د احنافو حضراتو په نزد صدقه فطر نه فرض ده نه سنت ده بلکې واجب ده

تشریح: **صدقة الفطر واجبة**: د صدقه فطر د وجوب لپاره دری شرطونه دي

(۱) آزاد والی (۲) مسلمان والی (۳) د نصاب څښتن کیدل، د همدغه دریيم شرط متعلق دوه مذهبونه دي

(۱) د حنفیانو په نزد د صدقه فطر د وجوب لپاره د زکوة په څیر د نصاب مالک کیدل شرط دي، اګر که د مال نامي کیدل شرط نه دي، او نه د کال تیریدل شرط دي، چنانچه که له یو چا سره د تجارت مال، روپی، یا سره او سپین نه وي، بلکې یوازې (صرف) غله او وغیره د نصاب په اندازه یا زیات اختر په ورځ موجود دي نو په هغه باندې صدقه فطر واجب ده

(۲) د ائمه ثلاثه ؤ په نزد د صدقه فطر د وجوب لپاره هیڅ نصاب شرط نه ده، بلکې په مالدار فقیر تولو باندې واجب ده. صرف دومره ضروري ده چې له همدغه کس سره د خپل خان او د خپل اهل او عیال د یوې ورځې له خرچ پرته (علاوه) دومره مال وي چې په هغه سره صدقه فطر اداء کړی شي.

د احنافو دلیل: په قرآنکریم کې په صدقة الفطر باندې د زکوة اطلاق شوی دی (قد افلح من تزکی) د زیاتره مفسرینو د قول مطابق له (تزکی) څخه مراد د صدقة الفطر ورکول دي، صدقة الفطر ته زکوة ویل شوي دي نو د دې نصاب هم هماغه دی کوم چې د زکوة دی

پرته له دې که چیرته په هر هغه کس باندې کوم چې د یوې ورځې د روزې مالک دی صدقه فطر واجب کړی شي نو هغه به نن صدقه فطر اداء کړي او صبا به په خپله د بې وسې له وجهې سوال کولو ته مجبور شي کوم چې قلب موضوع دی

(۳) **د صدقة الفطر د وجوب سبب**: هغه ذات د کوم خرچه او وغیره انسان برداشت کوي او په کوم باندې چې د هغه تام ولایت حاصل دی د هغه له تولو مخکې مصداق خو د انسان خپل ذات دی، او همدا ډول په همدې کې د هغه نابالغ اولاد هم داخل دي، همدارنګه خدمت کوونکی غلام د دوئ تولو له طرف

په دوئ باندې د انسان تام ولايت ځکه فطره واجب ده، بالغ اولاد او ښځه په دې کې داخل نه دي، حاصل نه دي.

چنانچه د ائمه اربعه ؤ او جمهورو په نزد که چيرته نابالغ اولاد مالدار وي نو په پلار باندې واجب ده چې د هغه له مال ځخه د هغه صدقة الفطر اداء کړي، او که چيرته مالدار نه وي نو بيا پلار او وغيره هر څوک يې چې ولي وي د هغه له لوري دې اداء کړي

د ائمه ثلاثه ؤ په نزد د ښځې صدقه په مېړه باندې واجب ده، لکه ځرنګه چې خرچه په هغه باندې واجب ده. او د حنفيانو په نزد د ښځې فطره په خپله په هغې باندې واجب ده، لکه د هغې د مال زکوة چې په خپله د هغې په مال کې واجب دی، ليکن که چيرته د بالغ اولاد او ښځې له لوري فطره ورکړی شي نو روا او صحي ده.

وَالْفِطْرَةُ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْصَاعٌ مِنْ تَمْرٍ أَوْزَبِيبٍ أَوْشَعِيرٍ

او فطره نيم صاع ده د غنمو يا يو صاع ده د کجورو يا د مميزو يا د اوربشو

وَالصَّاعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ ثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ بِالْعِرَاقِيِّ

او صاع د طرفينو په نزد اته رطل معتبر دی په عراقي رطل سره

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ خَمْسَةُ أَرْطَالٍ وَثُلُثُ رَطْلٍ وَوُجُوبُ الْفِطْرَةِ

ويلي دي امام ابويوسف پنځه رطل او دريمه د رطل معتبر دي او د فطره وجوب

يَتَعَلَّقُ بِطُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ فَمَنْ مَاتَ قَبْلَ ذٰلِكَ

متعلق دي د اختر ورځې د صبح صادق له راختلو سره پس که کوم کس مړ شي مخکې له دې

لَمْ تَجِبْ فِطْرَتُهُ وَمَنْ أَسْلَمَ أَوْوُلِدَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ لَمْ تَجِبْ

نه ده واجب فطره د هغه او څوک چې مسلمان شو يا پيدا شو وروسته له طلوع فجر واجب نه ده.

فِطْرَتُهُ وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يُخْرِجَ النَّاسُ الْفِطْرَةَ يَوْمَ الْفِطْرِ

فطره د ده او مستحب ده چې وباسي خلک فطره د عيد الفطر په ورځ

قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى الْمُصَلّٰى فَإِنْ قَدَّمُوهَا قَبْلَ يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَ

مخکې له وتلو عيدګاه ته که مخکې کړه د اختر له ورځې نو هم روا ده

وَإِنْ أَخَّرُوهَا عَنْ يَوْمِ الْفِطْرِ لَمْ تَسْقُطْ وَكَانَ عَلَيْهِمْ إِخْرَاجُهَا

او که يې وروسته کړه د اختر له ورځې نه ساقطيږي بلکې شته په دوي باندې وباسل يې

تشريح : والفطرة نصف صاع الخ : د صدقه فطر د مقدار متعلق څه قدري اختلاف شته، د امام اعظم رحمه الله په نزد په غنمو او کشمشو سره که چيرته صدقه فطر اداء کيږي نو د هغو مقدار نيم صاع دی، او د کجورو او اوربشو مقدار يو صاع دی، د امام مالک هم يو روايت همداسې دی. د ائمه ثلاثه په نزد په ذکر شويو شيانو کې د هر يوه مقدار يو صاع دی، فتوی د امام ابو حنيفه رحمه الله په قول باندې ده.

د احنافو په نزد د عيدالفطر له صبح صادق څخه د صدقة الفطر اداء کول واجب شوي دي، چنانچه کوم کس په همدغه وخت کې موجود وي په هغه باندې صدقة الفطر واجبيږي، او کوم کس چې له دې مخکې مړ شي، يا کوم ماشوم د همدغه وخت له تيريدو وروسته پيدا شي په هغه باندې صدقة الفطر نشته دی.

افضل او مستحب دا ده چې صدقة الفطر د اختر په ورځ عيدګاه ته له تلو مخکې اداء کړی شي، که چيرته له رمضان مخکې صدقه فطر اداء کړی شي نو روا ده، ليکن خلاف احتياط دی، او په رمضان کې اداء کول روا او صحي دي، او که چيرته د اختر ورځ تيره شوه او صدقه يې اداء نکړه نو په همدغه وخت کې په نه اداء کولو سره ذمه نه ساقطيږي، بلکې وباسل يې واجب پاتې کيږي، برابره ده که هر څومره ځنډ پکې وشي.

كِتَابُ الصَّوْمِ

د روژې بيان

دا چې په قرآنکريم او نبوي احاديثو کې صوم له زکوة وروسته بيان شوی ده له همدې امله د کتاب صاحب د کتاب او سنت د اتباع په نظر کې نيولو له وجهې له کتاب الزکوة وروسته کتاب الصوم ذکر کړ، صوم او صيام دواړه مصدر دي، په لغت کې يې معنی مطلقا امساک دی برابره ده که له هر شي څخه وي، او په شريعت کې يې مفهوم دا ده چې له صبح صادق څخه د لمر تر لويدو پورې له نيت سره له خوراک څښاک او جماع څخه ځان ساتل دي، روژه د اسلام په ارکانو کې دريم رکن دی د کومې فرضيت چې د هجرت په دويم کال شوی يعني اتلس مياشتې وروسته په شعبان مياشت کې له تحويل قبله لس ورځې وروسته شوی دی، فرضيت يې په کتاب سنت او اجماع سره ثابت دی، د کوم منکر چې کافر او تارک يې فاسق دی، د صوم رمضان له فرضيت مخکې رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم د عاشوراء او ايام بيض روژې نيولې، او د حنفيانو په نزد همدا دواړه فرض وې، او د شافعيانو په نزد د صوم رمضان له فرضيت مخکې هيڅ روژه فرض نه وه، بلکې صوم عاشوراء او د ايام بيض روژې مخکې هم سنت وې او اوس هم سنت دي، مګر د ابوداؤد په روايت سره د حنفيانو د قول تاييد شوی دی، په کوم کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د صوم عاشوراء د قضاء حکم کړی دی.

خکه چې د قضاء تعلق له فرض او واجب سره دی نه له سنتو سره، بیا ټولې روژې د صوم رمضان په فرضیت سره منسوخې شوې، الهي ارشاد دی (فمن شهد منکم الشهر فلیصمه)

الصَّومُ ضَربَانِ	وَاجِبٌ وَنَفلٌ	فَالوَاجِبُ ضَربَانِ	مِنهُ مَا يَتَعَلَّقُ
روژه په دوه قسمونه ده	واجب او نفل	بیا واجب په دوه قسمه ده	ځینې هغه دي چې تعلق لري
بِزَمَانٍ بِعَينِهِ	كَصَومِ رَمَضَانَ وَالنَّذرِ المُعَيَّنِ		فَيَجُوزُ صَومُهُ
له معلومې زمانې سره	لکه د رمضان او نذر معین روژې		پس روا دي همدغه روژې
بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيلِ	فَإِن لَم يَنوِ حَتَّى أَصبَحَ		أَجزَأَتهُ النِّيَّةُ
په نیت سره له شپې څخه	که یې نیت ونکړ تردې چې سبا شو		نو کافي دی د هغه نیت کول
مَا بَينَهُ وَبَينَ الزَّوَالِ	وَالضَّربُ الثَّانِي		مَا يَثبُتُ فِي الذِّمَّةِ
د سبا او زوال په مینځ کې	او دویم قسم هغه ده		کوم چې په ذمه باندې ثابت وي
كَقَضَاءِ رَمَضَانَ	وَالنَّذرِ المُطلَقِ	وَالكَفَّارَاتِ	فَلَا يَجُوزُ صَومُهُ
لکه د رمضان قضائي	نذر مطلق	او د کفارې روژې	پس دغه روژې روا نه دي
إِلَّا بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيلِ		وَكَذَلِكَ صَومُ الظِّهَارِ	
مګر په نیت سره له شپې څخه		او همدارنګه د ظهار روژې	
وَالنَّفلُ كُلُّهُ		يَجُوزُ بِنِيَّةٍ قَبلَ الزَّوَالِ	
او ټولې نفلي روژې		روا دي په نیت سره له زوال څخه مخکې	

خلاصه په دغه عبارت کې د قدوري امام د روژو د نیت وخت بیان کړی دی چې د روژو لپاره نیت په شپه کې ضروري دی او که د شپې له تیریدو وروسته هم کیدلی شي. په دې باره کې د روژو درې قسمونه بیان شوي دي

اول قسم د صوم اداء رمضان او نذر معین نیت په شپه کې لازمي دی او که په ورځ کې یې کول هم کافي دي؟ په دې باره دوه مذهبونه دي

(۱) د ائمه ثلاثه وو په نزد په شپه کې نیت کول ضروري دي، که چیرته په شپه کې نیت نه وي کړی شوی نو روژه نه صحي کیږي

(۲) د حنفیانو په نزد په شپه کې نیت کول لازم نه دي، بلکې له طلوع فجر او طلوع آفتاب وروسته له زوال څخه تر مخکې مخکې وخت پورې که نیت وکړی شي نو روا او صحي دی، په دې سره روژه صحیح کیدلی شي

دويم قسم د رمضان قضائي روژې، د نذر غير معين روژې او د كفارې روژو د صحيح كېدو لپاره د ټولو علماؤ په نزد په شپه كې نيت كول شرط دي، او د هم دغو روژو لپاره د ورځې نيت معتبر نه دى

دريم قسم د نفلي روژو په باره كې دوه مذهبونه دي

(١) د امام مالك رحمة الله په نزد د نفل روژې نيت هم په شپه كې كول ضروري دي، كه چېرته په شپه كې نيت ونكړى شي نو روژه نه صحي كيږي

(٢) د ائمه ثلاثه و په نزد د نفلي روژو نيت په شپه كې كول ضروري نه دي، بلكې كه له زوال څخه تر مخكې وخت پورې نيت وكړى شي نو صحي دى

تنبيه د قدوري امام د روژو د تقسيم بيانولو په وخت كې ويلي دي چې د روژو دوه قسمونه دي (١) واجب (٢) نفل، په متن كې د واجب لفظ فرض او واجب دواړو ته شامل دى، څكه چې واجب په معنى د ثابت سره دى نو څكه هيڅ اشكال نشته دى

وَيَنْبَغِي لِلنَّاسِ	أَنْ يَلْتَمِسُوا الْهِلَالَ	فِي الْيَوْمِ التَّاسِعِ وَالْعِشْرِينَ		
پكار ده د خلكو لپاره	چې ولټوي سپوږمۍ	په نه ويشتمه نېټه		
مِنْ شَعْبَانَ	فَإِنْ رَأَوْهُ	صَامُوا	وَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِمْ	أَكْمَلُوا عِدَّةَ
د شعبان	كه يې وليدله	روژه دې ونيسي	او كه پټه شوه په دوي	پوره دې كړي شمار
شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ يَوْمًا	ثُمَّ صَامُوا	وَمَنْ رَأَى هِلَالَ رَمَضَانَ		
د شعبان ديرش ورځې	بيا دې روژه ونيسي	او چا چې وليدله د رمضان سپوږمۍ		
وَحْدَهُ	صَامَ	وَإِنْ لَمْ يَقْبَلِ الْإِمَامُ شَهَادَتَهُ	وَإِذَا كَانَ	
تنها	روژه دې ونيسي	اګر كه قبوله نكړي امام ګواهي د ده	او كله چې وي	
بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ	قَبِلَ الْإِمَامُ	شَهَادَةَ الْوَاحِدِ الْعَدْلِ		
په آسمان كې علت	قبوله دې كړي امام	ګواهي د يو عادل انسان		
فِي رُؤْيَةِ الْهِلَالِ	رَجُلًا كَانَ أَوِ امْرَأَةً	حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا		
د سپوږمۍ په ليدلو كې	كه سړى وي كه ښځه	آزاد وي كه غلام		
وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ	لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ	حَتَّى يَرَاهُ جَمْعٌ كَثِيرٌ		
او كه نه وي په آسمان كې علت	نه دې قبلوي شاهدي	تردې چې وې ويني يو داسې جماعت		
يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ	وَوَقْتُ الصَّوْمِ مِنْ حِينِ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي			
چې يقين حاصليږي د دوي په خبره	او وخت د روژې له راختلو د صبح صادق څخه دى			

إِلَىٰ غُرُوبِ الشَّمْسِ

ترلویدو د لمر پورې

د سپوږمۍ لیدلو احکام

خلاصه دلته د سپوږمۍ لیدلو متعلق څو مسئلې او د رمضان روژې وخت بیان شوي دي، میاشت کله د ۲۹ ورځو وي او کله د ۳۰ وي، نو ځکه د شعبان په ۲۹ د رمضان د سپوږمۍ لیدل واجب علی الکفایه دي، که چیرته په نظر راغله (ولیدل شوه) نو روژه دې ونیول شي، او که ونه لیدل شوه نو صبا
ورځ دې روژه نه نیسي
که چیرته یو چا سپوږمۍ ولیدله حالانکه مطلع صاف وو نو دغه کس دې په خپله روژه ونیسي، اګر که
امام د هغه ګواهي له کومې وجهې قبوله کړې نه وي
که چیرته مطلع صاف نه وو، یعنې کومې وریځې، یا ګرد (غبار) یا دود او وغیره داسې پټ کړې وو کوم چې سپوږمۍ پټه کړې وه نو صرف د رمضان د سپوږمۍ لپاره د یوه ثقه مسلمان سړي یا ښځې ګواهي کافي ده. آزاد وي که غلام وي، او له رمضان پرته د نورو میاشتو لپاره د دوه سړیو یا د یو سړي او دوه ښځو ګواهي کافي ده، په دې شرط چې ګواه (شاهد) صفتونه پکې موجود وي او په خپله د سپوږمۍ لیدلو شاهدي ورکړي، یا د دې خبرې ګواهي ورکړي چې زمونږ پر وړاندې د فلانې ښار د قاضي پر وړاندې شاهدي وړاندې کړې شوه، قاضي ګواهي قبوله کړه، عام اعلان یې وکړ، او که چیرته مطلع صاف وو یعنې ګرد غبار، دود یا وریځې پټ کړې نه وو د دې باوجود د کلي یا د ښار عامو خلکو سپوږمۍ ونه لیدله نو په داسې صورت کې د رمضان او اخترونو د سپوږمۍ لپاره صرف د دوو څلورو ګواهانو داسې بیان ته اعتبار نشته چې مونږ په دغه کلي یا ښار کې سپوږمۍ لیدلې ده، بلکې په هداسې صورت کې د یوه ستر جماعت (ډلې) ګواهي ضروري ده، کوم چې له مختلفو اطرافو څخه راغلي وي او په خپل خپل ځای کې د سپوږمۍ لیدل بیان کړي، کوم سازش یا احتمال نه وي، او د جماعت د کثرت (ډیروالي) له وجهې عقل دا یقین ونکړی شي چې دومره ستر جماعت دروغ وايي، د همدغه جماعت (ډلې) د تعداد (شمیر) متعلق د فقهاؤ اقوال مختلف دي: ځینو د پنځوسوشمیر (عدد) بیان کړی دی، مګر صحیح دا ده چې کوم خاص شمیر شرعًا معلوم نه دی، په څومره شمیر (تعداد) سره چې دا یقین راځي چې دوی ټول دروغ نشي ویلی هماغه شمیر کافي دی، برابره ده که پنځوس وي که کم یا زیات وي
د روژې اول وخت او اخیر وخت په باره کې ویل شوي دي چې د روژې وخت له صبح صادق څخه تر لمر
لویدو پورې دی

وَالصَّوْمُ هُوَ الْإِمْسَاكُ		عَنِ الْأَكْلِ	وَالشُّرْبِ		
روژه ځان ساتل دي		له خوراک	څښاک		
وَالْجِمَاعِ		نَهَارًا		مَعَ النِّيَّةِ	
کوروالي څخه		د ورځې		له نیت سره	

فَإِنْ أَكَلَ الصَّائِمُ	أَوْشَرِبَ	أَوْجَامَعَ	نَاسِيًا	لَمْ يُفْطِرْ
که روژه وخوړله روژه دار	یا یې څښاک وکړ	یا یې کوروالی وکړ	په هیره	روژه نه ماتیږي
فَإِنْ نَامَ	فَاحْتَلَمَ	أَوْنَظَرَ إِلَى امْرَأَتِهِ	فَأَنْزَلَ	أَوْأَدْهَنَ
که ویده شو	او شیطان وغولولو	یا یې وکتل ښځې ته	انزال یې وشي	یا تیل ولګوي
أَوِاحْتَجَمَ	أَوِاكْتَحَلَ	أَوْقَبَّلَ	لَمْ يُفْطِرْ	فَإِنْ أَنْزَلَ بِقُبْلَةٍ
یا ښکر ولګوي	یا رانجه ولګوي	یا مچو واخلي	روژه نه ماتیږي	انزال وشي د مچې په اخیستو
أَوْلَمَسَ	فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ	وَلَاكَفَّارَةَ عَلَيْهِ	وَلَابَأْسَ بِالْقُبْلَةِ	
یا لمس سره	په هغه باندې قضاء شته	کفاره پرې نشته	هیڅ خبره نشته په مچو اخیستو کې	
إِذَا أَمِنَ عَلَى نَفْسِهِ	وَيُكْرَهُ إِنْ لَمْ يَأْمَنْ	وَإِنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ لَمْ يُفْطِرْ		
کله چې مطمئن وي په ځان باندې	مکروه ده که مطمئن نه وي	او که یې قی وکړ نو روژه نه ماتیږي		

د هغو شیانو بیان کوم چې د روژې ماتوونکي نه دي

د لغاتو حل: **امساك:** د باب افعال مصدر دی ځان ساتل. **ادهن:** صیغه ماضي مصدر ادهاناً له باب افتعال څخه تیل لګول. **احتجم:** صیغه ماضي مصدر احتجاجا له باب افتعال څخه ښکر لګول. **اكتحل:** رانجه لګول. **ذرعه القی:** په خپله خود بخود قی راتلل.

خلاصه: دلته په دې عبارت کې هغه شیان بیان شوي دي په کوم چې روژه نه ماتیږي

(۱) د روژې په حالت کې په ویده حالت کې که په خوب کې یې شیطان وغولوي نو په روژه کې هیڅ خرابي نه راځي، روژه بدستور باقي پاتې کیږي

(۲) که چیرته اتفاقي په کومه ښایسته ښځه باندې نظر ولګیږي او بیا د غور او فکر کولو له وجهې انزال وشي نو روژه نه فاسدیږي، اګر که د نظر لګیدونکې ښځې په خیال کې راګرځول روا نه دي، یا د خپلې ښځې طرفته وکتل شي بیا انزال وشي نو هم روژه نه فاسدیږي

(۳) د روژې په حالت کې په سر باندې د تیلو په لګولو سره په روژه کې هیڅ خرابي نه راځي (۴) د روژې په حالت کې د وینې په وباسلو کې روژه نه فاسدیږي، البته که چیرته د داسې کمزورۍ ویره وه چې روژې طاقت به پاتې نشي نو مکروه دي

(۵) په سترګو کې د دواء په اچولو یا د رانجو په لګولو سره په روژه کې هیڅ خرابي نه راځي، روژه بدستور باقي پاتې کیږي، اګر که د هغو اثر (خوند) په ستوني (حلق) کې محسوس کړی شي

(۶) که چیرته له ښځې څخه په مچو او غیرې نیونې کې صرف مذي او رطوبت (لوندوالی) ووځي نو په دې سره په روژه کې هیڅ خرابي نه راځي

(۷) كه چيرته په روژه كې له ښځې سره باقاعده همبستري نه وي شوې بلكې د مچو يا غيږ نيونې يا ورسره د خملاستو له وجهې انزال وشي نو روژه فاسديږي، په وروسته كې د يوې روژې قضائي راوړل واجبيږي، كفاره نه لازميږي.

د روژې په حالت كې له خپلې ښځې څخه مچو اخيستل، غيږ نيول او ورسره ويده كيدل د داسې انسان لپاره له كراهيت پرته روا دي د كوم چې د انزال يا د كوروالي ويره نه وي، لهذا د سپين ږيري سړي لپاره له كراهيت پرته روا دي، او د ځوان لپاره مكروه تحريمي دي، كوم چې په خپل نفس باندې قادر نه وي.

وَإِنِ اسْتَقَاءَ عَامِدًا	مَلْءَ فَمِهِ	فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ	وَمَنِ ابْتَلَعَ الْحَصَا
كه قي وكړي قصدا	په ډكه خوله	نو په هغه باندې قضاء لازمه ده	او څوک چې تيره كړي شګه
أَوِ الْحَدِيدَ	أَوِ النَّوَاةَ	أَفْطَرَ	وَقَضَى
يا اوسپنه	يا تخم	روژه ماتيږي	او قضائي دې راوړي

د موجبات قضاء بيان

د لغاتو حل استقاءَ: قي كول، **عامدا**: قصداً يې كول، **ملاءفمه**: په ډكه خوله، **ابتلاع**: تيرول، **الحصاة**: شګې، **الحديد**: اوسپنه، **النواة**: تخم.

توضيح: مسئله بالكل واضحه ده په عبارت كې چې كوم صورت بيان شوى دى په هغه كې قضاء شته او كفاره نشته، د ائمه اربعه ؒ په دې اتفاق دى چې كه چيرته خود بخود قي راغى نو روژه نه فاسديږي، او كه چيرته قصداً قي وكړى شي نو روژه فاسديږي، البته د احنافو په نزد دلته څه قدرې تفصيل دى ځينو شارحينو د قي دوولس صورتونه ليكلي دي، او ځينو يې څلرويشت صورتونه ليكلي دي، بيا وراندې د (بحر) صاحب ويلي دي چې په همدغو دوولسو صورتونو كې صرف په دوو صورتونو كې روژه ماتيدونكې ده:

(۱) چې قصداً په ډكه خوله قي وكړى شي (۲) قصداً قي نه وي شوى مګر بلا اختياره په ډكه خوله قي وشي او بيا هغه بيرته تير كړل شي، په دغو صورتونو كې د ټولو په نزد روژه فاسديږي، او كه چيرته قصداً قي شوى وي مګر په ډكه خوله نه وي شوى نو په داسې صورت كې د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد روژه نه فاسديږي، او د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد روژه فاسديږي.

وَمَنْ جَامَعَ عَامِدًا	فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ	أَوْ أَكَلَ	أَوْ شَرِبَ
او چا چې جماع وكړه قصداً	په يو د سبيلينو كې	يا يې خوراک وكړ	يا يې څښاک وكړ
مَا يُتَغَذَّى بِهِ	أَوْ يُتَدَاوَى بِهِ	فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ	
يا يې غذاء حاصله كړه په همدې سره	يا يې دواء وكړه په همدې	شته وربانډې قضاء او كفاره	

وَالْكَفَّارَةُ مِثْلُ كَفَّارَةِ الظِّهَارِ
او کفاره یې په شان د کفارې ظهار دی

د قضاء او کفاره د موجبات بیان

تشریح: ومن جامع الخ: که چیرته کوم کس فرضي روژه د جماع په ذریعه فاسده کړه نو د ائمه اربعه ؤ په نزد کفاره او قضاء دواړه واجب دي، لیکن که چیرته یې داسې شی وخوړ یا یې وڅښه کوم چې خلک خوري، یا کوم داسې شی وي چې دوی یې خو یې نخوري، لیکن د دواء په ډول د ضرورت په وخت کې خوړل کیږي نو هم روژه ولاړه، په هغه باندې کفاره لازمه ده او که صرف قضائي کافي ده؟ په دې باره کې دوه مذهبونه نقل کړی شوي دي

(۱) د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد صرف قضاء لازمیږي کفاره نه واجبیږي

(۲) د حنفیانو او مالکیانو په نزد لکه څرنګه چې د جماع له وجهې قضاء او کفاره واجبیږي همدارنګه د خوراک او څښاک له وجهې قضاء او کفاره دواړه واجبیږي.

وَمَنْ جَامَعَ فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ	فَأَنْزَلَ	فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ	وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ
چا چې جماع وکړه له شرمګاه پرته	انزال یې وشو	قضاء ورباندې شته	کفاره ورباندې نشته
وَلَيْسَ فِي إِفْسَادِ الصَّوْمِ	غَيْرِ شَهْرِ رَمَضَانَ	كَفَّارَةٌ	وَمَنِ احْتَقَنَ
نشته د روژې په فاسدولو کې	پرته د رمضان له میاشتې	کفاره	چا چې حقنه وکړه
أَوِ اسْتَعَطَ	أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ	أَوْ دَاوَى جَائِفَةً	أَوْ آمَّةً بِدَوَاءٍ رَطْبٍ
یا واچوله په پوزه کې	یا یې وڅڅوله په غوږ کې	یا یې درملنه وکړه د خیټې	یا د زخم په لمدې دواء سره
فَوَصَلَ إِلَى جَوْفِهِ	أَوْ دِمَاغِهِ	أَفْطَرَ	وَإِنْ أَقْطَرَ فِي إِحْلِيلِهِ
پس ورسیده خیټې ته	یا دماغ ته	روژه ماتیږي	که یې وڅڅوله د ذکر په سوري کې
لَمْ يُفْطِرْ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ	يُفْطِرُ
نه ماتیږي	د طرفینو په نزد	ویلي دي امام ابو یوسف	ماتیږي
وَمَنْ ذَاقَ شَيْئًا بِفَمِهِ	لَمْ يُفْطِرْ	وَيُكْرَهُ لَهُ ذٰلِكَ	وَيُكْرَهُ لِلْمَرْأَةِ
چا چې وڅکلو شی په خولې سره	نه ماتیږي	خو مکروه ده د هغه لپاره همدا	او مکروه ده د ښځې لپاره
أَنْ تَمْضَغَ لِصَبِيِّهَا الطَّعَامَ	إِذَا كَانَ لَهَا مِنْهُ بُدٌّ		
چې وژوي د ماشوم لپاره خوراک	کله چې وي هغې لره له دې څخه کومه چاره		

لیکن دا مکروه ده	روژه نه ماتیږي	او د کند په ژوولو سره
وَيُكْرَهُ	لَا يُفْطِرُ الصَّائِمَ	وَمَضْغُ الْعِلْكِ

د لغاتو حل **افساد** فاسد کول، **احقن** د متیازو په ځای کې دواني اچول، **استقط** په پوزه کې دواء اچول، **جائفة** نیزه وهل کومه چې خیټې ته ورسیږي، **آمة** زخم کوم چې دماغ ته ورسیږي، **دواءرطب** لمده دواء، **جوف** خیټه، **احلیل** د متیازو وتلو سوری، **ذاق** څکل، **تمضع** ژوول، **العلك** ژوونکې ژاوله.

خلاصه د قدوري صاحب په دې عبارت کې څو مسئلې بیان کړې دي

که چیرته له رمضان پرته نورې روژې وساتل شي او قصداً ماته کړل شي نو د همدې له وجهې په هغه باندې کفاره نه لازمیږي، ځکه چې په رمضان کې دننه د روژې ماتول ستر جرم دی، په نسبت سره په غیر رمضان کې ماتیدلو ته

که چیرته روژه دار د متیازو له لارې څخه دواء، دننه برخې ته ورسوله (کومې ته چې انیمه ویل کیږي) نو روژه فاسده شوه او قضاء واجب شوه

(۲) په پوزه کې د دواء په اچولو سره او د اوبو په رسولو سره روژه ماتیږي

(۳) د روژې په حالت کې په غوږ کې د تیلو او دواء په اچولو سره روژه فاسدیږي، لیکن د اوبو په رسولو سره روژه نه فاسدیږي

(۴) د خیټې یا د دماغ په زخم کې که دواء واچول شي او هغه خیټې یا دماغ ته ورسیږي نو هم روژه ماتیږي

که چیرته روژه دار د خپلو متیازو په سوري کې دواء وڅڅوي نو د طرفینو په نزد روژه نه ماتیږي، او د امام ابویوسف رحمه الله په نیز روژه ماتیږي

که چیرته کوم کس په خپلې خولې سره څه وڅکل نو روژه نه ماتیږي، لیکن دغه عمل مکروه خامخا دی، ځکه چې روژه فساد ته وړاندې کړی شوه، برابره ده که روژه فرض وي که نفل وي، البته که چیرته همداسې کول ضروري وو نو روا دي، د بیلګې په توګه د کومې ښځې میړه بدمزاجه وو نو د خوراک مالګه دې وڅکل شي او همدغه حکم د اشپز او نانبائي هم دی.

د روژې په حالت کې د ښځې لپاره خپل ماشوم ته د خوراک ژوول او خوراک ورکول مکروه دي، کله چې هلته داسې انسان ناست وي په کوم باندې چې روژه فرض نه وي، او هغه د همدغه ماشوم لپاره خوراک ژوولی شي، نو په داسې صورت کې د ښځې لپاره ژوول مکروه دي، او که عذر وي لکه یوه ښځه چې خپل ماشوم ته ژوول شوی خوراک ورکوي او له روژه دارو پرته بل څوک نه وي نو بیا هیڅ خبره نشته. ځکه چې د ماشوم حفاظت هم ضروري دی. له دې وروسته یې فرمایلي دي چې که چیرته روژه دار ژاولې ژوولې د هغه روژه خو فاسدیږي نه البته د روژه دار لپاره د ژاولو ژوول مکروه دي، ځکه کیدلی شي چې څه اجزاء یې له حلق څخه ښکته ولاړ شي، او که چیرته ژاولې په ژیه لفافه ژاولې

روژې وي او توک يې کړي او بيا وروسته ليارې تيرې کړي نو روژه نه فاسديږي، او که چيرته يې له توک کولو پرته تيرې کړي نو روژه فاسديږي

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فَخَافَ إِنْ صَامَ ازْدَادَ مَرَضُهُ
څوک چې ناروغ شي په مياشت د رمضان کې او وېريږي که روژه ونيسي زياته به شي ناروغي يې
أَفْطَرَ وَقَضَى وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا لَا يَسْتَضِرُّ بِالصَّوْمِ فَصَوْمُهُ أَفْضَلُ
روژه دې نه نيسي او قضائي دې راوړي او که مسافر دی چې د روژې نيولو کې هيڅ تکليف نشته نو هغه ته روژه بهتره وي
وَإِنْ أَفْطَرَ وَقَضَى جَازَ وَإِنْ مَاتَ الْمَرِيضُ أَوِ الْمُسَافِرُ
که يې ماته کړې او قضائي يې راوړي نو هم روا ده او که مړ شي ناروغ يا مسافر
وَهُمَا عَلَى حَالِهِمَا لَمْ يَلْزَمْهُمَا الْقَضَاءُ وَإِنْ صَحَّ الْمَرِيضُ
او دوی دواړه په خپل حالت کې وي نو د دوی په ذمه قضاء نشته او که چيرته روغ شي ناروغ
أَوْ أَقَامَ الْمُسَافِرُ ثُمَّ مَاتَا لَزِمَهُمَا الْقَضَاءُ بِقَدْرِ الصِّحَّةِ وَالْإِقَامَةِ
يا مقيم شي مسافر بيا مړه شي نو لازمه ده په دوی قضاء د صحت او اقامت
وَقَضَاءُ رَمَضَانَ إِنْ شَاءَ فَرَّقَهُ وَإِنْ شَاءَ تَابَعَهُ وَإِنْ أَخَّرَهُ
او قضاء د رمضان که يې وغواړي متفرق دې ونيسي او که وغواړي پيوسته دې ونيسي او که يې ورو وروسته کړي
حَتَّى دَخَلَ رَمَضَانُ آخَرُ صَامَ رَمَضَانَ الثَّانِي وَقَضَاءُ الْأَوَّلِ
چې داخل شو دويم رمضان روژې دې ونيسي د دويم رمضان او قضائي دې راوړي د اول
بَعْدَهُ وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِ
وروسته او په هغه باندې فديه نشته

هغه عوارض په کومو کې چې افطار کول روا دي

شريح: ومن كان مريضا: که چيرته د ناروغۍ له وجهې د روژې طاقت نه وو، يا د ناروغۍ د زياتيدو سخته ويره وه نو روژه نه نيول روا دي، له رمضان وروسته د هغه قضائي راوړل لازمي دي

وان كان مسافرا لايستضر الخ: په دې باندې اتفاق دی چې د سفر په حالت کې روژه نه نيول روا دي، ليکن په دې کې اختلاف دی چې بهتر څه دي؟ چنانچه په دې باره کې دوه مذهبونه دي

(۱) د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰه په نزد د مسافر لپاره روژه نه نيول ډير بهتر او اولی دي

(۲) د ائمه ثلاثه ؒ په نزد روژه نیول بهتر دي، لیکن که چیرته د روژې په نیولو کې مشقت وو بیا روژه نه نیول بهتر دي

وان شاء فرقه الخ د قضاء رمضان متعلق روژه دار ته د تاخیر کولو اختیار دی برابره ده که همدا تاخیر دومره وکړی شي چې دویم رمضان راشي، خو په هغه باندې فدیه نشته، د امام شافعي په نزد که چیرته تاخیر له عذر پرته وي نو د هرې روژې لپاره نیم صاع د غنمو فدیه ورکول لازمي دي، په قرآن کریم کې د اتو روژو ذکر دی، څلور داسې دي په کومو کې چې تتابع او پیوسته والی ضروري دی (اول) صوم رمضان (دویم) صوم کفاره قتل (دریم) کفاره ظهار (څلورم) کفاره یمین، او څلور داسې دي په کومو کې چې تتابع ضروري نه ده (اول) قضاء رمضان (دویم) صوم متعه (دریم) کفاره حلق راس (څلورم) صوم کفاره جزاء صید، د دې قاعده کلیه دا ده چې په کومه کفاره کې د غلام ازادول دي په هغه کې تتابع شرط ده، او په کوم کې چې د غلام ازادول نشته په هغه کې تتابع شرط نه ده، له دې اصولو دا معلومه شوې چې په قضاء رمضان کې تتابع ځکه نشته چې په هغه کې د غلام ازادول نشته، اګر که په قضاء رمضان کې تتابع شرط نده خو د "هدایه" صاحب وايي د تصریح مطابق تتابع مستحب ده.

وَالْحَامِلُ وَالْمُرْضِعُ	إِنْ خَافَتَا عَلَى وَلَدَيْهِمَا	أَفْطَرَتَا وَقَضَتَا
حامله او د شیدو ورکونکې ښځې	کله چې ویریږي په بچیانو	روژه دې نه نیسي قضائي دې راوړي دواړه
وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِمَا	وَالشَّيْخُ الْفَانِي	الَّذِي لَا يَقْدِرُ عَلَى الصِّيَامِ
او نشته فدیه په دوی باندې	او ډیر سپین ږیری	کوم چې د روژو نیولو طاقت نلري
يُفْطِرُ	وَيُطْعِمُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا	كَمَا يُطْعِمُ
افطار دې وکړي	او خوراک دې ورکړي د هرې ورځې یوه مسکین ته	لکه چې خوراک ورکول کیږي
فِي الْكَفَّارَاتِ		
په کفاراتو کې		

د لغاتو حل: **حامل**: حامله (بلاربه ښځه) **المرضع**: (م) اسمٌ فاعل ده له باب افعال څخه شیدو ورکوونکې، **الشیخ الفاني**: ډیر زیات بوډا، فاني ځکه ورته ویل کیږي چې فناه کیدو ته نږدې شوی دی، یا دا چې د هغه قوت فناه شوی دی.

تشریح: په دې عبارت کې دوه مسئلې بیان شوې دي (اوله) د حاملې او مرضعې ښځې په باره کې د ټولو اتفاق دی چې که چیرته هغوی ته په خپل ځان باندې کومه ویره (خطره) وي نو د هغوی لپاره افطار کول روا دي، په دغه صورت کې دې هغوی دواړه په وروسته کې قضائي راوړي، او په هغوی باندې فدیه نشته، بیا که چیرته د روژې په نیولو سره حاملې ته په خپله خیټه کې د بچي یا د شیدو

ورکوونکې بچي په باره کې ويره (کوم خطر) وو نو په دغه صورت کې دوی دواړو لپاره افطار کول بالاتفاق روا دي، له افطار وروسته په دوی دواړو باندې څه واجب دي؟ د حنفيانو په نزد دلته يوازې د روژو قضائي ده په وروسته کې فديه نشته، د ائمه ثلاثه و په نزد دوی دواړه دې قضائي هم راوړي او فديه دې هم ورکړي (دويمه) شيخ فاني يعنې که چيرته کوم کس بيخي سپين ږيرى او ضعيف شي او د روژې نيولو طاقت يې نه وي نو د همدا سې ضعيف لپاره د روژو فديه اداء کول روا دي، د فديه مقدار دا ده چې د هرې يوې روژې په عوض کې يوه صدقه فطر يا د هغې قيمت فقيرانو ته ورکړي، او د يوې صدقه فطر مقدار نيم صاع غنم دي، کوم چې د موجوده اوزانو په حساب سره يونيم کيلو ۷۴ ګرام ۲۴ ملي ګرامه دي.

وَمَنْ مَاتَ	وخوک چې مړ شي
وَعَلَيْهِ قَضَاءُ رَمَضَانَ	او د هغه په ذمه د رمضان قضائي وي
فَأَوْصَى بِهِ	بيا وصيت وکړي
أَطْعَمَ عَنْهُ وَلِيُّهُ	چې ودې خوري د ده له لوري ولي
لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا	د هرې ورځې يوه مسکين ته
نِصْفَ صَاعٍ	نيم صاع
مِنْ بُرٍّ	له غنمو
أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ	يا يو صاع له کجورو
أَوْ شَعِيرٍ	يا له اوربشو
وَمَنْ دَخَلَ فِي صَوْمِ التَّطَوُّعِ	او څوک چې داخل شي په نفلي روژه کې
ثُمَّ أَفْسَدَهُ	بيا يې فاسده کړي
قَضَاهُ	قضائي دې راوړي
وَإِذَا بَلَغَ الصَّبِيُّ	کله چې بالغ شي ماشوم
أَوْ أَسْلَمَ الْكَافِرُ فِي رَمَضَانَ	يا مسلمان شي کافر په رمضان کې
أَمْسَكَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا	ودې ساتي پاتې برخه د دې ورځې
وَصَامَا مَا بَعْدَهُ	او روژه به نيسي له همدې ورځې وروسته
وَلَمْ يَقْضِيَا مَا مَضَى	قضائي به نه راوړي د تيرو ورځو
وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ فِي رَمَضَانَ	او په چا چې بې هوشي راشي په رمضان کې
لَمْ يَقْضِ الْيَوْمَ الَّذِي	قضائي به نه راوړي د هغې ورځې
حَدَثَ فِيهِ الْإِغْمَاءُ	چې پيدا شوې پکې بې هوشي
وَقَضَى مَا بَعْدَهُ	او قضائي دې راوړي وروسته
وَإِذَا أَفَاقَ الْمَجْنُونُ	او کله چې روغ شي ليونی
فِي بَعْضِ رَمَضَانَ	په څه برخه د رمضان کې
قَضَى مَا مَضَى مِنْهُ	قضائي دې راوړي د تيرو ورځو
وَصَامَ مَا بَقِيَ	او روژه دې ونيسي د پاتې ورځو
وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ	که حايضه شي ښځه
أَوْ نَفِسَتْ	يا نفاسه شي
أَفْطَرَتْ	افطار دې وکړي
وَقَضَتْ	او قضائي دې راوړي
إِذَا طَهُرَتْ	کله چې پاکې شي
وَإِذَا قَدِمَ الْمُسَافِرُ	او چې راشي مسافر
أَوْ طَهُرَتِ الْحَائِضُ	يا پاکه شي حايضه
فِي بَعْضِ النَّهَارِ	د ورځې په څينې برخه کې

أَمْسَكَا	عَنِ الطَّعَامِ	وَالشَّرَابِ	بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا
خان دي وساتي	له خوراک	له څښاک څخه	په پاتې ورځ کې

تشريح دلته په ټول عبارت کې څو مسئلې بيان شوې دي د کومو نوعيت چې واضح دی. البته په کومو مسائلو کې چې څه اندازه اختلاف دی د هغو وضاحت ضروري دی.

ومن مات الخ د حنفيانو مذهب دا ده چې په ولي باندې د فديه د وجوب لپاره د مړي وصيت کول شرط دي، که چيرته وصيت ونکړي بيا واجب نه دي، که چيرته تبرعًا فديه ورکړي کافي کيږي انشاء الله تعالى، همدارنګه د وصيت نفاذ هم په ثلث (دريیمه برخه) مال کې دننه دی، له دې څخه په زيات کې واجب نه دی. د فديه مقدار هغه دی کوم چې له دې څخه په مخکينی مسئله کې تير شو

ومن دخل..... قضاه: نفل روژه له شروع کولو وروسته لازمه ده يا که له شروع کولو نه وروسته په نيولو او ماتولو کې يې اختيار دی، په دې باره کې دوه مذهبونه دي

(۱) د شافعيانو او حنابله ؤ په نزد نفل روژه له شروع کولو وروسته يې مکمل کول لازمي نه دي، بلکې په ماتولو او مکمل کولو کې يې اختيار دی. لهذا د عذر له وجهې يا له عذر پرته په ماتولو سره يې قضاء نه لازميږي. همدارنګه حکم د نفل لمانځه هم دی (۱)

د حنفيانو او مالکيانو په نزد نفل روژه له شروع کولو وروسته لازم او واجب کيږي. که چيرته له مکمل کيدو مخکې ماته کړل شي نو قضاء يې واجبيږي. او همدغه حکم له نفل لمانځه سره هم متعلق دی. حافظ په "فتح الباري" کې نقل کړي دي چې له امام مالک رَحِمَهُ اللهُ څخه منقول دي چې که چيرته بلا عذر نفل روژه ماته کړل شي نو قضاء لازميږي، او که چيرته د کوم عذر له وجهې ماته کړل شي نو قضاء نه لازميږي. او د حنفيانو په نزد په دواړو صورتونو کې قضاء لازميږي (۲)

د لومړي مذهب دليل د حضرت ام هانی د روايت دا الفاظ دي (وان کان تطوعا فان شئت فاقضيه وان شئت فلا تقضيه) (۳) او که چيرته نفل روژه ده نو تاسو لره اختيار دی که زړه مو غواړي نو قضاء وکړي او که زړه مو نه غواړي نو د قضاء ضرورت نشته. له دغه روايت صفا معلومه شوې ده چې د نفل روژې له نيولو وروسته له مکمل کيدو مخکې ماتول يې روا دي او قضائي راوړل يې ضروري نه دي

خواب د ام هاني په روايت کې د سند او متن په اعتبار سره اضطراب واقع دی، په دې سره استدلال نه صحي کيږي (۴)

(۱) اوجز، ج: ۳، ص: ۷۲
(۲) اوجز المسالک، ج: ۳، ص: ۷۲
(۳) طحاوي، ج: ۱، ص: ۳۸۱
(۴) عمدة القاري، ج: ۸، ص: ۱۸

د دویم مذهب دلیل د حضرت عائشة رضي الله عنها روایت دی چې ما او حضرت حفصه رضي الله عنها نفل روژه نیولې وه اتفاقا په هدیه کې د خوراک شی راغلی، مونږ دواړو روژه ماته کړه او له هغې مو خوراک وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې کله معلومه شوه هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د همدې پر ځای د بلې روژې قضائي راوړل دي [1]؛ له دغه روایت څخه معلومه شوې چې د نفل روژې په ماتولو سره واجبیږي

واذا بلغ الصبی .... ولم یقضیا ما مضی: د رمضان په ورځو کې یو نابالغ ماشوم بالغ شو، یا کافر مسلمان شو نو دوی دواړه به په پاتې ورځ کې له خوراک، څښ‌ک، کوروالي او وغیره څخه پرهیز کوي، ترڅو له روژه دارو سره د مشابهت اختیارولو سره د رمضان د مقدس وخت حق اداء کړی شي، لیکن د دې باوجود که چیرته دوی خوراک څښاک وکړ نو په دوی باندې د همدغې ورځې قضاء نه واجبیږي، هو له همدغې ورځې وروسته د رمضان چې کومې ورځې راځي د هغو روژه په دوی باندې فرض کیږي، ځکه چې اوس په دوی کې دننه د روژې اهلیت موجود دی، چې عقل بالغ مسلمان دې او له شرعي عذرونو څخه پاک دی

وان افاق المجنون که چیرته لیونی د رمضان په کومه برخه کې جوړ شي نو د تیرو شویو روژو قضائي دې راوړي او راتلونکې روژې دې ونیسي، ځکه کوم کس چې د رمضان په ځینو ورځو کې لیونی پاتې شي او بیا جوړ شي نو د هغه په حق کې د روژې د واجب کیدو سبب (د رمضان میاشتې راتلل) وموندل شو لهذا هغه ته د ټولې میاشتې د روژو نیول پکار دي، مګر چونکه د لیوتوب له وجهې د ځینو ورځو روژې نه دي نیولې نو ځکه د هغو دې قضائي راوړي او پاتې نورې دې ونیسي

واذاقدم المسافر که چیرته کوم مسافر د رمضان په ورځ کې خپل وطن ته واپس بیرته راغی یا حایضه ښځه پاکه شوه نو د حنفیانو په نزد په دوی دواړو باندې د ورځې په پاتې برخه کې د روژې ماتوونکو شیانو څخه ځان ساتل واجب دي

وَمَنْ تَسَحَّرَ	وَهُوَ يَظُنُّ	أَنَّ الْفَجْرَ لَمْ يَطْلُعْ	أَوْ أَفْطَرَ	وَهُوَ يَرَى
اوچا چې پیشمنی وخوړ	ګمان یې وکړ	چې فجر نه دی راختلی	یا یې ماته کړه	ګمان یې وکړ
أَنَّ الشَّمْسَ قَدْ غَرَبَتْ	ثُمَّ تَبَيَّنَ	أَنَّ الْفَجْرَ قَدْ طَلَعَ		
چې لمر لویدلی دی	بیا معلومه شوه	چې لمر ختلی وو		
أَوْ أَنَّ الشَّمْسَ لَمْ تَغْرُبْ	قَضَى ذٰلِكَ الْيَوْمَ	وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ		
یا دا چې لمر نه وو لویدلی	قضائي دې راوړي د همدې ورځې	او نشته کفاره په هغه باندې		

---

[1] طحاوي، ج: ۱، ص: ۳۸۲.

وَمَنْ رَأَى هِلَالَ الْفِطْرِ وَحْدَهُ	لَمْ يُفْطِرْ	وَإِنْ كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ
چا چې ولیده د اختر میاشت تنها	افطار دې نکوي	او که وه په آسمان کې کوم علت
لَمْ يَقْبَلِ الْإِمَامُ	فِي هِلَالِ الْفِطْرِ	إِلَّا شَهَادَةَ رَجُلَيْنِ
نه دې قبلوي امام	په میاشت د اختر کې	مګر شهادت د دوو سړیو
أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ	وَإِنْ لَمْ تَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ	لَمْ تُقْبَلْ
یخ د یوه سړي او دوو ښځو	او که نه وو په آسمان کې کوم علت	نه دې قبلیږي
إِلَّا شَهَادَةُ جَمَاعَةٍ	يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ	
مګر شهادت د یوه داسې جماعت	چې راشي یقین د دوي په خبره باندې	

تشریح : ومن تسحر........ ولا کفارة علیه په دې عبارت کې څو مسئلې بیان شوې دي، لومړۍ دا که چیرته یو چا په تیاره کې سترګې وغړولې او ګمان یې وکړ چې شپه لا پاتې ده، په همدغه ګمان یې پیشمنی وخوړ، بیا وروسته معلومه شوه چې له سهار کیدو وروسته یې پیشمنی خوړلی وو نو روژه نه کیږي، قضائي دې راوړي او کفاره واجب نه ده، لیکن بیا به هم خوراک څښاک نکوي او د روژه دارو په شان به اوسي، همدارنګه که د لمر لویدو په ګمان سره یې روژه ماته کړه بیا لمر راښکاره شو نو روژه ولاړه د هغې قضائي دې راوړي کفاره واجب نه ده، او ترڅو چې لمر لویدلی نه وي خوراک څښاک کول صحي نه دي

ومن رأى هلال لم يفطر او که چیرته کوم کس د اختر میاشت تنها ولیدله نو د هغه ګواهي ته شریعت اعتبار نه دی ورکړی، نو همدغه لیدونکي انسان ته اختر کول صحي نه دي. صبا ورځ دې روژه ونیسي او د خپل خان میاشتې لیدو ته دې اعتبار نه ورکوي او روژه دې نه ماتوي

واذا كانت بالسماء علة: که چیرته مطلع صفا نه وه نو د اختر میاشتې په لیدلو کې دوه ازاد سړي یا یو ازاد سړی او دوه ازادو ښځو ګواهي شرط ده، او که چیرته مطلع صفا وه نو د یوه داسې جماعت ګواهي ضروري ده د کوم په خبرو چې یقین راتلی شي

بَابُ الِاعْتِكَافِ

د اعتکاف بیان

دا باب له روژې څخه وروسته کړی شو چې د اعتکاف لپاره روژه شرط ده او شرط شئ په شي باندې مقدم دی نو څکه روژه په اعتکاف باندې مقدم کړی شوه.

د اعتکاف لغوي تعریف: د کوم شي لازم نیول او د خپل ځان په هغه باندې راټولول

اصطلاحي تعریف: د قدوري امام په قول شرعي معنی دا ده چې په مسجد (جومات) کې پاتې کیدل. د اعتکاف په نیت له روژې سره

د اعتکاف فضیلت: کوم کس چې په اخلاص د رمضان په اخیره عشره کې اعتکاف کوي د هغه مخکیني ټول ګناهونه معاف کیدلی شي، او د دوو حجونو او عمرې ثواب ورکول کیږي، همدارنګه تر ځلوېښتو ورځو پورې د اسلامي سرحد د ساتونکي درجه ورته حاصلیږي. او څوک چې تر ځلوېښتو ورځو پورې د اسلامي سرحد ساتنه (حفاظت) وکړي الله تعالی هغه له ګناهونو څخه داسې پاک صاف کړي لکه څرنګه چې د نوي پیدا شوي ماشوم حال دی

الِاعْتِكَافُ مُسْتَحَبٌّ	وَهُوَ اللُّبْثُ فِي الْمَسْجِدِ	مَعَ الصَّوْمِ	وَنِيَّةِ الِاعْتِكَافِ	
اعتکاف مستحب دی	او دا ځنډ کول دي په جومات کې	سره له روژې	او د اعتکاف له نیت	
وَيَحْرُمُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ	الْوَطْءُ	وَاللَّمْسُ	وَالْقُبْلَةُ	
او حرام دي په معتکف	کوروالی	مسح کول	او مچو اخیستل	
وَإِنْ أَنْزَلَ	بِقُبْلَةٍ	أَوْ لَمْسٍ	فَسَدَ اعْتِكَافُهُ	وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ
که انزال یې وشو	په مچو سره	یا په مسح سره	فاسدیږي اعتکاف یې	او شته پرې قضاء
وَلَا يَخْرُجُ الْمُعْتَكِفُ	مِنَ الْمَسْجِدِ	إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ	أَوْ لِلْجُمُعَةِ	
او نه دې ووځي معتکف	له جومات څخه	مګر د انساني ضرورت	یا د جمعې لپاره	
وَلَا بَأْسَ أَنْ يَبِيعَ وَيَبْتَاعَ	فِي الْمَسْجِدِ	مِنْ غَيْرِ أَنْ يُحْضِرَ السِّلْعَةَ		
او پروا نشته واخلي او خرڅ کړي	په جومات کې	پرته له دې چې راوړل شي سامان		
وَلَا يَتَكَلَّمُ	إِلَّا بِخَيْرٍ	وَيُكْرَهُ لَهُ الصَّمْتُ		
او خبرې دې نه کوي	مګر: خیر	او مکروه دي د هغه لپاره چوپ اوسیدل		

تشریح **الاعتکاف مستحب الخ** د قدوري صاحب ویلي دي چې د رمضان په اخیرنۍ عشره کې اعتکاف مستحب دی.

مګر اصل خبره دا ده چې د اعتکاف درې قسمونه دي: (۱) واجب (۲) سنت (۳) نفل

د اعتکاف په حالت کې همبستري کول حرام دي، په ورځ کې وي که په شپه کې وي، په هیره سره وي که قصداً وي، برابره ده که انزال وشي او که ونشي، په هر حال کې اعتکاف فاسدیږي، همدارنګه معتکف له شرمګاه پرته د ښځې د بدن له کومې برخې سره مباشرت وکړ یا یې مچو کړه یا یې غیږ ورسره ونیوله نو که چیرته انزال وشو اعتکاف فاسدیږي، او که ونشو نه فاسدیږي، که چیرته اعتکاف واجب یا سنت مؤکده وو نو د هغو قضائي راوړل واجب دي، او که چیرته نفلي وو نو د هغه قضائي راوړل لازمي نه دي

ولاباس بأن يبيع ...... السلعة : د تجارتي یا غیر تجارتي سامان جومات ته راوړل او خرڅول یې د معتکف لپاره روا نه دي، البته د خرید او فروخت معامله کومه چې د ده لپاره او د ده د بچیانو لپاره ضروري ده که په جومات کې وکړي نو دا روا دي، لیکن سامان به جومات ته نه راوړي

ولايتكلم الابخير الخ په جومات کې د بدو خبرو کول د ټولو لپاره ناروا دي، مګر د معتکف لپاره په خاص ډول ممنوع دي، د اعتکاف له آدابو څخه دا هم دي چې له ښو خبرو پرته نورې خبرې ونکړي، او چ‍ . . کیناستل په دې نیت چې په دې کې ثواب ډیر دی په اعتکاف کې مکروه دي، که چیرته همدا ګ‍ . نه وو بیا هیڅ کراهیت نشته. هو! چوپ اوسیدل د ژبې له ګناه څخه د بچ کیدا لپاره له ټولو ستر عبادت دی

فَإِنْ جَامَعَ الْمُعْتَكِفُ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا عَامِدًا أَوْ نَاسِيًا بَطَلَ اعْتِكَافُهُ
که کوروالي وکړ معتکف په شپه یا په ورځ کې قصداً یا په هیره باطلیږي اعتکاف یې
وَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اعْتِكَافُهُ
او که ووت له جومات څخه د کم وخت لپاره پرته له عذر فاسدیږي اعتکاف د هغه
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَا لَا يَفْسُدُ حَتَّى يَكُونَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ
په نزد د امام ابوحنیفة ویلي دي صاحبینو نه فاسدیږي تردې که وي زیات له نیمایي ورځې
وَمَنْ أَوْجَبَ عَلَى نَفْسِهِ اعْتِكَافَ أَيَّامٍ لَزِمَهُ اعْتِكَافُهَا
او څوک چې لازم کړي په ځان اعتکاف د ورځو نو لازم شو پرې د هماغو ورځو اعتکاف
بِلَيَالِيهَا وَكَانَتْ مُتَتَابِعَةً وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعَ فِيهَا
د هغو له شپو سره او اوسیږي به پیوسته اګر که یې شرط کړی نوي پیوستوالی په هغو کې

خلاصه: معتكف كه د يوې دقيقې لپاره هم له شرعي او طبعي ضرورت پرته له جوماتَ ځخه د باندې ووت نو د امام ابوحنيفة رحمة الله په نزد د هغه اعتكاف فاسد شو. صاحبينو ويلي دي چې پرته له كوم عذر له نيمايي ورځې ځخه تر كم پورې له جومات ځخه په وتلو كې هيڅ خبره نشته. د اعتكاف د فاسد كيدو حكم نه لګول كيږي، ترجيح د امام اعظم رحمة الله قول ته ده

كه چيرته كوم كس د څو ورځو اعتكاف په ځپل ځان باندې لازم كړ داسې يې وويل چې د الله لپاره په ما باندې د لسو ورځو اعتكاف لازم دی، نو د لسو ورځو اعتكاف د هغو له شپو سره لازم شو، او پيوسته لازم شو. اګر كه پيوسته يې شرط كړی نه وي، د ورځو په ذكر سره شپې څو ځكه شاملې شوې ځكه چې قاعده ده چې د جمع په صيغه د ايام ذكر د هغو مقابل شپو ته هم شامل دی، او پيوسته له دې وجهې لازم شو چې د اعتكاف دارو مدار په تسلسل باندې دی، ځكه چې شپه او ورځ ټول وختونه د اعتكاف قابل دي

كِتَابُ الْحَجِّ

كتاب الحج له كتاب الصوم ځخه د لاندې وجوهاتو له امله وروسته ذكر شوی دی:

(اول) په نبوي حديث (بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ) كې حج له روژې وروسته ذكر شوی دی نو ځكه په دې ترتيب كې د حديث ترتيب مقصود دی.

(دويم) د عبادت درې قسمونه دي (اول) عبادت بدنيه لكه لمونځ او روژه (دويم) عبادت ماليه لكه زكوة (دريم) له همدې دواړو ځخه مركب لكه حج، نو هر كله چې له عبادت بدنيه او عبادت ماليه يعنې مفرد ځخه فارغ شو نو عبادات مركبه يې بيان كړ

(دريم) روژه هر كال فرض وي او حج په ټول عمر كې يو ځل فرض دی، له همدې امله روژې ته احتياج زيات دی او د زيات احتياج والا شي مخكې كول مناسب دي نو ځكه روژه مقدم او حج وروسته كړی شو

الحج: معنى يې ده قصد كول، اراده كول، د كوم عظيم شي طرفته متوجه كيدل. اوله معنى زياته عامه ده كومه چې اهل لغت ذكر كړې ده، او د شرع په اصطلاح كې د حج معنى ده له مخصوص افعالو سره په مخصوص زمانه كې د مخصوص مقام اراده كول. له مخصوص افعال ځخه طواف او په عرفات كې قيام مراد دي، له مقام مخصوص ځخه مراد بيت الله او جبل عرفات مراد دي، او له مخصوص زمانه ځخه د حج موسم مراد دی.

حج څه وخت فرض شوی: په دې باره كې ډير قولونه دي، علامه ابن عابدين شامي او صاحب درمختار د (۹ هجري) په اخير كې د حج د فرض كيدو قول ته ترجيح وركړې ده، علامه شامي ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په دغه كال حج له دې وجهې نه ده كړی چې د حج فرضيت د حج د وخت له تيريدا وروسته شوی ګوا كه رسول الله صلى الله عليه وسلم د حج په كولو كې تأخير بيخي نه ده كړی، د حنفيانو راجح همدا دی

د حج فرضيت په قران سره (وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا) او د الله تعالی د خوشحالولو لپاره د خلكو په ذمه د هغه ځای حج كول فرض دي، مګر د ټولو په ذمه دي بلكې د خاص خاص دي، يعنې د هغه كس لپاره كوم چې طاقت لري تر هلته پورې د رسيدو د لپاره.

د حج فرضيت په حديث سره د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل اې خلكو! په تاسو باندې حج فرض كړی شوی پس حج وكړئ.

د حج فرضيت په اجماع سره د نبي كريم صلی الله علیه وسلم له زمانې راښيولې تر ننه پورې د ټولو مسلمانانو اتفاق د حج په فرضيت باندې را روان دی

اَلْحَجُّ وَاجِبٌ	عَلَى الْأَحْرَارِ	الْمُسْلِمِيْنَ	الْبَالِغِيْنَ	الْعُقَلَاءِ
حج واجب دی	په آزادو	مسلمانانو	بالغانو	عاقلانو
الْأَصِحَّاءِ	إِذَا قَدَرُوْا عَلَى الزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ	فَاضِلًا عَنِ الْمَسْكَنِ		
صحتمندو باندې	كله چې قادر وي په توښه او سپرلۍ باندې	چې زيات وي د كور له ضرورت		
وَمَا لَا بُدَّ مِنْهُ	وَعَنْ نَفَقَةِ عِيَالِهِ	إِلَى حِيْنِ عَوْدِهِ	وَكَانَ الطَّرِيْقُ	
او چې ترې لابدي وي	د اهل او عيال له خرچې څخه	تر بيرته راتلو پورې	او وي لاره	
آمِنًا	وَيُعْتَبَرُ فِي الْمَرْأَةِ	أَنْ يَكُوْنَ لَهَا	مَحْرَمٌ تَحُجُّ بِهِ	أَوْ زَوْجٌ
په امن	معتبر بوي په ښځې كې	چې وي به له هغې سره	محرم چې حج ورسره وكړي	يا ميړه
وَلَا يَجُوْزُ لَهَا	أَنْ تَحُجَّ بِغَيْرِهِمَا	إِذَا كَانَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ مَكَّةَ		
او روا نه دي ښځې ته	چې حج وكړي پرته له دوي	هر كله وي په مينځ د دې او د مكې كې		
مَسِيْرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ	فَصَاعِدًا			
مسافه د دريو ورځو	يا له دې زياته			

د حج د شرطونو بيان

د لغاتو حل واجب: نه دی څخه اصطلاحي وجوب مراد دی، بلكې دا د ثابت او لازم په معنی كې ده، يعنې حج ثابت او لازم دی، په همدې اعتبار سره دا لفظ فرض لره هم شامل دی، **الاحرار** آزاد، **العقلاء** هوښيار، **زاد** توښه، **الراحلة** سپرلۍ، **فاضلا** زيات، **المسكن** د اوسيدو ځای (كور)، **عيال** د كور خلك، **عود** واپسي، **مسيرة** مسافه

توضيح د كتاب صاحب په دې عبارت كې د حج شرطونه بيان كړي دي، د حج د وجوب لپاره په انسان كې دننه د څلورو شرطونو موجود كيدل ضروري دي (۱) آزاد كيدل، په غلام او مينزه باندې حج فرض

نه دی (۲) مسلمان کېدل، چنانچه په غیر مسلم باندې حج فرض نه دی، او نه کوم غیر مسلم ته د حرم د حدودو په دائره کې داخلیدل روا دي (۳) مکلف کیدل، لهذا په نابالغ، لیوني او وغیره باندې حج فرض نه دی (۴) طاقت درلودل، یعنې حج په داسې مالدار باندې واجب دی کوم ته چې الله تعالی دومره دولت ورکړی وي په کوم سره چې هغه له خپل وطن څخه تر مکة المکرمة پورې د تلو راتلو او هلته په مصارفو (خرچو) باندې قادر وي، او د خپل اهل او عیال مصارف هم تر بیرته راتلو پورې په اسانۍ سره برداشت کولی شي، او د لیارې ټول خنډونه هم له منځه تللي وي، د بیلګې په توګه د حکومت له لوري د سفر منظوري، ویزه، سپرلی او ټکټ ورکړی شوی وي، او د دښمن له خطرونو څخه په امن کې وي، او په خپله ګوډ یا شل نه وي

وَالْمَوَاقِيتُ الَّتِي	لَا يَجُوزُ أَنْ يَتَجَاوَزَهَا	الْإِنْسَانُ	إِلَّا مُحْرِمًا	
او هغه ځایونه	چې روا نه دي تیریدل ترې	د انسان لپاره	د احرام له تړلو پرته	
لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ	ذُو الْحُلَيْفَةِ	وَلِأَهْلِ الْعِرَاقِ	ذَاتُ عِرْقٍ	
د اهل مدینه لپاره	ذوالحلیفه ده	د اهل عراق لپاره	ذات عرق دی	
وَلِأَهْلِ الشَّامِ	الْجُحْفَةُ	وَلِأَهْلِ نَجْدٍ	قَرْنٌ	وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ
د اهل شام لپاره	جحفه ده	د اهل نجد لپاره	قرن دی	او د اهل یمن لپاره یلملم دی
فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ	عَلَى هَذِهِ الْمَوَاقِيتِ	جَازَ		
که یې مخکې وتړلو احرام	له همدې ځایونو څخه	روا دي		
وَمَنْ كَانَ بَعْدَ الْمَوَاقِيتِ	فَمِيقَاتُهُ الْحِلُّ	وَمَنْ كَانَ بِمَكَّةَ		
او څوک چې اوسیږي د میقات شاته	میقات د هغه حل دی	او څوک چې په مکه کې اوسیږي		
فَمِيقَاتُهُ	فِي الْحَجِّ الْحَرَمُ	وَفِي الْعُمْرَةِ الْحِلُّ		
میقات د هغه	په حج کې حرم دی	او په عمره کې حل دی		

د احرام د میقاتونو بیان

د لغاتو حل: **المواقیت:** د میقات جمع ده هغه وخت کوم چې د فعل لپاره مقرر وي، لیکن دلته مجازا هغه ځایونه مراد دي له کومو ځایونو چې حاجیان احرامونه تړي، او میقاتونه پنځه دي: (۱) **ذوالحلیفه:** په دغه زمانه کې دا ځای په ابار علي یا بئر علي سره نومول شوی دی، دا د اهل مدینه او له همدغه طرف څخه د راتلونکو لپاره میقات دی، کوم چې د اردن (جاردن) او وغیره څخه د راتلونکو لپاره هم میقات دی (۲) **ذات عرق:** دا له مکې مکرمې څخه د درې منزله په فاصله باندې یو ځای دی، اهل عراق،

ایران، خراسان، افغانستان، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، روس او له چین څخه په وجه لاره راتلونکو لپاره احرام تړل لازمي دي (۳) **جحفه** دغه خای کې د همدغو خلکو لپاره میقات دی، په همدغه زمانه کې دغه خای ویران غوندې شوی، دا له مکې مکرمې څخه د پنځه منزله فاصله باندې دی، په دغه زمانه کې دغه خای له مکې مکرمې څخه د پنځه منزله فاصله باندې دی، دا د اهل شام، مصر، سوډان او براعظم افریقه څخه د راتلونکو لپاره میقات دی، همدارنګه شام له هیوادونو وروسته د ترکستان، بلغاریه، روم، جرمني، فرانس څخه د راتلونکو لپاره میقات دی

(۴) **قرن** دغه خای له مکې مکرمې څخه په یوه منزل فاصله باندې دی، دا د اهل نجد او خلیجي هیوادونو او له هغه طرف څخه د راتلونکو لپاره میقات دی (۵) **یلملم** دا له مکې مکرمې څخه تقریبا په دیرش میله فاصله باندې یو غر دی، له یمن او له هغه طرف څخه د راتلونکو لپاره میقات دی، له مسقط، پاکستان، هندوستان، بنګله دیش، برما، سنګاپور، ملیشیا، اندونیشیا، استرلیا او نورو څخه په بحري جهازونو کې د راتلونکو لپاره دا میقات دی، مګر جده د ده په برابرۍ کې پرته ده، نو څکه له بحري لارې څخه د راتلونکو لپاره په جده کې هم احرام تړل روا دي

ومن كان بعد الميقات : د کتاب صاحب فرمایلي دي چې کوم کس په میقات کې دننه اوسیدونکی وي د هغه د احرام تړلو خای حل دی، او کوم کس چې په مکه کې موجود وي برابره ده که د مکې اوسیدونکی وي یا د څه وخت لپاره مقیم شوی وي نو د حج کولو په صورت کې د هغه د احرام تړلو خای حرم دی، او د عمرې په صورت کې دې د حرم له حدودو کوم طرفته ووځي په حل کې دې احرام وتړي او د عمرې ارکان دې اداء کړي

وَإِذَا أَرَادَ الْإِحْرَامَ	اِغْتَسَلَ	أَوْتَوَضَّأَ	وَالْغُسْلُ أَفْضَلُ
کله چې اراده وکړي د احرام تړلو	غسل دې وکړي	یا دې اودس وکړي	او غسل کول افضل دي
وَلَبِسَ ثَوْبَيْنِ جَدِيدَيْنِ أَوْغَسِيلَيْنِ	إِزَارًا وَرِدَاءً	وَمَسَّ طِيبًا	
او وادې اغوندي دوه جامې نوې وي که زړې	لنګ او څادر	او خوشبويي دي ولګوي	
إِنْ كَانَ لَهُ	وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ	وَقَالَ اللَّهُمَّ	إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ
که وي له ده سره	لمونځ دي وکړي دوه رکعته	او وې وايي اې الله !	زه د حج کولو اراده لرم
فَيَسِّرْهُ لِي	وَتَقَبَّلْهُ مِنِّي	ثُمَّ يُلَبِّي عَقِيبَ صَلَاتِهِ	
هغه زما لپاره آسان کړي	او زما له لوري يې قبول کړي	بيا دې تلبيه ووايي وروسته له لمانځه	
فَإِنْ كَانَ مُفْرِدًا بِالْحَجِّ	نَوَى بِتَلْبِيَتِهِ الْحَجَّ		
که وي صرف د حج اراده کوونکی	نيت دې وکړي په خپلې تلبيې سره د حج		

د احرام د کیفیت بیان

خلاصه په دې عبارت کې له احرام مخکې د مسنون عمل او یوه مسئله بیان شوې دي، د قدوري صاحب وېلي دي چې کله کوم کس د احرام تړلو اراده وکړي هغه دې اول غسل وکړي، یا دې اودس وکړي، لیکن د غسل کول بهتر دي، له غسل وروسته دوه جامې یو دې د لنګ پر ځای واغوندي او دویم دې د څادر په څېر واچوي، همدغه دواړه جامې برابره ده که زړې وي او که نوې وي

ومس طيبا..... صلى ركعتين او که چېرته امکان وي په خپل بدن دې خوشبو ولګوي، بیا دې دوه رکعته نفل لمونځ وکړي او په دې الفاظو سره دې دعا وکړي (اې الله زما اراده د حج کولو ده، هغه زما لپاره آسانه کړې، او زما له طرفه یې قبول کړې، کله چې صرف (یوازې) د حج اراده وي د عمرې نه وي او دا حج افراد دی، د هغه مطلب دا ده چې له میقات څخه دې صرف د حج احرام وتړل شي، او چې مکة المکرمة ته حاضر شي نو طواف قدوم دې وکړي د احرام په حالت کې دې قیام وکړي، د یوم النحر په ورځ دې جمره قبه وولي، له دې وروسته دې احرام خلاص کړي، او په همداسې حاجي باندې هیڅ قرباني لازم نه ده، صرف یوه سعیې او یو طواف واجب دی، د احرام نه دوه رکعته ادا کولو وروسته له سلام ګرځولو سمدستي وروسته دې په همدغه مجلس کې د احرام له نیت سره تلبیه ووایي، د احرام لمانځه نیت او تلبیې په مینځ کې فاصله نه ده پکار، که چېرته ډېره زیاته فاصله راشي نو په سنت طریقه د احرام چې کومه طریقه ده په هغې باندې عمل ونشو، او د سنت طریقې له ثواب څخه هم محروم شو

که چېرته د احرام په وخت کې داسې خوشبو ولګول شي د کومې اثر او خوشبويي چې پېښې "ختمېږي، نو د ټولو په نزد روا ده، مګر اختلاف په دې باره کې ده چې د احرام په حالت کې د داسې خوشبويي لګول روا دي او که ناروا د کومې خوشبويي یا اثر چې تر ډېره وخته پورې باقي پاتې کېږي، په دې باره کې دوه مذهبونه دي

(۱) د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د همداسې خوشبو لګول روا نه دي، د کومې خوشبو یا رنګ چې له احرام وروسته تر ډېره وخته پورې باقي پاتې کېږي

(۲) د ائمه ثلاثه او امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د احرام په وخت کې خوشبو لګول مطلقًا روا او مستحب دي، برابره ده که له احرام وروسته د هغې رنګ یا خوشبويي باقي پاتې کېږي او که ختمېږي په هر حال کې روا ده.

ثم يلبي عقيب صلوته تلبیه به په کوم وخت کې وایي، په دې کې اختلاف دی، له ځینو روایتونو معلومه شوې ده چې له لمانځه وروسته سمدستي دې ووایي، او له ځینو معلومه شوې چې له جومات څخه ووځي له وتې سره دې ووایي، له ځینو معلومه شوې ده چې په اوښ باندې په بښه ډول له سپرېدو وروسته دې ووایي، او له ځینو معلومه شوې چې بیداء ته ورسېږي نو ودې وایي، خو د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له روایت معلومه شوې ده چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په همدې ټولو ځایونو کې تلبیه وېلې وه،

لهذا هر چا چې په کوم ځای کې اوریدلې ده هغه ځای یې نقل کړی دی، د حنفیانو په نزد مستحبه دا ده چې تلبیه د احرام له رکعتونو سمدستي وروسته وویل شي.

فان کان مفردا بالحج د لته دوه مره خبره یاد ولرئ چې د حج دری قسمونه دي (اول) افراد (دویم) تمتع (دریم) قران، تفصیل یې را روان دی.

وَالتَّلْبِيَةُ أَنْ يَقُوْلَ لَبَّيْكَ	اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ	لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ
او تلبیه دا ده چې ووایي حاضر یم	اې الله! حاضر یم	حاضر یم نشته شریک تا لره

لَبَّيْكَ	إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ	وَالْمُلْكَ	لَا شَرِيْكَ لَكَ
حاضر یم	بیشکه حمد او نعمت ستا لپاره دي	بادشاهي هم ستا لپاره ده	شریک نشته تا لره

وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُخِلَّ بِشَيْءٍ	مِنْ هٰذِهِ الْكَلِمَاتِ
مناسب نه دي چې کم کړي شي کوم شی	له همدې کلماتو څخه

فَإِذَا زَادَ فِيْهَا جَازَ
که زیات کړل شي پرې نو روا دي

د تلبیه بیان

تشریح د تلبیه چې کوم الفاظ نقل شوي دي د زیاترو راویانو په دې باندې اتفاق دی. څکه خو کمی کول یکې مناسب ندي بلکې مکروه دي، د احرام په وخت کې یو ځل تلبیه ویل فرض او د احرام له شرائطو څخه دي. لکه څرنگه چې تکبیر تحریمه د دخول صلوة لپاره شرط دی همدارنگه تلبیه په حج کې د داخلیدو لپاره شرط دي. لهذا که چیرته تلبیه ونه ویل شي نو احرام نه صحي کیږي او نه حج یا عمره صحي کیږي، او بیا بیا د تلبیې ویل سنت دي.

د قدوري صاحب ویلي دي چې له ذکر شویو کلماتو څخه دې کومه کلمه نه کمیږي، څکه چې دغه الفاظ منصوص او متفق علیه دي، مگر په دې باره کې اختلاف دی چې په همدغو الفاظو باندې د څه الفاظو زیاتول روا دي او که نه دي روا؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي

(۱) د ائمه ثلاثه او امام محمد رحمه الله په نزد د تلبیې په الفاظو باندې د داسې الفاظو په زیاتولو کې گنجایش شته دی کوم چې د الله تعالی جل جلاله په تعظیم باندې دلالت کوي.

(۲) د امام مالک رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله په نزد په منصوصه الفاظو باندې زیاتوالی مکروه دی، له دې څخه پرهیز کول ضروري دي

فَإِذَا لَبّٰى	فَقَدْ أَحْرَمَ	فَلْيَتَّقِ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ	مِنَ الرَّفَثِ
کله چې تلبیه ووایه	نو محرم شو	اوس بکار دي چې ځان وساتي له هغو چې الله تعالی منع کړي دي	له کوروالي

وَالْفُسُوقِ	وَالْجِدَالِ	وَلَا يَقْتُلُ صَيْدًا	وَلَا يُشِيرُ إِلَيْهِ	
له فسق	او جګړو څخه	او نه دې وژني ښکار	او نه دې اشاره کوي هغه ته	
وَلَا يَدُلُّ عَلَيْهِ	وَلَا يَلْبَسُ قَمِيصًا	وَلَا سَرَاوِيلَ	وَلَا عِمَامَةً	
او نه دې راهنمائي کوي د هغه طرفته	نه دې اغوندي قمیص	نه پرتوګ	نه پګړۍ	
وَلَا قَلَنْسُوَةً	وَلَا قَبَاءً	وَلَا خُفَّيْنِ	إِلَّا أَنْ لَا يَجِدَ نَعْلَيْنِ	فَيَقْطَعُهُمَا
نه خولۍ	او نه چپنه	نه موزې	مګر دا که نه پیدا کیده پیزار	پس غوڅې دې کړي
مِنْ أَسْفَلَ الْكَعْبَيْنِ	وَلَا يُغَطِّي رَأْسَهُ	وَلَا وَجْهَهُ		
لاندې له ښنګرو	او نه دې پټوي سر خپل	او نه مخ خپل		
وَلَا يَمَسُّ طِيبًا	وَلَا يَحْلِقُ رَأْسَهُ	وَلَا شَعْرَ بَدَنِهِ	وَلَا يَقُصُّ	
نه دې لګوي خوشبويي	نه دې خريي سر خپل	او نه د بدن ويښتان	او نه دې غوڅوي	
مِنْ لِحْيَتِهِ	وَلَا مِنْ ظُفُرِهِ	وَلَا يَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا	بِوَرْسٍ وَلَا بِزَعْفَرَانٍ	
له ږیرې څخه	او نه له نوکانو څخه	او نه دې اغوندي جامه رنګ شوې	په ورس او زعفران سره	
وَلَا بِعُصْفُرٍ	إِلَّا أَنْ يَكُونَ غَسِيلًا	وَلَا يَنْفُضُ الصَّبْغُ		
او نه په عصفر سره	مګر دا چې مینځل شوې وي	او رنګ ورګډ شوی نه وي		

هغه شیان کوم چې د محرم لپاره ممنوع دي

دلغاتوحل الرفث: له دې لفظ څخه یا جماع مراد ده یا ناوړه خبرې یا د ښځو په موجودیت کې جماع ته بلونکې خبرې، **الفسوق**: ګناه او معاصي، **الجدال**: جګړې، **صیدا**: ښکار، **یدل**: راهنمائي کول، **سراویل**: د سروال جمع ده پرتوګ، **قلنسوة**: خولۍ (ټوپۍ)، **الکعبین**: ښنګرې، **ورس**: یو ډول واښه دي کوم چې د رنګ ورکولو کار کوي، **عصفر**: زیړ رنګ، **غسیلا**: دلته د مفعول په معنی کې ده یعنې مینځل شوي، **ینفض**: د دې دوه ترجمې شوې دي لومړی دا ده چې د رنګ اثر نورو ته متجاوز نشي، دوهمه دا چې په کومو شیانو ورنګول شي

خلاصه: دلته څو مسئلې بیان شوې دي: کوم کس چې د احرام تړلو اراده وکړه کله چې هغه نیت وکړ او تلبیه یې ووېله نو هغه محرم شو، د احرام لپاره نه یوازې (صرف) نیت کافي دی او نه صرف تلبیه، بلکې لکه څرنګه چې په لمانځه کې د داخلیدو لپاره تکبیر تحریمه او نیت دواړه یو ځای ضروري دي، همدارنګه په حج یا عمره کې د داخلیدو لپاره تلبیه او نیت دواړه یو ځای ضروري دي، د قدوري صاحب ویلي دي چې احرام وتړل شي نو له هغو ټولو خبرو څخه پرهیز پکار ده له کومو څخه چې الله

تعالی منعه کړي ده، يعنې له ژبې څخه د ښکاره او ناوړه خبرو ويستل، معصيت او ګناه کول، همدا ډول له خپل خادم او نورو سره جګړه کول، دغه ټولې خبرې په عام حالت کې هم منعه دي، ليکن د احرام په حالت کې يې زيات تاکيد شوی

همدارنګه د احرام په حالت کې د وچې ځناور ښکار کول هم حرام دي، همدارنګه د محرم لپاره د ښکار طرفته اشاره کول روا دي، يعنې چې ښکار يې مخته موجود وي او د هغه طرفته محرم اشاره وکړي دا ناروا دي، او که چيرته ښکار مخته موجود نه وي ليکن محرم د ښکار په باره کې پوښتي اوس دی غير محرم ته داسې ووايي چې په فلاني ځای کې ښکار موجود دی نو دغه راهنمائي هم حرامه ده

د احرام په حالت کې د خپل بدن د جوړولو او پټولو مطابق د ګنډل شويو يا جوړو شويو جامو اغوستل د سړي لپاره روا نه دي، مثلاً کرته، پرتوګ، دستانه، موزه، بنيل، نيکر، خولۍ، کوټ، واسکټ او وغيره، د احرام جامه داسې ضروري ده کومه چې د بدن په هيئت باندې ناپ شوې نه وي لکه څادر، لنګ او وغيره، که چيرته له محرم سره پيزار نه وي نو هغه ته د داسې موزو اغوستلو اجازت دی کومې چې له ښنګرو څخه ښکته غوڅې شوې دي او له کعب څخه مراد ښنګری نه ده بلکې د قدم درمېنه هډوکی دی، ښځې د احرام په حالت کې سلائي شوې جامې اغوستلی شي، او زيورات، موزې او دستانې اغوستلی شي

د احرام په حالت کې د سړي لپاره سر پټول روا نه دي، همدارنګه د مخ پټول هم روا نه دي، د قدوري امام ويلي دي چې د احرام په حالت کې د خوشبويي لګول منع دي، د سړي او ښځې دواړو حکم يو شانته دی، همدارنګه محرم دې د خپل سر او او بدن ويښتان هم نه خريي، او خپله ږيره دې هم نه تراشي (پريکوي) او نه دې نوکان پريکوي (تراشي)، محرم ته د اسې جامې اغوستل هم نه دي روا کومه چې په ورس يا زعفران يا کسم سره رنګ شوې وي، ليکن که چيرته په همدغو شيانو سره له رنګ کېدو وروسته مينځل شوې او داسې صفا کړی شوې وي چې له هغې څخه خوشبويي نه راځي نو د هغې اغوستل د محرم لپاره له کراهيت پرته روا او صحي دي

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَغْتَسِلَ	وَيَدْخُلَ الْحَمَّامَ	وَيَسْتَظِلَّ بِالْبَيْتِ
هيڅ پروا نشته چې غسل وکړي	او داخل شي حمام ته	او سيوری حاصل کړي د بيت الله
وَالْمَحْمِلِ	وَيَشُدَّ فِي وَسَطِهِ الْهِمْيَانَ	وَلَا يَغْسِلُ رَأْسَهُ
او د کجاوې	او وتړي په ملا پسې هميانی	او نه دې مينځي سر خپل
وَلَا لِحْيَتَهُ بِالْخِطْمِيِّ	وَيُكْثِرُ مِنَ التَّلْبِيَةِ	عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ
او نه ږيره په خطمي سره	او په کثرت دې وايي تلبيه	وروسته له لمانځه

وَكُلَّمَا عَلَا شَرَفًا	أَوْ هَبَطَ وَادِيًا	أَوْ لَقِيَ رُكْبَانًا	وَبِالْأَسْحَارِ
او کله چې خیږي په لوړه	یا ښکته کیږي په ژوره	یا مخامخ کیږي له سپرو سره	او د صبا په وخت
فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ	اِبْتَدَأَ بِالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	فَإِذَا عَايَنَ الْبَيْتَ	
کله چې داخل شي مکې ته	نو شروع دې وکړي له مسجد حرام	بیا چې وویني بیت الله شریف	
كَبَّرَ وَهَلَّلَ	ثُمَّ ابْتَدَأَ بِالْحَجَرِ الْأَسْوَدِ	فَاسْتَقْبَلَهُ	وَكَبَّرَ
تکبیر او تهلیل دې ووایي	بیا دې شروع وکړي په حجر اسود	مخ دې کړي	او تکبیر دې ووایي
وَهَلَّلَ	وَرَفَعَ يَدَيْهِ	مَعَ التَّكْبِيرِ	وَاسْتَلَمَهُ وَقَبَّلَهُ
او تهلیل دې ووایي	پورته دې کړي لاسونه	له تکبیر سره	استلام دې وکړي او مچ دې کړي
إِنِ اسْتَطَاعَ	مِنْ غَيْرِ أَنْ يُؤْذِيَ مُسْلِمًا		
که یې طاقت درلود	پرته له دې چې ضرر ورسوي مسلمانانو ته		

هغه شیان کوم چې د محرم لپاره روا دي

دلغاتوحل: **حمام**: غسل خانه، **یستیضل**: د سیوري حاصلول، **المحمل**: کجاوه، **یشد**: (ن ض) شدأ تړل، **الهمیان**: د روپیو بټوه، **الخطمی**: یو ډول مشهور وابنه دي کوم ته چې ګل خیرو ویل کیږي، په هغو کې خوشبویي ده، **علا**: لوړ ختل، **شرف**: لوړ ځای، **هبط الوادی**: په ژوره کې ښکته کیدل، **رکبانا**: سپرلی، **اسحار**: د سحر جمع ده د سهار وخت، **عاین**: لیدل، **هلل**: تهلیل د لااله الاالله ویل، **استلمه**: دا له سلمة څخه ماخوذ دی د کوم معنی چې د کاڼي ده، د کاڼي په لاس سره مسحه کول، مچو اخیستل، **قبله**: مچ کول

خلاصه: د احرام په حالت کې د محرم لپاره غسل کول روا دي، او په ګرمو اوبو باندې د غسل کولو لپاره حمام ته په داخلیدو کې هیڅ خبره نشته

د سیوري حاصلولو دری صورتونه دي: (۱) د کوم دسمال او وغیره په سر باندې اچول (۲) د کوم چت لاندې یا په خیمه کې دننه کیناستل او سیوری حاصلول

(۳) په سیوان یا وغیره سره سیوری حاصلول، لومړی قسم بالاتفاق روا دی، دریم قسم بالاتفاق روا دی، په دویم قسم کې اختلاف دی، د حنفیانو او شافعیانو په نزد روا دی، د امام مالک او امام احمد په نزد ناروا دی

د مالکیانو او حنابله ؤ دلیل: حضرت ابن عمر رضي الله عنه یو محرم ولید کوم چې په اوښ باندې سپور وو او هغه په خپل ځان باندې دپاسه سیوری کړی وو، هغه یې چې ولید ورته وې فرمایل: د کوم ذات لپاره چې تا احرام تړلی دی د هغه لپاره په ګرمي کې وه اوسه یعنې سیوری مکوه.

ځواب: ممکنه ده چې هغه رضي الله عنه د افضلیت بیانولو په لحاظ همداسې ویلې وي

د حنفیانو او شافعیانو دلیل: حضرت اسامه او بلال د حج په سفر کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له سپرلۍ سره وو، حضرت اسامه رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارک سر باندې د پاسه په جامې سره سیوری کړی وو، تردې پورې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمرې عقبې له رمې څخه فارغ شو

همیان: هغه کمربند چې د خلتې یا د بټوې کار ورکوي، په کومه کې چې روپۍ کېښودل کیږي او له ملا څخه تړل کیږي، زمونږ په نزد له ملا څخه د همیانی په تړلو کې هیڅ خبره نشته

تشریح: ولایغسل... بالخطمي: محرم ته د خپل سر او ږیرې په خطمي سره پریمنځل روا نه دي، ځکه چې خطمي یو ډول خوشبو ده او د محرم لپاره خوشبو لګول روا نه دي

مکې مکرمې ته له داخلیدو وروسته له ټولو مخکې مسجد حرام ته دې داخل شي او مسجد حرام ته له باب السلام څخه داخلیدل مستحب دي، کله یې چې بیت الله شریف تر سترګو شي نو الله اکبر دې ووایي او لااله الاالله دې ووایي

مسجد حرام: د بیت الله شریف څلورو طرفونو ته جوړ شوی جومات دی، په هغه کې د یوه لمانځه ثواب له یو لک لمونځونو سره برابر دی.

باب السلام: دا د مسجد حرام د هغې دروازې نوم دی کوم چې د صفا مروه له لوري (طرفه) د داخلیدو په لور دی.

حجر اسود: د جنت د یاقوت یوه ډبره (کاڼی) دی، د دې نور خدای تعالی ختم کړ او دنیا ته یې راولیږه، که چیرته د دې نور ختم شوی نه وای نو مشرق او مغرب به په هغې سره رڼا شوی وای، کوم چې را نازله شوه د شیدو په څیر (شان) سپینه وه مګر انساني غلطیو هغه توره کړې ده[1]، دا د بیت الله شریف په مشرقي جنوبي څنډې کې د انسان قد ته نږدې لوړه په دیوال کې ایښودل شوې ده، د هغې څلورو طرفونو ته د سپینو زرو حلقه جوړه شوې ده، او حجر اسود په کومه زمانه کې بلوا کوونکو ټوټې ټوټې کړې وه، له هماغو ټوټو څخه غټې او کوچنۍ یوولس ټوټې هغه وخت د سپینو په حلقه کې دننه لګول شوې دي. لهذا که چیرته له حلقې دننه مچو کړل شي نو د حجر اسود مچ کول نه لازمیږي، بلکې د حجر اسود مچ کول په هغه وخت کې صحیح کیږي کله چې د ډبرې په هماغو ټوټو باندې مچو ولګول شي

استلام: د دې مطلب دا ده چې دواړه لاسونه په حجر اسود باندې کېښودل شي او له حجر اسود څخه خوله باندې مچو واخیستل شي، یا په حجر اسود باندې لاس ولګول شي لاس مچو کړل شي، او که چیرته نږدې نشي ورتللی نو له لیرې څخه په لاس سره اشاره ورته وکړی شي او لاس مچو کړل شي

(۱) ترمذ... ۱۷۷

ثُمَّ أَخَذَ عَنْ يَمِيْنِهِ	مَا يَلِي الْبَابَ	وَقَدْ اضْطَبَعَ رِدَائَهُ	
بیا دې شروع وکړي له خپل ښي طرف	چې دروازې ته نږدې ده	او اضطباع دې وکړي د خپل څادر	
قَبْلَ ذٰلِكَ	فَيَطُوْفُ بِالْبَيْتِ	سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ	وَيَجْعَلُ طَوَافَهُ
مخکې له دې	چې طواف وکړي د بیت الله	اوه چکرونه	او کوي دې طواف
مِنْ وَرَاءِ الْحَطِيْمِ	وَيَرْمُلُ	فِي الْأَشْوَاطِ الثَّلَاثِ الْأُوَلِ	
د حطیم شاته	او رمل دې کوي	په لومړنیو دریو چکرونو کې	
وَيَمْشِيْ فِيْمَا بَقِيَ	عَلَىٰ هَيْئَتِهِ	وَيَسْتَلِمُ الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ	
او ځي دې په پاتې چکرونو کې	په خپل هیئت سره	استلام دې وکړي د حجر اسود	
كُلَّمَا مَرَّ بِهِ	إِنِ اسْتَطَاعَ	وَيَخْتِمُ الطَّوَافَ بِالْاِسْتِلَامِ	
کوم وخت چې له هغه سره تیریږي	که یې طاقت وه	او ختم دې کړي طواف په استلام باندې	
ثُمَّ يَأْتِي الْمَقَامَ	فَيُصَلِّيْ عِنْدَهُ رَكْعَتَيْنِ	أَوْ حَيْثُ مَا تَيَسَّرَ	
بیا دې راشي مقام ابراهیم ته	لمونځ دې وکړي له هغه سره دوه رکعته	یا چیرته چې میسر شي	
مِنَ الْمَسْجِدِ	وَهٰذَا الطَّوَافُ طَوَافُ الْقُدُوْمِ	وَهُوَ سُنَّةٌ	
په مسجد حرام کې	او دا طواف طواف قدوم دی	او دا سنت دی	
وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ	وَلَيْسَ عَلَىٰ أَهْلِ مَكَّةَ طَوَافُ الْقُدُوْمِ		
واجب نه دی	او نشته په اهل مکه باندې طواف قدوم		

د طواف قدوم بیان

دلغاتو حل **اضطبع** اضطباعا د بازو ښکاره کول، له ښي بغل څخه د څادر وباسل په چپ باندې اچول، **اشواط** د شوط جمع ده چکر، وراء شاته، **الحطیم** د کعبې د کڼاره دیوال، هغه ځای کوم چې د رکن زمزم او مقام ابراهیم په مینځ کې دی، **یرمل** د اوږو په ښورولو سره منډه وهل

خلاصه د کتاب صاحب په دې عبارت کې د طواف قدوم مسئله بیان کړې ده، د طواف لکه څرنګه چې له حجر اسود څخه شروع کول واجب دي همدارنګه له ښي طرف څخه طواف کول واجب دي، یعنې د حجر اسود له ښي طرف څخه چیرته چې د بیت الله شریف دروازه ده له همدغه طرف څخه دې طواف شروع کړي

د اضطباع حکم: د دې مطلب دا دی چې د احرام څادر له ښي بغل څخه وباسل شي په چپه اوږه باندې واچول شي او ښې اوږه لوڅه پرېښودل شي. او اضطباع د طواف په اوو چکرونو کې سنت دی. او په هر هغه طواف کې اضطباع سنت دی کوم چې د احرام په حالت کې کېدلی شي. او له دې وروسته دې د صفا مروه په مینځ کې سعیې وکړی شي

صورت د مسئلې دا دی چې طواف دې له حطیم څخه د باندې وکړی شي. نه دا چې حطیم ته دننه داخل شي. چنانچه که چېرته طواف کوونکی هغه پراخوالي ته داخل شي کوم چې د حطیم او بیت الله په مینځ کې دی نو طواف روا نه دی. لکه د اللباب په ج: ۱، ص: ۱۶۹ کې چې لیکل شوي دي

د قدوري صاحب ویلي دي چې په لومړنیو (اولنیو) دریو چکرونو کې دې په څغاسته سره ولاړ شي او په پاتې څلورو چکرونو کې دې په سکون او وقار سره ولاړ شي، د هر شوط او هر چکر په ختمیدو باندې د حجر اسود استلام سنت دی. او همدارنګه د هر طواف په ابتداء او انتهاء کې د حجر اسود استلام سنت دی

رمل: د اوږو په ښورولو سره له وړو وړو قدمونو سره په څغاسته یو څه تیز رفتار (تلل) لکه څرنګه چې د مقابلې په وخت کې پهلوان روان وي

حطیم: د بیت الله په شمال کې له بیت الله سره متصل د انسان په قد له دیوال څخه ژوره برخه ده، دا په حقیقت کې د بیت الله برخه ده. کله چې د مکې قریشو د رسول الله ﷺ د اوه دیرشو کلونو په عمر کې د اسلام له زمانې څخه مخکې د کعبې شریفې تعمیر کاوه نو د حلالو روپیو د کموالي له وجهې همدغه برخه پرېښودل شوه. حضرت عبد الله بن زبیر رضي الله عنه د منشاء نبوت مطابق دا په خانه کعبه کې شامل کړی وو. مګر حجاج بن یوسف هغه ختم کړ د زاړه تعمیر په شکل یې جوړ کړ، بیا حضرت عمر بن عبد العزیز د منشاء نبوت مطابق دوباره د تعمیر اراده کړې وه. مګر په دغه زمانه کې د اسلامي باداشاهت مفتي حضرت امام مالک رو هغه فتوی ورکړه چې اوس تر قیامته پورې ترمیم روا نه دی، که نه نو د هرې زمانې راتلونکی بادشاه به په خانه کعبه کې ترمیم کوي، نو خانه کعبه به د بادشاهانو لوبه جوړه شي، نو څکه دې په همدې حالت کې تر قیامته پورې باقي پاتې وي

له طواف چې فارغ شي له مقام ابراهیم سره یا په مسجد حرام کې چېرته چې میسر شي دوه رکعته لمونځ دې اداء کړي، دا زموږ په نزد واجب دي، مصنف رحمه الله ویلي دي مکې مکرمې ته په لومړني (ابتدائي) داخلیدو باندې چې کوم طواف دی هغه ته طواف قدوم ویل کېږي، له میقات څخه د باندې اوسیدونکي مفرد بالحج یا قارن حرم شریف ته د داخلیدو په وخت کې دې سمدستي یو طواف د نفل په ډول وکړي دېته طواف قدوم ویل کېږي، اهل مکه یا هغه څوک کوم چې تمتع یا عمره کوونکي وي د هغو لپاره دغه طواف سنت نه دی

مقام ابراهیم علیه السلام: دا د جنت هغه ډبره (کاڼی) دی په کوم باندې چې په درېدو سره حضرت ابراهیم علیه السلام د مکې مکرمې تعمیر کړی دی، همدغه ډبره نن ورځ هم په خپل حالت باندې باقي ده او په

هغې کې دوه قدمونه جوړ شوي دي کوم چې د حضرت ابراهیم علیه السلام د قدم نښان ده، کعبة الله دروازې ته مخامخ همدغه ډبره په شیشه کې ایښودل شوې ده. بیا همدغه شیشه د پیتلو او تانبې په جالۍ کې ایساره شوې ده، او له حالیو څخه په ښه ډول لیدل کیږي، د ترمذي په (ج ۱، ص ۱۷۷) کې دي چې دا د جنت یاقوتي ډبره ده، د دې رڼا (برقوالي) الله تعالی ختم کړ دنیا ته یې راولیږله، که چیرته د دې رڼا ختمه شوې نه وای نو مشرق او مغرب به د هغې په رڼا سره منور شوي وو انتهی، حضرت ابراهیم علیه السلام په همدغه ډبره باندې ولاړ او بیت الله شریف تعمیر یې کړی وو، او دغه ډبره خود بخود دې له ځان سره ووړ او د ضرورت په اندازه به پورته کیدله. په همدغه ډبره باندې ډیرې دعاګانې قبولې شوې دي، په قرآنکریم کې یې ډیر فضیلت راغلی دی

تشریح: **یستلم الحجر الخ**: د کتاب صاحب د حجر اسود له استلام پرته د بل شي د استلام ذکر نه ده کړی، ځکه چې د رکن عراقي او رکن شمالي استلام مسنون نه دی، البته د رکن یماني استلام مستحب دی لکه چې په ظاهر الروایة کې دي، صرف د امام محمد رحمه الله د قول مطابق مسنون دی، لکه چې هدایه بیان کړی دی.

ثُمَّ يَخْرُجُ إِلَى الصَّفَا فَيَصْعَدُ عَلَيْهِ وَيَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ	بیا دې ووځي د صفا غره طرفته او ودې خیږي په هغه باندې او مخامخ دې شي بیت الله ته
وَيُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ وَيُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	تکبیر او تهلیل دې ووایي او درود دې ووایي په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې
وَيَدْعُو اللهَ تَعَالَى لِحَاجَتِهِ ثُمَّ يَنْحَطُّ نَحْوَ الْمَرْوَةِ وَيَمْشِي عَلَى هِيْئَتِهِ	دعا دې وغواړي له الله څخه د خپل حاجت لپاره بیا دې راښکته شي د مروه طرفته او ځي دې په خپل هیئت سره
فَإِذَا بَلَغَ إِلَى بَطْنِ الْوَادِي سَعَى بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ سَعْيًا	کله چې ورسیږي ځیتې د کندې ته منډه دې کړي د شنو څلیو په مینځ کې ښه منډه
حَتَّى يَأْتِيَ الْمَرْوَةَ فَيَصْعَدُ عَلَيْهَا وَيَفْعَلُ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا	تردې چې راشي مروا ته بیا دې وخیږي په هغې باندې او ودې کړي ځنګه یې چې کړې وه په صفا باندې
وَهٰذَا شَوْطٌ فَيَطُوفُ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ يَبْتَدِئُ بِالصَّفَا وَيَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ	دا یو چکر دی بیا دې طواف وکړي اووه چکره شروع دې وکړي له صفا او ختم دې کړي په مروه
ثُمَّ يُقِيمُ بِمَكَّةَ حَرَامًا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَهُ	بیا دې پاتې شي په مکة کې د احرام په حالت کې طواف دې کوي د بیت الله هر وخت یې چې زړه وغواړي

د صفا او مروه په مینځ کې د سعیې بیان

د لغاتو حل صفا صفا او مروه له مسجد حرام سره دوه غرونه دي، د صفا او مروه دوه وجه تسمیه بیان شوي دي (اول) صفا د حضرت آدم صفی الله د ناستې ځای دی ځکه ورته صفا ویل کیږي، او مروه د حضرت حوا د ناستې ځای دی نو ځکه ورته د امرأه په نام مروه ویل کیږي (دویم) صفا د بوډا سړي او مروه د بوډۍ ښځې نوم وه کوم چې په بیت الله حرام کاري کړې وه او الله تعالی دوی کاڼي جوړ کړل او په دواړو غرونو یې د عبرت لپاره کینبودل، یصعد: ختل، ینحط کوزیدل، المیلین الاخضرین دوه شنه میناري دي کوم چې د مسجد حرام شاته په دیوال کې تراش شوي دي

تشریح یخرج الی الصفا: له طواف قدوم چې فارغ شي د طواف له لمانځه او دعا وروسته د زمزم اوبه دې وڅښل شي، له دې وروسته د حجر اسود استلام دې وکړی شي له مسجد حرام څخه دې ووځي، له دې وروسته دې د صفا غره په لمن کې ودریږي، د قبلې طرفته دې متوجه شي لاس دې پورته کړي له الله تعالی څخه دې دعا وغواړي، تکبیر او تهلیل دې ووایي سعیې دې شروع کړي، او کله چې هر ځلی ته ورسیږي نو منډې ته نږدې تیز دې ولاړ شي، کله چې مروه ته ورسیږي نو یو چکر مکمل (بشپړ) شو، بیا دې په همدې ډول له مروه څخه صفا ته راشي نو دویم چکر پوره شو، همدا رنګه اووه چکرونه مروه ته په تللو سره پوره کیږي، په اخیر کې دې د قبلې طرفته متوجه شي له الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ څخه دې مرادونه وغواړي، تکبیر او تهلیل دې ووایي

د صفا او مروه تر مینځ دوه شین رنګي ځلي (کمې) دي هغو ته میلین اخضرین ویل کیږي، کله چې سعیې کیږي ترې ستني (ځلي) ته چې ورسیږي نه تیز دې ولاړ شي او د تګ (رفتاري) سلسله له دویمې ستنې وروسته تر شپږو لاسونو پورې دې جاري وساتي. باقاعده منډه وهل نه دي پکار، بلکې منډې ته نږدې تیز تلل سنت دي

وهذا شوط: له صفا څخه مروه ته تلل یو شوط دی او له مروه څخه صفا ته تلل دویم شوط دی، همدا قول اصح دی. امام طحاوي همدا دواړه یو شوط شمار کړی دی خو صحیح نه دی، د صفا او مروه په مینځ کې سعیې واجب ده او که رکن؟ په دې کې د حنفیانو او ائمه ثلاثه وو اختلاف دی، د حنفیانو په نزد سعیې واجب ده او د ائمه ثلاثه وو په نزد رکن ده.

خَطَبَ الْإِمَامُ	وَإِذَا كَانَ قَبْلَ يَوْمِ التَّرْوِيَةِ بِيَوْمٍ
	کله چې له یوم ترویه څخه یوه ورځ مخکې وخت شو
نو خطبه دې ووایي امام	خُطْبَةً
وَالصَّلٰوةَ بِعَرَفَاتٍ / الْخُرُوجَ إِلَى مِنًى	يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهَا / یوه خطبه
او لمونځ د عرفات په میدان کې / وتل د منی طرفته	چې معلوم شي خلکو ته په دې کې

وَالْوُقُوفَ	وَالْإِفَاضَةَ
په عرفات کې پاتې کېدل	او له هغه ځای څخه روانېدل

د لغاتو حل: يوم التروية: اتم د ذی الحجه، عرفات: له مکې څخه د درې فرسخ په فاصله باندې دی

تشريح: په اووم د ذی الحجه د ماسپښين له لمانځه وروسته امام به يوه خطبه ووايي په کومه کې به چې هغه خلکو ته د حج افعال ور زده کړي، د بېلګې په توګه د منی طرفته تلل، د عرفات په ميدان کې د ماسپښين او ماز ديګر لمونځونو يو ځای اداء کول، په عرفات کې وقوف کول، او بيا له همدغه ځای څخه کوچ کول او د مزدلفې طرفته روانېدل

فَإِذَا صَلَّى الْفَجْرَ	يَوْمَ التَّرْوِيَةِ بِمَكَّةَ	خَرَجَ	إِلَى مِنًى وَأَقَامَ بِهَا
کله چې لمونځ وکړي د سهار	په اتم تاريخ په مکه کې	ودې ووځي	د منی طرفته او هلته دې پاتې شي
حَتَّى يُصَلِّيَ الْفَجْرَ	يَوْمَ عَرَفَةَ	ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى عَرَفَاتٍ فَيُقِيمُ بِهَا	
تردې چې لمونځ وکړي د سهار	په نهم د ذی الحجې	بيا دې مخه وکړي عرفات ته او هلته دې پاتې شي	
فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ	مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ	صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ	
بيا چې زائل شي لمر	په نهم د ذی الحجې	لمونځ دې ورکړي امام خلکو ته	
الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ	فَيَبْتَدِءُ بِالْخُطْبَةِ أَوَّلًا	فَيَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ	
د ماسپښين او ماز ديګر	شروع دې وکړي په خطبې سره اول	پس خطبې دې ولولي دوه خطبې	
قَبْلَ الصَّلَاةِ	يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهِمَا	الصَّلٰوةَ	وَالْوُقُوفَ بِعَرَفَةَ
مخکې له لمانځه	چې ور زده کړي خلکو ته په هغو کې	لمونځ	او وقوف عرفه
وَالْمُزْدَلِفَةَ	وَرَمْيَ الْجِمَارِ	وَالنَّحْرَ	وَالْحَلْقَ
او وقوف مزدلفه	د شګو ويشتل	قرباني کول	سر خريل
وَطَوَافَ الزِّيَارَةِ			
او طواف زيارت			
وَيُصَلِّيْ بِهِمُ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ	فِي وَقْتِ الظُّهْرِ	بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ	
او لمونځ دې ورکړي خلکو د ماسپښين او ماز ديګر	په وخت د ماسپښين کې	په يوه اذان او دوو اقامتونو سره	

د وقوف عرفه بيان

خلاصه: په اتم دې ذی الحجه له ماسپښين مخکې منی ته رسېدل، د ماسپښين، ماز ديګر، ماښام، ماسخوتن او د نهمې د سهار ټول د پنځو لمونځونو اداء کول او همدغه شپه په منی کې تېرول په نهم د لمر له راختو وروسته له منی څخه عرفات ته روانېدل سنت دي، او د دې خلاف کول مکروه دي

په نهم د ذی الحجه له منی څخه د عرفات لپاره د روانیدو سنت طریقه دا ده چې د لمر راختلو ته انتظار وکړی شي او کله چې د لمر رڼائي په غره باندې دپاسه ولیدل شي نو د عرفات لپاره دې روان شي، په سکون او وقار سره دې تلبیه، تکبیر، تهلیل، ذکر، دعاګانې او درود شریف وایي، د عرفات میدان ته له رسیدو وروسته د لمر له زوال مخکې وقوف عرفه نه صحیح کیږي، له زوال وروسته وقوف صحیح دی، په دې مینځ کې په دعاګانو کې مشغول اوسیدل، په رسول الله ﷺ باندې درود شریف ویل، ذکر او تلبیه ویل سنت دي، کله چې زوال وشي نو سمدستي د ماسپښین اذان کیږي او له اذان وروسته امام د جمعې خطبې په څیر (شان) له لمانځه څخه مخکې دوه خطبې ورکوي، او د اخرونو د خطبو په څیر له لومړنی خطبې وروسته په شروع کې نه ځلې تکبیر وایي او د دویمې خطبې په شروع کې اوه ځلې او بالکل په اخیر کې څوارلس ځلې تکبیر وایي، او د تشریق تکبیر وایي، امام خلکو ته په خطبه کې د حج افعال ور زده کوي

په عرفات کې د ماسپښین او مازدیګر لمنځونو حکم دا ده چې د مازدیګر لمونځ د ماسپښین وخت ته راوړل کیږي ماسپښین او مازدیګر دواړه د ماسپښین په وخت یو ځای اداء کیږي، او دیته جمع جمع تقدیم ویل کیږي، د امام صاحب رحمه الله په نزد جمع تقدیم له دریو شرطونو سره روا ده

(۱) امام یا د امام نائب به لمونځ ورکوي (۲) دواړه لمنځونه به د احرام په حالت کې کیږي (۳) د عرفې ورځ به وي، له همدغو دریو شرطونو څخه که چیرته یو هم ختم کړی شي نو جمع تقدیم نه روا کیږي، د دې بر خلاف د صاحبینو او ائمه ثلاثه ؒ په نزد د جمع تقدیم د صحیح کیدو لپاره صرف احرام کیدل شرط دي. صاحب درمختار همدغه مذهب راجح ګڼلی دی. لیکن علامه شامي ویلي دي چې دا د دلیل په اعتبار سره چیرته کیږي، په متونو او وغیره کې د امام صاحب مذهب راجح ګڼل شوی دی.

تشریح (باذان) اوس پوښتنه دا ده چې د همدغو دواړو لمنځونو په یو ځای کولو کې به د اذان او اقامت شکل څه وي؟ په دې سلسله کې درې مذهبونه دي

(۱) د امام ابوحنیفة رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد په عرفات کې د ماسپښین او مازدیګر په یو ځای کولو کې یو اذان او دوه اقامتونه سنت دي، همدا د امام احمد رحمه الله او امام مالک رحمه الله یو روایت دی

(۲) د حضرت امام احمد رحمه الله د مشهور قول مطابق د دواړو لمنځونو لپاره دوه اقامتونه لازمي دي، مګر اذان د یوه لپاره هم نشته

(۳) د حضرت امام مالک رحمه الله د مشهور قول مطابق په عرفات کې د دواړو لمنځونو لپاره جلا جلا دوه اذانونه او دوه اقامتونه لازمي دي، چې لومړی د ماسپښین په اذان او اقامت سره د ماسپښین لمونځ اداء کړل شي، له هغه وروسته د مازدیګر په اذان او تکبیر سره د مازدیګر لمونځ اداء کړل شي

وَحْدَهُ	فِي رَحْلِهِ	وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ
تنها	په خپل ځای کې	او چا چې لمونځ وکړ

فِي وَقْتِهَا	صَلَّى كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا	
په خپل وخت ک	هر یو له دوی څخه	نو ودې کړي

عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ	يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا
په نزد د امام ابوحنيفة	او صاحبينو ويلي دي	يو خای دې کړي دواړه
الْمُنْفَرِدُ	ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمَوْقِفِ	فَيَقِفُ بِقُرْبِ الْجَبَلِ
منفرد	بيا دې متوجه شي د موقف طرفته	پس ودې دريږي نږدې غره ته
وَعَرَفَاتٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ	إِلَّا بَطْنَ عُرَنَةَ	وَيَنْبَغِي لِلْإِمَامِ
او عرفات ټول موقف دی	پرته له بطن عرنه څخه	او مناسب دي د امام لپاره
أَنْ يَقِفَ بِعَرَفَةَ	عَلَى رَاحِلَتِهِ	وَيَدْعُو وَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْمَنَاسِكَ
چې وقوف وکړي په عرفه کې	په خپله سپرلۍ باندې	او دعا وغواړي او ورزده کړي خلکو ته مناسک
وَيُسْتَحَبُّ	أَنْ يَغْتَسِلَ قَبْلَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ	وَيَجْتَهِدُ فِي الدُّعَاءِ
او مستحب ده	چې غسل وکړي مخکې له وقوف عرفه	او کوشش وکړي په دعا کې

دلغاتوحل: **رحل**: کجاوه، **موقف**: د پاتې کيدو خای، **جبل**: له دې څخه جبل رحمت مراد دی، د کوم چې دويم نام جبل دعاء هم دی، **بطن عرنه**: يوه کوچنۍ کنده ده کومه چې د مغرب طرفته له جمره نمره سره متصل ده او د مکې مکرمې په طرف باندې ده ګوا که د عرفات مغربي سرحد دی، **راحله**: سپرلۍ، **المناسك**: د منسک جمع ده، د حج ارکان او افعال.

خلاصه: دلته يو څو مسئلې او يو څو خبرې بيان شوې دي:

اوله مسئله، که چېرته کوم حاجي د ماسپښين لمونځ په خپل ته خای کې تنها وکړي نو د امام صاحب په نزد دغه کس دې د مازديګر لمونځ د هغه په وخت کې اداء کړي، يعني د ماسپښين او مازديګر دې د ماسپښين په وخت کې نه جمع کوي.

دليل: په وخت کې دننه د لمانځه حفاظت ضروري دی مګر دا که د هغه خلاف شريعت وارد شوی وي او د شريعت وارېدل په هغه صورت کې دي کله چې له امام سره په جماعت سره لمونځ اداء کړی شي، لهذا منفرد ته د جمع بين الصلاتين اجازه نشته دی، خلاصه دا ده چې د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد د همدغې جمعې لپاره شرط دا ده چې د جماعت لمونځ به وي، همدارنګه د مسلمانانو د امام يا د هغه د نائب په اقتداء کې به وي.

د صاحبينو مذهب: دا ده چې منفرد دې هم دواړو لمنځونه يو خای وکړي، لکه څرنګه چې په جماعت سره د کوونکو حکم دی، دغه مذهب د ائمه ثلاثه ؤ دی.

دليل: د حاجي لپاره د جمع بين الصلاتين اجازه د دې لپاره ده ترڅو چې وقوف عرفه له زيات نه زيات وکړي، او په همدغه ضرورت کې منفرد او په جماعت لمونځ کوونکي دواړه برابر دي

ځواب: د مازديګر مخکې کول د جماعت د حفاظت پيش نظر دی، ځکه که ماسپښين وکړی شي خلک که چيرته د عرفات ميدان ته تيت پرک (منتشر) شي نو د مازديګر لپاره د هغو راټولول سخت دي، د همدغې سختۍ له وجهې د بل جماعت د فضيلت حاصلولو له وجهې مازديګر د هغه په وخت باندې مقدم کيږي د ماسپښين او مازديګر د جمع (يو ځاى) کولو حکم شوی دی، داسې ئې ده لکه صاحبينو چې ذکر کړي دي.

(**دوېمه مسئله**): د ماسپښين او مازديګر لمنځونو څخه له فارغ کيدو وروسته که چيرته ممکنه وه نو د جبل رحمت خواته دې ورشي او وقوف دې وکړي، او په داسې ځاى باندې د قيام کوشش دې وکړي له کوم ځاى څخه د قبلې طرفته په مخ کولو کې جبل رحمت مخته وي او خپل ښى طرف وي، او که چيرته داسې نه پيدا کيده نو په ټول عرفات کې هر ځاى چې وي وقوف کولى شي. مګر په بطن عرنه کې کومه چې يوه کوچنى شانته کنده (وادي) ده هلته دې وقوف نکوي، ځکه چې له دې څخه منع شوي.

(**دريمه مسئله**): د کتاب صاحب فرمايلي دي چې له وقوف عرفې مخکې غسل کول سنت دي، د وقوف په وخت کې د قبلې طرفته دې مخ کړي دواړه لاسونه دې د آسمان طرفته پورته کړي تکبير، تهليل، تسبيح، حمد ثناء او په رسول الله ﷺ باندې درود شريف، استغفار او تلبيه دې ولولي له قلبي حضور سره د ځان لپاره د والدينو لپاره. د رشته دارانو او دوستانو لپاره او د ټولو مؤمنينو او مؤمناتو لپاره دې په ژړا ژړا دعا وغواړي او په همداسې طريقه سره دې بيا بيا دعا وکړي.

په عرفات کې جمع بين الصلاتين شرطونه

تشريح: **وصلى كل واحد**: د حج په موقع جمع بين الصلاتين دوه ځلې مشروع دي، يو په عرفات کې جمع بين الظهر والعصر او دويم په مزدلفه کې جمع بين المغرب والعشاء، بيا د حنفيانو په نزد په عرفات کې جمع بين الصلاتين مسنون ده او په مزدلفه کې واجب، او د نورو حضراتو په نزد په مزدلفه کې هم مسنون ده واجب نده. د امام ابو حنيفه په نزد په عرفات کې د جمع تقديم شپږ شرطونه دي (اول) احرام حج (دويم) تقديم الظهر على العصر (دريم) وخت او زمانه. يعنې يوم عرفه او له زوال وروسته وخت (څلورم) مکان: يعنې وادي عرفات يا د هغه شاو خوا سيمه لکه مسجد نمره (پنځم) د دواړو لمنځونو په جماعت سره کول، لهذا که چيرته تنها لمونځ کوي نو جمع کول يې نه سهي کيږي (شپږم) د امام اعظم يا د هغه د نائب شتون، لهذا که چيرته د دواړو په نه شتون کې جمع بين الصلاتين وکړي نو جمع نه سهي کيږي. د صاحبينو او ائمه ثلاثه ؤ په نزد د شروع څلور شرطونه کافي دي، اخيرني دوه شرطونه ضروري ندي

وَالنَّاسُ مَعَهُ	أَفَاضَ الْإِمَامُ	فَإِذَا غَرَبَتْ الشَّمْسُ
او خلک له هغه سره	واپس دې شي امام	بيا کله چې ولويږي لمر

عَلٰى هَيْئَتِهِمْ	حَتّٰى يَأْتُوا الْمُزْدَلِفَةَ	فَيَنْزِلُوْنَ بِهَا
په خپل وقار سره	تر دې چې راشي مزدلفې ته	او هلته ورسيږي
وَالْمُسْتَحَبُّ	أَنْ يَنْزِلُوا بِقُرْبِ الْجَبَلِ الَّذِي	عَلَيْهِ الْمِقِيْدَةُ
او مستحب دا ده	چې کوز شي نږدې هغه غره ته	په کوم چې مقيده ده
يُقَالُ لَهُ قُزَحُ	وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ	الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ
ويل کيږي هغه ته قزح	لمونځ دې ورکړي امام خلکو ته	د ماښام او ماسخوتن
فِي وَقْتِ الْعِشَاءِ	بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ	وَمَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ
په وخت د ماسخوتن کې	په يوه اذان او يوه اقامت سره	او چا چې اداء کړ لمونځ د ماښام
فِي الطَّرِيقِ	لَمْ يَجُزْ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى
په لار کې	روا نه دی	د طرفينو په نزد
فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ	صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ	الْفَجْرَ بِغَلَسٍ
بيا کله چې راوخيږي فجر	لمونځ دې ورکړي امام خلکو ته	د سهار په تياره کې
ثُمَّ وَقَفَ الْإِمَامُ	وَوَقَفَ النَّاسُ مَعَهُ	فَدَعَا
بيا دې وقوف وکړي امام	او وقوف دې وکړي خلک له هغه سره	او دعا دې وکړي
وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ	إِلَّا بَطْنَ مُحَسِّرٍ	
او مزدلفه ټوله د وقوف کولو ځای دی	پرته له وادی محسر څخه	

د وقوف مزدلفه بيان

دلغاتوحل **افاض** : واپس کيدل، **المقيدة** : يو ځای دی چيرته چې د جاهليت په زمانه کې خلکو اور بلولو، **قزح** : بمعنی مرتفع څخه عدول دی د عليمت او عدل له امله غير منصرف دی، د لوړوالي له امله د هغه نام قزح اېښودل شوی دی، ميقده : په همدغه غره باندې وه، د جاهليت زمانې په شان د هارون رشيد په زمانه کې د مزدلفه په شپه کې شمع روښانه شوې وه او هارون رشيد غټ غټ چراغونه روښانه کړي وه، د ابو داؤد د روايت مطابق جبل قزح د انبياء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ موقف دی، په کوم چې د خپنو په قول آدم ناست وه، **غلس** : د اخيري شپې تاريکي، **محسر** : د منی او مزدلفه په مينځ کې يوه کنده ده چيرته چې اصحاب فيل د الهي عذاب له امله هلاک شوي وه نو ځکه ورته وادی محسر ويل کيږي، يعني د افسوس او حسرت کنده ورته ويل کيږي

خلاصه: د عرفات په ورځ د حاجیانو لپاره د لمر له لویدو مخکې د عرفات له حدودو څخه د باندې وتل روا نه دي، که چیرته یو څوک په اتفاقي ډول د عرفات له حدودو د باندې ووت نو بیرته ګرځیدل او عرفات ته داخلیدل واجب دي، په نهم د ذي الحجې د لمر له لویدو وروسته د ماښام لمانځه له کولو پرته امام او خلک دې له وقار څخه په ډک انداز را وګرځي د مزدلفې طرفته دې راشي، د حاجي لپاره په مزدلفه کې جبل قزح ته نږدې پاتې کیدل مستحب دي.

د عرفات په ورځ د حاجیانو د ماښام او ماسخوتن لمنځونو وخت مزدلفې ته له رسیدو وروسته دی، له همدې وجهې د عرفات یا مزدلفې په لار کې د ماښام لمانځه کول روا نه دي، اګر که د ماښام وخت وتونکی وي، او که چیرته یو څوک دا فکر وکړي د مزدلفې په لار کې د ماښام لمونځ وکړي چې وخت وتونکی دی نو هغه چې مزدلفې ته راشي د ماښام لمانځه راګرځول پرې واجب دي، همدارنګه که د ماسخوتن لمونځ وکړي نو په هغه باندې هم چې مزدلفې ته را ورسیږي د ماسخوتن راګرځول واجب دي. د امام ابویوسف رحمه الله په نزد لمونځ خو صحي کیږي، البته له سنتو څخه د مخالفت له وجهې ګنهګاریږي.

په مزدلفه کې د جمع تاخیر شرطونه

ویصلي الامام بالناس الخ: د حنفیانو په نزد په مزدلفه کې د جمع تاخیر پنځه شرطونه دي (اول) د حج احرام (دویم) د وقوف عرفات مقدم کول (دریم) مخصوص زمانه یعنې لیلة النحر (څلورم) مخصوص وخت یعنې ماسخوتن (پنځم) مخصوص مکان یعنې مزدلفه، په مزدلفه کې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد هم امام یا نائب امام او جماعت شرط ندی.

بأذان واقامة: پاتې شوه دا خبره چې څو اذانونه او څو اقامتونه لازمي دي؟ په دې باره کې درې مذهبونه دي.

(۱) د امام مالک رحمه الله په نزد د ماښام او ماسخوتن په یو ځای کولو کې دوه آذانونه او دوه اقامتونه لازمي دي، لومړی دې د ماښام په اذان او اقامت سره د ماښام لمونځ اداء کړی شي بیا دې له هغه وروسته د ماسخوتن په اذان او اقامت سره د ماسخوتن لمونځ اداء کړی شي.

(۲) د شیخینو په نزد صرف په یوه اذان او یوه اقامت سره دې دواړه لمنځونه اداء کړی شي، په دې ډول چې له یوه اذان او یوه اقامت وروسته دې د ماښام لمونځ اداء کړل شي بیا دې له هغه وروسته له اذان او اقامت پرته د ماسخوتن لمونځ اداء کړی شي.

(۳) امام احمد بن حنبل، د امام شافعي رحمه الله او امام زفر رحمه الله په نزد په یوه اذان او دوو اقامتونو سره دې دواړه لمنځونه اداء کړی شي، لومړی دې په یوه اذان او یوه اقامت سره د ماښام لمونځ اداء کړی شي، بیا دې له هغه وروسته په یوه اقامت سره د ماسخوتن لمونځ اداء کړی شي.

د امام مالک رحمه الله **دليل** : حضرت عمر رضي الله عنه په مزدلفه کې د ماښام او ماسخوتن هر يو په جلا جلا اذان او اقامت سره اداء کړي وو.

ځواب : حضرت عمر رضي الله عنه د ماښام لمونځ په اذان او اقامت سره اداء کړي وو، له دې وروسته خلک په خپل خوراک، څښاک او نورو ضرورتونو کې مصروف شوي وو، اوس د خلکو د را يو ځای کولو لپاره اذان کولو ته ضرورت وو او کله چې نوی اذان وکړی شي له هغه وروسته د اقامت کول هم پکار دي، او د خلکو د تيت پرک (منتشر) کيدو له وجهې دوباره د اذان او اقامت کولو مونږ هم قائل يو، ليکن هر کله چې د تيت پرک خلکو يو ځای کول مقصود نه وي نو صرف يو اذان او يو اقامت کافي کيږي.

د دريم مذهب دليل : د حضرت جابر رضي الله عنه روايت دی چې د حجة الوداع په موقع نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مزدلفه کې د ماښام او ماسخوتن لمنځونه په يوه اذان او يوه اقامت سره اداء کړي دي.

ځواب : د حضرت جابر رضي الله عنه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ماښام او ماسخوتن په مزدلفه کې په يوه اذان او يوه اقامت سره جمع کړي دي لهذا ستاسو دواړه روايتونه متعارض شول نو قابل استدلال نشول.

د دويم مذهب دليل : له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه منقول دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مزدلفه کې ماښام او ماسخوتن په يوه اذان او يوه اقامت سره يو ځای کړي دي، او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه هم همداسې عمل کړی وو.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه دغه روايت غير متعارض دی، لهذا دغه روايت قابل استدلال شو.

په لسم د ذی الحجې له صبح صادق وروسته په مزدلفه کې دې د سهار لمونځ وکړي او وقوف مزدلفه دې وکړي، د وقوف مزدلفې وخت په لسم د ذی الحجې د صبح صادق او طلوع شمس ترمينځ وخت دی، د سهار لمونځ چې وکړی شي تکبير، تهليل او تلبيه دې ولولي، په ژړا او زاری سره دې په وقوف کې له الله تعالی نه مرادونه وغواړي، دلته هم دعاګانې قبليږي.

د قدوري امام ويلي دي چې مزدلفه ټوله د وقوف کولو ځای دی مگر په وادی محسر کې دې وقوف نکول کيږي.

ثُمَّ أَفَاضَ الْإِمَامُ	وَالنَّاسُ مَعَهُ	قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ	حَتّٰى يَأْتُوا مِنًى
بيا دې واپس شي امام	او خلک له هغه سره	مخکې له ختلو د لمر	تردې چې راشي منی ته
فَيَبْتَدِءُ	بِجَمْرَةِ الْعَقَبَةِ	فَيَرْمِيهَا مِنْ بَطْنِ الْوَادِي	بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ
شروع دې وکړي	په جمرې عقبې	پس ودې وولي له بطن وادي څخه	په اوه شګو سره
مِثْلَ حَصَاةِ الْخَذْفِ	وَيُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ		وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا
په شان د شګو د کوديږي	تکبير دې وايي له هرې شګې سره		او نه دې دريږي له هغې سره

وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ مَعَ أَوَّلِ حَصَاةٍ	ثُمَّ يَذْبَحُ	إِنْ أَحَبَّ
او ختمه دې کړي تلبيه له لومړی شګې سره	بیا دې قرباني وکړي	که يې خوښتله

ثُمَّ يَحْلِقُ	أَوْ يُقَصِّرُ	وَالْحَلْقُ أَفْضَلُ	وَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ	إِلَّا النِّسَاءَ	
بیا دې سر وخريي	يا دې لنډ کړي	او خريل يې بهتر دي	اوس حلال دي د ده لپاره ټول شيان	پرته له ښځو	

د لغاتو حل: جمرة: کوچنی شګې، حصيات: د حصاة جمع شګې، حصاة الخذف: مراد دا ده چې شګې به وړې وي.

تشريح: فيبدأ بجمرة العقبة الخ: منی ته چې ورسيږي له ټولو مخکې د جمرې عقبې ويشتل دي، چنانچه د وادی له لاندې خځه دې اوه شګې ور وویشتل شي او د څلورو امامانو په نزد د جمرې عقبې رمی (ويشتل) د لمر له راختو وروسته بهتر او اولی دي. شګې به د ګوتو د بندونو په اندازه وي کومه چې د شهادت ګوتې له کنارې خځه شړل کيږي. له هرې شګې سره دې الله اکبر وايي، حاجي دې له جمرې عقبې سره نه دريږي، ځکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم هم نه وو دريدلی او د لومړی شګې ويشتلو په وخت کې دې تلبيه ختمه کړي.

که چيرته متمتع يا قارن (بيان يې وړاندې راتلونکی دی) دی نو له رمی وروسته دې قرباني وکړي او که چيرته متمتع يا قارن نه دی نو قرباني لازمه نه ده. په کومو خلکو باندې چې قرباني لازمه ده هغه دې له قرباني وروسته او په کومو چې لازمه نه ده هغه دې له رمی وروسته د خپل سر حلق يا قصر وکړي، او د سر وينستانو له صفا کولو وروسته د احرام پابندي ختميږي، بس له طواف زيارت مخکې صرف له ښځې سره همبستري کول منع پاتې کيږي

جمرات يا جمار: دا د منی هغه مشهورې درې ستنې (څلې) دي په کومو باندې چې شګې ويشتل کيږي، په دوی د حرم شريف طرفته بالکل په اخير کې چې کوم ستن (څلی) دی هغې ته جمره عقبه، جمرة الکبری، جمرة الاخری ويل کيږي، له دې وروسته چې کومې دويم نمبر ستنې دي هغو ته جمره وسطی ويل کيږي، له دې وروسته مسجد خيف سره نږدې چې کومه ستن ده هغې ته جمرة الاولی ويل کيږي

د رمی طريقه او د رمی کوونکي او جمرې په مينځ کې فاصله

شګې چې په هر قسم ونيول شي ويشتلی شي خو مستحب دا ده چې د ښي لاس د شهادت په ګوتې سره وويشتل شي همدا طريقه اصح او معتاده ليکل شوې ده، سړي ته پکار دي چې د شګې ويشتلو په وخت کې لاس دومره پورته کړي چې بغل يې وليدل شي، دا خيال دې ساتي چې معنی ښي طرفته وي او کعبه چپ طرفته او د هرې شګې ويشتلو په وخت کې دې الله اکبر وايي او د لومړی شګې په ويشتلو سره دې تلبيه ختمه کړي قطع نظر له دې چې مفرد بالحج دی قارن دی که متمتع دی، د جمرې او د شګو ويشتونکي په مينځ کې پنځه لاسه فاصله پکار ده او همدومره فاصله واجب ده.

ثُمَّ يَأْتِي مَكَّةَ	مِنْ يَوْمِهِ ذٰلِكَ	أَوْمِنَ الْغَدِ	أَوْمِنْ بَعْدِ الْغَدِ
بیا دې راشي مکې ته	په همدغه ورځ	یا سبا ورځ	یا بله ورځ
فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ	طَوَافَ الزِّيَارَةِ	سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ	
طواف دې وکړي د خانه کعبې	طواف زیارت	اوه چکره	
فَإِنْ كَانَ سَعٰى	بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ	عَقِيبَ طَوَافِ الْقُدُومِ	
که یې کړې وه سعیې	په مینځ د صفا او مروه کې	وروسته له طواف قدوم	
لَمْ يَرْمُلْ فِي هٰذَا الطَّوَافِ	وَلَاسَعْيَ عَلَيْهِ	وَإِنْ لَمْ يَكُنْ قَدَّمَ السَّعْيَ	
رمل دې نکوي په همدغه طواف کې	او نشته سعیې په ده باندې	او که یې مخکې سعیې نه وه کړې	
رَمَلَ فِي هٰذَا الطَّوَافِ	وَيَسْعٰى بَعْدَهُ	عَلٰى مَا قَدَّمْنَا	
نو رمل دې وکړي په همدغه طواف کې	او سعیې دې وکړي له دې وروسته	لکه چې مونږ مخکې بیان کړي	
وَقَدْ حَلَّ لَهُ النِّسَاءُ	وَهٰذَا الطَّوَافُ	هُوَ الْمَفْرُوضُ	فِي الْحَجِّ
اوس حلاله شوه د ده لپاره ښځه	اودغه طواف	فرض دی	په حج کې
وَيُكْرَهُ تَأْخِيرُهُ	عَنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ	فَإِنْ أَخَّرَهُ عَنْهَا	لَزِمَهُ دَمٌ
او مکروه دې وروسته کول یې	له همدې ورځو څخه	که یې وروسته کړ له همدې ورځو	لازمیږي ورباندې دم
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى	وَقَالَا	لَاشَيْءَ عَلَيْهِ	
په نزد د امام ابو حنیفة رَحِمَهُ اللّٰه	او صاحبینو ویلي	چې هیڅ شی نه ورباندې لازمیږي	

د طواف زیارت بیان

تشریح: په دې عبارت د طواف زیارت تعریف، د هغه د وختونو تعین، همدارنګه د طواف زیارت له خپلو ورځو څخه د وروسته کولو په صورت کې د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰه او صاحبینو اختلاف منقول دی.

ثم یاتی بمکة: په لسم د ذی الحجې په منی کې له رمی، حلق او ذبح وروسته که چیرته وخت وو نو حرم شریف ته دې ولاړ شي طواف زیارت دې هم وکړی شي، او که چیرته وخت نه وو نو په یوولسم یا دوولسم دې طواف زیارت وکړی شي، که چیرته د عرفات له ورځې مخکې د صفا او مروه ترمینځ سعیې شوې وه او له سعیې مخکې په طواف کې رمل هم شوی وو نو اوس په طواف زیارت کې دوباره رمل کولو ته ضرورت نشته، او په هغه باندې سعیې هم واجب نه ده، او که چیرته عرفات او منی ته له

روانيدو مخکې سعيې نه وي شوې نو له طواف وروسته دې د صفا او مروه ترمينځ سعيې هم وکړي او رمل او اضطباع دواړه سنت دي

په طواف زيارت کې رمل او اضطباع دواړه سنت دي

وهوالمفروض د قدوري امام ويلي دي چې طواف زيارت په حج کې دننه په هر حاجي باندې فرض دی او دغه طواف له وقوف عرفات وروسته کيدلی شي، او له لسم څخه تر دوولسم د ذی الحجې پورې د هغه د اداء کولو وخت باقي پاتې وي، امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې په دولسم د ذی الحجې له لمر له لويدو مخکې مخکې طواف زيارت کول واجب دي، له دې څخه وروسته کول يې مکروه تحريمي دي او موجب د دم دي، لهذا که چيرته دوولسم د ذی الحجې تير شي او طواف زيارت ونکړي شي بيا په وروسته کې طواف کوي نو د طواف فريضه خو اداء کيږي مګر د تاخير له وجهې په جرمانه کې يوه قرباني واجبيږي، فتوی په همدغه قول باندې ده د صاحبينو په نزد په هغه باندې هيڅ لازم نه دي

ثُمَّ يَعُوْدُ إِلَى مِنًى	فَيُقِيْمُ بِهَا	فَإِنْ زَالَتِ الشَّمْسُ	مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ
بيا دې راشي منی ته	هلته دې پاتې شي	بيا کله چې زائل شي لمر	په دويمه ورځ
مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ	رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ	يَبْتَدِئُ بِالَّتِيْ تَلِي الْمَسْجِدَ	
له ورځو د قرباني	رمی دې وکړي د دريو جمرو	شروع دې وکړي له هغې چې له مسجد سره متصل ده	
فَيَرْمِيْهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ	يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ	وَيَقِفُ عِنْدَهَا	
پس ودې وولي په اوه شګو سره	تکبير دې وايي له هرې شګې سره	ودې دريږي له هغې سره	
فَيَدْعُوْ	ثُمَّ يَرْمِي الَّتِيْ تَلِيْهَا	مِثْلَ ذٰلِكَ	وَيَقِفُ عِنْدَهَا
دعا دې وکړي	بيا دې وولي هغه چې ورسره نږدې ده	په همدې ډول	ودې دريږي له هغې سره
ثُمَّ يَرْمِيْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ	كَذٰلِكَ	وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا	
بيا دې وولي جمره عقبه	په همدې ډول	او نه دې دريږي له هغې سره	
فَإِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ	رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ	بَعْدَ الزَّوَالِ الشَّمْسِ	كَذٰلِكَ
کله چې سبا ورځ شي	ودې وولي درې جمرې	وروسته له زوال د لمر	همدارنګه

د دريو جمرو د رمی بيان

تشريح: له جمره اولی او وسطی سره د توقف حکم دی او له جمره عقبه سره د توقف حکم نشته، د دې توقف ضابطه دا ده چې له کومې رمی وروسته رمی وه په هغې کې توقف شته په دې کې د دعا او استغفار حکم دی، او له کومې رمی وروسته چې رمی نشته له هغې وروسته دې توقف نکوي، له

همدې امله په ايام نحر كې له جمره عقبه وروسته د توقف حكم نشته (هدايه) د رمى پورته ذكر شوى ترتيب مسنون دى واجب ندى.

وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَعَجَّلَ النَّفْرَ	نَفَرَ إِلَى مَكَّةَ	وَإِنْ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ	
او كه يې اراده وي په بيړه د كوچ كولو	كوچ دې وكړي د مكې طرفته	او كه يې اراده وه چې پاتې شي	
رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ	فِي الْيَوْمِ الرَّابِعِ بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ	كَذَلِكَ	
رمى دې وكړي د دريو جمرو	په څلورمه ورځ وروسته له زواله د لمر	همدارنګه	
فَإِنْ قَدَّمَ الرَّمْيَ	فِي هَذَا الْيَوْمِ	قَبْلَ الزَّوَالِ	بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ
كه يې مخكې كړه رمى	په همدې ورځ	مخكې له زوال	وروسته له ختلو د فجر
جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى	وَقَالَا لَا يَجُوزُ	وَيُكْرَهُ	
روا دي په نزد د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ	او ويلي دي صاحبينو روا نه دي	او مكروه دي	
أَنْ يُقَدِّمَ الْإِنْسَانُ ثَقَلَهُ	إِلَى مَكَّةَ	وَيُقِيمَ بِهَا	حَتَّى يَرْمِيَ
چې مخكې وليږي انسان سامان خپل	مكې ته	او پاتې شي هلته	تر دې چې رمى وكړي

دلغاتوحل: نفر: مصدر نفر من كذا كوچ كول، روانيدل، رجوع كول، نفر الحاج من منى د مكې طرفته كوچ كول، **ثقل**: د مسافر سامان جمع اثقال

تشريح: واذااراد: د كتاب صاحب ويلي دي كه چيرته په دوولسم د ذى الحجې د حاجي بيړه وه نو له رمى ورسوته په دوولسم تاريخ دې مكې مكرمې ته روان شي، او كه چيرته د پاتې كيدو اراده يې وه نو د ديارلسم د ذى الحجې رمى هم واجبيږي او له زوال څخه وروسته تر غروب پورې په دغه مينځ كې يې كول واجب دي، له زوال مخكې رمى نه روا كيږي، كه چيرته له زوال مخكې يې وكړي نو راګرځول يې لازم دي، دا د صاحبينو مذهب دى، د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد په ديارلسم تاريخ له زوال څخه مخكې د رمى كولو په صورت كې اعاده (راګرځول) نشته دي.

فان قدم الخ: د كتاب صاحب يوه مسئله بيان كړې ده هغه دا ده چې كه چيرته كوم حاجي څلورمه ورځ له طلوع فجر وروسته او لمر له زوال مخكې رمى جمار وكړه نو ايا دا روا دي او كه نه؟ په دې كې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ او صاحبينو اختلاف دى، د امام ابو حنيفه په نزد تقديم روا دى او د صاحبينو په نزد روا نه دى، همدا مذهب د امام شافعي او امام احمد هم دى (هدايه)

ويكره الخ: له منى څخه له روانيدو مخكې مكې ته د سامان ليږل مكروه دي، څكه چې زړه د حج له افعالو څخه غافل كيږي او د سامان په طرف مشغول كيږي.

فَإِذَا نَفَرَ إِلَى مَكَّةَ نَزَلَ بِالْمُحَصَّبِ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ

کله چې روان شي مکې ته نو محصب ته دې ښکته شي بیا دې طواف دې وکړي د بیت الله

سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ لَا يَرْمُلُ فِيهَا وَهٰذَا طَوَافُ الصَّدَرِ

اوه چکرونه رمل دې نکوي په هغو کې او دا طواف صدر دی

وَهُوَ وَاجِبٌ إِلَّا عَلَى أَهْلِ مَكَّةَ ثُمَّ يَعُودُ إِلَى أَهْلِهِ

او دا واجب دی مگر په اهل د مکې واجب نه دی بیا دې راستون شي خپل کور ته

فَإِنْ لَمْ يَدْخُلِ الْمُحْرِمُ مَكَّةَ وَتَوَجَّهَ إِلَى عَرَفَاتٍ وَوَقَفَ بِهَا

که داخل نشو محرم مکې ته او لاړ عرفات ته او قوف یې وکړ هلته

عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ سَقَطَ عَنْهُ طَوَافُ الْقُدُومِ

کوم چې مونږ مخکې بیان کړل نو ساقطیږي له هغه څخه طواف قدوم

وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ لِتَرْكِهِ وَمَنْ أَدْرَكَ الْوُقُوفَ بِعَرَفَةَ

او هیڅ نشته په ده باندې په ترک کولو سره او څوک چې پیدا کړي وقوف عرفه

مَا بَيْنَ زَوَالِ الشَّمْسِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ

په مینځ د زوال د لمر په ورځ د عرفې تر طلوع فجر پورې

مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ فَمَنِ اجْتَازَ بِعَرَفَةَ وَهُوَ نَائِمٌ

په ورځ د نحر پس پیدا یې کړ حج او له چا چې تیر شو عرفات او هغه ویده وو

أَوْ مُغْمًى عَلَيْهِ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ أَنَّهَا عَرَفَاتٌ أَجْزَأَهُ ذٰلِكَ

یا بې هوشي پرې راغلې وه یا نه پوهیده چې دا عرفات دی کافي کیږي هغه ته همدا

عَنِ الْوُقُوفِ وَالْمَرْأَةُ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ كَالرَّجُلِ غَيْرَ أَنَّهَا

له وقوف څخه او ښځه په دې ټولو کې د سړي په شان ده مگر دا چې ښځه به

لَا تَكْشِفُ رَأْسَهَا وَتَكْشِفُ وَجْهَهَا وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالتَّلْبِيَةِ

نه لوڅوي سر خپل او لوڅوي دې کړي مخ خپل او نه دې اوچتوي خپل آواز په تلبیه کې

وَلَا تَرْمُلُ فِي الطَّوَافِ وَلَا تَسْعَى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ

نه دې رمل کوي په طواف کې او نه دې منډې کوي د میلین اخضرین په مینځ کې

وَلَا تَحْلِقَ	وَلٰكِنْ تُقَصِّرَ
او نه دې سر خريي	بلکې لنډ دې کړي

د طواف صدر بيان او متفرقه مسائل

دلغاتو حل: المحصب: د مکې او منى په مينځ کې يو سنګريزه ځاى نام دى. دا ځاى په نسبت سره مکې ته منى ته نږدې دى، **الصدر**: واپس کيدل، **اجتاز**: له باب افتعال څخه ده اجتاز بالمکان تيريدل

تشريح: دلته په ټول عبارت کې څو مسئلې بيان شوې دي.

فاذانفرالخ: حاجي کله چې له منى څخه د مکې پر لور روان شي نو په خيف محصب کې کوزيدل سنت دي، محصب هغه ځاى دى چيرته چې ټول قريش سره راټول شول او قسم يې خوړلى وو عهد او پيمان يې کړى وو چې د رسالت له خاندان سره به مکمل بائيکاټ کيږي، رسول الله ﷺ د خپل حج په موقع په منى کې صحابه کرامو ته وويل چې موږ ټول خلک به په خيف محصب کې کوزيږو، چنانچه همدلته هغه ﷺ قصداً کوز شو او اوس همدلته کوزيدل سنت دي.

د قدوري امام ويلي دي چې په منى کې د حج د ټولو افعالو له اداء کولو وروسته دې طواف صدر وکړي، د طواف صدر مطلب دا ده چې له ميقات څخه د باندې راټولنکي کله چې خپل وطن ته بيرته واپس کيږي نو د روانيدو په وخت کې يو طواف کول په هر آفاقي باندې واجب دي. البته په حايضې او نفاسې باندې لازم نه دي، او همدغه طواف ته طواف وداع هم ويل کيږي.

فان لم يدخل الخ: محرم که چيرته مکې ته داخل نشو د عرفات ميدان ته ولاړ او د شريعت د بيان کړى شوې قاعده مطابق هلته يې وقوف هم وکړ نو د هغه له ذمې څخه طواف قدوم ساقط شو، ځکه چې طواف قدوم په ابتدائي حج کې په دې ډول مشروع دى چې د حج تمام افعال په هغه باندې مرتب وي، چنانچه له همدې طريقې پرته طواف قدوم نه سنت کيږي، او چونکه قدوم سنت لهذا په ترک د سنتو سره دم نه لازميږي.

ومن ادرك الخ: د جمهورو او ائمه ثلاثه و په نزد د ۹ تاريخ د لمر له زوال نيولې د ۱۰ ذى الحجې تر صبح صادق پورې د وقوف عرفې وخت دى، چنانچه که چيرته حاجي له زوال وروسته نيولې د ۱۰ ذى الحجې تر صبح صادق پورې کوم وخت هم وقوف وکړ نو د هغه حج اداء شو.

د امام مالک رحمه الله په نزد د ۹ تاريخ له صبح صادق يا له طلوع آفتاب وروسته څخه شروع کيږي که حاجي ويده وو، يا د بې هوشي په حالت کې عرفات د عرفات په ورخ تير شو يا هغه ته معلومه نه وه چې دا عرفات دى، په همدغو دريو صورتونو کې وقوف عرفه اداء شو، ځکه چې د حج رکن وقوف دى او هغه شوى دى.

والمرأة في جميع ذلك الخ د قدوري صاحب وېلي دي چې ښځه د حج په ټولو افعالو کې د سړي په څېر ده، لیکن په څو احکامو کې جلا ده، د دغو تفصیل مصنف رحمه الله له دي ځای څخه بیان کړی چې ښځه د احرام په حالت کې ګنډل شوې جامې اغوستی شي، او زیورات، موزې، دستانې اچولی شي، او د سر پټول په ښځه باندې واجب دي، تلبیه ویل لازمي دي، مګر په زوره یې ویل ورته منع دي، او رمل کول هم منع دي، همدارنګه په سعیې کې به هم منډه نه وهي، او ښځه به حلق هم نکوي، بلکې د وېښتانو قصر به کوي، او حلق د هغې په حق کې مکروه تحریمي دی، ځکه چې دا یو ډول مثله ده.

بَابُ الْقِرَانِ

د قران بیان

د کتاب صاحب تر همدې ځایه مفرد بالحج او د هغه تفصیلات بیان کړل اوس د قران متعلق احکام بیانوي: قران له اقتران څخه ماخوذ دی (اقترن الشئ بالشئ) د یوه شي له بل شي سره یو ځای کول، د قرن معنی ده یو ځای کول او جمع کول، ویل شوي دي (قرن البعیرین) ما دوه اوښان په یوه رسی باندې تړلي دي، او د شرع په اصطلاح کې ویل کیږي په یوه احرام کې د حج او عمرې یو ځای کول، دا چې د احنافو په نزد حج قران بهتر دی نو ځکه له حج تمتع څخه مخکې بیان کړی شو، او له حج افراد ځکه وروسته کړی شو چې هغه په منزله د مفرد ده او قران په منزله د مرکب ده او مفرد په مرکب باندې مقدم وي.

د حج اقسام د حج ټول دری قسمونه دي

حج افراد، حج قران او حج تمتع، د حج افراد بیان تیر شو، په دې باب کې د حج قران د احکامو بیان کیږي د حج قران مطلب دا ده چې له میقات څخه د حج او عمرې دواړو لپاره یو ځای احرام وتړل شي، او مکة المکرمة ته چې ورسیږي د عمرې د ارکانو له اداء کولو وروسته احرام خلاص نکړی شي، یا له میقات څخه صرف د عمرې لپاره احرام وتړل شي او مکې مکرمې ته له رسیدو مخکې په لار کې یا مکې مکرمې ته له رسیدو وروسته له طواف او عمرې مخکې د حج احرام وتړل شي او بیا د عمرې د ارکانو له اداء کولو وروسته احرام خلاص نکړی شي او نه سر وخریل شي، بلکې د همدغه احرام په حالت کې په مکة المکرمة کې قیام وکړي، بیا په لسم د ذی الحجې له رمی وروسته یوه قرباني وکړي، بیا حلق وکړي احرام خلاص کړي. او په حج قران کوونکي باندې چې کومه قرباني واجب شوې ده هغې ته دم شکر ویل کیږي او په قارن باندې دوه سعیې او دوه طوافونه لازمي دي، او که کوم جنایت وشي نو دوه جرمانې واجبیږي

الْقِرَانُ أَفْضَلُ عِنْدَنَا	مِنَ التَّمَتُّعِ وَالْإِفْرَادِ	وَصِفَةُ الْقِرَانِ
قران زمونږ په نزد بهتر دی	له تمتع او افراد څخه	او د قران طریقه دا ده

أَنْ يُهِلَّ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ مَعًا	مِنَ الْمِيقَاتِ	وَيَقُولُ عَقِيبَ الصَّلَاةِ
چې احرام وتړي د عمرې او حج يو ځای	له ميقات څخه	او ووايي وروسته له لمانځه
اَللّٰهُمَّ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ	فَيَسِّرْهُمَا لِي	وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّي
اې الله زه اراده لرم د حج او د عمرې	اسانه کړې دواړه زما لپاره	او قبول يې کړې زما له لوري
فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ	اِبْتَدَأَ بِالطَّوَافِ	فَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ
بيا چې داخل شي مکې ته	شروع دې وکړي په طواف	پس طواف دې وکړي د بيت الله اوه چکرونه
يَرْمُلُ فِي الثَّلَاثِ الْأُوَلِ مِنْهَا	وَيَمْشِي فِي مَا بَقِيَ	وَسَعَى بَعْدَهَا
رمل دې وکړي په دريو لومړنيو کې	او ولاړ دې شي په پاتې کې	او سعيې دې وکړي له دې وروسته
بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ	وَهٰذِهِ أَفْعَالُ الْعُمْرَةِ	
په مينځ د صفا او مروه کې	او دا د عمرې افعال دي	

د حج قران مفصل بيان

تشريح: د محرم بالحج درې قسمونه دي (اول) مفرد بالحج (دويم) قارن (دريم) متمتع، د دې په بهترۍ کې اختلاف دی، په حج افراد، حج قران او حج تمتع له دريواړو څخه هر يو د ټول امت په نزد له کراهيت پرته روا دی، مګر اختلاف په دې باره کې دی چې په دريواړو کې کوم يو حج بهتر او اولی دی، په دې باره کې درې مذهبونه دي:

(۱) د امام مالک رحمه الله په نزد د حج په دريواړو قسمونو کې له ټولو بهتر هغه حج افراد دی، له هغه وروسته حج تمتع دی بيا له هغه وروسته حج قران دی، همداسې له امام شافعي رحمه الله څخه منقول دي.

(۲) د امام احمد رحمه الله په نزد د حج په دريواړو قسمونو کې افضل حج تمتع دی، له هغه وروسته حج افراد له هغه وروسته حج قران دی.

(۳) د حنفيانو په نزد له ټولو افضل حج قران دی، له دې وروسته حج تمتع او له هغه وروسته حج افراد دی

د امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله دليل: له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه منقول دي (ان النبي صلى الله عليه وسلم أهلّ بالحج مفردا)، رسول الله صلى الله عليه وسلم حج افراد کړی دی، نو ځکه حج افراد بهتر دی.

له دغه حديث څخه معلومه شوې ده چې

خواب: د دغه حديث مطلب دا نه دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم تنها حج افراد کړی له هغه سره يې عمره نه ده کړې، بلکې مطلب دا دی چې د حج افعال يې مستقل اداء کړي، دويم خواب: د حج لپاره يې مستقل احرام تړلی په اصل کې قارن وو

د امام احمد رحمه الله **دلیل**: (تمتع رسول الله صلی الله علیه وسلم فی حجة الوداع بالعمرة الی الحج) له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حج تمتع کړی دی، لهذا همدا افضل شو.

ځواب: د تمتع لفظ عام دی کوم چې قران ته هم شامل دی، له همدې وجهې دلته له تمتع څخه مراد قران اخیستل شوی، دویم دا چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه دغه روایت نقل کړی دی له هغه څخه د قران هم روایت دی، دریم دا چې له تمتع څخه مراد تمتع لغوي دی، او مطلب دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له عمرې سره حج یو ځای کړ دواړه یې په یوه سفر کې اداء کړل، د هر یوه لپاره یې جلا جلا سفر نه دی کړی

د حنفیانو دلیل: حضرت عمر رضي الله عنه ویلي دي چې ما په وادی عتیق کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل په شپه کې زما طرفته زما د پروردګار له جانبه یو راتلونکی راغی او هغه وویل چې په دغه مبارکه وادی (کنده) کې دوه رکعته لمونځ اداء کړه، او له حج سره عمره هم وکړه.

تشریح: ویبتدأ بالطواف: یعني قارن به مکې مکرمې ته له داخلیدو وروسته له ټولو اول (طواف قدوم نکوي) د عمرې افعال به شروع کړي، لهذا لومړی به د عمرې طواف وکړي د کوم په دریو چکرونو کې به چې رمل وکړي له دې وروسته به د صفا او مروه په مابین کې سعیې وکړي، که چیرته یو چا لومړی د حج په نیت طواف وکړ نو هغه د عمرې کیږي او نیت لغو شو، ځکه چې په قران کې همدا ترتیب دی، الهي ارشاد دی (فمن تمتع بالعمرة الی الحج) په دې آیت کې عمره ابتداء او حج انتهاء بلل شوي دي، لهذا د عمرې مقدم کول پکار دي ترڅو چې انتهاء په حج باندې راشي.

ثُمَّ یَطُوفُ	بَعْدَ السَّعْيِ	طَوَافَ الْقُدُومِ	وَیَسْعَی بَیْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ
بیا دې طواف وکړي	وروسته له سعیې	طواف قدوم	او سعیې دې وکړي د صفا او مروه ترمینځ
لِلْحَجِّ	کَمَا بَیَّنَّاهُ فِي حَقِّ الْمُفْرِدِ	فَإِذَا رَمَی جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ	یَوْمَ النَّحْرِ
د حج لپاره	لکه چې مونږ بیان کړي د مفرد په حق کې	کله یې وویشتله جمره عقبه	د نحر په ورځ
ذَبَحَ شَاةً	أَوْ بَقَرَةً	أَوْ بَدَنَةً	أَوْ سُبُعَ بَدَنَةٍ
ذبحه دې کړي پسه	یا اوښ	یا غوا	یا د اوښ اومه برخه
أَوْ سُبُعَ بَقَرَةٍ	فَهٰذَا دَمُ الْقِرَانِ		
یا د غوا اومه برخه	او دا دم د قران دې		
فَإِنْ لَمْ یَکُنْ لَهُ مَا یَذْبَحُ	صَامَ		
او که نه وو له هغه سره کوم څه چې ذبحه یې کړي	نو روژې دې ونیسي		
ثَلَاثَةَ أَیَّامٍ	فِي الْحَجِّ	آخِرُهَا یَوْمُ عَرَفَةَ	
درې ورځې	په حج کې	چې اخیرنۍ ورځ به یې د عرفې ورځ وي	

فَإِنْ فَاتَهُ الصَّوْمُ	حَتَّى يَدْخُلَ يَوْمُ النَّحْرِ	لَمْ يُجْزِهِ	إِلَّا الدَّمُ
او که تېرې قضاء شوه روژه	تردې چې راغله د قرباني ورځ	نو نه ورته کافي کېږي	مګر وينه
ثُمَّ يَصُومُ سَبْعَةَ أَيَّامٍ	إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ	فَإِنْ صَامَهَا	بِمَكَّةَ
بيا دې روژې ونيسي اوه ورځې	کله چې راستون شي کور ته	که يې روژې ونيولې	په مکه کې
بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الْحَجِّ	جَازَ	فَإِنْ لَمْ يَدْخُلِ الْقَارِنُ بِمَكَّةَ	
وروسته له فارغ کېدو له حج څخه	روا دي	او که داخل نشو قارن مکې مکرمې ته	
وَتَوَجَّهَ إِلَى عَرَفَاتٍ	فَقَدْ صَارَ رَافِضًا لِعُمْرَتِهِ	بِالْوُقُوفِ	
او ولاړ عرفات ته	نو شو پرېښېدونکی د خپلې عمرې	د وقوف له وجهې	
وَسَقَطَ عَنْهُ دَمُ الْقِرَانِ	وَعَلَيْهِ دَمٌ	لِرَفْضِ الْعُمْرَةِ	وَعَلَيْهِ قَضَاؤُهَا
او ساقط شوې له ده څخه دم د قران	او په ده باندې وينه ده	د عمرې پرېښودو له وجهې	او په ده يې قضاء شته

دلغاتوحل: **بدنة**: د لغت او شرع له مخې په اوښ او غوا باندې اطلاق شوی دی، **سبع**: اوه برخه، **رافضا**: د اسم فاعل صيغه ده صفت پرېښېدونکی جمع رافضون رفضة ورفاض باب (ن ض) څخه راغلی دی.

تشريح: **ثم يطوف الخ**: د کتاب صاحب له وهذه افعال العمرة څخه وروسته پرته له کوم فصل ثم يطوف ذکر کړی دا خبره يې ښودلې ده چې د عمرې له افعالو وروسته دې د حج افعال ترسره کړی شي. لهذا د هدايه صاحب ويلي دي چې د حج او د عمرې د افعالو په مينځ کې (حلق يا قصر) نشته بلکې څرنګه چې مفرد بالحج د نحر په ورځ حلق کوي همدارنګه قارن هم، او له همدې عبارت دا هم معلومه شوه چې په حج قران کې د عمرې او حج دواړو افعال جلا جلا اداء کيدی شي. د احنافو مسلک همدا دی.

ذبح شاة الخ: قارن چې کله په لسم د ذی الحجې جمره عقبه وولي نو يوه قرباني دې وکړي، چونکه ده ته په يوه سفر کې د حج او عمرې دواړو موقع پيدا شوه له همدې وجهې په شکرانه کې يوه قرباني کول په هغه باندې واجب دي، او په قرباني کې دا اختيار دی که غواړي يو پسه يا بزه ذبحه کړي، يا بشپړه غوا يا اوښ ذبحه کړي، يا د اوښ اوومه برخه ونيسي، بيا حلق وکړي احرام خلاص کړي، او په حج قران کوونکي باندې چې کومه قرباني واجب شوې ده هغې ته دم شکر ويل کيږي.

فأن فاته الخ: قارن که چيرته په قرباني کولو قادر نه وو نو په هغه باندې لس روژې واجبيږي، په دې طريقه چې درې روژې به د ذی الحجې له لسم نه مخکې د حج په زمانه کې نيسي او اووه روژې کله چې واپس بيرته خپل کور ته راشي، بهتره او مستحبه دا ده چې درې روژې ۷ - ۸ - ۹ د ذی الحجې ونيسي، که چيرته قارن درې روژې د ذی الحجې له لسم مخکې ونه نيولې تردې چې د ذی الحجې

لسمه نيټه راغله نو اوس دم ورکول واجب شول، د قدوري امام ويلي دي چې که چيرته قارن له حج څخه له فراغت وروسته په مکه کې اووه روژې ونيوې نو هم روا دي، مګر شرط دا ده چې د ايام تشريق له تيريدا وروسته يې ونيسي، ځکه چې په ايام تشريق کې روژه نيول منعه دي.

فان لم يدخل القارن الخ قارن د عمرې ارکانو ادا، کولو پر ځای سيده عرفات ته ولاړ نو هغه د وقوف عرفه له وجهې د عمرې پريښودونکی شو او له هغه څخه دم قران هم ساقط شوې. ځکه چې د دواړو عبادتونو د يو ځای کولو توفيق يې پيدا نکړ نو دم شکر هم واجب نشوې. ليکن په هغه باندې د عمرې قضاء واجب شوه، او د عمرې پريښودو له وجهې يو دم واجبې شوې، دم خو له دې وجهې واجبې شوې چې هغه د عمرې له کولو وروسته هغه پرې ايښې ده او قضاء له دې وجهې واجب شوه چې د عمرې شروع کول صحي دي او مسئله دا ده چې نفل له شروع کولو وروسته که چيرته هغه ترک کړی شي نو د هغه قضاء واجبيږي

بَابُ التَّمَتُّعِ

د تمتع بيان

د تمتع لغوي معنی ده فايده حاصلول، د شرع په اصطلاح کې د يوه حج په سفر کې د عمرې او حج دواړو يو ځای کول په دې طريقه باندې چې لومړی د عمرې احرام وتړي د هغې د افعالو له اداء کولو رووسته احرام خلاص کړي، بيا د حج په ورځو کې د حج احرام وتړي د هغه افعال اداء کړي، واضحه دې وي چې د حنفيانو په نزد تمتع له افراد بالحج څخه بهتر دی

اَلتَّمَتُّعُ أَفْضَلُ مِنَ الْإِفْرَادِ	عِنْدَنَا	وَالْمُتَمَتِّعُ عَلَى وَجْهَيْنِ
تمتع بهتر دی له افراد څخه	زموږ په نزد	او متمتع په دوه قسمه دی
مُتَمَتِّعٌ يَسُوقُ الْهَدْيَ	وَمُتَمَتِّعٌ لَا يَسُوقُ الْهَدْيَ	وَصِفَةُ الْمُتَمَتِّعِ
يو متمتع هغه دی چې بيايي هدی	او بل هغه دی چې نه بيايي هدی	او کيفيت د متمتع دا ده
أَنْ يَبْتَدِءَ مِنَ الْمِيقَاتِ	فَيُحْرِمَ بِعُمْرَةٍ	وَيَدْخُلَ مَكَّةَ وَيَطُوفَ لَهَا
چې شروع وکړي له ميقات څخه	پس احرام دې وتړي د عمرې	داخل دې شي مکې ته او طواف دې وکړي د عمرې
وَيَسْعَى	وَيَحْلِقَ أَوْ يُقَصِّرَ	وَقَدْ حَلَّ مِنْ عُمْرَتِهِ
سعيې دې وکړي	حلق يا قصر دې وکړي	پس حلال شو له عمرې څخه
وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ	إِذَا ابْتَدَأَ بِالطَّوَافِ	وَيُقِيمُ بِمَكَّةَ حَلَالًا
او ختمه دې کړي تلبيه	کله چې طواف شروع کړي	او پاتې دې شي په مکه کې حلال

د حج تمتع مفصل بيان

تشريح په دې عبارت کې څو خبرې شوې دي (اول) د احنافو په نزد حج تمتع له حج افراد څخه بهتر دی، ځکه چې په دې مشقت هم زيات دی او د دوه عبادتونو حج او عمرې نيت او اداء کول دي (دويم) د تمتع کيفيت په تمتع کې طواف صرف د عمرې لپاره دی، طواف قدوم او طواف صدر نشته (فتح القدير) په دې کې حلق يا قصر لازم ندي بلکې اولی دي، د امام مالکه په نزد په عمره کې صرف طواف سعې ده حلق بالکل نشته، د حنفيانو په نزد د طواف په شروع کولو سره دې تلبيه ويل بند کړي، د امام مالک په نزد د بيت الله په ليدلو سره دې تلبيه ويل بند کړي

فَإِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَفَعَلَ

بيا چې د ذي الحجې اتمه نيټه شي احرام دې وتړي د حج له مسجد حرام څخه او ودې کړي

مَا يَفْعَلُهُ الْحَاجُّ الْمُفْرِدُ وَعَلَيْهِ دَمُ التَّمَتُّعِ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ صَامَ

هغه کوم چې مفرد بالحج کوي په ده باندې دم تمتع دی که د قرباني لپاره څناور پيدا نکړي روژې دې ونيسي

ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ وَإِنْ أَرَادَ الْمُتَمَتِّعُ

درې ورځې په حج کې او اووه کله چې واپس شي کور ته او که اراده وکړي متمتع

أَنْ يَسُوقَ الْهَدْيَ أَحْرَمَ وَسَاقَ هَدْيَهُ فَإِنْ كَانَتْ بَدَنَةً قَلَّدَهَا

بوزي قرباني احرام دې وتړي او خپله هدي دې بوځي بيا که اوښ وو نو ور وادې اچوي په غاړه کې

بِمَزَادَةٍ أَوْ نَعْلٍ وَأَشْعَرَ الْبَدَنَةَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى

زړه څرمن يا پيزار او اشعار دې کړي اوښ د صاحبينو په نزد رحمهما الله تعالی

وَهُوَ أَنْ يَشُقَّ سَنَامَهَا مِنَ الْجَانِبِ الْأَيْمَنِ وَلَا يُشْعِرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى

او هغه دا چې جلا دې کړي د اوښ کو له ښي طرف څخه او اشعار دې نکوي په نزد د امام ابوحنيفة

فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ طَافَ وَسَعَى وَلَمْ يَتَحَلَّلْ حَتَّى يُحْرِمَ بِالْحَجِّ

بيا چې داخل شي مکې ته طواف او سعيې دې وکړي او نه حلاليږي تردې چې احرام وتړي د حج

يَوْمَ التَّرْوِيَةِ فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ قَبْلَهُ جَازَ وَعَلَيْهِ دَمُ التَّمَتُّعِ

د ترويه په ورځ که يې مخکې کړ احرام نو هم روا دی او په هغه باندې دم تمتع لازم دي

فَإِذَا حَلَقَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَدْ حَلَّ مِنَ الْإِحْرَامَيْنِ

بيا کله چې هغه حلق وکړ د قرباني په ورځ پس حلاليږي له دواړو احرامونو څخه

بدنه: دلته د اوښ په معنې کې دی. **دلغاتوحل** **یسوق**: (ن) سیاق الماشیه د څناور د شا له طرفه بیول، **مزادة**: د څرمنې توته، **الاشعار**: لغةً د نښې لګول، د شرع په اصطلاح کې د ناقه په کوکې یو څه زخم کول ترڅو چې د قرباني کیدو نښه وي او له نورو ناقو څخه ممتازه وي (تنظیم الاشتات).

تشریح: د حج تمتع مطلب داده چې له میقات څخه دې صرف د عمرې احرام وتړي، او چې مکې مکرمې ته ورسیږي د عمرې ارکان دې ادا کړي احرام دې خلاص کړي، له دې وروسته د مکې مکرمې د اوسیدونکو په څیر دې له احرام پرته قیام وکړي، بیا په تم د ذی الحجې سهار مهال د حرم په حدودو کې چیرته چې د ده خپل قیام دی له همغه ځای څخه دې د حج احرام وتړي منی ته دې روان شي، او مستحبه دا ده چې مسجد حرام ته راشي طواف وکړي او له دوګانه طواف وروسته دوه رکعته نفل وکړي احرام وتړي، بیا په لسم د ذی الحجې د جمرې عقبې له ویشتلو وروسته د تمتع قرباني وکړی شي، له دې وروسته حلق وکړي احرام خلاص کړي. او په تمتع کوونکي باندې چې کومه قرباني واجب شوې هغې ته دم شکر ویل کیږي، او په هغه باندې د عمرې لپاره یوه سعیې او یو طواف جلا او د حج لپاره هم یوه سعیې او یو طواف جلا لازم شوي دي

په ماقبل کې د قدوري امام ویلي دي چې په حج تمتع کوونکي باندې د تمتع قرباني واجب ده، که چیرته متمتع د هدی څناور په ترلاسه کولو باندې قادر نشي نو د قارن په څیر (شان) د حج په زمانه کې دې دری روژې ونیسي او اووه روژې دې چې له حج فارغ شي ونیسي، زیات تفصیل په حج قران کې تیر شوی دی

وان اراد المتمتع الخ: له همدې ځای څخه د متمتع د لومړي (اول) قسم (کوم چې له ځان سره هدی بیول غواړي) د هغه بیان دی او د متمتع همدا صورت بهتر دی. مسئله دا ده که چیرته متمتع هدی بیول غواړي نو د عمرې احرام دې وتړي او د خپلې هدی څناور دې له شا څخه بیایي، اوس که چیرته د هدی څناور اوښ یا غویی وو نو د هغو په غاړه کې دې د څرمنې د ټوټو یا د پیزار د ټوټو پټه ځوړند کړي، تقلید بالاتفاق سنت دی، او د قلادة له اچولو څخه مقصود دا ده چې خلک پوه شي چې دا هدی دحرم دی. د دې دستور د جاهلیت له زمانې څخه را روان دی، څکه چې په عربو کې د قتل (وژنې) او لوټمارۍ بازار ګرم شوی وو، لیکن د کوم څناور په باره کې به چې دا معلومه شوه چې دا هدی حرم دی هغه غلو هم نه لوټ کوله.

د اشعار حکم او د جمهورو ائمه ؤ قول: د اشعار لغوي معنی ده نښه جوړول او اصطلاحي معنی یې دا ده چې د اوښ په ښي طرف باندې نشتر یا وغیره ولګوي او د هغه په وینو سره کو رونګول شي ترڅو چې لیدونکو ته معلومه شي چې دا هدی ده او د ورکیدو په صورت کې وپیژندل شي

جمهور علماء ائمه ثلاثه او صاحبین د اشعار په سنتیت باندې قائل دي، حضرت امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ د دې قائل نه دی، امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ نه اصل اشعار ته مکروه ویلي دي او نه یې د هغه له سنتیت څخه انکار کړی دی، چونکه د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په زمانه کې خلکو په اشعار کې ډیره زیاته مبالغه کوله او په اشعار کې یې له پوستکي سره سره غوښه هم پرېکوله او ژور زخم به یې جوړاوه، د کوم له امله به چې څناورانو ته ناقابل برداشت تکلیف وو او د همدغه څناور د مړ کیدو ویره به وه، که نه نو له نفس اشعار څخه مقصود د ده منع نه وه، بلکې په اشعار کې له مبالغې څخه منع وه، د امام طحاوي خبره راجح ده.

متمتع کوم چې هدی (قرباني) له ځان سره بیایي کله چې مکې ته داخل شو نو هغه دې د عمرې لپاره طواف او سعیې وکړي، او د عمرې د ارکانو له اداء کولو وروسته په اتم د ذی الحجې دې د حج احرام وتړي لکه مکي چې په اتم د ذی الحجې احرام تړلی دی، که چیرته متمتع له اتم د ذی الحجې مخکې احرام تړلی وو نو هم روا ده بلکې افضل دی، د کتاب صاحب ویلي دي چې په حج تمتع کوونکي باندې قرباني واجب ده، متمتع چې کله په لسم د ذی الحجې کې سر وخریلو یا یې قصر وکړ نو هغه د حج او عمرې دواړو احرامونو څخه حلال شو

وَلَيْسَ لِأَهْلِ مَكَّةَ	تَمَتُّعٌ وَلَا قِرَانٌ	وَإِنَّمَا لَهُمُ الْإِفْرَادُ خَاصَّةً	
او نشته دی د اهل مکې لپاره	حج تمتع او نه قران	بلکې د دوی لپاره حج افراد دی خاص	
وَإِذَا عَادَ الْمُتَمَتِّعُ إِلَى بَلَدِهِ	بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الْعُمْرَةِ	وَلَمْ يَكُنْ	
که راغی متمتع خپل وطن ته	وروسته له فارغیدو له عمرې څخه	او نه وه	
سَاقَ الْهَدْيَ	بَطَلَ تَمَتُّعُهُ	وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ	قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ
بیولی د هدی	باطل شو تمتع د هغه	او څوک چې احرام وتړي د عمرې	مخکې د حج له میاشتو
فَطَافَ لَهَا	أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْوَاطٍ	ثُمَّ دَخَلَتْ أَشْهُرُ الْحَجِّ	
طواف یې وکړ د هغې لپاره	کم له څلورو چکرونو	بیا داخلې شوې د حج میاشتې	
فَتَمَّمَهَا	وَأَحْرَمَ بِالْحَجِّ	كَانَ مُتَمَتِّعًا	فَإِنْ طَافَ لِعُمْرَتِهِ
او بوره یې کړه هغه	او احرام یې وتړلو د حج	دی متمتع کیږي	او که یې طواف وکړ د عمرې لپاره
قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ	أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ	فَصَاعِدًا	ثُمَّ حَجَّ مِنْ عَامِهِ ذٰلِكَ
مخکې د حج له میاشتو	څلور چکرونه	یا زیات	بیا یې حج وکړ د همدې کال
لَمْ يَكُنْ مُتَمَتِّعًا	وَأَشْهُرُ الْحَجِّ شَوَّالٌ	وَذُو الْقَعْدَةِ	وَعَشْرٌ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ
نکیږي دی متمتع	او د حج میاشتې شوال	ذی قعده	او لس د ذی الحجې دي

فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ بِالْحَجِّ عَلَيْهَا	جَازَ إِحْرَامُهُ	وَانْعَقَدَ حَجُّهُ
پس که مقدم کړ کوم کس احرام په دې میاشتو	روا دی احرام د هغه	او منعقد شو حج د هغه

د حج تمتع متفرق احکام

تشریح: په دې بشپړ عبارت کې څو مسئلې بیان شوې دي:

اوله مسئله: د اهل مکې او په میقات کې د اوسیدونکو لپاره د احنافو په نزد نه حج تمتع شته او نه قران شته، بلکې د هغوی لپاره فقط حج افراد دی، د همدې باوجود که چیرته یې حج تمتع یا قران وکړ نو روا کیږي خو مګر ګنهګار دی.

واذا عاد المتمتع الخ: آفاقي (کوم چې له میقات نه له باندې څخه د حج یا عمرې لپاره حرم شریف ته راغی بیا یې په همدغه کال حج وکړ نو) خپل وطن ته بیرته ورسته د عمرې د افعالو له اداء کولو خي د عمرې د افعالو له اداء کولو وروسته خپل وطن ته بیرته راغی بیا یې په همدغه کال حج وکړ نو دغه کس متمتع دی او که نه دی؟ د دې دوه صورتونه دي (۱) همدغه کس له خپل ځان سره د هدی (قرباني) څناور بیولی وو (۲) د هدی (قرباني) څناور یې له ځان سره نه بیولی، په دویم صورت کې بالاتفاق د احنافو په نزد د هغه تمتع باطلیږي، په لومړني صورت کې د شیخینو په نزد د هغه تمتع نه باطلیږي او د امام محمد رحمه الله په نزد باطلیږي.

د امام محمد رحمه الله دلیل: دغه کس حج او عمره په دوو سفرونو کې اداء کړي دي، حالانکه متمتع دواړه په یوه سفر کې اداء کوي، نو ځکه متمتع نشو.

د شیخینو دلیل: ترڅو پورې چې دغه کس د تمتع په نیت باندې دی په هغه باندې له وطن څخه راګرځیدل مکې مکرمې ته راتلل لازمي دي، ځکه چې د هدی بیول د هغه لپاره له حلال کیدو څخه مانع دي.

ومن احرام...... لم یکن متمتعا: که چیرته کوم کس د حج له میاشتو څخه مخکې (وړاندې) د عمرې احرام وتړلو او څلور چکرونه د طواف یې د حج په میاشتو کې وکړل او درې یې له دې څخه مخکې کړي وو نو دغه کس متمتع کیږي، ځکه چې زیات چکرونه د حج په میاشتو کې شوي دي، او د اکثر لپاره حکم د کل دی، له همدې وجهې ویل کیدلی شي چې ګوا که د عمرې پوره طواف د حج په میاشتو کې شوي لهذا متمتع کیږي، او که برعکس وي نو نه متمتع کیږي، ځکه چې هغه د حج له میاشتو مخکې اکثر اداء کړي دي، او اکثر لره چونکه حکم د کل دی، ګوا که ده پوره طواف د حج له میاشتو مخکې کړی دی.

واشهر الحج: د کتاب صاحب کومې د حج میاشتې چې بیان کړې دي دا د طرفینو قول دی، د حضرت امام ابو یوسف رحمه الله په نزد لسم تاریخ په اشهر حج کې داخل ندی.

فان قدم الاحرام الخ : اشهر حج (د حج مياشتې) د شوال مياشت، ذيقعده او د ذي الحجې اولنۍ عشرې ته ويل کيږي، او دا د حج مياشتې دي، که چيرته کوم کس د حج احرام له شوال مخکې وتړلو نو زمونږ په نزد دغه احرام روا دی او دغه احرام د حج لپاره منعقد کيږي

وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ	عِنْدَ الْإِحْرَامِ اغْتَسَلَتْ	وَأَحْرَمَتْ
او کله چې حايضه شي ښځه	د احرام په وخت کې غسل دې وکړي	او احرام دې وتړي
وَصَنَعَتْ كَمَا يَصْنَعُ الْحَاجُّ	غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَطُوفُ بِالْبَيْتِ	حَتّٰى تَطْهُرَ
ودې کړي څرنګه چې کوي حاجيان	مګر دا چې طواف دې نکوي د بيت الله	تر دې پورې چې پاکه شي
وَإِذَا حَاضَتْ	بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ	وَبَعْدَ طَوَافِ الزِّيَارَةِ
او که حايضه شي	وروسته له وقوف عرفه	او وروسته له طواف زيارت
انْصَرَفَتْ مِنْ مَكَّةَ	وَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا	لِتَرْكِ طَوَافِ الصَّدَرِ
واپس دې شي له مکې څخه	او هيڅ نشته په هغې باندې	د طواف صدر پريښودو له وجهې

خلاصه : که چيرته له فرضي طواف مخکې ښځې ته ماهواري شروع شي نو څه دې وکړي؟ چنانچه فرمايلي دي چې د ماهوارې په حالت کې احرام تړل، وقوف عرفات، وقوف مزدلفه، د منی په ميدان رمي جمار، د صفا او مروه سعيې او وغيره ټول امور روا دي، ليکن طواف کول روا نه دي، لهذا که چيرته له طواف څخه مخکې ماهواري شروع شي نو له حاجيانو سره دې ټول کارونه وکړي او طواف دې نکوي، بلکې د ماهوارې ختميدو ته دې انتظار وکړي، او کله چې ماهواري ختمه شي نو طواف دې وکړي، او د ښځو لپاره د ماهوارې عذر له وجهې په ايام نحر کې طواف کول لازمي نه دي، بلکې کله هم چې پاکه شي هغه وخت لازم دي، او د طواف زيارت له کولو پرته حج نکيږي، که چيرته ښځه د روانيدو عذر له وجهې د حيض يا د نفاس په حالت کې طواف زيارت وکړي نو د طواف فريضه خو د هغې له ذمه څخه ساقطيږي، مګر ورسره ورسره په جرمانه کې د يوه اوښ، يا غويي يا د ميښې قرباني هم واجبيږي، او د قرباني کول د حرم په حدودو کې لازميږي، البته د حج په موسم کې يې کول نه لازميږي، بلکې په هره زمانه کې يې کولی شي

تشريح : **اغتسلت** : د حايضې ښځې دا غسل د نظافت لپاره د احرام له امله دی نه د لمانځه لپاره (نهايه).

حتى تطهر : د بيت الله طواف تر هغه وخته ممکن دی ترڅو چې دخول مسجد نه وي او د همدې ماهوارې په حالت مسجد ته داخليدل ممنوع دي، نو ځکه حايضې ښځې ته له پاکيدو مخکې مخکې بيت الله ته داخليدل او له هغې طواف کول حرام دي.

بَابُ الْجِنَايَاتِ

د جنايتونو بيان

د كتاب صاحب د محرمينو له اقسامو او د هغوی له احكامو له بيانولو وروسته د جنايتونو، احصار فوات وغيره له امله د هغو عوارضو بيان كړی دی كوم چې محرمينو ته د احرام په حالت كې مخته راشي، جنايات بكسر الجيم: د جنايه جمع ده هر داسې فعل ته ويل كيږي كوم چې شرعاً حرام وي برابره ده كه د هغه تعلق له مال سره وي كه له ځان سره وي، په دې باب كې په ځانګړي ډول هغه د محرم هغه فعل مراد دی د كوم ځخه چې د ځان ساتلو هغه ته حكم شوی دی، بيا كه چيرته محرم د هغه ارتكاب كړی دی نو په ځينو صورتونو كې د څاروي ذبحه كول واجب دي او په ځينو صورتونو كې صدقه وركول واجب دي، په دغه باب كې د هغو شيانو بيان شوی دی له كومو ځخه چې د احرام په حالت كې ځان ساتل لازمي دي. د جنايتونو انواع او اقسام ډير زيات دي ځكه يې د جمع صيغه غوره كړې ده.

إِذَا تَطَيَّبَ الْمُحْرِمُ فَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ فَإِنْ طَيَّبَ عُضْوًا كَامِلًا فَمَا زَادَ

كه خوشبو ولګوي محرم په هغه باندې كفاره ده بيا كه خوشبو ولګوي په پوره اندام يا په زيات

فَعَلَيْهِ دَمٌ وَإِنْ تَطَيَّبَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَإِنْ لَبِسَ ثَوْبًا

په هغه باندې وينه ده او كه خوشبو ولګوي كم له اندام ځخه په هغه صدقه ده او كه واغوندي جامه

مَخِيطًا أَوْ غَطّٰى رَأْسَهُ يَوْمًا كَامِلًا فَعَلَيْهِ دَمٌ وَإِنْ كَانَ

ګنډل شوې يا يې پټ وساته سر خپل يوه ورځ پوره په هغه باندې وينه ده او كه وه

أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَإِنْ حَلَقَ رُبْعَ رَأْسِهِ فَصَاعِدًا

كم له دې ځخه نو په هغه صدقه ده كه يې وخريلو ځلورمه برخه سر خپل يا زيات

فَعَلَيْهِ دَمٌ وَإِنْ حَلَقَ أَقَلَّ مِنَ الرُّبْعِ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ

په هغه باندې دم دی او كه يې وخريلو كم له ځلورمې برخې نو په هغه باندې صدقه ده

وَإِنْ حَلَقَ مَوْضِعَ الْمَحَاجِمِ مِنَ الرَّقَبَةِ فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

او كه يې وخريلو د ښكر لګولو په اوږه باندې په هغه باندې وينه ده په نزد د امام ابوحنيفة

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ صَدَقَةٌ

او ويلي دي صاحبينو چې صدقه ده.

هغه جنایتونه په کومو کې چې صرف صدقه یا پسه واجب دی

تشریح د کتاب صاحب په ابتداء کې په مطلق خوشبو باندي د کفاره ذکر کړی دی. لکه بنفشه، چمبیلي، ریحان، ګلاب او د نورو عطرونو د کامل اندام مثال سر پندی او له دوی سره مشابه، د احرام په حالت کې په خوشبو لګولو کې د سرې او ښځې حکم برابر دی، که قصداً لګول شوي وي یا قصداً نه وي لګول شوي یا چا په زوره پرې لګولې وي، په هر صورت کې جرمانه لازمیږي، همدارنګه په بدن او جامو دواړو باندي یې لګول منع دي، لهذا که چیرته په کوم لوی اندام باندي لکه سر، مخ، پنډلی، ورون، بازو، لاس یا ورغوي کې په کوم باندي خوشبو لګول شوي وي یا له یوه څخه په زیاتو اندامونو باندي خوشبو لګول شوې وي نو په جرمانه کې یو پسه واجبیږي، برابره ده که توله ورځ لګول شوې وي او که د لږ وخت لپاره لګول شوې وي، او که چیرته په کوچني اندام لکه پوزه، غوږ، سترګه، ګوتې او غیره کې لګول شوې وي نو یوه صدقه فطر لازمیږي.

وان لبس په دغه عبارت کې دوه مسئلې بیان شوې دي.

(۱) د احرام په حالت کې د سړي لپاره داسې ګنډل شوې جامې اغوستل منع او ناروا دي کومې چې د بدن د اندازې مطابق ګنډل شوې وي یا جوړې شوې وي، لکه کرته، پرتوګ، کورتی (کوټ) واسکټ او وغیره، که چیرته یوه ورځ یا یوه شپه مکمل سړي ګنډل شوې جامې واغوستې یا یې څو ورځې مسلسل واغوستې نو په دواړو صورتونو کې دم لازمیږي، او که چیرته په شپه کې په دې نیت وباسل کیږي چې صبا یې بیا اغوستل دي بیا هم د ټولو ورځو په عوض کې یو دم لازمیږي، او که چیرته په دې نیت وباسل شي چې اوس یې نه اغوندم مګر په دویمه ورځ یې بیا واغوستې نو دوه دم لازمیږي.

(۲) د احرام په حالت کې د سر پټول ښځې ته له کراهیت پرته روا دي بلکې لازم دي، او د سړي لپاره د سر پټول روا نه دي، لهذا که یوه ورځ یا یوه شپه کامل سر پټ کړی شي نو وینه (دم) ورکول لازمیږي، له یوې ورځې او یوې شپې څخه په کم کې صدقه لازمه ده، برابره ده که د لږ وخت لپاره ولې نه وي، که قصداً یې پټ کړی وي که په هیره سره یې پټ کړی وي په هر صورت کې جرمانه لازمه ده، همدارنګه که چا په زوره پټ کړی وي بیا هم جرمانه لازمیږي.

وان حلق ربع رأسه الخ که چیرته ټول یا څلورمه یا له دې څخه زیات د سر وینښتان وخریي یا یې پرې (غوڅ) کړي نو په جرمانه کې دم ورکول لازم دي، او که چیرته له څلورمې څخه کم وي نو په جرمانه کې صدقه ورکول واجبیږي، همدا حکم د ږیرې په باره کې هم دی، که چیرته په یوه وخت کې سر، ږیره، تخرګونه، له نامه نه لاندې او وغیره ټول ویښتان صفا کړي وي نو د ټولو په عوض کې یو دم واجبیږي، که چیرته یې په مختلفو وختونو کې صفا کړي وي نو د هر یوه وخت لپاره جلا جلا دم واجبیږي، که چیرته محرم بشپړه ملا وخریله نو په هغه باندې د جنایت دم واجب دي، څکه چې ملا (اوږه) داسې اندام دی کوم چې قصداً خریل شوی، دا د امام رَحِمَهُ اللّٰه مذهب دی، د صاحبینو په نزد په هغه باندې صدقه لازمه ده.

وَإِنْ قَصَّ أَظَافِيرَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ　فَعَلَيْهِ دَمٌ　وَإِنْ قَصَّ يَدًا

که يې غوځ کړل نوکان د لاسونو او د پښو　په هغه باندې وينه ده　او که يې غوځ کړل د يوه لاس

أَوْ رِجْلًا　فَعَلَيْهِ دَمٌ　وَإِنْ قَصَّ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَظَافِيرَ　فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ

يا د يوې پښې　په هغه باندې وينه ده　او که يې غوځ کړل کم له پنځو نوکانو　په هغه باندې صدقه ده

وَإِنْ قَصَّ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَظَافِيرَ　مُتَفَرِّقَةٍ　مِنْ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ

او که يې پرې کړل کم له پنځو نوکانو　په متفرق ډول　له دواړو لاسونو او پښو څخه

فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ　عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللَّهُ　وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى

په هغه باندې صدقه ده　د شيخينو په نزد　او ويلي دي امام محمد رحمه الله

عَلَيْهِ الدَّمُ　وَإِنْ تَطَيَّبَ　أَوْ حَلَقَ　أَوْ لَبِسَ مِنْ عُذْرٍ　فَهُوَ مُخَيَّرٌ

په هغه وينه ده　او که خوشبو ولګوي　يا حلق وکړي　يا واغوندي د عذر له امله　نو دی اختيارمند دی

إِنْ شَاءَ ذَبَحَ شَاةً　وَإِنْ شَاءَ تَصَدَّقَ عَلَى سِتَّةِ مَسَاكِينَ　بِثَلَاثَةِ أَصْوُعٍ

که وغواړي ذبحه دې کړي پسه　او که وغواړي صدقه دې وکړي په شپږو مسکينانو　درې صاعه

مِنَ الطَّعَامِ　وَإِنْ شَاءَ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ　فَإِنْ قَبَّلَ　أَوْ لَمَسَ

له غنمو　او که وغواړي روژې دې ونيسي درې ورځې　که يې مچو کړه ښځه　يا يې ومښله

بِشَهْوَةٍ　فَعَلَيْهِ دَمٌ　أَنْزَلَ　أَوْ لَمْ يُنْزِلْ

په شهوت سره　په هغه باندې وينه ده　که انزال وشي　او که انزال ونشي

دلغاتوحل: **قص**: (ن) قصا غوڅول (پريکول) تراش کول، **اظافير**: د ظفر جمع ده نوکان، **اصوع**: د صاع جمع ده يو ډول پيمانه کومه چې د اتيا روپۍ په سير سره درې نيم سيره سره مساوي ده (مصباح) **قبل**: تقبيلا مچو اخيستل، **لمس**: (ن ض) لمسا مښل.

تشريح وان نقص....فعليه دم چونکه د دې تعلق له يوه مجلس سره دی او که چيرته په څو مجلسونو کې هداسې وکړی شي نو د امام محمد رحمه الله په نزد هغه وخت هم همدا حکم دی، د يوه لاس يا يوې پښې يا د لاس او پښو د څلورو اندامونو نوکان په يوه وخت په يوه ځای پرې کړی شول نو د ټولو په عوض کې يوه وينه واجبيږي، او که چيرته د څلورو اندامونو نوکان په څلورو وختونو او څلورو ځايونو کې پرې کړی شول نو څلور وينې لازميږي، همدارنګه که چيرته په يوه وخت کې د يوه اندام پرې کړی شوي وي او د بل اندام په بل وخت کې پرې کړی شوي وي نو دوه وينې لازميږي، او د هر اندام که ټول

نوکان نه وي پرې شوي بلکې د هر یوه اندام له پنځو څخه کم پرې شوي وي برابره ده که څلور څلور شپاړس نوکان پرې شوي وي نو دم نه لازمیږي، بلکې د هر یوه نوک په عوض کې یوه صدقه لازمیږي

ان شاء تصدق: که چیرته محرم د کوم عذر له وجهې خوشبو استعمال کړه، یا یې حلق وکړ، یا یې ګنډل شوي جامې واغوستې نو د دغو دریو خبرو اختیار دی، که غواړي نو یو پسه دې ذبحه کړي، یا دې په شپږو مسکینانو باندې درې صاعه غنم صدقه کړي، او یا دې درې روژې ونیسي، د روژو په سلسله کې اختیار دی چیرته یې چې وغواړي ودې نیسي، همدارنګه که پیوسته یې نیسي او که جلا جلا یې نیسي، صدقه د حرم په مسکینانو باندې مستحب ده، او د پسه ذبحه کول بالاتفاق له حرم سره مخصوص دي، له حرم پرته (علاوه) په بل کې ځای روا نه دي

وان قبل اولمس بشهوة الخ: که چیرته د احرام په حالت کې سړی له خپلې ښځې مچو او غیرتیونه کوي نو په دا سې صورت کې که انزال وشي او که ونشي په دواړو صورتونو کې په جرمانه کې د یوه پسه یا بزې قرباني واجبیږي، همدارنګه که چیرته ښځې ته شهوت ورشي نو په هغې باندې هم یوه جلا قرباني واجبیږي

وَمَنْ جَامَعَ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ	قَبْلَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ	فَسَدَ حَجُّهُ	
او چا چې جماع وکړه په قُبل یا دبر کې	مخکې له وقوف عرفې	د هغه حج فاسد شو	
وَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَيَمْضِي فِي الْحَجِّ كَمَا يَمْضِي مَنْ لَمْ يُفْسِدْ حَجَّهُ		
او په هغه باندې پسه دی	او کوي دې د حج افعال د هغه په شان د کوم چې حج فاسد شوی نه وي		
وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ	وَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُفَارِقَ امْرَأَتَهُ	إِذَا حَجَّ بِهَا	
په هغه باندې قضاء ده	او نشته په هغه باندې چې جلا کړي خپله ښځه	کله چې حج کوي له هغې سره	
فِي الْقَضَاءِ عِنْدَنَا	وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ	لَمْ يَفْسُدْ حَجُّهُ	
په قضائي راوړلو کې زمونږ په نزد	او چا چې جماع وکړه وروسته له وقوف په عرفه	نه فاسدیږي حج یې	
وَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ	وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْحَلْقِ	فَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَمَنْ جَامَعَ
او په هغه بدنه ده	او که یې جماع وکړه وروسته له حلق	په هغه پسه دی	او چا چې جماع وکړه
فِي الْعُمْرَةِ	قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ	أَفْسَدَهَا	وَمَضَى فِيهَا
په عمره کې	مخکې له دې چې طواف وکړي څلورو چکرونه	نو فاسده شوه	پس د عمرې افعال دې وکړ
وَقَضَاهَا	وَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَإِنْ وَطِئَ بَعْدَ مَا طَافَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ	
او قضائي دې راوړي	او په هغه پسه دی	او که یې وطی وکړه وروسته د طواف له څلورو چک	

فَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَلَا تَفْسُدُ عُمْرَتُهُ	وَلَا يَلْزَمُهُ قَضَاؤُهَا	وَمَنْ جَامَعَ
په هغه پسه دی	او نه فاسدیږي عمره يې	او لازمه نده قضائي راوړل په هغه	او چا چې جماع وکړه
نَاسِيًا	كَمَنْ جَامَعَ عَامِدًا فِي الْحُكْمِ		
په هېره	نو د هغه چا په شان دی څوک چې قصداً جماع وکړي په حکم کې		

تشريح په دې عبارت کې څو مسئلې بيان شوي دي: که چيرته محرم له وقوف عرفې مخکې د ښځې په قُبل کې يا په دبر کې جماع وکړه نو د سري او ښځې دواړو حج فاسد شو او په هر يوه باندې د پسه قرباني واجب ده، په اوښ او غويي کې يوه يوه برخه واجب ده، او د حج افعال دې په هغه ډول پوره کړي څرنګه يې چې هغه کس اداء کوي د چا چې حج فاسد شوی نه وي. البته راتلونکی کال دې د هغه قضائي راوړي، له دې وروسته د قدوري صاحب ويلي دي چې د جماع له وجهې د فاسد کړی شوي حج چې کله قضائي راوړي نو په سړي او ښځې باندې جلا اوسېدل زموږ په نزد واجب نه دي. يعنې دا ضروري نه ده چې دواړه دوه لارې غوره کړي، صاحب جوهره فرمايلي دي چې امام زفر رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې کله دواړه احرام وتړي نو جلا دې شي. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې له کور څخه د وتلو په وخت کې دې دواړه جلا شي. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې تير کال يې په کوم خای کې جماع کړې وه کله چې هغه ته نږدې ورشي نو جلا دې شي

که چيرته کوم کس د سر له خريلو وروسته له ښځې سره کوروالی وکړ نو د پسه قرباني واجب ده، ځکه چې احرام صرف د ښځو په حق کې باقي دی، البته جنايت سپک دی نو پسه کافي کيږي.

په هيره جماع کول احرام هماغسې فاسد کوي لکه څرنګه يې چې قصداً جماع کول فاسدوي، ځکه چې د حج په حالت کې په ياد کيدو والا دی، د هغه لپاره ښکاره نښې هم دي او هغه د تيت پرک ويښتانو والا کيدل، له کور څخه ليرې کيدل. لهذا د ده نسيان لره هيڅ اعتبار نشته

وَمَنْ طَافَ	طَوَافَ الْقُدُومِ	مُحْدِثًا	فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ
او چا چې طواف وکړ	طواف قدوم	بې اودسه	په هغه باندې صدقه ده
وَإِنْ كَانَ جُنُبًا	فَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَإِنْ طَافَ	طَوَافَ الزِّيَارَةِ مُحْدِثًا
او که جنب وو	په هغه باندې پسه دی	او که يې طواف وکړ	طواف زيارت بې اودسه
فَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَإِنْ كَانَ جُنُبًا	فَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ	وَالْأَفْضَلُ أَنْ يُعِيدَ الطَّوَافَ
په هغه پسه دی	او که جنب وو	په هغه باندې اوښ دی	او بهتره دا ده چې راوګرځوي طواف
مَادَامَ بِمَكَّةَ	وَلَا ذَبْحَ عَلَيْهِ	وَمَنْ طَافَ	طَوَافَ الصَّدَرِ مُحْدِثًا
ترڅو چې وي په مکه کې	او نشته ذبحه په هغه	او څوک چې طواف وکړي	طواف صدر بې اودسه

فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ	وَإِنْ كَانَ جُنُبًا	فَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَإِنْ تَرَكَ	طَوَافَ الزِّيَارَةِ
په هغه صدقه ده	او كه جنب وو	په هغه پسه دی	او كه پرېښودل شي	د طواف زيارت
ثَلَاثَةَ أَشْوَاطٍ	فَمَا دُونَهَا	فَعَلَيْهِ شَاةٌ	وَإِنْ تَرَكَ	أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ
درې چكرونه	يا كم له دې	په هغه پسه دی	او كه پرېښودل شي	څلور چكرونه
بَقِيَ مُحْرِمًا أَبَدًا	حَتّٰى يَطُوفَهَا	وَمَنْ تَرَكَ	ثَلَاثَةَ أَشْوَاطٍ	
نو پاتې كيږي محرم هميشه	تردې چې طواف يې وكړي	او چا چې پرېښودل	درې چكرونه	
مِنْ طَوَافِ الصَّدْرِ	فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ	وَإِنْ تَرَكَ	طَوَافَ الصَّدْرِ	
د طواف صدر	په هغه صدقه ده	او كه يې پرېښود	طواف صدر	
أَوْ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ مِنْهُ	فَعَلَيْهِ شَاةٌ			
يا څلور چكرونه د هغه	نو په هغه باندې پسه دی			

هغه جنايتونه كوم چې د صدقه او د پسه د وجوب باعث دي

تشريح: د كتاب صاحب په دې عبارت كې څو مسئلې بيان كړې دي:

اوله مسئله: كه چيرته بې اودسه طواف زيارت وكړى شي نو د طواف اعاده (راګرځول) لازم دي، كه چيرته اعاده يې ونكړى شي نو په جرمانه كې يو دم واجبيږي، او اعاده كه په ايام نحر كې وكړي يا د ايام نحر له تيريدو وروسته يې وكړي په دواړو صورتونو كې د راجح قول مطابق قرباني بالكل معاف كيږي، او كه چيرته د جنابت په حالت كې طواف زيارت وكړي شي نو په جرمانه كې د يوه اوښ يا غويي قرباني واجبيږي، او له وجهې سخت ګنهګاريږي او د همدغه طواف راګرځول واجب دي، لهذا كه چيرته په ايام نحر كې دننه اعاده وكړي نو د جرمانې قرباني په كلي ډول معاف كيږي، او كه چيرته د ايام نحر له تيريدو وروسته اعاده وكړي نو د تاخير (ځنډ) له وجهې د يوه پسه قرباني واجبيږي

د قدوري صاحب رحمه الله ويلي دي چې كه چيرته محرم د بې اودسي په حالت كې طواف زيارت كړى وي يا د جنابت په حالت كې په دواړو صورتونو كې د طواف راګرځول بهتر دي، تر څو چې په مكه كې مقيم اوسي او د اعاده (راګرځولو) په صورت كې د يوه پسه يا د اوښ قرباني هم نه واجبيږي

دويمه مسئله: كه چيرته آفاقي وطن ته د روانيدو پر مهال بې اودسه طواف صدر وكړي نو د هر چكر په عوض كې دې يوه صدقه فطر اداء كړي، لهذا د اوو چكرو په عوض كې اووه صدقې فطر اداء كول لازميږي، او كه چيرته د جنابت په حالت كې طواف صدر وكړي نو په جرمانه كې د يوې قربانۍ وركول لازم دي، كه چيرته اعاده وكړي نو جرمانه معاف كيږي

دريمه مسئله: كه چيرته محرم د طواف زيارت درې چكرونه يا يې له دريو څخه كم پرېښودل نو په هغه باندې دم واجب دي، ځكه چې د دريو چكرونو په پرېښودلو سره چې كوم نقصان پيدا شوى هغه سپک

(کم) دی چنانچه دا له هغه نقصان سره مشابه کېږي کوم چې د حدث (بې اودسي) له وجهې پيدا شوی دی، او د حدث (بې اودسي) په صورت کې تلافي د پسه په قرباني کولو سره کېدی شي نو ځکه دلته هم قرباني لازمېږي، د قرباني لزوم په هغه وخت کې دی چې د طواف اعاده نه وي شوې او که چيرته په ايام نحر کې د طواف اعاده وکړی شي نو بيا هيڅ نه لازمېږي، او که له ايام نحر وروسته اعاده وکړی شي نو صدقه فطر لازم ده، او که چيرته بيرته خپل وطن ته ستون شي نو د هغه لپاره دا خبره روا ده چې هغه مکې ته بيرته راستون نشي او يو پسه ولېږي، او که چيرته د طواف زيارت څلور چکرونه پرېږدي نو هغه محرم پاتې کېږي تردې چې طواف زيارت ونکړي، ځکه چې پرېښودل شوي چکرونه زيات دي او اکثر لره د کل حکم حاصل دی، ګوا که هغه طواف بېخي کړی نه دی، او د طواف زيارت نکولو په صورت کې هميشه محرم پاتې کېږي، يعنې د ښځې په حق کې محرم پاتې کېږي، چنانچه کله هم چې کوروالي وکړي په هغه باندې دم لازمېږي په دې شرط چې مجلس متعدد وي.

څلورمه مسله که چيرته د طواف صدر درې چکرونه پرېښودل شي نو په هغه باندې د هر چکر په عوض کې يوه صدقه فطر لازم ده، او که چيرته بشپړ طواف صدر پرېښودل شي يا د هغه څلور چکرونه پرېښودل شي او وطن ته راستون شي نو په هغه باندې د يوه پسه قرباني واجب ده، ځکه چې هغه واجب يا د واجبو اکثر برخې ايښې دي او د ترک واجب نقصان په قرباني سره پوره کېدلی شي، او ترڅو پورې چې هغه په مکه کې دی نو هغه ته د طواف صدر کولو حکم کېږي ترڅو چې واجب په خپل وخت کې ادا، کړی شي.

وَمَنْ تَرَكَ السَّعْيَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَعَلَيْهِ شَاةٌ وَحَجُّهُ تَامٌّ
او څوک چې پرېږدي سعيې په مابين د صفا او مروه کې په هغه پسه دی او حج يې پوره دی
وَمَنْ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَاتٍ قَبْلَ الْإِمَامِ فَعَلَيْهِ دَمٌ وَمَنْ تَرَكَ الْوُقُوفَ
او څوک چې ولاړ شي له عرفات نه مخکې له امام څخه په هغه وينه ده او څوک چې پرېږدي وقوف
بِالْمُزْدَلِفَةِ فَعَلَيْهِ دَمٌ وَمَنْ تَرَكَ رَمْيَ الْجِمَارِ فِي الْأَيَّامِ كُلِّهَا
په مزدلفه باندې په هغه دم ده او څوک چې پرېږدي د جمرو ويشتل په ټولو ورځو کې
فَعَلَيْهِ دَمٌ وَإِنْ تَرَكَ رَمْيَ إِحْدَى الْجِمَارِ الثَّلَاثِ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ
په هغه دم ده او که يې پرېښودل يوه له دريو جمرو څخه نو په هغه باندې صدقه ده
وَإِنْ تَرَكَ رَمْيَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِي يَوْمِ النَّحْرِ فَعَلَيْهِ دَمٌ
او که يې پرېښودل د جمرې عقبې ويشتل د قرباني په ورځ نو په هغه باندې وينه ده
وَمَنْ أَخَّرَ الْحَلْقَ حَتّٰى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ فَعَلَيْهِ دَمٌ
او کوم کس چې وروسته کړي د سر خرېيل تردې چې تېره شي د قرباني ورځې په هغه باندې وينه ده

عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى		
په نزد د امام ابوحنيفة رحمه الله تعالى		
وَكَذَا إِذَا أَخَّرَ	طَوَافَ الزِّيَارَةِ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى
او همدارنګه که وروسته کړی شي	طواف زيارت	په نزد د امام ابوحنيفة رحمه الله تعالى

تشريح: په دې عبارت کې د کتاب صاحب يوشمير مسئلې ذکر کړې دي

اوله مسئله: که چيرته د صفا او مروه ترمينځ سعيې له عذر پرته پريښودل شي نو په هغه باندې پسه واجب دی او د هغه حج مکمل (پوره) کيږي، ځکه چې سعيې له واجباتو څخه ده او د واجبو پريښودو له وجهې دم واجبيږي. د امام شافعي رحمه الله په نزد سعيې فرض ده لکه طواف زيارت، لهذا د ده په نزد د سعيې راګرځول فرض پاتې کيږي.

دويمه مسئله: د عرفات په ورځ د حاجيانو لپاره د لمر له لويدو مخکې د عرفات له حدودو څخه د باندې وتل روا نه دي، لهذا که چيرته څوک اتفاقاً د عرفات له حدودو څخه د باندې ووت نو بيرته راتلل او په عرفات کې داخليدل واجب دي. او که چيرته د رش له وجهې د لمر له لويدو مخکې له عرفات څخه روان شو يا د څه عذر له وجهې د عرفات له حدودو څخه له وتلو وروسته له غروب څخه مخکې بيرته په عرفات کې داخل نشو نو په هغه باندې د جرمانې په ډول د يوه پسه يا بزې قرباني واجبيږي، که چيرته د لمر له لويدو وروسته او له امام څخه مخکې له عرفات څخه ولاړ نو په هغه باندې هيڅ نه واجبيږي

دريمه مسئله: د ائمه اربعه په نزد وقوف مزدلفه واجب ده. او له عذر پرته په پريښودلو سره يې د ټولو په نزد دم واجبيږي، که چيرته په مزدلفه کې رش وي يا د جمرې عقبې په ويشتلو کې د سخت رش خطر وي نو په داسې صورت کې د کمزورو ښځو او ضعيف سړيو لپاره د وقوف مزدلفه پريښودلو ګنجايش شته دی او په هغه باندې هيڅ فديه هم نه لازميږي

څلورمه مسئله: په لسم د ذی الحجې کې د جمرې عقبې رمی (ويشتل) د يوولسم تر صبح صادق کيدو وخت پورې په وروسته کولو سره قضاء او دم دواړه لازم او د دوولسمې رمی د ديارلسم تر صبح صادق پورې په وروسته کولو سره قضاء او دم دواړه واجب او په ديارلسم که چيرته په منی کې يې قيام کړی وي نو همدا رمی د همدغې ورځې تر لمر لويدو پورې په وروسته کولو سره صرف دم واجبيږي، قضاء نشته، او که چيرته د يوې ورځې رمی پريښودل شوې دي نو يو دم، او که د دوو ورځو پريښودل شوې وي نو هم يو دم لازميږي، او که چيرته د ټولو ورځو رمی د ديارلسم تر لمر لويدو وروسته پورې پريښودل شوې وي بيا هم د ټولو لپاره يوه قرباني واجبيږي، او که چيرته محرم د دريو ورځو له جمرو څخه د يوې جمرې رمی پرې ايښې وي او د دوو جمرو رمی کړې وي نو د هرې شګې په عوض کې دې يوه صدقه فطر اداء کړي

پنځمه مسئله: له جمرې عقبې وروسته دوه واجب يعني قرباني او له هغې وروسته حلق (د سر خريل) دغه دواړه په لسم د ذی الحجې لازم نه دي، بلکې تر دوولسم پورې په وروسته کولو کې يې هم اجازه شته، ليکن که چيرته د دولسم د ذی الحجې تر تيريدو پورې وځنډول شي نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد په جرمانه کې يو دم واجبيږي

وَإِنْ قَتَلَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا	أَوْ دَلَّ عَلَيْهِ	مَنْ قَتَلَهُ فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ	
که ووژني محرم ښکار	يا راهنمائي وکړي د هغه طرفته	هغه کس ته چې وې وژني په ده جزاء واجب ده	
سَوَاءٌ فِي ذٰلِكَ	الْعَامِدُ وَالنَّاسِي	وَالْمُبْتَدِئُ وَالْعَائِدُ	وَالْجَزَاءُ
برابر دي په دې کې	قصداً کوونکی او په هيره کوونکی	په اول وار او دويم خل اشاره کوونکی	او جزاء داده
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ	أَنْ يُقَوَّمَ	الصَّيْدُ	
په نزد د شيخينو رحمهما الله	چې قيمت ولګول شي	د ښکار	
فِي الْمَكَانِ الَّذِي	قَتَلَهُ فِيهِ	أَوْ فِي أَقْرَبِ الْمَوَاضِعِ مِنْهُ	
په هغه ځای کې	چې ووژل شوی په هغه کې	يا په نږدې ځای کې هغه ته	
إِنْ كَانَ فِي بَرِّيَّةٍ	يُقَوِّمُهُ ذَوَا عَدْلٍ	ثُمَّ هُوَ مُخَيَّرٌ	فِي الْقِيمَةِ
که وه په صحراء کې	قيمت دې يې کړي دوه عادلان	بيا دی اختيار مند دی	په قيمت کې
إِنْ شَاءَ ابْتَاعَ بِهَا	هَدْيًا فَذَبَحَهُ	إِنْ بَلَغَتْ قِيمَتُهُ هَدْيًا	
که وغواړي واخلي په هغه سره	ځناور او ذبحه دې کړي	که رسيده قيمت يې ځناور ته	
وَإِنْ شَاءَ اشْتَرَى بِهِ	طَعَامًا	فَتَصَدَّقَ بِهِ	عَلَى كُلِّ مِسْكِينٍ
او که وغواړي واخلي په هغه	غله	بيا دې خيرات کړی شي هغه	په هر مسکين باندې
نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ	أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ	أَوْ شَعِيرٍ	وَإِنْ شَاءَ صَامَ
نيم صاع د غنمو	يا يو صاع د کجورو	يا د اوربشو	او که وغواړي روژه دې ونيسي
عَنْ كُلِّ نِصْفِ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ	يَوْمًا	وَعَنْ كُلِّ صَاعٍ مِنْ شَعِيرٍ	يَوْمًا
د هر نيم صاع غنمو له لورې	يوه ورځ	او د هر صاع اوربشو له لورې	يوه ورځ
فَإِنْ فَضَلَ مِنَ الطَّعَامِ	أَقَلُّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ	فَهُوَ مُخَيَّرٌ	
که زياته شوه غله	کمه له نيم صاع څخه	نو هغه لره اختيار دی	

إِنْ شَاءَ تَصَدَّقَ بِهِ	وَإِنْ شَاءَ صَامَ عَنْهُ	يَوْمًا كَامِلًا
که وغواړي صدقه دې وکړي په هغه	او که وغواړي روژه دې ونيسي له هغه	يوه مکمله ورځ

د جزاء صيد بيان

دلغاتوحل: صيدا: ښکار، **دل عليه:** راهنمائي کول، رهبري کول، **يقوم:** قيمت لګول، **في اقرب المواضع:** قرب او جوار، **برية:** صحراء، **ابتاع به:** اخيستل، **بر:** غنم

خلاصه: که چيرته محرم د کوم ښکار ځناور وواژه يا يې د هغه پر لور (طرف) داسې چا ته راهنمائي وکړه کوم چې هغه وژلی دی، د بيلګې په توګه محرم ښکاري ته ووايي چې د ښکار ځناور په فلاني ځای کې دی، مدلول هغه ووژني، نو په همدغو دواړو صورتونو کې په محرم باندې صرف جزاء واجبيږي، په دې شرط که مدلول حلال وي، او که چيرته مدلول هم محرم وي نو بيا په دواړو کې په هر يوه باندې مکمله جزاء واجبيږي، برابره ده که ښکار د حرم د حدودو وي يا د حرم له حدودو څخه د باندې وي، که قصداً يې وژلی وي يا يې په هيره سره وژلی وي په هر حال کې د محرم ويشتل شوی ښکار د حرام او مردار په حکم کې دی او په محرم باندې د هغه متبادل جرمانه اداء کول هم واجبيږي په راهنمائي کوونکي محرم باندې د جزاء واجب کيدولپاره د جوهره نيره صاحب دری شرطونه بيان کړي دي:

(۱) مدلول به له دلالت مخکې د ښکار له ځای څخه خبر (واقف) وي، که چيرته هغه له مخکې نه پوهيده چې په فلاني ځای کې ښکار دی نو په دال باندې جزاء نه واجبيږي

(۲) مدلول به همدغه ښکار د دلالت کوونکي د محرم کيدو په حالت کې نيولی وي، که چيرته د هغه له نيولو څخه مخکې راهنمائي کوونکی له احرام څخه حلال شوی وي نو په هغه باندې جرمانه نشته

(۳) له راهنمائي کولو وروسته ښکار به په هماغه ځای کې موجود وي، که چيرته له هماغه ځای څخه بل ځای ته وتښتي او مدلول يې په بل ځای کې ښکار کړي نو په دال باندې جزاء نه واجبيږي

وَقَالَ مُحَمَّدٌ	يَجِبُ فِي الصَّيْدِ النَّظِيرُ	فِيمَا لَهُ نَظِيرٌ
ويلي دي امام محمد	واجب دی په ښکار کې مثل	په هغه کې چې هغه لره مثل وي
فَفِي الظَّبْيِ شَاةٌ	وَفِي الضَّبُعِ شَاةٌ	وَفِي الْأَرْنَبِ عَنَاقٌ
پس په هوسۍ کې پسه دی	او په سمسيره کې پسه دی	او په سوی کې د ميږې بچي دی
وَفِي النَّعَامَةِ بَدَنَةٌ	وَفِي الْيَرْبُوعِ جَفْرَةٌ	وَمَنْ جَرَحَ صَيْدًا
او په شترمرغ کې اوښ دی	او په مرک کې د ميږې بچې دی	او څوک چې زخمي کړي ښکار

أَوْ نَتَفَ شَعْرَهُ	أَوْ قَطَعَ عُضْوًا مِنْهُ	ضَمِنَ مَا نَقَصَ مِنْ قِيمَتِهِ
یا ئې ویښتې ئې وشکي	یا ئې مات کړ اندام د هغه	ضامن شو چې نقصان ئې کړي د هغه د قیمت
وَإِنْ نَتَفَ رِيشَ طَائِرٍ	أَوْ قَطَعَ قَوَائِمَ صَيْدٍ	فَخَرَجَ بِهِ
او که ئې وباسل وزرونه د مرغه	یا ئې ماتې کړې پښې د ښکار	پس ووت په دې سره
مِنْ حَيِّزِ الِامْتِنَاعِ	فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ كَامِلَةً	وَمَنْ كَسَرَ بَيْضَ صَيْدٍ
د ځان له بچ کولو ځخه	نو په هغه باندې پوره قیمت دی	او څوک چې ماتې کړې هګۍ د ښکار
فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ	فَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْبَيْضَةِ	فَرْخٌ مَيِّتٌ
په هغه باندې قیمت دی	بیا که ووت له هګۍ ځخه	مړ بچی (مرغزی)
	فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ حَيًّا	
	نو په هغه باندې قیمت دی د ژوندي	

د لغاتو حل ارنب: خرګوش سوی، **عناق**: د میږې د شپږو میاشتو بچی، **نعامة**: شتر مرغ، یربوع: صحرائي موږک، **حفرة**: د میږې د څلورو میاشتو بچی، **نتف**: د ښکو وباسل، **طائر**: مرغی، **قوائم**: د قائمة جمع ده پښې، **بیض**: د بیضة جمع ده هګۍ، **فرخ**: د مرغی بچی (مرغزی).

خلاصه: د جزاء صید متعلق د امام محمد او امام شافعي په نزد ظاهري مماثلت ضروري دی، یعنې چې کوم ښکاري ځناور مثل موجود وي د هغه جزاء د هغه د مثل ځناور دی.

په کومه مسئله کې چې د جرماني حکم بیان شوی دی دا نږدې متفق علیه مسئله ده، مګر اختلاف په دې باره کې ده چې د جرماني ورکولو کیفیت به څه ډول وي په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

(۱) د شیخینو په نزد ښکار هغه که مثلي وي او که غیر مثلي وي په هر حال کې د قیمت صدقه کول روا دي، لهذا هغه لره اختیار دی که وغواړي یا مثل صوري اداء کړي یا مثل معنوی دواړه روا دي، د دې تفصیل دا ده چې که چیرته په ځنګل کې ښکار وژل شوی وي په هماغه کې دې دوه عادل سړي د هغه د قیمت اندازه دې وکړي او که چیرته هلته د هغه هیڅ قیمت نه وو نو نږدې کوم کلي ته دې ولاړ شي او معلوم دې کړي، بیا کله چې د هغه قیمت معلوم شو نو اوس وژونکي (قاتل) لره اختیار دی که وغواړي نو هغه دې په هماغه قیمت سره د هدی (قرباني) ځناور واخلي هغه دې ذبحه کړي او د هغه غوښه دې د حرم په مسکینانو باندې ووېشي، لیکن دا په هغه وخت کې ده کله چې د هغه په قیمت سره د هدی (قرباني) ځناور اخیستل کیدی شو، او که چیرته وغواړي نو په هغه دې غله واخلي او د صدقه فطر په اندازه دې یوه یوه مسکین صدقه کړي، یعنې که چیرته غنم اخیستل شوي وي نو په هر مسکین باندې دې نیم نیم صاع صدقه کړي، او که چیرته کجورې اخیستل شوې وي نو یو یو صاع

صدقه کړي، او که چیرته وغواړي نو د هر مسکین د غلې پر ځای دې روژه ونیسي، او که چیرته له نیم صاع څخه کم زیات شي نو که غواړي هغه دې خیرات کړي او که غواړي د هغه په بدل (عوض) کې دې یوه روژه ونیسي

(۲) د ائمه ثلاثه او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد کوم ښکار چې وژل شوی وي که چیرته د هغه په اهلي ځناورانو کې صوري مثل موجود وي نو د مثل صوري په جرمانه کې اداء کول لازمیږي. مثل معنوي یعنې قیمت ورکول روا نه دي، د بیلګې په توګه په هوسۍ او سمسیره کې پسه لازم دی او په سوی (خرګوش) کې د میږې د شپږو میاشتو بچی او په شترمرغ کې اوښ لازمیږي، او د ځنګلي مرک په جزاء کې د میږې د څلورو میاشتو بچی واجبیږي، او په غرڅه کې غویی لازمیږي، او که چیرته یې په اهلي ځناورانو کې د ښکار صوري مثل موجود نه وي نو قیمت ورکول روا کیدلی شي، لکه مرغې یا کبوتر او د دوی په شان ځناور د کوم چې هیڅ مثل نشته دی چنانچه په همدغو ځناورانو کې قیمت واجبیږي، اصح قول د شیخینو دی.

که چیرته محرم د ښکار ځناور زخمي کړ، یا یې د هغه ښکې وویستې یا یې د هغه کوم اندام غوڅ کړ، له همدې وجهې د هغه په مالیت کې چې کوم نقصان پیدا شوی دی د هغه ضامن دی، په دې شرط چې ځناور مړ شوی نه وي که نه نو ټول قیمت واجبیږي، همدارنګه د زخم نښانې (اثر) به به پاتې نه وي که نه نو هیڅ شی نه واجبیږي، او که چیرته محرم د کوم مرغه د وزر ښکې وویستې یا یې د ښکار د ځناور لاس او پښه غوڅ کړل تردې چې همدغه مرغه او د ښکار ځناور د خپل حفاظت او له خلکو څخه د بچ کیدا قابل هم نه وي پاتې شوی نو په همدغه محرم باندې د هغه ټول قیمت واجبیږي، ځکه محرم چې کله د هغه د حفاظت آله ورکه کړه ګوا که د هغه امن یې ختم کړ او د امن ختم کوونکی د قاتل (وژونکي) په یو درجه کې دی، لهذا په هغه باندې د مقتول (وژل شوي) بشپړ قیمت واجبیږي

وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْغُرَابِ	وَالْحِدَأَةِ	وَالذِّئْبِ	وَالْحَيَّةِ	وَالْعَقْرَبِ
او نشته په وژلو د کارغه	ژوره	د لیوه	د مار	د لړم
وَالْفَأْرَةِ	وَالْكَلْبِ الْعَقُوْرِ	جَزَاءٌ	وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْبَعُوْضِ	وَالْبَرَاغِيْثِ
د موږک	د خوړونکی سپي کې	جزاء	او نشته په وژلو د غوماشي	او زهرجن چینجي
وَالْقُرَادِ شَيْءٌ	وَمَنْ قَتَلَ قَمْلَةً	تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ	وَمَنْ قَتَلَ جَرَادَةً	
او کربوړي کې هیڅ شی	او چا چې ووژله سپګه	صدقه دې کړي څه چې غواړي	او چا چې ووژلو ملخ	
تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ	وَتَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ	وَمَنْ قَتَلَ مَا لَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ		
صدقه دې , څه چې وغواړي	او کجوره بهتره ده له ملخ څخه	او څوک چې ووژني چې نه خوړل کیږي غوښه یې		

وَنَحْوِهَا	فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ	وَلَا يَتَجَاوَزُ بِقِيمَتِهَا شَاةً	وَإِنْ صَالَ السَّبُعُ
لکه درنده	په هغه باندې جزاء ده	چې نه زیاتیږي قیمت یې له پسه څخه	او که حمله وکړه درنده
عَلَى مُحْرِمٍ	فَقَتَلَهُ	فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ	فَإِنْ اضْطُرَّ الْمُحْرِمُ إِلَى أَكْلِ
په محرم باندې	پس وې وژلو هغه	هیڅ نشته په هغه باندې	او که مجبور شي محرم خوړلو
لَحْمِ الصَّيْدِ	فَقَتَلَهُ	فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ	
غوښې د ښکار ته	پس وې وژلو هغه	نو په هغه باندې جزاء ده	

د لغاتو حل **الغراب**: کارغه، **الحداة**: ژوره، **الذئب**: لیوه، **الحية**: مار، **العقرب**: لړم، **الفارة**: موږک، **الکلب العقور**: خوږونکی سپی، **البعوض**: ماشی، **قملة**: سپګه، **جرادة**: ملخ، **سباع**: درنده، **صال**: حمله کول، **اضطر**: ناقراره کیدل

خلاصه: د کتاب صاحب په دې عبارت کې یوشمیر مسئلې بیان کړې دي:

د احرام په حالت کې د محرم لپاره او د حرم په حدودو کې د حلال لپاره دوولس قسمه ځناورو وژل روا دي:

(۱) د ګندګي خوړونکی کارغه (۲) توروالی ته مایل چینجی (۳) لیوه (۴) مار (۵) لړم (۶) مږک (۷) حمله کوونکی سپی (۸) کربوړي (۹) حمله کوونکی ځناور (۱۰) غوځوونکی چینجی (۱۱) غوماشی

په متن کې له کلب عقور څخه څه مراد دی؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

(۱) د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ یو قول دا ده چې کلب عقور څخه صرف کټ (غوځوونکی) سپی نه دی مراد. بلکې له دې څخه زمری او هر هغه درنده مراد دی کوم چې غوځوونکی وي، البته د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په مینځ کې فرق دا ده چې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد غیر ماکول اللحم د تکلیف رسوونکو ځناورانو قتل روا دی. لهذا د ده په نزد ضرر رسوونکي ځناور وژل روا نه دي، البته که چیرته حمله وکړي بیا یې وژل روا کیدلی شي. او د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد متعدي علتونه دوه شول (۱) تکلیف رسوونکی (۲) غیر ماکول اللحم، لهذا د ماکول اللحم موذي او که غیر مالکول اللحم وي، لهذا هر د موذي کیدونکی علت صرف موذي کیدل دي، ځناور که ماکول اللحم وي

(۲) د حنفیانو او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ د یوه قول مطابق له کلب عقور څخه هر ډول (قسم) درنده، زمری او غیره مراد نه دي، بلکې له هغه څخه صرف غوځوونکی سپی مراد دی او همدغو خلکو ویلي دي چې د ده په نزد د محرم یې وژل روا دي

له کلب عقور څخه خو درنده مراد نه دی، مګر لیوه د سپي په شان ګڼل شوی دی، څکه چې هغه له کلب عقور (خوږي سپي) څخه هم خطرناک دی او هر وخت د حملې په فکر کې اوسي

که چیرته محرم غیر ماکول اللحم ښکار وواژه لکه درنده، زمری، پړانګ او غیره نو په هغه باندې جزاء واجبیږي، او جزاء دومره اندازه واجبیږي چې هغه د یوه پسه له قیمت څخه تجاوز ونکړي، څکه

چې غير ماكول اللحم د قيمت په اعتبار سره د هغه د پوستكي مناسب وي، ځكه چې د هغه غوښه خو نه خوړل كيږي، نو په ظاهر د هغه پوستكي د پسه له قيمت څخه نه زياتيږي.
كه چيرته محرم د لوږې د شدت له وجهې د ښكار وژلو طرفته مجبور شو چنانچه هغه ښكار وكړ نو په هغه باندې هم جزاء واجب ده، ځكه شريعت د احرام له ممنوعاتو څخه كه د كوم ممنوع كولو اجازه وركړې نو دغه اجازه له كفارې سره مفيده ده، همدارنګه د مضطر (وږي) ته هم د ضرورت په وخت كې د ښكار ذبحه كول روا دي، مګر د كفارې له شرط سره او كفاره د هغه جزاء ده. د كوم بيان چې په تفصيل سره تير شوى دى.

وَلَا بَأْسَ	أَنْ يَذْبَحَ الْمُحْرِمُ الشَّاةَ وَالْبَقَرَةَ وَالْبَعِيرَ	وَالدَّجَاجَ
او هيڅ خبره نشته	چې ذبحه كړي محرم پسه غوا اوښ	او چرګه
وَالْبَطَّ الْكَسْكَرِيَّ	وَإِنْ قَتَلَ حَمَامًا مُسَرْوَلًا	أَوْ ظَبْيًا مُسْتَأْنَسًا
او كسكري هيلۍ	او كه يې ووژله د بيرو پښو والا كپتره	يا هوسۍ اموخته شوې
فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ	وَإِنْ ذَبَحَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا	فَذَبِيحَتُهُ مَيْتَةٌ
په هغه باندې جزاء ده	او كه ذبحه كړ محرم ښكار	نو ذبيحه د هغه مرداره ده
لَا يَحِلُّ أَكْلُهَا	وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَأْكُلَ الْمُحْرِمُ	لَحْمَ صَيْدٍ
ندي حلال خوړل د هغې	او هيڅ خبره نشته چې وخوري محرم	غوښه د داسې ښكار
اِصْطَادَهُ حَلَالٌ	وَذَبَحَهُ	إِذَا لَمْ يَدُلَّهُ الْمُحْرِمُ عَلَيْهِ
چې ښكار كړى وي حلال	او ذبحه كړى وي	كه دلالت نوي كړى محرم په هغه سره
وَلَا أَمَرَهُ بِصَيْدِهِ	وَفِي صَيْدِ الْحَرَمِ	إِذَا ذَبَحَهُ الْحَلَالُ الْجَزَاءُ
او نه به يې امر كړى وي د ښكار كولو	او په ښكار د حرم كې	كله يې چې ذبحه كړي حلال جزاء ده
وَإِنْ قَطَعَ حَشِيشَ الْحَرَمِ	أَوْ شَجَرَةَ الَّذِي	لَيْسَ بِمَمْلُوكٍ
كه يې غوڅ كړل وابنه د حرم	يا هغه ونې	چې د چا په ملک كې نه دي
وَلَا هُوَ مِمَّا يُنْبِتُهُ النَّاسُ	فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ	
او نه وي د هغو له جملې چې كرلې وي خلكو	نو په هغه باندې قيمت واجب دى	

د ښکار د احکامو پای

د لغاتو حل: **البعير**: اوښ، **الدجاج**: چرګه، **البط**: هغه هيلۍ کومې چې په کورونو او ډنډونو کې اوسيږي، **الكسكري**: دا د كسكر طرفته منسوب ده کومه چې د بغداد يوه سيمه ده، په دې قيد سره دېته اشاره ده چې دا ډيرې غټې هيلۍ دي، **حماماً**: کبتره، **مسرول**: د کومې په پښو باندې چې ښکې وي لکه پرتوګ يې چې اغوستی وي، پاموز ورته ويل کيږي، **ظبی**: هوسۍ، **مستأنس**: اموخته (مائل شوې) **حشيش**: واښه

تشريح: په دې عبارت کې د کتاب صاحب يوشمير مسئلې بيان کړې دي: که چيرته محرم د احرام په حالت کې پسه، اوښ، غويی، چرګ، او هغه هيلۍ کومه چې په کورونو او ډنډونو (حوضونو) کې اوسيږي همداسې څناور يې ذبحه کړل نو په هغه باندې هيڅ لازم نه دي، ځکه دغه شيان د نه وحشي کېدو له وجهې په ښکار کې داخل نه دي، بيا د کتاب صاحب ويلي دي که چيرته کوم محرم پاموز کبوتره (يعنې هغه کبوتره د کومې په پښو باندې چې ښکې ډيرې زياتې وي) ووژله يا يې اموخته شوې هوسۍ ووژله نو په محرم باندې جزاء واجب ده، ځکه چې کبوتره او هوسۍ د خپل اصل خلقت او فطرت په اعتبار سره وحشي دي، او د دوی اموخته کول عارضي دي، لهذا عارضي اموخته کولو ته هيڅ اعتبار نشته.

که چيرته محرم د احرام په حالت کې د ښکار وژل وغوښتل ښکار که د حرم په حدودو کې وو يا د حرم له حدودو د باندې وو قصداً يې وواژه که سهواً يې وواژه په هر حال کې د محرم ويشتل شوی ښکار د حرام او مردار دی په حکم کې دی، د هغه خوراک حرام دی د محرم او غير محرم ټولو لپاره.

د حرم شريف د حدودو ښکار د هيچا په نزد روا نه دی، اګر که ښکار کوونکی په خپله محرم نه وي، او که چيرته د حرم ښکار ووژل شي نو هغه د مردار په حکم کې دی، د هغه خوراک د هيچه لپاره روا نه ده، او په ويشتونکي باندې د همغه څناور پوره جرمانه واجب ده.

که چيرته چا د حرم واښه پرې (کټ) کړل يا يې داسې ونې پرې (کټ) کړې کومې چې د هيچا په ملک کې نه دي او په خپله شنې (زرغون) شوې دي، يعنې هغه خلکو نه دي لګولې بلکې هغه په خپله راشنې شوې دي نو د همداسې واښو او ونو د پرې کولو په صورت کې په هغه باندې قيمت واجبيږي، ليکن که چيرته هماغه واښه او ونې وچ شوې وي نو د هغو په پريکولو باندې قيمت نه واجبيږي.

وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلَهُ الْقَارِنُ	مِمَّا ذَكَرْنَا	أَنَّ فِيهِ عَلَى الْمُفْرِدِ دَمًا
او هر هغه څه چې وې کړي قارن	کوم چې مونږ بيان کړي دي	چې په هغو کې په مفرد باندې يو دم
فَعَلَيْهِ دَمَانِ	دَمٌ لِحَجَّتِهِ وَدَمٌ لِعُمْرَتِهِ	إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ الْمِيقَاتَ
او په قارن دوه دم دي	يو دم د حج او يو دم د عمرې يې	مګر دا چې تجاوز وکړي له ميقات څخه

مِنْ غَيْرِ اِحْرَامٍ ‏ ‏ثُمَّ يُحْرِمُ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ ‏ ‏فَيَلْزَمُهُ دَمٌ وَاحِدٌ

پرته له احرام ‏ ‏بیا احرام وتړي د عمرې او حج ‏ ‏نو لازمیږي په هغه یو دم

وَاِذَا اشْتَرَكَ مُحْرِمَانِ فِي قَتْلِ صَيْدِ الْحَرَمِ فَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا

او که شریکان شي دوه محرمان په وژلو د ښکار د حرم کې نو په دوی کې په هر یوه باندې

الْجَزَاءُ كَامِلًا وَاِذَا اشْتَرَكَ حَلَالَانِ فِي قَتْلِ صَيْدِ الْحَرَمِ فَعَلَيْهِمَا

جرمانه ده پوره او که شریکان شي دوه حلال سړي په وژلو د ښکار د حرم کې په دواړو باندې

جَزَاءٌ وَاحِدٌ وَاِذَا بَاعَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا أَوْ ابْتَاعَهُ فَالْبَيْعُ بَاطِلٌ

یوه جرمانه ده او که خرڅ کړ محرم ښکار یا یې واخیست نو بیعه یې باطله ده

تشریح: د احرام له ممنوعاتو څخه په کومو شیانو کې په مفرد بالحج باندې یو دم واجبیږي، که چیرته قارن له همدغو جنایتونو څخه کوم یو وکړي نو دوه دم (وینې) واجبیږي، یو د حج له وجهې دویم د عمرې له وجهې، د قدوري صاحب رحمه الله ویلي دي چې صرف یو صورت داسې دی په کوم کې چې زمونږ په نزد هم په قارن باندې یو دم واجبیږي، هغه دا چې قارن له احرام پرته له میقات څخه تیر شي نو په دغه قارن باندې یو دم واجبیږي، البته که چیرته وګرځي کوم میقات ته ولاړ شي احرام وتړي نو د جرمانې قربانۍ معاف کیږي.

دوه محرمان یو ځای شول ښکار یې وکړ، برابره ده که د حرم د حدودو ښکار وي یا د حرم له حدودو څخه د باندې وي په دواړو باندې جلا جلا بشپړه (پوره) جرمانه اداء کول لازمیږي، ځکه چې په دوی کې هر یوه په کامل احرام کې جنایت کړی دی.

محرم لپاره د ښکار ځناور خرڅول او اخیستل دواړه ناروا او باطل دي، ځکه محرم ته د ښکار کولو اجازه نشته، همدارنګه د خرڅولو او اخیستلو اجازه هم ورته نشته.

بَابُ الْإِحْصَارِ

د احصار بیان

د احصار لغوي معنی: مطلق را ایسارول، او د شرع په اصطلاح کې دا ده چې محرم د کوم عذر له وجهې له حج یا عمرې څخه را وګرځول شي او په دې عذر کې د دم په ورکولو سره حلالیدل مباح شي، او کوم کس چې وګرځول شي هغه ته محصر ویل کیږي، د احصار واقعه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د حدیبیه په کال مخته راغلې وه، دغه عوارضات (احصار او فوات) نوادر الوقوع دي نو ځکه په اخیر کې بیان کړی شو، د احصار په اسبابو کې د ائمه ؤ په مابین کې اختلاف دی، د ائمه ثلاثه په نزد د احصار سبب صرف د دښمن ویره ده، د حنفیانو او اصحاب حنفیانو په نزد چې هر شی د احرام له تړلو

وروسته د احرام د غوښتنو په پوره کولو کې خنډ جوړ شي هغه د احصار سبب دی، لهذا احصار د دښمن د ويرې له وجهې، د مرض له وجهې، د ښځې د عدت او د لارې ورکيدو له وجهې کيدی شي، د احصار حکم دا دې چې که چيرته محصر مفرد بالحج يا معتمر دی نو يو د قرباني خناور (مثلا يو پسه او که قارن وه نو دوه د قرباني خناور (مثلا دوه پسونه) دې واخلي يا د هغو قيمت دې ورکړي د کوم معلوم کس په لاس کې د حرم ته وليږي ترڅو هغه په همدې قيمت سره خناور واخلي او هلته يې د ذبحه کولو يوه ورځ او وخت معلوم کړي اګر که له ايام نحر مخکې وي، او محصر دې په همدې معلومه ورځ او وخت کې له حلق او قصر پرته احرام خلاص کړي او راتلونکي کال دې د هغه قضائي وکړي، که محصر مفرد بالحج دی نو په هغه باندې د يوه حج او يوې عمرې قضائي واجب ده او که معتمر دی نو صرف د يوې عمرې قضاء لازم ده، او په قارن باندې يو حج او دوه عمرې لازم دي. زيات تفصيل د عبارت په دوران کې وګورئ.

إِذَا أُحْصِرَ الْمُحْرِمُ بِعَدُوٍّ	أَوْ أَصَابَهُ مَرَضٌ	يَمْنَعُهُ مِنَ الْمُضِيِّ
کله چې ايسار شي محرم د دښمن له وجهې	يا ورته پيښه شي ناروغي	چې ايسار کړی وي له تګ
حَلَّ لَهُ التَّحَلُّلُ	وَقِيلَ لَهُ ابْعَثْ شَاةً	تُذْبَحُ بِالْحَرَمِ وَوَاعِدْ
روا دي د هغه لپاره حلاليدل	ويل کيږي هغه ته وليږه يو پسه	چې ذبحه شي په حرم کې وعده په کوي
مَنْ يَحْمِلُهَا يَوْمًا بِعَيْنِهِ	يَذْبَحُهَا فِيهِ	ثُمَّ تَحَلَّلَ
له هغه چا سره چې وړي په معلومه ورځ	چې ذبحه يې کړي په هغې کې	بيا حلاليږي
فَإِنْ كَانَ قَارِنًا	بَعَثَ دَمَيْنِ	وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ دَمِ الْإِحْصَارِ
پس که قارن وو	نو ليږي به دوه دمې	او روا نه دي ذبحه کول د وينې د احصار
إِلَّا فِي الْحَرَمِ	وَيَجُوزُ ذَبْحُهُ	قَبْلَ يَوْمِ النَّحْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ
مګر په حرم کې	او روا دي ذبحه کول يې	مخکې له يوم نحر په نزد د امام ابوحنيفة رحمه الله
وَقَالَا لَا يَجُوزُ الذَّبْحُ	لِلْمُحْصَرِ بِالْحَجِّ	إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ
ويلي دي صاحبينو روا نه دي ذبحه کول	د محصر بالحج لپاره	مګر په يوم نحر کې
وَيَجُوزُ لِلْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ	أَنْ يَذْبَحَ مَتَى شَاءَ	وَالْمُحْصَرُ بِالْحَجِّ
او روا دي د محصر بالعمرې لپاره	چې ذبحه يې کړي څه وخت چې وغواړي	او محصر بالحج
إِذَا تَحَلَّلَ	فَعَلَيْهِ حَجَّةٌ وَعُمْرَةٌ	وَعَلَى الْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ الْقَضَاءُ
کله چې حلال شي	په هغه باندې حج او عمره دي	او په محصر بالعمرة باندې قضاء ده

وَعَلَى الْقَارِنِ	حَجَّةٌ	وَعُمْرَتَانِ
او په قارن باندې	يو حج	او دوه عمرې دي

تشریح : د دم احصار لپاره د ځای د تعین په باره کې اختلاف دی، د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد د احصار دم له حرم سره خاص دې، مګر له يوم نحر سره خاص نه دې، او د صاحبينو په نزد له حرم او يوم نحر دواړو سره خاص دې، او محصر بالعمرة بالاتفاق کله چې وغواړي د احصار قرباني ذبحه کولی شي، د هغه لپاره د کوم وخت تعين نشته دی، د ائمه ثلاثه ؒ په نزد د قرباني حرم ته ليږل ضروري نه دي، بلکې که قرباني په هغه ځای کې ذبحه کړی شي کافي دي چيرته چې احصار متحقق شوی دی.

د صاحبينو دليل : لکه څرنګه چې دم تمتع او دم قران له حرم او يوم نحر سره خاص دې، همدا ډول دم احصار هم له حرم او يوم نحر سره خاص شوي دي.

د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ **دليل** : د احصار دم کفاره ده، له همدې وجهې له هغې څخه د څه خوړل روا نه دي، بلکې دا د فقيرانو حق دی او د کفاراتو قرباني بالاتفاق له حرم سره خاص دې، له زماني سره خاص نه دي.

د صاحبينو د دليل ځواب : په حج قران کوونکي او حج تمتع کوونکي باندې چې کومې قرباني واجب شوې دي هغه د شکرانې په ډول باندې دي، چې الله تعالی دوی ته په يوه سفر کې د دوو عبادتونو توفيق ورکړ، او دم شکر له يوم نحر سره خاص شوې دي، له همدې وجهې د دم احصار په هماغو دواړو باندې يې قياس کول صحي نه دي.

والمحصراذاتحلل : په دې باره کې بشپړه خبره په عبارت کې تيره شوې ده، دلته دومره زده کړی چې د امام شافعي په نزد د حج قضاء صرف د فرضي حج په صورت کې لازمه ده نه د نفلي حج

وَإِذَا بَعَثَ الْمُحْصَرُ هَدْيًا	وَوَاعَدَهُمْ	أَنْ يَذْبَحُوهُ
کله چې ولیږي محصر قرباني	او وعده واخلي له ملګرو	چې ذبحه کوي به يې
فِي يَوْمٍ بِعَيْنِهِ	ثُمَّ زَالَ الْإِحْصَارُ	فَإِنْ قَدَرَ
په معلومه ورځ	بيا ختم شي احصار	پس که قادر وه

عَلَى إِدْرَاكِ الْهَدْيِ وَالْحَجِّ	لَمْ يُجْزِلَهُ	التَّحَلُّلُ	وَلَزِمَهُ الْمُضِيُّ
په پيدا کولو د قرباني او حج	روا نه دي د هغه لپاره	حلاليدل	بلکې لازم دي تلل

وَإِنْ قَدَرَ عَلَى إِدْرَاكِ الْهَدْيِ	دُونَ الْحَجِّ	تَحَلَّلَ
او که قادر وو د قرباني په پيدا کولو	نه د حج	نو حلال دې شي

وَإِنْ قَدَرَ عَلَى إِدْرَاكِ الْحَجِّ	دُونَ الْهَدْيِ	جَازَلَهُ	التَّحَلُّلُ	اسْتِحْسَانًا
او که قادر شو د حج په پیدا کولو	نه د قرباني	روا دي د هغه لپاره	حلالیدل	استحسانًا
وَمَنْ أُحْصِرَ بِمَكَّةَ	وَهُوَ مَمْنُوعٌ عَنِ الْوُقُوفِ وَالطَّوَافِ			كَانَ مُحْصَرًا
او څوک چې محصر شي په مکه کې	او هغه منعه شي له وقوف او طواف			نو هغه محصر دی
وَإِنْ قَدَرَ	عَلَى إِدْرَاكِ أَحَدِهِمَا		فَلَيْسَ بِمُحْصَرٍ	
او که قادر شو	په همدې کې په پیدا کولو د یوه باندې		نو محصر نه دی	

تشریح: محصر قرباني ولیږله او له ملګرو څخه یې وعده واخیستله چې په فلانی ورځ دغه قرباني ذبحه کړي، د قرباني له لیږلو وروسته احصار ختم شو نو اوس دغه کس څه وکړي؟ د همدغې مسئلې څلور صورتونه دي

(۱) یا خو وخت دومره تنګ دی چې همدغه کس حج او قرباني دواړه نشي پیدا کولی، په همدغه صورت کې د مکې طرفته تلل په ده باندې واجب نه دي، بلکې څه صبر دې وکړي، تردې چې د قرباني په ذبحه کیدلو سره حلال شي، دا وخت د مکې طرفته تلل بې ګټې دي، څکه چې د حج د افعالو اداء کول فوت (قضاء) شوي دي

(۲) په وخت کې دومره ګنجایش شته دی چې دواړه پیدا کولی شي په دغه صورت کې مکې ته تلل واجبیږي، څکه چې د قرباني لیږل د حج بدل وو او اوس په اصل باندې قادر شو

(۳) قرباني پیدا کولی شي لیکن حج نشي پیدا کولی، په دغه صورت کې د قرباني په ذبحه کولو سره حلالیږي، څکه چې له اصل څخه عاجز دی، چنانچه قرباني دې ذبحه کړی شي ترڅو چې د حلالیدو ګټه حاصله شي

(۴) حج پیدا کولی شي قرباني نشي پیدا کولی، نو استحسانًا د هغه لپاره حلالیدل روا دي، لیکن بهتره دا ده چې مکې ته ولاړ شي او د حج افعال اداء کړي، د قیاس تقاضا هم همدا ده، څکه چې محصر د بدل یعنې له قرباني سره د مقصود له حاصلولو مخکې په اصل یعنې حج باندې قادر شوی دی. له همدې وجهې د حج افعال دې اداء کړي او د قرباني په ذبحه کولو نه حلالیږي، او د استحسان وجه دا ده چې که چیرته د همدغه په ذمه مکې ته تلل لازم کړی شي نو د هغه مال یعنې قرباني ضائع کیږي، او هغه د هیچا په مصرف کې نه پاتې کیږي، نو څکه هغه ته اختیار ورکړی شوی چې هغه په همدغه خای کې یا په بل خای کې پاتې شي او د هغه له لوري (جانبه)، قرباني ذبحه کړی شي او بیا حلال شي.

ومن احصر بمکة کوم کس چې په حرم کې په داسې حال کې ایسار کړی شي چې هغه نه طواف کولی شي او نه وقوف عرفه کولی شي نو هغه ته محصر ویل کیږي، هغه ته د حج پوره کول مشکل شوي، اوس که چیرته همدغه کس په طواف او وقوف کې په یوه باندې قادر شي نو داسې محصر نه دی کوم چې قرباني ولیږي حلالیږي، چنانچه که چیرته په طواف باندې قادر شو او په وقوف عرفه نشو نو په طواف حلالیږي، او که چیرته په وقوف عرفه باندې قادر شو نو نه محصر کیدل له دې وجهې دي چې په وقوف عرفه سره حج پیدا شو

بَابُ الْفَوَاتِ

د حج فوت کيدو بيان

د حج فوت کيدو مطلب دا ده چې يو کس د حج لپاره ولاړ او د حج احرام يې وتړلو ليکن کوم داسې عذر ورته پيدا شو چې دغه کس د عرفه په ورځ د لمر له زوال نيولې د يوم النحر تر سبا پورې د يوه منټ لپاره وقوف عرفات ونکړی شو نو په دې صورت کې د هغه حج فوت شو، او د چا چې حج فوت شي هغه ته فائت الحج ويل کيږي، د حج فوت کيدو په صورت کې پکار دي چې افعال عمره يعني د کعبه طواف او د صفا او مروه په مابين کې له سعيې وروسته احرام خلاص کړي، که مفرد دی نو يوه عمره دې وکړي او که قارن دی نو دوه عمرې دې وکړي، له دې وروسته دې حلق يا قصر وکړي او راتلونکی کال دې قضائي راوړي

دغه باب له احصار څخه وروسته کړی شو چې فوات احرام او اداء له دوه شيانو مرکب دي او په احصار کې صرف احرام دی کوم چې مفرد دی او مفرد په مرکب باندې مقدم دی.

فوات مفرد استعمال شوی دی او د صلوة په بيان کې فوات له جمع سره ذکر شوی دی، د دې وجه دا بيان شوې ده چې حج په عمر کې يو ځل فرض دی نو ځکه فوت مفرد ذکر شوی، او لمونځ له يوه څخه زيات يعني په ورځ کې پنځه لمنځونه فرض دي نو ځکه د صلوة په بيان کې د جمع لفظ استعمال شوی دی.

وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ	فَفَاتَهُ الْوُقُوفُ بِعَرَفَةَ	حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ		
او چا چې احرام وتړلو د حج	او فوت شو ترې وقوف په عرفه	تردې چې را وخوت فجر		
مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ	فَقَدْ فَاتَهُ الْحَجُّ	وَعَلَيْهِ	أَنْ يَطُوفَ وَيَسْعٰى	
په ورځ د نحر	پس فوت شو ترې حج	او په هغه واجب ده	چې طواف او سعيې وکړي	
وَتَحَلَّلَ	وَيَقْضِيَ الْحَجَّ	مِنْ قَابِلٍ	وَلَا دَمَ عَلَيْهِ	وَالْعُمْرَةُ لَا تَفُوتُ
او حلال شي	او قضائي وکړي د حج	راتلونکی کال	او نشته وينه په هغه	او عمره نه فوت کيږي
وَهِيَ جَائِزَةٌ	فِي جَمِيعِ السَّنَةِ	إِلَّا خَمْسَةَ أَيَّامٍ	يُكْرَهُ فِعْلُهَا فِيهَا	
او هغه روا ده	په ټول کال کې	مگر په پنځو ورځو کې	مکروه دي کول د هغې په هغو کې	
يَوْمَ عَرَفَةَ	وَيَوْمَ النَّحْرِ	وَأَيَّامَ التَّشْرِيقِ	وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ	
په ورځ د عرفې	په ورځ د يوم نحر	په ورځو د تشريق کې	او عمره سنت ده	
وَهِيَ الْإِحْرَامُ	وَالطَّوَافُ	وَالسَّعْيُ		
او هغه احرام ده	طواف ده	او سعيې ده		

خلاصه یو کس د حج احرام وتړلو او له هغه څخه وقوف عرفه فوت شو، تردې چې لسمې نیټې صبح صادق شو نو د هغه حج فوت شو، ځکه چې وقوف عرفه بالاتفاق د حج رکن دی، اوس په هغه باندې واجب دي چې عمره وکړي او حلال شي، او راتلونکی کال د همدغه حج قضائي وکړي، او په هغه باندې د کفارې په ډول دم نه واجبیږي

تشریح د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عمرو شمیر تول څلور دی کومې چې له هجرت وروسته او په ذي القعده قعده میاشت کې اداء شوې دي (اول) عمره حدیبیه (دویمه) عمره قضاء (دریمه) د حجة الوداع په موقع (څلورمه) عمره جعرانه

بَابُ الْهَدْيِ

هدی هغه څاروی کوم چې د الهي تقرب حاصلولو لپاره او د الله تعالی د رضا ترلاسه کولو لپاره حرم ته بوتلل شي، د هدی درې قسمونه دي (اول) ادنی څاروی : او دا د یوه کال بزه، میږه یا د شپږو میاشتو غټ پسه دی (دویم) اوسط : دا د دوه کلونو غوا غویی یا میښه ده (دریم) اعلی : دا د پنځو کلونو اوښ دی، دا باب له قران، تمتع، احصار او جزاء صید وروسته ځکه ذکر کړی شو چې همدا امور ټول د هدی له اسبابو څخه دي ګوا که هدی مسبب دی او سبب مقدم او مسبب مؤخر وي، نو ځکه باب الهدی له ټولو وروسته ذکر کړی شو

اَلْهَدْيُ أَدْنَاهُ شَاةٌ وَهِيَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَنْوَاعٍ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ
د هدی ادنی درجه پسه دی او هغه په درې قسمه څخه ده اوښ غویی پسه
يُجْزِءُ فِي ذٰلِكَ كُلِّهِ الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا إِلَّا مِنَ الضَّأْنِ
کافي دی په دې ټولو کې ثني یا له دې د زیات عمر مګر پسه
فَإِنَّ الْجَذَعَ مِنْهُ يُجْزِءُ فِيهِ وَلَا يَجُوزُ فِي الْهَدْيِ مَقْطُوعُ الْأُذُنِ
چې د هغه جذعه هم کافي ده پکې . او روا نه ده په قربانۍ کې د بشپړ غوږ پرې شوی
وَلَا أَكْثَرِهَا وَلَا مَقْطُوعَةُ الذَّنَبِ وَلَا مَقْطُوعَةُ الْيَدِ وَلَا الرِّجْلِ
او نه د زیات او نه د لکۍ پرې شوی او نه د لاس پرې شوی او نه د پښې پرې شوی
وَلَا ذَاهِبَةُ الْعَيْنِ وَلَا الْعَجْفَاءُ وَلَا الْعَرْجَاءُ الَّتِي لَا تَمْشِي إِلَى الْمَنْسَكِ
او نه د ړانده او نه د انتهائي کمزوري او نه داسې ګوډ کوم چې نشي تللی د قربانۍ ترځایه
وَالشَّاةُ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي مَوْضِعَيْنِ مَنْ طَافَ
او پسه روا دی په هر جنایت کې مګر په دوو ځایونو کې یو دا چې کوم کس طواف وکړي

طَوَافَ الزِّيَارَةِ	جُنُبًا	وَمَنْ جَامَعَ	بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ
طواف زیارت	د جنابت په حالت کې	دویم دا چې جماع وکړي	وروسته له وقوف عرفه
فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ فِيهِمَا		إِلَّا بَدَنَةٌ	
ځکه روا ندي په دې دواړو کې		مګر اوښ	

لغاتو حل: **هدی**: په دې کې دوه لغته دي، بکسر الدال وتشدید الیاء، بسکون الدال وتخفیف الیاء، دواړه لغتونه فصیح دي، د قرباني ځناور، **ثنی**: داسې اوښ کوم چې پنځه کلونه پوره کړي وي او په شپږم کې قدم ایښی وي، هغه غوا د کومې چې دوه کلونه پوره شوي وي په دریم کال کې داخله شوې وي، هغه بزه یا چې یو کال یې پوره شوی وي په دویم کال کې داخله شوې وي، **الضأن**: پسه، **الجذع**: داسې پسه کوم چې د شپږو میاشتو وي، **العرجاء** ګوډ، **المنسك**: د قرباني ځای، مذبح

خلاصه: د هدی (قرباني) درې قسمه ځناور دي: اوښ، غویی او پسه، ادنی پسه او میږه، اوسط غوا، غویی او میښه، اعلی اوښ نر او ښځه، د قرباني لپاره د ځناورانو عمرونه معلوم شوي، بزه، سیرلی، لکۍ دار پسه او میږه به د یو کال وي، لیکن که چیرته میږه او لکۍ دار پسه له شپږو میاشتو زیات وو او له یو کال ځخه کم وو مګر دومره زیات چاغ وو چې د پوره کال معلومیده او د پوره کال له میږو او لکۍ دارو سره که پریښودل شي نو له کال ځخه کم نه معلومیده نو د هغه قرباني هم روا ده، غوا، غویی، میښ او میښه پوره د دوو کلونو کیدل یې ضروري دي او اوښ د پنځو کلونو.

والشاة جائزة في كل شيء الخ: د حج په باب کې چیرته چې وینه واجب شوې نو پسه کافي دی، مګر په دوو ځایونو کې پسه نه کافي کیږي

(۱) که چیرته د جنابت په حالت کې طواف زیارت وکړی شي نو په جرمانه کې د یوه غویي یا اوښ قرباني کول واجبیږي، او د همدې له وجهې سخت ګنهګاریږي او د همدغه طواف راګرځول واجب دي، لهذا که چیرته په ایام نحر کې دننه دننه اعاده وکړي نو د جرمانې قرباني په کلي ډول معاف کیږي، او که چیرته د ایام نحر له تیریدو وروسته اعاده وکړي نو د تاخیر له وجهې د یوه پسه قرباني کول واجبیږي

(۲) که له وقوف عرفات وروسته له طواف زیارت او حلق ځخه مخکې جماع وکړي نو هم په جرمانه کې د یوه اوښ یا غویي قرباني کول واجبیږي

وَالْبَدَنَةُ وَالْبَقَرَةُ	يُجْزِءُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا	عَنْ سَبْعَةِ أَنْفُسٍ
اوښ او غوا	کافي کیدلی شي هر یو له دواړو ځخه	د اوو کسانو له طرفه
إِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَاءِ	يُرِيدُ الْقُرْبَةَ	فَإِذَا أَرَادَ
که وي هر یو په شریکانو کې	چې نیت یې د قربت وي	او که اراده وه

أَحَدُهُمْ بِنَصِيبِهِ اللَّحْمَ	لَمْ يُجْزِ لِلْبَاقِينَ عَنِ الْقُرْبَةِ		وَيَجُوزُ الْأَكْلُ
د يو په خپله برخه کې د غوښې	نو نه کافي کيږي د نورو لپاره له قرباني څخه		او روا دي خوراک
مِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ	وَالْمُتْعَةِ	وَالْقِرَانِ	وَلَا يَجُوزُ الْأَكْلُ
له نفلي قرباني	له تمتع	او له قران قرباني څخه	او روا نه دی خوراک
مِنْ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا	وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ هَدْيِ التَّطَوُّعِ	وَالْمُتْعَةِ	وَالْقِرَانِ
له نورو قربانيو څخه	او روا نه دي ذبحه کول د نفلي قرباني	د تمتع	او قران قرباني
إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ	وَيَجُوزُ ذَبْحُ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا		فِي أَيِّ وَقْتٍ شَاءَ
مگر په يوم نحر کې	او روا دي ذبحه کول د نورو قربانيو		په هر وخت کې چې خوښه شي
وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ الْهَدَايَا	إِلَّا فِي الْحَرَمِ		وَيَجُوزُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا
او روا نه دي ذبحه کول د قربانيو	مگر په حرم کې		او روا دي چې صدقه کړې شي هغه
عَلَى مَسَاكِينِ الْحَرَمِ وَغَيْرِهِمْ			وَلَا يَجِبُ التَّعْرِيفُ بِالْهَدَايَا
په مسکينانو د حرم او نورو باندې			او ضروري نه ده تعريف د قربانيو

د لغاتو حل: **انفس**: د نفس جمع ده، **القربة**: نيک کار، **نصيب**: برخه، **الهدايا**: د دې واحد هدی ده.

التعريف: د قرباني څاروي عرفات ته بيول

تشريح: **والبدنة الخ** که چيرته اووه کسان يوځاى شريکان شي او قرباني يې وکړي بيا هم صحي ده، ليکن شرط دا ده چې هيڅ يوه برخه به اوومې څخه کمه نه وي او د ټولو نيت به د قرباني کولو وي، صرف د غوښې خوړلو نيت به نه وي، که چيرته د کوم يوه برخه له اوومې کمه وه نو هيچا قرباني نه صحي کيږي، همدارنګې که چيرته د کوم يوه نيت د غوښې خوړلو وو نو هيڅ يوه قرباني نه صحي کيږي

ويجوز الاكل: له نفلي قرباني، تمتع او قران څخه په خپله خوراک کول روا بلکې مستحب دي، ځکه چې د قرباني د غوښې خوړل روا دي، له دې پرته د احصار قرباني، د نذر قرباني، د جنايتونو قرباني او د کفاراتو له قربانيو څخه نه په خپله خوراک روا دی او نه يې مالدارانو ته خوراک روا دی، بلکې هغه ټول د فقيرانو حق دی، همدارنګه که چيرته نفلي قرباني حرم ته وليږل شي لومړی يې ذبحه کړي نو د هغې غوښه خوړل ناروا دي

تشريح: د حاجي قرباني د لسم د ذی الحجې تر دوولسم د ذی الحجې په دې کې دننه واجب ده، لهذا که چيرته له لسم مخکې وکړی شي نو قرباني نه صحي کيږي، او که له دوولسم وروسته وکړی شي نو د واجبو د ترک جرمانه لازميږي، کوم کس چې له ميقات څخه صرف د حج احرام تړلی دی نو په هغه باندې هيڅ قرباني واجب نه ده، البته نفلي قرباني کولی شي، د قدوري امام رحمه الله نفلي قرباني

هم په ایام نحر کې دننه یې کول واجب کړي دي، علامه شامي رحمه‌الله ویلې دي چې د نفلي قرباني په ایام نحر کې یې کول بهتر دي، کما ذکره الزیلعي (۱) د کتاب صاحب ویلې دي باقي نورې قرباني ګله چې وغواړي ذبحه کولی یې شي، ځکه چې دا د کفاراتو دم دي، نو ځکه له یوم نحر سره خاص نه دي.

ویجوزان یتصدق الخ د قرباني غوښه د حرم او غیر حرم په مسکینانو باندې صدقه کیدی شي، لیکن د حرم په مسکینانو یې صدقه کول بهتر دي، د امام شافعي په نزد د غیر حرم په مسکینانو باندې صدقه کول روا ندي.

ولایجب التعریف الخ د قرباني ځناور عرفات ته بې بیول واجب نه دي، ځکه چې قرباني نام دی حرم ته د بیولو، چې په هغه کې وینه توی (وبهیول) شي د الله تعالی قرب حاصل کړی شي، د تعریف کولو نوم قرباني نه ده، نو ځکه تعریف واجب نه دي

وَالْأَفْضَلُ فِي الْبُدْنِ النَّحْرُ	وَفِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ	وَالْأَوْلَى
بهتر په اوښانو کې نحر دی	په غوا او پسه کې ذبحه ده	او بهتره دا ده
أَنْ يَتَوَلَّى الْإِنْسَانُ ذَبْحَهَا بِنَفْسِهِ	إِذَا كَانَ يُحْسِنُ ذٰلِكَ	وَيَتَصَدَّقُ
چې وکړي سړی خپله ذبحه په خپله	که په ښه طریقه کولی شوه	او صدقه دې کړي
بِجِلَالِهَا وَخِطَامِهَا	وَلَا يُعْطِي أُجْرَةَ الْجَزَّارِ مِنْهَا	وَمَنْ سَاقَ بَدَنَةً
کنې او تیرسیزې د هغو	او نه دې ورکوي مزدوري د قصاب له دې ځخه	او څوک چې بیایي اوښ

فَاضْطُرَّ	إِلَى	رُكُوبِهَا	رَكِبَهَا	وَإِنْ	اسْتَغْنَى	عَنْ	ذَالِكَ	لَمْ	يَرْكَبْهَا

او محتاج شي سپریدو ته په هغه پرې سپور دې شي او که بې چاره وه له دې ځخه ندې سپریږي پرې

وَإِنْ كَانَ لَهَا لَبَنٌ	لَمْ يَحْلُبْهَا	وَلٰكِنْ يَنْضَحُ ضَرْعَهَا بِالْمَاءِ الْبَارِدِ
او که وي په هغې کې شیدې	نو نه دې لوشي	بلکې وادې اچوي په غولانځ باندې یخې اوبه

حَتَّى يَنْقَطِعَ اللَّبَنُ

تردې چې شیدې یې بندې شي

دلغاتوحل: البدنة: دا بدنه جمع ده، **خطام**: رسی، **لبن**: شیدې، **یحلب**: د شیدو لوشل، **ضرع**: تیونه (غولانځ)

وَمَنْ سَاقَ هَدْيًا	فَعَطِبَ	فَإِنْ كَانَ تَطَوُّعًا	فَلَيْسَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ
څوک چې بیایي قرباني	او هلاکه شي	پس که نفلي وه	نو نشته په هغه باندې دوېمه

(۱) شامي، ج: ۲، ص: ۳۴۴.

متن	ژباړه
وَإِنْ كَانَ عَنْ وَاجِبٍ	او كه واجب وه
فَعَلَيْهِ	شته په هغه
أَنْ يُقِيمَ غَيْرَهُ مَقَامَهُ	چې قائمه كړي دويمه د هغې پر ځاى
وَإِنْ أَصَابَهُ عَيْبٌ كَثِيرٌ	او كه ورته ورسيده زيات عيب
أَقَامَ غَيْرَهُ مَقَامَهُ	قائمه دې كړي دويمه د هغې پر ځاى
وَصَنَعَ بِالْمَعِيبِ مَا شَاءَ	او ودې كړي په عيبجنه چې څه يې خوښه وي
وَإِذَا عَطِبَتِ الْبَدَنَةُ	او كه هلاكه شي بدنه
فِي الطَّرِيقِ	په لاره كې
فَإِنْ كَانَ تَطَوُّعًا	پس كه نفلي وه
نَحَرَهَا	هغه دې نحر كړي
وَصَبَغَ نَعْلَهَا بِدَمِهَا	رنګ دې كړي پيزار خپل د هغې په وينو
وَضَرَبَ بِهَا صَفْحَتَهَا	او ودې وهي په هغې نښانه
وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهَا	او خوراك دې نكوي له هغې
هُوَ وَلَا غَيْرُهُ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ	دى او نه بل څوك له مالدارانو
وَإِنْ كَانَتْ وَاجِبَةً	او كه هغه واجب وه
أَقَامَ غَيْرَهَا مَقَامَهَا	ودې دروي دويمه د هغې پر ځاى
وَصَنَعَ بِهَا مَا شَاءَ وَيُقَلِّدُ هَدْيَ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ	او ودې كړي په هغې چې څه وغواړي او قلاده دې واچول شي په قرباني نفلي تمتع او قران كې
وَلَا يُقَلِّدُ دَمَ الْإِحْصَارِ وَلَا دَمَ الْجِنَايَاتِ	او قلاده دې نه اچول كيږي په دم د احصار او نه په دم د جنايت كې

دلغاتوحل: **عطب**: هلاك كيدل، **المعيب**: عيبجنه، **صنع**: رنګول، **نعل**: د قلاده په معنى كې ده، **ضرب بها**: نښان لګول، **صفحة**: كوهان

تشريح: په دې عبارت كې د كتاب صاحب يوشمير مسئلې ذكر كړې دي

اوله مسئله: **ومن ساق هديا**: كه چيرته كوم كس قرباني بيايي ليكن هغه هلاكه شي، اوس كه چيرته دغه قرباني نفلي وي نو په هغه باندې دويمه قرباني نه واجبيږي، او كه چيرته واجب وي نو په هغه باندې د هغې پر ځاى دويمه واجبيږي، ځكه چې واجب د هغه په ذمه باقي دي، او كه چيرته د قرباني په څناور كې داسې عيب پيدا شو د كوم له امله چې د هغې قرباني كول نه صحي كيدل نو هم دې د هغې پر ځاى دويمه قرباني قائمه كړي، ځكه چې د همداسې عيب په صورت كې قرباني نه اداء كيږي، كومه قرباني چې عيبجنه ده په هغې چې څه غواړي هغه دې وكړي، په هغې كې د هر ډول تصرف كولو اختيار دى

دوېمه مسئله: **واذا عطبت البدنة الخ**: قرباني كه چيرته له خپل ځاى يعني حرم مځكې هلاكه شي نو څه دې وكړى شي؟ د همدې بيانولو لپاره مصنف رحمه الله دغه عبارت راوړى دى، چنانچه فرمايي كه چيرته هغه

نفلي قرباني وه نو هغه دې ذبحه کړی شي نو د هغې په وینو کې دې نعل (پیزار) یا د غرمنې کومه ټوټه چې په غاړه کې اچول شوې ده، لمده کړي په کو دې واچول شي ترڅو چې خلکو ته معلومه شي چې دا قرباني ده، بیا د همداسې قرباني په باره کې د حنفیانو مذهب دا ده چې له هغې څخه په خپله خوراک کول او مالدارانو ته یې خوړل روا نه دي، بلکې هغه صرف فقیران خوړلی شي. البته که چیرته دغه قرباني واجب وه نو د هغه په ذمه ضروري ده چې د هغې پر ځای دویمه هدی قرباني کړي او دغه قرباني د هغه ملکیت شوه، چنانچه د هغې په خپله خوړل، په مالدارانو او فقیرانو باندې یې خوړل هر ډول تصرف اختیار ور لره شته دی. د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ مذهب هم همدا دی.

د حنفیانو دلیل : د نفلي څناور په اخیستلو سره هغه د ذبحې لپاره متعینه شوې ده، لهذا د هغې په ثواب کې مصرف کول ضروري دي، او د دې طریقه دا ده چې په فقیرانو باندې وخوړل شي، د مالدارانو په خوړلو سره همدغه مقصد نه حاصلیږي، په خلاف د واجب قرباني چې هغه په اخیستلو سره نه متعینه کیږي، بلکې د هغې پر ځای دویم څناور هم قرباني کیدلی شي. لهذا همدغه څناور په متعین ډول د قربت لپاره خاص نشو انتهی

دویم مذهب : د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد حکم دا ده چې که چیرته هغه نفلي قرباني وي نو په هغې کې هغه لره د هر ډول تصرف کولو اختیار دی. برابره ده که خرڅوي یې او که ذبحه کوي یې، په خپله یې خوري او که په بل چا یې خوري، او که چیرته هغه نذري قرباني وه نو د هغه ملکیت له هغې څخه زائل شو. اوس هغه صرف د مسکینانو حق دی. لهذا نه د هغې خرڅول روا دي او نه یې له بل څناور سره بدلول.

دریمه مسئله : ویقلد هدی التطوع الخ : د نفلي، تمتع یا قران د قرباني څناور یعنې د اوښ یا غویي په غاړه کې دې د پیزار یا د غرمنې ټوټه اچول پکار دي، لیکن محصر چې د قرباني څناور حرم ته لیږي یا په حج کې دننه د کوم جرم له وجهې چې کومه قرباني لازمه شوې د هغو تقلید (یعنې په غاړه کې دې) نه ور اچوي. ځکه چې په دې سره د جرم شهرت کیږي کوم چې روا نه دی، او د احصار دم د نقصان د تلافي کولو لپاره دي، نو هغه دې هم له خپل جنس سره پیوسته کړل شي.

كِتَابُ الْبُيُوْعِ

د خرڅولو او اخيستلو بيان

د اسلام له نظره د انسان د عملي ژوند دوه محوره دي، يو حقوق الله دي كوم ته چي عبادت ويل كيږي، او بل حقوق العباد دي كوم ته چي معاملات ويل كيږي، همدا دواړه د انساني ژوند د ټولو قواعدو او اصولو اساس او بنياد دي، په دي دواړو كي حقوق الله ته عموميت حاصل دى د كوم تعلق چي د بشر له هر فرد سره دى نو ځكه هغه مخكي بيان كړى شول، او اوس دلته د هغو شيانو بيان كيږي د كومو تعلق چي له خالص معاملاتو سره دى، يعني بيع شفعه وغيره او نكاح كومه چي من وجه عبادت او من وجه معامله ده هغه په اخير كي بيانولى شي، البته د هدايه صاحب نكاح عبادت ګڼلي ده او په بيع باندي مقدم كړي ده

بيوع د بيع جمع ده دا مصدر دى د كوم چي تثنيه او جمع نده راغلي، ليكن دلته د جمع صيغي استعمال له دوو وجهو شوى دى (اول) بيع د مبيع اسم مفعول په معنى كي ده او د مبيع ډير اقسام دي (دويم) د بيع ډير اقسام دي، ګواكه د مبيع يا د بيع ډير اقسام د جمع صيغي د استعمال سبب دي

د بيع لفظ له اضداد څخه دى يعني د خرڅولو او اخيستلو دواړو لپاره استعمال شوى دى، همدارنګه شراء او اشتراء لفظونه هم له اضداد څخه دي، د بيع لغوي معنى ده (مبادلة الشئ بالشئ) برابره ده كه مال وي او كه نه وي، د شريعت په اصطلاح كي (مبادلة المال بالمال بالتراضى بطريق التجارة) ته ويل شوي دي، يعني د خپل منځي رضا له امله د تجارت په طريقه د مال په بدل كي اخيستل، په دي تعريف كي د بالتراضي په قيد سره بيع مكروه ووتله، همدارنګه د بيع نافذ بيانول مقصود دي، او د بطريق التجارة په قيد سره بشرط العوض ووتله، ځكه چي په هبه بشرط العوض كي هم مبادله د مال په مال سره ده خو بطريق التجارة نده، او له مبادله څخه تمليك مراد دى.

د مال په تعريف كي د فقهاؤ عبادتونه مختلف دي، صاحب بدائع علامه كاساني له ټولو غوره تعريف كړى دى، هر هغه شى له كوم چي حقيقةً ګټه ترلاسه كيدى شي او ګټه يې روا وي

د بيع بنياد په دريو شيانو باندي دى (اول) عقد بيع، يعني نفس معامله د يوه كس لخوا يې خرڅول او د بل كس لخوا يې اخيستل (دويم) مبيع، يعني كوم شى چي خرڅ كړى شي برابره ده كه هماغه شى معنوي ولي نه وي مثلا برقي قوت، هوا، ګيس، انساني آواز وغيره (دريم) ثمن : يعني قيمت، د همدي دريو په اعتبار سره په فقهي ډول د بيع اقسام بيان شوي دي

د عقد بيع په اعتبار سره د بيع څلور اقسام دي : (اول) نافذ (دويم) موقوف (دريم) فاسد (څلورم) باطل، د همدي څلورو واړو تفصيل را روان دى

الْبَيْعُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ
بيع منعقده كيږي په ايجاب او قبول سره
إِذَا كَانَا بِلَفْظِ الْمَاضِي
كله چي وي د فعل ماضي په صيغه سره

فَإِذَا أَوْجَبَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ	الْبَيْعَ	وَالْآخَرُ بِالْخِيَارِ
او کله چې ایجاب وکړي یو له متعاقدینو	د بیع	نو دویم ته اختیار دی
إِنْ شَاءَ قَبِلَ	فِي الْمَجْلِسِ	وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ
که وغواړي قبول دې کړي	په مجلس کې	او که وغواړي نو رد دې کړي

خلاصه: اذا كان بلفظ الماضي د بیع متحقق په ایجاب او قبول سره کیږي، یعنې چې یو انسان ووايي چې ما واخیست او بل ووايي چې ما خرڅ کړو نو اوس په ایجاب او قبول سره بیعه منعقده شوه. لیکن شرط دا دی چې همدغه دواړه کلمات به په فعل ماضي سره وي، ځکه چې په معاملاتو کې د خبرو پخیدل ضروري دي او د فعل ماضي په استعمال سره خبره پخیږي نو ځکه د خبرې پخیدو لپاره به د فعل ماضي صیغه استعمالیږي. مثلاً یو ووايي بعتُ ما خرڅ کړی دی هغه بل ورته ووايي اشتریتُ ما اخیستی دی.

ان شاء قبل في المجلس وان شاء ردّه: د یو د بیع له ایجاب کولو وروسته دویم ته اختیار دی که غواړي قبول دې کړي او که غواړي رد دې کړي. لیکن د قبول کولو اختیار د مجلس تر پایه پورې دی. د مجلس له ختمیدو وروسته د قبول کیدو اختیار نشته. ځکه که چیرته د مجلس له ختمیدو وروسته د قبول کیدو اختیار ورکړی شي نو ایجاب کوونکی به په ډیر اوږده انتظار کې ولویږي په کوم سره چې هغه ته تکلیف دی، او د مجلس تر ختمیدو پورې د قبول اختیار له دې وجهې دی چې که چیرته فوراً د قبول کولو شرط ولګول شي نو قبول کوونکي ته به د سوچ کولو موقع هم پیدا نشي. له همدې وجهې شریعت مطهره د دواړو مراعت ساتلی دی، په مجلس یې دار ومدار ایښی. دغه قبول ته خیار قبول ویل کیږي

فَأَيُّهُمَا قَامَ	مِنَ الْمَجْلِسِ	قَبْلَ الْقَبُولِ	بَطَلَ الْإِيجَابُ
پس هر یو چې پورته شي	له مجلس څخه	مخکې له قبول څخه	باطل شو ایجاب
فَإِذَا حَصَلَ الْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ	لَزِمَ الْبَيْعُ	وَلَا خِيَارَ	لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا
کله چې ترلاسه شي ایجاب او قبول	لازمه شوه بیعه	او نشته اختیار	په دوی کې کوم یو ته
إِلَّا مِنْ عَيْبٍ أَوْ عَدَمِ رُؤْيَةٍ	وَالْأَعْوَاضُ الْمُشَارُ إِلَيْهَا		لَا يُحْتَاجُ
مګر د عیب او نه لیدو	او د عوض شی چې اشاره شوې وي هغه ته		ضرورت نشته
إِلَى مَعْرِفَةِ مِقْدَارِهَا	فِي جَوَازِ الْبَيْعِ		
پیژندلو د مقدار د هغه.	په روا والي د بیع کې		

تشریح: قام من المجلس له متعاقدینو څخه د یو له ایجاب وروسته که چیرته له دوی څخه کوم یو له قبول کولو مخکې پورته شو نو ایجاب باطلیږي، او د قبول کولو اختیار باقي نه پاتې کیږي. ځکه د قبول کولو

اختیار تر مجلس پورې دی تو څکه د مجلس له ختمیدو وروسته د قبول اختیار نشته دی، او ایجاب ختمیږي څکه چې له مجلس څخه پورته کیدل له ایجاب څخه د اعراض دلیل دی، او هر هغه عمل کوم چې په اعراض باندې دلالت کوي په هغه سره هم مجلس ختمیږي، او ایجاب باطلیږي، د بیلګې په توګه له ایجاب وروسته قبول کوونکی په مجلس کې په کوم بل کار کې مشغول شو، لکه خوراک څښاک، خبرې کول، لمونځ کول، لیکنه وغیره وغیره

والاعواض الخ: له الاعواض څخه مراد مبیعه او ثمن دي کوم چې په بدل کې ورکول کیږي، د کومو طرفته چې اشاره شوې وي او که نوې شوې، که چیرته مبیعه یا ثمن مخته موجود وو او د بیع کولو په وخت کې د هغه طرفته اشاره شوې وه نو د بیع په روا کیدو کې د هغه پیژندلو ته هیڅ ضرورت نشته چې د هغه مقدار څومره دی؟ څومره کیلو دی؟ څومره یې شمیر دی؟ د هغه له متعین کولو پرته هم بیعه روا کیږي، څکه چې اشاره د شناخت لپاره کافي ده، په همداسې صورت کې د بائع او مشتري په مینځ کې د اختلاف هیڅ ویره نشته. د بیلګې په توګه خریدار ووایي چې ما د دغه شي دغه ډیران د پیسو په عوض کې اخیستی دی کوم چې زما په لاس کې ده نو دغه بیعه روا ده حالانکه د همدغه شي او د پیسو مقدار معلوم نه دی بیا هم بیعه روا ده

په دغه سلسله کې ظابطه دا ده چې کوم جهالت د نزاع باعث وي هغه د جواز بیع لپاره مانع دی، او کوم جهالت چې د نزاع باعث نه وي هغه د جواز بیع لپاره مانع نه دی

وَالْأَثْمَانُ الْمُطْلَقَةُ	لَاتَصِحُّ إِلَّاأَنْ تَكُونَ مَعْرُوفَةَ الْقَدْرِ	وَالصِّفَةِ
او مطلق ثمن	صحیح نه دي مګر دا چې معلوم شي د هغو مقدار	او صفت
وَيَجُوزُ الْبَيْعُ	بِثَمَنٍ حَالٍّ أَوْمُؤَجَّلٍ	إِذَاكَانَ الْأَجَلُ مَعْلُومًا
او روا ده بیع	په روپیو نقد او قرض سره	کله چې نیټه معلومه وي
وَمَنْ أَطْلَقَ الثَّمَنَ	فِي الْبَيْعِ	كَانَ عَلَى غَالِبِ نَقْدِ الْبَلَدِ
او چا چې مطلق کړل ثمن	په بیع کې	محمولیږي په غالب روپیو د ښار باندې
فَإِنْ كَانَتِ النُّقُودُ مُخْتَلِفَةً	فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ	إِلَّاأَنْ يُبَيِّنَ أَحَدَهَا
او که وي روپۍ مختلفې	نو بیعه فاسده ده	مګر دا چې بیان کړې وي کومه یوه

د لغاتو حل: **الاثمان المطلقة**: داسې روپۍ، کومو ته چې اشاره شوې وي، **حال**: له حول څخه مشتق دی په معنی د نقد. **اجل**: نیټه، میعاد. **النقود**: د نقد جمع ده سکه

تشریح: په دې عبارت کې پوشمیر مسئلې بیان شوي دي

مسئله : ومن اطلق الثمن البلد د مثال په ذكر كولو سره وربانديې پوهه شي، په يوه ښار كې بخاري او سمرقندي دواړه سكه رواج دي او د دواړو ماليت برابر دی، نو په داسې صورت كې كه چيرته ثمن مطلق ذكر كړی شي يعنې چې مقدار يې بيان كړي خو صفت يې بيان نكړي مثلاً مشتري ووايي چې ما دغه شی په لس درهم اخيستی خو دا يې ونه ويل چې دا درهم بخاري دي او كه سمرقندي، نو په دغه صورت كې په كوم ښار كې بيعه شوې ده هلته چې كومه سكه رواج ده هغې لره اعتبار دی

مسئله د ثمن اداء كولو نيټه معلومه نه شوه نو مشتري د ثمن په وركولو كې ټال مټال كوي او جګړه كوي. له همدې وجهې د بيع كولو په وخت كې د ثمن وركولو نيټه معلومول پكار دي. د نقد او قرض دواړه بيع له دې امله روا دي چې په آيت كې د مطلق بيع لپاره ويل شوي (احل الله البيع وحرم الربوا) په دې كې د نقد او قرض هيڅ قيد نشته دی. نو ځكه دواړه قسمه روا دي

مسئله كه چيرته په كوم ښار كې مختلفې سكې رواج وي او د بيع كولو په وخت كې هيڅ يوه معلومه نكړی شوه نو كه چيرته د كومې يوې سكې رواج زيات وو نو هماغه سكه به مراد كيږي. ځكه د كومې رواج چې زيات كيږي د بيع كولو په وخت كې د دواړو ذهن د هغې طرفته ځي، نو ځكه هغه مراد كيږي، او بيع صحي كيږي، د بېلګې په توګه په دهلي كې مختلفې سكې چليږي په كوم كې چې له هندوستاني سكې پرته، پاكستاني، نيپالي او د اندونيشي روپۍ هم شاملې دي. اوس كه يو چا د بيع كولو په وخت كې وويل چې ما په پنځلس روپۍ خرڅ كړ نو له هغو څخه هندوستاني روپۍ مراد كيږي. ځكه چې همدغه روپۍ مشهورې دي، ليكن كه چيرته د ټولو سكو رواج برابر وو او د هرې يوې ماليت مختلف دی نو اوس د جهالت له وجهې بيعه فاسديږي، ځكه چې بائع اعلى سكه غواړي او مشتري د ادنی سكې وركول غواړي او سكه هيڅ معلومه نه ده. جګړه راځي او بيع فاسديږي، هو! د جواز يو شكل شته دی چې كه چيرته هغه د همدغه مجلس له ختميدو مخكې د كومې يوې سكې نښاندهي كړې وي نو همغه سكه متعينه شوه بيعه روا كيږي

مسئله : واضحه دې وي چې ثمن هغه ته ويل كيږي كومې چې د عاقدينو په مابين كې معلومې كړی شي او قيمت هغه دی كوم چې د قيمت لګوونكي مقرر كړي. اعيان (شيان) په دری قسمه دي (اول) نقود : يعني درهم دنانير، زموږ په زمانه كې نوټ، روپۍ او پيسه (دويم) سلعه : مثلاً كپړه، څناور، كورونه وغيره (دريم) مقدورات : مثلاً كيلي شيان، وزني شيان، تفصيل يې وړاندې راتلونكی دی.س

وَيَجُوزُ	بَيْعُ الطَّعَامِ	وَالْحُبُوبِ كُلِّهَا	مُكَايَلَةً	وَمُجَازَفَةً	وَبِإِنَاءٍ بِعَيْنِهِ
روا ده	بيع د غلې	او د دانو ټولې	چې وتلل شي	او په اټكل سره	او په معلوم لوښي سره
لَا يُعْرَفُ مِقْدَارُهُ		أَوْ بِوَزْنِ حَجَرٍ بِعَيْنِهِ		لَا يُعْرَفُ مِقْدَارُهُ	
چې معلوم نوي مقدار يې		يا په وزن د كاڼي معلوم سره		چې معلومه نه وي اندازه يې	

د لغاتو حل **الطعام** غنم او د هغو اوره مراد دي، **حبوب** له غنمو پرته نورې غلې مراد دي لکه دال، چنه، باجره وغیره، **مکایلة** تول کول، **مجازفة** په اندازه سره له تول پرته په وزن سره خرڅول

خلاصه دلته څو مسئلې ذکر شوې دي

مسئله **ویجوز بیع الطعام مجازفة** : د مبیع مقدار معلوم نه دی صرف په اټکل سره خرڅه شي نو هم روا دي، لیکن په هغه وخت کې روا کیږي کله د هغه په خلاف جنس سره خرڅ کړی شي. لکه غنم چې په اوربشو په عوض کې خرڅ کړی شي، او که چیرته د هغه د جنس په عوض کې په اندازې سره خرڅ کړی شي نو دا ناروا ده ځکه چې په دې کې د سود احتمال دی

مسئله **وبإناء الخ** یعنې په لوښي سره دې تول کړی شي او خرڅ دې کړی شي، مثال یوه کس وویل په یوه روپۍ باندې لس بالټۍ دکې غنم درکوم، یا کاڼی یې را واخیست او وې ویل د دې د وزن برابر غنم په یوه روپۍ درکوم نو داسې کول روا دي

مسئله یو لوښی دی د کوم چې وزن یا تول معلوم نه دی چې په دې کې څومره غنم ځائیږي، لیکن د بائع او مشتري ترمینځ دا فیصله وشوه چې د هر ډک لوښي په عوض کې پنځوس روپۍ درکووم نو دغه بیعه روا کیږي

مسئله یو کاڼی دی د کوم چې مقدار معلوم نه دی چې څو کیلو وزن یې دی، بیا هم د دواړو ترمینځ دا پریکړه وشوه چې د هر کاڼي د وزن په عوض کې به شل روپۍ درکووم نو بیعه روا کیږي

دغه خبره هم په ذهن کې ساتل پکار دي چې دغه لوښی به د اوسپنې، لرګي یا داسې شي څخه جوړ شوی وي چې په هغه کې به د کمیدو زیاتیدو احتمال نه وي، همدارنګه په کاڼي کې به د ماتیدو احتمال نه وي، که چیرته همدغه احتمال پکې وي نو بیع نه صحي کیږي

وَمَنْ بَاعَ صُبْرَةَ طَعَامٍ	كُلَّ قَفِيزٍ بِدِرْهَمٍ	جَازَ الْبَيْعُ	فِي قَفِيزٍ وَاحِدٍ
او چا چې خرڅ کړ توبی د غلې	هر قفیز په یو درهم	روا کیږي بیعه	په یوه قفیز کې
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ	وَبَطَلَ فِي الْبَاقِي	إِلَّا أَنْ يُسَمِّيَ جُمْلَةَ قُفْزَانِهَا	
په نزد د امام ابوحنیفة رحمه الله	او باطلیږي په نورو کې	مکر دا چې معلوم کړي تول قفیزان	
وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ	يَصِحُّ فِي الْوَجْهَيْنِ		
او ویلي دي صاحبینو	صحیح ده په دواړو صورتونو کې		

د لغاتو حل **صبرة** : د غلې توبی (ګوته - ډیران) کومه چې وزن یا تلل شوې نه وي، **قفیز** : په لغت کې د دې هیڅ مقدار ندی بیان شوی، او د ځینو خبره ده چې دا د کیل یوه پیمانه ده په کومه چې دولس صاعه وي، قفزان د قفیز جمع ده.

د مسئلې تشريح او اختلاف: د غلې يو توبې دی ليکن د ټولې غلې قيمت په يوه وخت نه دی لګول شوی او نه دا معلومه ده چي په توبې کې څو کيلو غله ده او د هغو مجموعه قيمت څومره روپۍ دي، د دې معلومات له ناپ کولو وروسته لګيږي په داسې صورت کې بائع ويلې دي چي هر قفيز د يوه درهم دی نو د امام اعظم ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف په يوه قفيز کې بيعه روا کيږي، ځکه چي مبيعه او ثمن دواړه مجهول دي، ځکه چي تر اوسه د ټول توبې نه مقدار معلوم دی او نه د هغه ټول قيمت معلوم دی، نو ځکه د ادنی طرفته ورګرځي او د يوه قفيز بيعه کيږي.

هو، که چيرته ټول توبې ناپ کړی شي او د هغه ټول قيمت هم ووايي او په هغه باندې په وروسته کې متعاقدين راضي شي نو اوس د ټول توبې بيعه روا کيږي. د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ قاعده دا ده چي له ايجاب او قبول مخکې بشپړه مبيعه او د هغې ټول قيمت معلومول ضروري دي، که چيرته د ټول توبې مقدار مجهول وو نو خرڅول يې منع دي

صاحبينو ويلي دي چي ناپ کول او د ټول توبې مقدار او د هغه د ټول قيمت معلومول د بائع او مشتري په لاس کې دي، هغه دې فوراً ناپ کړی شي او قيمت دې معلوم کړی شي او د مجلس له ختميدو مخکې که دغه کار وکړی شي نو هيڅ جګړه به نه وي، نو ځکه په دواړو صورتونو کې بيعه صحيح دی.

وَمَنْ بَاعَ قَطِيعَ غَنَمٍ	كُلَّ شَاةٍ بِدِرْهَمٍ	فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ فِي جَمِيعِهَا	
اوچا چي خرڅه کړه رمه د پسونو	هر پسه په يوه درهم	نو بيع فاسده ده په ټولو کې	
وَكَذَٰلِكَ مَنْ بَاعَ ثَوْبًا	مُذَارَعَةً	كُلَّ ذِرَاعٍ بِدِرْهَمٍ	وَلَمْ يُسَمِّ
او همدا رنګه چا چي خرڅ کړه کپړا	د ګزونو په حساب	هر ګز په يوه درهم	او معلوم يې نکړل
جُمْلَةَ الذُّرْعَانِ	وَمَنْ بَاعَ صُبْرَةَ طَعَامٍ	عَلَىٰ أَنَّهَا مِائَةُ قَفِيزٍ	
ټول ګزونه	او چا چي خرڅه کړ توبې د غلې	په دې شرط چي سل قفيزه دي	
بِمِائَةِ دِرْهَمٍ	فَوَجَدَهَا	أَقَلَّ مِنْ ذَٰلِكَ	كَانَ الْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ
په سلو درهمو	بيا وموندل مشتري هغه	کم له دې څخه	دی مشتري اختيار لرونکی
إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْمَوْجُودَ	بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ	وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ	
که وغواړي وادې خلي موجوده غله	د برخې په روپيو	او که غواړي بيعه دې فسخه کړي	
فَإِنْ وَجَدَهَا	أَكْثَرَ مِنْ ذَٰلِكَ	فَالزِّيَادَةُ لِلْبَائِعِ	
او که يې پيدا کړه	زياته له هغې څخه	نو زيات د بائع لپاره دی	

د لغاتو حل: **قطيع**: رمه، **غنم**: ميږې او بزې، **مذارعة**: پيمائش، **ذرعان**: د زراع جمع ده ګز.

بيان کړي دي

تشريح په دې عبارت کې د کتاب صاحب څو مسئلې بيان کړي دي

مسئله يو چا د ميږو يوه رمه خرڅه کړه او وې ويل چې هر يو پسه د يوه درهم په عوض کې دی، نو د امام صاحب رحمه الله په نزد په يوه پسه کې هم بيعه نه روا کيږي، ځکه ځينې پسونه چاغ وي او ځينې مانده (کمزوري)، له همدې وجهې که چيرته د يوه پسه بيعه روا کړی شي نو جګړه به جوړه شي، بائع به غواړي چې کمزوري ورکړي او مشتري به چاغه غواړي، نو ځکه په يوه پسه کې هم صحي نشوه، او د ټولې رمې بيعه له دې وجهې نه صحي کيږي چې د ټولې رمې شمير (تعداد) معلوم نه ده.

مسئله د پسونو د رمې او د غلې د ټوټې په حکم کې توپير د فرق (توپير) وجه دا ده چې هر پسه له بل پسه څخه په وزن، قيمت، قوت او ضعف کې جلا وي، که چيرته هغه په بيع کې معلوم نکړی شي نو دغه جهالت (نه معلومول) مفضی النزاع کيږي (يعني خبره جګړې ته رسيږي) کومه چې ممنوع ده، او د غنمو ټول اجزاء برابر وي، هلته د اجزاؤ جهالت (نه معلومول) د جګړې باعث نه جوړيږي له همدې وجهې د هغو بيعه صحي کيږي

په ذکر شوې مسئله کې د صاحبينو مذهب دا ده چې د پسونو (بزو) په ټوله رمه کې بيعه روا ده، ځکه مبيعه او ثمن اګر که مجهول (نامعلوم) دي ليکن د جهالت ليرې کول د متعاقدينو په لاس کې دي، په دې ډول چې د رمې پسونه دې شمار کړی شي

مسئله که چيرته د غلې مقدار له اصل څخه زيات شو نو په دې صورت کې زيادت بائع ته سپارل کيږي، ځکه چې زيات مقدار په عقد کې داخل ندی.

مسئله يو چا د رخت تان خرڅ کړ او وې ويل چې هر ګز د يوه درهم په عوض کې دی او ټول ګزونه يې بيان نکړل نو د ټول تان بيعه له دې وجهې ونشوه چې نه د هغه بشپړ مقدار معلوم دی او نه يې مجموعي قيمت معلوم دی، او د يوه ګز بيعه له دې وجهې ونشوه چې په هر ګز کې تفاوت دی، بائع به خراب ورکوي او مشتري به اعلی ګز غواړي، د جګړې له امله د يوه ګز بيعه هم ونشوه.

مسئله د نن صبا په څير بشپړ تان که په يوه اندازه وي نو د يې، ګز بيعه بيا کيږي، يا دوباره بشپړ تان ناپ کړي د بشپړ تان بيعه وکړي بيا هم له نوې سره د رضامندي له وجهې د بشپړ تان بيعه روا کيږي

وَمَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا — او چا چې واخيسته کپړا
عَلَى أَنَّهُ عَشَرَةُ أَذْرُعٍ — په دې شرط چې هغه لس ګزه ده
بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ — په لس درهم
أَوْ أَرْضًا — يا زمکه
عَلَى أَنَّهَا مِائَةُ ذِرَاعٍ — په دې شرط چې سل ګزه ده
بِمِائَةِ دِرْهَمٍ — په سل درهمه
فَوَجَدَهَا — بيا يې پيدا کړه هغه
أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ — کمه له دې څخه
فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ — نو مشتري لره اختيار دی
إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِجُمْلَةِ الثَّمَنِ — که چيرته وغواړي وادې اخلي په پوره قيمت
وَإِنْ شَاءَ — او که وغواړي

تَرَكَهَا وَإِنْ وَجَدَهَا أَكْثَرَ مِنَ الذِّرَاعِ الَّذِي سَمَّاهُ فَهِيَ لِلْمُشْتَرِي

پرې دې ایږدي او که یې پیدا کړه زیاته له هغو ګزونو کوم چې معلومه وه نو هغه د مشتري ده

وَلَا خِيَارَ لِلْبَائِعِ وَإِنْ قَالَ بِعْتُكَهَا عَلَى أَنَّهَا مِائَةُ ذِرَاعٍ

او اختیار نشته بائع لره او که وې ویل خرڅه مې کړه په تا په دې شرط چې دا سل ګزه ده

بِمِائَةِ دِرْهَمٍ كُلُّ ذِرَاعٍ بِدِرْهَمٍ فَوَجَدَهَا نَاقِصَةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ

په سل روپۍ بانديې هر ګز په یوه درهم بیا یې پیدا کړه کمه پس هغه لره اختیار دی

إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِحِصَّتِهَا مِنَ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهَا وَإِنْ وَجَدَهَا

که وغواړي وادې اخلي د برخې په روپیو او که وغواړي پرې دې ایږدي او که یې پیدا کړه

زَائِدَةً كَانَ الْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْجَمِيعَ كُلَّ ذِرَاعٍ

زیاته دی مشتري لره اختیار که وغواړي وادې اخلي ټوله هر ګز

بِدِرْهَمٍ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ وَلَوْ قَالَ بِعْتُ مِنْكَ هَذِهِ الرِّزْمَةَ

په یوه درهم او که وغواړي بیعه دې فسخه کړي او که وې ویل خرڅ مې کړ په تا باندې دا بوج

عَلَى أَنَّهَا عَشَرَةُ أَثْوَابٍ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ كُلُّ ثَوْبٍ بِعَشَرَةٍ فَإِنْ وَجَدَهَا

په دې شرط چې په دې کې لس جامې دي په سل روپۍ هره جامه په لس که یې پیدا کړه هغه

نَاقِصَةً جَازَ الْبَيْعُ بِحِصَّتِهِ وَإِنْ وَجَدَهَا زَائِدَةً فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ

کمه روا ده بیعه د هغې د برخې مطابق او که یې پیدا کړه زیاته نو بیعه فاسدېږي

تشریح: د یو شمیر بنیادي خبرو زده کول ضروري دي، کومې چې په بحث کې مرسته درسره کولی شي، هغه د اصل او وصف په مینځ کې فرق کول دي

اصل: که چیرته کوم شی په ټوټه کیدو سره عیبجن کیده نه نو په هغه کې کمي یا زیاتي ته اصل ویل کیږي، لکه کیلي او وزني شیان چې په همدغو کې کمي یا زیاتي اصل دی

وصف: که چیرته کوم شی په ټوټه کیدو سره عیبجن کیده نو په هغه کې کمي یا زیاتي ته وصف ویل کیږي. لکه په پیمانشي شیانو کې ګز وصف دی. دویمه خبره دا ده چې د وصف په مقابل کې جلا کوم قیمت نشته دی او د اصل په مقابل کې قیمت شته دی، اوس اصل مسئله زده کړئ. یوه کس رخت (کپړا) په دې شرط واخیسته چې دغه لس ګزه د لسو درهمو بدل دی، یا یې زمکه په دې شرط واخیسته چې دا سل ګزه د سلو درهمو عوض دی، لیکن کله یې چې ناپ کړل نو هغه له بیان شوي ګزونو څخه کمه شول، په زمکه او رخت کې په ګز سره ناپ کول یو وصف دی، او د وصف په مقابله

کې جلا هيڅ قيمت نشته دي، له همدې وجهې لس گزه يا سل گزه صرف د ترغيب لپاره دي، د هر گز په عوض کې يو درهم نشو، گوا که د بشپړ تان قيمت لس درهمه دي او د بشپړې زمکې قيمت سل درهمه دي، برابره ده که په تان يا زمکه کې گز زيات شي که کم. له همدې وجهې که چيرته مشتري يې اخيستل غواړي نو پوره لس درهمه او سل درهمه دې ورکړي پوره تان او پوره د زمکې ټوټه دې واخلي، که گز کمه وي که زياته. ليکن د کم گز په صورت کې د خريدار رغبت کم وي نو له همدې وجهې هغه ته يې د پرېښودلو اختيار هم شته دي، او که چيرته زمکه يا رخت له مقرر شويو گزونو څخه زيات شول نو دغه زياتي د مشتري لپاره کيږي، او بائع لره د منع کولو اختيار ځکه نشته چې گز يو وصف دي او د وصف په مقابله کې د ثمن هيڅ برخه نه راځي، له همدې وجهې د گز په زياتيدو سره په ثمن کې زياتوالي نه راځي، پرته د غنمو له مسئلې که چيرته هلته له مقرر شوي مقدار څخه زيات راووځي نو د بائع کيږي، ځکه چې په کيلي شيانو کې کمي او زياتي اصل دي او د اصل په مقابل کې قيمت اداء کيدلی شي

په پورته ذکر شوي عبارت کې پوشمير مسئلې بيان شوې دي:

مسئله په جامه او زمکه کې گز صفت دي، ليکن که چيرته وصف اصل جوړ کړی شي نو د هغه په مقابل کې جلا قيمت دي، دلته کله چې بائع داسې وويل چې هر گز د يوه درهم په عوض کې نو هر گز اصل جوړ کړی شو اوس د هر گز په عوض کې يو درهم شو، لهذا هر څو گزه چې شي هومره درهم لازميږي، که کمه شي په هماغه حساب سره کم او که زياته شي په هماغه حساب سره زيات درهم لازميږي، البته د گز کميدو په صورت کې مشتري ته د وعدې مطابق زمکه پيدا نشوه نو ځکه هغه لره د اخيستو او نه اخيستو اختيار دي.

مسئله ولوقال بعت الخ په يوه بوج کې لس تانه کپړا وه او د هر تان جلا جلا انداز وو، بائع وويل چې په دې شرط باندې ټول بوج خرڅوم چې لس تانه جامې دي او هر تان په لس درهمه دی، اوس که په بوج کې لس تانه وختل نو مشتري دې د نهو تانونو نهه درهم ورکړي او دا چې جامې کمې دي له همدې وجهې انتخابولو ته يې کوم ضرورت نه پېښيږي او هيڅ جگړه هم نه پېښيږي، او که چيرته يوولس جامې وختلې نو د يوې جامې په انتخاب کې اختلاف پېښيږي، مشتري به غوره ﴿ښه﴾ غواړي او بائع به کمزورې ورکوي، جنگ جگړه به جوړ شي، نو ځکه په همدې صورت کې بيعه فاسديږي

دَخَلَ بِنَاؤُهَا فِي الْبَيْعِ		وَمَنْ بَاعَ دَارًا
داخليږي عمارت د هغه په بيعه کې		او څوک چې خرڅ کړي کور
وَمَنْ بَاعَ أَرْضًا	وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِ	
او که چا خرڅه کړه زمکه	اگر که يې نوم نه وي اخيستی	
		دَخَلَ مَا فِيهَا مِنَ النَّخْلِ وَالشَّجَرِ
		داخليږي په هغې کې د کجورو ونې او نورې ونې
وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِ	فِي الْبَيْعِ	
اگر که يې نوم نه وي اخيستل شوی	په بيعه کې	

وَلَايَدْخُلُ الزَّرْعُ فِي بَيْعِ الْأَرْضِ	إِلَّا بِالتَّسْمِيَةِ	وَمَنْ بَاعَ نَخْلًا
او نه داخلیږي فصل په بیعه د ځمکې کې	مګر د نوم په اخیستلو سره	او چا چې خرڅې کړې د کجورو ونې
أَوْشَجَرًا فِيهِ ثَمَرَةٌ	فَثَمَرَتُهُ لِلْبَائِعِ	إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَهَا الْمُبْتَاعُ
یا نورې ونې په کومو کې چې میوه ده	نو میوه یې د بائع ده	مګر که شرط کړي هغه خریدار
وَيُقَالُ لِلْبَائِعِ	اِقْطَعْهَا	وَسَلِّمِ الْمَبِيعَ
او وواېي بائع ته	پرې کړه	او مبیعه وسپاره

د لغاتو حل : **دار** : په اردو ژبه کې د دې اطلاق په کور او مکان باندې کیږي او په همدې معنی کې منزل او بیت هم دي، او په عربي ژبه کې دار داسې کور ته ویل کیږي په کوم کې چې صحن، ورې ورې کمرې، مخته چوتره، اشپز خانه او د غوجل هم وي، **منزل** : د دې اطلاق په داسې کور باندې کیدی شي په کوم کې چې ورې ورې کمرې، اشپز خانه او بیت الخلاء موجود وي مګر صحن یې نه وي، بیت : یوه مسقف کور ته ویل کیږي په کوم کې چې صرف یو دهلیز وي (حاشیه هدایه) **بناء** : عمارت، بنیاد، **النخل** : د کجورو ونې، **الشجر** : مطلق غیر میوه دارې ونې، که غټې وي که ورې وي. **الزرع** فصل (کښت)، **المبتاع** : اسم فاعل مصدر (ابتیاع) بر وزن افتعال مشتري، خریدار.

خلاصه : دلته څو مسئلې بیان شوې دي، له دې مخکې په دې باندې پوهه شی چې د دې مسئلو او راتلونکو مسئلو بنیاد په دریو شیان باندې دی :

(اول) په عام عرف کې چې په کومو شیانو باندې د مبیع اطلاق کیدی شي هغه پرته له بیان په بیع کې داخل دي

(دویم) او کوم شی چې له مبیع سره د باقي پاتې کیدو لپاره متصل پاتې کیږي هغه تابع دی په مبیعه کې داخل دی

(دریم) او کوم چې له دې دواړو پرته د مبیع په حقوق او مرافق ځخه وي هغه پرته له صریح ذکر په مبیعه کې نشي داخلیدی.

اوله مسئله : چا کور خرڅ کړ نو هغه شیان کوم چې له کور سره په عرف کې شامل دي او همیشه (تل) د دوام په ډول له هغه سره وي همدغه ټول شیان خود بخود داخلیږي، اګر که د بیع په وخت کې د هغو نوم نه وي اخیستل شوی، لکه عمارت، زینه او بیت الخلاء.

قاعده : کوم شی چې له مبیع سره په دائمي ډول متصل وي همدغه شی د نوم له اخیستو پرته په بیعه کې داخلیږي

دویمه مسئله: یو کس زمکه خرڅه کړه او په دغه زمکه کې ونې دي، نو دغه ونې د زمکې په بیعه کې داخلې شوي، برابره ده که ونې غټې دي او که وړې وي، میوه دارې وي او که نه وي، صراحةً د هغو ذکر شوی وي او که نه وي شوی

دریمه مسئله: په زمکه کې د ټه فصل ولاړ دی نو د زمکې په بیعه کې فصل نه داخلیږي، هو که چیرته د عقد بیع په وخت کې له زمکې سره د فصل یادونه هم وشي نو فصل داخلیږي

څلورمه مسئله: که چیرته یو چا میوه دارې ونې خرڅې کړې نو د هغه میوې د بائع دي، یعنې د ونو د خرڅیدلو په صورت کې په همدغو ونو کې موجودې میوې خود بخود په بیعه کې نه داخلیږي، البته که چیرته مشتري صفا داسې ووایي چې زه ونې هم اخلم او د هغو میوې هم اخلم نو په دغه صورت کې میوې په بیعه کې داخلیږي

یقال للبائع: د احنافو په نزد د بائع لپاره ضروري دي چې د میوه دارو ونو له خرڅولو وروسته سمدستي میوې پرې کړي او ونې مشتري ته وسپاري، لیکن د ائمه ثلاثه په نزد د میوې د سمدستي پرې کولو پر ځای له هغو څخه د ګټې اخیستو تر وخته پورې دې په ونو باندې پرېښودل شي

وَمَنْ بَاعَ ثَمَرَةً	لَمْ يَبْدُ صَلَاحُهَا	أَوْ قَدْ بَدَا	جَازَ الْبَيْعُ	وَوَجَبَ
او چا چې خرڅه کړه میوه	چې د استفادې وړ نه وه	یا وه	نو روا ده بیعه	او ضروري ده
عَلَى الْمُشْتَرِي	قَطْعُهَا	فِي الْحَالِ	فَإِنْ شَرَطَ تَرْكَهَا	عَلَى النَّخْلِ
په مشتري	پریکول د هغو دي	سمدستي	او که شرط ولګول شو د پرېښودو یې	په ونه کې
فَسَدَ الْبَيْعُ	وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبِيعَ ثَمَرَةً		وَيَسْتَثْنِيَ مِنْهَا	أَرْطَالًا مَعْلُومَةً
فاسدیږي بیعه	او روا نه دي چې خرڅه کړي شي میوه		او مستثنی کړي له هغې	معلوم ارطال
وَيَجُوزُ بَيْعُ الْحِنْطَةِ	فِي سُنْبُلِهَا	وَالْبَاقِلَّى فِي قِشْرِهَا		
او روا ده بیعه د غنمو	د هغو په وږیو کې	او د لوبیا د هغې په پلیو کې		

د لغاتو حل: یبدا: بدا (ن) بدوا ښکاره کیدل، **صلاح**: ګټه (نفعه)، **ارطال**: د رطل جمع ده د څلوېښتو تولو یو وزن، **حنطة**: غنم، **سنبل**: وږی، **باقلی**: لوبیا، قشر: پلي

تشریح: د بدوء الصلاح تفسیر په متن کې د ذکر شویو مسئلو بنیاد دی، د احنافو په نزد بدوء الصلاح دا ده چې میوه د طوفان او وغیره او د مرغانو له خوراک او نورو فسادونو څخه محفوظه وي او د خوږوالي پیدا کیدل ضروري نه دي، او د شافعیانو په نزد پخیدل پوره پخیدل او په هغې کې د خوند (خوږوالي) پیدا کیدل د صلاح ښکاره کیدل دي، د مسئلې صورت دا ده چې په ونه باندې د لګیدلو میوو بیعه صحیح ده برابره ده که د کار وي او که د کار نه وي

دليل: دا د بائع مال دی او خپل مال هغه خرڅولی شي او له کوم نه په کوم کار راتللی شي. اوس چې مشتري هغه اخيستي ده له همدې وجهې کومه ميوه چې د کار هم نه وي هغه هم بائع خرڅولی شي، د ميوو د خرڅولو او اخيستلو په سلسله کې دلته څو بحثونه دي، په کومو چې پوهيدل ضروري دي

بيع بشرط القطع: که چيرته ميوه په ونه باندې راښکاره شوې وه ليکن تر اوسه پخه شوې نه وه نو د داسې ميوې د خرڅولو دری صورتونه دي، لومړی صورت ته بيع بشرط القطع ويل شوي دي. يعنې د ميوې له بيع وروسته بائع مشتري ته داسې ووايي چې دغه ميوې اوس پرې کړه، او د ميوې فوراً پريکول چې په بيعه کې دننه مشروط وي نو د بيع دغه صورت بالاتفاق روا دی.

بيع بشرط الترك: دويم صورت دا ده چې بائع او مشتري بيعه خو يې اوس کړي، ليکن په عقد بيع کې دننه يې دا شرط لګولی چې دغه ميوه دې په ونه باندې پرينبودل شي له پخيدو وروسته به مشتري دغه ميوه پريکړي، دغه صورت بالاتفاق ناروا دی، نن صبا په خلکو کې رواج دا ده چې د ميوې له راتلومخکی فصل خرڅيږي او په عرف کې دا د شرې په درجه کې ده چې ميوې تر پخيدو پورې نه پريکيږي، نو د فصل د خرڅولو دغه شکل شرعاً د بيع فاسد په دائره کې داخل روا نه دي، هو البته د جواز دا شکل راوتلی شي چې بل شرط فصل خرڅ کړی شي او خريدار له مالک څخه دا اجازت واخلي چې تر پخيدو پورې ميوې په ونو باندې پريږدي، يا مالک په خپله زباني اجازت ورکړي نو شرعاً روا دي، مګر د معاملې کولو په وخت يا له دې مخکې اجازې لره اعتبار نشته دی، بلکې په وروسته کې اجازه شرط ده.

مطلق عن الشرط: دريیم صورت دا ده چې بيعه خو اوس مکمله شوې د پرينبودو يا پريکولو هيڅ شرط نه دی لګول شوی، د همدغه صورت د جواز او عدم جواز په باره کې د فقهاؤ په مابين کې اختلاف دی، د ائمه ثلاثه په نزد د بيع همدغه صورت هم ناروا دی، او د امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ په نزد روا دی

د ائمه ثلاثه دليل: (نهى عن بيع الثمار حتى يبدو صلاحها).

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ميوو له خرڅولو منعه کړې ترڅو چې د هغو صلاحيت ښکاره شوی نه وي، يعنې د کار شوې نه وي

ځواب: په دغه حديث کې چې کومه منعه وارد شوې ده هغه تحريمي منعه نه ده، بلکې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مشورې په ډول ويلي دي چې داسې بيعه مکوئ، ليکن حرام يې نه دي ورته ويلي، د دې مطلب دا شو چې په اصل کې خرڅول روا دي او همدا د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ مذهب دی، ذکر شوې نهى په مشورې باندې محمول ده.

د دې دليل د بخاري شريف د روايت الفاظ دي (فلا تبتاعوا حتی يبدو صلاح الثمر كالمشورة يشيربها لكثرة خصومتهم) يعنې مه يې خرڅوئ ترڅو چې د ميوې صلاحيت ښکاره شوی نه وي دا حكم د مشورې په ډول وو د كوم طرفته چې اشاره شوې د دوی د زياتو جګړو له وجهې

خلورم صورت دا ده كه چېرته ميوه تردې وخته پورې نه بانديې ښكاره شوې نه وي نو د هغې بيعه بالاتفاق حرامه ده. لكه څرنګه چې نن صبا د ميوو له راټلو مخكې باغونه په ټيكه وركول كيږي، او بائع مشتري ته وايي چې په دغه باغ كې دا كال چې كومې ميوې وشي هغه زه په تا باندې خرڅووم. دغه صورت ناروا دی. څكه چې دا د يوه داسې شي بيعه كوي كوم چې تر اوسه پورې په وجود كې نه دی راغلی، بلكې معدوم (ورك) دی، د دې يو بل خطرناک صورت دا ده چې همدغه باغ تر څو كلونو پورې په ټيكه وركوي، مثلا دری كاله، پنځه كاله، د لسو كلونو لپاره هغه باغ په ټيكه باندې وركوي او بائع له مشتري څخه د راتلونكي كال د ميوو قيمت نن اخلي، دغه صورت بالكل ناروا او له صريح نص څخه خلاف دی، څكه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترڅو كلونو پورې د بيع له كولو منعه كړې ده

د جواز صورت: باغونه كه په دې ډول په كرايه وركړی شي مثلا د يوه كال زر روپۍ كرايه مقرره كړی شي او په باغونو كې له ميوو سره سره په زمكه كې له ټولو شيانو د ګټې اخيستلو اختيار حاصل شي نو په همدې ډول معامله په شرعي ډول روا او صحي ده.

ولايجوز....معلومة: د بيلګې په توګه د پنځوسو ونو ميوه خرڅه شوې او دا معلومه نه ده چې په هغو كې څومره ميوه ده، بائع له دې سره سره دا هم وويل چې په هغو كې يو من ميوه نه خرڅووم نو دا ډول استثناء د كومې له امله چې باقي مبيع مجهوله كيږي روا نه ده، هو كه چېرته له استثناء وروسته مبيعه معلومه كړی شي نو بيع روا ده.

ويجوزبيع الحنطة الخ: د مسئلې صورت دا ده چې د غنمو د هغو په وږيو كې او د لوبيا د هغې په پليو كې يعنې په همدې كې يې خرڅول روا دي، هره هغه دانه كومه چې په وږي كې وي او ډيره زياته پټه نه وي لږ پټه وي نو د عموم بلوا له وجهې د همداسې شي له وږيو سره د خرڅولو اجازه شته

دليل (عن ابن عمر رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن بيع النخل حتى يزهو وعن السنبل حتى يبيض ويأمن العاهة) [۱] رسول الله صلی الله علیه وسلم د كجورو له خرڅولو منعه كړې ترڅو چې پخې شوې نه وي او د وږي له خرڅولو يې منعه كړې ترڅو چې سپين شوی نه وي او له آفت څخه محفوظ شوی نه وي

دا خبره په ياد لرئ چې په متن كې د ذكر شوې مسئلې جواز هغه وخت دی كله چې خلاف جنس سره خرڅ كړی شي، او كه چيرته د هغه د جنس په عوض كې خرڅ كړی شي، د بيلګې په توګه د غنمو وږي

---

[۱] مسلم، ج ۲، ص ۷

په غنمو خرڅ کړی شي نو دا ناروا دي، ځکه چې په دغه صورت کې د سود احتمال دی، معلومه نه ده چې په وربو کې څومره اندازه غنم دي، د هغو له عوض څخه کم دي، زيات دي او که برابر دي

وَمَنْ بَاعَ دَارًا	دَخَلَ فِي الْبَيْعِ	مَفَاتِيحُ إِغْلَاقِهَا	وَأُجْرَةُ الْكَيَّالِ	
او چا چې خرڅ کړ کور	داخل شوې په بیعه کې	کلیانې د قلفونو یې	او مزدوري د ناپ کولو	
وَنَاقِدِ الثَّمَنِ	عَلَى الْبَائِعِ	وَأُجْرَةُ وَازِنِ الثَّمَنِ	عَلَى الْمُشْتَرِي	وَمَنْ بَاعَ
او د ثمنو پېژندلو	د بائع په ذمه دي	او مزدوري د اندازه کولو د ثمنو	په مشتري دي	او چا چې خرڅ کړ
سِلْعَةً بِثَمَنٍ	قِيلَ لِلْمُشْتَرِي سَلِّمِ الثَّمَنَ أَوَّلًا	فَإِذَا دَفَعَ		
سامان په ثمنو	ویل کیږي مشتري ته وسپاره ثمن اول	کله یې چې ورکړي		
قِيلَ لِلْبَائِعِ	سَلِّمِ الْمَبِيعَ	وَمَنْ بَاعَ سِلْعَةً	بِسِلْعَةٍ	
ویل کیږي بائع ته	وسپاره مبیعه	او چا چې خرڅ کړ سامان	د سامان په عوض کې	
أَوْ ثَمَنًا بِثَمَنٍ	قِيلَ لَهُمَا	سَلِّمَا مَعًا		
یا ثمن د ثمن په عوض کې	ویل کیږي دواړو ته	چې وې سپارئ دواړه		

د لغاتو حل: **مفاتيح**: د مفتاح جمع ده کنجي، چابي، کيلي. **اغلاق**: د غلق جمع ده قلف. **الكيال**: هغه کس کوم چې د ناپ کولو دنده غوره کړي. **ناقد**: د دراهمو وغیره شمار کوونکی. **سلعة**: سامان.

خلاصه: په دې عبارت کې څو مسئلې بیان شوي دي

مسئله: هغه قلف کوم چې له دروازې سره تړل شوی وي او هغه قلف کوم چې د دروازې جزء وي او جزء له نوم اخیستلو پرته هم په بیعه کې داخلیږي نو له همدې وجهې د کور په بیعه کې قلف داخلیږي، او کیلیانې (چابي) د قلف برخه ده نو ځکه چابي هم په بیعه کې داخلیږي

واجرة الكيال الخ: د بائع ذمه واري ده چې کیلي مبیعه کیل کړي او مشتري ته یې وسپاري. له همدې وجهې د بائع لپاره کیل کول دي نو د کیل کوونکي مزدوري هم په بائع باندې ده، ځکه چې د ده لپاره یې کیل کړی دی، همدارنګه که د ثمن پېژندلو ضرورت پیښ شي نو بائع دې تجربه کار سړی را وغواړي چې زما پیسې وګوره چې سمې دي او که کوټه دي، نو د بائع لپاره ثمن پېژندل کیږي له همدې وجهې د ثمن پېژندونکي مزدوري هم په بائع باندې ده، او د ثمن چونکه خریدار ته ورکول دي له همدې وجهې دغه ثمن وزن کولی شي لهذا د وزن کوونکي مزدوري هم په هغه چا باندې ده د چا لپاره چې کار کیږي مزدوري په هغه باندې ده.

ومن باع سلعة: قاعده دا ده چې ثمن او دنانیر کومو ته چې پیدائشي ثمن ویل کیږي هغه په معلومولو سره نه معلومیږي، مثلا د پنځو په نوټ یې بیعه وکړه او په وروسته کې د پنځو سکه ورکړه نو بیعه

منعي دی، ځکه د پخلو توتو او د پخلو سکه دواړه په دنيا کي برابر دي، البته له قبض څخه وړاندې د دغه
متعين شوي دي، دويمه قاعده دا ده چي سامان مثلاً غله او دانه په متعين کولو سره متعين کيږي
مثلاً که يو من ورېشي ورکړي شوي او دويم يو من ورېشي نغدي ورکولی، ځکه ګيلاس لمن چي يوه
غراس دي، دا قاعده هم چي زده شوه او اوس پوهه شي چي صورت د مسئلي دا ده چي سامان د درهم
يا دنانير په عوض کي خرڅ شو او سامان والله موجود دی، په دواړو کي اختلاف شو، بائع وايي چي
لومړی دي مشتري ماته ثمن راکړي بيا زه مبيعه ورته سپارم، او مشتري وايي چي لومړی دي مبيعه
ماته وسپاري بيا ثمن ورکووم، په دغه صورت کي مشتري ته ويل کيږي چي لومړی ته ثمن ورکړه
ځکه چي سامان له پخوا څخه متعين دی او ثمن يعني درهم، دنانير او توتو له پخوا څخه متعين نه دي
نو کوم چي درهم يا دنانير په قبض کولو سره متعين شي د بائع او مشتري دواړو حقوق برابر شي نو
همدې وجهي مشتري ته ويل کيږي چي لومړی ته ثمن وسپاره وروسته بائع ته ويل کيږي چي ته سامان
ورکړه، دا پرېکړه د جګړې په وخت کي ده، او که په رضامندۍ سره هر يو مخکي ورکړي نو پروا نه
کيږي.

ومن باع سلعة........ او ثمن بثمن که چيرته يو څوک سامان د سامان په عوض کي يا ثمن د ثمن په
عوض کي خرڅ کړي نو په دې صورت کي حکم دا دی چي بائع او مشتري دواړه په يوه وخت کي يوه او
بل ته وسپاري

بَابُ خِيَارِ الشَّرْطِ

د خيار شرط بيان

د اصل بحث له شروع کولو مخکي د څو خبرو ليکل ضروري دي د کومو اهميت چي يو مثل شوي
حقيقت دی

د خيار لغوي تحقيق دا لفظ مفرد او جمع دواړه ممکن دي که مفرد دی نو په وزن د حساب د خوښي
په معنی کي دی، که جمع ده نو په وزن د جبال د اهل خير له مراد ده

اصطلاحي تعريف خيار د يوه داسي شرط نوم دی کوم چي له صحت بيع څخه منعه نکوي، البته د
عقد بيع له نفاذ څخه منعه کولی شي، او د دغه د مودې تېرېدو په دوران کي د اختيار څښتن ته د
عقد فسخه کول روا ندي، او د مقررې نېټې په تېرېدو او د اختيار څښتن په سکوت غوره کولو سره
عقد پوره کيږي

اضافت د خيار اضافت د شرط طرفته د اضافت المسبب الی السبب له قبيلي څخه دی، ځکه چي د
همدې خيار سبب شرط دی

د خيار اقسام د خيار دری قسمونه دي کوم چي زيات مشهور دي اول خيار شرط دويم خيار رؤيت
... خيار عيب

د خير شرط په نورو خيارونو باندې د مقدم کولو (امل) خيار شرط په نورو خيارونو باندې له دې امله مقدم شوی چې خيار شرط د حکم د ابتداء لپاره مانع دی، وروسته له هغه خيار رؤيت بيان شوی ځکه چې هغه د تول حکم لپاره مانع دی، له هغه وروسته خيار عيب بيان شوی، ځکه چې هغه د لزوم حکم لپاره مانع دی.

د موانع تول پنځه قسمونه دي (اول) کوم چې د انعقاد علت يعني د بيع منعقد کيدو مانع دی لکه د مبيع ازاديدل (دويم) کوم چې د انعقاد علت لپاره مانع نوي د تول علت لپاره مانع وي لکه د بل چا مال مثلاً د مالک له اجازې پرته د غلام خرخول (دريم) هغه مانع دی کوم چې له انعقاد علت وروسته د حکم لپاره مانع وي لکه د خيار شرط بيع (څلورم) هغه مانع دی کوم چې د حکم له محقق کيدو وروسته تول حکم له منځه وړي لکه د مشتري لپاره خيار رؤيت (پنځم) هغه مانع دی کوم چې لازم حکم له منځه وړي لکه خيار عيب (فتح القدير)

خِيَارُ الشَّرْطِ جَائِزٌ فِي الْبَيْعِ لِلْبَائِعِ وَالْمُشْتَرِي وَلَهُمَا الْخِيَارُ

خيار شرط روا دی په بيع کې د بائع او مشتري لپاره او دوی لره اختيار دی

ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَمَا دُونَهَا وَلَا يَجُوزُ أَكْثَرُ مِنْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

درې ورځې يا کم له دې څخه او روا نه ده زيات له دې څخه په نزد د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَجُوزُ إِذَا سَمَّى مُدَّةً مَعْلُومَةً

ويلي دي امام ابويوسف او امام محمد روا ده که معلومه شوې وي معلومه نيټه

وَخِيَارُ الْبَائِعِ يَمْنَعُ خُرُوجَ الْمَبِيعِ مِنْ مِلْكِهِ فَإِذَا قَبَضَهُ الْمُشْتَرِي

او خيار د بائع منعه کوي وتل د مبيعې د ده له ملک څخه بيا که قبضه وکړه مشتري

فَهَلَكَ بِيَدِهِ فِي مُدَّةِ الْخِيَارِ ضَمِنَهُ بِالْقِيمَةِ وَخِيَارُ الْمُشْتَرِي

او هلاکه شوه د هغه په لاس په نيټه د خيار کې ضامن به شود قيمت او خيار د مشتري

لَا يَمْنَعُ خُرُوجَ الْمَبِيعِ مِنْ مِلْكِ الْبَائِعِ إِلَّا أَنَّ الْمُشْتَرِيَ

نه مانع کوي وتل د مبيعې له ملک د بائع څخه مګر دا چې مشتري به

لَا يَمْلِكُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَمْلِكُهُ

مالک شوی نه وي په نزد د امام ابوحنيفة او ويلي دي صاحبينو مالک کيدی شي

فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ هَلَكَ بِالثَّمَنِ وَكَذَلِكَ إِنْ دَخَلَهُ عَيْبٌ

بيا که هلاکه شي د مشتري په لاس کې هلاکيږي د ثمن په بدله همدارنګه که په مبيعه کې عيب پيدا شو

لپاره هم دی او د دواړو لپاره هم روا دي. د خیار شرط صرف د بائع لپاره هم روا دی او صرف د مشتري لپاره هم دی او د دواړو لپاره

خلاصه خیار شرط دری قسمونه دي ﴿۱﴾ بالاتفاق فاسد مثلا خریدار ووایي چې ما دغه شی په دې شرط باندې اخیستی چې ما لره تل ﴿همیشه﴾ خیار دی ﴿۳﴾ بالاتفاق روا دی مثلا دری ورځې یا له دریو ورځو کم خیار واخلي ﴿۲﴾ مختلف فیه مثلا له دریو ورځو زیات اختیار واخلي، په دې باره کې دوه مذهبونه دي ﴿۱﴾ د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام زفر رَحِمَهُ اللهُ په نزد له دریو زیات اختیار نه ورکول کیږي

تشریح **البیع** بیعه اصلا په دوه قسمه ده ﴿اول﴾ حلال ﴿دویم﴾ حرام، اول قسم ته شرعا تجارت ویل کیږي او دویم قسم ته ربوا ویل شوي دي، په قرآن کریم کې د دې بیان شوی دی ﴿احل الله البیع وحرم الربوا﴾ بیا بیع حلال په دوه قسمه ده ﴿اول﴾ بیع لازم ﴿دویم﴾ بیع غیر لازم، بیع لازم هغې ته ویل کیږي په کومه چې د بیع د شرطونو له موندلو وروسته اختیار پاتې نشي، بیع غیر لازم هغه ده په کومه کې چې اختیار پاتې شوی دی، بیع لازم اصل او قوي ده نو ځکه اول بیان کړی شوه او بیع غیر لازم خلاف اصل ده ځکه وروسته بیان کړی شوه

په پورته ذکر شوي عبارت کې یوشمیر مسئلې بیان شوي دي:

مسئله بائع خیار واخیست برابره ده اگر که مبیعه د مشتري لاسته ورغلې وي د بائع له ملکیت څخه نه ووځي. ځکه چې د اختیار اخیستو مطلب دا ده چې دی مبیعه په خپل ملکیت کې پاتې کیدل غواړي، هر کله چې دی بیعه نافذه کړي بیا د ده له ملکیت څخه مبیعه ووځي، همدا لامل دی که چیرته بائع په همدې دوران کې آزادول وغواړي نو آزادولی یې شي

مسئله: بائع د دریو ورځو خیار شرط اخیستی وو او مشتري د بائع په اجازه په مبیعه باندې قبضه کړې وه، د خیار په موده کې د مشتري په لاس کې مبیعه هلاکه شوه نو کومې روپۍ چې د بائع او مشتري ترمینځ معلومې شوې وې هغه خو نه لازمیږي، لیکن په بازار کې چې د همدغې مبیعې کوم قیمت وي هغه په مشتري باندې لازمیږي

دلیل حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ له یوه کس څخه آس واخیست که چیرته خوښ مې شو نو اخلم یې، بیا یې یو کس په هغه باندې سپور کړ د کوم له وجهې چې په هغه کې عیب پیدا شو، د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ او بائع په مینځ کې اختلاف پیدا شو، فیصله کوونکی قاضي شریح عراقي جوړ شو، قاضي صاحب حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته وویل کوم آس چې تا اخیستی وو هغه له ځان سره وساته او د هغه د قیمت ضامن جوړ شه، یا دا چې هغه ته روغ جوړ آس بیرته ورکړه.

له دې واقعې معلومه شوه چې په مشتري باندې د قیمت ورکول شته دي، ځکه چې د هغه په حرکت سره مبیعه هلاکه شوه.

مسئله: د مسئلې صورت دا ده که چیرته مشتري خیار شرط اخیستی دی بائع نه دی اخیستی نو مبیعه د بائع له ملک څخه ووځي، پاتې شوه دا خبره کله چې مبیعه د بائع له ملکیت څخه ووتله نو آیا د مشتري په ملک کې داخله شوه او که نشوه، په دې کې اختلاف دی، د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد د مشتري د خیار شرط په وخت مبیعه د مشتري په ملک کې نه داخلیږي، ځکه چې مشتري تر اوسه له خپل لوري (طرفه) د بیع مکمل کول طی کړي نه دي، همدارنګه که چیرته د هغه په ملک کې داخله شي نو د مشتري نقصان دی، مثلا که چیرته یې خپل زوی واخیست او خیار شرط یې واخیست د دې باوجود د ده په ملک کې داخل شو اوس د مشتري په نه غوښتلو هم زوی آزاد شو، د صاحبینو او ائمه ثلاثه په نزد د مشتري په ملک کې داخلیږي، ځکه چې د بائع له ملکیت څخه وتلې ده او د مملوک شي د یو چا نه یو چا په ملک کې داخلیدل پکار دي، که نه نو دغه مملوک به د چا شي، له همدې وجهې که مشتري خیار شرط هم اخیستی وي بیا هم هغه د مشتري په ملکیت کې داخلیږي

مسئله خیار که چیرته د مشتري لپاره وو نو مبیعه د هغه په ملکیت کې نه داخلیږي، لکه څرنګه چې وړاندې تیر شول، لیکن کله چې مبیعه هلاکه شوه نو له هلاکیدو مخکې هغه د مشتري په ملکیت کې داخله شوه او بیعه مکمله شوه، اوس په مشتري باندې ثمن لازم شول، یعني هغه قیمت کوم چې د مشتري او بائع په مینځ کې معلوم شوی وو، لیکن دلته یوه خبره ډیره مهمه ده په کومې چې پوهیدل ضروري دي هغه دا که چیرته خیار بائع اخیستی وو او د بائع په اجازه مشتري قبض کړې وه بیا د خیار په موده کې مبیعه هلاکه شوه نو په مشتري باندې قیمت لازم شو.

وَمَنْ شَرَطَ لَهُ الْخِيَارُ فَلَهُ أَنْ يَفْسَخَ فِي مُدَّةِ الْخِيَارِ وَلَهُ أَنْ يُجِيزَهُ
او چا لره چې خیار شرط دی روا ده هغه ته چې فسخه کړي بیعه د خیار په موده کې او دا هم شته چې نافذه یې کړي
فَإِنْ أَجَازَهُ بِغَيْرِ حَضْرَةِ صَاحِبِهِ جَازَ وَإِنْ فَسَخَ لَمْ يَجُزْ
پس که اجازه یې وکړه د خپل ملګري په نه موجودیت کې روا ده او که یې فسخه کړه روا نه ده
إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْآخَرُ حَاضِرًا فَإِذَا مَاتَ مَنْ لَهُ الْخِيَارُ بَطَلَ خِيَارُهُ
مګر که وي دویم موجود او که مړ شو چا لره چې خیار شرط وو نو باطلیږي خیار د هغه
وَلَمْ يَنْتَقِلْ إِلَى وَرَثَتِهِ وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا عَلَى أَنَّهُ خَبَّازٌ أَوْ كَاتِبٌ فَوَجَدَ
او نه نقل کیږي وارثانو ته یې او چا چې خرڅ کړ غلام په دې شرط چې دوه‌ی ډوډۍ پخونکی دی یا کاتب دی بیا وموندل شو
بِخِلَافِ ذَلِكَ فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ
خلاف د دې نو مشتري لره اختیار دی که وغواړي وادې اخلي په ټولو ثمنو او که وغواړي پرې دې ایږدي

خلاصه د کتاب صاحب په دې عبارت کې څو مسئلې بیان کړې دي: په ځینو کې اختلاف دی او بله

مسئله: چانه چې خيار حاصل دی هغه که بائع وي که مشتري وي د خيار په موده کې هغه ته د بيع فسخ کولو اختيار هم دی او د روا کولو يې هم اختيار دی، مثلا بائع خيار واخيست مشتري مخامخ هم نه وو يا ورته علم هم نه وو بيا هم بائع بيعه روا کولی شي

دليل: د بيع په روا کولو (نافذولو) کې د مشتري نقصان نشته، هغه خو غواړي همدا چې بيعه روا کړی شي چې کله هم وي هغه خو خيار شرط نه دی اخيستی، او که چيرته بائع د بيع فسخه کول وغواړي نو ترڅو پورې چې مشتري ته د دې خبر ورنکړی شي فسخه کول روا نه دي، ځکه چې مشتري ته په فسخه کولو سره نقصان دی، هغه پوهيدلی وو چې بائع به بيعه روا کړي له همدې وجهې د بلې مبيعې لټون يې نه کاوه او په انتظار کې ورته ناست وو، نو ځکه که چيرته فسخه کول وي نو دويم فريق (بلې) ته خبر ورکول ضروري دي، ترڅو چې هغه لره نقصان نه وي دا د طرفينو مذهب دی.

د امام ابويوسف رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد که دويم فريق ته له خبر ورکولو پرته هم فسخه کول وغواړي کولی يې شي

دليل: دويم فريق اختيار اخيستونکي ته د بيع ماتولو اختيار هم ورکړی دی، له همدې وجهې لکه څرنگه چې هغه په غياب کې بيعه روا کولی شي همدارنگه ماتولی يې هم شي.

مسئله: بائع يا مشتري کوم چې خيار شرط اخيستی وو هغه مړ شو، اوس دا اختيار د هغه ورثه ؤ ته نه منتقل کيږي، چونکه مخکې ايجاب او قبول شوي دي نو ځکه بيعه لازميږي.

دليل: اختيار د ارادې نوم دی چې بيعه روا وگڼي يا يې ونه گڼي او اراده معنوي شی دی هغه نه منتقل کيږي، نو ځکه اختيار ورثه ؤ ته نه منتقل کيږي، امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله ويلي دي چې لکه څرنگه خيار عيب او خيار تعيين د ورثه ؤ طرفته منتقل کيدلی شي همدارنگه خيار شرط هم د ورثه ؤ طرفته منتقل کيدلی شي، او هغو ته هم د بيع ماتولو او روا کولو حق شته دی.

د امام شافعي او امام مالک د دليل ځواب: خيار عيب د ميراث په ډول د مړي له لوري د ورثه ؤ طرفته منتقل کيدلی نشي، بلکې د عقد بيع له وجهې مړی د همدې مبيع مستحق شوی وو کومه چې بې عيبه وه، ليکن کله چې هغه مړ شو نو د هغه وارث هم د بې عيبه مبيعې مستحق شو، همدارنگه خيار تعيين د وراثت په ډول د وارث طرفته منتقل کيدلی نشي، بلکې خيار خو د مړي په مړينې سره ساقط شو، مگر چونکه وارث د وارث کيدو په حيثيت سره د مبيعې مالک شو او مبيعه له غير مبيعې سره د يو ځای کيدو له وجهې مجهوله ده، خلاصه دا ده چې د وارث لپاره چې کوم خيار تعيين ثابت دی هغه له هغه څخه غير (جلا) دی کوم د مورث لپاره ثابت وو، لهذا په خيار شرط او خيار تعيين دواړو کې فرق دی (نور تفصيل دې په هدايه کې وکتل شي).

مسئله: يو چا غلام خرڅ کړ او دا يې ووېل چې دوډۍ پخوونکی دی يا کاتب (خط ليکونکی) دی وروسته معلومه شوه چې دوډۍ پخوونکی دی او نه کاتب دی، نو مشتري لره د بيع نافذولو او د بيع ماتولو اختيار دی، ځکه چې د همغه صفت نه موندلو له وجهې د مشتري رغبت کم شو او بائع وعده خلافي وکړه، نو ځکه هغه لره د بيع ماتولو اختيار شته دی

او که چيرته غلام اخيستل غواړي نو کوم قيمت چې په خپل مينځ کې معلوم شوی وو همغه قيمت دې ورکړي او وادې اخلي، ځکه چې د دوډۍ پخول او د کتابت فن زده کول دا وصف دی او په مقابل کې نيږ شول چې د وصف په مقابل کې قيمت نشته دی، له همدې وجهې د هغه د وصف کميدو له امله قيمت کميدلی نشي.

بَابُ خِيَارِ الرُّؤْيَةِ

د خيار رؤيت بيان

د خيار رؤيت په خيار عيب باندې د تقديم کولو وجه دا بيان شوې ده چې خيار رؤيت له خيار عيب ځنه قوي دی، ځکه چې خيار رؤيت د ټولو مبيعو لپاره مانع دی او خيار عيب د بيع لازم کيدو ځنه مانع ده او دا خبره ښيخې واضحه ده چې کوم شی له بيع ځنه په بشپړ ډول راګرځول کوي هغه له هغه شي ځنه قوي ده کوم چې بيع لازم کيدو ته نه ورکوي، د خيار اضافت د رؤيت طرفته د اضافت الحکم الی السبب له قبيلې ځنه دی. خيار رؤيت په څلورو ځايونو کې ثابت دی (اول) د اعيان او ذوات په خريدارۍ کې (دويم) په اجاره کې (دريم) په داسې صلح کې کومه چې د مال په دعوه سره په کوم معلوم شي باندې وي (څلورم) په قسمت کې، لهذا په ديون، نقود او هغو عقدونو کې خيار رؤيت نشته کوم چې په فسخ کولو سره فسخه کيدی نشي، لکه مهر، بدل خلع، بدل صلح عن القصاص (فتح القدير)

وَمَنْ اشْتَرَى	مَالَمْ يَرَهُ	فَالْبَيْعُ جَائِزٌ	وَلَهُ الْخِيَارُ	إِذَا رَآهُ	إِنْ شَاءَ
او چا چې واخيست	هغه چې ليدلی نه وي	نو بيعه روا ده	او ده لره اختيار دی	کله چې ووينی	که وغواړي
أَخَذَهُ	وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ	وَمَنْ بَاعَ مَالَمْ يَرَهُ	فَلَا خِيَارَ لَهُ	وَإِنْ نَظَرَ	
وادې خلي	او که وغواړي رد دې کړي	او چا چې خرڅ کړ هغه چې ليدلی نه وه	نشته ده لره اختيار	او که وې کتل	
إِلَى وَجْهِ الصُّبْرَةِ	أَوْ إِلَى ظَاهِرِ الثَّوْبِ	مَطْوِيًّا	أَوْ إِلَى وَجْهِ الْجَارِيَةِ		
مخ د توېي ته	او يا ظاهري د جامې ته	چې تاو شوې وه	يا مخ د وينزې ته		
أَوْ إِلَى وَجْهِ الدَّابَّةِ	وَكِفْلِهَا	فَلَا خِيَارَ لَهُ	وَإِنْ رَأَى صَحْنَ الدَّارِ		
يا مخ د څناور ته	يا د هغه شاتنی برخې ته	نشته خيار ده لره	که يې وليده د کور صحن		

۱ المحیط البرھانی

۲ الموسوعۃ الفقھیہ

۳ الفتاوی التاتارخانیہ ۲۴ جلدہ

۴ البحر الرائق

۵ المبسوط للسرخسی

۶ روح المعانی

۷ تفسیر المظہری

۸ تفسیر الکبیر للامام فخر الدین الرازی

۹ تفسیر المنیر

۱۰ عمدۃ القاری شرح البخاری

۱۱ تفسیر بحر المحیط

۱۲ مرقات المفاتیح شرح مشکاۃ المصابیح

فَلَا خِيَارَ لَهُ	**وَإِنْ لَمْ يُشَاهِدْ بُيُوتَهَا**
نشته خیار ده لره	اګر که یې نه وي لیدلې د هغه کمرې

دلغاتوحل **الصبرة** تربی، **مطویاً** تاو شوی «نغښتل شوی»، **الجارية** مینزه، **الدابة** د سپرلی څناور، **کفل** : کوناټي

تشریح : په دې عبارت کې یوشمیر مسئلې بیان کړی شوي دي :

مسئله : که چیرته یو چا له لیدلو پرته کوم شی واخیست نو دغه بیعه زمونږ په نزد روا ده، مګر مشتري چې کله دغه مبیعه ویني نو هغه لره د اخیستو او نه اخیستو اختیار شته، ځکه چې له لیدلو مخکې د هغه رغبت کامل نه دی، همدارنګه پورته د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه روایت تیر شوی دی، له هغه معلومه شوې چې له لیدلو وروسته مشتري لره د اخیستو او نه اخیستو اختیار شته دی.

مسئله : که چیرته یو چا پرته له لیدو یو شی خرڅ کړ په داسې طریقه چې د کوم شي وارث وو او له لیدلو مخکې هغه یې خرڅ کړ نو دغه بیعه صحي ده، اوس بائع په وروسته کې خیار رؤیت اخیستل غواړي او له لیدلو وروسته د خیار رؤیت ماتحت که د بیع ماتوال وغواړي نو ماتوي یې ده ته د بیع ماتولو اختیار نشي ورکول کیدی، ځکه چې مبیعه له ده سره وه او ده له خرڅولو مخکې ولې نه لیدله، دغه د ده غلطي وه.

دویمه خبره دا ده چې د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه په روایت کې «مَنْ اشتری شیئا» ویل شوي له کوم چې معلومه شوه چې خریدار ته اختیار شته او بائع ته نشته.

مسئله : د مبیعې هر هر اندام لیدل ضروري نه دي، بلکې په عام عرف کې چې د کوم اندام یا برخې نه د بیلګې په توګه د غلې تویې پاسنی برخې ته په کتلو سره د ټول تویې معلومات کیدلی شي، له همدې وجهې د پاسنی برخې لیدل کافي کیږي، همدا ډول په تان کې تاو شوې جامې ظاهري برخې ته په کتلو همدې وجهې د مخ په لیدلو سره خیار رؤیت ساقطیږي، همدا ډول د مینزې مخته په کتلو سره په ټوله باندې علم راتلی شي، له شاتنی برخې په لیدلو سره پوره علم حاصلیږي، ځکه چې په څناورو کې همدا مقصود دي، نو ځکه د هغو په لیدلو سره خیار رؤیت ساقطیږي، او د سپرلی څناور لکه آس، خر او قچر مخ او راتلی شي د همدغې برخې په لیدلو سره خیار رؤیت ساقطیږي، لنډه دا چې د کومې برخې په لیدلو سره په ټوله مبیعه علم

مسئله وان رأی صحن الدار الخ : که چیرته کور واخیستل شو نو د هغه محض د باندنی برخې په لیدلو سره د مشتري خیار رؤیت ساقط شو، ځکه چې د مصنف په ملک کې کورونه یو ډول شوي وو او د صحن په لیدلو سره دننه د کمرو اندازه کیدلی شوه، نو ځکه یې ویلي دي چې د صحن په لیدلو سره خیار رؤیت ساقطیږي، اګر که کمرې یې نه وي لیدلې، امام زفر رحمه الله ویلي دي چې د کورونو

اخیستلو په وخت کې د کور د داخل له لیدلو پرته خیار رؤیت نه ساقطیږي، ځکه چې د کورونو په دننه برخو کې اوس یو شان ته والی نه پاتې شوی، فتوی په همدې قول باندې ده.

وَبَيْعُ الْأَعْمٰى وَشِرَاؤُهُ جَائِزٌ وَلَهُ الْخِيَارُ إِذَا اشْتَرٰى

ړوند خرڅول د ړانده او اخیستل یې روا دي او هغه لره خیار دی کله یې چې واخلي

وَيَسْقُطُ خِيَارُهُ بِأَنْ يَجُسَّ الْمَبِيعَ إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالْجَسِّ

او ساقطیږي خیار یې چې لاس ووهي په مبیعه باندې که یې پیژندله د لاس په وهلو سره

أَوْ يَشُمَّهُ إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالشَّمِّ أَوْ يَذُوقَهُ إِذَا كَانَ يُعْرَفُ

یا په بیولو سره که یې پیژندله په بویولو سره یا په څکلو سره که یې پیژندله

بِالذَّوْقِ وَلَا يَسْقُطُ خِيَارُهُ فِي الْعَقَارِ حَتّٰى يُوصَفَ لَهُ

په څکلو سره او نه ساقطیږي اختیار د هغه په زمکه کې تردې چې حالت یې ورته بیان کړی شي

وَمَنْ بَاعَ مِلْكَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ فَالْمَالِكُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ

او چا چې خرڅ کړ د بل چا شی د هغه له حکم پرته نو مالک لره اختیار دی که وغواړي

أَجَازَ الْبَيْعَ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ وَلَهُ الْإِجَازَةُ إِذَا كَانَ الْمَعْقُودُ عَلَيْهِ

اجازه دې وکړي د بیع او که وغواړي فسخه دې کړي او هغه ته د نافذ کولو حق دی که وي معقود علیه

بَاقِيًا وَالْمُتَعَاقِدَانِ بِحَالِهِمَا وَمَنْ رَأٰى أَحَدَ الثَّوْبَيْنِ

باقي بائع او مشتري په خپل حالت وي او چا چې ولیدله یوه د دوو جامو څخه

فَاشْتَرَاهُمَا ثُمَّ رَأَى الْآخَرَ جَازَ لَهُ أَنْ يَرُدَّهُمَا وَمَنْ مَاتَ

بیا یې واخیستې دواړه بیا یې ولیدله دویمه روا دي د هغه لپاره چې واپس کړي دواړه او څوک چې مړ شو

وَلَهُ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ بَطَلَ خِيَارُهُ وَمَنْ رَأٰى شَيْئًا ثُمَّ اشْتَرَاهُ

او ده لره خیار رؤیت وه باطل شو خیار یې او چا چې ولیده یو شی بیا یې واخیست

بَعْدَ مُدَّةٍ فَإِنْ كَانَ عَلَى الصِّفَةِ الَّتِي رَآهُ فَلَا خِيَارَ لَهُ

وروسته څه موده پس که وه په هماغه حالت چې لیدلی وو نو نشته خیار هغه لره

وَإِنْ وَجَدَهُ مُتَغَيِّرًا فَلَهُ الْخِيَارُ

او که یې پیدا کړ بدل نو شته هغه لره خیار

د لغاتو حل **الاعمی** ړوند، **یجس** د معلومولو لپاره په لاس سره مښل، **یشمه** : از نصر شما بویول، **یذوقه** از نصر ذوقا څکل، **عقار** غیر منقوله جایداد، غیر منقوله شی.

تشریح په دې عبارت کې څو مسئلې بیان شوي دي:

مسئله د ړانده خرڅول او اخیستل له دې وجهې روا دي چې هغه انسان دی، عاقل او بالغ دی او انساني ضرورت له هغه سره هم شته دی، لیکن د سترګو نه شتون له امله مبیعه لیدلی نشي نو ځکه هغه لره خیار رؤیت شته دی، او د خیار رؤیت ساقط کیدو مختلف صورتونه دي، د کومو تفصیل چې په راتلونکې مسئلې کې را روان دی.

مسئله : د ړانده خیار رؤیت کله ساقطیدلی شي، نو د هغه حکم دا ده چې که چیرته مبیعه داسې شی وو کومه چې د لاس په مښلو سره پیژندل کیدی شي نو په مبیعه باندې د لاس په مښلو سره د ړانده خیار رؤیت ساقطیږي، او که چیرته په بویولو سره د مبیعې حقیقت معلومیدلی شو او بوی یې کړه نو خیار ساقط شو، او که چیرته په څکلو سره معلومیدلی شوه نو کله یې چې وڅکله نو خیار ساقطیږي، یا یې د مبیعې لیدلو لپاره کوم کس وکیل جوړ کړ او وکیل ولیدله نو دا د ړانده لیدل شمارل کیږي او د هغه خیار ساقطیږي.

مسئله : ړانده زمکه اخیستله اوس یې هغه په لاس مښلو، بویولو او څکلو نشي معلومولی، نو د خیار ساقط کیدو او بشپړې رضامندۍ طریقه دا ده چې بائع د زمکې پوره حقیقت بیان کړي او پوره وصف یې بیان کړي، د هغو په آوریدلو سره که ړوند راضي شي نو خیار ساقطیږي.

مسئله : یو چا د بل چا کوم شی د هغه له اجازې پرته خرڅ کړ نو د دې خرڅول روا دي، ځکه چې دغه سړی عاقل بالغ دی او شی مملوک او مبیعه ده او د مالک لپاره یې خرڅ کړی دی، اوس اصل مالک ته اختیار دی که غواړي بیعه دې نافذه کړي او که یې خوښه نشوه بیعه دې فسخه کړي، دې بیع ته بیع فضولي ویل کیږي، د دې ثبوت په بخاري شریف کې په لاندنی حدیث سره ذکر شوی:

حدیث : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عروه ته ې، خیار ورکړ ترڅو په هغه سره یو پسه واخلي، هغه په یوه دینار دوه پسونه واخیستل، بیا یې یو په یوه دینار خرڅ کړ وروسته یې یو پسه او یو دینار رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوړل، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه لپاره په بیع کې د برکت دعا وکړه [1].

له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې حضرت عروه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اجازې پرته دوه پسونه واخیستل، بیا یې له حکم پرته یو پسه خرڅ کړ، له دې معلومه شوه چې بیع فضولي روا ده، همدارنګه دا هم معلومه شوه چې مالک ته په وروسته کې د بیع باقي ساتلو او ماتولو اختیار دی، د قدوري امام ویلي دي چې مالک ته د بیع نافذ کولو اختیار هغه وخت دی کله چې مبیعه موجوده وي، چنانچه که چیرته مبیعه موجوده نه وي نو بیعه بیا په کوم شي باندې وکړی شي؟

---

[1] بخاري کتاب المناقب، ج: ۱، ص: ۵۱۴

هغه ارنګه که بائع او مشتري موجود وي او دوی په خپل حالت باندې وي یعنې د اجازت په وخت کې عاقل بالغ مالک وو بیا بیعه کېږي، او که داسې نه وي بیا نکېږي، مثلا هغه عاقل پاتې نشو لیونی شو نو اوس بیعه د هغه له لوري څرنګه وشي

مسئله صرف یوه جامه یې ولیدله او په یوه بیعه کې دوه جامې واخیستې کومه یې چې لیدلې نه وه نو د دویمې جامې د خیار رؤیت ماتحت دواړه جامې واپس کولی شي

دلیل: دواړه جامې مختلفې دي، د یوې لیدل د دویمې لپاره کافي نه دي، نو ځکه په دویمه جامه کې خیار رؤیت پیدا کېږي، او چونکه بیعه یوه ده که چیرته یوه جامه واپس کړي نو نیمه بیعه پاتې کېږي او نیمه واپس شوه له همدې وجهې واپس دې کړي دواړه جامې یا ودې ساتل شي دواړه جامې

مسئله: د مسئلې صورت دا ده چې یوه کس کوم شی ولیده بیا یې څه موده وروسته هغه واخیست، که چیرته همدغه شی په هغه صفت باندې وو په کوم صفت چې ده لیدلی وو نو د مشتري لپاره خیار رؤیت نشته دی، د بیلګې په توګه شپږ میاشتې مخکې یې یو شی لیدلی وو او په هماغه حال باندې مبیعه موجوده ده نو لومړنی رؤیت (لیدل) د حقیقت معلومولو لپاره کافي دی، نو ځکه مشتري لره خیار رؤیت نه پیدا کېږي، او که د مبیعې حالت بدل شوی وو نو لومړنی رؤیت د حقیقت معلومولو لپاره کافي نه دي، نو ځکه مشتري لره خیار رؤیت پیدا کېږي (شته دی) او د هغه ماتحت د مبیعې واپس کولو حق ور لره شته دی

ومن مات بطل خیاره د احنافو په نزد په خیار رؤیت کې وراثت نشي جاري کېدلی

بَابُ خِيَارِ الْعَيْبِ

د خیار عیب بیان

له دې مخکې د خیار شرط او خیار رؤیت بیان وه او اوس خیار عیب بیانولی شي، خیار عیب له تمام عقد وروسته له لزوم عقد څخه مانع دی، پرته له کوم شرط ثابتېږي، په خیار العیب کې د خیار اضافت د عیب طرفته د اضافت الشئ الی سببه له قبیلې څخه دی، ابن همام رحمه الله ویلي دي چې عیب هر هغه شی ده په کوم سره چې شی له اصل فطرت سلیمه څخه خالي شي او د هغه له امله هغه شی ناقص شمار کړی شي (فتح القدیر)

إِذَا اطَّلَعَ الْمُشْتَرِي	عَلَى عَيْبٍ فِي الْمَبِيعِ	فَهُوَ بِالْخِيَارِ	إِنْ شَاءَ
کله چې خبر شي مشتري	په مبیعه باندې په مبیعه کې	نو ده لره اختیار دی	که وغواړي
أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ	وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ	وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُمْسِكَهُ	
وادې اخلي په ټول ثمن سره	او که وغواړي واپس دې کړي	او نشته ده لره چې له ځان سره وساتي	

وَيَأْخُذُهُ النُّقْصَانَ وَكُلُّ مَا أَوْجَبَ نُقْصَانَ الثَّمَنِ فِي عَادَةِ التُّجَّارِ

او واخلي نقصان او هر هغه عيب چي واجبوي نقصان د ثمنو د تجارانو په عادت کي

فَهُوَ عَيْبٌ وَالْإِبَاقُ عَيْبٌ وَالْبَوْلُ فِي الْفِرَاشِ وَالسَّرِقَةُ عَيْبٌ

هغه عيب دی تښتيدل عيب دی متيازي په بستر باندي او غلا کول عيب دي

فِي الصَّغِيرِ مَا لَمْ يَبْلُغْ فَإِذَا بَلَغَ فَلَيْسَ ذٰلِكَ بِعَيْبٍ حَتّٰى يُعَاوِدَهُ

په ماشوم کي ترڅو چي بالغ شوی نه وي بيا چي بالغ شي نو بيا دا عيب نه دي تردي چي دوباره يې وکړي

بَعْدَ الْبُلُوغِ وَالْبَخَرُ وَالدَّفَرُ عَيْبٌ فِي الْجَارِيَةِ وَلَيْسَ بِعَيْبٍ فِي الْغُلَامِ

له بلوغ وروسته د خولې بدبوئي د تخرګونو بدبوئي عيب دي په مينزه کي او عيب نه دي په غلام کي

إِلَّا أَنْ يَكُونَ مِنْ دَاءٍ وَالزِّنَا وَوَلَدُ الزِّنَا عَيْبٌ فِي الْجَارِيَةِ

مګر دا که وه د کومي ناروغي له وجهې زنا او حرامي کيدل عيب دي په مينزه کي

دُوْنَ الْغُلَامِ وَإِذَا حَدَثَ عِنْدَ الْمُشْتَرِي عَيْبٌ ثُمَّ اطَّلَعَ

نه په غلام کي او کله چي پيدا شي له مشتري سره کوم عيب بيا خبر شو

عَلٰى عَيْبٍ كَانَ عِنْدَ الْبَائِعِ فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ بِنُقْصَانِ الْعَيْبِ

په عيب باندي له بائع سره پس شته ده لره چي رجوع وکړي په نقصان د عيب

وَلَا يَرُدُّ الْمَبِيعَ إِلَّا أَنْ يَرْضَى الْبَائِعُ أَنْ يَأْخُذَهُ بِعَيْبِهِ

او واپس کولی نشي مبيعه مګر دا که راضي وي بائع چي واپس واخلي هماغه

وَإِنْ قَطَعَ الْمُشْتَرِي الثَّوْبَ أَوْ خَاطَهُ أَوْ صَبَغَهُ أَوْ لَتَّ السَّوِيقَ

او که غوڅه کړه مشتري کپړا يا يې وګنډله يا يې رنګ ورکړ يا يې ګډه کړل ستوان

بِسَمْنٍ ثُمَّ اطَّلَعَ عَلٰى عَيْبٍ رَجَعَ بِنُقْصَانِهِ

له غوړيو سره بيا خبر شو په عيب باندي نو رجوع دې وکړي د نقصان د هغه

وَلَيْسَ لِلْبَائِعِ أَنْ يَأْخُذَهُ بِعَيْنِهِ

او نشته د بائع لپاره چي واخلي بعينه مبيعه

دلغاتوحل: **يمسکه**: ساتل، **التجارة**: د تاجر جمع ده، **الاباق**: مصدر ابق د غلام يا د مينزي تښيدل، **البول**: متيازي کول، **السرقة**: غلا کول، **البخر**: مصدر دی بخر الفم د خولې بدبوئي، **الدفر**: مصدر

دفر الرجل د تخرګونو بدبدني. **داء** ناروغي، خاطه: خاطه الثوب ګنډل، **صبغه** رنګول. لت السويق پهستوان کې د غوړيو ګډول، د ستوان په اوبو سره لمدول

تشريح: په پورته ذکر شوي اوږده عبارت کې يوشمير مسئلې بيان شوې دي

مسئله: که چيرته مشتري په مبيعه کې دننه په کوم عيب باندې شو نو مشتري لره اختيار دی که زړه يې وغواړي هغه دې د ټولو ثمنو په عوض کې واخلي او که زړه يې وغواړي نو ټوله مبيعه دې واپس کړي، ليکن داسې نشي کيدلی چې مبيعه وساتي او له بائع څخه د ثمن هغه مقدار واخلي کومې چې د عيب له وجهې کمې شوې دي، د بيلګې په توګه د روغې مبيعې قيمت زر روپۍ دی و د عيبجنې قيمت اته سوه روپۍ دی، نو د نقصان مقدار دوه سوه روپۍ کيږي، مشتري ټوله مبيعه هغه وخت واپس کولی شي کله يې چې د اخيستلو په وخت کې عيب ليدلی نه وي او په دغه عيب باندې راضي نه وو، دويم شرط دا ده چې داسې عيب به وي کوم ته چې تجار عيب وايي بيا يې د عيب ماتحت واپس کولی شي، د مبيعې د واپس کولو لامل دا دی چې د مشتري حق ضائع شو نو ځکه د مبيعې په واپس کولو سره دې خپل حق ترلاسه کړي، د نقصان نه وصول کولو لامل دا دی چې عيب يو صفت دی او د صفت په مقابل کې هيڅ قيمت نشته، له همدې وجهې د عيب لپاره جلا قيمت نشي ورکول کيدی

وکل ماأوجب...فهوعيب: تاجر چې کوم ته عيب وايي او د کوم عيب له وجهې چې په قيمت کې کمی راځي هغه عيب دی، په اصل کې په عيب کې د هماغه ځای محاورې لره اعتبار دی

مسئله الاباق..... بعد البلوغ: د غلام تښتيدل، د سفر مودې په اندازه هم عيب دی او د سفر له مودې څخه کم هم عيب دی، ځکه چې په دواړو صورتونو کې د آقا ګټې فوت کيږي، د ماشوم په بستر باندې متيازې کول په هغه وخت کې عيب شمارل کيږي کوم وخت چې ماشوم دومره پوهيدونکی وي چې هغه تنها خوراک څښاک کولی شي، او که چيرته همدومره پوهيدونکی نه وي نو د هغه په بستر باندې متيازې کول عيب نه شمارل کيږي، غلا کول که د لسو درهمو وي يا له دې کمه وي په دواړو صورتونو کې عيب دی.

په دغه عبارت کې د قدوري امام دا ښودل غواړي چې د ماشومتوب په زمانه کې تښتيدل، متيازې کول، غلا کول له يوې وجهې څخه وي او له بالغ کيدو وروسته له بلې وجهې وي، له همدې وجهې که چيرته دغه شيان په ماشومتوب کې پيدا شي او مشتري په ماشومتوب کې اخيستی وو بيا له بالغ کيدو وروسته همدغه ټول عيبونه ښکاره شول نو د همدغو عيبونو له وجهې مشتري مبيعه بائع ته واپس کولی نشي، ځکه چې له مشتري سره دلته نوي عيبونه ښکاره شوي دي، له بائع سره نه دي په ماشومتوب کې په بستر باندې متيازې کول د مثانې د کمزورتيا له وجهې وي او له بالغ کيدو وروسته د ختې د خرابيدو له وجهې دي، په ماشومتوب کې تښتيدل له لوبو (مستيو) سره د محبت له وجهې دی، له بالغ کيدو وروسته د پوهې خاوند شو اوس تښتيدل د خيانت له وجهې دي، په ماشومتوب کې غلا د بې پرواهي له وجهې دي، او له بالغ کيدو وروسته د فطري ګندګي له وجهې دي

البخر والذفر...... من داء: د خولې بدبوئي او د تخرګونو بدبوئي په مينزه کې عيب شمارل کيږي، ليکن په غلام کې نه دي، ځکه چې له مينزې سره آقا شپه تيروي او کله کله مچو، غيږ نيونه او جماع هم مقصود وي، چنانچه که چيرته په مينزه کې دغه شيان وي نو د شپې تيرول مشکل دي او د ګټې له پورته کولو محروم پاتې کيږي، نو ځکه دا په مينزه کې عيب دی، د همدې له وجهې مينزه واپس کولی شي، البته له غلام سره د شپې تيرول نشته بلکې له هغه ځخه مقصود خدمت اخيستل دي او بدبوئي په دغه مقصد کې مخل نه وي، نو ځکه که په هغه کې بدبوئي وه هيڅ خبره نشته، هو ! که چيرته د ناروغي له وجهې وي نو ناروغي په خپله عيب دی، له همدې وجهې د ناروغي له امله غلام واپس کولی شي.

والزنا..... دون الغلام: مسئله دا ده چې د مينزې زانيه کيدل او د هغې د زنا له نطفې ځخه پيدا کيدل دواړه خبرې په مينزه کې عيب دي او په غلام کې دواړه خبرې عيب نه دي، په مينزه کې عيب ځکه دي چې زنا کاره ښځه وي نو د هغې له نسل ځخه چې کوم اولاد راځي هغه د خرابو عادتونو والا وي، او له مينزې ځخه د اولاد زياتيدل مقصود دي نو ګوا که د خرابو عادتونو غورځوونکې ښځه راغله نو ځکه په مينزه کې زناکاري عيب دی

همدا ډول مينزه خو په خپل زناکاره نه ده، ليکن د هغې مور زنا کړې او هغه يې زيږولې او دغه مينزه حرامي ده، اوس له هغې ځخه چې کوم نسل کيږي هغه ته هم حرام او عيبجن ويل کيږي، نو ځکه په مينزه کې زناکاري او حرامي کيدل عيب دي. له غلام ځخه مقصود د نسل زياتوالی نه دی، بلکې له غلام ځخه مقصود خدمت اخيستل دي، نو ځکه په ده کې همدغه دواړه خبرې عيب نه دي، هو ! که غلام په زنا کې دومره مشغول وو چې په خدمت کولو کې خلل غورځوونکی شوی وو نو بيا دا عيب شمارل کيږي، ځکه چې د همدغه عادت له وجهې دغه غلام به په ښځو پسې ګرځي د آقا خدمت بيا خاورې وکړي، له همدې وجهې د همدغه عيب له وجهې بائع ته واپس کيدلی شي.

واذاحدث عند المشتري.... بعيبه: مشتري مبيعه واخيسته، بيا له ده سره دلته نوی عيب پيدا شو په وروسته کې معلومه شوه چې له بائع سره هم يو عيب وو، نو اوس دوه صورتونه دي، يو دا چې د صحيح سالمې مبيعې او عيبجنې مبيعې په مينځ کې کوم فرق دی هغه فرق دې له بائع ځخه وصول کړي او مبيعه دې له ځان سره وساتي، د بيلګې په توګه له پخواني عيب ځخه د سلامتي په صورت کې د مبيعې قيمت لس روپۍ ده او له پخواني عيب سره يې قيمت اته روپۍ، ده نو دوه روپۍ نقصان د چيرته بائع راضي شو د نوي عيب باوجود مبيعه دې واپس کړي، ليکن په دغه صورت کې د بائع د عيبجنې مبيعې اخيستو لپاره رضا کيدل ضروري دي، ځکه چې له مشتري سره هم دلته يو عيب پيدا شوی دی.

واذاقطع المشتري الخ د دې مسئلې دار مدار په دې قاعده باندې دی چې مشتري ته له ورتلو وروسته په مبيعه کې داسې زياتوالى راغى کوم چې له مبيعې څخه جلا کيدلى نشي، که چيرته مبيعه واپس کړي نو له همدغه زياتوالي سره واپس کيږي په دغه صورت کې د سود شبه ده چې بائع سود واخيست، نو ځکه د دې يو صورت دی هغه دا چې د صحيح سالمې او عيبجنې مبيعې ترمينځ کې چې کوم فرق دی هغه دې وصول کړي، اوس اصل مسئله دا ده چې مشتري اخيستل شوې کپړه پريکړه وې ګنډله نو په کپړه کې زياتوالى وشو، يا يې رنګ کړه په کپړه کې زياتوالى وشو، يا يې ستوان له غوړيو سره ګډ کړل نو په ستوان کې داسې زياتوالى وشو چې جلا کيدلى نشي، نو ځکه دې د نقصان رجوع وکړي. او که بائع د همدغې مبيعې واپس اخيستل وغواړي نشي يې اخيستلی، اګر که بائع او مشتري دواړه د مبيعې په واپس کولو رضا هم وي، ځکه چې په دغه مبيعه کې زياتوالى شوی، اوس که چيرته هغه واپس کړی شي نو د زياتوالي له وجهې د ربوا او سود شبه کيږي کوم چې شرعا حرام دي

وَمَنْ اشْتَرَى عَبْدًا	فَأَعْتَقَهُ	أَوْمَاتَ عِنْدَهُ	ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ	
يو چا واخيست غلام	بيا يې آزاد کړ	يا مړ شو له ده سره	بيا خبر شو په عيب باندي	
رَجَعَ بِنُقْصَانِهِ	فَإِنْ قَتَلَ الْمُشْتَرِي الْعَبْدَ	أَوْكَانَ طَعَامًا	فَأَكَلَهُ	
اخيستى شي نقصان د هغه	که وواژه مشتري غلام	يا وه خوراک	پس وې خوړ هغه	
ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبِهِ	لَمْ يَرْجِعْ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ	فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ		
بيا خبر شو په عيب باندې يې	رجوع نشي کولی په بائع باندې د کوم شي	په نزد د امام ابوحنيفة		
وَقَالَا	يَرْجِعُ بِنُقْصَانِ الْعَيْبِ	وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا	فَبَاعَهُ	ثُمَّ رُدَّ عَلَيْهِ
ويلي دي صاحبينو	اخيستى شي نقصان د عيب	يو چا خرڅ کړ غلام	پس خرڅ کړى شو	بيا واپس کړى شو هغه ته
بِعَيْبٍ	فَإِنْ قَبِلَهُ بِقَضَاءِ الْقَاضِي	فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُ عَلَى بَائِعِهِ الْأَوَّلِ		
د عيب له وجهې	پس که يې قبول کړ د قاضي په فيصله	شته ده لره چې واپس يې کړي اول بائع ته		
وَإِنْ قَبِلَهُ بِغَيْرِ قَضَاءِ الْقَاضِي	فَلَيْسَ لَهُ	أَنْ يَرُدَّهُ عَلَى بَائِعِهِ الْأَوَّلِ		
او که يې قبول کړ پرته د قاضي له فيصلې	نشته ده لره	چې واپس يې کړي اول بائع ته		
وَمَنْ اشْتَرَى عَبْدًا	وَشَرَطَ الْبَائِعُ	الْبَرَاءَةَ مِنْ كُلِّ عَيْبٍ		
يو چا واخيست غلام	او شرط ولګاوه بائع	د بري کيدو له هر عيب څخه		
فَلَيْسَ لَهُ	أَنْ يَرُدَّهُ بِعَيْبٍ	وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ جُمْلَةَ الْعُيُوبِ	وَلَمْ يَعُدَّهَا	
نشته ده لره	چې واپس يې کړي په عيب سره	اګر که د ټولو عيبونو نوم يې نه وو اخيستى	او نه يې شمار کړي وو.	

تشریح په دې عبارت کې یو شمیر مسئلو ته اشاره شوې ده.

مسئله: ومن اشترى بنقصانه که یو چا غلام واخیست او آزاد یې کړ، یا غلام چې مشتري ته راغلی مړشو بیا مشتري په هغه عیب باندې خبر شو کوم چې په بائع سره پیدا شوی وو نو په دغه صورت کې مشتري له خپل بائع څخه د عیب نقصان اخیستلی شي، د غلام مړ کیدو په صورت کې خکه چې مشتري غلام واپس کړی نه دی لیکن د مشتري حق له بائع سره پاتې شو کوم چې واپس کول دي، نو دا صورت کېدلی شي چې د نقصان رجوع وکړي او مشتري کله قصداً وژلی چې دا وویل شي چې مشتري په همدغه عیب باندې راضي وو، بلکې په قدرتي ډول مړ شو نو ځکه دې رجوع بالنقصان وکړي، همدارنګه ده که چیرته یې غلام آزاد کړ بیا په عیب باندې خبر شو نو د نقصان رجوع دې وکړي.

مسئله فأن قتل المشترى........ بنقصان العیب یوه کس غلام واخیست هغه یې وواژه بیا په غلام کې دننه په داسې عیب باندې خبر شو کوم چې له بائع سره پیدا شوی وو نو د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد له بائع څخه مشتري ته د نقصان عیب واپس اخیستو اختیار نشته.

دلیل قتل (وژل) په دې خبره دلیل کیدلی شي چې هغه په همدغه عیب راضي وو له همدې وجهې نقصان اخیستلی شي، په دغه عبارت کې دویمه مسئله دا ده چې یوه کس د خوراک کوم شی واخیست هغه یې وخوړ بیا په عیب باندې خبر شو نو د امام صاحب رحمه الله په نزد له بائع څخه نقصان نشي اخیستی، ځکه کله چې هغه په خپله وخوړ اوس که چیرته بائع دغه مبیعه واپس بیرته وغواړي نو مشتري یې نشي ورکولی، او دا کار د مشتري دلاسه شوی، ګوا که د مشتري عمل مبیعه واپس نشي ورکولی، نو ځکه مشتري لره د نقصان اخیستو حق نشته، صاحبینو ویلي دي چې نقصان دې واخلي، ځکه چې مشتري ته څه معلومه وه چې په مبیعه کې عیب وو، نو ځکه هغه په عیب باندې راضي نه وو، همدارنګه له حضرت علي رضي الله عنه څخه منقول دي چې یوه کس مینزه واخیسته او له هغې سره یې کوروالی وکړ بیا یې په هغې کې عیب پیدا کړ نو وې ویل چې مینزه مشتري لره لازمه شوه، او بائع به د تندست او عیبجن ترمینځ چې کوم فرق دی هغه به واپس کوي.

مسئله ومن باع........ علی بائعه الاول یوه کس (رحیم) خپل غلام خرڅ کړ بیا مشتري د (زید) په غلام باندې قبضه وکړه په بل چا (خالد) باندې یې خرڅ کړ، بیا دویم مشتري (خالد) په غلام کې دننه د موجود عیب له وجهې هغه لومړي مشتري (زید) ته واپس کړ نو لومړی مشتري (زید) لومړي بائع (رحیم) ته یې واپس کولی شي او که نه؟ د دې ځواب دا ده چې که چیرته (زید) له عیب څخه انکار وکړ، دویم مشتري (خالد) د مدعي په حیثیت د (زید) په اقرار عیب باندې شاهدان تیر کړل قاضي د عیب د ثبوت له وجهې د غلام واپس کولو فیصله وکړه د کومې له وجهې چې زید مجبور شو چې غلام قبول کړي، نو په دغه صورت کې زید لره حق دی چې د همدغه عیب له وجهې د لومړي بائع (رحیم) ته یې واپس کړي.

دلیل قاضي چې کله د غلام واپس کولو فیصله وکړه نو د زید او خالد په مینځ کې بیعه بیخي ختمه شوه، ګواکه چې هیڅ بیعه شوې نه ده او زید کوم داسې کار نه ده کړی د کوم له وجهې چې (رحیم) ته د غلام واپس کول مشکل شي، نو ځکه دې مشتري (زید) لومړي بائع (رحیم) ته مبیعه واپس کړې، او که چیرته زید له خالد څخه غلام د قاضي له فیصلې پرته واخیست نو د زید او خالد ترمینځ بیعه بیخي ختمه نه ده د هغې اثرات باقي دي، او هغه دا چې چې د زید خرڅولو له وجهې رحیم ته یې واپس کول مشکل شول، ځکه چې لومړي مشتري (زید) دغه غلام د قاضي له فیصلې پرته قبول کړی دی، نو ځکه په عیب باندې د زید رضامندي هم ښکاره شوې ده او کله چې زید د غلام په عیب باندې راضي شو نو اوس ده لره د خپل بائع طرفته د واپس کولو حق نشته او نه د نقصان اخیستو اختیار شته دی

مسئله ومن اشتری عبدا الخ : یو چا غلام خرڅ کړ او مشتري ته یې وویل چې مبیعه وګوره زه له ټولو عیبونو څخه بري یم بیا یې نه واپس کووم، بائع هر عیب ونه شماره او نه یې د ټولو عیبونو نوم واخیست، مشتري د هغه شرط قبول کړ نو اوس بائع له ټولو عیبونو څخه بری دی او مشتري د هیڅ یوه عیب له وجهې هم مبیعه بائع ته واپس کولی نشي، برابره ده که بائع ټول عیبونه په نوم سره شمار کړي وي او که یې نوي شمار کړي، او له همدې عیبونو څخه بائع یا مشتري خبر وي او که خبر نوي، د امام شافعي په نزد له همدې شرط سره بیعه سهي نده، د امام ابو حنیفه په نزد په دې شرط کې هر هغه عیب داخل دی کوم چې د عقد په وخت کې په مبیعه کې بالفعل موجود وي او کوم چې د مشتري له قبضې مخکې نوی عیب پیدا شوی، د امام ابویوسف هم یو قول همداسې دی

بَابُ الْبَیْعِ الْفَاسِدِ

د بیع فاسدې بیان

د قدوري صاحب د بیع صحیح د دواړو قسمونو یعنې بیع لازم او بیع غیر لازم څخه له فارغیدو وروسته اوس په دې باب کې د غیر صحیح بیان کوي، د بیع غیر صحیح څلور قسمونه دي (اول) بیع باطل (دویم) بیع فاسد (دریم) بیع مکره (څلورم) بیع موقوف

اول بیع باطل : هغه بیعه کومه چې د اصل ذات په اعتبار سره او همدارنګه د وصف په اعتبار سره روا نوي، دا بیع علی الاطلاق غیر مفیده ده له قبضې مخکې هم او له قبضې وروسته هم، لکه د معدوم بیع، د شرابو، خنزیر مرداري وغیره بیع

دویم بیع فاسد : هغه ده کومه چې د اصل په اعتبار سره روا وي البته د وصف په اعتبار سره ناروا وي، دا محض په عقد سره ملکیت فایده نشي رسولی، بلکې د ملک فایده کولو لپاره قبضه ضروري ده، لکه په بیع یا ثمن کې داسې جهالت کوم چې د نزاع سبب جوړ شي، د غیر مقدور التسلیم بیع یعنې د داسې شي خرڅول د کوم سپارل چې د بائع په قدرت کې نه وي، لکه د مفرور غلام خرڅول، د مقضتاني عقد خلاف شرط لګول، د مالیت نه موجودیت

دريم بيع مکروه هغه ده کومه چې د اصل او وصف دواړو په اعتبار سره روا وي مگر منهي عنه له هغه سره متصل وي لکه د جمعې له اذان وروسته بيعه کول

څلورم بيع موقوف هغه ده کومه چې د اصل او وصف دواړو په اعتبار سره روا وي مگر د عقد بيع جواز د کوم بل دريمگړي په اجازه پورې موقوف وي لکه چې د غلام د بيع دار مدار د مولی په اجازت باندې دی

بيعه فاسده چونکه د کثرت اسباب له وجهې زياته پيښيدونکې ده نو ځکه د باب عنوان (البيع الفاسد) منتخب کړی شوی گوا که د دې لاندې د بيع غير صحيح نور اقسام بيان شوي دي.

واضحه دې وي چې په باطل او فاسد کې عموم خصوص من وجه نسبت دی، يعنې د فاسد اطلاق په فاسد او باطل دواړو باندې شوی دی او د باطل اطلاق صرف په باطل باندې شوی دی.

إِذَاكَانَ أَحَدُ الْعِوَضَيْنِ	أَوْكِلَاهُمَا	مُحَرَّمًا	فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ
کله چې وه يو د عوضينو	يا دواړه	حرام شيان	نو بيعه فاسده ده
كَالْبَيْعِ بِالْمَيْتَةِ	أَوْبِالدَّمِ	أَوْبِالْخَمْرِ	أَوْبِالْخِنْزِيرِ	وَكَذَلِكَ
لکه بيعه په مردارې سره	يا په وينې سره	يا په شرابو سره	يا په خنزير سره	او همدارنگه
إِذَاكَانَ الْمَبِيعُ	غَيْرَمَمْلُوكٍ	كَالْحُرِّ	وَبَيْعُ أُمِّ الْوَلَدِ	وَالْمُدَبَّرِ
کله چې وه مبيعه	غير مملوک	لکه آزاد	او بيع د ام ولد	او د مدبر
وَالْمُكَاتَبِ فَاسِدٌ	وَلَايَجُوزُ بَيْعُ السَّمَكِ	فِي الْمَاءِ	قَبْلَ
او د مکاتب بيعه فاسده ده	او روا نه ده بيعه د ماهيانو	په اوبو کې	مخکې له دې
أَنْ يَصْطَادَهُ	وَلَابَيْعُ الطَّائِرِ فِي الْهَوَاءِ		
چې ښکار کړی شي	او نه بيعه د مرغه په هوا کې		

د بيع فاسد او بيع باطل احکام

د لغاتو حل **الفاسد** : (ن ض ک) فسادا د وصف متغير کيدل، خرابيدل. **الميتة** : مرداره، **الخمر** شراب. **السمك** ماهي، **يصطاد** مصدر دی ښکار کول. **الهواء** فضاء.

تشريح د کتاب صاحب په دې عبارت کې د څو مسئلو په ذکر کولو سره د بيع باطلې او بيع فاسدې احکام ذکر کړي دي

اذاکان......بالخمر الخ ويلې دي چې مبيعه يا ثمن يا دواړه که چيرته شرعاً حرام وي نو بيعه فاسده ده. لکه مرداره، يا وينه، يا شراب يا خنزير ثمن جوړ کړی شي، د قدوري امام د همدغو ټولو صورتونو بيعه فاسده گڼلې، حالانکه په دغو کې ځينې بيعې فاسدې دي او ځينې باطلې، د هدايه

صاحب ویلي دي چې که چیرته مرداره، یا وینه یا آزاد ثمن جوړ کړی شي جامه یا وغیره مبیعه جوړ کړی شي نو په دغو صورتونو کې بیعه باطلیږي، ځکه دغه شیان مال نه دي او د بیع رکن تبادله د مال بالمال ده، چنانچه د بیع رکن ختم شوی نو ځکه په ذکر شویو صورتونو کې بیعه باطلیږي. او که چیرته شراب یا خنزیر ثمن جوړ کړی شي نو بیعه فاسدیږي، ځکه چې شراب او خنزیر د اهل الذمه و په نزد مال شمارل شوي، لهذا د مبادلة المال بالمال پیدا کیدو له وجهې د بیع حقیقت پیدا شوی، لیکن مسلمان د شرابو او خنزیر په نه سپارلو باندې قادر دی او په نه قبض کولو باندې قادر دی نو ځکه بیعه فاسده شوه

ام ولد: دا هغه مینځه ده له کومې سره چې آقا کوروالی کړی وي او د هغه په نتیجه کې ماشوم پیدا شوی وي، دغه مینځه د آقا له مړینې وروسته سمدستي آزادیږي.

مدبر: د مدبر دوه قسمونه دي: (۱) مبد مطلق (۲) مدبر مقید.

مطلق: مدبر مطلق هغه دی چې آقا داسې ووایي چې دی زما له مړینې وروسته آزاد دی

مقید: مدبر مقید هغه دی چې آقا ذ هغه آزادي په کوم خاګړي مرګ باندې معلق کړې وي، د بیلګې په توګه داسې ووایي که چیرته زه په دغه ناورغي کې مړ شم په کومه کې چې مبتلاء یم نو ته آزاد یې

مکاتب: هغه دی چې آقا ورته ووایي چې ته یو زر روپۍ راکړه نو ته دې آزاد یې، د همدغو اصطلاحاتو له پیژندلو وروسته په مسئله پوه شي

هغه دا چې د قدوري د امام په قول د ام ولد، مدبر او مکاتب بیعه فاسده ده، د هدایه صاحب ویلي چې دلته له فاسد څخه مراد باطل دی، یعنې د ذکر شویو کسانو بیعه باطله ده، تفصیل دا ده چې (۱) د آزاد انسان بیعه وکړی شي نو آزاد مملوک نه دی نو ځکه د هغه بیعه باطله ده، دلیل دا ده چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې الله تعالی ویلي دي چې د قیامت په ورځ به له دریو کسانو سره جګړه وي، یو هغه کس دی کوم چې له ما سره عهد وکړ او دوکه یې وکړه، دویم کس هغه دی کوم چې آزاد خرڅ کړ او د هغه قیمت یې وخوړ، دریم هغه کس دی کوم چې یو څوک مزدور وساته هغه پوره کار وکړ او هغه ته د دې مزدوري ورنکړي

له دغه حدیث څخه معلومه شوه چې د آزاد انسان خرڅول حرام دي، او د هغه روپۍ خوړل هم حرام دي

(۲) په ام ولد کې د آزادي شائبه راغلې ده، هغه د مولی له مړینې وروسته آزادیږي، نو ځکه د ام ولد خرڅول روا نه دي، هغه ګوا که مال نه دی

(۳) د مدبر مقید بیعه د ټولو فقهاؤ په نزد روا ده، البته د مدبر مطلق په بیعه کې د فقهاؤ اختلاف دی، د شافعیانو او حنابله ؤ په نزد روا ده، د حنفیانو او مالکیانو په نزد روا نه ده (زیات تفصیل باب التدبر مسئله (۲) لاندې وګورئ)

(۴) د مکاتب خرڅول ځکه روا نه دي چې هغه د بدل کتابت په اداء کولو سره له مولی څخه عهد اخیستی، اوس که چیرته هغه خرڅ کړی شي نو د عهد خلاف به وشي او د آزادي شائبه به ختمه شي،

نو ځکه د مکاتب خرڅول روا نه دي، هو! که چیرته هغه په خپله راضي وي چې ما خرڅ کړی او مکاتبوالي ختم کړي نو هغه بیا خرڅیدلی شي

ولایجوز بیع السمك الخ اوس د مسئلې صورت دا ده چې ماهي په اوبو کې تر اوسه لا ښکار شوی نه دی، همدارنګه مرغه په هوا کې هغه لا ښکار شوی نه دی، یا هغه په قبضه کې نه ده نو د هغه بیعه کول فاسد دي، ځکه چې د هغه سپارل مشکل دي، مګر چونکه ماهي او مرغه مال دی نو ځکه بیعه فاسد بړي، لیکن که چیرته په هغو باندې قبضه وکړي او وروسته یې مشتري ته وسپاري او کومه جګړه نه وي شوې او خریدار قبول کړ نو بیعه روا کیږي

ولابیع الطائر فی الهواء: د مرغانو خرڅولو درې صورتونه دي (اول) له ښکار کولو مخکې په هوا کې یې خرڅول (دویم) مرغه له ښکار کولو وروسته چې له لاس څخه خوشې کړی شي د هغه خرڅول (دریم) د مرغه خپل ځای ته تلل راتلل. په اولنیو دواړو صورتونو کې یې خرڅول بالاتفاق ناروا دي. په اول صورت کې مرغه غیر مملوک ده ځکه یې بیع فاسده ده او په دویم صورت کې مملوک خو ده لیکن غیر مقدور التسلیم ده نو ځکه یې بیع فاسده ده. په دریم صورت کې که چیرته له ځانې ځخه په اسانی سره یې نیول ممکن وه نو د هغه بیع روا ده او که داسې نه وه بیا روا نده (عیني او هدایه).

وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْحَمْلِ فِي الْبَطْنِ	وَلَا النِّتَاجِ	وَلَا الصُّوفِ عَلَى ظَهْرِ الْغَنَمِ
او روا نه ده بیعه د حمل په خیټه کې	او نه د حمل د حمل	او نه د وړیو په شاد میږو باندې
وَلَا بَيْعُ اللَّبَنِ فِي الضَّرْعِ	وَلَا يَجُوزُ	بَيْعُ ذِرَاعٍ مِنْ ثَوْبٍ
او نه بیعه د شیدو په تیونو کې	او نه ده روا	بیعه د ګز له تان څخه
وَلَا بَيْعُ جِذْعٍ مِنْ سَقْفٍ	وَضَرْبَةِ الْغَائِصِ	وَلَا يَجُوزُ
او نه بیعه د تیر له چت څخه	او نه د جال یو ځل اچول	او نه ده روا
بَيْعُ الْمُزَابَنَةِ	وَهُوَ بَيْعُ الثَّمَرِ عَلَى النَّخْلِ	بِخَرْصِهِ تَمْرًا
بیعه د مزابنه	او دا خرڅول د میوې دي په ونه باندې	په اندازې د میوې سره

دلغاتو حل البطن: خیټه، النتاج: د حمل حمل، **الصوف**: وړی، **ظهر**: شا، **الضرع**: تیونه، **ثوب**: د کپړې تان، **جذع**: تیر، **شقف**: چت، **القانص**: دا له قنص څخه ماخوذ دی د مرغانو ښکار کول، القانص اسم فاعل ښکاري، **ضربة القانص**: په یو ځل جال اچولو سره چې څومره ښکار وکړی شي، القانص د وچې ښکاري **الغائص**: دریابي ښکاري، المزابنة: دفع کول، په ونه باندې د میوې راخوړندل کیدل، نخل: د کجورې ونه، **خرص**: اندازه

تشریح **ولایجوز......ولا النتاج** په دې عبارت کې ذکر شوې بیعې باطلې دي، صورت د مسئلې دا ده چې تر اوسه حمل په خیټه کې دی د هغه بیعه روا نه ده، د بیلګې په توګه بائع ووایي چې د دغې میښې په خیټه کې چې کوم بچی دی ما په پنځه روپۍ خرڅ کړ مشتري قبول کړ نو دغه بیعه باطله ده، همدارنګه په حمل کې چې کوم بچی دی د هغه د بچي که بیعه وکړي نو روا نه ده. مثلا خریدار ووایي که چیرته د دغې اوښې په خیټه کې ښځه (ماده) بچی وو او هغه لوی شو بچی یې وزیږاوه ما اخستی بائع دغه خبره ومنله دغه بیعه هم باطله ده.

دلیل **(ان رسول الله ﷺ نهی عن بیع حبل الحبلة وكان بیعا یتبایعه الجاهلیة)** رسول الله ﷺ د حمل بچي له بیعې څخه منعه کړې، د جاهلیت زمانې خلکو همدا ډول بیعې کولې، خلکو به داسې بیعې کولې چې د دغې اوښې په خیټه کې چې کوم بچی دی هغه چې کله بچی وزیږوي د هغه بیعه کووم.

ولا الصوف على ظهر الغنم.... في الضرع مسئله دا ده چې د میږې او بزې په شا باندې د وړیو خرڅول ناروا دي، ځکه چې د پریکولو ځای معلوم نه دی. په دې کې جګړه پېښیدلی شي، نو ځکه روا نه دي، همدارنګه په حدیث کې هم منعه راغلې ده.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه یو اوږد روایت دی کوم چې علامه بدرالدین عیني د هدایه په شرح کې د دارقطني په حواله نقل کړی دی په هغه کې دي چې **(ولایباع صوف على ظهر)** نه دې خرڅول کیږي وړی، د هغو په شا باندې.

په تیونو کې د شیدو خرڅول ناروا دي، ځکه چې په دې کې دوکه ده، او دوکه نه دې وجهې ده چې کیدلی شي چې تیونه د هوا له وجهې ډک شوي وي او مشتري په هغو د شیدو ګمان وکړي. دویم دلیل دا ده چې د لوښلو په کیفیت کې جګړه پېښیږي، ځکه چې خریدار به غواړي چې یو یو ځاځکی ترې ولوشي او بائع به غواړي چې په تیونو کې یو څه شیدې پاتې شي.

ولایجوز بیع ذراع .... ضربة القانص : د مسئلې صورت دا ده چې کومې داسې کپړې څخه د یوه ګز خرڅول د کوم په پریکولو سره چې نقصاني کیږي روا نه دي، برابره که د پریکولو ځای معلوم شوی وي او که نه وي معلوم شوی، دغه مسئله په هغې قاعدې باندې ده چې مبیعه د بائع له مال سره یو ځای شوې وي ځکه چې د مبیعې په جلا کولو کې د بائع د مال نقصان دی. لکه له تان څخه د یوه ګز په پریکولو کې باقي تان ته نقصان دی، ځکه چې هغه بیا د هیڅ په کار نه ورځي، نو ځکه دا بیعه فاسده ده. لیکن که چیرته د ګز په جلا کولو کې د تان نقصان نه وو لکه په تنې زمانه کې چې ده نو د یوه دوو ګزونو بیعه روا ده، همدارنګه تیر په چت باندې لګیدلی دی که د هغه په ویستلو سره د تول چت راغورځیدو یا کمزوري کیدو ویره (خطر) دی نو د داسې تیر بیعه هم نه روا کیږي

یو کس داسې وویل چې یو خل به اوبو کې جال اچووم په هغه کې چې څومره ماهیان راګیر شي د هغو قیمت به سل روپۍ وي نو دا د ول بیعه روا نه ده

دليل: په دغه صورت کې مبیعه مجهوله ده، معلومه نه ده چې څومره ماهیان به په جال کې راګیرېږي، دا هم ممکنه ده چې یو ماهي هم پکې راګیر نشي، بلکې په جال مار، لړم او وغیره ونښلي، نو ځکه دا بیعه روا نه ده

ولابيع المزابنة الخ د کجورو په ونه باندې کجورې لګېدلې دي د هغو د پرې شویو کجورو په عوض کې خرڅول روا نه دي، ځکه چې د پرې شویو کجورو وزن ممکن دی او په ونه باندې د لګېدلیو کجورو وزن ممکن نه دی، او مسئله دا ده کله چې د کجورو بیعه په کجورو سره وي نو په دې صورت کې برابروالی ضروري دی تفاضل حرام دی، او په اټکل او اندازې سره د خرڅولو په صورت کې د مساوات موندل یقیني نه دي، بلکې د کمي او زیاتي احتمال شته دی، او په ربویه مالونو کې د کمي اوزیاتي له احتمال سره یې خرڅول حرام دي

د امام شافعي رحمه الله مذهب: امام شافعي رحمه الله په پنځو وسقونو څخه په کم کې بیع مزابنه ته عرایا ویلي دي کومه چې روا ده، او که چیرته پنځه وسق یا له دې زیات وو نو مزابنه ده او حرامه ده، لهذا د ده په نز که چیرته کوم کس په ونه باندې لګېدلې کجورې له پنځه وسق څخه د کمو کجورو په عوض کې خرڅې کړي نو دا روا ده، دا بیعه عرایا ده، ګوا که د ده په نزد په عرایا او مزابنه کې فرق صرف دا ده چې مزابنه له پنځه وسق څخه په زیات کې ده او عرایا له پنځه وسق څخه په کم کې ده.

دليل (عن ابی هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم رخص فی بيع العرايا فی خمسة اوسق اودون خمسة اوسق قال نعم)

رسول الله صلى الله عليه وسلم د عرایا په بیعه کې رخصت ورکړی په پنځه وسق له دې څخه په کم کې وې فرمایل: هو!

د حنفيانو مذهب او تفسير: امام ابوحنیفة رحمه الله چې د بیع العرایا کوم تفسیر بیان کړی هغه دا ده چې خیني وخت د باغ مالک د خپل باغ د یوې ونې میوه کوم فقیر او محتاج ته هبه کړې وو، لیکن د کجورو تر پخیدو پورې هغه صبر نکاوه، له همدې وجهې مالک فقیر ته وویل چې ته د همدغې ونې میوه په ما باندې خرڅه کړه او د هغو په عوض کې له ما څخه پرې شوې کجورې واخله، چنانچه فقیر پرې شوې کجورې واخیستې او ولاړ، په دغه صورت کې بیع ده، لیکن په حقیقت کې لومړی والاهدیه د پرې شویو کجورو په صورت کې ورکړی شوې دي، تقریباً دغه تفسیر امام بخاري رحمه الله هم بیان کړی دی

د حنفيانو د ترجيح وجوهات: د عرایا په باره کې امام صاحب رحمه الله چې کومه تشریح بیان کړې ده هغه لغةً او درایةً په هر اعتبار سره راجح ده. لغةً ځکه ده چې عرایا جمع د عرية ده او د عرية معنی ده

عطيه او دا خبره په لغت کې مشهوره ده چې په ونه باندې د لګيدليو کجورو هديه کولو ته عريه ويل کيږي، او شافعيانو چې کوم تفسير بيان کړی دی په هغه کې د عطيه هيڅ طرف موجود نه دی او درايةً ځکه راجح دی چې مزابنه په حقيقت کې د سود يوه برخه ده او په سود کې دننه د کم او کثير هيڅ فرق نشته، چې په قليل (کم) کې روا او په کثير (زيات) کې ناروا شي، او د حنفيانو د تفسير اخستلو په صورت کې په کم کې هم د سود احتمال باقي نه پاتې کيږي، نو ځکه د حنفيانو مذهب راجح دی

وَلَا يَجُوْزُ الْبَيْعُ	بِإِلْقَاءِ الْحَجَرِ	وَالْمُلَامَسَةِ	وَلَا يَجُوْزُ بَيْعُ ثَوْبٍ	
او روا نه ده بيعه	په غورځولو د ډبرې سره	او په لمس کولو سره	او روا نه ده بيعه د يوې جامې	
مِنْ ثَوْبَيْنِ	وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا	عَلَى أَنْ يُعْتِقَهُ الْمُشْتَرِي	أَوْ يُدَبِّرَهُ	
له دوه جامو څخه	چا چې خرڅ کړ غلام	چې ازادوي به يې مشتري	يا به يې مدبر کوي	
أَوْ يُكَاتِبَهُ	أَوْ بَاعَ أَمَةً	عَلَى أَنْ يَسْتَوْلِدَهَا	فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ	
يا به يې مکاتب جوړوي	يا يې خرڅه کړه مينزه	چې هغه به ام ولده جوړوي	نو بيعه فاسده ده	
وَكَذٰلِكَ لَوْ بَاعَ عَبْدًا	عَلَى أَنْ يَسْتَخْدِمَهُ الْبَائِعُ	شَهْرًا	أَوْ دَارًا	
همدارنګه که يې خرڅ کړ غلام	چې خدمت به اخلي ترې بائع	يوه مياشت	يا کور	
عَلَى أَنْ يَسْكُنَهَا الْبَائِعُ	مُدَّةً مَعْلُوْمَةً	أَوْ عَلَى أَنْ يُقْرِضَهُ الْمُشْتَرِي		
چې اوسيږي به پکې بائع	معلومه موده	يا چې قرض به ورکوي مشتري		
دِرْهَمًا	أَوْ عَلَى أَنْ يُهْدِيَ لَهُ	وَمَنْ بَاعَ عَيْنًا		
يو څه درهم	يا چې څه هديه به ورکوي	او چا چې خرڅ کړ کوم شی		
عَلَى أَنْ لَا يُسَلِّمَهَا إِلَى رَأْسِ الشَّهْرِ	فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ	وَمَنْ بَاعَ		
چې نه به يې سپاري د مياشتې تر سر پورې	نو بيعه فاسده ده	او چا چې خرڅه کړه		
جَارِيَةً	أَوْ دَابَّةً	إِلَّا حَمْلَهَا	فَسَدَ الْبَيْعُ	وَمَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا
مينزه	يا څناور	مګر حمل يې خرڅ نکړ	فاسده شوه بيعه	او چا چې واخيسته جامه
عَلَى أَنْ يَقْطَعَهُ الْبَائِعُ	وَيَخِيطَهُ قَمِيْصًا	أَوْ قَبَاءً	أَوْ نَعْلًا	
چې پرې کوي به بائع	او ګنډي به قميص	يا قباء (چپنه)	يا يې واخيست پيزار	
عَلَى أَنْ يَحْذُوَهَا	أَوْ يُشَرِّكَهَا	فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ		
چې هغه به برابروي	يا به پټې ورکوي	نو بيعه فاسده شوه		

د لغاتو حل **الملامسة** د يوبل مښل، **رأس الشهر** د مياشتي لومړی تاريخ. **نعلا** پيزار، څرمنه. دلته په عام ډول يله معنی مراد اخيستل شوې ليکن حقيقي معنی هم مراد کېدی شي. **يحذو** حذوا النعل په نمونه باندې برابرول، پيزار جوړول. که چيرته د نعل معنی شي نو د حذ ترجمه شوه په نمونه باندي برابرول. او که د نعل معنی څرمنه ده نو د حذ معنی شوه پيزار جوړول. **يشرك** په پيزار کې تسمه لګول. دا لفظ هم په دې باندې دال دی چې له نعل څخه پيزار مراد دی

ولايجوز..... والملامسة په يوه ځای کې مبيعه ايښودل شوې ده، مشتري کاڼي ور ويشت او په يوه مبيعه باندې ولګيده، په کوم باندې چې کاڼی ولګيده هغه د مشتري شوه، ګوا که ايجاب او قبول وشو. دا د القاء حجر بيعه ده

ملامسه د دې شکل دا ده چې ډېر قسمونه مبيعې ايښودل شوې دي. مشتري يوه لمس کړه نو دغه مبيعه د مشتري شوه، دا د ملامسه بيعه شوه، دغه دواړه بيعې ناروا دي

دليل رسول الله ﷺ منعه کړې له بيع منابذه څخه او هغه دا ده چې يو انسان د بيع لپاره کپړه وغورځوي د انسان طرفته مخکې له دې چې هغه يې وپلټي يا يې وګوري. او منعه يې کړې ده له بيع ملامسه څخه او ملامسه دا ده چې کپړه لمس کړي او هغه ونه ګوري او بيعه لازمه شي، په دغه حديث کې له بيع ملامسه او بيع منابذه څخه صراحةً منعه شوې ده. او بيع القاء الحجر چونکه د همدې دواړو همغه معنی ده نو ځکه هغه هم له دوی سره پيوسته شوې ده

ومن باع عبدا.... ان يهدی له په متن کې ذکر شوې ټول مسائل په دې قاعده باندې متفرع دي چې له بيع سره داسې شرط ولګول شي کوم چې له بيع سره موافق نه وي او په هغه کې په خپله مبيعې لره ګټه (فايده) وي او مبيعه غلام يا مينزه وي کوم چې قاضي ته ورتللی او مقدمه چلولی شي نو دا ډول بيعه فاسديږي، له دې قاعدې وروسته اوس په متن باندې نظر واچوی چې د غلام په آزادولو، د هغه په مدبر جوړولو او د هغه په مکاتب جوړولو کې په خپله د مبيعې فايده ده، او مبيعه انسان دی له همدې وجهې جګړه هم کيدلی شي. لهذا بيعه فاسده شوه.

قاعده دا ده چې که چيرته له بيع سره داسې شرط ولګول شي کوم له بيع سره موافق نه وي. همدارنګه چې په هغه کې د بائع فايده وي نو په داسې صورت کې بيعه فاسديږي. د بيلګې په توګه بائع ووېل زه ښکاره خبره ده چې په دې کې د بائع ګټه ده. د متن مسائل په همدې قاعده باندې بناء دي. مثلا بائع غلام خرڅ کړ په دې شرط باندې چې غلام به تر يوې مياشتې پورې د بائع خدمت کوي نو بيعه فاسده شوه، ځکه غلام خو خرڅ شوی او د مشتري دی د بائع خدمت ولې وکړي؟

يا به دي شرط کور خرڅ کړي چې بائع به په هغه کې تر يوې معلومې مودې پورې اوسيږي، مثلاً تر يوې مياشتې به پکې اوسيږي، يا په دي شرط باندې چې مشتري به بائع ته يو څه روپۍ قرض ورکوي، يا دا چې هديه به ورکوي، نو دغه شرطونه فاسد دي او په همدوی سره بيعه فاسديږي

ومن باع عينا......فالبيع فاسد: که چيرته يو چا مال عين يعني له دراهم او دنانير پرته کوم معلوم شی له دې شرط سره خرڅ کړ چې مبيعه به لومړی نيټه يا اخيرنۍ نيټه سپارم نو دغه بيعه فاسده شوه، ځکه چې مهلت د آسانۍ لپاره ورکول کيږي ترڅو چې په همدغه موده کې د همدغه شي ترلاسه کول آسانه شي او مال عين بالفعل موجود دی، دراهم او دنانير کرار کرار پيدا کولی شي، په معلومه او موجوده مبيعه کې د نيټې ټاکل باطل شول، او په فاسد شرط سره بيعه فاسده شوې ده، نو ځکه په همداسې شرط سره بيعه فاسديږي

د عين قيد په زياتولو سره مسلم فيه خارج شوی دی، ځکه چې په بيع مسلم فيه کې مبيعه خو شته مګر عين نه وي، بلکې د مسلم اليه په ذمه کې واجب شوې دی او د هغې سپارل له مياشتو وروسته دي، له همدې وجهې د مسلم فيه لپاره نيټه مناسب ده

ومن باع جارية ..... فسد البيع : قاعده دا ده چې د کوم شي تنها خرڅول روا دي د هغه له عقد بيع څخه مستثنا کول هم روا دي، او د کوم شي چې تنها خرڅول روا نه دي د هغه له عقد بيع څخه مستثنا کول هم روا نه دي، حمل هم له همدې قسم څخه دی. په دغه قاعده باندې په متن کې ذکر شوې مسئله متفرع ده، مثلاً مينزه خرڅوي او وايي چې د هغې حمل نه خرڅووم. هغه له بيع څخه مستثنی کړی شو، په همدې ډول څاور خرڅوي ليکن د هغه حمل مستثنی کوي، نو بيعه فاسده شوه، ځکه حمل (بچی) چې ترڅو پيدا شوی نه وي د مور د اندام په څېر جز، دی، کله چې د مور بيعه وکړی شي نو د اندام او جز، بيعه هم کيږي، له همدې وجهې د حمل په مستثنی کولو سره بيعه فاسديږي

ومن اشترى ثوبا ...... او قباء: قاعده دا ده که چيرته له بيع سره داسې شرط ولګول شي کوم چې د بيع مخالف وي او په هغه کې د مشتري فايده وي مثلاً په دې شرط باندې اخيستل شوې وي چې ماته زيات قرض راکړې نو په دغه صورت کې بيعه فاسديږي، د همدغې قاعدې په رڼا کې متن وګورئ مثلاً جامه يې واخيسته او دا شرط يې هم ولګاوه چې بائع به هغه پريکوي له هغې به قميص يا چينه جوړوي، نو له اخيستو پرته دا يو جلا شرط شو په کوم کې چې د مشتري فايده ده نو ځکه بيعه فاسده شوه، همدارنګه په دغه صورت کې يو خو بيعه شوه او جلا د پريکولو او ګنډلو شرط لګول نو دا اجاره شوه او په يوه بيعه کې دوه معاملې کول منعه دي

اونعلا على ان يحذوا الخ : يوه کس څرمن په دې شرط واخيسته چې بائع به له هغې پيزار جوړوي يا يې پيزار په دې شرط واخيست چې بائع به تسمه پکې اچوي نو د مقتضائي عقد خلاف شرط له امله د قياس مطابق د بيع فاسد کيدل پکار دي مګر څرنګه چې د کتاب د صاحب خيال دی امام زفر هم د

دي قائل دى، خو په عوام الناس کې د تعامل له امله استحساناً دا عقد روا شوى دى، فتوى په همدې باندې ده

وَالْبَيْعُ إِلَى النَّيْرُوْزِ	وَالْمِهْرَجَانِ	وَصَوْمِ النَّصَارٰى	وَفِطْرِ الْيَهُوْدِ	
او خرڅول د نوروز تر ورځې	او د مهرجان تر ورځې	او د نصارى د تر روژې	او د يهودو تر افطار	
إِذَا لَمْ يَعْرِفِ الْمُتَبَايِعَانِ	ذٰلِكَ	فَاسِدٌ	وَلَا يَجُوْزُ الْبَيْعُ	
کله چې نه پيژني بائع او مشتري	دغه شيان	نو بيعه فاسده ده	او روا نه ده بيعه	
إِلَى الْحَصَادِ	وَالدِّيَاسِ	وَالْقِطَافِ	وَقُدُوْمِ الْحَاجِّ	فَإِنْ تَرَاضَيَا
د فصل تر ريبلو	تر خشاوه کولو	د ميوو تر راشوکولو	د حاجيانو تر راتللو پورې	بيا که رضا شي
بِإِسْقَاطِ الْأَجَلِ	قَبْلَ أَنْ يَأْخُذَ النَّاسُ	فِي الْحَصَادِ	وَالدِّيَاسِ	
په ساقط کولو د نېټو	مخکې له دې چې واخلي خلک	په ريبلو	يا خشاوه کولو کې	
وَقَبْلَ قُدُوْمِ الْحَاجِّ	جَازَ الْبَيْعُ	وَإِذَا قَبَضَ الْمُشْتَرِي	الْمَبِيْعَ	
او مخکې له راتلو د حاجيانو	روا کيږي بيعه	او چې قبضه وکړه مشتري	په مبيعه باندې	
فِي الْبَيْعِ الْفَاسِدِ	بِأَمْرِ الْبَائِعِ	وَفِي الْعَقْدِ عِوَضَانِ	كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا	
په بيعه فاسده کې	په امر د بائع	او د عقد په دواړو عوضونو کې	هر يو يې له دوى	
مَالٌ	مَلَكَ الْمَبِيْعَ	وَلَزِمَتْهُ قِيْمَتُهُ	وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَعَاقِدَيْنِ	
مال دى	مالک کيږي د مبيعې	او لازم شو قيمت يې	او هر يوه د بائع او مشتري ته روا ده	
فَسْخُهُ	فَإِنْ بَاعَهُ الْمُشْتَرِي نَفَذَ بَيْعُهُ	وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَ حُرٍّ وَعَبْدٍ		
ماتول يې	که خرڅه کړه مشتري نافذ شود بيعه د هغه	او چا چې سره يو ځاى کړل آزاد او غلام		
أَوْ شَاةٍ ذَكِيَّةٍ وَمَيْتَةٍ	بَطَلَ الْبَيْعُ فِيْهِمَا	وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَ عَبْدٍ وَمُدَبَّرٍ		
يا ذبحه شوى پسه او مړ پسه	باطليږي بيعه په دواړو کې	او چا چې سره يو ځاى کړل غلام او مدبر		
أَوْ بَيْنَ عَبْدِهٖ وَعَبْدِ غَيْرِهٖ	صَحَّ الْبَيْعُ فِي الْعَبْدِ	بِحِصَّتِهٖ مِنَ الثَّمَنِ		
يا خپل غلام او د بل چا غلام	صحيح کيږي بيعه په غلام کې	د هغه د برخې په قيمت سره		

د لغاتو حل **النيروز**: دغه لفظ د نوروز معرب ده (هغه لفظ له کوم چې عربي جوړ شوى وي او په اصل کې هغه د بلې ژبې وي)، د شمسي کال لومړى ورځ. **المهرجان**: د مهرګان معرب دى د موسم خريف لومړى ورځ د پارسيانو د اختر اوله ورځ. **صوم النصارى**: د صاحب عنايه په قول پنځوس روژې دي او

د علامه ابن الهمام په قول پنځه ويشت روژې دي، لهذا د روژې نيولو ورځې مجهولې دي او د دوی د اختر ورځ معلومه ده، **القطاف** د ميوې شوکولو موسم، حصار د غصل ريبل، ذکية مذبوحه

شرح په دې عبارت کې د قدوري امام يو شمير مسائل ذکر کړي دي

مسئله که چيرته يو چا کوم سامان واخيست او د ثمن (روپيو) ورکولو لپاره يې د نوروز يا مهرجان ورځ معلومه کړه، يا يې داسې ووېل چې په کومه ورځ چې نصاری روژه شروع کړي، يا د يهودو اختر شي په هغه ورځ به يې اداء کړم، په دغو ټولو صورتونو کې بيعه فاسده ده، ليکن فساد هغه وخت دی کله چې مشتري او بائع ته د همدغو ورځو علم نه وي، او که چيرته متعاقدينو ته ذکر شوې ورځې معلومې وي چې کله نوروز دی، کله مهرجان دی، نصاری کله روژې شروع کوي، د يهودو اختر کله وي نو بيعه نه فاسديږي

مسئله د مسئلې صورت دا ده يو چا داسې ووېل چې ما دغه شی په پنځوس روپۍ واخيست په دې شرط چې روپۍ به د فصل پريکولو په ورځ ورکوم، يا د غنمو پريکولو په ورځ به يې ورکوم، يا د ميوو شوکولو په ورځ به يې ورکوم، يا د حاجيانو راتللو په ورځ به يې ورکوم، دغه ورځې معلومې نه دي، مخکې هم کېدلی شي او په وروسته کې هم کومه ورځ د فصل ريبلو معلومه نه ده، نو ځکه د مودې مجهول کېدو له امله دغه بيعه فاسده ده، که چيرته دغې ورځې معلومې وي نو روا کيږي، هو! که چيرته د همدغو ورځو له راتلو مخکې دغه نيټې ختمې کړی شي نو په بيعه کې د فساد شامل کېدو ځنه مخکې ختمه شوه نو ځکه بيعه روا کيږي، چونکه په دغو ورځو کې موده خو مجهوله ده ليکن کمه مجهوله ده، له همدې وجهې که چيرته له مودې مخکې جهالت ساقط کړی شي نو بيعه روا کيږي

مسئله په دغه عبارت کې د قدوري امام د بيع فاسدې حکم بيان کړی دی چې که چيرته دری شرطونه وموندل شي نو په بيع فاسده کې مشتري د مبيعې مالک جوړيږي (۱) مشتري په مبيعه باندې قبضه وکړه (۲) د بائع په اجازه يې قبض وکړه برابره ده که صراحةً وه که دلالةً (۳) چې مبيعه او ثمن دواړه مال وي. دغه دری شرطونه چې وموندل شي نو مشتري د مبيعې مالک جوړيږي او په هغه باندې د مبيعې بازاري قيمت لازميږي. بهر حال زمونږ په نزد په بيع فاسد کې په مبيعه باندې د مشتري قبضه مفيد ملک ده

د ائمه ثلاثه مذهب: په بيع فاسده کې قبضه مفيد ملک نه ده، يعني که چيرته مشتري په بيعه فاسده کې د بائع په اجازې سره هم قبضه وکړي بيا هم مشتري د مبيعې مالک نه جوړيږي

دليل: د بيع فاسد ټولو صورتونه د بيع باطل په صورتونو باندې په قياس کولو سره ائمه ثلاثه ؤ ويلي دي چې يو چا کوم شی د مردارې په عوض کې خرڅ کړ او مشتري په مبيعه باندې قبضه وکړه نو د اختافو په نزد هم د مشتري لپاره ملک نه ثابتيږي، چنانچه لکه څرنګه چې په دغه صورت کې د بيع غير مشروع کېدو په صورت کې بيع مفيد ملک کيدی نشي همدارنګه د بيع فاسد په صورت کې هم

د عدم مشروعیت له وجهې بیع مفید ملک کیدی نشي، ګوا که د دوی په نزد د بیع فاسد او بیع باطل په مینځ کې هیڅ فرق نشته دی

ځواب: چونکه مردار مال نه دی نو ځکه د مردارې په عوض کې د خرڅیدو په صورت کې احد العوضین یعنې ثمن مال نشو، لهذا د بیع رکن یعنې مبادلة المال بالمال معدوم شو، او کله چې د بیع رکن ختم شو نو بیعه منعقده نشوه، نو هغه مفید ملک هم نشوه، نه له قبضې مخکې او نه له قبضې وروسته، د دې بر خلاف بیع فاسده چې هغه منعقده شوې ده، لیکن د فاسد شرط له وجهې په هغې کې فساد پیدا شوی، چنانچه د دواړو په مینځ کې فرق دی، نو که د بیع فاسد په بیع باطل باندې قیاس کول صحي نشول

د حنفیانو دلیل: د بیع فاسدې دننه په اصل کې هیڅ کمی نشته، ځکه چې دواړه طرفونه مال دی، نو ځکه ملکیت ثابتیږي، دلته خو خامي په شرط کې ده چې په کومه بیعه کې د بائع ګټه وي او په کومه کې د مشتري، په کومه بیعه کې دوکه وي او په کومه کې جګړه، د همدغو شیانو د ورکیدا لپاره بیعه فاسده شوې ده، لیکن که چیرته جګړه نه وه او مشتري قبضه کړې ده نو آخر بیعه روا ګڼل کیدلی شي بیا د قدوري صاحب ویلي دي چې په بیعه فاسده کې مشتري قبضه کړې وي مبیعه په بل لاس خرڅه شوې وي نو دویمه بیعه نافذیږي، ځکه چې د لومړي بیع په اصل کې خامي نه وه، صرف د هغې په مصف او شرط کې خامي وه او هغه هم له جګړې پرته ختمه شوې نو لومړۍ بیعه هم نافذه شوه.

ومن جمع فیهما: آزاد مبیعه نه ده، همدارنګه مردار پسه مبیعه نه ده، له همدې وجهې د دوی خو بیعه نکیږي او عقد یو دی نو ځکه د هغه اثر په دویمه مبیعه یعنې په غلام او ذبحه شوي پسه باندې لویږي او د هغو بیعه هم نکیږي، په دې باره کې د ائمهٔ اتفاق دی چې آزاد انسان او خپل غلام چې یو ځای خرڅ کړی شي یا ذبحه شوي پسه او مردار پسه یو ځای خرڅ کړی شي او ثمن جلا جلا بیان شوي نه وي نو په ټولو کې بیعه باطلیږي، مګر په دې سلسله کې اختلاف دی چې که چیرته د یوه ثمن جلا بیان شوي وي نو بیعه کیږي او که نکیږي؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

د ائمه ؤ اختلاف: (۱) د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دواړو صورتونو کې د دواړو بیع باطله ده، برابره ده که د دواړو ثمن جلا جلا بیان شوي وي او که نه وي بیان شوي، د همدې قائل امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دی، همدا یو قول د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دی

(۲) صاحبینو ویلي دي چې د غلام قیمت جلا بیان شوی وي او د آزاد جلا بیان شوی وي، همدارنګه د ذبحه شوي پسه جلا قیمت بیان شوی وي او د مردار جلا بیان شوی وي نو د غلام او ذبحه شوي پسه بیعه روا کیږي، برابره ده که دواړه په یوه عقد کې خرڅ شوي وي، د آزاد او مردار پسه بیعه باطلیږي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ یو قول هم همدا دی.

دلیل: د دواړو قیمت د جلا جلا کیدو له وجهې د آزاد بیعه نکیږي نو د غلام په قیمت کې جهالت پاتې نشو نو ځکه د غلام بیعه نه فاسدیږي، همدارنګه د ذبحه شوي پسه قیمت جلا بیان شوی دی نو د

مردار پسه بیعه نه ده شوې. او س هم د ذبحه شوي پسه په قیمت کې جهالت نه دی پاتې شوی، نو څکه د ذبحه شوي پسه بیعه وشوله

د امام ابو حنیفة رحمه الله دلیل او د صاحبینو د دلیل ځواب آزاد انسان او مردار ځناور د مال نه کیدو له وجهې د بیع لاندې قطعًا داخل شوي نه دي. نو څکه دوی غیر مبیعه شول. او کوم غلام او ذبحه شوي پسه چې له دوی سره یو ځای شوي او خرڅ شوي دي هغه مبیعه دي. ګوا که بائع د مبیعې یعنې غلام او ذبحه شوي پسه دننه د بیع قبلولو لپاره غیر مبیعه یعنې آزاد انسان او مردار پسه کې دننه د بیع قبولو شرط لګولی دی. او دغه شرط فاسد شرط دی. او په فاسد شرط سره چونکه بیعه فاسدیږي نو څکه په غلام کې دننه هم بیعه فاسده شوه

ومن جمع بین عبد الخ غلام او مدبر غلام یو ځای کړی شول یا یې خپل غلام او د بل چا غلام په بیعه کې یو ځای کړل د هغه بل له اجازې پرته نو د مدبر بیعه خو نکیږي، لیکن د خالص غلامبیعه کیږي. او کوم قیمت چې د ده د برخې کیږي هغه په مشتري باندې لازمیږي. مثلا د څلورو زرو غلام او مدبر وو نو په مشتري باندې یو زر روپۍ لازمیږي. همدارنګه د بل چې د غلام له اجازې پرته په بیعه کې نه داخلیږي. بلکې بیعه موقوفه پاتې کیږي. لیکن د خپل غلام بیعه کیږي. او کوم قیمت چې د هغه د برخې دی هغه په مشتري باندې لازمیږي

وَنَهَى	رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	عَنِ النَّجْشِ	
او منعه کړې	رسول الله ﷺ	له نجش کولو څخه	
وَعَنِ السَّوْمِ عَلَى سَوْمِ غَيْرِهِ	وَعَنْ تَلَقِّي الْجَلَبِ	وَعَنْ بَيْعِ الْحَاضِرِ	
او د بل په قیمت باندې د قیمت له لګولو څخه	او له سوداګرو سره له یو ځای کیدو	او د ښاري خلکو له بیع	
لِلْبَادِي	وَالْبَيْعِ عِنْدَ أَذَانِ الْجُمُعَةِ	وَكُلُّ ذَلِكَ يُكْرَهُ	وَلَا يَفْسُدُ بِهِ الْبَيْعُ
د کلیو له اوسیدونکو سره	او بیعه د جمعې د اذان په وخت کې	دغه ټول مکروه دي	نه فاسدیږي په دې سره بیعه
وَمَنْ مَلَكَ مَمْلُوكَيْنِ صَغِيرَيْنِ	أَحَدُهُمَا ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ	مِنَ الْآخَرِ	
او څوک چې مالک شو د کوچنیو ماشومانو	یو په هغو کې ذی رحم محرم وو	د هغه بل	
لَمْ يُفَرِّقْ بَيْنَهُمَا	وَكَذَلِكَ إِذَا كَانَ أَحَدُهُمَا كَبِيرًا	وَالْآخَرُ صَغِيرًا	
جدائي نه راوستل کیږي په دوی کې	او همدارنګه کله چې وي په دوی کې یو لوی	او دویم کوچنی	
فَإِنْ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا	كُرِهَ ذَلِكَ	وَجَازَ الْبَيْعُ	وَإِنْ كَانَا كَبِيرَيْنِ
که یې جدائي وکړه د دوي په مینځ کې	مکروه دي داسې کول	او روا ده بیعه	او که وو دواړه لویان

فَلَابَأسَ	بِالتَّفْرِيقِ بَيْنَهُمَا
نو هيڅ خبره نشته	په جدائي کې د دوی په مينځ کې

د مکروهه بيوعاتو بيان

د لغاتو حل: **النجش**: بفتح النون په جيم کې دوه لغته دي يو بالفتح او بل بالکسر بلا اراده خريد او د بل کس لمسولو لپاره بولی کول. **السوم**: قيمت لګول. **جلب**: له يوه ښار ځخه بل ښار ته د تجارت لپاره د يوه شي وړل. **تلقی الجلب**: له سوداګرو سره ملاويدل. **الحاضر**: مراد ښاري دی. **البادي** کوچيان، کليوال خلک، دلته دويمه معنی مراد ده.

تشريح: **عن النجش**: صورت يې دا ده چې يوه کس له بل کس نه کوم سامان اخيستی دی، او س دريم کس راغی د همدغه سامان زيات قيمت لګوي او هغه ته وايي چې په ما باندې يې خرڅ کړه، حالانکه د ده مقصد د سامان اخيستل نه وي. بلکې چې قيمت ولګوي خامخا د هغه قيمت زياتيږي ترڅو چې بل کس يې په لوړ قيمت واخلي، په حديث کې له دې ځخه منعه شوې او داسې کول مکروه تحريمي دي، بيا هم بيعه کيږي ځکه چې په اصل عقد کې خامي نشته.

عن السوم علی سوم غيره: يو کس له بل کس سره د بيع کولو لپاره د قيمت په لګولو اخته دی او بائع تقريباً په هغه باندې خرڅولو ته آماده شوی دی. ليکن دويم کس په مينځ کې راغی دا يې وويل چې زه يې له ده ځخه په زياتو روپيو اخلم دغه شی په ما باندې خرڅ کړه نو دغه صورت روا نه دی، داسې کول مکروه تحريمي دي.

تلقی الجلب: د تلقی الجلب مطلب دا ده چې کوم تجار له باندې ځخه د تجارت سامان د خرڅولو لپاره ښار ته دننه راوړي او دويم کس همدغه ښار ته له داخليدو مخکې له هغه سره ملاقات وکړي، د تجارت همدغه سامان ترې واخلي ترڅو چې همدغه سامان بيا د ښار په خلکو په لوړ قيمت خرڅ کړي، له همداسې کولو ځخه رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منعه کړې، او که چيرته يو چا همداسې وکړل د حنفيانو په نزد بيعه منعقده کيږي او مشتري د همدغه شي مالک کيږي، ليکن داسې کول مکروه دي.

د تلقی الجلب دوه وجهې صورتونه دي (۱) کوم کس چې د باندې ولاړ شي له راتلونکي تجار ځخه سامان واخلي هغه تنها د همدغه سامان مالک جوړ شي، او کله چې د همدغه سامان قيمت زيات شي هغه وخت يې بيا په خپل سر (يعني د خان په خوښه) په بازار کې خرڅوي، د کوم په نتيجه کې چې بيا قيمتي شي او خلک په همدې قيمت (نرخ) باندې د هغه اخيستو ته مجبور شي نو په دغه صورت کې د ښار خلکو ته نقصان دی.

(۲) غرر (دوکه) عموماً کوم خلک چې له ښار څخه د باندې ځي او له راتلونکو تجارانو څخه د تجارت سامانونه اخلي زیاتره وخت دوی راتلونکو تجارانو ته دوکه هم ورکوي، څکه چې راتلونکو تجارانو ته دا معلومه نه وي چې په بازار کې د دغه شي نرخ څه دول چلیږي. مثلاً د یوه شي نرخ په بازار کې پنځوس روپۍ دی او دوی تجار ته دروغ ووایي همدغه شی په څلوېښت روپۍ تري واخلي او ورته ووایي چې په بازار کې د دغه شي نرخ څلوېښت روپۍ دی، نو دوی دغه تجار ته دوکه ورکړه.

بیع الحاضر للبادي : یو کلیوال له خپل کلي څخه کوم سامان د خرڅولو لپاره ښار ته راوړي را روان دی، یوه ښاري هغه ته وویل چې ته په خپله دغه سامان بازار ته مه وړه او مه یې خرڅوه، بلکې دغه سامان ماته راکړه او ما خپل وکیل جوړ کړه بیا کوم وخت چې دغه سامان ستا په حق کې ډیره ګټه کوونکی وي په هغه وخت کې به یې خرڅ کړم، او که چیرته اوس یې ته خرڅ کړې نو ډیره ګټه به درته ونکړې شي، رسول الله ﷺ له داسې کولو څخه منعه کړې، څکه چې په دې کې د ښار اوسېدونکو ته نقصان دی، هغوی محتاج دي او د هغو حق زیات دی

والبیع عند اذان الجمعة د جمعې اول آذان وکړی شو په دې وخت کې بیعه کول مکروه دي

وکل ذلك.......البیع مطلب دا ده چې پورته پنځه صورتونه بیان کړی شوي دي، د هغو حکم دا ده چې بیعه مکروه کیږي، لیکن فاسدیږي نه، څکه چې په اصل عقد کې هیڅ خامي نشته، بلکې په شرائطو او نورو شیانو کې دي، نو څکه بیعه نه فاسدیږي، بلکې صرف مکروه کیږي، د کوم چې نتیجه دا شوه چې مشتري په مبیعه باندې قبض وکړي نو مشتري د مبیعې مالک شو، البته داسې کول مکروه دي، نکول یې ښکار وو.

ومن ملك الخ : صورت د مسئلې دا ده چې دواړه غلامان کوچني وو، یا یو کوچنی وو دویم لوی او دواړه ذي رحم محرم وو نو د دوی په خرڅولو یا هبه کولو سره جدائي راوستل مکروه دي، څکه چې کوچنی له بل څخه انسیت حاصلوي، مثلاً مور او زوی دي، نو د مور له زوی سره انسیت دی او پالنه یې کوي، اوس که چیرته جلا کړی شي نو دواړه به پریشانه شي او پالنه به هم کمه وکړی شي، نو څکه یې جلا کول مکروه دي، لیکن دواړه د یوه اقا مملوک دي له همدې وجهې یې خرڅول او وغیره روا شوي دي، او که چیرته دواړه مملوک بالغان وو نو د دوی په مینځ کې په جلا والي کې هیڅ کراهیت او قباحت نشته دی.

له صحیحه احادیثو معلومه شوې چې تفریق له رسول الله ﷺ څخه ثابت دی، څکه چې د اسکندریه بادشاه د رسول الله ﷺ په خدمت کې د هدیه په ډول حضرت ماریه او سیرین دوه مینزې ولیږلې کومې چې خویندې وې، رسول الله ﷺ سیرین حسان بن ثابت ته ورکړه او ماریه یې له خپل ځان سره وساتله

بَابُ الْإِقَالَةِ

د اقاله بيان

د اقاله د ماده اشتقاق متعلق دوه قولونه دي (اول) له قول څخه مشتق دی او اجوف واوي دی او همزه د سلب لپاره ده ترجمه بې دا شوه چې قول سابق يعنې د ايجاب او قبول زائل کول. د ابن همام او بدر الدين د تحقيق مطابق له قول څخه مشتق منل غلط دي (دويم) له قيل څخه مشتق دی او اجوف يائي دی او معنى يې شوه د بيع فسخه کول. ماتول. د دې په صحيح کېدو باندې د ټولو اتفاق دی. اقاله د باب افعال مصدر دی معنى يې ده د بيع ماتول. د دې باب له بيع فاسد او بيع مکروه څخه د وروسته ذکر کولو لامل دا بيان شوی چې د هغو دواړو د واجب کېدو اصل سبب ګناه او معصيت دی او د بيع رد د اقاله په ذريعه شوی دی (فتح القدير)

الْإِقَالَةُ جَائِزَةٌ فِي الْبَيْعِ	لِلْبَائِعِ وَالْمُشْتَرِي	بِمِثْلِ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ
اقاله روا ده په بيعه کې	د بائع او مشتري لپاره	په مثل د ثمن اول سره
فَإِنْ شَرَطَ أَكْثَرَ مِنْهُ أَوْ أَقَلَّ	فَالشَّرْطُ بَاطِلٌ	وَيُرَدُّ بِمِثْلِ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ
که يې شرط ولګاوه زيات له هغه يا کم	نو شرط باطل دی	او ګرځول کېږي به د ثمن اول طرفته
وَهِيَ فَسْخٌ فِي حَقِّ الْمُتَعَاقِدَيْنِ	بَيْعٌ جَدِيدٌ	فِي حَقِّ غَيْرِهِمَا
او هغه فسخه ده په حق د متعاقدينو کې	او نوې بيعه ده	په حق د نورو کې
فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى	وَهَلَاكُ الثَّمَنِ لَا يَمْنَعُ	صِحَّةَ الْإِقَالَةِ
په نزد امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ تعالى	او هلاکېدل د ثمنو نه منعه کوي	صحت د اقاله
وَهَلَاكُ الْمَبِيعِ	يَمْنَعُ صِحَّتَهَا	وَإِنْ هَلَكَ بَعْضُ الْمَبِيعِ
او هلاکېدل د مبيعې	منعه کوي صحت د هغې	او که هلاکه شي يو څه مبيعه
جَازَتِ الْإِقَالَةُ	فِي بَاقِيهِ	
روا ده اقاله	په باقي کې	

تشريح الاقالة ......الاول اقاله روا ده. يعنې په نص سره ثابته ده، مشتري او بائع دواړو ته د اقاله کولو حق حاصل دی، ليکن په کوم قيمت باندې چې بيعه شوې وي هومره قيمت به واپس کولی شي، نه کم نه زيات، بائع چې څومره قيمت اخيستی دی همغه قيمت به واپس کوي، ديته د قدوري امام بمثل ثمن الاول ويلي دي

د مسئلې صورت دا دی چې که چیرته په اقاله کې له ثمن اول څخه د زیاتي یا کمي شرط ولګول شو نو دغه شرط باطل دی او په بائع باندې د ثمن اول واپس کول واجب دي، مثلاً په څلور سوه روپۍ باندې کوم شی خرڅ کړی شوی او بائع په ثمن او مشتري په مبیعه باندې قبض کړی او بس که چیرته اقاله کول وي په بائع باندې د څلور سوه روپیو واپس کول واجبیږي، له څلورو سوو زیاتي مثلاً مشتري پنځه سوه روپۍ غواړي یا بائع وواېي چې درې سوه درکووم نو دغه د کمي یا زیاتي شرط باطل دی. البته په دې کې د شرط په لګولو سره اقاله نه باطلیږي، بلکې په ثمن اول باندې اقاله کیږي

وهي فسخ..... رَحِمَهُ اللّٰهُ کله چې اقاله وکړی شي نو د بائع او مشتري په مینځ کې د بیع فاسخ دی هغه بیعه ماته شوې ده. لیکن له دوی دواړو پرته چې کوم نور خلک دي د هغو په حق کې نوې (جدید) بیعه ده، د عاقدینو په حق کې د فسخه کیدو ګټه دا ده چې اقاله په فاسدو شرطونو سره نه باطلیږي، که چیرته اقاله د دوی دواړو په حق کې بیعه وای نو په فاسدو شرطونو سره به فاسده شوې وای. لکه بیعه چې په فاسدو شرطونو سره فاسدیږي، معلومه شوه چې اقاله د عاقدینو په حق کې د بیع فسخه ده بیعه نه ده. او اقاله د غیر عاقدینو په حق کې نوې بیعه ده، همدا وجه ده چې په دغه موقع باندې که څوک د شفعي دعوه کول وغواړي کولی یې شي. لکه یوه کس چې کور واخیست. مګر شفیع د شفعي دعوه ونکړه خپل حق یې پرېښود. بیا بائع او مشتري اقاله وکړه او مکان د بائع په حق کې بېرته راغی نو همدغه شفیع که چیرته د شفعي غوښتنه وغواړي نو هغه لره دا اختیار شته دی. ځکه چې د شفیع په حق کې اقاله نوې بیعه ده (زیات تفصیل په کتاب الشفعة کې)

وړاندې ټول تفصیل د امام صاحب د مذهب مطابق دی، د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد اقاله بیعه ده، لیکن که چیرته هغې ته بیع ویل ممکن نه وو نو فسخه دې وګڼل شي، او که چیرته فسخه ویل ممکن نه وو نو اقاله باطلیږي، د بیلګې په توګه یوه کس د زرو روپیو په عوض کې یو غلام واخیست، مشتري په غلام باندې قبضه وکړه او بیا دواړو اقاله وکړه نو دغه اقاله بیعه ده، او که چیرته یې په غلام باندې له قبض کولو مخکې اقاله وکړه نو دې اقاله ته بیع ویل ناممکن دي او که چیرته یې په غلام باندې له قبض کولو مخکې په یوه من غنمو باندې اقاله وکړه نو په دغه صورت کې اقاله باطلیږي، د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ مذهب دا ده چې اقاله فسخه بیع ده، که چیرته فسخه ویل ناممکن وو نو هغې ته بیعه ویل کیدی شي، که نه نو اقاله باطلیږي، دلائل او وغیره په دریمه هدایه کې وګورئ.

وهلاك الثمن الخ ثمن هلاکې شوې له بائع سره پاتې نه دي بیا هم اقاله کیدلی شي، لیکن که له مشتري سره مبیعه هلاکه شي نو اقاله نشي کیدلی، چونکه په اقاله کې اصل هغه د مبیعې واپس کیدل دي هغه په متعین کولو سره متعین شوې ده. روپۍ خو هر چاته هم ورکول کیدی شي، نو ځکه که چیرته مبیعه هلاکه شي نو کوم شی به واپس کوي، او که روپۍ هلاکې شي نورې دې ورکړي

تشریح اقاله په هومره کې کیدلی شي څومره چې مبیعه موجوده ده، په همدغه قاعده باندې د ستر مسئله متفرع ده، مثلاً لس کیلو غنم دي فی کیلو د اتو روپیو په حساب واخستل شول پنځه کیلو غنم مصرف کړی شول نو په باقي پنځو کیلو کې اقاله سهي کیږي

بَابُ الْمُرَابَحَةِ وَالتَّوْلِيَةِ

د بیعه مرابحه او بیعه تولیه بیان

تراوسه پورې د هغو بیوع ذکر وه په کومو کې چې بنیادي شی مبیعه وه، اوس د هغو مبیعو یادونه کیږي د کوم رشته چې له ثمنو سره ده، د الجوهرة صاحب د تحقیق مطابق د بیعې دوه قسمونه دي (اول) مساومه (دویم) ضمان، بیع مساومه دا ده چې د سامان په اول قیمت باندې نظر واچول شي پرته له هغه په کوم باندې چې عاقدین متفق شي. دا قسم زیاته رواج ده، د بیع ضمان درې قسمونه دي (اول) مرابحه (دویم) تولیه (دریم) وضعیه، د اولنیو دوو وړاندې تعریف را روان دی، بیع وضعیه له ثمن اول څخه د کم په عوض کې خرڅول د دې رواج ډیر کم دی، مګر صاحب کفایه د ثمن په اعتبار سره څلور قسمونه بیان کړي دي (اول) مساومه (دویم) وضعیه (دریم) مرابحه (څلورم) تولیه

اَلْمُرَابَحَةُ نَقْلُ مَامَلَکَهُ	بِالْعَقْدِ الْأَوَّلِ بِالثَّمَنِ الْأَوَّلِ	مَعَ زِيَادَةِ رِبْحٍ
مرابحه نقل کول دي د هغه دي چې مالک شوی وو	په لومړي عقد سره په ثمن اول باندې	سره له زیاتولو د ګټې
وَالتَّوْلِيَةُ نَقْلُ مَامَلَکَهُ بِالْعَقْدِ الْأَوَّلِ بِالثَّمَنِ الْأَوَّلِ		مِنْ غَيْرِ زِيَادَةِ رِبْحٍ
او تولیه منتقل کول دي د هغه دي چې مالک شوی وو	په لومړي عقد سره په ثمن اول باندې	پرته له زیاتوالي د ګټې
وَلَا تَصِحُّ الْمُرَابَحَةُ وَالتَّوْلِيَةُ	حَتّٰى يَكُوْنَ الْعِوَضُ	مِمَّنْ لَهُ مِثْلٌ
او نه سهي کیږي مرابحه او تولیه	تردې چې وي عوض	هغه کوم لره چې مثل وي

خلاصه د قدوري صاحب د بیع مرابحه او بیع تولیه تعریف په همدې الفاظو سره کړی دی د مرابحه مطلب دا ده چې بائع په څو باندې اخیستی وي مشتري ته صفا ووايي چې ما دغه کتاب په یو زر روپۍ اخیستی دی او شل روپۍ ګټه راکړه په تا به یې خرڅ کړم، په دې کې یې شل روپۍ ګټه واخیسته نو څکه دیته مرابحه ویل شوي دي، په مرابحه کې د لومړي (اولني) قیمت ښودل ضروري دي، که چیرته یې ونه ښایي نو مرابحه ورته نشي ویل کیدی، بلکې دا بیا عامه بیعه کیږي

او د تولیه مطلب دا ده چې بائع مشتري ته ووايي چې ما دغه سامان په لس روپۍ اخیستی دی او په لس باندې یې خرڅووم، په څومره مې چې اخیستی په هومره کې د مبیعې ولی جوړووم

مسئله بیعه مرابحه او بیعه تولیه هغه وخت صحي کیږي کله چې د دوی ثمن مثلي وي، که چیرته ثمن مثلي نه وو نو مرابحه او تولیه نشي کیدلی. د بیلګې په توګه د غنمو، وریژو، دراهم او دنانیرو وي کوم چې په دنیا کې د دوی په شان پیدا کیدی شي، جامه، غلام، غويي، مینه او وغیره نه وي چې د

دوی په شان په دنیا کې نشي پیدا کیدی ځکه چې په دوی کې غټ او کوچني ضرور وي. خلاصه دا ده چې ثمن به له ذات الامثال څخه وي له ذوات القیم څخه به نه وي. ځکه کله چې د هغه په شان پیدا کیدی شي بیا خو به دویم مشتري همدا دول ثمن ورکړي مبیعه به واخلي. او که چیرته د هغه په شان پیدا کیدی نشي نو بل مشتري به څه ورکړي چې وایې اخلي. څوک به په دې باندې ګټه ورکړي

وَيَجُوزُ أَنْ يُضِيفَ إِلَى رَأْسِ الْمَالِ أُجْرَةَ الْقَصَّارِ وَالصَّبَّاغِ

روا ده چې یو ځای کړي له رأس المال سره د مزدوي د دهوبي او د رنګمال

وَالطِّرَازِ وَالْفَتْلِ وَأُجْرَةَ حَمْلِ الطَّعَامِ وَيَقُولُ قَامَ عَلَيَّ بِكَذَا

او د نقاش د ګلونو رسم کوونکي او مزدوري د غلې پورته کوونکي او ودې وایې ماته لویدلې ده په دومره

وَلَا يَقُولُ اشْتَرَيْتُهُ بِكَذَا فَإِنِ اطَّلَعَ الْمُشْتَرِي عَلَى خِيَانَةٍ

او نه دې وایي چې اخیستی ده ما په دومره که خبر شو مشتري په خیانت باندې

فِي الْمُرَابَحَةِ فَهُوَ بِالْخِيَارِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى إِنْ شَاءَ

په مرابحه کې نو هغه لره اختیار دی په نزد د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ تعالی که وغواړي

أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ وَإِنِ اطَّلَعَ عَلَى خِيَانَةٍ

وادې اخلي په ټولو روپیو او که وغواړي واپس دې کړي او که خبر شو په خیانت باندې

فِي التَّوْلِيَةِ أَسْقَطَهَا مِنَ الثَّمَنِ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ

په تولیه کې نو کمې دې کړي روپۍ او ویلي دي امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ

يَحُطُّ فِيهِمَا وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ لَا يَحُطُّ فِيهِمَا لَكِنْ يُخَيَّرُ

کمې دې کړي په دواړو کې ویلي دي امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ نه دې کموي په دواړو کې لیکن هغه لره اختیار دی

فِيهِمَا وَمَنِ اشْتَرَى شَيْئًا مِمَّا يَنْقُلُ وَيُحَوَّلُ لَمْ يَجُزْ لَهُ بَيْعُهُ

په دواړو کې او چا چې واخیست یو شی چې منتقل کیدلی شي او بدلیدلی شي روا نه ده بیعه د هغه

حَتَّى يَقْبِضَهُ وَيَجُوزُ بَيْعُ الْعَقَارِ قَبْلَ الْقَبْضِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ

تر دې چې قبضه پرې وکړي او روا ده بیعه د زمکې مخکې له قبض کولو د شیخینو په نزد

وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يَجُوزُ

او ویلي دي امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ چې روا نه ده

د لغاتو حل **القصار** دوبي، **الصباغ** رنګرېز، **الطراز** په کپړه باندې د نقش او نګار جوړوونکی، **الفتل** مصدر فتل الحبل (ض) فتلا د ګلانو رسم کوونکی، **حمل الطعام** د غله باروونکی، یحط کمول، **عقار** غیر منقولي جایداد.

مسئله د مرابحه او تولیه کولو بر وخت له رأس المال یعني ثمن سره د دهوبي اجرت یو ځای کول روا دي. جامه په لس روپی واخیستل شوه، بیا یې دهوبي ته دوه روپی مزدوري ورکړه هغه یې پریمنځله نو اوس ثمن دوولس روپی شوې، د مرابحه یا تولیه کولو پر مهال دا ویلی شي چې ماته دغه جامه په دوولس روپی لویدلې ده، او په تولیه کې به په دوولس روپی ورکول کیږي او په مرابحه کې به په دوولس روپیو دری روپی ګټه اخلي په پنځلس به ورکول کیږي، همدارنګه د رنګ ورکولو مزدوري یو ځای کول روا دي، همدارنګه که چیرته په جامه کې ګلونو او وغیره جوړولی شي نو د همدغه نقش او نګار کوونکي مزدوري له رأس المال سره یې یو ځال کول روا دي، او همدارنګه په څنډه کې د کار کولو مزدوري یو ځای کول روا دي. د بیلګې په توګه یو څادر په سل روپی واخیستل شو، بیا یې څانه لس روپی مزدوري ورکړه د هغه دواړو طرفونو ته یې کار وکړ نو په مرابحه کې په یو سل لس روپیو باندې به ګټه اخلي او په تولیه کې به یې د یو سل لسو په عوض کې خرڅوي، همدارنګه د غلو له یوه ځای څخه بل ځای ته د نقل کوونکو مزدوري هم که له اصل ثمن سره یو ځای کیدلی شي

مسئله د مبیعي له اصل کارونو سره د مزدوري او وغیره له شاملولو وروسته داسې دې نه وایي چې ما په دومره باندې اخیستې ده، ځکه چې دا له اصل واقعي خلاف دي. په دومره خو هغه نه ده اخیستې، دا خو دروغ شول، او ترڅو چې اعتماد په خپل حال پاتې شي نو ځکه په هرحال کې دې رښتیا ووایي، له همدې وجهې داسې دې ووایي چې دغه مبیعه په دومره لویدلې ده.

مسئله : یوه کس کوم شی په مرابحه باندې خرڅ کړ، مثلاً داسې یې وویل چې دغه جامه (کپړه) مې په لس روپی باندې اخیستې وه، پنځه روپی ګټه راکړه په پنځلس یې خرڅووم، مشتري یقین ورباندې وکړ ترې وایې اخیستله، وروسته معلومه شوه چې زما بائع دغه جامه (کپړه) په اته روپی اخیستې وه، هغه له مانه پنځه روپی نه بلکې اوه روپی ګټه اخیستې ده، نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد مشتري لره اختیار دی چې مبیعه یعني کپړه په ټولو روپیو یعني پنځلسو باندې اخلي او که یا مبیعه پریږدي، ځکه که په دیارلس روپی واخیستل شي هم مرابحه ده او که په پنځلس روپی واخیستل شي بیا هم مرابحه ده، او بائع فقط مرابحه ویلې دي په کوم کې چې رښتونی دی، نو ځکه که یې اخلي نو په پنځلس دې واخلي، لیکن دوه روپی یې دروغ ویلې دي له همدې وجهې مشتري ته د اخیستو او نه اخیستو اختیار شته دی.

مسئله په شل روپی یې کتاب اخیستی او دروغ یې وویل چې پنځه ویشت روپی یې اخیستی دی او پنځه ویشت روپی باندې تولیه کووم، د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد پنځه روپی دې کمې کړی شي په شل دې واخیستل شي، ځکه تولیه ویل کیږي هغې بیعه ته چې په څومره یې اخیستې وي په هغې یې ورکړي، او په

حقيقت كي په شل اخيستل شوى وو او دروغ يې وويل چي په پنځه ويشت اخيستل شوى دى. نو ځكه چي په شل اخيستل شوى وو په هغه دې مشتري واخلي

مسئله امام ابويوسف رحمه الله ويلي دي چي د توليه او مرابحه په دواړو صورتونو كي څومره قيمت چي دروغ ويل شوى دى هومره قيمت دې كم كړي مشتري لره يې د اخيستلو اختيار شته دى. او امام محمد رحمه الله ويلي دي چي په مرابحه او توليه دواړو صورتونو كي دې نه كمول كيږي، ځكه چي بائع د ترغيب لپاره د مرابحه او توليه لفظ ويلى دى. اصل مقصد هغه قيمت دى په كوم چي خبره شوې ده. بائع په مرابحه كي مثلاً له پنځلس روپۍ او په توليه كي له پنځه ويشت روپيو څخه په كمو وركولو باندي راضي خوښ نه دى، او په همدې باندې خبره فيصله شوې هم ده نو ځكه له هغې څخه دې نه كمول كيږي، ليكن چونكه بائع دروغ ويلي دي نو ځكه مشتري لره د اخيستو او نه اخيستو اختيار شته دى

ومن اشترى شيئا الخ كه چيرته يو چا كوم منقولي شى واخيست نو ترڅو پورې چي مشتري په هغه باندې قبضه ونكړي د مشتري لپاره د هغه خرڅول روا نه دي. برابره ده كه همدغه شى كيلي او وزني وي، يا عددي وي، يا طعام وي يا غير طعام، ځكه كه له قبض كولو مخكې يې خرڅ كړي كيدلى شي چي همدغه شى ضايع شي او د ده خوا ته رانشي نو څنګه به يې خرڅ كړي

وَمَنِ اشْتَرَى مَكِيلًا	مُكَايَلَةً	أَوْمَوْزُونًا	مُوَازَنَةً	
او چا چي واخيست كيلي شي	په كيل سره	يا وزني شي	په وزن سره	
فَاكْتَالَهُ	أَوِاتَّزَنَهُ	ثُمَّ بَاعَهُ	مُكَايَلَةً أَوْمُوَازَنَةً	لَمْ يَجُزْ لِلْمُشْتَرِي مِنْهُ
بيا يې تول كړ	يا يې وزن كړ	بيا يې خرڅ كړ	په كيل يا وزن سره	روا نه دي د مشتري لپاره چي هغه
أَنْ يَبِيعَهُ	وَلَا أَنْ يَأْكُلَهُ	حَتَّى يُعِيدَ الْكَيْلَ وَالْوَزْنَ	وَالتَّصَرُّفُ	
خرڅ كړي	او نه دا روا دي چي وي خوري	تر دي چي دوباره يې تول يا وزن كړي	او تصرف كول	
فِي الثَّمَنِ قَبْلَ الْقَبْضِ جَائِزٌ	وَيَجُوزُ لِلْمُشْتَرِي	أَنْ يَزِيدَ لِلْبَائِعِ		
په ثمن كي مخكي له قبض څخه روا دي	او روا دي د مشتري لپاره	چي زياتوالي وكړي بائع ته		
فِي الثَّمَنِ	وَيَجُوزُ لِلْبَائِعِ	أَنْ يَزِيدَ لِلْمُشْتَرِي	فِي الْمَبِيعِ	
په ثمن كي	او روا دي د بائع لپاره	چي زياتوالي وكړي د مشتري لپاره	په مبيعه كي	
وَيَجُوزُ أَنْ يَحُطَّ مِنَ الثَّمَنِ	وَيَتَعَلَّقُ الْاِسْتِحْقَاقُ	بِجَمِيعِ ذٰلِكَ		
او روا دي چي كمې كړي له ثمن څخه	او متعلق كيږي استحقاق	له همدي ټولو سره		
وَمَنْ بَاعَ بِثَمَنٍ حَالٍّ	ثُمَّ أَجَّلَهُ	أَجَلًا مَعْلُومًا	صَارَ مُؤَجَّلًا	
او چا چي خرڅ كړ په فوري ثمن سره	بيا يې مهلت وركړ	معلومه نيټه	نو ګرځي نيټه	

وَكُلُّ دَيْنٍ حَالٍّ إِذَا أَجَّلَهُ صَاحِبُهُ صَارَ مُؤَجَّلًا إِلَّا الْقَرْضَ فَإِنَّ تَأْجِيلَهُ لَا يَصِحُّ

او هر دين چي فوري وي کله يې چي نيته کړي مالک نو وروسته کيږي مګر قرض ځکه چي تاخير يې سهي نه دی

ترجمه (۹۲ ترجمه ترجمه ترجمه

ومن اشترى.....والوزن : که چيرته کوم کس مکيلي شی لکه غنم، وريزې (چاول) اوريشې د کيل کولو له شرط سره واخيستل مثلا داسې يې وويل چې زه دغه غنم د سلو روپيو په عوض کې له دې شرط سره اخلم چې دا به لس کيلو وي، يا وزني شی مثلا درهم، دنانير او اوسپنه د وزن په شرط واخيستل مثلا په دې ډول چې دغه اوسپنه لس منه ده په سل روپۍ يې اخلم، بيا مشتري دغه مکيلي شی کيل او وزني شی وزن کړ او واې اخيستل، بيا په مبيعه باندې له قبض کولو وروسته هغه يې د کيل او وزن له شرط سره خرڅ کړل، نو دويم مشتري ته په دغه مبيعه کې د تصرف کولو اجازه نشته، تردې پورې چې دويم مشتري د کيل يا د وزن اعاده وکړي، چنانچه دويم مشتري له کيل يا وزن کولو څخه مخکې نه دا خرڅولی شي او نه هغه خوړلی شي، خلاصه دا ده لکه څرنګه چې لومړي (اول) مشتري د ځان لپاره کيل يا وزن کړی وو دويم مشتري به هم د ځان لپاره کيل يا وزن کوي

مسئله : د مسئلې صورت دا ده که چيرته مشتري د بائع لپاره په ثمن کې څه زياتوالی وکړي نو روا دي، مثلا يو پسه يې په (۸۰۰) سوه روپۍ واخيست، اوس مشتري خوشحاله شو (۱۰۰۰) روپۍ ورکول غواړي نو ورکولی يې شي، ځکه چې دا د مشتري ملکيت دی، چې څنګه وغواړي مصرف کولی يې شي

مسئله : چې زيات ورکړی شي قيمت يا زياته ورکړی شي مبيعه يا کم کړی شي قيمت له اصل سره پيوسته کيږي اصل جوړيږي، اوس ټول حقوق له هغه سره متعلق شول، چنانچه په ثمن کې دننه د زياتوالي په صورت کې د مبيعې د ايسارولو حق تر هغه وخته دی ترڅو چې دی اصل ثمن او زياتې شوې وصول نکړي، او همدارنګه مشتري ته د مبيعې د غوښتنې اختيار تر هغه وخته پورې نشته ترڅو چې هغه اصل ثمن او زياتې کړی شوې بائع ته ورنکړي، او د ثمن کمولو په صورت کې د مابقيه پاتې، ثمن له سپارلو وروسته د ټولې مبيعې د غوښتلو حقدار دی، د امام شافعي رحمه الله او امام زفر رحمه الله رايه دا ده چې په پيل (شروع) کې چې کوم قيمت يا مبيعه معلومه شوې وي هغه اصل دی، له هغې سره ټول حقوق متعلق شول، او په وروسته کې چې کومه مبيعه زياته شوې يا قيمت زيات شوی هغه په وروسته کې هديه ده، د هغې تعلق له اصل مبيعې او ثمن سره نشته، نو ځکه له همدغه زياتوالي سره حقوق متعلق نشول

وكل دين حال الخ يوه انسان په دې ډول بيعه وکړه چې اوس به قيمت راکوې، مګر وروسته يې له معلومې نيټې سره وروسته (مؤخره) کړه نو اوس وروسته شوه او په معلومې نيټې به د قيمت ورکول وي، دليل يې دا ده چې د بخاري روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي له تاسو څخه په مخکنې قوم کې د يوه انسان روح فرښتې قبض کول غوښتل نو هغې وفرمايل تا کوم نيک کار کړی دی؟ دغه

انسان وويل چې ما خپل خادم ته حکم کړی وو چې تنګ لاسو (تنګدستو) ته مهلت ورکړه او درګزر وکړه، نبي کريم ﷺ وفرمايل الله تعالى هغه معاف کړ.

په قرض او دين کې فرق: قرض هر هغه مال دی کوم چې انسان له خپل مال څخه وباسي بل چا ته يې د ګټې کولو په غرض ورکړي، دين هر هغه مال دی کوم چې د کوم کس په ذمه د کوم شي د معاوضه په ډول واجب وي برابره ده که له هرې وجهې وي، يعنې برابره ده که تاوان وي يا قرض يا کرايه وي، همدارنګه مهر هم دين دی.

بَابُ الرِّبٰوا

د سود بيان

الربوا: مصدر ربا الشئ يربوا، زياتوالى، زياتيدل، رِبا د زياتي په معنى ده، د لغت له مخې زياتره حضراتو د همدې معنى ذکر کړى دى، د فتح القدير صاحب ويلي دي چې دا لفظ د اسم او مصدر دواړو په اعتبار سره استعمال شوى دى، يعنې زياتي او زيات مال د دواړو په معنى کې ده، الهي ارشاد دى (لا تاکلوا الربوا) (د سود مال مه خورئ) په دې کې اوله معنى مراد ده او قرآني آيت (احل الله البيع وحرم الربوا) (الله تعالى بيعه حلاله کړې او سود يې حرام کړى دى) په دې کې دويمه معنى مراد ده.

اصطلاحي تعريف: په مالي معامله کې په خپل مينځ کې په خوښه له معامله کوونکو څخه کوم يوه ته ملاويدونکى زائد (له عوض څخه خالي) ګټه يعنې د هر زياتي نوم ربا نده بلکې کوم زياتى چې له عوض څخه خالي وي هغه ربا ده.

په ربا او سود کې فرق: د لغت له مخې دواړه الفاظ د يوه اوبل پر ځاى استعمال شوي دي، ځکه چې سود په معنى د نفع فارسي لفظ دى په دې کې هر ډول نفع شامله ده برابره ده که روا وي او که ناروا وي، ربا په معنى د زياتي ده کومه چې هر ډول زياتي لره شامل ده، او د معاملاتو په خريد او فروخت کې زياتي ته نفع ويل شوي دي ليکن له دواړو الفاظو څخه مخصوص معنى مراد ده، يعنې هر هغه نفع او زياتى کوم ته چې شريعت روا نه دي ويلي مګر په استعمال کې فقها، کرامو له ربا چې کوم مفهوم مراد اخيستى د اردو لفظ سود د هغه ټولو صورتونو لره محيط نه دى، حضرت مفتي شفيع صاحب په خپله رساله کې (مسئله سود) کې د سود په عرفي مفهوم باندې خبرې کړې دي او ويلي دي: عموما داسې ګڼل کيږي چې ربا او سود دواړه په عربي او اردو کې د يوه شي دوه نمونه دي، ليکن حقيقت داسې نه دى، بلکې مروج سود د ربا له يو قسم يا فرد حيثيت لري (زيات تفصيل د اردو په کتاب کې (الربا) کې وګورئ)

د ربا حرمت په کتاب سنت او اجماع سره ثابت دى، الهي ارشاد دى (يا ايها الذين امنوا لاتاکلوا الربا) د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روايت دى (لعن رسول الله ﷺ اکل الربوا ومؤکله وشاهديه وکاتبه (ترمذي) رسول الله ﷺ د سود په خوړونکو باندې د سود په ورکوونکو باندې د هغه په

لیکونکي باندې او د هغه په ګواهانو باندې لعنت ویلی دی، او د امت اجماع په دې خبره باندې ده چې د ربا له حرمت څخه منکر کافر دی

د دې باب او تیر شوي باب په مینځ کې مناسبت دا ده چې په تیرو شویو بابونو کې د هغو بیعاتو بیان وه د کومو چې شریعت حکم ورکړی دی، الهي ارشاد دی (وابتغوا من فضل الله) او په دې باب کې د هغو بیوعاتو ذکر دی له کومو چې شریعت منعه کړې ده، الهي ارشاد دی (یا ایها الذین امنو لاتاکلوا الربوا) او ښکاره ده چې نهی له امر وروسته شوې ده، او د دې باب له مرابحت سره مناسبت په دې وجه ده چې په دواړو کې زیاتی دی، بس فرق دا ده چې د مرابحه زیاتی حلال دی او د ربا زیاتی حرام دی، او په اشیاؤ کې اصل حالت دی نو ځکه د مرابحه احکام مخکې کړی شول او د ربا احکام وروسته کړی شول

اَلرِّبٰوا مُحَرَّمٌ فِیْ کُلِّ مَکِیْلٍ اَوْمَوْزُوْنٍ	إِذَا بِیْعَ بِجِنْسِهٖ	مُتَفَاضِلًا
ربوا حرامه ده په هر کیلي او وزني کې	کله چې خرڅ کړی شي په جنس سره	په کمي زیاتي سره
فَالْعِلَّةُ فِیْهِ الْکَیْلُ مَعَ الْجِنْسِ	أَوِالْوَزْنُ مَعَ الْجِنْسِ	
علت په ربوا کې کیل دی سره له جنس	یا وزن دی سره له جنس	
فَإِذَا بِیْعَ الْمَکِیْلُ بِجِنْسِهٖ	أَوِالْمَوْزُوْنُ بِجِنْسِهٖ	مِثْلًا بِمِثْلٍ
بیا چې خرڅ کړی شي کیلي د هغه په جنس سره	یا وزني د هغه په جنس سره	بالکل برابر
جَازَ الْبَیْعُ	وَإِنْ تَفَاضَلًا	لَمْ یَجُزْ
روا ده بیعه	او که کمي زیاتي وکړي	نو روا نه ده

د ربوا او علت ربوا تحقیق

تشریح: **الربوا..... مع الجنس** ربوا په هر کیلي او وزني شیانو کې حرامه ده په دې شرط چې هغه د همجنس په عوض کې له کمي او زیاتي سره خرڅ کړی شي، کیلي شی هغه ده کوم چې په مخکنی زمانه کې په ډک صاع سره خرڅیدل لکه غنم، وریژې (چاول) او وزني شی هغه ده کوم چې په ترازو سره یوه جنس څخه وي، د بیلګې په توګه دواړه شیان له غنمو څخه وي، یا د وریږو په بدل کې وریږې لکه درهم، دنانیر او اوسپنه او وغیره، چناچه که کیلي یا وزني شی وي مبیعه او ثمن له اخیستل کیږي، یا د درهم په بدل کې درهم اخیستل کیږي، یا د دینار په عوض کې دینار اخیستل کیږي، چونکه په دغو بیوع کې دواړه طرفونه د یوه قسم شیان دي نو ځکه به برابر برابر اخیستل کیږي، که کمي زیاتي وکړی شي نو حرام دي، لاس په لاس به یې قبض کول وي، که په دواړو کې یو هم په قرض وي نو سود کیږي.

اوس پوښتنه (سوال) دا ده چې دغه حکم له همدغو شیانو سره خاص دی او که د حرمت دغه حکم عام دی؟ که چیرته عام دی نو بیا په کومو شیانو کې دغه حکم جاري کیږي، او په کومو کې نه جاري کیږي، په دې باره کې د فقهاؤ په خپل مینځ کې اختلاف دی

جمهور فقهاؤ دا ویلي دي چې دغه حکم له همدغو شپږو شیانو سره خاص نه دی، بلکې دغه حکم معلول بعلة دی، یعنې علت دی کوم چې د همدغو شپږو شیانو په مینځ کې مشترک دی، اوس همدغه علت چیرته چې پیدا کړی شي د حرمت حکم هلته منطبق کیږي، کمی، زیاتی او قرض حرامیږي، بیا د همدغه علت په تعین کې د جمهورو په مینځ کې اختلاف شوی او په دې باره کې دری مذهبونه دي:

د ائمه ؤ اختلاف: (۱) د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد دغه علت (قدر) او جنس دی. د قدر مطلب دا ده چې د یوه شي کیلي یا وزني کیدل، لهذا کوم شی چې د کیل یا وزن په ذریعه خرڅیدلی شي د هغو په باره کې دا ویل کیدی شي چې په هغو کې دننه قدر موجود دی

د جنس مطلب دا ده چې د یوه شي تبادله د هغه په همجنس سره کول، لهذا چیرته چې دغه دواړه شیان وموندل شي د حرمت تفاضل او نسیه حکم راځي، چنانچه لکه څرنګه چې د غنمو په غنمو سره د خرڅولو په وخت کې کمی، زیاتی او قرض حرام دی، همدارنګه که وریزي د وریزو په بدل کې خرڅول کیږي نو هم همدا حکم به وي. همدارنګه که غله د غلې په عوض کې خرڅوي، او د باجره تبادله په باجره سره کوي، د منې تبادله په منې سره کوي، آم د آم په عوض کې خرڅوي په ټولو صورتونو کې همدا حکم دی، امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې په حدیث کې د کومو شپږو شیانو ذکر راغلی دی په هغو کې په څلورو شیانو کې کیل موندل کیږي (۱) غنم (۲) اوربشي (۳) کجورې (۴) مالګه، په سرو او سپینو کې وزن موندل شوی، لهذا چیرته چې کیل یا وزن موندل کیږي او د جنس تبادله په جنس سره وي د حرمت حکم راځي

(۲) د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د حرمت علت: امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې د حرمت علت د طعم یا ثمنیت موندل دي، کله چې د جنس تبادله په جنس سره وي، ځکه چې د همدغو شیانو په اخیرنیو څلورو شیانو کې طعم موندل شوی. لهذا کوم شی چې د خوراک وړ (لایق) وي په هغه کې دننه هم د حرمت علت موجود دی. لهذا د یوې هګی په دوو هګیو سره خرڅول ناروا دي، ځکه چې دربوا علت طعم موجود دی، په سرو او سپینو کې علت ثمنیت موندل شوی. لهذا کوم شی چې ثمن جوړیږي په هغه کې هم د حرمت علت موجود دی

(۳) د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د حرمت علت: امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې دربوا علت اقتیات او ادخار دی. یعنې کوم شیان چې خوړل کیږي او هغه ذخیره کیدلی شي او هغه شی خرابیدونکی نه وي. لهذا په کومو شیانو کې چې دغه علت وموندل شي هلته د حرمت حکم راځي، که نه نو نه راځي،

چنانچه خربوزه او وغیره کې چې وچ کړی شي نه ذخیره کیږي په دوی کې که چیرته د جنس اتحاد هم وي بيا هم د امام مالک رحمه الله په نزد د يوې خربوزې خرڅول د دوو خربوزو په عوض کې روا دي احنافو چې د قدر او جنس کوم علت ښودلی د دي وجه دا ده چې له نورو فقهي حضراتو سره هيڅ نص موجود نه دی، له احنافو سره نص موجود دی، دويمه وجه دا ده چې د احتياط غوښتنه دا ده چې داسې علت مقرر کړی شي د کوم له وجهې چې د تفاضل حرمت زيات عام او وسيع شي او د هغه له وجهې په زياتو شيانو کې تفاضل حرام شي، د طعم يا اقتيات په علت ګڼلو کې د حرمت دائره تنګه کيږي، د همدغو وجوهاتو په بناء حنفيانو قدر او جنس د ربوا علت ښودلی دی

نوټ: د ابو سعيد خدري رضي الله عنه په روايت کې د شپږو شيانو په ذکر کولو سره د يوې قاعده کليه طرفته اشاره شوې ده چې سره او سپين وزني شيان دي، غنم، اوربشې او چوارې کيلي شيان دي. يعنې په هر کيلي او وزني شيانو کې مماثلت ضروري دی او مماثلت په دوه اعتبارونو سره کيدلی شي. يو د صورت په اعتبار سره او دويم د معنی په اعتبار سره، ګوا که په کيل او وزن سره مماثلت صوري حاصليږي او په اتحاد جنس سره مماثلت معنوي حاصليږي. لهذا د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد د ربوا د حرمت علت له اتحاد جنس سره د کيل يا وزن کيدل دي، په همدې بنياد باندې د امام صاحب په نزد په ميوو کې په وزن او پيمانې سره په نه خرڅيدونکو شيانو کې د ربوا حکم نه متحقق کيږي

وَلَايَجُوْزُ بَيْعُ الْجَيِّدِ	بِالرَّدِيءِ	مِمَّا فِيهِ الرِّبوا	إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ	
او روا نه دي خرڅول د غوره	په ردي سره	په شيانو د ربوا کې	مګر بالکل برابر	
وَإِذَا عُدِمَ الْوَصْفَانِ الْجِنْسُ وَالْمَعْنَى الْمَضْمُومُ إِلَيْهِ حَلَّ التَّفَاضُلُ				
او کله ورک شي وصفونه جنس او معنی چې ور سره يو ځای کړی شوې ده روا دی تفاضل				
وَالنَّسَاءُ وَإِذَا وُجِدَا حَرُمَ التَّفَاضُلُ وَالنَّسَاءُ وَإِذَا وُجِدَ أَحَدُهُمَا				
او قرض که موندل حرام دي تفاضل او قرض او که موندل شو يو د دوی				
وَعُدِمَ الْآخَرُ حَلَّ التَّفَاضُلُ وَحَرُمَ النَّسَاءُ				
او دويم نه وو حلال دی کمی زياتی او حرام دی قرض حرام				

د لغاتو حل: الجيد: عمده، غوره. **الردی:** خراب، ناچل، **مما فيه الربوا:** اموال ربويه، **المعنی المضموم اليه:** کيلي او وزني شيان مراد دي. **التفاضل:** کمی او زياتی، **النساء:** قرض

ولايجوز......بمثل: په اموال ربويه کې د جيد او ردي دواړو حيثيت مساوي دی، لهذا که چيرته جيد د ردي په عوض کې برابر خرڅ کړی شي نو روا دي خو د کمي او زياتي په صورت کې روا ندي

په کومو شيانو کې چې ربوا جاري کيږي مثلا غنم نو برابره ده که عمده غنم د خرابو غنمو په بدل کې خرڅوي بيا هم برابر ضروري دي. له کمي زياتي سره يې خرڅول روا نه دي. ځکه چې د ربوا په حديث کې د هغه هيڅ تفصيل نشته بلکې هغه مطلق دی.

د جواز يو صورت : که چيرته يې برابر خرڅول نه غواړي نو داسې دې وکړي چې مثلا خراب غنم دوه کيلو دې د مشتري په لاس په پنځلس روپۍ خرڅ کړي او له مشتري څخه دې په پنځلس روپۍ يوه کيلو عمده غنم واخيستل شي، په دغه صورت کې غنم د غنمو په عوض کې نشول. بلکې د دوه کيلو خرابو غنمو په عوض کې پنځلس روپۍ راغلې او د يو کيلو عمده غنمو په عوض کې پنځلس روپۍ واخيستل شوې، په دغه ډول دغه لين دين روا کيږي

واذاعدم الوصفان الخ : په ماقبل کې دغه خبره په تفصيل سره راغلې ده چې د سود دوه علتونه دي، که چيرته همدغه دواړه علتونه نه وو نو کمی زياتی هم حلال دی او قرض اخيستل هم روا دي. په مجلس کې په مبيعه باندې قبضه کول ضروري نه دي، چنانچه که چيرته غنم د اوربشو په بدل کې خرڅ کړي نو د کمي او زياتي په کولو سره يې خرڅولی شي. همدارنګه که سپين د سرو په بدل کې خرڅوي نو له کمي او زياتي سره يې خرڅولی شي

که دواړه شيان د يوه جنس وي او دواړه کيلي يا وزني وي نو کمی زياتی هم حرام دی او قرض هم

مسئله : که چيرته يو وصف موجود وو او بل ورک وو نو کمی زياتی حلال دی. ليکن قرض حراميږي، په دواړو باندې په مجلس کې قبضه کول ضروري دي، لکه د غنمو په بدل کې وريژې (چاول) دواړه کيلي دي، مګر جنس جلا جلا دی. يا د سرو په عوض کې سپين، دواړه وزني دي. مګر دواړه د يوه جنس نه دي، نو کمی زياتی حلاليږي او قرض حرام دی. او که چيرته مبيعه او ثمن کيلي او وزني نه وو البته دواړه د يوه قسم شيان وو نو کمی زياتی روا دی، ليکن په دغه صورت کې قرض حراميږي، مثلا د چارمغز په عوض کې چارمغز واخيست، دا چې چامغز عددي دی نو ځکه چې يو چارمغز ورکړي دوه چارمغز اخيستلی شي، ليکن قرض روا نه دی.

وَكُلُّ شَيْءٍ	نَصَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	عَلَى تَحْرِيمِ
او هر هغه شی	چې تصريح کړې وې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	په حرام کيدو
التَّفَاضُلِ فِيهِ	كَيْلًا فَهُوَ مَكِيلٌ أَبَدًا	وَإِنْ تَرَكَ النَّاسُ الْكَيْلَ فِيهِ
د تفاضل په هغه کې	د کيل په اعتبار هغه به کيلي وي هميشه	اګر که پرې ايښې وي خلکو کيل په هغو کې

مِثْلُ الْحِنْطَةِ	وَالشَّعِيرِ	وَالتَّمْرِ	وَالْمِلْحِ	وَكُلُّ شَيْءٍ
لکه غنم	اوربشې	کجورې	او مالګه	او هر هغه شی

نَصَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	عَلٰى تَحْرِيْمِ التَّفَاضُلِ فِيْهِ		
چې تصريح كړې وي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	په حرام كيدو د تفاضل په هغو كې		
وَزْنًا فَهُوَ مَوْزُوْنٌ أَبَدًا	وَإِنْ تَرَكَ النَّاسُ الْوَزْنَ فِيْهِ	مِثْلُ الذَّهَبِ	
د وزن په اعتبار هغه به وزني وي هميشه	اگر كه پريږدي خلک په هغو كې وزن كول	كله سره زر	
وَالْفِضَّةِ	وَمَا لَمْ يَنُصَّ عَلَيْهِ	فَهُوَ مَحْمُوْلٌ	عَلٰى عَادَاتِ النَّاسِ
او سپين زر	او په كومو چې تصريح نده شوې	هغه محمول دي	د خلكو په عادت باندې
وَعَقْدُ الصَّرْفِ	مَا وَقَعَ عَلٰى جِنْسِ الْأَثْمَانِ	يُعْتَبَرُ فِيْهِ	
او عقد صرف	كوم چې واقع وي په جنس د اثمانو	معتبر دى په هغو كې	
قَبْضُ عِوَضَيْهِ فِي الْمَجْلِسِ	وَمَا سِوَاهُ	مِمَّا فِيْهِ الرِّبَا	
قبضه په عوض باندې په مجلس كې	او له دې پرته	په كومو كې چې ربوا ده	
يُعْتَبَرُ فِيْهِ التَّعْيِيْنُ	وَلَا يُعْتَبَرُ فِيْهِ التَّقَابُضُ		
معتبر ده په هغو كې تعيين	او نه ده معتبر په هغو كې قبضه		

د كيلي او وزني كيدو معيار

د لغاتو حل **نص** (ن) نص الشئ ښكاره كول. **اثمان**: د ثمن جمع ده، **عوضيه**: نون تثنيه د اضافت له امله ساقط شوى.

تشريح :وكل شئ......عادات الناس: د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه كې چې كوم شيان كيلي وو هغه به تر قيامته پورې كيلي پاتې وي، د كمي زياتي اعتبار به د كيل په اعتبار سره كيږي. برابره ده كه په وروسته كې د همدغو شيانو كيل كول پريږدي، لكه غنم، اوربشې، كجورې، مالگه او وغيره د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه كې په كيل سره خرڅيدل او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصريح كړې چې دا كيلي دي، نو ځكه به هميشه كيلي وي، او كوم شيان چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه كې وزني وو او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصريح كړې وي چې دا وزني دي نو تر قيامته پورې به وزني پاتې وي، او د مساوات اعتبار به په كيلي كې د كيل په اعتبار او په وزني كې د وزن په اعتبار وي، ځكه چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديث تر قيامته پورې دى، او د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دين تر قيامته پورې دى، نو ځكه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصريح ته هم اعتبار تر قيامته پورې دى

امام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې عادت بدل شي نو اوس به د عادت مطابق فيصله كيږي، د بيلگې په توگه اوس مهال غنم د كيل په ځاى د كيلو په حساب سره خرڅيږي نو اوس د سود مدار په كيلو

باندې دی په کيل باندې نه دی، ځکه چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به د خلکو د عادت مطابق فيصله کيدله، اوس عادت بدل شوی دی نو فيصله به هم بدليږي

وعقد الصرف.....في المجلس: باب الصرف مستقل راتلونکی دی، تفصيل خو به هلته بيان کړی شي، دلته صرف دومره پوهه شی چې په کومو کومو صورتونو کې سود دی په هغوو صورتونو کې دواړه طرفه سره يا سپين وي يا يو طرفته سره وي بل طرفته سپين وي، په ماقبل کې تير شوي دي چې قرض روا نه دی، نقد ضروري دی، او په نقد کې هم دا شته دي چې په مجلس کې په دواړو باندې قبضه وکړي، صرف (يوازې) تعين کول کافي نه دي، ځکه چې ثمن يعنې سره او سپين په متعين کولو سره نه متعين کيږي ترڅو چې قبضه ونکړی شي، له سود او قرض څخه د بچکيدا لپاره په همدې دواړو باندې قبضه کول ضروري دي. له دې پرته چې کوم غله جات دي په کوم کې چې سود دی له قرض څخه د بچکيدا لپاره په هغو باندې قبضه کول ضروري نه دي، په مجلس کې دې صرف متعين کړی شي، چې د دغو غنمو يا کجورو ورکول دي دومره کافي دي، مستقل قبض کول ضروري نه دي

وَلَا يَجُوْزُ بَيْعُ الْحِنْطَةِ بِالدَّقِيْقِ	وَلَا بِالسَّوِيْقِ	وَكَذٰلِكَ الدَّقِيْقُ بِالسَّوِيْقِ
او نه ده روا بيعه د غنمو په وړو باندې	او نه په ستوان سره	او همدارنګه د وړو بيعه په ستوان سره
وَيَجُوْزُ بَيْعُ اللَّحْمِ	بِالْحَيَوَانِ	عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ
او روا ده بيعه د غوښې	په حيوان سره	د شيخينو په نزد
وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يَجُوْزُ	حَتّٰى يَكُوْنَ اللَّحْمُ أَكْثَرَ	مِمَّا فِي الْحَيَوَانِ
او ويلي دي امام محمد روا نه ده	تردې چې وي غوښه زياته	له هغې چې په حيوان کې ده
فَيَكُوْنُ اللَّحْمُ بِمِثْلِهِ	وَالزِّيَادَةُ بِالسَّقَطِ	وَيَجُوْزُ بَيْعُ الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ
شي به غوښه د غوښې په عوض کې	او زياته: هډوکو وغيره په مقابل کې	روا ده د بيعه د لمدو کجورو په وچو کجورو سره
مِثْلًا بِمِثْلٍ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ	وَكَذٰلِكَ الْعِنَبُ بِالزَّبِيْبِ	
بالکل برابر په نزد د امام ابوحنيفة	او همدارنګه د انګورو په مميزو سره	

د ربوا د احکامو تفصيل

د لغاتو حل الدقيق: اوړه، السويق: ستو، **سقط**: ناکاره او بيکاره شی، دلته له غوښې پرته نور شيان مراد دي لکه هډوکي، پوستکی وغيره، **رطب**: لمدې کجورې، **التمر**: وچې کجورې، يعنې چوارې، **العنب**: لامده انګور، **الزبيب**: وچ انګور، يعنې کشمش

تشريح: په دې عبارت کې څو مسئلې بيان شوې دي:

مسئله مسئله دا ده چې زمونږ په نزد د غنمو بیعه د هغو د اوړو په عوض او د غنمو بیعه د هغو د ستو په عوض کې روا نه ده، نه برابر نه له کمي زیاتي سره، ځکه چې د غنمو اوړو او ستو د ناپ کولو پیمانه کیل کیدل دي، او د کیل په ذریعه غنم او د هغو اوړه او ستو په مینځ کې برابروالی پیدا کول ناممکن دي، ځکه چې پیمانه په اوړو سره د میده میده کیدو له وجهې ډکلیدلی شي، مګر د غنمو د دانو په مینځ کې چونکه خلا باقي پاتې کیږي نو ځکه په هغو سره ډکیدلی نشي، لهذا لوښی خو د ډکوالي په لحاظ برابر دی، لیکن د وزن په اعتبار سره ډیر فرق پکې شته دی، نو ځکه مساوات پکې ونشو، او دواړه یو قسم شی او یو جنس دی نو ځکه یې برابري ضروري وه او هغه ونشوه، له همدې وجهې غنم د اوړو یا ستو په بدل کې خرڅول روا نه دي، او که خرڅول یې وي نو د روپیو په عوض کې دې خرڅ کړي د جواز صورت دې په مسئله (۹۲۴) کې وکتل شي، له دې وروسته د قدوري صاحب ویلي دي چې د غنمو د اوړو بیعه د غنمو د ستو په بدل کې نه برابر روا دي او نه له کمي زیاتي سره روا دي، د صاحبینو په نزد اوړه او ستو دوه جنسه دي، ځکه چې له اوړو څخه ډوډی پخیدلی شي او پراټې پخیدلی شي، او له ستو سره چې غوړي او بوره یو ځای شي نو خوړل کیدلی شي، معلومه شوه چې ستو او اوړه دوه جلا جلا جنسونه دي، نو ځکه د اوړو د ستو په عوض کې خرڅول روا دي

ویجوز بیع اللحم..... بالسقط: مثلا د غوا غوښه ده او د ژوندی غوا په بدل کې یې خرڅول غواړي نو د شیخینو په نزد روا ده، برابره ده که په غوا کې غوښه پنځوس کیلو وي او پرې شوې غوښه پنځه ویشت کیلو وي

دلیل غوښه وزني ده، د هغې خرید او فروخت د وزن په ذریعه کیږي، او غوا عددي ده، د هغې وزن نکیږي، او وزن کول یې ممکن هم نه دي، ځکه چې ځناور کله خپل بوج سپک کړي او کله یې درونه کړي، نو دا نشي معلومیدی چې ځناور خپل بوج سپک کړی او که یې درونه کړی، نو غوښه شوې غوښه او ژوندی غوا دوه جلا جلا جنسونه شول نو ځکه یې له کمي زیاتي سره خرڅول روا دي

د امام محمد رحمه الله **مذهب**: امام محمد رحمه الله ویلي دي چې کومه غوښه کړی شوې غوښه ده هغه له هغې غوښې څخه زیاته پکار ده کومه چې په ژوندی غوا کې ده نو بیا روا دي او که داسې نه وي بیا روا نه دي، مثلا په ژوندی غوا کې پنځوس کیلو ده نو غوښه شوې غوښه شپیته کیلو پکار ده، ترڅو چې پنځوس کیلو له پنځوسو کیلو سره برابره شي او لس کیلو غوښه شوې غوښه د ژوندی غوا د هډوکو، لرې، ینې، پښتورګو او وغیره بدل شي

دلیل: که چیرته جلا کړی شوې غوښه د ژوندی غوا له غوښې زیاته نه وي لکې برابره وي یا ترې کمه وي نو ربوا متحققه کیږي، ځکه که چیرته برابره وي نو د ژوندی غوا پاتې اجزاء لکه پوستکی او وغیره زیات دي، او که جلا شوې غوښه کمه وي نو په دغه صورت کې د ژوندی غوا څه غوښه، پوستکی او وغیره زیاتیږي او په همدغو دواړو صورتونو کې ربوا ده.

ويجوز بيع الرطب..... امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ مسئله دا ده چې د لمدو کجورو په وچو کجورو سره خرڅول له کمي زياتي سره بالاجماع ناروا دي، او متساويًا يعني برابر بې خرڅولی شي که نه؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي (١) د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد د لمدو کجورو په وچو کجورو سره خرڅول بالکل برابر روا دي

دليل دواړه کجورې دي، نو ځکه يو جنس دی، چې په لوښي کې دواړه برابر واچول شي او خرڅې کړی شي دا د هيڅ حرج خبره نه ده

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې د خيبر تازه کجورې وړاندې کړی شوې هغه يې چې وليدې نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل (**اوكل تمرخيبرهكذا**) آيا د خيبر ټولې کجورې همداسې دي؟

په دغه حديث کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رطب ته تمر ويلي دي، معلومه شوه چې دواړه يو جنس دي، او د جنس تبادله په جنس سره برابر روا دي، همدارنګه انګور او له هغو څخه وچ کړی شوي مميز (کشمش) يو جنس دی، دواړه چې په لوښي کې برابر واچول شي او خرڅ کړی شي نو روا دي

(٢) د صاحبينو او ائمه ثلاثه په نزد د لمدو کجورو د وچو کجورو په بدل کې بې خرڅول روا نه دي، همدارنګه انګور د وچو انګورو (مميزو) په عوض کې نه بې متساويا خرڅول روا دي او نه متفاضلاً

دليل دغو حضراتو ويلي دي چې د دواړو جنس يو دی، او په ډک لوښي سره چې خرڅ کړل شي اوس خو دواړه برابر دي، ليکن په وروسته کې لمدې کجورې چې وچې شي د هغو مقدار کميږي، نو په وروسته کې برابروالی باقي پاتې نشو نو ځکه بې خرڅول ممنوع دي، همدارنګه رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه له هغه کس څخه کوم چې کجورې د لمدو کجورو په بدل کې اخيستې وې ورته وې فرمايل آيا لمدې کجورې کميږي کله چې وچې شي؟ خلکو ورته وويل: هو! نو رسول الله ﷺ د هغو له بيع څخه منعه وکړه

خواب د همدغه حديث دار مدار په زيد بن عياش باندې دی کوم چې د ائمه حديث په نزد ضعيف او مجهول راوي دی، نو ځکه دغه روايت د حديث مشهور په مقابل کې د استدلال وړ کيدی نشي

وَلَا يَجُوْزُ بَيْعُ الزَّيْتُوْنِ	بِالزَّيْتِ	وَالسِّمْسِمِ بِالشَّيْرَجِ	حَتّٰى يَكُوْنَ
او روا نه ده بيعه د زيتون	د زيتون په تيلو سره	او د شړشمو د شړشمو په تيلو سره	تر دې چې وي
الزَّيْتُ وَالشَّيْرَجُ	أَكْثَرَ مِمَّا فِي الزَّيْتُوْنِ		وَالسِّمْسِمِ
د زيتون تيل او د شړشمو تيل	زيات له هغه چې په زيتون		يا شړشمو کې دي
فَيَكُوْنُ الدُّهْنُ بِمِثْلِهِ	وَالزِّيَادَةُ بِالثَّجِيْرَةِ		وَيَجُوْزُ بَيْعُ
پس شي به تيل د تيلو په مقابله کې	او زيات به د تيلو د فضله جات په عوض کې		او روا ده بيعه
اللُّحْمَانِ الْمُخْتَلِفَةِ	بَعْضِهَا بِبَعْضٍ مُتَفَاضِلًا		وَكَذٰلِكَ أَلْبَانُ
د مختلفو غوښو	د څينو په څينو سره له کمي زياتي سره		او همدارنګه دي شيدې

الْإِبِلِ	وَالْبَقَرِ	وَالْغَنَمِ	بَعْضُهَا بِبَعْضٍ مُتَفَاضِلًا	وَخَلُّ الدَّقَلِ
د اوښو	د غوا	او د بزې	د خپلو په خپلو له کمي زياتي سره	او سرکه د کجورو
بِخَلِّ الْعِنَبِ مُتَفَاضِلًا	وَيَجُوزُ بَيْعُ الْخُبْزِ	بِالْحِنْطَةِ	وَالدَّقِيقِ	
په سرکه د انګورو له کمي زياتي سره	او روا ده بيعه د ډوډۍ	په غنمو سره	او په اوړو سره	
مُتَفَاضِلًا	وَلَا رِبَا بَيْنَ الْمَوْلَى وَعَبْدِهِ	وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ		
له کمي زياتي سره	او نشته سود د آقا او د ده د غلام په مينځ کې	او نه په مينځ د مسلمان		
وَالْحَرْبِيِّ	فِي دَارِ الْحَرْبِ			
او حربي کې	په دار الحرب کې			

د لغاتو حل: **الزيتون**: يو ډول ميوه ده له کومې چې د زيتون تيل وباسل کيږي. **الزيت**: د زيتون تيل. **السمسم**: شړشم. **الشيرج**: د شړشمو تيل. **الدهن**: تيل. حل: سرکه. **اللحمان**: د لحم جمع ده، د اوښ، غوا او پسه غوښه مراد ده. **البآن**: د لبن جمع ده شيدې. **الدقل**: ردي کجوره. **الخبز**: ډوډۍ.

مسئله: که چيرته زيتون د زيتون د تيلو په عوض کې يا شړشم د هغو د تيلو په عوض کې خرڅ کړی شي نو د زيتون تيل له هغو تيلو زيات دي کوم چې په زيتون کې دي او خالص تيل له هغو تيلو زيات دي کوم چې په دانو کې دي. د بيلګې په توګه دوه کيلو د زيتون خالص تيل دي دا د شپږو کيلو د زيتون ميوې (دانو) په عوض کې خرڅول غواړي او په شپږ کيلو زيتون کې دوه نيم کيلو تيل موجود دي نو بيعه روا کيږي. ځکه ويستل شوي دوه کيلو تيل د هغو تيلو برابر کيږي کوم چې د زيتون په دانو کې دوه نيم کيلو تيل دي او باقي نيم کيلو تيل د زيتون د فضله جات په مقابله کې کيږي، همدارنګه دوه نيم کيلو تيل د دوه نيم کيلو په مقابله کې شول. او د يوه جنس کيدو له وجهې مساوات او برابريږي. او که چيرته د زيتون له دانو چې څومره تيل ويستل شوي له هغو کم يا له هغو سره برابر وي نو بيعه نه روا کيږي، ځکه چې خالص تيل هم وزني دي او کوم تيل چې په زيتون او دانو کې دي هغه هم وزني دي، له همدې وجهې د قدر مع الجنس پيدا کيدو له وجهې د بيع روا کيدو لپاره د دواړو عوضونو برابری کيدل ضروري دي.

ولايجوز..... العنب متفاضلا: اصلا له ترجمې څخه د مسئلې نوعيت واضح شوی دی. البته د امام شافعي يو روايت دی چې د يوه ځناور غوښه د بل ځناور د غوښې په عوض کې يا د يوه ځناور شيدې د بل ځناور شيدو په عوض کې له کمي او زياتي سره بې خرڅول روا ندي. او که چيرته غوښه د مختلفو جنسونو وه، مثلا د اوښ غوښه ده، د غوا غوښه ده، او د پسه غوښه ده، په دوی کې که چيرته يوه د بلې په عوض کې له کمي زياتي سره خرڅه کړی شي نو روا ده. ځکه چې پسه جلا جنس دی، غوا جلا جنس دی او اوښ جلا

جنس دي، او د جنس د اختلاف په صورت کې چونکه له کمي زياتي سره خرڅول روا دي نو ځکه همدغه بيعه روا کيږي

ويجوز بيع الخبز...... متفاضلا: د ودي اګر که د غنمو له اوړو څخه ده بيا هم هغه جلا جنس ګڼل شوې ده، ځکه چې د ودې، په شمار سره خرڅول کيږي، غنم او اوړه کيلي دي، همدارنګه د ودې مصرف جلا دی او د غنمو مصرف جلا دی، له همدې وجهې دواړه جلا جلا دوه جنس شول، نو ځکه يې له کمي زياتي سره خرڅول روا دي

ولاربوابين المولى وعبده د کتاب صاحب ويلي دي چې د غلام او د ده د آقا په مينځ کې ربوا نه متحقق کيږي، يعنې په ربوي مالونو کې که چيرته دوی دواړه له کمي زياتي سره خريد او فروخت وکړي نو دا ربوا نه دی، مثلا آقا له خپل څخه د يوه درهم په عوض کې دوه درهمه واخلي نو دا سود نه دی، اخيستلی يې شي، ليکن د دې شرط دا ده چې په غلام باندې به د خلکو دومره قرض نه وي چې د ده پر غاړه يې احاطه کړې وي، ځکه چې په غلام باندې قرض وي نو د غلام روپۍ صرف د غلام نه دي، بلکې د قرض ورکوونکي دي، او که چيرته په غلام باندې قرض نه وي نو له غلام سره چې څومره روپۍ دي هغه ټولې د مولی (آقا) دي، له همدې وجهې که يو درهم ورکړي او دوه درهمه ترې واخلي ګوا که آقا له خپلو روپيو څخه واخيستل، نو ځکه دا سود نه دی.

ولابين المسلم الخ د دې مسئلې صورت دا ده چې که چيرته يو مسلمان امان واخلي دار الحرب ته ولاړ شي او هلته له کوم حربي سره يو درهم د دوه درهمو په عوض کې خرڅ کړي نو د طرفينو په نزد روا ده، يعنې په دار الحرب کې د مسلمان او حربي په مينځ کې د ربوا تحقق نشته، خو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا خريد او فروخت روا نه دی، يعنې د مسلمان او حربي په مينځ کې د ربوا تحقق شته دی (هدايه، تبيين الحقائق، بدائع الصنائع)

بَابُ السَّلَمِ

د بيع سلم بيان

د قدوري صاحب تردې ځايه د هغو بيوعاتو بيان کړی په کومو کې چې په عوضينو يا احد العوضينو باندې قبضه ضروري نده او په دې باب کې هغه اقسام بيانوي په کومو کې چې په عوضينو يا احد العوضينو باندې په مجلس کې قبضه کول ضروري دي، او دا بيع سلم او بيع صرف دي، په اول کې په احد العوضين يعنې په ثمن باندې قبضه ضروري ده او په دويم کې په عوضين يعنې په مبيعه او ثمن دواړو باندې قبضه ضروري ده. ګوا که بيع سلم مفرد ده او بيع صرف مرکب ده او د تقديم المفرد على المرکب له مخې بيع سلم اول بيان شوې او بيع صرف وروسته بيان شوې ده

د بيع سلم مشروعيت ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ﴾

ترجمه: اې ایمان لرونکو! کله چې تاسو تر معلومې مودې پورې د دین معامله کوئ نو هغه ولیکئ، بیع سلم هم د دین یوه معامله ده، له همدې وجهې د دې جواز هم په همدغه آیت کریمه کې شامل دی

د بیع سلم ثبوت په حدیث سره: رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړ او خلکو په میوو کې د دوو او دریو کلونو لپاره بیع سلم کوله نو رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په کوم شي کې بیع سلم کوي نو کیل دې معلوم وي، وزن دې معلوم وي او موده (نیټه) دې معلومه وي البته د قیاس له مخې بیع سلم روا نده، ځکه چې د عقد په وخت کې مبیعه غیر موجود یعنې معدم ده او د معدوم شي بیعه ممنوع ده، خو استحسانا یې جواز په قرآن او حدیث سره ثابت دی لکه چې پورته بیان شوي دي

د سلم لغوي او اصطلاحي تعریف: دا د یو قسم (ډول) بیع نوم دی په کومه کې چې ثمن (روپۍ) مخکې ورکول کیږي، قیمت اوس واخله او مبیعه څو ورځې وروسته راکړه.

د قیاس تقاضه (غوښتنه) دا ده چې دغه بیعه روا نشي، ځکه چې په حدیث کې دي چې کومه مبیعه له تاسو سره نه وي هغه مه خرڅوئ، لیکن د غریبو خلکو لپاره دا آساني ورکړې شوې که دوی له مالدارانو څخه قیمت اوس واخلي او په همدغه قیمت سره خرید او فروخت وکړي او ګټه وکړي، بیا کله چې د مبیعې ورکولو وخت راشي مبیعه واخلي مشتري ته یې وسپاري.

د بیع سلم شرطونه په کتاب کې را روان دي

اَلسَّلَمُ جَائِزٌ فِي الْمَكِيلَاتِ وَالْمَوْزُوْنَاتِ وَالْمَعْدُوْدَاتِ الَّتِي
سلم روا دی په کیلي او وزني شیانو کې او په هغو عددي شیانو کې
لَا يَتَفَاوَتُ كَالْجَوْزِ وَالْبَيْضِ وَالْمَذْرُوْعَاتِ وَلَا يَجُوْزُ السَّلَمُ
چې تفاوت یې نه وي لکه چارمغز هګۍ او په ګزي شیانو کې او روا نه ده سلم
فِي الْحَيَوَانِ وَلَا فِي أَطْرَافِهِ وَلَا فِي الْجُلُوْدِ عَدَدًا وَلَا فِي الْحَطَبِ
په حیوان کې او نه یې په اندامونو کې او نه په پوستکي کې په شمیر سره او نه په لرګیو کې
حُزَمًا وَلَا فِي الرَّطْبَةِ جُرُزًا وَلَا يَجُوْزُ السَّلَمُ حَتَّى يَكُوْنَ الْمُسْلَمُ فِيهِ
د بنډل په حساب نه په سبزیو کې د ګیډۍ په حساب او روا نه ده سلم تر دې چې وي مسلم فیه
مَوْجُوْدًا مِنْ حِيْنِ الْعَقْدِ إِلَى حِيْنِ الْمَحِلِّ وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ إِلَّا مُؤَجَّلًا
موجوده د عقد له وخته تر وخته د ورکولو او روا نه ده سلم مګر په مهلت ورکولو سره
وَلَا يَجُوْزُ إِلَّا بِأَجَلٍ مَعْلُوْمٍ وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ بِمِكْيَالِ رَجُلٍ بِعَيْنِهِ
او روا نه ده مګر په معلومې نیټې سره او روا نه ده سلم په پیمانې د معلوم کس سره

وَلَا بِذِرَاعِ رَجُلٍ بِعَيْنِهِ	وَلَا فِي طَعَامِ قَرْيَةٍ بِعَيْنِهَا	وَلَا فِي ثَمَرَةِ نَخْلَةٍ بِعَيْنِهَا
او نه په لاس د معلوم کس سره	او نه په غله د کوم معلوم کلي سره	او نه په میوې د کومې معلومې کجورې سره

تشریح **الموزونات**: د هدایه صاحب وَیلي دي چې له دې ځخه له دنانیرو او دراهمو پرته نور شیان مراد دي، ځکه چې دراهم وغیره ثمن دي او د مسلم فیه لپاره مبیعه کېدل ضروري دي
کوم شی چې په کیل سره په ناپ کولو سره خرڅېږي لکه غنم، وریږې (چاول) او وغیره، همدارنګه کوم شیان چې وزني وي، یا په عدد (شمارلو) سر خرڅېږي، لیکن د هغو په افرادو کې زیات فرق (توپیر) نه وي، لکه چارمغز او هګۍ. د دوی په افرادو کې زیات فرق نه وي، د دوی په کوچنی او غټې ورکولو سره جګړه نه جوړېږي، همدارنګه کوم شی چې په لاس یا ګز سره په ناپ کولو سره خرڅېږي لکه کپړه او وغیره په همدغو ټولو کې بیع سلم روا ده.
په وزني شیانو کې دراهم او دنانیر هم دي، د دوی بیع سلم روا نه ده، ځکه چې د دوی د صفاتو په متعین کولو سره نه متعین کېږي، له همدې وجهې له وزني ځخه مراد هغه شیان دي کوم چې وزن کولی شي، لیکن دراهم او دنانیر نه وي، لکه اوسپنه او وغیره.
مسئله: چې قیمت اوس ورکړي او د څناور ټول صفتونه معلوم کړي څلور میاشتې وروسته یې واخلي، همدارنګه د حیوان سر، پښې او وغیره کې بیع سلم وکړي یا یې په پوستکي کې بیع سلم وکړي نو دا روا نه دي. په حیوان کې د بیع سلم حکم څه دی؟ د دې د جواز او عدم جواز په باره کې د فقهاؤ په مینځ کې اختلاف دی:
اختلاف الائمه: د شافعیانو په نزد په حیوان کې بیع سلم روا ده، ځکه کله چې د حیوان ټول صفتونه، عمر او وغیره معلوم کړی شي نو تر کافي اندازې پورې معلوم کړی شو نو له همدې وجهې د څناور د هغه د اندامونو او پوستکي بیع سلم روا ده، د دې قائل امام مالک او احمد دي.
د حنفیانو مذهب: د حنفیانو په نزد په حیوان کې بیع سلم روا نه ده، ځکه چې د حنفیانو په نزد د بیع سلم لپاره ضروري دي چې یا خو به همدغه شی کیلي وي، یا به وزني وي، یا به له عددیات متقاربه ځخه وي، لهذا که چېرته کوم شی عددي دی، لیکن د هغه په افرادو کې ډېر زیات فرق دی نو په دې کې بیع سلم روا نه دی، چونکه د دوو حیوانات په مینځ کې ډېر فرق وي، ځینې وخت به ظاهري ډول دوه مینې یو جنس وي، لیکن یوه میینه د زیاتو شیدو ورکوونکې شي او دویمه کمه، یوه زیات بچي زیږوي او بله کم. له همدې وجهې په حیوان کې د صفت متعین کول مشکل دي، همدارنګه په سر او پښو کې یې هم ډېر زیات فرق وي، او د په پوستکي کې یې هم د کوچینوالي او غټوالي له وجهې فرق دي، نو ځکه په دې کې د جګړې امکان شته دی، هر کله چې ادائیګي وخت راشي بائع به وایي چې ما په بیکاره شي کې بیع سلم کړې وه او مشتري به وایي چې نه! په اعلی او عمده شي کې بیع سلم شوې وه، نو ځکه په څناور د هغه په اندامونو او پوستکي کې بیع سلم روا نه ده.

مسئله: د سون لرګيو بنډل جوړ شوی دی او خرڅوي يې په ځينو بنډلونو کې زيات لرګي دي او په ځينو کې کم دي، بالکل يو شانته بنډل نشي جوړيدلی، همدارنګه ساګ او سبزيو ګيډۍ دي، په ځينو کې زيات دي او په ځينو کې کم دي، له همدې وجهې په دوی کې بيع سلم روا نه ده.

ولايجوز السلم... الى حين المحل: له دغه ځای څخه د بيع سلم لپاره د هغې د شرطونو بيان دی، له هغو څخه يو شرط دا ده چې د داسې شي بيع سلم روا ده کوم به چې د عقد له وخت څخه په کومه ورځ چې مبيعه مشتري ته ورکول کيږي تر همدې وخته به په بازار کې موجوده وي او پيدا کيږي به، که چيرته دغه شی داسې وي کوم چې په بازار کې نه پيدا کيږي، يا في الحال په بازار کې نشته ليکن د ورکولو په ورځو کې په بازار کې پيدا کيږي نو په همداسې شي کې بيع سلم روا نه ده، په حديث کې د داسې شي د بيع سلم څخه منع شوې کوم چې دا وخت په بازار کې نه پيدا کيږي.

ولايجوز الا بأجل معلوم: د بيع سلم مطلب دا ده چې په کوم کې مبيعه په وروسته کې ورکول کيږي او که چيرته سمدستي ورکولو خبره وشي نو هغې ته بيع سلم نه ويل کيږي، همدارنګه په بيع سلم کې دا هم ضروري دي چې موده معلومه وي، ځکه چې مشتري به يې بيا مخکې غواړي او بائع به يې وروسته ورکول غواړي او جګړه به جوړه شي، له همدې وجهې د مبيعې ورکولو موده معلومول ضروري دي د نيټې د ادنی مودې په باره کې درې قولونه دي (اول) يوه مياشت (دويم) درې ورځې (دريم) له نيمايي ورځې زيات، په دې دريواړو قولونو کې اول اصح دی، ځکه يوه مياشت داسې نيټه ده په کومه کې چې د مسلم فيه ترلاسه کول ممکن دي (هدايه).

وَلَايَصِحُّ السَّلَمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ	**إِلَّا بِسَبْعِ شَرَائِطَ**	**تُذْكَرُ فِي الْعَقْدِ**
او صحيح نه ده سلم د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد	مګر له اوو شرطونو سره	چې ذکر کولی شي په عقد کې

جِنْسٌ مَعْلُومٌ	**وَنَوْعٌ مَعْلُومٌ**	**وَصِفَةٌ مَعْلُومَةٌ**	**وَمِقْدَارٌ مَعْلُومٌ**	**وَأَجَلٌ مَعْلُومٌ**
د جنس معلومول	د نوع معلومول	د صفت معلومول	د مقدار معلومول	د نيټې معلومول

وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِ رَأْسِ الْمَالِ	**إِذَا كَانَ مِمَّا يَتَعَلَّقُ الْعَقْدُ**	**عَلَى مِقْدَارِهِ**
او د رأس المال اندازه معلومول	کله چې وي له هغه چې متعلق وي عقد	د هغه په مقدار

كَالْمَكِيلِ	**وَالْمَوْزُونِ**	**وَالْمَعْدُودِ**	**وَتَسْمِيَةُ الْمَكَانِ الَّذِي**	**يُوفِيهِ فِيهِ**
لکه کيلي	وزني	او عددي شيان	او معلومول د هغه ځای	چې مبيعه پکې سپارل کيږي

إِذَا كَانَ لَهُ حَمْلٌ وَمُؤْنَةٌ	
کله چې د مبيعې په اوچتولو زحمت او اجرت لګيږي	

وَقَالَ	**أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ**	**لَا يُحْتَاجُ**
	صاحبينو ويلي	ضرورت نشته

إِلَىٰ تَسْمِيَةِ رَأْسِ الْمَالِ	إِذَا كَانَ مُعَيَّنًا	وَلَا إِلَىٰ مَكَانِ التَّسْلِيمِ
د رأس المال معلومولو ته	كله چې معلومې وي	او نه د سپارلو ځاى ته
وَيُسَلِّمُهُ فِي مَوْضِعِ الْعَقْدِ	وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ	حَتَّىٰ يَقْبِضَ
بلکې سپارل کيږي د عقد په ځاى کې	او صحيح نه دى سلم	ترڅو چې قبضه وکړي
رَأْسَ الْمَالِ	قَبْلَ أَنْ يُفَارِقَهُ	
په رأس المال باندې	مخکې له دې چې سره جلا شي	

د بيع سلم د جواز شرطونه

تشريح: د بيع سلم شرطونه په دوه قسمه دي، د يوه تعلق له نفس عقد سره دى او د دويم تعلق له عوضين سره دى، بيا دويم قسم يعنې د عوضينو په اعتبار سره په مجموعي ډول د بيع سلم شپاړس شرطونه دي په کومو کې چې شپږ د رأس المال دي او لس د مسلم فيه دي، د کتاب صاحب د اوو شرطونو ذکر کړى دى دا له هغو اوولس شرطونو څخه دي د کومو چې د عقد په وخت کې ذکر کول ضروري دي، او په دې کې په اولو پنځو شرطونو باندې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ او د صاحبينو اتفاق دى او په اخيرنيو دوو کې اختلاف دى او د هغو پنځو تعلق له مسلم فيه سره دى

د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد په متن کې ذکر شوي اوه شرطونه چې کله وموندل شي نو بيع سلم صحي کيږي او که ونه موندل شي نه صحي کيږي، د هر يوه تفصيل په دې ډول دى

(۱) د مسلم فيه جنس به معلوم وي، يعنې دا معلومول ضروري دي چې د کوم شي بيع کيږي، د غنمو، د اوربشو، د مميزو (کشمش) او که د کجورو

(۲) نوع به معلومه وي، څکه چې د غنمو هم ډير قسمونه دي، لکه ۴۳ ډېلو پنځه اويا او داسې نور له همدې وجهې دا طې کول ضروري دي چې کوم قسم غنم غواړي يا کوم قسم وريزي غواړي

(۳) صفت به معلوم وي، يعنې دا به هم معلومه شوې وي چې د عمده قسم غنم به وي که د ردي قسم به وي، که نه نو مشتري به عمده غواړي او بائع به ردي ورکول غواړي او جګړه به پې شي

(۴) د مسلم فيه مقدار به معلوم وي، يعنې مبيعه به څو کيلو وي، ترڅو چې جګړه رامنځته نشي

(۵) موده (نيټه) به معلومه وي، يعنې مسلم فيه به کله ورکوي، ترڅو چې داسې پيښه نشي چې بائع به خندې پکې کوي او مشتري به يې زر غواړي

(۶) رأس المال يعنې د ثمن مقدار به معلوم وي چې هغه څومره کيلو دي، يا يې شمير څومره دى، څکه که چيرته مبيعه ورنکړى شي او د ثمن واپس کولو ضرورت پيښ شي نو که چيرته د ثمن مقدار معلوم نه وي نو څه به واپس کړي، له همدې وجهې که چيرته ثمن کيلي وي، يا وزني وي، يا عددي وي د ثمن مقدار معلومول ضروري دي، برابره ده که د ثمن طرفته په اشاره کولو سره سلم شوى وي، ليکن که چيرته ثمن

ذراعي وي لکه کېږه چونکه ذراع صفت دی او د صفت په مقابله کې هېڅ قیمت نشته له همدې وجهې کېږه خو ګرده ده دې معلومولو ته ضرورت نشته دی.

(۷) د سپارلو ځای به معلوم وي، یعنې که چیرته د مبیعې په اوچتولو باندې کرایه راتلله نو مبیعه به په کوم ځای باندې مشتري ته ورکول کیږي د هماغه ځای تعین هم ضروري دی، ځکه که چیرته ځای معلوم نکړی شي نو د بائع غوښتنه به دا وي چې ده ته په نږدې ځای کې مسلم فیه وسپاري، او مشتري به غواړي چې خپل ځانته نږدې یې ورته وسپاري، تر جنګ جګړو به نوبت ورسیږي، هو! که چیرته د مبیعې په اوچتولو باندې کرایه نه راتلله په همدې صورت کې بیا د ځای تعینول (معلومول) ضروري نه دي

مسئله په ماقبل کې چې کوم اووه شرطونه بیان شوي دي په هغو کې په لومړنیو (اولنیو) پنځو شرطونو د امام صاحب او صاحبینو اتفاق دی، په اخیرنیو دوو شرطونو کې اختلاف دی، د همدغو دوو بیان په دغه عبارت کې دی، صاحبینو ویلي دي چې رأس المال یعنې ثمن مخته دي، نو په عامو بیوعاتو کې د هغو د مقدار معلومول ضروري نه دي، صرف په اشارې کولو سره ثمن متعین کیږي، له همدې وجهې په بیع سلم کې هم د هغو طرفته په اشارې کولو سره ثمن متعین کیږي، همدارنګه د مبیعې سپارلو د ځای معلومول ضروري نه دي، ځکه په کوم ځای کې چې د بیع خبرې شوې دي همدغه ځای د مبیعې ورکولو لپاره خود بخود متعین کیږي، له دې ځخه د جلا ځای تعیین ضروري نه دی، البته که یې وکړي نو ښه دی.

مسئله د بیع سلم له طی کولو وروسته د بائع او مشتري له جلا کیدو مخکې په ثمن باندې قبضه کول ضروري دي، که چیرته په ثمن باندې قبضه ونکړی شي نو بیع سلم نه صحي کیږي، ځکه چې مبیعه او ثمن دواړه قرض شول، په حدیث کې له همداسې کولو منع شوې، چونکه په بیع سلم کې مبیعه په یقیني ډول په وروسته کې ورکول کیږي له همدې وجهې کم له کمه په ثمن باندې قبضه ضروري ده، که نه نو مبیعه به هم قرض او ثمن به هم قرض شي.

وَلَا يَجُوْزُ التَّصَرُّفُ فِيْ رَأْسِ الْمَالِ	وَلَا فِي الْمُسْلَمِ فِيهِ	قَبْلَ الْقَبْضِ
او روا نه دي تصرف کول په رأس المال کې	او نه په مسلم فیه کې	له قبض مخکې
وَلَا يَجُوْزُ الشِّرْكَةُ وَلَا التَّوْلِيَةُ	فِي الْمُسْلَمِ فِيهِ	قَبْلَ قَبْضِهِ وَيَصِحُّ السَّلَمُ
او روا نه دي شرکت او نه تولیه	په مسلم فیه کې	له قبض مخکې اوصحیی د سلم
فِي الثِّيَابِ إِذَا سُمِّيَ طُوْلًا وَعَرْضًا	وَرُقْعَةً	وَلَا يَجُوْزُ السَّلَمُ فِي الْجَوَاهِرِ
په کپړو کې کله چې بیان شي اوږدوالی	پلنوالی	او روا نه ده سلم په جواهرو کې

وَلَا فِي الْخَرَزِ	وَلَا بَأْسَ بِالسَّلَمِ	فِي اللَّبِنِ وَالْآجُرِّ	إِذَا سَمَّى مِلْبِنًا مَعْلُومًا
نه په غمیو کې	او پروا نشته په سلم کې	په خامو او پخو شیدو کې	کله چې معلومه شي سانچه
وَكُلُّ مَا أَمْكَنَ ضَبْطُ صِفَتِهِ		وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِهِ	جَازَ السَّلَمُ فِيهِ
او هر هغه شي چې محفوظ کېدی شي صفت يې		او د مقدار پېژندل يې	روا ده سلم په هغو کې
وَمَا لَا يُمْكِنُ ضَبْطُ صِفَتِهِ وَلَا مَعْرِفَةُ مِقْدَارِهِ			لَا يَجُوزُ السَّلَمُ فِيهِ
او هر هغه شی چې د صفت محفوظ کول او د مقدار پېژندل ممکن نه وو			روا نده سلم په هغو کې

د بيع سلم پاتې احکام

د لغاتو حل: **رقعة**: ټوټه، مراد پيروالي دی. **الجواهر**: د جوهرة جمع ده. **الخرز**: د خرزه جمع ده ملغلرې، **اللبن**: خامې خښتې، **الاجر**: پخې خښتې.

تشريح: **ولايجوز......القبض**: د قدوري صاحب وېلي دي چې د مسلم اليه لپاره په رأس المال کې په هغه باندې له قبض کولو مخکې تصرف کول روا نه دي، مثلاً يوه کس له چا سره په سل روپۍ ۱۵ کيلو غنم بيع سلم وکړه او تراوسه مسلم اليه په سلو روپيو باندې قبضه نه ده کړې چې له بل چا نه يې په سل روپيو کې کوم سامان واخيست نو د مسلم اليه دغه تصرف روا نه دی، ځکه چې په دې کې د هغه قبض فوت کيدل لازم راځي کوم چې د نفس عقد له وجهې ضروري دی، همدا ډول مشتري (رب السلم) لپاره په مسلم فيه کې له قبض کولو مخکې تصرف کول روا نه دي
مثلاً رب السلم تراوسه په غنمو قبضه نه ده کړې چې له دې مخکې هغه يې خرڅ کړل، يا يې هبه کړل نو دغه تصرف روا نه دی، ځکه چې مسلم فيه مبيعه ده او په مبيعه باندې له قبض کولو مخکې په هغې کې تصرف کول روا نه دي

ولايجوز الشركة........قبضه: په مسلم فيه قبضه نه ده شوې شرکت او توليت دواړه روا ندي، د شرکت صورت دا ده چې رب السلم چاته داسې ووايي چې ما فلاني ته يو زر روپۍ ورکړي دي ماته پنځه سوه روپۍ راکړه او په مسلم فيه کې له ما سره برابر شريک جوړ شه، همدارنګه په مسلم فيه باندې تراوسه پورې قبضه نه ده شوې او په هغې کې بيع توليه کول غواړي نو نه يې شي کولی، د توليه صورت دا ده چې رب السلم چاته داسې ووايي چې که چيرته ته ماته ټول رأس المال راکړې کوم چې ما فلاني ته ورکړی دی نو مسلم فيه ټوله ستا ده، د شرکت او توليه عدم جواز وجه دا ده چې بيع توليه کول يا د يو چا شريکول په مسلم فيه کې تصرف کول دي، او په مبيعه باندې له قبض کولو مخکې تصرف کول روا نه دي، لکه څرنګه چې په ماقبل کې تير شوي دي

وبصح السلم......رقعة: د قدوري صاحب وېلي دي که د اوني کپړې اوږدوالی پلنوالی پيروالی بيان کړې چې څومره انچ پلنه ده او کوم ډول کپړه ده د هغې حقيقت څه دی؟ سپکه ده که درنه ده، ټول شيان

په بیان کړی شي، او که چیرته کپړه وریښمینه وه د هغې وزن به هم بیان کړی شي نو په کپړه کې هم بیع سلم روا ده. په اوسنی زمانه کې یو ماشین په یوه ډول زرګونه ګزونه جوړوي، نو ځکه د بیع سلم په جواز کې هیڅ د شبهې خبره نشته. په تیره شوې زمانه کې چونکه کپړه په لاس سره جوړیدله نو ځکه د هغې صفات معلومول مشکل وو، او د بیع سلم په جواز کې شبه وه. لیکن نن ورځ په دغه مشیني دور (زمانه) کې دا خبره نشته.

ولابأس بالسم..... ملبنا معلوما: مسئله دا ده چې که چیرته د خښتو جوړولو قالب (سانچه) معلومه کړی شي نو په دې سره اندازه لګیږي چې څومره غټې خښتې دي، نو ځکه د هغو د مقدار معلومات کیږي. له همدې وجهې د خښتو بیع سلم روا ده. برابره ده که خامې خښتې وي که پخې وي

وکل ماامکن الخ: په کومو شیانو کې بیع سلم روا ده او په کومو شیانو کې بیع سلم روا نه ده؟ په دې باره کې د قدوري امام د یوې قاعدې کلیې بیانول غواړي، چنانچه فرمایي د کومو شیانو چې د صفت ضبط کول ممکن وو مثلاً د هغو عمده یا ردي کیدل او د هغو د مقدار معلومول ممکن وو لکه مکیلات، موزونات او مزروعات، او همدارنګه هغه عددي شی د کومو په افرادو کې چې زیات فرق نه وو لکه چارمغز، هګۍ او وغیره په هر همداسې شي کې بیع سلم روا ده. او په کومو شیانو کې چې دغه خبره نه وي په هغو کې بیع سلم صحي نه ده، لکه جواهر، غمي، ملغلرې، پوستکي، حیوان، لرګي، انار، خربوزه وغیره (تحفة الفقهاء).

وَيَجُوزُ بَيْعُ الْكَلْبِ وَالْفَهْدِ	وَالسِّبَاعِ	وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ
روا ده بیعه د سپي د پړانګ	او د ښکار خوړونکي ځناور	او روا نده بیعه د شرابو او د خنزیر
وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ دُودِ الْقَزِّ	إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعَ الْقَزِّ	وَلَا النَّحْلِ إِلَّا مَعَ الْكُوَّارَاتِ
او روا نده بیعه د وریښمو د چینجیو	مګر دا چې وي له وریښمو سره	او نه د مچیو مګر چې وي له کورونو سره
وَأَهْلُ الذِّمَّةِ فِي الْبِيَاعَاتِ	كَالْمُسْلِمِينَ	إِلَّا فِي الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ خَاصَّةً
او ذمي خلک په خرید او فروخت کې	د مسلمانانو په شان دي	مګر په شرابو او خنزیر کې خاص
فَإِنَّ عَقْدَهُمْ عَلَى الْخَمْرِ	كَعَقْدِ الْمُسْلِمِ عَلَى الْعَصِيرِ	وَعَقْدَهُمْ عَلَى الْخِنْزِيرِ
ځکه معامله د دوی په شرابو	لکه د مسلمانانو معامله په شربت باندې	او معامله د دوی په خنزیر
كَعَقْدِ الْمُسْلِمِ عَلَى الشَّاةِ		
لکه معامله د مسلمانانو په پسه باندې		

متفرقه مسائل

د لغاتو حل **الكلب** سپی، **الفهد** پړانګ، السباع د سبع جمع ده درنده، **دود** چينجی، دا د دودة جمع ده، **القز** وريښم، **دود القز**: د وريښمو چينجی، **النحل** د شاتو مچی، دا د نحلة جمع ده، **الكورات** د شاتو مچيو کورونه (پوڅه)، **العصير** د انګورو شيره.

تشريح ويجوز بيع الكلب والفهد والسباع: سپی، پړانګ او درنده لکه زمری، لیوه او وغیره خرڅول روا دي.

اصل اختلاف د سپي متعلق دی چې د هغه بيعه روا ده او که نه ده؟ په دې باره کې دوه مذهبونه دي.

(۱) د امام شافعي او امام محمد په نزد د سپي خرڅول روا نه دي، که چیرته يې کوم کس بيعه وکړي نو د بائع لپاره د هغه قيمت اخيستل حرام دي.

(۲) د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد د کوم سپي ساتل (پالل) چې روا نه دي د هغه بيعه هم روا نه ده، او د کوم سپي ساتل چې روا دي لکه ښکاري سپی، د حفاظت لپاره د سپي ساتل د هغه بيعه هم روا ده، او د هغه قيمت اخيستل هم روا دي. د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ مشهور روايت دا ده چې خرڅول يې روا دي سره له کراهيته.

د شافعيانو استدلال: (نهى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن ثمن الكلب.....الخ)

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپي له قيمت څخه منع کړي، په دغه حديث سره په استدلال کولو سره شافعيانو او وغيره ويلي دي چې د سپي بيعه روا نه ده. همدارنګه د شافعيانو په نزد سپی نجس العين دی او د نجس العين بيعه روا نه ده، له همدې وجهې د سپي بيعه هم روا نه ده.

ځواب په دغه حديث کې هغه سپي مراد ده د کوم چې پالل (ساتل) روا نه دي، دويمه توجيه دا ده چې دغه حديث منسوخ دی، او د دې ناسخ هغه احاديث دي په کومو کې چې د (الا كلب صيد) استثناء موجوده ده.

د حنفيانو استدلال: (عن جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهى عن ثمن الكلب والسنور الا كلب صيد)

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سپي او پیشو له بيع څخه منع کړې، مګر د ښکاري سپي د بيع اجازه يې ورکړې، په دغه حديث کې د ښکاري سپي د ثمن اجازه ورکړی شوې، د کوم مطلب چې دا ده چې د هغه بيعه روا ده، نو ځکه د هغه د ثمن اجازه هم دی.

ولا يجوز بيع الخمر والخنزير د دې دواړو حرمت بالکل واضح دی.

ولا يجوز بيع دود.... مع القز، والا النحل الا مع الكورات د وريښمو بيعه روا ده، مګر تنها د وريښمو د چينجيو بيعه ناروا ده، هو که له وريښمو سره چينجي وي نو له وريښمو سره د چينجيو بيعه روا کيږي، ځکه چې د وريښمو چينجي مال نه دی، نو ځکه تنها د هغو بيعه روا نه ده، البته که د وريښمو تابع کړی

شي د هغو بيعه روا كيږي، همدارنګه د شاتو مچې مال نه دی، نو ځکه تنها د هغو خرڅول هم روا نه دي، البته كه د شاتو له كورونو سره يو ځاى كړى شي نو روا كيږي، د امام شافعي رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد د وريښمو د چينجيو بيعه تنها هم روا ده، او همدارنګه د شاتو د مچيو بيعه تنها هم روا ده، ځکه چې دا د ګټې وړ دي، له هغو څخه وريښم او شهد ويستل كيږي، نو ځکه دا د مال په درجه كې شول د هغو بيعه تنها هم روا كيږي

واهل الذمة في البياعات الخ ذمي هغه كافر دى كوم چې په دار الاسلام كې د مسلمانانو ماتحت اوسيږي او جزيه وركوي، د كتاب صاحب ويلي دي چې ذمي خلك په عامو معاملاتو كې د مسلمانانو په شان دي، برابره ده كه خريد او فروخت وي يا بل څه وي، يعني كوم شى چې د مسلمانانو لپاره روا دي هغه د هغوى لپاره هم روا دي، او كوم شى چې د مسلمانانو لپاره ناروا دي هغه د هغوى لپاره هم ناروا دي، د بخاري روايت دى چې په خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم هم له كفارو سره خريد او فروخت كړى دى، حضرت عبد الرحمن ويلي دي : موږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو چې يو مشرك سړى راغى كوم چې مضبوط او اوږد وو، پسونه يې خرڅول، رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغه پوښتنه وكړه چې د خرڅولو دي او كه د عطيه وركولو دي؟ يا يې وفرمايل چې د هبه كولو دي؟ هغه وويل چې نه دي، بلكې د خرڅولو لپاره دي، چنانچه رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغه څخه يو پسه واخيست (۱) له دغه حديث معلومه شوه چې مشرك ته د بيع كولو اجازه دى نو ذميانو ته خو په درجه اولى د خريد او فروخت اجازه شته دى، ځکه چې هغوى ته په دار الاسلام كې د ټيكس په اداء كولو سره ټول حقوق حاصل شوي دي

بَابُ الصَّرْفِ

د بيع صرف بيان

د مبيع په اعتبار سره د بيع څلور قسمونه دي (اول) بيع العين بالعين (دويم) بيع العين بالدين (دريم) بيع الدين بالعين (څلورم) بيع الدين بالدين، د لومړنيو دريو قسمونو له بيانولو وروسته اوس د څلورم قسم بيانول شروع كيږي چې په كوم كې عوضين ثمن دي، دا قسم له ټولو په اخير كې يا خو له دې وجهې بيان شوى چې دا اضعف الباعات دى لهذا په دې كې دننه په مجلس عقد كې په عوضينو باندې قبضه كول شرط دي، يا له دې وجهې چې په دې كې عوضين ثمن دي او ثمن په عقد بيع كې د وصف قائم مقام دي او مبيعه د اصل قائم مقام ده، او ښكاره ده چې اصل د وصف په مقابل كې اول ذكر كيږي او وصف وروسته ذكر كيږي، نو ځکه بيعه صرف له نورو وروسته ذكر كړى شوه (الصبح النوري او اشرف الهدايه)

(۱) بخاري ج ۱ ص ۲۹۵

دي عقد ته د صرف ویلو دوه وجهې بیان شوي دي (اول) د صرف معنی ده نقل کول، په دې عقد کې چونکه عوضین د ضرورت په بناء لاس په لاس کیږي نو ځکه پرې د عقد صرف نام اینښودل شوی (دویم) د خلیل نحوي د تحقیق مطابق دا لفظ د زیادت په معنی کې راغلی دی. په همدې مناسبت سره عبادت نافله ته صرف ویل شوي دي، نبوي ارشاد دی (من انتمی الی غیر ابیه لایقبل الله منه صرفا ولا عدلا) چا چې خپل ځان له خپل پلار پرته د بل چا طرفته منسوب کړ الله تعالی د هغه صرف او عدل نه قبلوي. په دغه حدیث کې له صرف څخه نفل مراد دي ځکه چې دا له فرض څخه زیات دي او له عدل څخه مراد فرض دي، او په عقد صرف سره زیاتی مقصود وي ځکه چې اثمان یعنې سره زرو او سپین زرو په کومو باندې چې د عقد. صرف بنیاد دی له ذات څخه بلا تجارت ګټه ناممکن ده او په تجارت سره زیاتی مقصود وي، لهذا په د صرف په لفظ کې د زیادت معنی موندلو له امله د دې عقد نام صرف کیښودل شو، په دې عقد کې چې ترکومه زیادت مقصود دی هلته په مجلس عقد کې په عوضینو باندې قبضه هم زائد او یو امتیازي شی ده کوم چې په غیر صرف کې موجود ندی، نو د همدې تفرد له وجهې هم د هغه نام صرف اینښودل شوی دی (هدایه، فتح القدیر، الجوهرة النیرة)

الصَّرْفُ هُوَ الْبَيْعُ	إِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ عِوَضَيْهِ	مِنْ جِنْسِ الْأَثْمَانِ	
صرف هغه بیع ده	کله چې وي هر یو له عوضینو	د ثمنو له جنس څخه	
فَإِنْ بَاعَ فِضَّةً بِفِضَّةٍ	أَوْ ذَهَبًا بِذَهَبٍ	لَمْ يَجُزْ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ	
که خرڅ کړل شي سپین د سپینو په عوض کې	یا سره د سرو په عوض کې	روا نه ده مګر برابر	
وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الْجَوْدَةِ وَالصِّيَاغَةِ	وَلَا بُدَّ مِنْ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ	قَبْلَ الِافْتِرَاقِ	
اګر که مختلف وي په ښه والي او جوړوالي کې	ضروري ده د عوضینو قبضه	له جلا کیدو مخکې	
وَإِذَا بَاعَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ	جَازَ التَّفَاضُلُ	وَوَجَبَ التَّقَابُضُ	وَإِنِ افْتَرَقَا
او چې خرڅ کړي سره د سپینو په عوض کې	روا ده کمي زیاتي	او ضروري ده قبضه کول	او که د جلا شول
فِي الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ	أَوْ أَحَدِهِمَا	بَطَلَ الْعَقْدُ	
په صرف کې مخکې له قبضې په عوضینو	یا په یوه	نو عقد باطل کړی شو	
وَلَا يَجُوزُ التَّصَرُّفُ	فِي ثَمَنِ الصَّرْفِ	قَبْلَ قَبْضِهِ	
او روا نه دي تصرف کول	د صرف په ثمن کې	له قبض کولو مخکې	
وَيَجُوزُ بَيْعُ الذَّهَبِ بِالْفِضَّةِ	مُجَازَفَةً		
او روا ده د سرو بیعه د سپینو په عوض کې	په اندازې سره		

د لغاتو حل **اثمان**: د ثمن جمع دهو قیمت، مګر له دې هغه شی مراد ده په کوم کې چې په پیدایشي دول ثمنیت وي لکه سره زر او سپین زر. **الجودة**: غوره. **افتراق**: جدائي. **التفاضل**: کمی او زیاتی. **مجازفة**: اندازه (اټکل)

تشریح **الصرف...... الاثمان**: د بیع صرف اصطلاحي تعریف دا ده چې بیع صرف هغه ده د کوم عوضین چې د ثمن له جنس څخه وي، د دې درې شکلونه دي (اول) سره زر د سرو زرو عوض (دویم) سپین زر د سپینو زرو عوض (دریم) یو د بل په عوض.

مسئله: پوهیدل پکار دي چې د بیع صرف د صحت لپاره دوه شرطونه دي

(۱) **عدم النسیئه**: یعني په همدې بیع کې قرض په هر حال کې ناروا دی، برابره ده که دواړه متحد الجنس وي یا مختلف الجنس وي، په مجلس کې قبضه ضروري ده.

(۲) **عدم تفاضل**: دا صرف هغه وخت کله چې عوضین متحد الجنس وي، مثلا دواړه سپین وي، یا دواړه سره وي، او که چیرته د جنس اتحاد نه وو نو تفاضل روا دی، په دغه عبارت کې په دویم شرط باندې تفریع ده، چنانچه فرمایي که سپین د سپینو په عوض کې خرڅ کړی شي، یا سره د سرو په عوض کې خرڅ کړی شي دا بیعه هغه وخت روا کیږي کله چې دواړه په وزن کې سره برابر وي، اګر که یو زیات عمده وي او بل ردي وي، یا په یوه کې ښه کار شوی وي او په بل کې ښه نه وي شوی د کوم له امله چې د هغه قیمت کم وي، بیا هم د وزن په اعتبار سره دواړه برابر خرڅولی شي کمی زیاتي حرام دی.

مسئله: په دغه عبارت کې د بیع صرف په لومړي (اول) شرط باندې تفریع ده، سره او سپین دواړه دوه جنسه دي، نو ځکه له کمي زیاتي سره یې خرڅول روا دي، لیکن چونکه دواړه وزني دي له همدې وجهې په مجلس کې په دواړو باندې قبضه کول ضروري دي.

مسئله: بائع او مشتري بیع صرف وکړه، په مبیعه او ثمن یې قبضه ونکړه یا یې په یوه باندې قبضه وکړه او په دویم یې ونکړه او سره جلا شول نو بیع صرف باطله کړی شوه، ځکه چې د حدیث شریف د توتې (یدا بیدا)، په بنیاد په دواړو باندې قبضه ضروري وه او دوی قبضه ونکړه، د حدیث خلاف یې وکړل نو ځکه عقد باطل شو.

مسئله: د بیع صرف په ثمن باندې تر اوسه قبضه نه ده شوې، او د هغو په ذریعه د کوم شي اخیستل غواړي او په هغو کې تصرف کول غواړي نو داسې کول روا نه دي، د بیلګې په توګه که چیرته کوم کس یو دینار د لسو درهمو په عوض کې خرڅ کړ او په همدغو دراهمو باندې له قبض کولو مخکې د هغو په عوض کې کجورې واخیستې نو د همدغو کجورو بیعه فاسده شوه، ځکه چې په بیع صرف کې دواړه جانبه ثمن دي له همدې وجهې کوم یوه ته له ترجیح ورکولو پرته دواړو ته د مبیعې درجه حاصله ده او له قبض کولو مخکې د مبیعې خرڅول روا نه دي

د امام زفر رحمه الله **رایه** چونکه ثمن په متعین کولو سره نه متعین کیږي له همدې وجهې که چیرته د بیع صرف په ثمن قبض هم نه وي شوی نو که له خپل طرفه نور دراهم یا دنانیر ورکړي له همدې امله دبیع صرف په ثمن سره هر شی چې وي اخیستل یې روا کیږي.

وَمَنْ بَاعَ سَيْفًا مُحَلًّى بِمِائَةِ دِرْهَمٍ	وَحِلْيَتُهُ	خَمْسُونَ دِرْهَمًا
او چا چې خرڅه کړه توره بنایسته شوې په سلو روپیو	او د هغې زیور	د پنځوس روپیو دي
فَدَفَعَ مِنْ ثَمَنِهِ	خَمْسِينَ دِرْهَمًا جَازَ الْبَيْعُ	وَكَانَ الْمَقْبُوضُ
او ورکړي د هغې له قیمت څخه	پنځوس درهم نو روا شوه بیعه	او کیږي مقبوض
مِنْ حِصَّةِ الْفِضَّةِ	وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ ذَلِكَ وَكَذَلِكَ إِنْ قَالَ	خُذْ هَذِهِ الْخَمْسِينَ
د سپینو له برخې	اګر که همدا بیان یې نه وي کړی همدارنګه که ووایي	واخله دغه پنځوس
مِنْ ثَمَنِهِمَا	فَإِنْ لَمْ يَتَقَابَضَا حَتَّى بَطَلَ الْعَقْدُ فِي الْحِلْيَةِ	وَإِنْ كَانَ
د دواړو له قیمت څخه	بیا که قبضه ونکړه دواړو تردې چې باطل شو عقد په زیور کې	او که وه
يَتَخَلَّصُ بِغَيْرِ ضَرَرٍ	جَازَ الْبَيْعُ فِي السَّيْفِ	وَبَطَلَ فِي الْحِلْيَةِ
زیور خاتته شوې پرته له کوم نقصانه	روا کیږي بیعه په توره کې	او باطلیږي په زیور کې

د بیع صرف د قوانینو تفصیل

د لغاتو حل **سیف** توره، **محلی** اسم مفعول، په زیور سره آراسته شوې، مراد د سپینو زیور دی، **حلیة** زیور، دلته د موقع مناسب د سپینو زیور مراد دي، **یتلخص** جدا کول، **ضرر** نقصان.

خلاصه یوه کس د سپینو په زیور سره بنایسته کړی شوې توره په سل درهمه خرڅه کړه، په کومه کې چې د پنځوسو روپیو زیور وو، مشتري پنځوس روپۍ نقد ورکړې او پاتې پنځوس یې قرض وکړ نو د تولې تورې او زیور بیعه روا شوه، چونکه د زیور قیمت په مجلس کې یې ورکول ضروري وو، ځکه چې هغه سپین دي او د سپینو بیعه په سپینو سره شوې له همدې امله برابروالی هم ضروري دی، اوس چې کوم پنځوس درهم ورکړی شوي هغه د زیور بدل شمارل کیږي، برابره ده که مشتري د هغه بیان کړي وي او که یې نه وي کړي، بلکې که چیرته هغه د دې تصریح وکړي چې دغه پنځوس درهم د دواړو د قیمت له لوري ورکړی شوې دي بیا هم د زیور بدل شو او پاتې پنځوس د اوسپنې د تورې په بدل کې دي کوم چې قرض دي، نو ځکه په مجلس کې چې کومې پنځوس ورکړی شوي هغه د زیور په بدل کې ګڼل کیږي ترڅو چې بیعه صحي شي، او که چیرته په پنځوسو کې نیمایي د تورې په بدل کې کړي نو د زیور په بدل پاتې په مجلس کې قبضه ونشوه لهذا بیعه فاسده شوه

بائع د زيور په قيمت پنځوس درهمو باندې قبضه كول غوښتې وو ليكن په هغو يې قبضه ونكړه او جلا شول، نو كه چيرته زيور توړې ته له نقصان رسيدو پرته جدا كيدى شول نو د توړې بيعه كيږي، ځكه چې د توړې په قيمت باندې په مجلس كې قبضه كول ضروري نه دي، او د زيور خو بيعه نكيږي، ځكه چې د هغه په قيمت باندې په مجلس كې قبضه ضروري وه، او كه چيرته زيور له توړې څخه له نقصان رسيدو پرته نه جدا كيدل نو د زيور بيعه نكيږي او د همدې له وجهې د توړې بيعه هم نكيږي

وَمَنْ بَاعَ إِنَاءَ فِضَّةٍ　ثُمَّ افْتَرَقَا　وَقَدْ قَبَضَ بَعْضَ ثَمَنِهِ بَطَلَ الْعَقْدُ

او چا چې خرڅ كړ د سپينو لوښى　بيا دواړه جلا شول　او څه قيمت يې اخيستى وه نو عقد باطل شو

فِيمَا لَمْ يَقْبِضْ　وَصَحَّ فِيمَا قَبَضَ　وَكَانَ الْإِنَاءُ مُشْتَرَكًا بَيْنَهُمَا

په كوم كې چې قبضه نه وه كړې　او صحيح شو په هغه كې چې قبضه كړې وه　او ده لوښى مشترك د دواړو په مينځ كې

وَإِنْ اُسْتُحِقَّ بَعْضُ الْإِنَاءِ　كَانَ الْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ　إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْبَاقِيَ

او كه مستحق راووت په څه برخه د لوښي كې　نو مشتري لره اختيار دى　كه وغواړي وادې اخلي باقي

بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ　وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ　وَمَنْ بَاعَ قِطْعَةَ نُقْرَةٍ

د برخې په قيمت كې　او كه وغواړي واپس دې كړي　يو چا خرڅه كړه د سپينو توټه

فَاسْتُحِقَّ بَعْضُهَا　أَخَذَ مَا بَقِيَ　بِحِصَّتِهِ　وَلَا خِيَارَ لَهُ

بيا پيدا شو كوم مستحق په څه برخه كې　وادې اخلي پاتې　د هغه په برخې سره　او اختيار ورلره نشته

وَمَنْ بَاعَ دِرْهَمَيْنِ وَدِينَارًا　بِدِينَارَيْنِ وَدِرْهَمٍ　جَازَ الْبَيْعُ

او چا چې خرڅ كړل دوه درهمه او يو دينار　په دوه دينارونو او يوه درهم　نو روا ده بيعه

وَجُعِلَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْجِنْسَيْنِ　بَدَلًا مِنَ الْآخَرِ　وَمَنْ بَاعَ

او گرځول كيږي هر يو له جنسينو څخه　بدل د هغه بل　او چا چې خرڅ كړل

أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا　بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَدِينَارٍ　جَازَ الْبَيْعُ

يوولس درهمه　په لس درهمو او د يوه دينار　نو روا ده بيعه

وَكَانَتِ الْعَشَرَةُ بِمِثْلِهَا　وَالدِّينَارُ بِالدِّرْهَمِ　وَيَجُوزُ بَيْعُ

او كيږي لس د لسو په مقابل كې　او دينار د درهم په مقابل كې　او روا ده بيعه

دِرْهَمَيْنِ صَحِيحَيْنِ وَدِرْهَمٍ غَلَّةٍ　بِدِرْهَمٍ صَحِيحٍ وَبِدِرْهَمَيْنِ غَلَّةٍ

د صحيح درهمو او يوه مات درهم　د يوه صحيح درهم او دوو ماتو درهمو په عوض كې

د لغاتو حل **اناء** لوښی، **نقرة** خام سپين زر، درهم **صحيح** يو کامل درهم کوم چې له ريزکاري پرته وي، **غلة** ريزکاري، هغه درهم کوم چې بيت المال گرځولی دی او تاجران يې اخلي، د هغه د کوټه کيدو له امله نه بلکې د ريزکارۍ له امله د کومو چې په شمارلو او ساتنه کې سختي وي لکه نن سبا، همدارنګه په بينکونو کې ريزکار ډير کم پيدا کيږي، **درهم غلة** د يوه درهم دوه اجزاء د کوم وزن او ماليت چې د يوه درهم سره برابر وي

تشريح **مسئله** يوه کس د سپينو لوښی په سل درهمه خرڅ کړ، مشتري پنځوس درهم په مجلس کې ورکړل او پنځوس يې ورنکړل، له دې وروسته عاقدين جلا شول، نو څومره يې چې ورکړي وو د هغو بيعه وشوه او څومره يې چې نه دي ورکړي د هغو بيعه باطله شوه، ځکه چې دواړو طرفونو ته سپين دي. له همدې وجهې په مجلس کې په دواړو باندې قبضه کول ضروري وو او دلته په نيمايي باندې په مجلس کې قبضه وشوه نو په څومره برخه کې چې شرط وموندل شو په هومره برخه کې بيعه صحيح کيږي، او مبيعه دلته لوښی دی د نيمايي لوښي د بيع نه کيدو له وجهې د قياس په اعتبار سره په ټول لوښي کې د بيع فاسد کيدل پکار دي. ليکن له دې وجهې نه فاسديږي چې لومړی بيعه د ټول لوښي شوې ده او په وروسته کې فساد راغلی دی، نو ځکه د نيمايي فساد په ټول کې سرايت نشي کولی،او لوښی د بائع او مشتري په مينځ کې مشترک پاتې کيږي.

مسئله د بائع او مشتري په مينځ کې د بيع له کولو وروسته دريم کس وويل چې په دغه لوښي کې نيمايي زما حق دی، د شاهدانو او وغيره په ذريعه يې خپل حق ثابت کړ نو اوس نيمايي د دريم کس شو او نيم لوښی د مشتري شو. او په لوښي کې شرکت عيب دی، نو ځکه مشتري لره اختيار دی چې د لوښي څومره برخه چې د ده په حق کې راغلې هومره قيمت ورکړي او واپې خلي او که وغواړي نو ټوله بيعه دې فسخه کړي

مسئله يو چا په سل روپۍ د سپينو ټوټه واخيسته، په وروسته کې د نيمايي کوم بل مستحق پيدا شو نو مشتري دې پنځوس روپۍ ورکړي او نيمه ټوټه دې واخلي او په دغه صورت کې مشتري لره د رد کولو اختيار نشته دی، ځکه چې د سپينو ټوټه جدا (ټکره) کيدلی شي، لهذا چې جدا (ټکره) کړی شي نو يوه برخه بل ته ورکول کيدلی شي، له همدې وجهې په دې کې عيب نشته، نو ځکه به يې مشتري اخلي او د همدغې بيع د رد کولو اختيار ورلره نشته دی، البته څومره برخه چې د مشتري په حق کې راغله هومره قيمت به ورکوي زيات به نه ورکوي، ځکه چې همدومره حق هغه ته رسيدلی دی

مسئله د مسئلې صورت دا ده چې يوه کس دوه درهمه او يو دينار د يوه درهم او دوو دينارونو په عوض کې خرڅ کړل نو زمونږ په نزد دغه بيعه روا ده، او که چيرته دوه درهمه د يوه درهم په بدل کې او يو دينار د دوو دينارونو په بدل کې ورکړي نو بيعه فاسديږي او سود کيږي. ليکن که چيرته دوه درهمه د يوه دينار په بدل کې کړي او همدارنګه دوه دينارونه د يوه درهم په بدل کې کړي د خلاف

جنس كېدو له وجهې كمى زياتى روا كيږي او بيعه روا كيږي. حتى الامكان د بيع روا كېدو لپاره دې دغه دويم صورت غوره كړى شي او انساني سهولت كې دې مد نظر وساتل شي

امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله ويلي دي چې دغه عقد روا نه دى. ځكه دلته د مجموعې مقابله له مجموعې سره ده ځكه چې دوه درهمه د يوه درهم په مقابل كې او يو دينار د دوو ديناروتو په مقابل كې ګڼل شوي دي او په يوه جنس كې كمى زياتى كيږي او ربوا كيږي. له همدې وجهې دغه بيعه نه روا كيږي. او دوه درهمه د دوو ديناروتو په عوض او يو دينار د يوه درهم په عوض په قرار ګڼلو كې د عاقدينو تصرف متغير كول لازم راځي (د زيات تفصيل لپاره هدايه وګورى)

ويجوز بيع درهمين الخ د صاحب قدوري عبارت صحي نه دى. بلكې د صاحب هدايه عبارت صحي دى. يعني (**ويجوز بيع درهم صحيح ودرهمين غلتين بدرهمين صحيحين ودرهم غلة**) اوس د مسئلې صورت دا ده كه چيرته كوم كس يو درهم صحيح او دوه درهمه مات شوي د دوو درهمو صحيح او يوه درهم مات شوي په بدله كې خرڅ كړل نو دغه بيعه روا ده. ځكه چې د وزن په اعتبار سره د دواړو عوض برابر دى.

وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّرَاهِمِ	الْفِضَّةَ	فَهِيَ فِي حُكْمِ الْفِضَّةِ
او كه غالب وو په دراهمو	سپين زر	نو هغه د سپينو په حكم كې دي
وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّنَانِيرِ	الذَّهَبَ	فَهِيَ فِي حُكْمِ الذَّهَبِ
او كه غالب وو په دنانيرو	سره زر	نو هغه د سرو په حكم كې دي
فَيُعْتَبَرُ فِيهِمَا مِنْ تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ	مَا يُعْتَبَرُ فِي الْجِيَادِ	وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ
معتبريږي په دواړو كې د كمي زياتي حراموالى	كوم چې معتبر شوى په عمده كې	او كه غالب وو
عَلَيْهِمَا الْغِشَّ	فَلَيْسَا فِي حُكْمِ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ	فَهُمَا فِي حُكْمِ الْعُرُوضِ
په هغو خيرى	نو د دراهمو او دنانيرو په حكم كې نه دي	بلكې د سامان په حكم كې دي
فَإِذَا بِيعَتْ بِجِنْسِهَا مُتَفَاضِلًا	جَازَ الْبَيْعُ	وَإِذَا اشْتَرَى بِهَا سِلْعَةً
بيا كه خرڅ شي په جنس سره په كمي زياتي	روا ده بيعه	او كه يې واخيست په هغه سامان
ثُمَّ كَسَدَتْ فَتَرَكَ النَّاسُ الْمُعَامَلَةَ بِهَا	قَبْلَ الْقَبْضِ	بَطَلَ الْبَيْعُ
بيا بند شو او خلكو پرې معامله كول پرېښودل په هغه	مخكې له قبض	باطليږي بيعه
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ	عَلَيْهِ قِيمَتُهَا يَوْمَ الْبَيْعِ
د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد	او ويلي امام ابويوسف رحمه الله	په هغه قيمت دى د بيع د ورځې

ما يَتَعامَلُ النّاسُ	عَلَيْهِ قِيمَتُها آخِرَ	وَقالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ
چې خلکو پرې معامله کړې ده	په هغه قیمت دی د آخرې ورځې	ویلي امام محمد رَحِمَهُ اللهُ

د عقد بیع متفرق قوانین

د لغاتو حل **التفاضل** کمی زیاتی، **الجیاد** : د جید جمع ده عمده، غوره، **عروض** دا د عرض جمع ده اسباب او سامان، **سلعة** سامان، د تجارت سامان جمع سلع، **کسد** (ن ک) کسادا وکسود الشئ: د خواهشمندو د کمې له امله نه رواج کیدل، **آخر ما یتعامل الناس** : اخیرنی ورځ په کومه چې خلک لین دین بند کړی وي، دا مرادي ترجمه ده.

تشریح : په دې عبارت کې یوشمیر مسائل ذکر شوي دي:

وان کان الغالب..... في الجیاد: مسئله : که په دراهمو باندې سپین زر غالب وو نو دغه دراهم خالص د سپینو په حکم کې دي، او که چیرته په دنانیرو کې سره زر غالب وو نو دغه دنانیر خالص د سرو په حکم کې دي او د دوی د همجنس په بیع کې کمی زیاتی داسې حرام دی لکه څرنګه چې د خالص سرو او سپینو د همجنس په بیع کې کمی زیاتی حرام دی، چنانچه که چیرته خالص دراهم د ملاوټ شوي دراهم په بدل کې یا خالص دنانیر د ملاوټ شویو دنانیرو په عوض کې خرڅ کړل شي نو د وزن په اعتبار سره یې برابروالی ضروري کیږي.

مسئله: وان کان الغالب علیهما الغش په درهم کې سپین زر غالب نه دي بلکې خیرې (ملاوټ) غالب دی، چونکه زیات خیرې دي نو ځکه د هغه حکم د سامان په شان دی، همدارنګه په دنانیر کې خیرې غالب دي نو اوس هغه د سرو په حکم کې نه دی، بلکې د سامان په حکم کې دی، مشهوره قاعده ده (للاکثر حکم الکل).

مسئله: وان اشتری الناس یو چا د هغو دراهمو او دنانیرو په بدل کې سامان واخیست په کومو کې چې ملاوټ زیات وو، تراوسه په مبیعه باندې قبضه نه وه شوې چې په خلکو کې یې رواج ختم شو او خلکو په هغو سره معامله کول پریښودل، نو د امام صاحب په نزد دغه بیعه باطله شوه، د صاحبینو، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد بیعه نه باطلیږي، ځکه چې د مال تبادله په مال سره د کیدو له وجهې بالاتفاق عقد صحیح شوی وو، لیکن د چلن بندیدو له وجهې د ثمن سپارل ناممکن شول او که چیرته د ثمن سپارل متعذر او ناممکن شي نو له همدې وجهې بیعه نه فاسدیږي، لهذا بیعه نه فاسدیږي او په مشتري باندې د هغه قیمت لازمیږي، پاتې شوه دا خبره چې د کومې ورځې قیمت پرې لازمیږي په دې باره کې د صاحبینو اختلاف دی:

د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ مذهب او دلیل ده فرمایلي دي چې په کومه ورځ بیعه شوې ده د همغې ورځې د سکو قیمت یې که په درهم سره کړی وو هغه په مشتري باندې واجبیږي، ځکه چې د بائع او مشتري

په ذهن کې د هماغه وخت قيمت ملحوظ دی، د هماغه وخت قيمت يې په ذهن کې ساتلی بائع د مبيعې په خرڅولو باندې راضي شوی، نو ځکه د خرڅولو په وخت کې د هماغو سکو چې کوم قيمت وو هغه په مشتري باندې لازميږي

د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ **مذهب او دليل** ده فرمايلي دي چې د اخيرنی ورځې په کومه کې چې خلکو د همدغو سکو اخيستل او ورکول پرې ايښي په همدې ورځ چې د همدغو سکو کوم قيمت وو هغه دې واخيستل شي، ځکه ترڅو پورې چې سکې رواج وې تر هغه وخته پورې د سکو ورکولو اجازه وه، ليکن په کومه ورځ يې چې چلند بند شو په همدغه ورځ له کوټه سکو څخه نقل شوې د قيمت طرفته راغلي، چنانچه په کومه ورځ چې د قيمت طرفته نقل شوې دي د قيمت په سلسله کې د هماغې ورځې قيمت معتبريږي، او مشتري دې قيمت اداء کړي او مبيعه دې واخلي

د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ **مذهب او دليل** په کومو دراهمو او دنانيرو کې چې ملاوټ غالب وو د هغو ثمن کيدل د خلکو د تعامل له وجهې وو. ليکن کله چې خلکو په هغو سره معامله کول پريښودل نو هغه سامان جوړې شوې او د هغو ثمنيت ختم شو. نو ځکه مبيعه له ثمن پرته باقي پاتې شوه او مبيعه چې له ثمن پرته وي نو بيعه فاسديږي، له همدې وجهې دغه بيعه فاسديږي. او چونکه په مبيعه باندې د مشتري قبضه نه وه شوې نو ځکه مبيعه له بائع سره پاتې کيږي او مشتري ته هيڅ نه ورکول کيږي

مسئله: د رواج بنديدل د امام محمد په نزد هغه وخت منل کيدی شي کله يې چې په ټولو ښارونو کې رواج بند کړی شي، د شيخينو حضراتو په نزد دومره کافي دي چې په کوم ښار کې عقد شوی دی په هماغه ښار يې چليدل او رواج بند کړی شي، اګر که په نورو ښارونو کې باقي وي (عيني)

وَيَجُوزُ الْبَيْعُ بِالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ	وَإِنْ لَمْ يُعَيَّنْ	وَإِنْ كَانَتْ كَاسِدَةً
او روا ده بيعه په رواجي پيسو سره	اګر که متعين نکړي	او که چيرته سکې رواج نه وي
لَمْ يَجُزِ الْبَيْعُ بِهَا حَتَّى يُعَيِّنَهَا	وَإِذَا بَاعَ بِالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ	ثُمَّ كَسَدَتْ
نه ده روا بيعه په هغو تردې چې متعين کړي	او که يې خرڅ کړ په مروج پيسو	بيا يې رواج ختم شو
قَبْلَ الْقَبْضِ بَطَلَ الْبَيْعُ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى	وَمَنِ اشْتَرَى شَيْئًا
مخکې له قبض نو بيعه باطله شوه	د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد	يو چا واخيست کوم شی
بِنِصْفِ دِرْهَمٍ فُلُوسٍ جَازَ الْبَيْعُ		وَعَلَيْهِ مَا يُبَاعُ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ مِنْ فُلُوسٍ
په نيم درهم فلوس روا ده بيعه		او په هغه هومره لازميږي چې خرڅيږي په نيم درهم پيسو
وَمَنْ أَعْطَى صَيْرَفِيًّا دِرْهَمًا	فَقَالَ	أَعْطِنِي بِنِصْفِهِ فُلُوسًا
يو چا ورکړ صراف ته يو درهم	او وې ويل	راکړه د نيم درهم پيسې

وَبِنِصْفِهِ نِصْفًا	إِلَّا حَبَّةً	فَسَدَتِ الْبَيْعُ فِي الْجَمِيعِ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى
د نيم درهم درهم	مگر رتي کم	فاسده شوه بيعه په ټولو کې	د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد
وَقَالَا	جَازَ الْبَيْعُ فِي الْفُلُوسِ	وَبَطَلَ فِيمَا بَقِيَ	
صاحبينو ويلي	روا ده بيعه په پيسو کې	او باطله ده په باقي کې	

د لغاتو حل فلوس : د فلس جمع ده پيسه، **النافقة** : رائج، کاسدة : د کوم چليدل چې بندي شوي وي، **صيرفيا** : صراف، حبة : د دوه اوربشو برابر يو وزن.

تشريح : په دې عبارت کې څو مسئلې بيان شوې دي

مسئله : ويجوز.... حتى يعينها : که چيرته پيسې رواجي وې نو د هغو په بدل کې خريدو او فروخت روا دی، ولو که د همدغو پيسو تعين يې نه وي کړی، ځکه چې ترڅو پورې د هغو رواج پاتې وي تر هغه وخته پورې د هغو حکم د دراهمو او دنانيرو په شان دی، يعنې په متعين کولو سره نه متعين کيږي، د هغو په قيمت کې چې کوم فلوس هم ورکړي کافي کيږي، او په کومه ورځ يې چې رواج ختم شي له هماغې ورځې څخه هغه د سامان په شان دي، يعنې هغه په متعين کولو سره متعين کيږي، له تعين پرته يې بيعه نه روا کيږي، لکه څرنګه چې د سامان له متعين کولو پرته بيعه نه روا کيږي.

مسئله : واذا باع بالفلوس....... عندابي حنيفة که يو چا په رواجي پيسو کوم شی واخيست، تراوسه په بيعه باندې قبضه نه وه شوې چې د همدغو سکو رواج ختم شو نو د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد بيعه باطليږي، او د صاحبينو په نزد بيعه نه باطليږي، بلکې د فلوس قيمت دې ورکړي مشتري دې مبيعه واخلي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د بيع د ورځې قيمت او د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د اخيرنی ورځې قيمت په کومه ورځ چې رواجي پيسو رواج بند شوی.

مسئله : ومن اشترى شيئامن فلوس يو چا داسې وويل د نيم درهم چې څومره پيسې راځي د هغو په بدل کې ما دغه څادر اخيستی نو دغه بيعه روا کيږي، او د نيم درهم چې څومره پيسې د هغه په ملک کې راځي هومره پيسې په مشتري باندې لازميږي، ځکه چې د نيم درهم په بدل کې څومره پيسې ملاويږي په دې کې جهالت دی، ليکن د هغه په ملک کې څومره راځي د تجارانو په نزد دا مشهور دي، نو ځکه دغه جهالت ختميږي او ثمن مجهول نه پاتې کيږي، له همدې وجهې بيعه صحي کيږي.

مسئله: ومن اعطی صیرفیا الخ: يوه كس صراف ته يو درهم وركړ داسې يې ووېل د نيم درهم چې كومې پيسې كيږي هغه راكړه او باقي درهم راكړه مگر په هغه كې يوه رتى سپين (چاندي) كم راكړه نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد ټوله بيعه فاسده شوه. ځكه د نيم درهم مقابله له نيم درهم سره ده او په هغه كې يوه رتى كمه ده نو سود شو. نو ځكه د همدغه نيم درهم بيعه فاسده شوه. او چونكه فساد قوي دى او له شروع څخه دى لهذا دا سرايت كوي د درهم په بدل كې چې كومې پيسې اخيستل شوې وې هغه هم فاسد شول. ځكه چې ټوله بيعه يوه ده. لهذا په ټولو كې دغه عقد باطل شو. صاحبينو ويلي دي چې په پيسو كې بيعه روا ده او په باقي كې بيعه باطله ده.

وَلَوْقَالَ اَعْطِنِيْ نِصْفَ دِرْهَمٍ فُلُوْسًا	وَنِصْفًا اِلَّا حَبَّةً	جَازَالْبَيْعُ
او كه وې ويل راكړه د نيم درهم فلوس	او نيم مگر يوه رتى كم	نو روا كيږي بيعه
وَلَوْقَالَ أَعْطِنِيْ دِرْهَمًا صَغِيْرًا	وَزْنُهُ نِصْفُ دِرْهَمٍ اِلَّا حَبَّةً	وَالْبَاقِيْ فُلُوْسًا
او كه وې ويل راكړه كوچنى درهم	چې وزن يې له نيم درهم يوه رتى كم وي	او د باقي پيسې راكړه
جَازَالْبَيْعُ	وَكَانَ النِّصْفُ اِلَّا حَبَّةً	بِإِزَاءِ الدِّرْهَمِ الصَّغِيْرِ
نو روا كيږي بيعه	او كيږي له نيم درهم رتى كم	د كوچني درهم په مقابل كې
	وَالْبَاقِيْ بِإِزَاءِ الْفُلُوْسِ	
	او پاتې د پيسو په مقابل كې	

تشريح: دلته دوه مسئلې بيان شوې دي (اوله) ولو قال اعطنى ..... جاز البيع (دويمه) ولو قال اعطنى درهما الخ، د دواړو نوعيت واضح دى په كوم كې چې له احناقو سره د ائمه ثلاثه ؤ هيڅ اختلاف نشته

كِتَابُ الرَّهْنِ

دا كتاب د رهن په بيان كې دى

په عام ډول په كتابونو كې كتاب الرهن له كتاب الصيد وروسته ذكر شوى او مناسبت دا بيان شوى چې د رهن او صيد دواړو په ذريعه مال حاصليږي، مگر د كتاب صاحب له كتاب البيوع وروسته په دې مناسبت سره ذكر كړى چې زياتره وخت له بيع وروسته رهن ته ضرورت پيدا كيږي. او لكه څرنگه چې د بيع انعقاد د ايجاب او قبول په ذريعه كيدى شي همدارنگه د رهن انعقاد په ايجاب او قبول سره كيدى شي، د رهن لغوي معنى ده د كوم شي له ځان سره ساتل برابره كه مال له جملې وي او كه نوي، د شرع په اصطلاح كې رهن ويل كيږي داسې مالي شي ته د كوم حق دين په بدله كې ايسارول د كوم په ذريعه چې د خپنې مكمل حق ترلاسه كول ممكن وي، لكه له مرهون څخه د دين وصول كول برابره ده كه دين حقيقي وي كه دين حكمي وي، رهن په قرآن سنت او اجماع سره ثابت دى، الهي ارشاد دى

﴿وان كنتم على سفر ولم تجدوا كاتبا فرهن مقبوضة﴾ په حديث شريف کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ له ابو الحشم يهودي څخه دری صاعه اوربشي واخيستي او د هغو د قيمت په بدل کي يې زغره رهن کيښودله. د رسول الله ﷺ له زمانې راهيسې تر نن پورې په حضر او سفر دواړو کي د رهن په ايښودلو باندې د امت اجماع ده. د هغې رکن ايجاب او قبول دي. صورت يې دا ده چي راهن داسې ووايي چي ما دغه شی د هغه قرض په بدل کي کوم چي ستا په ما باندې دی په رهن کي مې درکړی دی، يا داسې ووايي چي دغه شی ستا د قرض په عوض کي رهن دی، يا کوم لفظ چي د دې قائم مقام وي، او مرتهن ووايي چي ما رهن کړ يا ما قبول کړ يا کوم الفاظ چي د دې قائم مقام وي، بهر کيف د رهن لفظ استعمال شرط ندي، ځکه چي په عقود کي معاني لره اعتبار دی، د دې په شرطونو کي يو تفصيل شته دی د کومو چي له دې ځای سره مناسبت نشته، د عبارت په وخت کي يې وګورئ

په دې بحث کي درې لفظونه اصطلاحي دي، راهن، مرتهن، مرهون، کوم کس چي ګروي کيږدي هغه ته راهن ويل کيږي، له کوم کس سره چي ګروي کيښودل شي هغه ته مرتهن ويل کيږي او کوم شی چي په ګروي کي کيښودل شي هغه ته مرهون ويل کيږي، مثلا يوه کس د پنځه سوه روپيو کتاب واخيست او په ګروي کي يې ساعت کيښود، مشتري راهن شو بائع مرتهن شو او ساعت مرهون شو

الرَّهْنُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ	وَيَتِمُّ بِالْقَبْضِ	فَإِذَا قَبَضَ الْمُرْتَهِنُ الرَّهْنَ
رهن منعقد کيږي په ايجاب او قبول سره	او پوره کيږي په قبض سره	بيا چي مرتهن په رهن قبضه وکړي

مَحُوزًا	مُفْرَغًا	مُمَيَّزًا	تَمَّ الْعَقْدُ فِيهِ	وَمَا لَمْ يَقْبِضْهُ	فَالرَّاهِنُ بِالْخِيَارِ
ويشل شوی	فارغ شوي	مميز شوی	نو عقد تام شو په هغه کي	او چي قبضه ونکړي	نو راهن لره اختيار دی

إِنْ شَاءَ سَلَّمَهُ إِلَيْهِ	وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ عَنِ الرَّهْنِ
که وغواړي هغه ته دې وسپاري	او که وغواړي نو له رهن څخه دې رجوع وکړي

د لغاتو حل: **الرهن**: بمعنی مرهون جمع رهان، لکه جبال چي د جبل جمع ده، د دې يوه جمع رُهن بضم الراء راغلي ده، **محوزا**: ويشل شوي (تقسيم شده) **مفرغا**: د تفريغ اسم مفعول ده، فارغ کرده، غير مشغول. **مميزا**: د تميز اسم مفعول ده، جلا کړی شوي، تميز کړی شوي، ترجيح ورکړی شوي، دا درواړه لفظونه له ماقبل څخه حال دي

خلاصه: د قدوري صاحب ويلي دي چي عقد رهن انعقاد په ايجاب او قبول سره دی او عقد له قبضه وروسته مکمل او لازم شوی دی، او کله چي راهن شی مرهون مرتهن ته وسپاري او مرتهن په هغه باندې قبضه وکړي په دې شرط چي شی مرهون يو ځای او غير متفرق وي، د راهن له قبضې او د هغه له تصرف څخه خالي وي او له غير مرهون سره اتصال او اشتراک نوي نو اوس د همدې شي مرهون

عقد مکمل او لازم شو. او ترڅو چې مرتهن په شی مرهون باندې قبضه ونکړي نو تر هغه وخته راهن ته اختیار شته دی که وغواړي شی مرهون دې مرتهن ته وسپاري او که وغواړي د رهن له ایښودو دې رجوع وکړي

تشريح رهن یوه معامله ده او معامله په ایجاب کولو او د بل په قبلولو سره منعقده کیږي. لیکن چونکه د قرض په عوض کې د رهن ساتل ضروري نه دي، نو ځکه رهن ساتل د احسان په درجه کې دي. له همدې وجهې ترڅو چې مرتهن په هغه باندې قبضه ونکړي رهن نه مکمل کیږي، او د مرتهن د قبضې لپاره هم د مرهون له دریو خبرو څخه خالي کیدل ضروري دي:

(۱) محوز به وي (۲) مفرغ به وي (۳) ممیز به وي، دغه درېواړه قیدونه احترازي دي، او همدغه درېواړه لفظونه له ماقبل څخه حال دي.

محوزا... مفرغا...... ممیزا: دا درېواړه قیدونه احترازي دي، د هر یوه مطلب په لاندې ډول ذکر کولی شي

د محوز مطلب مرهون به د نورو په شرکت کې نه وي، د نورو له شرکت څخه به ویشل (تقسیم) شوی او جلا شوی وي، د بیلګې په توګه یو کور د دوو کسانو په مینځ کې مشترک وو، دواړو شریکانو کور سره وویشلو جلا جلا یې کړ. او س کومه چې د راهن برخه ده په هغې دې مرتهن قبضه وکړي

د مفرغ مطلب په رهن کې ایښودنکی شی به د راهن له تصرف او د ده له قبضې څخه به خالي وي. د بیلګې په توګه کور په رهن کې ایښودل کیږي نو په کور کې به د راهن هیڅ سامان نه وي، په همداسې کور باندې چې مرتهن قبضه وکړي بیا قبضه مکمل کیږي

د ممیز مطلب مرهون به په پیدایښتي ډول د راهن له سامان سره پیوسته (متصل) نه وي. لکه په ونه باندې لګیدلې میوه په رهن کې ایښودل کیږي نو په هغې باندې د مرتهن قبضه نه مکمل کیږي ځکه میوه په قدرتي ډول د راهن له ونې څخه راشنه شوې ده. له همدې وجهې میوه دې له ونې جلا کړي مرتهن ته دې قبضه ورکړي بیا په رهن باندې مکمله قبضه شمارل کیږي.

دين حقيقي هغه دین دی کوم چې د ظاهر او باطن په دواړو اعتبارونو سره یا صرف د ظاهر په اعتبار سره په ذمه باندې واجب شي لکه د داسې غلام ثمن له کوم وروسته چې ازادول ظاهر وي

دين حكمي لکه هغه اعیان د کومو ضمان که چیرته هغه مثلي وي نو د مثل په ذریعه او که هغه قیمتي وي نو د قیمت په ذریعه واجب شوی دی

فَإِذَا سَلَّمَهُ إِلَيْهِ	فَقَبَضَهُ	دَخَلَ فِي ضَمَانِهِ وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ إِلَّا بِدَيْنٍ مَضْمُونٍ
بیا چې وسپارل شي هغه ته	او قبضه پرې وکړي	نو هغه په ضمان کې داخل شو او صحیح نه دی رهن مګر په دین مضمون سره
وَهُوَ مَضْمُونٌ بِالْأَقَلِّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنَ الدَّيْنِ		فَإِذَا هَلَكَ الرَّهْنُ
او هغه مضمون کیږي د کم قیمت او د دین		بیا کله چې هلاک شي رهن

فِي يَدِ الْمُرْتَهِنِ	وَقِيمَتُهُ وَالدَّيْنُ سَوَاءٌ	صَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا
په لاس د مرتهن کې	د هغه قیمت او قرض برابر دي	نو مرتهن وصول کوونکی شو
لِدَيْنِهِ حُكْمًا وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ	أَكْثَرَ مِنَ الدَّيْنِ	فَالْفَضْلُ أَمَانَةٌ
د خپل قرض حکماً او که وو قیمت د رهن	زیات له قرض څخه	نو زیات امانت دی
وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ أَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ	سَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ	بِقَدْرِهَا
او که وو قیمت د رهن کم له دین څخه	نو ساقطیږي دین	د هغه په اندازه
وَرَجَعَ الْمُرْتَهِنُ بِالْفَضْلِ		
او وصول دې کړي مرتهن باقي دین		

د شي مرهون د ضمان بیان

تشریح : د کوم دین اداء کول چې په انسان باندې ضروري وي د هغه له وجهې که رهن کیښودل شي نو صحیح دی، او د کوم دین اداء کول چې واجب نه وي بلکې د احسان په ډول یې په خپل ځان باندې لازم کړی وي د همدغه دین په عوض کې رهن اېښودل صحیح نه دي. لکه مکاتب چې په خپل ځان باندې د کتابت مال واجب کړی دی، لیکن د هغه اداء کول په هغه باندې واجب نه دي، بلکې کله چې د عاجزي اظهار وکړي او د کتابت کال ساقط کړي دوباره په غلام کیدو کې راتلل وغواړي نو همداسې کولی شي، لهذا د کتابت مال له وجهې رهن اېښودل صحیح نه دي

مسئله : د شي مرهون ضمان په مرتهن باندې لازم دی، لیکن دومره ضمان لازمیږي څومره چې د هغه دین (قرض) دی او له هغه څخه زیات د هغه په لاس کې امانت دی، او د امانت قاعده دا ده چې پرته له زیاتي هلاک شي نو څښتن ته د واپس ورکولو ضرورت نشته دی، د متن د مسئلې تشریح دا ده چې که چیرته شي مرهون له مرتهن سره د هغه له زیاتي پرته هلاک شي نو د دین او مرهون له قیمت څخه چې کوم کم وي د هغه ضمان راځي، چنانچه که چیرته د مرهون قیمت د مرتهن له قرض سره برابر وو نو ګوا که مرتهن خپل قرض له راهن څخه وصول کړ، اوس له راهن څخه هیڅ نشي وصول کولی. د بیلګې په توګه سل روپۍ د مرتهن په راهن باندې قرض وو، او راهن د سلو روپیو شی په ګروي کې کیښود، له دې وروسته همدغه شی له مرتهن سره هلاک شو نو اوس معامله سر په سر شوه

مسئله که چیرته د مرهون قیمت له دین څخه زیات وو نو زیات مقدار امانت کیږي، یعنې د هغه په هلاک کیدو سره ضمان نشته، مثلاً قرض سل روپۍ دی او شي مرهون د سل پنځوس روپیو دی. که چیرته شی مرهون هلاک شي نو د مرتهن سل روپۍ ساقطیږي او د پاتې پنځوسو روپیو ورکول هم د راهن طرفته ضروري نه دي، ځکه چې هغه امانت وو او امانت چې له زیاتي کولو پرته هلاک شي نو د هغه اداء کول نه لازمیږي

مسئله که چیرته د مرهون قیمت له دین څخه کم وو نو قیمت د دین په اندازه ساقطیږي، او باقي دین دي مرتهن وصول کړي، مثلا سل روپۍ قرض وو او راهن د اتیا روپیو شی په رهن کې کیښود او هغه هلاک شو، ګوا که مرتهن اتیا روپۍ وصول کړې، اوس چې کومې شل روپۍ باقي دي هغه دې له راهن څخه وصول کړي

وَلَا يَجُوزُ رَهْنُ الْمُشَاعِ	وَلَا رَهْنُ ثَمَرَةٍ عَلَى رُءُوسِ النَّخْلِ		دُونَ النَّخْلِ
او روا نه دي د مشترک شي رهن ساتل	او نه د میوې رهن په ونه باندې دپاسه		پرته له ونې
وَلَا زَرْعٍ فِي الْأَرْضِ	دُونَ الْأَرْضِ		وَلَا يَجُوزُ رَهْنُ النَّخْلِ
او نه د فصل رهن په زمکه کې	له زمکې پرته		او روا نه دي رهن د ونې
وَالْأَرْضِ دُونَهُمَا	وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ بِالْأَمَانَاتِ	كَالْوَدَائِعِ	وَالْعَوَارِيّ
او د زمکې له میوې او زمکې پرته	او صحیح نه دی رهن په امانتونو کې	لکه ودیعتونه	او غوښتل شوي شیان
وَالْمُضَارَبَاتِ وَمَالِ الشَّرِكَةِ			
د مضاربت مال او د شرکت مال			

د کومو شیانو رهن ساتل روا دي او د کومو په عوض کې رهن ساتل روا دي او په کومو کې ناروا دي

د لغاتو حل: **المشاع**: مشترک، غیر تقسیم شده، **ودائع**: د ودیعة جمع ده امانت، **العواري**: د عارية جمع ده د عاریت په ډول اخیستل شوی شی.

تشریح: **ولایجوز رهن المشاع**: کوم شی چې د راهن او نورو په مینځ کې مشترک دی، تراوسه ویشل شوی نه دی د هغه په رهن کې ساتل روا نه دي، د امام شافعي رحمه الله په نزد مشترک شی په رهن کې ساتل کیدی شي، ده فرمایلي دي لکه څرنګه چې مشترک شی خرڅیدلی شي همدارنګه هغه په رهن کې هم ساتل کیدلی شي، یعنې که چیرته راهن دین ادا، نکړي نو مرتهن دې مرهون خرڅ کړي او خپل حق دې وصول کړي. احنافو ویلي دي چې له آیت (فرهان مقبوضة) څخه معلومه شوې چې په شي مرهون باندې د مرتهن مکمله قبضه وي او دا خبره هغه وخت کیدلی شي کله چې هغه شی مشترک نه وي، بلکې ویشل شوی وي خالص د راهن په ملکیت کې وي، له همدې وجهې د رهن مشاع د جواز هیڅ صورت نشي کیدلی

د حنفیانو په نزد د مشترک مال په رهن کې کیښودل روا نه دي، د همدې قاعدې مطابق مسئله دا ده چې میوه په ونه باندې لګیدلې ده صرف میوه په رهن کې ساتل کیږي او ونه په رهن کې نه ساتل کیږي نو دا روا نه دي، ځکه چې میوه له ونې سره په پیدایشي ډول پیوسته (متصل) ده. له همدې وجهې شی

مرهون له ونې جلا کیدلی نشي، لهذا د مرتهن مکمله قبضه پرې نشي کیدلی، حالانکه مکمله قبضه ضروري ده، همدارنګه په زمکه کې فصلونه دي صرف فصل په رهن کې ایښودل کیږي او زمکه په رهن کې نه ایښودل کیږي نو دا روا نه دي، ځکه چې فصلونه هم له زمکې سره په پیدایښت د ول متصل دي، دلته هم د مرتهن مکمله قبضه نشي کیدلی، کومه چې د آیت له مخې ضروري وه.

وَيَصِحُّ الرَّهْنُ	بِرَأْسِ مَالِ السَّلَمِ	وَثَمَنِ الصَّرْفِ	وَالْمُسْلَمِ فِيهِ
او صحیح ده رهن	د سلم د رأس المال	او د ثمن صرف	او د مسلم فیه
فَإِنْ هَلَكَ	فِي مَجْلِسِ الْعَقْدِ	تَمَّ الصَّرْفُ وَالسَّلَمُ	وَصَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا
که هلاک شي	په مجلس عقد کې	نو مکمل کیږي عقد صرف او سلم	او کیږي مرتهن وصول کوونکی
لِحَقِّهِ حُكْمًا	وَإِذَا اتَّفَقَا	عَلَى وَضْعِ الرَّهْنِ عَلَى يَدَيْ عَدْلٍ	جَازَ
د حق حکما	او چې متفق شي دواړه	د رهن په ایښودو د کوم عادل سړي په لاس کې	نو روا دی
وَلَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ وَلَا لِلرَّاهِنِ	أَخْذُهُ مِنْ يَدِهِ	فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ	
او نشته د مرتهن او راهن لپاره	اخیستل یې له هغه څخه	بیا که هلاک شي د هغه په لاس کې	
هَلَكَ مِنْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ	وَيَجُوزُ رَهْنُ الدَّرَاهِمِ	وَالدَّنَانِيرِ	
هلاکیږي د مرتهن له ضمان څخه	او روا ده رهن د دراهمو	او د دنانیرو	
وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ	فَإِنْ رُهِنَتْ بِجِنْسِهَا	وَهَلَكَتْ	هَلَكَتْ
د کیلي او وزني شیانو	که یې رهن کیښود د خپل جنس په عوض کې	او هلاک شي	نو هلاکیږي
بِمِثْلِهَا مِنَ الدَّيْنِ	وَإِنِ اخْتَلَفَا	فِي الْجَوْدَةِ	وَالصِّيَاغَةِ
د دین له مثل څخه	اګر که مختلف وي	په ښه والي	او جوړوالي کې

مسئله یوه کس بیع سلم وکړه او مشتري بائع ته ثمن یعني رأس المال ورکړ او د رأس المال په عوض کې بائع کوم شی رهن کیښود نو رهن ساتل روا دي، ځکه چې هغه مال مضمون دی، همدارنګه په بیع صرف کې چې کوم ثمن دي هغه مال مضمون دی. له همدې وجهې که د هغه لپاره رهن کیږدي نو روا دي، همدارنګه په بیع سلم کې چې کومه مبیعه ده کومې ته چې مسلم فیه ویل کیږي که چیرته د هغې په عوض کې رهن کیږدي نو روا دي، چونکه د بیع په هغو دریو صورتونو کې په مجلس عقد کې په ثمن باندې قبضه شرط ده او مرهون د ثمن قائم مقام ده له همدې وجهې دلته هم په مرهون باندې په مجلس عقد کې قبضه لازمي ده.

له دې وروسته د قدوري صاحب ویلي دي چې یو چا بیع صرف وکړه او بائع مبیعه ورکړه او د ثمن په عوض کې مشتري کوم شی له بائع سره رهن کیښود، په مجلس عقد کې د رهن شی د بائع په لاس سره

هلاک شو نو ګوا که بائع ثمن وصول کړل. نو څکه بیع صرف مکمله شوه. همدارنګه په بیع سلم کې رب السلم (مشتري) بائع ته ثمن ورکړل او بائع د هغو په بدل کې کوم شی له رب السلم سره رهن کېښود، له دې وروسته شی مرهون د مشتري په لاس سره هلاک شو. نو ګواکه مشتري مبیعه وصول کړه او بیع سلم پوره شوه، او د مشتري دغه وصول کول حقیقتا نه دي حکمًا دي.

مسئله راهن او مرتهن که له کوم دریمګړي قابل اعتماد کس سره شی مرهون کېږدي نو دا روا دي. اوس دواړه یو یې هم شی مرهون له عادل څخه نشي اخیستلی، راهن یې د مرتهن له اجازې پرته څکه واپس نشي اخیستلی څکه چې هغه د مرتهن د حق له وجهې د عادل په لاس کې دی، او مرتهن یې څکه نشي اخیستلی چې راهن ته په مرتهن باندې اعتماد نشته دی، له همدې وجهې خو د دریمګړي په لاس کې رهن اېښودل شوی دی. هو! که چیرته راهن د دې اجازه ورکړي نو مرتهن یې د عادل له لاس څخه اخیستلی شي. له دې وروسته یې فرمایلي دي که شی مرهون د عادل په لاس کې هلاک شي نو په مرتهن به د هغه ضمان وي. او شی مرهون به د قرض له قیمت څخه کټ کیږي

(اذا وضعه علی ید غیره فهلک فهو بما فیه)[1] یو چا د بل کس په لاس باندې رهن کېښود بیا هغه هلاک شو نو هغه کوم چې په رهن کې وو په هغه کې شمارل کیږي (د رهن لپاره په هغه کې شمارل کیږي)

وَمَنْ كَانَ لَهُ دَيْنٌ عَلَى غَيْرِهِ	فَأَخَذَ مِنْهُ مِثْلَ دَيْنِهِ	فَأَنْفَقَهُ	ثُمَّ عَلِمَ	
د يو چا قرض وو په بل چا	له هغه يې د قرض مثل واخيست	او هغه يې مصرف کړ	بيا پوه شو	
أَنَّهُ كَانَ زُيُوفًا	فَلَا شَيْءَ لَهُ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ		
چې هغه خو کوټه وو	نو هيڅ نشته د هغه لپاره	د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد		
وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى	يَرُدُّ مِثْلَ الزُّيُوفِ	وَيَرْجِعُ مِثْلَ الْجِيَادِ		
او صاحبينو ويلي	د کوټې مثل دې واپس کړي	او د جيدو مثل دې وصول کړي		
وَمَنْ رَهَنَ عَبْدَيْنِ	بِأَلْفٍ	فَقَضَى حِصَّةَ أَحَدِهِمَا		
يو چا رهن کېښود دوه غلامان	د يو زر په عوض کې	بيا يې د يوه برخه اداء کړه		
لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَقْبِضَهُ	حَتَّى يُؤَدِّيَ بَاقِيَ الدَّيْنِ	فَإِذَا وَكَّلَ الرَّاهِنُ		
نشته د هغه لپاره قبضه کول	تردې چې اداء کړي باقي دين	که وکيل جوړ کړي راهن		
الْمُرْتَهِنَ	أَوِ الْعَدْلَ	أَوْ غَيْرَهُمَا	فِي بَيْعِ الرَّهْنِ	عِنْدَ حُلُولِ الدَّيْنِ
مرتهن	يا کوم عادل	يا بل څوک	د رهن په خرڅولو کې	د دين د مودې په تيرولو باندې

[1] مصنف عبدالرزاق، ج: ۸، ص: ۲۴۱

فَالْوَكَالَةُ جَائِزَةٌ	فَإِنْ شَرَطَ الْوَكَالَةَ	فِي عَقْدِ الرَّهْنِ	فَلَيْسَ لِلرَّاهِنِ	
نو وكالت روا دى	او كه وكالت شرط شوى وو	په عقد رهن كې	نو د راهن لپاره روا نه دي	
عَزْلُهُ عَنْهَا	فَإِنْ عَزَلَهُ	لَمْ يَنْعَزِلْ	وَإِنْ مَاتَ الرَّاهِنُ	لَمْ يَنْعَزِلْ أَيْضًا
معزول كول يې د هغه	كه يې معزول كړ	نه معزوله كيږي	او كه راهن مړ شي	بيا هم نه معزوله كيږي
وَلِلْمُرْتَهِنِ	أَنْ يُطَالِبَ الرَّاهِنَ بِدَيْنِهِ	وَيَحْبِسَهُ بِهِ	وَإِنْ كَانَ الرَّهْنُ فِي يَدِهِ	
مرتهن لره شته	چې غوښتنه وكړي له راهن نه د دين	او بندي كولى شي پرې	او كه وه رهن د مرتهن په لاس كې	
فَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُمَكِّنَهُ مِنْ بَيْعِهِ حَتَّى يَقْبِضَ الدَّيْنَ مِنْ ثَمَنِهِ				
ضروري نه دي هغه ته چې راهن ته د هغه د خرڅولو قدرت وركړي تر دي چې وصول كړي دين د هغه له ثمن				
فَإِذَا قَضَاهُ الدَّيْنَ	قِيلَ لَهُ	سَلِّمِ الرَّهْنَ إِلَيْهِ		
كله چې د مرتهن قرض اداء كړي	نو مرتهن ته ويل كيدى شي	چې رهن هغه ته وسپاره		

دين يې وصول كړ بيا يې مصرف كړ وروسته معلومه شوه چې دراهم ردي وو د دې شرعي حكم او د فقهاؤ اقوال

تشريح ومن كان له دين......الجياد د دې مسئلې صورت له ترجمې څخه واضح دی د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی، اصل مسئله داسې چې د يوه كس د بل په ذمه يو څه قرض وو، ده هغه دين وصول كړ او مصرف يې كړ، په وروسته كې معلومه شوه چې زما دراهم خو عمده وو او دغه دراهم كوم چې ما مصرف كړي ردي وو نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد اوس له مقروض څخه زيات څه نشي اخيستلی، څكه چې د عدد (شمار) او وزن په اعتبار سره برابر شو او جنس يو شو نو عمده او ردي لره اعتبار نشته دی، له همدې وجهې داسې ګڼل كيږي چې قرض غوښتونكي خپل ټول حق ترلاسه كړی، صاحبينو ويلي دي لكه څرنګه چې قرض غوښتونكي ردي له مقروض څخه اخيستي وو له بل چا دې ردي دراهم راواخلي مقروض ته دې وركړي او خپل عمده دراهم دې وصول كړي، څكه چې په قرض او غيره كې صرف د وزن او عدد په اعتبار سره برابرول كافي نه دي، بلكې د ماليت او قيمت په اعتبار سره يې برابرول هم ضروري دي. او د دې صورت همدا دی.

ورهن باق......باق الدين د مسئلې صورت دا ده چې يو چا دوه غلامان د يو زر په عوض كې په رهن كې ايښي وو بيا يې پنځه سوه روپۍ اداء كړې او غوښتل يې چې يو غلام له مرتهن څخه واپس بيرته واخلي نو دی دغه غلام واپس نشي اخيستلی ترڅو چې ټولې زر روپۍ اداء نكړي، څكه چې د دواړو غلامانو مجموعه يو زر روپۍ دي، هو ! كه چيرته مرتهن د يوه غلام واپس اخيستو اجازه وركړي نو راهن يې واپس اخيستلی شي

فان شرطت الوکالة...... لم ینعزل ایضاً د قدوري صاحب ویلي دي کله چې راهن رهن کښېنود په دې وخت کې مرتهن شرط ولګاوه چې د قرض د مودې په تیرېدو باندې د شي مرهون د خرڅولو وکیل جوړ کړه ترڅو چې همدغه وکیل شی مرهون خرڅ کړي او زما قرض اداء کړي نو راهن اوس دغه وکیل نشي معزول کولی، ځکه چې د شرط لګولو له وجهې د مرتهن حق متعلق شو. بالفرض که چیرته راهن وکیل معزول هم کړ نو وکیل نه معزوله کیږي، همدارنګه که چیرته راهن په اتفاقي ډول مړ شو بیا هم د وکیل وکالت نه ختمیږي، بلکې د قرض د مودې په تیریدو به شی مرهون خرڅوي د مرتهن قرض به اداء کوي، ترڅو چې د هغه حق ضائع نشي.

وان کان الرهن الخ: د کتاب صاحب ویلي دي ترڅو پورې چې راهن خپله قرضه مرتهن ورنکړي یا مرتهن په خپله قرضه کې ایښودل شوی شی د مرهون له قیمت څخه وصول نکړي تر هغه وخته راهن همدغه مرهون شی خرڅولی نشي، که راهن خپله قرضه اداء کړي نو د مرتهن فرض دي چې شی مرهون راهن ته وسپاري.

وَإِذَا بَاعَ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ	بِغَيْرِ إِذْنِ الْمُرْتَهِنِ	فَالْبَيْعُ مَوْقُوفٌ
او کله چې خرڅ کړ راهن شی مرهون	د مرتهن له اجازې پرته	نو بیعه موقوفه کیږي
فَإِنْ أَجَازَهُ الْمُرْتَهِنُ جَازَ	وَإِنْ قَضَاهُ الرَّاهِنُ دَيْنَهُ	جَازَ أَيْضًا
که مرتهن اجازه ورکړه نو روا کیږي	او که راهن د مرتهن قرض اداء کړ	بیا هم بیع روا کیږي
وَإِنْ أَعْتَقَ الرَّاهِنُ عَبْدَ الرَّهْنِ	بِغَيْرِ إِذْنِ الْمُرْتَهِنِ	نَفَذَ عِتْقُهُ
او که آزاد کړ راهن د رهن غلام	د مرتهن له اجازې پرته	نو نافذیږي د هغه آزادي
فَإِنْ كَانَ الرَّاهِنُ مُوسِرًا	وَالدَّيْنُ حَالًّا	طُولِبَ بِأَدَاءِ الدَّيْنِ
او که وه راهن مالدار	او دین فوري وو	نو مطالبه کیدی شي د دین د اداتیګي
وَإِنْ كَانَ مُؤَجَّلًا	أُخِذَ مِنْهُ قِيمَةُ الْعَبْدِ	فَجُعِلَتْ رَهْنًا مَكَانَهُ
او که قرض د نیټې وه	اخیستل کیږي له هغه د غلام قیمت	او کیږي غلام د همدې رهن پر ځای
حَتَّى يَحِلَّ الدَّيْنُ	وَإِنْ كَانَ مُعْسِرًا	أُسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ فِي قِيمَتِهِ
تردې چې راشي د دین نیټه	او که هغه تنګلاسی وو	نو ودې ګټي غلام خپل قیمت
فَقَضَى بِهِ الدَّيْنَ	ثُمَّ يَرْجِعُ الْعَبْدُ عَلَى الْمَوْلَى	وَكَذَلِكَ
او اداء دې کړي شي له هغه څخه دین	بیا دې رجوع وکړي غلام مولی ته	او همدارنګه ده

فَالْمُرْتَهِنُ هُوَ الْخَصْمُ	وَإِنِ اسْتَهْلَكَهُ أَجْنَبِيٌّ	إِنِ اسْتَهْلَكَ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ
نو مرتهن خصم شو	او که هلاک کړ رهن اجنبي	که هلاک کړي راهن شی مرهون
فَيَكُونُ الْقِيمَةُ رَهْنًا فِي يَدِهِ	فَيَأْخُذُ الْقِيمَةَ	فِي تَضْمِينِهِ
نو کيږي قيمت رهن د هغه په لاس کې	وادې اخلي د هغه قيمت	د هغه د ضمان

په رهن شده شیانو کې د تصرف بیان

تشریح عبارت ډیر اسانه دی مفهوم له ترجمې څخه واضح دی خلاصه ته یې ضرورت نشته، د قدوري صاحب په دې عبارت کې یوشمیر مسائل ذکر کړي دي ک

مسئله اوس به دیته کتل کیږي که چیرته راهن مالدار دی او د دین د اداء کولو لپاره هیڅ موده معلومه نه ده، بلکې په فوري توګه د هغه اداء کول وغواړي نو مطالبه به کیږي چې په فوري توګه دین اداء کړي، ځکه کله چې رهن د مرتهن له لاس څخه ووت نو د هغه اعتماد او یقین هم له راهن سره ختم شول، له همدې وجهې په فوري توګه د دین ادائیګي د دین مطالبه کیږي، او که چیرته د دین د اداء کولو لپاره موده معلومه وه نو له راهن څخه دې د غلام قیمت واخلي دغه قیمت دې د غلام پر ځای د دین ادائیګي د مودې تر راتلو پورې رهن وساتل شي

مسئله د راهن آزادولو له وجهې غلام آزادیږي، اوس که چیرته راهن تنګلاسی دی چې د غلام قیمت راوړي رهن نشي اینبودلی او نه دین اداء کولی شي، چونکه غلام په رهن باندې وو له همدې وجی هغه ته دې وویل شي چې له خپل قیمت او دین کومې کمې دي هغه دې وګټي او مرتهن ته دې ورکړي، له دې وروسته دې غلام له خپل مولی څخه کله چې هغه صاحب حیثیت شي همدغه رقم دې ترې وصول کړي، ځکه چې غلام د مولی قرض اداء کړی دی، په غلام دې سعیې ځکه وکړی شي چې د رهن اینبودله وجهې د مرتهن حق د غلام له غاړې سره متعلق شوی دی او غلام آزاد شو او له راهن څخه هم د غربت له وجهې د دین ترلاسه کولو امید نشته دی، له همدې وجهې غلام دې سعیې وکړي او دین دې وصول کړی شي

مسئله که چیرته راهن له مرتهن سره رهن هلاک کړي نو راهن ته د هغه قیمت له مرتهن سره رهن اینبودل دي، ځکه چې د کوم ضرورت په بنیاد چې عقد رهن شوی وو هماغه ضرورت اوس هم باقي دی، او که چیرته د فوري والادین وو نو مرتهن دې فوراً د وصول کولو مطالبه وکړي

مسئله که چیرته شی مرهون له راهن او مرتهن پرته بل کس هلاک کړ نو په دې صورت کې له هلاک کوونکي څخه د شي مرهون په تاوان اخیستو کې مرتهن مدعي شو او د مرهون د هلاک کیدو ورځې چې د هغې کوم قیمت وه له هلاک کوونکي به اخیستل کیږي او دا قیمت به د هغه په قبضه کې رهن باتې کیږي، که چیرته د تلف کولو په ورځ د مرهون قیمت پنځه سوه درهم وه او د رهن په ورځ د هغه

قیمت زر درهم وه نو هلاک کوونکی صرف د پنځه سوه درهمو ضامن شو او دا قیمت رهن کیږي او له مرتهن څخه دې پنځه سوه قرضه ساقط کړی شي (هدایه، الجوهره)

وَجِنَايَةُ الرَّاهِنِ عَلَى الرَّهْنِ مَضْمُونَةٌ		وَجِنَايَةُ الْمُرْتَهِنِ عَلَيْهِ	
او د راهن جنایت په شي مرهون باندې د ضمان سبب دی		او د مرتهن جنایت په رهن دی	
تُسْقِطُ مِنَ الدَّيْنِ	بِقَدْرِهَا	وَجِنَايَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ وَعَلَى الْمُرْتَهِنِ	
ساقطیږي له دین څخه	د هغه په اندازه	او د رهن جنایت په راهن او مرتهن باندې	
وَعَلَى مَالِهِمَا هَدْرٌ	وَأُجْرَةُ الْبَيْتِ الَّذِي	يُحْفَظُ فِيهِ الرَّهْنُ	عَلَى الْمُرْتَهِنِ
او د دوی په مال باندې بیکاره دی	اوکرایه د هغه کور	چې د رهن ساتنه پکې کیږي	په مرتهن ده
وَأُجْرَةُ الرَّاعِي عَلَى الرَّاهِنِ		وَنَفَقَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ	
او د شپون اجرت په راهن باندې دی		او د رهن نفقه په راهن باندې ده	

تشریح: په دې عبارت کې دوه مسئلې بیان شوې دي:

وجنایة الراهن...... هدر: که چیرته راهن یا مرتهن په مرهون باندې کوم قصور وکړي نو په دوی دواړو باندې د هغه تاوان لازم دی. مثلا راهن که چیرته مرهون غلام ووژني یا د هغه کوم اندام غوڅ کړي نو په راهن باندې ضمان واجبیږي. ځکه شی مرهون اګر که د راهن دی لیکن اوس له هغه سره د مرتهن حق متعلق دی، لهذا د ضمان په حق کې مالک اجنبي ګڼل کیږي او په رهن کې چې راهن څومره نقصان کړی دی د هغه به د رهن لپاره ورکول وي. د بیلګې په توګه شی مرهون د سلو روپیو وو، راهن قصور وکړ اوس هغه د پنځوسو روپیو پاتې شو نو اوس به راهن پنځوس روپۍ مرتهن ته ورکوي ترڅو چې هغه د دین تر آداء کولو پورې له هغه سره په رهن باندې پاتې شي

که چیرته مرتهن په مرهون باندې کوم جنایت وکړي نو په هغه باندې تاوان لازمیږي، ځکه چې دا د بل چا ملک تلف کړ، اوس هغه چې څومره جنایت کړی هومره دین ساقطیږي. مثلا زر روپۍ د مرتهن دین وو او د زرو روپیو شی په ګروي کې اینښودل شوی وو. مرتهن په هغه کې د درې سوو روپیو نقصان وکړ او اوس مرهون د اووه سوه روپیو پاتې شو، نو درې سوه روپۍ به له دین څخه ساقطیږي، او په راهن باندې د مرتهن دین اوس اووه سوه روپۍ پاتې شو

او په شي مرهون مثلا غلام دی، هغه راهن نقصاني کړ نو دغه نقصان بیکاره دی. له غلام څخه هیڅ نشي اخیستل کیدی، ځکه چې غلام د راهن دی. اوس که چیرته هغه خرڅ کړي او نقصان وصول کړي نو خپل مال خرڅوي له همدې وجهې د غلام دغه نقصان لره هیڅ اعتبار نشته دی. او که چیرته غلام مرتهن نقصاني کړ نو دا خو د مرتهن ذمه واري وه چې د غلام ساتنه وکړي، چې حفاظت یې ونکړ غلطي یې وکړه. اوس که چیرته مرتهن غلام خرڅ کړي نقصان وصول کړي نو په غلام کې یا د هغه په

قيمت کي څومره کمي چي راغلي هومره د مرتهن له قرض څخه کټ کولی شي نو د غلام په خرڅولو د نقصان په وصول کولو کي مرتهن لره هيڅ گټه نشته دی

واجرة البيت الخ په کوم کور کي چي شی مرهون د ساتني لپاره ايښودل شوی ده د هغه اجرت په مرتهن باندي لازميږي، ځکه چي رهن د هغه په ضمان کي دی، اصول دا دي چي هر هغه صورت کي په کوم سره چي شی مرهون باقي پاتي کيږي يا په هغه کي زياتوالی راځي نو د هغه اجرت په راهن باندي دی، اوس څناور په څرولو، څروبولو او پاللو سره غټيږي او باقي پاتي کيږي له همدي وجهي د شپون اجرت په راهن باندي دی، د شي مرهون د خوراک څښاک مصرف په راهن باندي دی، ځکه چي شی مرهون د هغه مال دی او د مال د زياتوالي او د بقا مصرف په راهن باندي دی، لکه د کور د ساتني کرايه، د محافظ (ساتونکي) تنخوا وغيره.

وَنَمَاؤُهُ لِلرَّاهِنِ فَيَكُونُ النَّمَاءُ رَهْنًا مَعَ الْأَصْلِ		فَإِنْ هَلَكَ النَّمَاءُ
او زياتوالی د راهن ده نو زياتوالی به رهن وي له اصل سره		او که چيرته زياتوالی هلاک شو
هَلَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ	وَإِنْ هَلَكَ الْأَصْلُ وَبَقِيَ النَّمَاءُ	افْتَكَّهُ الرَّاهِنُ بِحِصَّتِهِ
هلاکيږي پرته له کوم شي	او که هلاک شي اصل او پاتي شي زياتوالی	جلا دي کړي راهن د هغه برخه
وَيُقْسَمُ الدَّيْنُ عَلَى قِيمَةِ الرَّاهِنِ	يَوْمَ الْقَبْضِ	وَعَلَى قِيمَةِ النَّمَاءِ
او دين ويشل کيږي د رهن په قيمت باندي	د قبضي په ورځ	او د زياتوالي په قيمت باندي
يَوْمَ الْفِكَاكِ	فَمَا أَصَابَ الْأَصْلَ	سَقَطَ مِنَ الدَّيْنِ بِقَدْرِهِ
د جلا والي په ورځ	پس کوم چي د اصل په مقابله کي راځي	ساقطيږي له دين د هغه په اندازه
وَمَا أَصَابَ النَّمَاءَ	افْتَكَّهُ الرَّاهِنُ بِهِ	وَيَجُوزُ الزِّيَادَةُ فِي الرَّهْنِ
او چي د زياتوالي په مقابله کي راځي	جلا کيږي په هغه سره راهن	او روا دي زياتوالی په رهن کي
وَلَا يَجُوزُ الزِّيَادَةُ	فِي الدَّيْنِ	عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ
او روا نه دي زيادت کول	په دين کي	د طرفينو په نزد
وَلَا يَصِيرُ الرَّهْنُ رَهْنًا بِهِمَا	وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ	هُوَ جَائِزٌ
او نکيږي رهن رهن د قرضونو په عوض کي	او امام ابويوسف ويلي دي	چي روا دي

په شي مرهونه کې د زياتوالي احکام

تشریح ونماؤه بغیرشئ: د قدوري صاحب ويلي دي چې مال په رهن کې کوم چې اضافه او زيات شي هغه د راهن دي. مثلا ميږې دي د هغو ورې وزيګول يا يې شيدې وکړې دا هر څه د راهن ملکيت کيږي، ځکه چې هغه د راهن له مال څخه وتلي دي او د رهن زياتيدو مصرف په راهن باندې وي. له همدې وجهې زياتوالی به هم راهن لره وي. مثلا له بزې څخه بچی پيدا شو، يا شيدې ترې را ولوشل شوې، دا ټول د راهن دي.

وان هلك الاصل...... افتكه الراهن به د قدوري امام ويلي دي که چيرته اصل شی مرهون هلاک شي او اضافه شده باقي پاتې شي نو هغه د قرض د مقدار په حساب سره جلا کيږي، ځکه چې اوس تابع پاتې نشو بلکې هغه د اصل حيثيت غوره کړی او تابع چې کله اصل جوړ شي نو د هغه په مقابله کې قيمت راځي، د متن په مسئله کې اصل او زياتوالی دواړه رهن منل شوي، ليکن د اصل په هلاکيدو باندې قرض کټ کيږي او د زياتوالي په هلاکيدو باندې قرض نه کټ کيږي، د اصل قيمت به د هغې ورځې لګول کيږي په کومه ورځ چې مرتهن په اصل باندې قبضه کړې وه، او د زياتوالي قيمت به د هغې ورځې لګول کيږي په کومه ورځ چې د زياتوالي قيمت ورکوي او د مرتهن له لاس څخه جلا شوی دی، ځکه چې د زياتوالي قيمت هره ورځ زياتيږي، له همدې وجهې د اخيري ورځې قيمت لګول کيږي، د بيلګې په توګه د مرتهن په راهن باندې نه سوه روپۍ قرض وو، راهن د زرو روپيو بزه په رهن کې کينښوده، له دې وروسته بچی پيدا شو د کوم قيمت چې د جلا کيدو په ورځ پنځه سوه روپۍ وو، بيا بزه هلاکه شوه کومه چې د زرو روپيو وه، اوس دين (قرض) د دواړو په قيمت باندې په دريمه ويشل کيدلی شي، ګوا که د قرض دوه دريمې هلاکې شوې، يعنې شپږ سوه روپۍ ساقطې شوې، او د دين يوه دريمه يعنې درې سوه روپۍ دې راهن مرتهن ته ورکړي او د بزې بچی دې واپس واخلي

ویجوز الزیادة........ جائزة: د قدوري صاحب ويلي دي د ائمه ثلاثه ؤ په نزد په رهن کې زياتوالی کول روا دي، مثلا يوه کس له يو چا سره يوه کپړه په لس روپۍ کې په رهن کې ايښې وه، هغه له دې وروسته يوه بله کپړه رهن کينښوده نو دغه زياتوالی روا دی، اوس دواړه کپړې په لسو روپيو کې رهن دي. او کله چې هلاکې شي نو د دواړو په قيمت باندې به دين کټ کيږي، په يوې باندې دين نشي کټ کيدلی.

د امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد په رهن او قرض دواړو کې زياتوالی کول سهي ندي، ځکه چې په همدې دواړو صورتونو کې اشتراک لازميږي کوم چې عقد رهن دی (الجوهره، هدايه).

وَإِذَا رَهَنَ عَيْنًا وَاحِدَةً عِنْدَ رَجُلَيْنِ بِدَيْنٍ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا جَازَ

او که رهن کيږدي يو شی له دوو کسانو سره په دواړو کې د هر يوه د دين په بدل کې نو روا دي

وَجَمِيعُهَا رَهْنٌ عِنْدَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَالْمَضْمُونُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا
او ټول شی دین پاتې کیږي په دوی کې له هر یوه سره او ضمان له دوی څخه په هر یوه باندي
حِصَّةُ دَيْنِهِ مِنْهَا فَإِنْ قَضَى أَحَدُهُمَا دَيْنَهُ كَانَ كُلُّهَا رَهْنًا فِي يَدِ الْآخَرِ
د دين د برخې مطابق به وي بيا كه اداء كړي يو له دوی څخه دين نو ټول رهن پاتې كيږي له بل سره
حَتَّى يَسْتَوْفِيَ دَيْنَهُ وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا عَلَى أَنْ يَرْهَنَهُ الْمُشْتَرِي
ترڅو چې وصول کړي هغه خپل دين چا چې خرڅ کړ غلام په دې شرط چې رهن به ږدي له ده سره مشتري
بِالثَّمَنِ شَيْئًا بِعَيْنِهِ فَامْتَنَعَ الْمُشْتَرِي مِنْ تَسْلِيمِ الرَّهْنِ لَمْ يُجْبَرْ عَلَيْهِ
د ثمن په بدل کې معلوم شی بیا منع وکړه مشتري د رهن له سپارلو نو په سپارلو به نشي مجبوروللی
وَكَانَ الْبَائِعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ رَضِيَ بِتَرْكِ الرَّهْنِ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ
او بائع لره به اختیار وي که وغواړي نو د رهن په پرېښودو دې راضي شي او که وغواړي بيع دې فسخه کړي
إِلَّا أَنْ يَدْفَعَ الْمُشْتَرِي الثَّمَنَ حَالًّا أَوْ يَدْفَعَ قِيمَةَ الرَّهْنِ فَيَكُونَ رَهْنًا
مگر دا چې ورکړي مشتري قیمت فوراً یا ورکړي د رهن قیمت ترڅو چې رهن شي

له رهن سره متعلق متعدد مسائل

تشریح: په دې عبارت کې دوه مسئلې بیان شوې دي

اوله مسئله: واذا رهن.........يستوفي دينه د یوه کس په ذمه د دوو کسانو قرض وو، هغه د دوی د دین په عوض کې کوم شی له دواړو سره رهن کېښود نو رهن صحیح دی او هغه شی له دواړو سره پوره پوره مرهون دی، د بیلگې په توگه له دوو کسانو څخه يې پنځه پنځه سوه روپۍ واخيستې او د دواړو قرضونو په بدل کې يې يوه بزه له دواړو سره په رهن کې کېښوده نو روا ده، لیکن ټوله بزه د دواړو د دين په بدل کې رهن کیږي، ځکه که لومړی د یوه قرض په بدل کې بزه رهن ایښودله بیا يې د دویم قرض په بدل کې دلته بزه رهن کېښودله نو روا نه وه، ځکه چې ټوله بزه د لومړني قرض په بدل کې مرهون شوې ده، لیکن دلته د دواړو قرضونو په بدل کې په یوه وخت یوه بزه رهن ایښودل شوې ده، صفقه یوه ده، له همدې وجهې په یوه وخت د دواړو قرضونو په بدل کې یوه بزه په رهن باندې شوه، او ترڅو پورې چې د دواړو مکمل قرض اداء نکړی شي ټوله بزه مرهونه پاتې کیږي

دوو کسانو یو شی رهن کېښود بیا هلاک شو نو د دواړو د برخې مطابق هلاک شو

تشریح : د بیلګې په توګه پنځه سوه روپۍ له دوو کسانو څخه قرض اخیستل شوې وو او یوه بزه رهن اېښودل شوې وه د کومې قیمت چې اته سوه روپۍ وو، بزه هلاکه شوه نو د دواړو کسانو له برخې په څلور څلور سوه روپۍ، کټ کیدلی شي او سل سل روپۍ به راهن زیاتې ورکوي

دویمه مسئله : ومن باع....... فیکون رهناً : د دې مسئلې صورت داسې ده چې یو چا په دې شرط غلام خرڅ کړ چې د ثمن په بدل کې دې مشتري کوم معلوم او مخصوص شی رهن کیږدي او ثمن دې په وروسته کې ورکړي، لیکن مشتري هغه شی په رهن کې نه کېښود نو هغه په رهن اېښودلو باندې مجبور کولی نشي، چونکه بائع له رهن پرته د مبیعې ورکولو ته تیار نه دی او د هغه په راهن یقین نشته له همدې وجهې بائع لره دوه اختیاره دي (۱) د رهن له اېښودلو پرته بیع قائمه کړي (۲) بیع فسخه کړي. او که چیرته مشتري د بیع فسخه کول نه غوښتل نو په هغه باندې ضروري ده سمدستي د مبیع قیمت اداء کړي یا د رهن قیمت ورکړي ترڅو د رهن قیمت په رهن باندې کېښودل شي او بائع ته به د مبیع ورکولو حکم کول کیږي.

وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَحْفَظَ الرَّهْنَ بِنَفْسِهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ وَخَادِمِهِ الَّذِيْ
او مرتهن دې د رهن ساتنه په خپله وکړي یا دې په خپله ښځه اولاد او په هغه خادم وکړي
فِي عِيَالِهِ وَإِنْ حَفِظَهُ بِغَيْرِ مَنْ هُوَ فِيْ عِيَالِهِ أَوْ أَوْدَعَهُ ضَمِنَ
چې په عیالدارۍ کې دی او که ساتنه یې وکړه په هغه چې د ده په عیالدارۍ کې نه وو یا یې له چا سره امانت کېښود نو ضامن کیږي
وَإِذَا تَعَدَّى الْمُرْتَهِنُ فِي الرَّهْنِ ضَمِنَهُ ضَمَانَ الْغَصْبِ بِجَمِيعِ قِيمَتِهِ
او کله چې تعدي وکړي مرتهن په رهن کې نو ضمان به ورکوي د غصب ضمان په ټول قیمت سره
وَإِذَا أَعَارَ الْمُرْتَهِنُ الرَّهْنَ لِلرَّاهِنِ فَقَبَضَهُ خَرَجَ مِنْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ
کله چې په عاریت ورکړ مرتهن رهن راهن ته او قبضه وکړه نو ووتلو له ضمان د مرتهن څخه
فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِ الرَّاهِنِ هَلَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَسْتَرْجِعَهُ إِلَى يَدِهِ
که هلاک کړی شو له راهن سره نو هلاک شو بلا شی د مرتهن لپاره شته چې واپس یې کړي خاتته
فَإِذَا أَخَذَهُ عَادَ الضَّمَانُ عَلَيْهِ وَإِذَا مَاتَ الرَّاهِنُ بَاعَ وَصِيُّهُ الرَّهْنَ
کله یې چې واخیست نو ضمان په هغه باندې واپس را وګرځید کله چې مړ شي راهن نو خرڅ دې کړي وصیت د رهن

وَقَضَى الدَّيْنَ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَصِيٌّ نَصَبَ الْقَاضِيْ لَهُ وَصِيًّا وَأَمَرَهُ بِبَيْعِهِ

او اداء دې کړي دين او که د راهن کوم وصي نه وو نو قاضي دې د هغه لپاره کوم وصي معلوم کړي او حکم دې وکړي د شي مرهون د خرڅولو

خلاصه په دې عبارت کې څو مسئلې ذکر شوي دي. مرتهن ته پکار دي چې د رهن ساتنه په خپله وکړي، برابره ده که په بنفس نفيس يې کوي، کوم ته چې حقيقي ساتنه ويل کيږي، چونکه هر وخت يې په خپله ساتنه نشي کولی نو په خپلې ښځې سره، په خپل اولاد سره او په خپل خاص خادم سره يې کولی شي، که چيرته يې په همدې ډول ساتنه کوله او د رهن مال هلاک شو نو داسې نشي ويل کيدای چې هغه په ساتنه کولو کې کوتاهي کړې، ځکه انسان د مختلفو ضرورتونو لپاره له کوره ځخه د باندې ځي. له همدې وجهې په ښځې او بچيانو سره ساتنې کولو ته ضرورت پيښيږي، له همدې وجهې په همدغو خلکو سره ساتنه کولی شي

مرتهن له خپل عيال پرته د شي مرهون ساتنه وکړه. يا مرتهن شي مرهون له بل چا سره د امانت په ډول کيښود او هغه هلاک شو نو دی ضامن کيږي، ځکه چې په ساتنه او امانت کې د خلکو ډول او طريقې مختلفې دي، او د مالک له لوري هغه ته د دې اجازت نشته دی، لهذا له عيال پرته په بل چا باندې ساتنه کول تعدي ده

مسئله مرتهن په شي مرهون باندې زياتي وکړ د کوم له امله چې شي مرهون هلاک شو، نو د هغه چې څومره قيمت وو د ټول ضامن کيږي، لکه څرنګه چې له غصب کولو وروسته هلاک کړی شي نو د ټول قيمت ضامن دی، مثلاً نه روپۍ قرض يې اخيستی وو او د لسو روپيو کتاب يې رهن کيښود، بيا يې تعدي او زياتي وکړ کتاب يې ضائع کړ نو د کتاب د ټول قيمت لسو روپيو ضامن شو

مسئله مرتهن شي مرهون راهن ته د عاريت په ډول ورکړ او راهن په هغه باندې قبضه هم وکړه نو شي مرهون د مرتهن له ضمان ځخه ووت د چا چې شي وو د هغه طرفته ورغی، اوس که چيرته هلاک شو نو د راهن شی هلاک شو، هغه ته د هيڅ ورکول هم نشته دي، ځکه چې د هغه شي وو له هغه سره هلاک شوی دی د هغه قيمت چاته ورکړي

مسئله راهن مړ شو نو د راهن د وصي حق دی چې شي مرهون خرڅ کړي او د مرتهن قرض اداء کړي، ځکه کله چې وصي ته د راهن په ژوند کې د خرڅولو او قرض اداء کولو حق شته دی نو د راهن له مرينې وروسته خو په درجه اولی همدغه حق شته دی. له دې وروسته يې فرمايلي دي که راهن په داسې حالت کې مړ شو چې دين يې هم نه وو اداء کړی او د شي مرهون د خرڅولو لپاره يې کوم وصی هم نه وو معلوم کړی په همداسې صورت کې دې قاضي د شي مرهون د خرڅون لپاره او د مرتهن د قرض اداء کولو لپاره دې وصی معلوم کړي، ځکه چې قاضي د همدې لپاره دی چې د چا حق ضائع نشي. دلته د مرتهن د حق ضائع کيدو خطر وو نو ځکه دې قاضي معلوم کړي ترڅو چې د مرتهن حق ترلاسه کړی شي

كِتَابُ الْحَجْرِ

له قولي تصرفاتو څخه د منعه كولو بيان

اَلْأَسْبَابُ الْمُوجِبَةُ لِلْحَجْرِ ثَلَاثَةٌ	الصِّغَرُ	وَالرِّقُّ	وَالْجُنُونُ
هغه اسباب كوم چې د حجر واجب كوونكي دي درې دي	ماشومتوب	غلامي	او ليونی كېدل
وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُ الصَّبِيِّ	إِلَّا بِإِذْنِ وَلِيِّهِ	وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُ الْعَبْدِ	
او روا نه ده تصرف د ماشوم	مګر د ولي په اجازې سره	او روا نه ده تصرف د غلام	
إِلَّا بِإِذْنِ سَيِّدِهِ	وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُ الْمَجْنُونِ	الْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ بِحَالٍ	
مګر د آقا په اجازې سره	او روا نه ده تصرف د داسې ليوني	چې عقل مغلوب وي په كوم حال كې	

تشریح الحجر : دا لفظ د لغت په اعتبار د مطلق منعه كولو په معنى كې ده. عقل ته حجر په مناسبت ويل شوي دي چې انسان د عقل له امله له ناوړه كړنو څخه ځان ساتي، او په اصطلاحي اعتبار سره حجر له قولي تصرف څخه منعه كولو ته ويل شوي دي نه له تصرف فعلي څخه. د قولي تصرفاتو صدور په ژبې سره كيږي لكه بيعه. هبه وغيره. او د فعلي تصرفاتو صدور د اندامونو په ذريعه كيدی شي، لكه قتل كول، د يو چا مال هلاكول، نو معلومه شوه چې په حجر كې د تصرفات قولي نفاذ نشي كيدی. لهذا كه چيرته ماشوم د چا مال برباد كړي نو ضمان واجب شوی دی

الاسباب الموجبة الخ د كومو اسبابو په بنياد چې په انسان باندې پابندي عائد شوې ده هغه درې دي

﴿۱﴾ نابالغ كيدل چونكه په ماشومتوب كې د عقل كمي وي هغه ته د دې خبرې معلومات نكيږی چې ښه شی اخلم كه بد شی له همدې وجهې نابالغ له حريدو او فروخت څخه راګرځول كيږی

﴿۲﴾ مينزه يا غلام كيدل په دوی كې خو عقل وي. ليكن له دوی سره چې كوم څه وي هغه د دوی د آقا وي، نو د آقا د حق رعايت په نظر كې نيولو سره دوی هم د معاملې له كولو څخه راګرځول كيدلی شي

﴿۳﴾ ليونی كيدل چونكه په مجنون (ليوني) كې هم عقل نشته دی، له همدې وجهې هغه هم له معاملې كولو څخه راګرځول كيدلی شي

په ماشوم كې د عقل كمی دی، ليكن له بالغ كيدو مخكې څه ناڅه پوهه راځي او ښيني وخت ښه معامله كولی شي، له همدې وجهې ولي او سرپرست كه چيرته مناسبه وګڼي نو د خريدو او فروخت اجازه دې وركړي، له اجازې پرته د هغه تصرف قابل اعتبار نه دی

په بالغ غلام كې خو عقل شته دی، ليكن كه چيرته زيات تجارت وكړي نو كيدلی شي چې د هغه په غاړه د تجارت قرض راشي او چې آقا بيا قرض وركوي دا د هغه لپاره نقصان دی له همدې وجهې د آقا په اجازې سره غلام تجارت كولی شي

مجنون په دوه ډوله (قسمه) دی (۱) هغه ليونی (مجنون) چې کله ليونی وي او کله هوښيار، د همداسې ليوني معامله د افاقه په وخت کې صحي ده (۲) هغه ليونی د کوم چې عقل مغلوب دی او هغه ته هيڅکله هم عقل نه راځي، د همداسې ليوني خريد و او فروخت کول په هيڅ حال کې هم روا نه دي

په پورته ذکر شويو دريو افعالو کې د حجر تعلق له اقوالو سره دی له افعالو سره نه دی، لکه چې په راتلونکې عبارت کې را روان دي

وَمَنْ بَاعَ مِنْ هٰؤُلَاءِ شَيْئًا أَوْ اشْتَرَاهُ وَهُوَ يَعْقِلُ الْبَيْعَ وَيَقْصِدُهُ

او چا چې خرڅ کړ له دې خلکو څخه کوم يوه کوم شی يا يې واخيست په داسې حال کې چې هغه بيعه پيژندله او د هغې اراده يې وه

فَالْوَلِيُّ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَجَازَهُ إِذَا كَانَ فِيهِ مَصْلَحَةٌ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَهُ

نو ولي لره اختيار دی که وغواړي نافذه دې کړي که په هغې کې مصلحت وي او که وغواړي فسخه دې کړي

فَهٰذِهِ الْمَعَانِي الثَّلٰثَةُ	تُوجِبُ الْحَجْرَ	فِي الْأَقْوَالِ	دُونَ الْأَفْعَالِ
پس دغه درې اسباب	واجبوي حجر	په اقوالو کې	نه په افعالو کې

وَأَمَّا الصَّبِيُّ وَالْمَجْنُونُ لَاتَصِحُّ عُقُودُهُمَا وَلَا إِقْرَارُهُمَا وَلَايَقَعُ طَلَاقُهُمَا

او د ماشوم او ليوني صحيح نه دي عقدونه د دوی نه اقرار د دوی او نه واقع کيږي طلاق د دوی

وَلَا إِعْتَاقُهُمَا فَإِنْ أَتْلَفَا شَيْئًا لَزِمَهُمَا ضَمَانُهُ وَأَمَّا الْعَبْدُ فَأَقْوَالُهُ نَافِذَةٌ

او نه آزادول د دوی بيا که هم دوی کوم شی ضائع کړنو په دوی به ئې ضمان لازم راځي او غلام د هغه اقوال نافذ دي

فِي حَقِّ نَفْسِهِ غَيْرُ نَافِذَةٍ فِي حَقِّ مَوْلَاهُ فَإِنْ أَقَرَّ بِمَالٍ لَزِمَهُ بَعْدَ الْحُرِّيَّةِ

د خان په حق کې او نافذ نه دي د آقا په حق کې که هغه د مال اقرار وکړي نو لازميږي د هغه له آزادي وروسته

وَلَمْ يَلْزَمْهُ فِي الْحَالِ	فَإِنْ أَقَرَّ بِحَدٍّ أَوْ قِصَاصٍ	لَزِمَهُ فِي الْحَالِ
او نه لازميږي في الحال	او که غلام اقرار وکړي د حد يا د قصاص	نو لازميږي في الحال
وَيَنْفُذُ طَلَاقُهُ	وَلَايَقَعُ طَلَاقُ مَوْلَاهُ	عَلَى امْرَأَتِهِ
او نافذ کيږي د هغه طلاق	او نه واقع کيږي د غلام د آقا طلاق	د غلام په ښځه باندې

د محجورينو د تصرفاتو احکام

خلاصه د قدوري صاحب د محجورينو د تصرفاتو يوشمير احکام ذکر کړي دي، هغه دا چې ماشوم او غلام او د خپنو د تحقيق مطابق هغه ليونی کوم چې کله ليونی وي او کله هوښيار په دوی کې کوم يوه خريد او فروخت وکړ په داسې حال کې چې هغه بيعه پيژندله او د هغې د کولو اراده يې هم کړې وه، د

توقو او لوبو په طریقه نه وه، نو د هغه ولي لره اختیار دی که چیرته په اجازه ورکولو کې مصلحت وي نو عقد دې نافذ کړي او که چیرته مصلحت نه وي نو د هغه خرید او فروخت دې فسخه کړي، له ولي نه مراد پلار، نیکه، قاضي، وصي او وغیره دي، د لیونتوب، ماشومتوب او غلاموالی له وجهې حجر واجب شوی دی، لیکن صرف په قول کې به حجر وي او اقوال هم په دری دوله (قسمه) دي

(۱) هغه اقوال په کومو کې چې فایده (ګټه) هم وي او نقصان هم، لکه خرید او فروخت د دې موقوف ساتل که چیرته ولي مصلحت وویني نو نافذ دې کړي او که چیرته یې مناسبه وګڼي نو رد دې کړي

(۲) هغه اقوال په کومو کې چې د لیوني او ماشوم نقصان دی لکه طلاق ورکول او غلام آزادول، دا بالکل نشي کولی، په عبارت کې له اقوالو څخه همدغه دوه قسمونه مراد دي

(۳) هغه اقوال په کومو کې چې د ماشوم او لیوني فایده ده، لکه هدیه قبلول دا کولی شي. څکه چې په دې کې د دوی ګټه ده، چونکه د دوی په افعالو باندې هیڅ حجر نشته دی له همدې وجهې که چیرته یې څوک ووژل نو د هغه دیت لازمیږي. یا غلا وکړي نو د هغه تاوان لازمیږي. یا یې څوک ووهل نو د هغه ضمان لازمیږي، او که یې کوم نقصان وکړ نو د نقصان اداء کول دي ترڅو د چا چې نقصان شوی هغه محفوظ شي، البته داسې افعال په کومو سره چې حدود او قصاص لازمیږي هغه په لیوني او ماشوم باندې نه لازمیږي، څکه چې دا په شبهاتو سره ساقطیږي، او ممکنه ده چې ماشوم او لیوني دا شبهة کړي وي، د دوی پخې اراده لره پکې دخله نه وي. له همدې وجهې د دوی په افعالو سره حدود او قصاص لازم نشو، په باقي افعالو سره که نقصان وشي د هغو به ولي ته اداء کول وي

د ماشوم او لیوني عقل نشته دی، له همدې وجهې د دوی اقوالو لره اعتبار نشته دی، او اقرار کول، طلاق ورکول او آزادول ټول اقوال دي، نو څکه همدې لره اعتبار نشته، البته عقد کول، مثلاً په خرید او فروخت کولو کې فایده او نقصان دواړه ممکن دي له همدې وجهې د ولي په اجازت باندې موقوف شوي، په اقرار کولو کې سراسر نقصان دی. له همدې وجهې هغه لره هم اعتبار نشته، او په طلاق ورکولو کې بنځه خې له همدې وجهې که چیرته طلاق ورکړي نو طلاق نه واقع کیږي، او د غلام په آزادولو کې غلام خې له همدې وجهې آزادي لره هم اعتبار نشته دی.

او که چیرته لیوني او ماشوم په خپلو حرکتونو سره د یو چا کوم شی ضائع کړ نو په دوی دواړو باندې تاوان لازمیږي، او د دوی ولي به د دوی ضمان اداء کوي. د نورو د حقونو لپاره ضمان اداء کولی شي که نه نو د نورو حقونه به ضائع کړی شي

تشریح **هؤلاء** چونکه د جمع اطلاق په تثنیه باندې شوی دی نو څکه دلته ماشوم او غلام ته د هؤلاء مشار الیه جوړیدل سهي دي، لکه چې په قرآن کریم کې دي (فان کان له اخوة) په دغه آیت کې اخوة جمع ده د اخ او له دې څخه اخوان تثنیه مراد اخیستل شوې ده (الجوهره)

وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ لَا يُحْجَرُ عَلَى السَّفِيهِ إِذَا كَانَ عَاقِلًا بَالِغًا حُرًّا

ویلي دي امام ابوحنیفة رحمه الله حجر نشي کیدی په بې وقوف باندې کله چې هغه عاقل بالغ او آزاد وي

وَتَصَرُّفُهُ فِي مَالِهِ جَائِزٌ	وَإِنْ كَانَ مُبَذِّرًا مُفْسِدًا	يُتْلِفُ مَالَهُ
او تصرف يې په مال کې روا دی	اګر که هغه فضول خرچ او مفسد وي	خپل مال ضائع کوي

فِي مَا لَا غَرَضَ لَهُ فِيهِ وَلَا مَصْلَحَةَ مِثْلَ أَنْ يُتْلِفَهُ فِي الْبَحْرِ أَوْ يُحْرِقَهُ فِي النَّارِ

په هغو شیانو کې چې مقصودي نوي او نه کوم مصلحت وي مثلاً په سمندر کې غرقوي یا اور ته اچوي

إِلَّا أَنَّهُ قَالَ إِذَا بَلَغَ الْغُلَامُ غَيْرَ رَشِيدٍ لَمْ يُسَلَّمْ إِلَيْهِ مَالُهُ حَتَّى يَبْلُغَ

مګر ویلي دي کله چې کوم هلک د بې وقوفي په حالت کې بالغ شو نو د هغه مال دې هغه ته نه حواله کیږي تردې چې ورسیږي

خَمْسًا وَعِشْرِينَ سَنَةً	وَإِنْ تَصَرَّفَ فِيهِ	قَبْلَ ذٰلِكَ	نَفَذَ تَصَرُّفُهُ
پنځه ویشتو کلونو ته	او که تصرف وکړي په مال کې	له دې مخکې	نو تصرف یې نافذ کیږي

فَإِذَا بَلَغَ خَمْسًا وَعِشْرِينَ سَنَةً سُلِّمَ إِلَيْهِ مَالُهُ وَإِنْ لَمْ يُؤْنَسْ مِنْهُ الرُّشْدُ

بیا چې ورسیږي پنځه ویشتو کلونو ته نو هغه ته مال سپارل کیږي اګر که په هغه کې پوهه نه محسوس کیږي

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ يُحْجَرُ عَلَى سَفِيهٍ وَيُمْنَعُ مِنَ التَّصَرُّفِ فِي مَالِهِ

ویلي دي امام ابویوسف او امام محمد رحمة الله علیهما چې حجر کیدی شي په بې وقوف باندې او راګرځول کیږي هغه په مال کې له تصرف کولو

فَإِنْ بَاعَ لَمْ يَنْفُذْ بَيْعُهُ فِي مَالِهِ وَإِنْ كَانَ فِيهِ مَصْلَحَةٌ أَجَازَهُ الْحَاكِمُ

که کوم شی واخلي نو د هغه بیعه د هغه په مال کې نه نافذ کیږي او که په هغه کې مصلحت وو نو حاکم دې هغه نافذه کړي

وَإِنْ أَعْتَقَ عَبْدًا نَفَذَ عِتْقُهُ وَكَانَ عَلَى عَبْدٍ أَنْ يَسْعَى فِي قِيمَتِهِ

او که آزاد یې کړ غلام نو د هغه آزادي نافذ کیږي او په غلام باندې لازمه ده چې خپل قیمت وګټي

وَإِنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً جَازَ نِكَاحُهُ فَإِنْ سَمَّى لَهَا مَهْرًا جَازَ مِنْهُ مِقْدَارُ مَهْرِ مِثْلِهَا

او که واده یې وکړ له کومې ښځې سره نو د هغه نکاح روا کیږي بیا که معلوم یې کړ د هغې مهر نو د مهر مثل مقدار روا دی

وَبَطَلَ الْفَضْلُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ فِيمَنْ بَلَغَ غَيْرَ رَشِيدٍ لَا يُدْفَعُ إِلَيْهِ مَالُهُ أَبَدًا

او له هغه څخه زیات باطل دی ویلي دي صاحبینو د هغه کس په باره کې کوم چې د بې وقوفي په حالت کې بالغ شو چې هغه ته مال نشي ورکول کیدی هیڅکله

حَتَّى يُؤْنَسَ مِنْهُ الرُّشْدُ	وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُهُ فِيهِ
تردې چې د هغه د عقلمندي آثار ښکاره شي	او روا نده هغه ته په خپل مال کې تصرف کول

د بیوقوف د تصرف احکام

د لغاتو حل **السفیه** صفت، خفیف العقل، جاهل په کوم کې چې د امتیاز صلاحیت نوي، نادان، بیوقوف، **السفه** جهالت، ناداني، خفت عقل، سفة (س) سفها غیر بردبار یا جاهل د ناوړه اخلاقو والا، د شریعت په اعتبار سره سفه او سفاهة څخه هغه بضول خرچې مراد ده د کومې چې له عقل او شریعت سره هیڅ ډول تعلق نوي، په ذاتي ضرورتونو کې اسراف یا بې له مقصده مصرف کول، همدارنګه په لوبو تماشو کې مصرف (خرچ) کول د یوه سفیه کس عادت دی، شراب څښل، زنا کاري له اصطلاحي سفاهت څخه خارج دي، **مبذر** اسم فاعل، فضول خرچ، **مفسداً** دا د مبذر صفت دی دلته اسراف فی الخیر والشر دواړه مرا دي، **یتلف** بربادول، ضائع کول، **یحرق** سوځول، رشید د لارې موندونکی، **یونس** مانوس کول، **الرشد** داناني، عقل او شعور، **الفضل** زیات مقدار

تشریح .....**قال ابوحنیفة** رَحِمَهُ اللهُ: له دې مخکې د حجر فی التصرف متفقه اسباب ذکر شوي وه اوس په دغه ځای کې د هغه څلورم سبب (سفاهت) بیان کیږي کوم چې مختلف فیه دی، چنانچه فرمایلي دي چې یو کس آزاد، عاقل بالغ دی، لیکن بې وقوف دی او زیات مصرف کوي، نو په هغه باندې حجر نشي کیدلی، ځکه که چیرته هغه خرید او فروخت وکړي نو هغه معتبریږي، بیا یې مزید فرمایلي دي که چیرته هغه بې وقوف په داسې ځای کې مال خرچ کړي چیرته چې نه کوم غرض وي او نه کوم مصلحت وي، د بیلګې په توګه سمندر ته مال ور وغورځوي، یا یې په اور کې وسوځوي، بیا هم په هغه باندې حجر نشي کیدلی، ځکه د معاملاتو کولو دار مدار په عقل، بلوغ او آزادي باندې دی او دغه درېواړه شیان په هغه کې موجود دي، هو! که چیرته عقل نه وو نو د لیونتوب له وجهې حجر کیږي

یو کس نادان وو او اوس بالغ شو، او له بلوغ کیدو وروسته هم د ګټې او نقصان په مینځ کې د امتیاز کولو صلاحیت پکې نشته نو د هغه متعلق امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې په داسې کس باندې حجر نشي کیدلی، لیکن هغه ته تر پنځه ویشتو کلونو پورې مال نشي سپارل کیدی، ترڅو چې هغه مال غلط مصرف نکړي، او پنځه ویشت کلونو وروسته اګر که د پوهې آثار ښکاره شوي نه وي بیا هم مال ورته سپارل کیدلی شي، امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې په پنځه ویشتو کلونو کې انسان نیکه جوړیږي، د بیلګې په توګه د دوولسو کلونو په عمر کې بالغ شو، بیا یې له کومې ښځې سره واده وکړ او په شپږو میاشتو کې ماشوم پیدا شو، دغه ماشوم په دوولسو کلونو کې واده وکړ بیا د هغه ماشوم پیدا شو نو انسان په پنځه ویشتو کلونو کې نیکه جوړ شو، لهذا پنځه ویشت کلونه وروسته د مال په ایسارولو کې هیڅ فایده نشته د صاحبینو په نزد په بې وقوف باندې حجر کولی شي او هغه په مال کې له تصرف کولو راګرځولی شي، او که چیرته هغه خرید او فروخت وکړ نو هغه نه نافذ کیږي، البته قاضي د هغه د مفادو (ګټو) په نظر کې نیولو سره بیعه نافذ کولی شي، په حدیث کې دي چې په حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې د زیات

مصرف کولو له وجهې رسول الله صلی الله علیه وسلم حجر کړی وو، فتوی د صاحبینو په قول باندې منقول ده، لکه چې تنویر الابصار مجمع او نورو کې دي

وَتُخْرَجُ الزَّكَاةُ مِنْ مَالِ السَّفِيهِ	وَيُنْفَقُ عَلَى أَوْلَادِهِ	وَزَوْجَتِهِ
او زکوة ویستل کیږي د بې وقوف له مال څخه	او خرج دې کړی شي د هغه په اولاد	او په ښځه
وَمَنْ يَجِبُ نَفَقَتُهُ عَلَيْهِ	مِنْ ذَوِي الْأَرْحَامِ	فَإِنْ أَرَادَ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ
او په هغو د کومو نفقه چې پرې واجب ده	له رشته دارانو	او که هغه حج کول غواړي
لَمْ يُمْنَعْ مِنْهَا	وَلَا يُسَلِّمُ الْقَاضِي النَّفَقَةَ إِلَيْهِ	وَلَكِنْ يُسَلِّمُهَا
نو نه راګرځول کیږي له هغه	او نه دې حواله کوي قاضي سفر خرچ هغه ته	بلکې ودې سپاري
إِلَى ثِقَةٍ مِنَ الْحَاجِّ	يُنْفِقُهَا عَلَيْهِ فِي طَرِيقِ الْحَجِّ	فَإِنْ مَرِضَ
په حاجیانو کې قابل اعتماد حاجي ته	چې په ده باندې خرج وکړي د حج په لار کې	بیا که ناروغ شي
فَأَوْصَى بِوَصَايَا فِي الْقُرَبِ وَأَبْوَابِ الْخَيْرِ	جَازَ ذَلِكَ	فِي ثُلُثِ مَالِهِ
او وصیتونه وکړي په نیکو افعالو او ښو کارونو کې	نو دا روا دي	د هغه د مال په درییمي کې

خلاصه د قدوري صاحب وېلي دي که چیرته نادان د نصاب څښتن دی نو په هغه باندې زکوة واجب دی، چونکه هغه د لیوني په درجه کې دی له همدې وجهې د هغه له مال څخه زکوة ویستل کیږي او اداء کیږي. لیکن د زکوة اداء کولو لپاره نیت ضروري دی، له همدې وجهې د زکوة په اندازه مال دې وویستل شي او بې وقوف ته دې ورکړی شي ترڅو چې هغه یې په خپله په مصرف کې خرج کړي، او که چیرته د دې خبرې ویره وه چې په غیر مصرف کې به یې خرج کړي نو له هغه سره دې یو آمین ولیږي. که بې وقوف د فرضي حج کول غواړي نو قاضي دې هغه له دې څخه نه منعه کوي، ځکه چې حج د الله تعالی د واجب کولو له وجهې واجب دی، البته حج ته په تلونکو کوم قابل اعتماد سړي ته دې خرج ورکړي، ترڅو چې هغه یې په بې وقوف باندې په لار کې مصرف کړي، او بې وقوف ته دې د سفر خرج نه ورکوي، هسې نه چې هغه فضول خرچي ونکړي، همدارنګه که د بې وقوف (بې عقل) د مرینې وخت نږدې شو. فی سبیل الله او د خیریه کارونو لپاره د څه مالونو وصیت کول غواړي نو د هغه وصیت کول روا دي، لیکن د هغه وصیتونه به د هغه د مال له درییمې برخې څخه پوره کولی شي، او باقي دوه برخې به په ورثه ؤ کې ویشل کیږي

وَبُلُوغُ الْغُلَامِ بِالْاِحْتِلَامِ وَالْإِنْزَالِ وَالْإِحْبَالِ إِذَا وَطِئَ فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ
د هلک بالغ کېدل په احتلام انزال او حامله کولو سره دي چې وطی وکړي که دا پیدا نشي

فَحَتّٰى يَتِمَّ لَهٗ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَبُلُوغُ الْجَارِيَةِ بِالْحَيْضِ

نو بیا چې د اتلسو کلونو شي د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد او د انجلۍ بالغ کېدل په حیض دي

وَالِاحْتِلَامِ وَالْحَبَلِ — فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذٰلِكَ — فَحَتّٰى يَتِمَّ لَهَا سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً

احتلام او حامله کېدل — که دا پیدا نشي — نو تردې چې د اوولسو کلونو شي

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ — إِذَا تَمَّ لِلْغُلَامِ وَالْجَارِيَةِ

صاحبینو ویلي — کله چې پوره شي د هلک او انجلۍ

خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَقَدْ بَلَغَ وَإِذَا رَاهَقَ الْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ — فَأَشْكَلَ أَمْرُهُمَا

پنځلس کلونه نو هغه بالغ کېږیاو که هلک او انجلۍ بلوغ ته نږدې شي — او سخته شي معامله یې

فِي الْبُلُوغِ فَقَالَا قَدْ بَلَغْنَا فَالْقَوْلُ قَوْلُهُمَا وَأَحْكَامُهُمَا أَحْكَامُ الْبَالِغِيْنَ

په بلوغ کې او دواړو وویل چې موږ بالغ یو نو د دواړو قول معتبر دی او د دواړو احکام به د بالغانو احکام وي

د هلک او انجلۍ د بلوغوالي بیان

د لغاتو حل: **بلوغ**: (ن) رسیدل، په اصطلاحي ډول د ماشومتوب ورځو ختمیدل. **الاحتلام**: د خوب په حالت کې جماع کول او د مني وتل. **الانزال**: د مني وتل. **الاحبال**: حامله کول، یعني د مېړه په وطی کولو سره د ښځې حامله کېدل. **الجارية**: انجلۍ. **الحبل**: حامله کېدل. **راهق**: مراهقة خواني ته نږدې رسیدل، بلوغ ته نږدې کېدل.

خلاصه: د قدوري صاحب ویلي دي چې د هلک د بالغ کېدو درې نښې دي (۱) احتلام (۲) انزال د منیو (۳) د وطی (کوروالي) په نتیجه کې د ښځې حامله جوړېدل. په همدغو درېواړو کې اصل انزال دی، ځکه چې احتلام له انزال پرته معتبر نه دی، همدارنګه ښځه له احتلام پرته نه حامله کېږي. نو انزال اصل احتلام او احبال د هغه نښې دي، که چېرته له همدغو درېو نښو څخه کومه نښه هم پیدا نشي نو کله چې هلک د اتلسو کلونو شي هغه بالغ ګڼل کېږي، ځکه چې له حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه مرفوعًا روایت دی چې له درېو انسانانو څخه قلم پورته شوی دی، له هلک څخه تردې چې احتلام یې وشي، بیا که چېرته احتلام ونشي نو تردې پورې چې د اتلسو کلونو شي

د حیض په راتلو سره انجلۍ بالغه کېږي، او چاته چې حیض راځي هغه حامله کېږي، له همدې وجهې حامله کېدل د حیض نښه ده، همدارنګه د احتلام له وجهې انجلۍ بالغه ګڼل کېدی شي، او که چېرته دغه نښې نه وي نو په اوولسو کلونو کې بالغه ګڼل کېږي، د دې دلیل دا ده چې ښځه ژر بالغه کېږي، له همدې وجهې کله چې د نارینه لپاره اتلس کلونه معلوم کړی شول نو د ښځې لپاره یو کال کم کړی شو، په همدې وجه په اوولسو کلونو کې بالغه ګڼل کېږي

د صاحبينو په نزد هلک او انجلۍ د پنځلسو کلونو کيدو باندې د بالغ کيدو حکم لګول کيږي. همداسې يو روايت له امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ څخه منقول دی او په همدې باندې فتوی ده. ځکه چې زياتره وخت په همدومره موده کې د بلوغ نښې ښکاره کيږي.

د هلک په حق کې کم له کمه موده چې په هغې کې هغه بالغ کيدلی شي هغه دوولس کلونه دي. او د انجلۍ په حق کې نه کلونه دي. اوس هلک يا انجلۍ بلوغ ته نږدې شول او دا معلومه نه وه چې بالغ شوي دي که نابالغ دي. او هغوی وايي موږ بالغ شوي يو نو د هغوی خبرې ته اعتبار ورکول کيږي او بالغ ګڼل کيږي. او په هغوی باندې د بالغ احکام جاري کيږي.

وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ	لَا أَحْجُرُ فِي الدَّيْنِ	عَلَى الْمُفْلِسِ
امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي	چې زه حجر نکووم د دين په سبب	په غريب باندې
وَإِذَا وَجَبَتِ الدُّيُونُ عَلَى رَجُلٍ مُفْلِسٍ	وَطَلَبَ غُرَمَاؤُهُ	حَبْسَهُ
او کله چې ډېر قرض وي په مفلس انسان	او غوښتنه وکړي قرض غوښتونکي	د هغه د بندي کولو
وَالْحَجْرَ عَلَيْهِ	لَمْ أَحْجُرْ عَلَيْهِ	وَإِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ لَمْ يَتَصَرَّفْ فِيهِ الْحَاكِمُ
او د حجر په هغه	نو حجر نشي کيدلی	او که وه له هغه سره مال تصرف دې نکوي پکې حاکم

وَلَكِنْ يَحْبِسُهُ أَبَدًا حَتَّى يَبِيعَهُ فِي دَيْنِهِ وَإِنْ كَانَ لَهُ دَرَاهِمُ وَدَيْنُهُ دَرَاهِمُ

ليکن په بند کې وساتي هميشه ترڅو چې هغه يې خرڅ کړي د دين په اداء کولو کې او که چيرته له هغه سره دراهم وو او د هغه قرض هم دراهم وو

قَضَاهُ الْقَاضِي بِغَيْرِ أَمْرِهِ وَإِنْ كَانَ دَيْنُهُ دَرَاهِمَ وَلَهُ دَنَانِيرُ أَوْ عَلَى ضِدِّ ذَلِكَ

نو اداء دې کړي هغه قاضي د هغه له اجازې پرته او که چيرته د هغه قرض دراهم وو او له هغه سره دنانير وو يا د دې برعکس

بَاعَهَا الْقَاضِي فِي دَيْنِهِ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ إِذَا طَلَبَ غُرَمَاءُ الْمُفْلِسِ

نو خرڅ دې قاضي د هغه په دين کې صاحبينو ويلي کله چې غوښتنه وکړي قرض غوښتونکي په مفلس باندې

الْحَجْرَ عَلَيْهِ حَجَرَ الْقَاضِي عَلَيْهِ وَمَنَعَهُ مِنَ الْبَيْعِ وَالتَّصَرُّفِ وَالْإِقْرَارِ

د حجر کولو نو قاضي دې په هغه باندې حجر وکړي او منعه دې شي هغه له بيع کولو تصرف کولو او اقرار کولو څخه

حَتَّى لَا يَضُرَّ بِالْغُرَمَاءِ وَبَاعَ مَالَهُ إِنِ امْتَنَعَ الْمُفْلِسُ مِنْ بَيْعِهِ وَقَسَمَهُ

ترڅو چې قرض غوښتونکو لره نقصان نه وي او خرڅ دې شي د هغه مال که چيرته مفلس د هغه له خرڅولو منعه کوله او ودې ويشل شي

بَيْنَ غُرَمَائِهِ بِالْحِصَصِ فَإِنْ أَقَرَّ فِي حَالِ الْحَجْرِ بِإِقْرَارِ مَالٍ لَزِمَهُ ذٰلِكَ
د قرض غوښتونکو په مینځ کې د برخو مطابق او که چیرته هغه اقرار وکړي د حجر په حالت کې په کوم مال نو دا لازمیږي
بَعْدَ قَضَاءِ الدُّيُوْنِ
د هغه د قرضونو له اداء کولو وروسته

د مفلس مدیون لپاره د حجر احکام

د لغاتو حل **مفلس** نادار، **دیون** د دین جمع ده قرض، **غرماء** دا د غریم جمع ده قرض خواه، حبس بندي کول، **ابدا** اوږده موده، برابر، **حصص** دا د حصه جمع ده برخه

خلاصه د قدوري صاحب ویلي دي چې د امام صاحب په نزد په مفلس قرضداري باندې صرف د قرض په بنیاد باندې حجر او پابندي نشي لګول کیدی اګر که قرض خواه یې مطالبه وکړي، د مسئلې صورت دا ده چې په کوم انسان باندې قرض اوښتی وو او قرض غوښتونکي غوښتنه کوله چې هغه دې بندي کړی شي او په هغه دې حجر وکړی شي نو امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې زه به هغه باندې حجر نکووم، ځکه چې د حجر کولو له وجهې هغه خریدو او فروخت نشي کولی سره له عقله همدا ډول پابندي لګول په هغه باندې ظلم دی، او د انساني اهلیت د ختمولو مرادف کیږي، نو ځکه په هغه باندې حجر نشي کیدلی.

که له مفلس سره مال وو نو واکمن (حاکم) یې نشي خرڅولی، بلکې په خپله مفلس به یې خرڅوي، ځکه چې بیعه کیږي د بائع او مشتري په رضامندي سره، او کله چې هغه واکمن خرڅ کړي نو د مفلس رضامندي نشته، حالانکه د مفلس مال دی د واکمن مال نه دی، له همدې وجهې واکمن یې نشي خرڅولی، لیکن د قرض ورکوونکې قرض به اداء کوي له همدې وجهې مفلس په بندي خانه کې اچولی شي ترڅو چې مجبور شي مال خرڅ کړي او قرض اداء کړي، ځکه چې په مقروض باندې د قرض اداء کول واجب دي، او ټال متول (خنډ) کول ظلم دی، نو د ظلم ختمولو لپاره قاضي هغه بندي کولی شي

په مفلس باندې قرض وو، او قرض ورکونکو له قاضي غوښتنه وکړه چې په هغه باندې حجر وکړي، نو قاضي دې په هغه باندې حجر وکړي، له بیع، تصرف او د بل چا لپاره د مال له اقرار څخه دې را وګرځول شي ترڅو چې قرض غوښتونکو ته نقصان نه وي، په حدیث کې دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قرض غوښتونکو په غوښتنه په حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې همداسې پابندي لګولې وه (۱)

فتوی د صاحبینو په قول دی

(۱) ... ج: ۴، ص: ۱۴۸

که چيرته مفلس خپل مال خرڅ کړ د قرض غوښتونکو قرض يې ادا، نکړ نو قاضي دې د هغه مال خرڅ کړي د قرضدارانو قرض دې ادا، کړي. او هر يو ته دې د هغه د برخې مطابق ورکړي شي، د بېلګې په توګه ټول قرض پنځه زره روپۍ وو، د زيد درې زره، د عمر يو زر، د بکر پنځه سوه او د خالد پنځه سوه. او له مفلس سره د پنځه ويشت سوو روپيو مال پيدا شو نو هغه دې خرڅ کړي شي هر يو ته د هغه د قرض نيمايي ورکول کېږي، زيد ته پنځلس سوه، عمر ته پنځه سوه، بکر ته دوه نيم سوه او خالد ته دوه نيم سوه، ترڅو چې هر يو ته مناسب حق ورکړي شي او کوم يو لره شکايت پاتې نشي

وَيُنْفَقُ عَلَى الْمُفْلِسِ مِنْ مَالِهِ وَعَلَى زَوْجَتِهِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَذَوِي الْأَرْحَامِ
او خرچ کيږي په مفلس باندې د هغه له مال څخه او د هغه په ښځه کوچنيو بچيانو او د هغه په ذي رحم محرم رشته دارانو باندې
وَإِنْ لَمْ يُعْرَفْ لِلْمُفْلِسِ مَالٌ وَطَلَبَ غُرَمَاؤُهُ حَبْسَهُ وَهُوَ يَقُولُ لَا مَالَ لِي
او که چيرته نه وه معلومه چې له مفلس سره مال دی او غوښتنه وکړه قرض غوښتونکو د هغه د بندي کولو او هغه ويل چې له ما سره مال نشته
حَبَسَهُ الْحَاكِمُ فِي كُلِّ دَيْنٍ لَزِمَهُ بَدَلًا عَنْ مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ كَثَمَنِ الْمَبِيعِ
نو بندي دې کړي واکمن هغه په هغه دين کې کوم چې لازم شوی وي هغه ته د داسې مال په بدل کې کوم چې حاصل شوی وي د هغه په لاس کې لکه د مبيعې ثمن
وَبَدَلِ الْقَرْضِ وَفِي كُلِّ دَيْنٍ الْتَزَمَهُ بِعَقْدٍ كَالْمَهْرِ وَالْكَفَالَةِ
د قرض بدله او په هر داسې دين کې کوم چې هغه لازم کړي وي د کوم عقد په ذريعه لکه مهر او کفاله
وَلَمْ يَحْبِسْهُ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ كَعِوَضِ الْمَغْصُوبِ وَأَرْشِ الْجِنَايَاتِ
او نه دې بندي کيږي له دې پرته په نور کې لکه د غصب بدله او د جنايت تاوان
إِلَّا أَنْ تَقُومَ الْبَيِّنَةُ بِأَنَّ لَهُ مَالًا وَيَحْبِسُهُ الْحَاكِمُ شَهْرَيْنِ ، أَوْ ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ
مګر دا که شاهد قائم کړي په دې خبره چې له هغه سره مال دی او بندي دې کړي هغه واکمن تر دوو مياشتو يا دريو مياشتو پورې
سَأَلَ عَنْ حَالِهِ فَإِنْ لَمْ يَنْكَشِفْ لَهُ مَالٌ خَلَّى سَبِيلَهُ وَكَذَلِكَ إِذَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ
او غوښتنې دې وکړي د هغه د حالت په باره کې چنانچه که چيرته مال ښکاره نشو نو د هغه لار دې خوشې کړي او همدا رنګه دې کله چې قائم کړي شاهدان

أَنَّهُ لَا مَالَ لَهُ وَلَا يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ بَعْدَ خُرُوجِهِ مِنَ الْحَبْسِ
په دې خبره چې له هغه سره مال نشته دی او نه دې حائل کیږي د ده او د قرض غوښتونکو په مینځ کې د هغه له بندي خانې څخه له وتلو وروسته
وَيُلَازِمُونَهُ وَلَا يَمْنَعُونَهُ مِنَ التَّصَرُّفِ وَالسَّفَرِ وَيَأْخُذُونَ فَضْلَ كَسْبِهِ
او هغوی دې په هغه پسې له شا شي او نه منعه کیږي د هغه له تصرف کولو او سفر کولو څخهاو اخیستل کیږي به د هغه له ګټې بچت
فَيُقْسَمُ بَيْنَهُمْ بِالْحِصَصِ
او ویشل کیږي به په خپل مینځ کې د خپلو برخو مطابق

د مفلس محجور مدیون متفرقه مسائل

د لغاتو حل: بدل القرض: دراهم وغیره نقد کوم چې د قرض په ډول اخیستل شوي وي. اوس د هغو ادائیګي د بدل په صورت لازم شوي. المهر: په دې موقع له مهر څخه مهر مؤجل مراد دی. **کفالة**: ضمانت اخیستل، د بل چا قرض په خپله ذمه اخیستل. ارش: تاوان. البینة: د شهادت ګواهي. **خلی سبیله**: خوشې کول. **یلازمون**: لټون کول. **فضل کسب**: مراد دا ده چې په آمدن کې د هغو د اهل او عیال له مصرف چې کوم زیات شي

تشریح: په دې بشپړ عبارت کې دا ښودل شوي دي چې مفلس مدیون په کوم باندې چې پابندي شوې ده که چیرته له هغه څخه د قرض اخیستل مشکل شول نو قاضي یې د خپل صوابدید له مخې ترڅو میاشتو بندي کولی شي، تفصیل یې په لاندې ډول دی:

د قدوري صاحب ویلي دي چې په مفلس باندې، د هغه ښځه، کوچنی اولاد او ذي رحم رشته دار د کومو نفقه چې په مفلس باندې واجب ده، په همدغو ټولو باندې د مفلس له مال څخه خرچ کولی شي، بیا چې کوم بچ پاتې شي په هغو دې د مفلس قرض اداء کړی شي، او قاضي یې په دوه قسمه قرضونو کې بندي کولی شي:

(۱) داسې قرض کوم چې د چا په مال باندې د قبضې کولو له وجهې لازم شوی وي. لکه له یو چا څخه چې کوم شی واخلي او د هغه قیمت اداء نکړي، یا له چا څخه قرض واخلي او هغه خرچ کړي نو د هغه بدل یعنې بدل قرض که چیرته قرض غوښتونکی د هغه بندي کول وغواړي نو واکمن دې بندي کړي، څکه چې د مفلس په لاس کې د مبیعې راتلل د دې دلیل دی چې له هغه سره مال شته دی، کوم بل مال دې نه وي کم له کمه مبیعه خو شته، هغه دې خرڅه کړي قرض دې اداء کړي یا دې بندب خانې ته ولاړ شي.

(۲) داسې قرض کوم چې د کوم عقد له وجهې لازم شوی وي لکه د مهر قرض چې په سر باندې راغلی وو نو د هغه په عوض کې بضعه په لاس کې راغلې ده کومه چې من وجه مال شمارل کیږي، په وادې باندې اقدام کول د دې خبرې دلیل دی چې له هغه سره مال شته دی، که نه نو د مهر اقرار به څنګه وکړي. له همدې وجهې بندي دې کړی شي. همدارنګه د کوم کس کفیل جوړ شو چې که هغه روپۍ درنکړې نو زه به یې درکړم، نو د همدغه عقد کفاله له وجهې په سر باندې قرض راغلی او مفلس وایي چې له ما سره مال نشته دی بیا دې هم واکمن هغه بندي کړي، ځکه چې د هغه په عقد باندې اقدام کول د کوم له وجهې چې په سر باندې قرض راغلی دی په دې خبرې باندې دلیل دی چې له هغه سره مال شته دی.

ذکر شوی مفلس دې واکمن تر دوو یا دریو میاشتو پورې بندي کړي او د هغه د حالت متعلق دې خېرنه (تحقیق) وکړي، که چیرته د همدغې مودې په مینځ کې له هغه سره د مال پته ونه لګیده نو واکمن دې هغه خوشې کړي. بندي کول د مال د تحقیق لپاره وو، د سزا ورکولو لپاره نه وو، اوس تحقیق وشو چې مال نشته دی نو هغه دې خوشې کړي

له مفلس سره د مال درک ونه لګیده له همدې وجهې قاضي هغه له بندی خانې څخه خوشې کړ، اوس دې قاضي د مقروض او قرض غوښتونکو په مینځ کې نه لویږي، بلکې هغوی دې پریږدي چې هغو په مفلس پسې له شا شي او کله چې د هغه لاسته روپۍ له کومې خوا راشي نو له هغه څخه خپل قرض واخلي.

د مفلس په آمدن کې په اهل او عیال باندې له خرچ وروسته کوم څه چې پاتې شي هغه به قرضداران په خپل مینځ کې د خپلو برخو مطابق سره وویشي، د ویشلو طریقه په مسئله نمبر ۳۴ کې تیره شوې ده

ویلازمونه: د قدوري په ځینو نسخو کې (لایلازمونه) له لا نافیه سره راغلی کوم چې بیخي غلط دی

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى	إِذَا فَلَّسَهُ الْحَاكِمُ
صاحبینو ویلي	چې کله واکمن د هغه د غربت فیصله وکړي
حَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ إِلَّا أَنْ يُقِيمُوا الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ قَدْ حَصَلَ لَهُ مَالٌ	
حائل کیږي د هغه او د قرضدارانو په مینځ کې مګر که قرضدار په دې خبره شهادت قائم کړي چې هغه ته مال حاصل شوی دی	
وَلَا يُحْجَرُ عَلَى الْفَاسِقِ إِذَا كَانَ مُصْلِحًا لِمَالِهِ وَالْفِسْقُ الْأَصْلِيُّ	
او حجر نشي کولی په فاسق باندې کله چې هغه د خپل مال خیال کوونکی وي او فسق اصلي	
وَالطَّارِيُ سَوَاءٌ وَمَنْ أَفْلَسَ وَعِنْدَهُ مَتَاعٌ لِرَجُلٍ بِعَيْنِهِ اِبْتَاعَهُ مِنْهُ	
او فسق طاري برابر دي یو کس مفلس وګڼل شو او له هغه سره د یو چا معلوم سامان وه چې ترې اخیستی وه	

أُسْوَةٌ لِلْغُرَمَاءِ فِيهِ	فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ
برابر دی په دې کې له نورو قرضدارو سره	نو د سامان والا

د لغاتو حل **فلس** د يو چا د غريب کيدو حکم لګول. **الطارى** عارضي. **الفسق الطارى** هغه فسق کوم چې بلوغت وروسته عارض شي. **اسوة** برابر

تشريح ..... **وقال ابويوسف... له مال** کله چې قاضي په چا باندې د غريب کيدو حکم ولګوي نو هغه هميشه مفلس باقي نه پاتې کيږي لهذا په هغه پسې قرضدارانو ته تر شا د لګيدو اجازه شته. د صاحبينو په نزد که چيرته حاکم څوک مفلس وګڼل نو هميشه مفلس ګڼل کيږي، له همدې وجهې حاکم د مفلس او قرضدارانو په مينځ کې حائل شو او همه وخت تقاضا نشي کولی، ځکه چې د يو چا په حق کې د قاضي د افلاس فيصله کول د صاحبينو په نزد صحي دي، چنانچه هغه تر مالدر کيدو پورې د مهلت ورکولو حقدار شو. د امام صاحب په نزد د افلاس فيصله صحي نه ده، ځکه چې مال تلونکی راتلونکی دی. نن شته صبا نشته

ولايحجر على الفاسق.....سواء د احنافو په نزد په فاسق باندې حجر نشي کيدی. البته د امام شافعي په نزد د زجر او توبيخ په نظر کې نيولو له امله فاسق دې له تصرف څخه منعه کړی شي. او په دغه سلسله کې اصلي او عارضي فسق برابر دي

ومن افلس الخ که چيرته په يوه کس د مفلس حکم ولګول شو هغه له دې مخکې له کوم کس څخه مثلا يوه مينبه اخيستې وه او د مينبې څښتن ته يې قيمت نه وو ورکړی، او هماغه مينبه بعينه له مفلس سره موجوده وه نو په کومه طريقه چې نورو قرضدارو ته د هغوی د برخې مطابق په مال کيدو باندې قرض ورکول کيږي همدا ډول د مينبې والاته هم د برخې مطابق د مينبې قيمت ورکول کيږي، د مينبې والا تو له مينبه نشي غوښتلی، بلکې مينبه دې خرڅه کړي د ټولو قرض دې اداء کړی شي، د ذکر شوې مسئلې دليل دا ده چې د مينبې له اخيستو وروسته دا مينبه د مفلس شوه، اوس په مفلس باندې د هغې قيمت واجب دی کوم چې په ده باندې قرض دی، نو لکه څرنګه چې نور قرضداري د مال په راتلو باندې د خپلې خپلې برخې مطابق اخيستی شي همدا ډول د مينبې والا دې هم خپله برخه واخلي

كِتَابُ الْإِقْرَارِ

د اقرار بيان

اقرار: د باب افعال مصدر دی ثابت کول. کله چې کوم شی ثابت کړی شي نو د هغه لپاره قر الشئ ويل شوي دي. او کله چې د بل چا لپاره کوم شی ثابت کړی شي نو د هغه لپاره اقر ويل کيږي، اقر بالحق مثل، اقرار کول، او په اصطلاحي ډول په خپل خان باندې د کوم بل کس حق د واجب کيدو خبر ورکولو ته اقرار ويل شوي دي

کتاب الاقرار له کتاب الحجر وروسته ذکر شوی دی ځکه چې د حجر د ځينو مسائلو تعلق له اقرار سره دی.

د اقرار ثبوت په قران سره، حديث او اجماع سره په کتاب الله سره ثبوت په دې آيت کريمه باندې شوی دی (**قَالَ أَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا**)

يعني وې فرمايل آيا تاسو اقرار وکړ او په هغه مو زما عهد قبول کړ؟ هغوی وويل مونږ اقرار وکړ

په حديث سره يې ثبوت داسې دی حضرت ماعز رضي الله عنه په خپل خان د زنا اقرار وکړ بيا په هغه باندې د زنا حد جاري کړی شو، په دې سره اقرار ثابت شو.

او اجماع دا ده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له زمانې رانيولې تر نن پورې په دې خبره باندې د امت اجماع ده چې کله مقر اقرار وکړي نو حد او قصاص ثابتيږي، نو د مال اقرار خو په درجه اولی ثابتيږي

اقرار کوونکي ته مُقر او د چا لپاره چې اقرار شوی وي هغه ته مقرله او د کوم شي چې اقرار شوی وي هغه ته مقربه ويل کيږي

د اقرار رکن چې مقر داسې الفاظ ووايي (لفلان علی کذا) د فلاني په ما باندې دومره درهم دي، يا داسې ووايي (لفلان قبلی کذا) د فلاني زما طرفته دومره درهم دي، د مقر دې بيان کولو ته اقرار ويل کيږي، ځکه چې د (علی) کلمه د لغت له مخې ايجاب دی.

د اقرار شرطونه مقر به عاقل وی، بالغ به وي، په دې دوارو د ټولو اتفاق دی، ازاد کيدل د ځينو شيانو په اقرار کې شرط دي او په ځينو کې شرط ندي، رضامندي، په چا چې زور وکړی شي د هغه اقرار صحيح ندی، يو مخصوص شرط دا هم ده چې مقر به داسې شی وي د کوم به چې مقرله ته سپارل واجب وي برابره ده که بعينه د هغه سپارل وي مثلا د خپلې قبضې د کوم معلوم شي د بل چا لپاره اقرار وکړی يا د هغه د مثل سپارل وي مثلا په خپله ذمه باندې د يو چا د قرض اقرار کول

د مقربه اقسام د دې دوه قسمونه دي (اول) حقوق الله (دويم) حقوق العباد

إِذَا أَقَرَّ الْحُرُّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَلَى نَفْسِهِ بِحَقٍّ لَزِمَهُ إِقْرَارُهُ مَجْهُولًا كَانَ مَا أَقَرَّ بِهِ
كه چيرته اقرار وكړي آزاد، بالغ، عاقل د ځان د حق نو دغه اقرار په ده باندې لازميږي برابره ده كه مجهول وي هغه شي د كوم بې چې اقرار كړى دى
أَوْ مَعْلُومًا وَيُقَالُ لَهُ بَيِّنِ الْمَجْهُولَ فَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى الْبَيَانِ
او كه معلوم وي او هغه ته ويل كيدى شي چې مجهول بيان كړه كه بې بيان نكړي نو مجبور كوي به هغه واكمن په بيانولو باندې
فَإِنْ قَالَ لِفُلَانٍ عَلَيَّ شَيْءٌ لَزِمَهُ أَنْ يُبَيِّنَ مَا لَهُ قِيمَةٌ وَالْقَوْلُ فِيهِ قَوْلُهُ
كه يې ووېل د فلاني په ما باندې يو شى شته پرې لازم ده چې بيان يې كړي مال قيمت او قول په هغه د اقرار كوونكي معتبريږي
مَعَ يَمِينِهِ إِنِ ادَّعَى الْمُقَرُّ لَهُ أَكْثَرَ مِنْهُ
د هغه له قسم سره كه چيرته مقرله د زيات دعوه وكړي

خلاصه د قدوري صاحب ويلي دي كه چيرته كوم عاقل بالغ ازاد كس په خپله رضا په خپل ځان باندې د يو چا د حق اقرار وكړ نو هغه حق لازميږي. كه اقرار معلوم وي لكه چې داسې ووايي د فلاني په ما باندې سل روپۍ دي. يا اقرار مجهول وي لكه چې ووايي د فلاني په ما باندې يو څه روپۍ دي، په دواړو صورتونو كې اقرار سهي دى

د ازاد قيد يې له دې وجهې لګولى چې كه چيرته غلام د مال اقرار وكړي نو هغه مال په آقا باندې لازميږي

د بالغ او عاقل قيد يې له دې وجهې لګولى چې د ماشوم او ليوني خبرو او اقرار لره اعتبار نشته، د مجهول اقرار اعتبار له دې وجهې دى چې كله بل چا ته نقصان وركوي او دا معلومه نده چې څومره نقصان دى. ليكن اقرار كوي چې څومره نقصان وشي زه يې اداء كوم نو ځكه د مجهول نقصان اقرار روا دى

مقر د پنځوس روپيو اقرار كړى دى او مقرله د اويا روپيو نو د مقر خبره به له قسم سره منل كيږي، قاعده دا ده چې كه چيرته له مدعى سره شاهدان نه وو نو مدعى عليه او منكر خبره به له قسم سره منل كيدى شي. او مقر دلته مدعى عليه ده نو ځكه به د ده خبره له قسم سره منل كيږي

وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ مَالٌ فَالْمَرْجِعُ فِي بَيَانِهِ إِلَيْهِ وَيُقْبَلُ قَوْلُهُ فِي الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ
او كه يې ووېل د فلاني زما په ذمه مال دى نو رجوع كول كيږي د هغه په بيان كې د هغه طرفته او قبول كيږي د هغه قول په كم او زيات كې
فَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ مَالٌ عَظِيمٌ لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ
او كه يې ووېل د فلاني په ما باندې عظيم مال دى نو تصديق نكول كيږي له دوه سوه درهم څخه په كمو كې

فَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ دَرَاهِمُ كَثِيرَةٌ لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ
او که ووايي د فلاني په ما باندې ډېر زيات دراهم دي نو تصديق نشي کول کيدی له لسو درهمو څخه په کمو کې
فَإِنْ قَالَ لَهُ دَرَاهِمُ فَهِيَ ثَلَاثَةٌ إِلَّا أَنْ يُبَيِّنَ أَكْثَرَ مِنْهَا
که وې ويل چې د فلاني په ما باندې دراهم دي نو دا درې کيږي مگر که له دې څخه زيات بيان کړي
وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ كَذَا كَذَا دِرْهَمًا لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا
او که يې وويل چې د فلاني په ما دومره دومره درهم دي نو تصديق نکيږي له يوولسو څخه په کمو کې
وَإِنْ قَالَ كَذَا وَكَذَا دِرْهَمًا لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدٍ وَعِشْرِينَ دِرْهَمًا
او که يې وويل د فلاني په ما دومره او دومره درهم دي نو تصديق نکول کيږي له يوويشت درهمو څخه په کمو کې

د اقرار د احکامو په تفصيل سره بيان

تشريح : په دې عبارت کې د اقرار يوشمير صورتونه بيان شوي دي :

واذاقال.......والكثير: په مال کې اجمال دی نو ځکه د بيان ضرورت دی، په دې هکله دې له مقر څخه معلومه کړی شي کم زيات چې کوم مقدار بيان کړي د هغه خبره دې ومنل شي، البته له يوه درهم څخه په کم کې د هغه خبره نه منل کيږي، ځکه چې له يوه درهم څخه کم په عرف کې مال ورته نه ويل کيږي.

فان قال......دراهم: د مسئلې په دې صورت کې که چيرته مقر وويل په ما باندې د فلاني عظيم مال دی نو د زکوٰة له نصاب يعني دوه سوه درهم څخه په کمو کې تصديق نشي کيدی، ځکه چې په شريعت کې دوه سوه درهم يا شل دينار ته عظيم مال ويل کيږي، لهذا له دوه سوه درهم څخه په کمو کې اقرار قبول ندی، همدومره له دې څخه د زياتو اقرار کول به وي.

واذاقال.....عشرة دراهم ؛ که چيرته مقر وويل د فلاني په ما باندې زيات دراهم دي نو د امام صاحب په نزد لس درهم لازميږي، ځکه دراهم د جمع صيغه ده بيا له دراهم سره د كثيرة صفت دی، په عربي شمار کې جمع تر لسو پورې ويل کيدی شي، دا عدد د جمع کثرت ادنی درجه ده او د جمع قلت منتهی ده نو د لفظ په اعتبار سره همدا اکثر مراد کيږي.

د صاحبينو مذهب : دا ده چې له دوه سوه درهم څخه په کمو کې تصديق نشي کيدی، ځکه چې په شريعت کې مالدار هغه کس ته ويل کيدی شي کوم صاحب نصاب وي نو ځکه د دوه سوه درهم اقرار ضروري دی

فان قال له.....اكثرمنها: که چيرته مقر ووايي چې زما په ذمه د فلاني دراهم دي نو درې دراهم شمارل کيږي، ځکه دراهم د جمع صيغه ده او په عربي کې د جمع اطلاق کم له کمه په دريو باندې کيږي، هو

که چيرته له دي د زياتو اقرار وکړي نو د هغه مرضي ده، څومره هم چې زيات شي هومره لازميږي، ځکه چې د جمع صيغه زياتو لره هم شامل ده

وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ أَوْ قِبَلِي فَقَدْ أَقَرَّ بِدَيْنٍ وَإِنْ قَالَ لَهُ عِنْدِي أَوْ مَعِي
او که يې وويل چې د فلاني په ما يا زما طرفته دي نو دا د دين اقرار دی او که يې وويل چې فلانی زما په خوا يا له ما سره دی
فَهُوَ إِقْرَارٌ بِأَمَانَةٍ فِي يَدِهِ وَإِنْ قَالَ لَهُ رَجُلٌ لِي عَلَيْكَ أَلْفُ دِرْهَمٍ
نو دا د هغه په لاس کې د امانت اقرار دی او که کوم انسان چاته ووايي چې زما په تا باندې زر درهم دي
فَقَالَ اِتَّزِنْهَا أَوْ اِنْتَقِدْهَا أَوْ أَجِّلْنِي بِهَا أَوْ قَدْ قَضَيْتُكَهَا فَهُوَ إِقْرَارٌ
هغه وويل هغه وتله يا هغه وګوره يا ماته د هغو مهلت راکړه يا ما هغه اداء کړي دي نو دا د دين اقرار دی
وَمَنْ أَقَرَّ بِدَيْنٍ مُؤَجَّلٍ فَصَدَّقَهُ الْمُقَرُّ لَهُ فِي الدَّيْنِ وَكَذَّبَهُ فِي التَّأْجِيلِ
يو چا اقرار وکړ د دين مؤجل او تصديق وکړی شو د مقر له په دين کې او د هغه تکذيب په تاخير کې
لَزِمَهُ الدَّيْنُ حَالًّا وَيُسْتَحْلَفُ الْمُقَرُّ لَهُ فِي الْأَجَلِ
نو په مقر باندې دين في الحال لازميږي او له مقرله څخه قسم اخيستل کيږي د تاخير متعلق

تشريح: په دې عبارت کې د اقرار څو صورتونه بيان شوي دي په کومو کې چې د اقرار دين او د اقرار امانت ذکر دی:

وان قال له...... بدين: د قدوري صاحب ويلي دي که چيرته مقر ووايي چې فلانی زما په ذمه يا زماطرفته دی نو دې صورت ته دين او قرض ويل کيدی شي، ځکه چې په عربي کې د (علی) لفظ په خپل ځان د لازم کولو لپاره راځي. او (قبلي) په ضمانت باندې دلالت کوي. (قبلي) د امانت په ډول د مال ساتلو لپاره راغلی دی مګر هغه معنی په بله درجه کې ده نو ځکه اوله معنی يعنې دين (قرض) مراد اخيستی شي.

وان قال له عندي...... بأمانة في يده: د قدوري صاحب ويلي دي که چيرته مقر ووايي چې فلانی له ما سره يا له ما سره په خوا کې دی نو په امانت باندې د ساتلو اقرار دی، ځکه چې د (عندي او معي) لفظ د الزام لپاره ندي بلکې د امانت خبر ورکول دي، د دې نتيجه دا راووتله چې که چيرته هغه شی له تعدی پرته هلاک شي نو په مقر باندې د هغه تاوان نه لازميږي.

وان قال له...... فهو اقرار: د قدوري صاحب ويلي دي يوه کس زيد ته وويل چې زما په تا باندې زر درهم دي، زيد انکار ونکړ بلکې په ځواب کې داسې جملې استعمال کړې په کومو سره چې اشاره موندل کيږي چې ستا قرض په ما باندې شته، مثلا زيد په ځواب کې وويل چې هغه وزن کړه د کوم

چې مطلب دا ده چې يو زر دين دی، که چيرته نه اقرار وای نو صراحتا به يې منع کړې وه، يا زيد په خواب کې وويل چې هغه وګوره چې کره دي که کوټه دي په دې لفظ سره هم د زرو د دين اقرار دی، يا يې په خواب کې وويل چې ماته د همدې زرو په باره کې مهلت راکړه، د دې مطلب دا ده چې زر خو شته دي ليکن د اداء کولو لپاره مهلت راکړه، يا داسې ووايي چې ما زر اداء کړي دي او په اداء کولو هيڅ ګواه نشته دی نو ځکه اداء کول نه منل کيږي او د دين اقرار منل کيږي، په همدې ټلورو ځوابونو کې (ها) استعمال شوې د کوم مرجع چې هماغه زر دي

ومن اقربدين مؤجل الخ : خالد د ساجد لپاره اقرار وکړ چې په ما باندې ستا يو زر درهم دي او دا يې هم وويل چې د يوې مياشتې له تاخير سره دي، ساجد تصديق وکړ يوزر درهم قرض دي ليکن وې ويل چې هغه قرض د سمدستي اداء کولو په شرط سره دی له تاخير سره ندی، نو په خالد باندې په سمدستي ډول د قرض اداء کول لازم دي تاخير قابل قبول ندی، البته ساجد د مقرله د تاخير انکار کوي نو ځکه په هغه باندې د انکار په سلسله کې قسم لازميږي، ځکه چې ساجد له تاخير منکر دی او له مدعي خالد سره د تاخير ګواه نشته نو ځکه په ساجد باندې د عدم تاخير لپاره قسم لازميږي

وَمَنْ أَقَرَّ بِدَيْنٍ وَاسْتَثْنَى شَيْئًا مُتَّصِلًا بِإِقْرَارِهِ صَحَّ الِاسْتِثْنَاءُ وَلَزِمَهُ الْبَاقِي
يو چا اقرار وکړ د دين او مستثنی يې کړ کوم شی له خپل اقرار سره نو استثناء صحيح شوه او لازم شول باقي
وَسَوَاءٌ اِسْتَثْنَى الْأَقَلَّ أَوِالْأَكْثَرَ فَإِنِ اسْتَثْنَى الْجَمِيعَ لَزِمَهُ الْإِقْرَارُ وَبَطَلَ الِاسْتِثْنَاءُ
برابره ده که کم استثناء کړي که ډير او که يې استثناء وکړه د ټولو نو د هغه پوره اقرار لازم شو او استثناء باطله شوه
وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا دِينَارًا أَوْ عَلَى قَفِيزَ حِنْطَةٍ لَزِمَهُ مِائَةُ دِرْهَمٍ
او که يې وويل چې د فلاني په ما سل درهم دي مګر يو دينار يا مګر د غنمو يو قفيز نو لازم شول سل درهم
إِلَّا قِيمَةَ الدِّينَارِ أَوِ الْقَفِيزِ وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ فَالْمِائَةُ كُلُّهَا دَرَاهِمُ
مګر د دينار يا قفيز قيمت نه لازميږي او که يې وويل چې د فلاني په ما باندې سل او درهم دي نو ټولې يو سل درهم لازم شول
وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ مِائَةٌ وَثَوْبٌ لَزِمَهُ ثَوْبٌ وَاحِدٌ وَالْمَرْجِعُ فِي تَفْسِيرِ الْمِائَةِ إِلَيْهِ
او که يې وويل د فلاني په ما باندې سل او کپړه ده نو په هغه باندې يوه کپړه لازم شوه او رجوع کول کيږي د سلو په تفسير کې د مقر طرفته

د استثناء او هم معنی استثناء تذکره

تشریح : په دې عبارت کې د یوشمیر صورتونو ذکر شوی دی

ومن اقر بدین....... بطل الاستثناء: د قدوري صاحب ویلې دي مقر د دین اقرار وکړ او په هغه کې یې خینې شیان مستثنی کړل نو دا صحیح ده، لیکن شرط دا ده چې له اقرار سره استثناء وکړي بیا هغې لره اعتبار دی برابره ده که کم استثناء کړي او که ډیر، او که چیرته د جملې له پوره کولو وروسته استثنی وکړي نو داسې به ګنل کیږي چې ګوا که د ټولو یې اقرار کړی اوس رجوع کولی شي، نو ځکه د منفصلی استثناء اعتبار نشته دی، مثلاً یو چا د بل چا لپاره د سلو روپیو اقرار وکړ لیکن له اقرار سره متصل یې لس روپۍ مستثنی کړې نو له استثناء وروسته چې کومې نوې پاتې شوې هغه لازم شوې

وان قال.........اوالقفیز: لومړی دا قاعده په ذهن کې وساتی چې مستثنی او مستثنی منه به قریب قریب جنس وي نو بیا استثناء سهي ده او که داسې نوي بیا نده سهي، لکه دینار او درهم چې دا دواړه د قریب جنس ځکه دي ځکه چې دواړه ثمن دي، همدارنګه د غنمو او درهم جنس قریب دی، ځکه چې کیلي وزني او متقارب عددي شیان د ثمن جوړیدو صلاحیت لري نو له درهم د غنمو، وریږو، اوړو استثناء سهي شوه، د همدې قاعده په اعتبار سره اوس پوه شی که چیرته یو چا داسې وویل چې په ما باندې سل درهم دي مګر یو دینار نو له سلو درهمو ځخه دي د یوه دینار قیمت کم کړي نو لازم شول، همدارنګه که یې وویل چې په ما باندې د فلاني سل درهم دي مګر یو قفیز د غنمو نو له سل درهم ځخه دې یو قفیز غنمو قیمت کم کړي نور لازم شول، ځکه چې د ثمنیت په اعتبار سره دواړه یو جنس دی، مذکوره مسئله د شیخینو په نزد ده.

په اصل کې له حرف عطف سره چې کوم درهم دي هغه د سلو تفسیر دی چې مخکې کوم سل ویل شوي دي هغه درهم دي کوم بل شی ندي، نو ځکه د همدې تفسیر له امله ټول سل درهم لازم شول، په عام ډول د درهم لفظ بیان شوی دی، ځکه چې خلک دوباره د درهم لفظ ویل ثقیل ګڼي او صرف په یو ځل ویلو باندې اکتفاء کوي، او دا په هغو شیانو کې وي کوم چې زیات استعمالیږي او د زیات استعمال تحقق هغه وخت وي کله چې د کثرت اسباب له وجهې وجوب في الذمه کثرت وي لکه دراهم او دنانیر په دغه صورت کې هم د کپړه عطف په سل باندې دی او معطوف له معطوف علیه ځخه جلا دی نو ځکه کپړه له سل ځخه جلا پکار ده، او په عام ډول چې سل وویل شي نو دراهم او دنانیر مراد کیدی شي کپړه نشي مراد کیدی نو ځکه کپړه د سل تفسیر نشي جوړیدی، له همدې امله یوه کپړه لازم شوه او د سلو په باره کې له مقر پوښتنه وکړی شي ځه چې هغه ووایي هغه لازمیږي.

وَمَنْ أَقَرَّ بِحَقٍّ وَقَالَ إِنْ شَاءَ اللهُ	مُتَّصِلًا بِإِقْرَارِهِ	لَمْ يَلْزَمْهُ الْإِقْرَارُ
یو چا اقرار وکړ د بل چا د حق او انشاء الله یې وویل	متصل له خپل اقرار سره	نه لازمیږي اقرار

وَمَنْ أَقَرَّ وَشَرَطَ الْخِيَارَ لِنَفْسِهِ لَزِمَهُ الْإِقْرَارُ وَبَطَلَ الْخِيَارُ وَمَنْ أَقَرَّ

یو چا اقرار وکړ او د خان لپاره یې خیار شرط واخیست لازم شو اقرار او خیار باطل شو یو چا اقرار وکړ

بِدَارٍ وَاسْتَثْنَى بِنَاءَهَا لِنَفْسِهِ فَلِلْمُقَرِّ لَهُ الدَّارُ وَالْبِنَاءُ جَمِيعًا

د مکان او استثنی یې وکړه د هغه د عمارت د خان لپاره نو د مقرله لپاره کور او عمارت ټول شول

وَإِنْ قَالَ بِنَاءُ هَذِهِ الدَّارِ لِي وَالْعَرْصَةُ لِفُلَانٍ فَهُوَ كَمَا قَالَ

او که ووایي عمارت د دې کور زما دی او صحن د فلاني دی نو دا به د هغه د قول مطابق وي

تشریح : په دې عبارت کې هم د پورته ذکر شوي په شان د استثنائي اقرار یوشمیر صورتنه ذکر شوي دي

ومن اقر....... الاقرار : د قدروي صاحب ویلي دي که چیرته مقر د یو چا د حق اقرار وکړي او ورسره انشاء الله ووایي نو اقرار باطلیږي په مقر باندې هیڅ هم نه لازمیږي. ځکه چې هغه خپل اقرار د الله تعالی په خوښه باندې معلق کړ او د الله تعالی خوښه معلومه نده. او نه دا معلومه ده چې الله تعالی څه غواړي، نو ځکه اقرار باطل کړی شو او د اقرار صرف وعده شوه کومې لره چې اعتبار نشته دی، لیکن شرط دا ده چې له اقرار سره متصل انشاء الله ووایي، که چیرته یې منفصل ووایي نو بیا له اقرار څخه رجوع شمارل کیږي او اقرار واجب کیږي

ومن اقر......... بطل الخیار :د دې مسئلې صورت دا ده چې یو چا د غصب، قرض، امانت یا د عاریت اقرار وکړ له دې شرط سره چې ماته تر دوه دری ورځو پورې د سوچ کولو لپاره موقع راکړه چې زه اقرار وکړم یا یې ونکړم نو د اقرار مطابق یو زر روپۍ ورکول دي، او د اقرار کولو یا نکولو لپاره تر دریو ورځو پورې موقع نشي ورکول کیدی، د اقرار کولو مطلب دا شو چې په رښتیا په هغه باندې قرض دی د کوم چې اداء کول واجب دي، او د سوچ کولو مطلب دا شو چې قرض نشته دی صرف د احسان په کولو کې زه سوچ کوم او د هغه اقرار کوم، نو لومړی د اقرار نفې وکړی شوه او مخکې تیر شوي دي چې له اقرار وروسته رجوع نشي کولی.

ومن اقر بدار...... جمیعاً : قاعده دا ده چې په اقرار کې کوم شیان د بنیاد حیثیت ولري د هغه استثنا سهي نده، د همدې قاعده په رڼا کې مسئله وګورۍ، عمارت د کور نام دی چې عمارت نوي هغه کور نه کور څنګه ویل کیدی شي، له همدې امله که یې د عمارت د خان لپاره استثنی وکړه نو ګوا که چې له کور څخه انکار کوي نو ځکه استثنی باطله شوه، کور او عمارت دواړه د مقرله لپاره شول. دا مسئله بالکل داسې ده چې د ګوتمې د یو چا لپاره اقرار وکړی شي او د رنګ استثنی وکړی شي نو سهي نده، ځکه چې رنګ د ګوتمې بنیادي جزء دی

وَمَنْ أَقَرَّ بِتَمْرٍ فِي قَوْصَرَةٍ لَزِمَهُ التَّمْرُ وَالْقَوْصَرَةُ وَمَنْ أَقَرَّ بِدَابَّةٍ فِي إِصْطَبْلٍ

او چا اقرار وکړ د کجورو په ټوکرۍ کې لازم شول هغه ته کجورې او ټوکرۍ یو چا اقرار وکړ د آس په پنډغالي کې

لَزِمَهُ الدَّابَّةُ خَاصَّةً　وَإِنْ قَالَ غَصَبْتُهُ ثَوْبًا　فِي مِنْدِيلٍ　لَزِمَاهُ جَمِيعًا

نو لازمیږي صرف آس خاص　که ووایي ما غصب کړې جامه　په دسمال کې نو　دواړه لازمیږي

وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ ثَوْبٌ فِي ثَوْبٍ لَزِمَاهُ جَمِيعًا وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ ثَوْبٌ

او که یې ووېل د فلاني په ما باندې جامه ده په جامه کې نو دواړه لازم شول که یې ووېل د فلاني په ما باندې جامه ده

فِي عَشَرَةِ أَثْوَابٍ　لَمْ يَلْزَمْهُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ　إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ

په لسو جامو کې　نو نه پرې لازمیږي د امام ابویوسف رحمه الله په نزد　مګر یوه جامه

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ　يَلْزَمُهُ أَحَدَ عَشَرَ ثَوْبًا　وَمَنْ أَقَرَّ بِغَصْبِ ثَوْبٍ

امام محمد رحمه الله ویلي　لازمیږي یوولس جامې　چا چې اقرار وکړ د جامې د غصب کولو

وَجَاءَ بِثَوْبٍ مَعِيبٍ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ فِيهِ مَعَ يَمِينِهِ وَكَذَا لَوْ أَقَرَّ بِدَرَاهِمَ

بیا یې راوړه یوه عیبجنه جامه نو په دې کې د مقر خبره منل کیږي له قسم سره او همدارنګه که اقرار وکړي د دراهمو

وَقَالَ هِيَ زُيُوفٌ وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ خَمْسَةٌ فِي خَمْسَةٍ يُرِيدُ بِهِ الضَّرْبَ وَالْحِسَابَ

او ووایي چې هغه کوټه دي که یې ووېل د فلاني په ما پنځه دي په پنځو کې مراد یې وو په دې سره ضرب او حساب

لَزِمَهُ خَمْسَةٌ وَاحِدَةٌ وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ خَمْسَةً مَعَ خَمْسَةٍ لَزِمَهُ عَشَرَةٌ

نو په هغه باندې صرف پنځه لازم دي او که وې ویل ما اراده کړې د پنځو له پنځو سره نو لس لازمیږي

د اقرار متفرق مسائل

د لغاتو حل القوصرة: له بانس څخه جوړه شوې د کجورې لپاره ټوکرۍ او د کجورو ټوکرۍ. هغه وخت ورته ویل کیږي کله چې په هغې کې کجورې وي او چې پکې نوي بیا ورته زنبیل ویل کیږي، اصطبل: د څارویو د ساتلو ځای، منديل: دسمال (رومال)، معیب: عیبجن، زیوف: کوټه (ردي)

تشریح ومن اقر........**خاصة:** په دې عبارت کې دوه مسئلې بیان شوې دي او د دواړو بنیاد په یوه ضابطه باندې دی په کوم کې چې د شیخینو او د امام محمد اختلاف دی، د مسئلې صورت دا دی چې یو کس دا اقرار کوي چې په ما باندې د فلاني لپاره د کجورو په ټوکرۍ کې واجب دي نو په دغه صورت کې دواړه لازمیږي، په دې سلسله کې قاعده دا ده چې کوم شی د ظرف کیدو صلاحیت ولري او د هغه منتقل کول ممکن وي نو د داسې شي په اقرار کې ظرف او مظروف دواړه لازمیږي لکه د کجورو اقرار په ټوکرۍ کې

که چیرته یې د اس اقرار وکړ په پند غالي کې نو صرف اس لازمیږي، له آس سره پند غالي نه منتقل کیږي بلکې صرف آس منتقل کیږي له همدې امله کله یې چې وویل چې آس په پند غالي کې غصب شوی نو مطلب دا شو چې صرف آس غصب شوی او خپل کور ته یې راوستلی او پند غالي یه خپل ځای پاتې دی هغه نده غصب شوی نو ځکه صرف د آس واپس کول لازمیږي، مګر د امام محمد رحمه الله په نزد دواړه شیان لازمیږي، یعنې ځناور او پند غالي

کله یې چې وویل په ما باندې کپړه ده په کپړه کې نو یوه کپړه ظرف شوه او دویمه مظروف شوه او مطلب دا شو چې یوه کپړه په دویمه کپړه کې تاو شوې وه په همدې حال کې دواړه اخیستې وې نو ځکه دواړه کپړې لازم شوې

وان قال له علی.......عشر ثوبا: که چیرته یوه کس د دې خبرې اقرار وکړ چې زما په ذمه په لسو جامې کې دننه د فلاني جامه ده نو د شیخینو په نزد صرف یوه جامه لازمیږي او د امام محمد په نزد یوولس جامې لازمیږي

د شیخینو دلیل : په عام ډول یوه جامه په لسو جامو نشي نغښتل کیدی نو له همدې امله لس جامې د یوې جامې لپاره ظرف جوړ نشو، فتوی په همدې قول باندې ده

د امام محمد رحمه الله **دلیل** : که چیرته د وریښمو قیمتي جامه وه نو په لسو جامو کې نغښتل کیدی شي نو ځکه د یوې جامې لپاره لس جامې ظرف جوړیدلی شي

ومن اقر......وهی زیوف : یوه کس اقرار وکړ چې ما د زید جامه غصب کړیده له دې وروسته یې یوه عیبجنه جامه راوړه چې دا مې غصب کړیده او له مقرله سره د هغه خلاف هیڅ شاهد نشته دی نو له قسم سره د مقر قول معتبر کیږي، او هماغه عیبجنه جامه به مقرله قبلوي. ځکه د جامې لفظ عام دی عیبجنې او روغې دواړو ته شامل دی نو ځکه د عیبجنې له اقرار څخه انکار ونشو او له مقرله سره د هغه خلاف هیڅ ګواه نشته، نو ځکه به د مقر خبره منل کیږي، لیکن چونکه منکر دی نو ځکه له قسم سره به منل کیدی شي

وان قال له علی خمسة.....لزمه عشرة ؛ د دغه عبارت دری مطالب او دری حکمونه دي

۱ ؛ پنځو ته چې په پنځو کې ضرب ورکړی شي او همدا مراد واخیستل شي نو پنځه ویشت لازمیږي، د حسن بن زیاد همدا قول دی، یو قول د امام احمد او امام مالک هم دی، کما قال علامه بدر الدین عیني

۲ ؛ چې في په معنی د مع واخیستل شي نو لس لازمیږي، دا د احنافو مذهب دی

۳ ؛ پنځه چې پنځو کې ضرب کړی شي د هغه اجزاء او ټوټې زیاتیږي، لهذا د خمسة فی خمسة مطلب دا شو چې په پنځو کې د هر یوه پنځه پنځه جزء دي په دغه صورت کې عدد خو پنځه پاتې کیږي البته د هغه اجزاء پنځه ویشت کیږي دا قول د امام شافعي دی، د قدوري صاحب همدا مطلب غوره کړی دی او پنځه یې لازم کړي دي

د حسن بن زياد د مسلک مطابق بنځه ويشت لازميږي او که چيرته (في) د (مع) په معنی واخيستل شي نو په دې صورت کې لس لازميږي همدا د احنافو مسلک دی، دا صورت د متن له دې عبارت (وان قال اردت الخ) ښه واضح دی.

وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ مِنْ دِرْهَمٍ إِلَى عَشَرَةٍ لَزِمَهُ تِسْعَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ

او که يې وويل چې د فلاني په ما له يوه څخه تر لس درهم دي نو لازميږي په هغه باندې نهه د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد

يَلْزَمُهُ الْاِبْتِدَاءُ وَمَا بَعْدَهُ وَيَسْقُطُ الْغَايَةُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالَى يَلْزَمُهُ الْعَشَرَةُ كُلُّهَا

يعني ابتداء او د هغه مابعد لازم شول او غايه ساقطه شوه او صاحبينو ويلي دي لازميږي په هغه باندې لس

وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ اِشْتَرَيْتُهُ مِنْهُ وَلَمْ أَقْبِضْهُ فَإِنْ ذَكَرَ عَبْدًا بِعَيْنِهِ

او که يې وويل د فلاني په ما باندې زر درهم دي د هغه غلام قيمت کوم چې ما له هغه اخيستی وو ليکن قبضه مې نوه پرې کړې بيا که چيرته دي د معلوم غلام ذکر وکړي

قِيلَ لِلْمُقَرِّ لَهُ إِنْ شِئْتَ فَسَلِّمِ الْعَبْدَ وَخُذِ الْأَلْفَ وَإِلَّا فَلَا شَيْءَ لَكَ عَلَيْهِ

نو مقرله ته ويل کيدی شي که چيرته غواړې نو غلام وسپاره او زر روپۍ واخله که نه نو ستا په هغه باندې هيڅ نشته

وَإِنْ قَالَ لَهُ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ وَلَمْ يُعَيِّنْهُ لَزِمَهُ الْأَلْفُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ

او که يې وويل د فلاني په ما باندې زر درهم دي د غلام د قيمت او هغه يې معلوم نکړ نو لازميږي په هغه زر د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد

وَلَوْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ مِنْ ثَمَنِ خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ لَزِمَهُ الْأَلْفُ وَلَمْ يُقْبَلْ تَفْسِيرُهُ

او که يې وويل د فلاني په ما باندې زر درهم دي د شرابو يا د خنزير قيمت نو په هغه باندې زر لازم شول او د هغه تفسير نه قبول کيږي

وَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ مَتَاعٍ وَهِيَ زُيُوفٌ وَقَالَ الْمُقَرُّ لَهُ هِيَ جِيَادٌ

او که يې وويل د فلاني په ما زر دي د سامان د قيمت او هغه کوټه دي مقرله وويل چې هغه جيد دي

لَزِمَهُ الْجِيَادُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ

نو جيد لازميږي د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد او صاحبينو ويلي دي

إِنْ قَالَ ذٰلِكَ مَوْصُولًا صُدِّقَ وَإِنْ قَالَهُ مَفْصُولًا لَا يُصَدَّقُ

که چيرته هغه دا متصل وويل نو تصديق يې کول کيږي او که يې منفصل وويل نو تصديق نکول کيږي

تشریح **واذا قال له......العشرة كلها** : یوه کس د دې خبرې اقرار وکړ چې زما په ذمه د فلاني له یو درهم څخه تر لس درهم پورې دي نو د امام صاحب په نزد نهه درهم لازمیږي لس نه لازمیږي، د امام شافعي یو قول او د امام مالک یو روایت هم همدا دی، ځکه په تعداد کې ابتداء شامل ده او منځنی عدد شامل دی لیکن اخیري عدد کوم چې غایه ده هغه نده شامل، په ذکر شوې مسئله کې لس اخیرنی عدد دی نو ځکه هغه شامل نشو، لکه چې خلک وایي زما عمر له څلویښتو تر پنځوسو دی نو پنځوس شامل ندی او زیات نه زیات د هغه عمر به نهه څلویښت کاله منل کیدی شي

د صاحبینو په نزد ټول لس دراهم لازمیږي یعنې ابتداء او انتهاء دواړه داخلیږي، د امام مالک یو روایت او د امام شافعي یو قول هم همدا دي، د دواړو حدونو موجود کیدل ضروري دي ځکه چې د امر وجود لپاره معدوم شی حد کیدی نشي

د امام زفر په نزد صرف اته دراهم لازمیږي، د ده په نزد ابتداء او انتهاء دواړه ساقطیږي

وان قال له......ابی حنیفة: قاعده دا ده که چیرته اقرار له کوم شرط سره وي نو د شرط په پوره کولو باندې اقرار جاري کیږي، اوس د مسئلې صورت باندې پوه شی یوه کس وایي چې د فلاني په ما باندې زر درهم دي لیکن هغه د معلوم غلام له وجهې دي کوم چې ما له هغه څخه اخیستی وو او تراوسه ما په هغه غلام باندې قبضه نده کړې، په دغه صورت کې مقرله ته ویل کیدی شي که چیرته غلام مقر ته وسپارې نو زر درهم به درکړي او که غلام نه ورکوې نو زر درهم نه درکول کیږي، چونکه دلته د غلام په عوض کې زر درهم دي له همدې امله چې غلام ورکړي نو د زرو درهمو حقدار جوړیدی شي او که داسې ونکړي بیا نشي کیدی، دلته د معلوم غلام بیعه ده

زید اقرار وکړ چې د خالد په ما باندې زر درهم دي او هغه د غلام د قیمت دي، لیکن معلوم غلام ندی نو د غلام له سپارلو پرته په زید باندې زر درهم لازمیږي، برابره ده که هغه لم اقبضه متصل ویلي وي او که منفصل، امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ امام زفر رَحِمَهُ اللهُ او حسن بن زیاد رَحِمَهُ اللهُ د دې قائل دي، چونکه غلام معلوم ندی نو ځکه بیع نده شوې، لهذا د غلام سپارل لازم ندي او زید اقرار کړی دی چې په ما باندې زر درهم دي له همدې امله د غلام د عوض قید د زر درهم له اقرار څخه رجوع کول ګڼل کیږي او له اقرار وروسته رجوع سمې نده، صاحبینو او ائمه ثلاثه ؤ ویلي دي که چیرته مقر د دراهمو له اقرار وروسته لم اقبضه متصل ویلي وي نو د هغه د بیان تصدیق کول کیږي او مال نه لازمیږي او که یې منفصل ویلي وي نو د مقر د کلام تصدیق نکول کیږي

ولو قال له......تفسیره : د قدروي صاحب ویلي دي که چیرته یو چا د دې خبرې اقرار وکړ چې د فلاني زما په ذمه د شرابو یا د خنزیر د قیمت یو زر درهم دي نو د امام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد په مقر باندې یو زر درهم لازم شول او د مقر په من ثمن خمر او خنزیر سره تفسیر کول معتبر ندي برابره ده که دا تفصیل متصل وي که منفصل وي، ځکه چې د علی کلمه په وجوب باندې دال ده او د مقر په شراب

يا خنزير سره تفسير كول ګوا كه له خپل اقرار څخه رجوع كول دي كوم چې سهي ندي، د صاحبينو او ائمه ثلاثه ؒ په نزد كه چيرته د هغه په تفسيري كلام كې اتصال وي نو هيڅ نه واجبيږي، ځكه چې هغه په خپل تفسيري كلام سره دا باور كړي چې زما مقصد ايجاب د دراهمو ندی.

وان قال له علی الف من ثمن متاع الخ : د مسئلې صورت دا ده چې يوه كس وويل چې د فلاني په ما باندې يو زر درهم دي د سامان قيمت ليكن هغه زر درهم كوټه دي جيد ندي او مقرله وايي چې هغه جيد دي نو د امام صاحب په نزد زر جيد لازم دي، چونكه په عام ډول د سامان قيمت په جيد سره كيږي له همدې امله د مقر دا خبره چې كوټه دي له خپل اقرار څخه رجوع كول دي كوم چې سهي ندي، صاحبينو ويلي دي چې د سامان قيمت دواړه قسمه وي نو ځكه اول اقرار عام دی كوټه او جيد دواړو ته شامل دی، مقر يو طرف كوټه متعين كړی او دا له خپل اقرار څخه رجوع نده نو ځكه كوټه درهم لازميږي، ليكن شرط دا ده چې له كلام سره متصل د كوټه لفظ ووايي، ځكه كه يې منفصل ووايي نو له لومړي اقرار څخه رجوع شمارل كيږي او كوټه نه لازميږي بلكې جيد لازميږي.

وَمَنْ أَقَرَّ لِغَيْرِهِ بِخَاتَمٍ فَلَهُ الْحَلْقَةُ وَالْفَصُّ وَإِنْ أَقَرَّ لَهُ بِسَيْفٍ
چا چې اقرار وكړ د بل لپاره د ګوتمې نو د هغه لپاره حلقه او غمی دواړه كيږي او كه يې اقرار وكړ د يو چا لپاره د توري
فَلَهُ النَّصْلُ وَالْجَفْنُ وَالْحَمَائِلُ وَمَنْ أَقَرَّ بِحَجَلَةٍ فَلَهُ الْعِيدَانُ وَالْكِسْوَةُ
نو د هغه لپاره اوسپنيزه برخه پوښ او چې پكې راځوړند كيږي درې واړه دي او كه يې اقرار وكړ په ډولۍ باندې نو د هغه لپاره به لرګي او پرده وي
وَإِنْ قَالَ لِحَمْلِ فُلَانَةَ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ فَإِنْ قَالَ أَوْصَى لَهُ فُلَانٌ
او كه يې وويل د فلاني د حمل په ما باندې زر درهم دي كه يې وويل فلاني د هغه لپاره وصيت كړی وو
أَوْ مَاتَ أَبُوهُ فَوَرِثَهُ فَالْإِقْرَارُ صَحِيحٌ وَإِنْ أَبْهَمَ الْإِقْرَارَ
يا د هغه پلار مړ شو د كوم چې هغه وارث دی نو اقرار صحيح دی او كه يې اقرار مبهم پريښود
لَمْ يَصِحَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ يَصِحُّ
نو سهي ندی د امام ابويوسف په نزد او امام محمد ويلي چې سهي دی
وَإِنْ أَقَرَّ بِحَمْلِ جَارِيَةٍ أَوْ حَمْلِ شَاةٍ لِرَجُلٍ صَحَّ الْإِقْرَارُ وَلَزِمَهُ
او كه اقرار وكړي د كومې مينزې د حمل يا د كومې ميږې بزې د حمل د كوم سړي لپاره نو اقرار سهي دی او په مقر لازميږي

د لغاتو حل: **الفص** غمی، **السیف** توره، **النصل** د اوسپنې والا برخه، **العیدان** د عود جمع لرګی، **الکسوة** لباس، دلته د پرده په معنی ده

تشریح ومن اقر......الکسوة: په دې عبارت کې څو مسئلې بیان شوې دي:

وان قال لحمل.........وقال محمد یصح دا یوه مسئله د کومې چې دوه صورتونه دي، د مسئلې صورت دا ده چې زید د یوې حامله ښځې د ماشوم لپاره اقرار وکړ چې د دې ماشوم زما په ذمه زر روپۍ دي ځکه چې حامد د ده لپاره وصیت کړی دی، یا ځکه لازم دي چې د ده پلار وفات شوی نو په میراث کې د ده برخه ده کومه چې د ده د پلار لخوا ده ته پاتې شوې ده نو بالاتفاق د مقر دا اقرار سهي دی، ځکه چې په کلام کې ابهام نشته بلکې د حمل لپاره د ثبوت ملکیت لپاره یو صالح سبب بیان شوی دی.

دا د مسئلې اول صورت دی، دویم صورت دا ده چې مقر اقرار مبهم بیان کړ یعنې صرف دومره یې وویل (لحمل فلان علی درهم) زیات وضاحت یې ونکړ نو په دغه صورت کې د امام ابو یوسف او امام محمد اختلاف دی، امام ابویسوف ویلي دي چې اقرار سهي ندی ځکه چې په اقرار کې ابهام دی او امام محمد ویلي دي چې په اقرار کې ابهام شته دی مګر دا اقرار په دې خبره محمولیږي چې فلاني د ده لپاره وصیت کړی دی یا دا چې پلار یې وفات شوی د میراث برخه یې ده.

وان اقر بحمل جاریة الخ: زید اقرار کړی دی چې د فلانی میږې په خیټه کې چې کوم حمل دی هغه د عمر لپاره دی، یا د فلاني میږې (بزې) په خیټه کې چې کوم حمل دی هغه د عمر لپاره دی نو دغه اقرار روا دی، او له پیدا کیدو وروسته د میږې اوبزې بچی دې عمر ته ورکړی شي، ممکن ده چې د میږې اصل مالک مړ شوی وي او د مړینې په وخت کې دا وصیت کړی وي چې میږه د ورثه ؤ لپاره ده لیکن د هغې د بچي یې د عمر لپاره وصیت کړی وي، او زید هم په ورثه ؤ کې وي نو ځکه زید د مورث له مړینې وروسته اقرار وکړ چې د میږې یا د بزې بچی د عمر لپاره دی دا اقرار سهي دی باطل ندی.

وَإِذَا أَقَرَّ الرَّجُلُ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ بِدُيُوْنٍ وَعَلَيْهِ دُيُوْنٌ فِيْ صِحَّتِهِ
که اقرار وکړ کوم سړي په مرض موت کې د قرضونو حالانکه په هغه باندې څه قرضونه دي د صحت په زمانه کې
وَدُيُوْنٌ لَزِمَتْهُ فِي مَرَضِهِ بِأَسْبَابٍ مَعْلُوْمَةٍ فَدَيْنُ الصِّحَّةِ وَالدَّيْنُ الْمَعْرُوْفُ الْأَسْبَابِ
او څه قرضونه په هغه لازم شوي دي په مرض الموت کې د معلومو اسبابو له وجهې نو د صحت والا قرضونه او د اسباب معلومه والا قرضونه
بِمُقَدَّمٌ فَإِذَا قُضِيَتْ وَفَضَلَ شَيْءٌ مِنْهَا كَانَ فِيْمَا أَقَرَّ بِهِ فِي حَالِ الْمَرَضِ
مقدم شوي دي کله چې هغه اداء کړی شي او څه مال پاتې شي نو صرف کولی شي په هغه دین کې د کوم یې چې اقرار کړی دی په مرض وفات کې

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دُيُونٌ لَزِمَتْهُ فِي صِحَّتِهِ جَازَ إِقْرَارُهُ وَكَانَ الْمُقَرُّ لَهُ
او که نوي په هغه باندې داسې قرض کوم چې لازم شوی د هغه د صحت په زمانه کې نو روا دی د هغه اقرار او ده مقرله
أَوْلَى مِنَ الْوَرَثَةِ وَإِقْرَارُ الْمَرِيضِ لِوَارِثِهِ بَاطِلٌ إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهُ فِيهِ بَقِيَّةُ الْوَرَثَةِ
اولی (مقدم) له ورثه ؤ څخه د مريض اقرار د خپل وارث لپاره باطل دی مګر چې باقي ورثه د هغه تصديق وکړي

د ناروغ د اقرار بيان

خلاصه : يو کس په مرض الموت کې مبتلا دی په همدې مرض کې هغه وفات شو د صحت په زمانه کې څه قرض اخيستی وو هغه د ده په ذمه وو بيا په مرض الموت کې د داسې اسبابو په ذريعه قرض راغی وم چې خلکو ته معلوم دی، مثلاً د يو چا يې نقصان وکړ د کوم له امله چې په ده باندې دين راغی، يا په مهر مثل کې واده وکړ د همدې له وجهې قرض پرې راغی دا اسباب ټولو ته معلوم دي، د همدې دواړو قرضونو په موجوديت کې مثلاً د زيد لپاره يې په خپل ځان باندې د قرض اقرار وکړ د کوم چې سبب معلوم ندی نو اقرار سهي کيږي، ليکن د دغه قرض اداء کول به د مال له زياتيدو وروسته کيږي، لومړی به هغه قرض اداء کولی شي کوم يې چې د صحت په زمانه کې اخيستی دی يا يې د مرض الموت په زمانه کې اخيستی دی او د هغو اسباب معلوم دي، له هغه څخه له زياتيدو وروسته د اقرار دين به اداء کيدلی شي

دليل : په مرض الموت کې د اسبابو له ښودلو پرته د دين اقرار کول د دې خبرې قوي خطر دی چې نورو قرضدارو ته نقصان رسول غواړي ترڅو چې مقرله ته زيات ورسيږي او د صحت په زمانه کې د قرض غوښتونکو او په مرض الموت کې د قرض غوښتونکو ته کم ورکړی شي، د همدې تهمت په نظر کې نيولو سره مقرله ته به په وروسته کې دين ورکول کيږي، بيا صاحب کتاب ويلي دي که چيرته د صحت زمانه قرض په دغه کس باندې نه وو نو چونکه يو چاته د نقصان رسولو شک او شبه نشته نو څکه په مرض الموت کې د يو چا لپاره د قرض اقرار کولی شي.

وَمَنْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيٍّ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ ثُمَّ قَالَ هُوَ ابْنِي ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ
يو چا اقرار وړ د اجنبي لپاره په مرض موت کې بيا يې وويل دا زما زوی دی نو له ده څخه نسب ثابتيږي
وَبَطَلَ إِقْرَارُهُ لَهُ وَلَوْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيَّةٍ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا لَمْ يَبْطُلْ إِقْرَارُهُ لَهَا
او اقرار باطليږي که يې اقرار وکړ د اجنبی لپاره بيا يې وادهورسره وکړ نه باطليږي اقرار د هغې لپاره
وَمَنْ طَلَّقَ زَوْجَتَهُ ثَلَاثًا فِي مَرَضِهِ مَوْتِهِ ثَلَاثًا ثُمَّ أَقَرَّ لَهَا بِدَيْنٍ
چا چې طلاق ورکړ ښځې ته دری په خپل مرض موت کې دری بيا يې اقرار وکړ د هغې لپاره د قرض

وَمِنْ مِيرَاثِهَا مِنْهُ	وَمَاتَ فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنَ الدَّيْنِ
او له ميره څخه ميراث دی	او مړ شو د ښځې لپاره کم د قرض دی

تشريح ومن اقر لاجنبي........اقر به بها : يوه کس په مرض الموت کې د کوم اجنبي لپاره اقرار وکړ چې په ما باندې د هغه قرض دی بيا يې دعوه وکړه چې دا زما زوی دی نو د هغه نسب ثابتيږي او اقرار باطليږي، په دې شرط چې هغه اجنبي ثابت النسب نوي او د همدا ډول کس د ده زوی جوړيدل ممکن وي او هغه د مقر تصديق وکړي او د تصديق کولو صلاحيت هم ولري (زوی خبرې کولی شي او په خبرو سره تصديق کولی شي چې زه د هغه زوی يم، ځکه د نسب دعوه د پيدا ښت پيدا ښت طرفته منسوب شوي دي کله چې نسب ثابت شو نو هغه له ماشومتوب څخه وارث شو او وس تير شول چې د وارث لپاره اقرار نشي کيدی له همدې امله کوم اقرار چې د اجنبي لپاره شوی وو هغه د زوی جوړيدو له امله باطل شو، اوس هغه ته د زوی کيدو له امله د مقر وراثت ورکول کيږي

که چيرته مريض کومې اجنبی ښځې ته له اقرار کولو وروسته له هغې سره واده وکړ بيا هم د هماغې ښځې لپاره يې چې کوم اقرار کړی وو هغه نه باطليږي، ځکه کوم وخت يې چې د ښځې لپاره اقرار کړی وو هغه وخت هغه پردی وه، هغه وارثه نه جوړيږي له واده وروسته جوړه ده له همدې امله د هغې لپاره يې چې کوم اقرار کړی وو هغه نه باطليږي

ومن اطلق امرأته.......ومن ميراثها منه : يوه کس خپلې ښځې ته په خپل مرض موت کې درې طلاقونه ورکړل، اوس هغه په عدت کې وه چې د هغې لپاره يې اقرار وکړ چې د هغې په ما باندې دوه زره روپۍ قرض دی بيا دغه کس مړ شو نو اوس به دېته کتل کيږي چې د ښځې او ميړه په وراثت کې کم ملاويږي او که په اقرار کې، په کوم کې چې کم ملاويږي هغه به ښځې ته ورکول کيږي، مثلاً په وراثت کې زر روپۍ ملاويږي نو وراثت به ورکول کيږي، ځکه چې په اقرار کې دوه زره دي کومې چې زياتې دي، په دې کې دا تهمت دی چې ميړه د ښځې لپاره د يوه ښه رقم اقرار کول غوښتې وو مګر د وراثت کيدو له امله له دې څخه ساتلې نو ځکه يې ښځې ته طلاق ورکړ اجنبيه يې جوړه کړه بيا يې د هغې لپاره د ښه رقم اقرار وکړ، د همدې تهمت له امله د نورو ورثه ؤ له نقصان څخه د بچ کيدا لپاره په وراثت او اقرار کې چې کوم کم ملاويږي هغه روپۍ به ښځې ته ورکول کيږي

وَمَنْ أَقَرَّ بِغُلَامٍ يُولَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ وَلَيْسَ لَهُ نَسَبٌ مَعْرُوفٌ أَنَّهُ ابْنُهُ
چا چې اقرار وکړ د کوم داسې هلک په باره کې چې همدا ډول هلک له همداسې کس څخه پيدا کيدی شي او د هغه هيڅ معلوم نسب نشته چې ووايي دا زما زوی دی

وَصَدَّقَهُ الْغُلَامُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَإِنْ كَانَ مَرِيضًا وَيُشَارِكُ الْوَرَثَةَ فِي الْمِيرَاثِ
او هلک د هغه تصدیق وکړي نو په دې سره د هغه نسب ثابتیږي اګر که مقر ناروغ وي او شریک وي له ورثه ؤ سره په میراث کې
وَيَجُوزُ إِقْرَارُ الرَّجُلِ بِالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجَةِ وَالْوَلَدِ وَالْمَوْلَى وَيُقْبَلُ إِقْرَارُ الْمَرْأَةِ
او روا ده د سړي اقرار کول د یو چا متعلق د مور پلار ښځې بچي او آقا کیدو او قبول کیږي د ښځې اقرار
بِالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجِ ، وَالْمَوْلَى وَلَا يُقْبَلُ إِقْرَارُهَا بِالْوَلَدِ إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهَا الزَّوْجُ
د والدینو میړه توب او آقا کیدو او نه قبول کیږي د ښځې اقرار د یو چا متعلق د زوی والي مګر دا چې تصدیق وکړي میړه
أَوْ تَشْهَدَ بِوِلَادَتِهَا قَابِلَةٌ
یا ګواهي ورکړي د هغه د پیدایښت

د نسب د اقرار بیان

تشریح ومن اقر بغلام...... في المیراث : یو داسې هلک دی د کوم چې نسب معلوم ندی او یوه غټ سړي له کوم چې د همداسې هلک پیدا کیدل ممکن وي دا اقرار وکړ چې دا زما زوی دی او هلک خبرې کوی شوې هغه هم تصدیق وکړ چې زه یې زوی یم نو د دغه هلک نسب له دغه سړي ثابتیږي، برابره ده که دغه سړی په مرض موت کې مبتلا هم وي او د پلار په مړینه باندې څرنګه چې نورو ورثه ؤ ته میراث ورکول کیږي همدا رنګه همدې زوی ته هم ورکول کیږي

د ثبوت نسب لپاره شرطونه (۱) یولد مثله لمثله : یعني چې هلک د داسې عمر وي چې د همدې کس زوی جوړیدی شي. له همدې وجهې ویل کیدی شي که چیرته هلک د پنځلس کلونو وي او د پلار عمر شل کاله وو نو څنګه به دغه هلک د همدې کس زوی جوړ شي، دا خو په ظاهري لحاظ دروا غ دي نو څکه دا قید ولګول شو

(۲) **لیس له نسب معروف** : یعني چې د هلک نسب معلوم نوي، څکه که چیرته هلک ثابت النسب وي نو له مقر یې نسب نه ثابتیږي، څکه چې یو هلک د دوه کسانو زوی کیدی نشي

(۳) **صدقه الغلام** : یعني چې هلک د دې تصدیق وکړي چې زه د هغه زوی یم، څکه کله چې هلک خبرې کولی شي نو له یو چا څخه د هغه نسب ثابتول د هغه حق دی، که چیرته هلک د زوی توب تصدیق ونکړي نو له سړي یې نسب نه ثابتیږي

ويجوز اقرار الرجل.... المولى : يو كس اقرار كړى دى چې خالد او د هغه ښځه زما والدين دي يا ساجده زما ښځه ده يا آفتاب زما زوى دى يا زما ازاد كوونكى دى او دغه خلک هم تصديق وكړي چې همداسې ده لكه څرنګه چې مقر وايي نو دغه اقرار سهي دى، ځكه د همدې نسبونو د اقرار له امله په نورو باندې د نسب الزام ساتل نشته او نه د نورو د نسب ثابت كول دي، بلكې صرف د خپل نسب نسبت د يو چا طرفته يې كول دي، چونكه نوروته هيڅ نقصان نشته نو ځكه اقرار روا دى.

تشريح :د دې مسئلې صورت دا ده كه يوه ښځه د بل چا متعلق اقرار وكړي چې دا كس زما پلار دى يا زما مور ده يا زما ميړه دى يا زما مولى دى نو د هغې اقرار معتبريږي، البته كه ښځه اقرار وكړي چې فلانى ماشوم زما زوى دى نو د ښځې دغه اقرار تر هغه وخته قابل قبول ندى ترڅو چې د هغې ميړه تصديق ونكړي چې هو دا د هغې زوى دى يا دايه شاهدي وركړي چې د همدې ښځې دلته ماشوم پيدا شوى دى. ځكه د ښځې دا خبره چې دا زما زوى دى ګوا كه د هغه نسب له خپل ميړه څخه ثابتول غواړي ځكه چې د ماشوم نسب له پلار څخه ثابتيږي نو ځكه د ميړه تصديق ضروري دى، البته چې دايه شاهدي وركړي چې د همدې ښځې ماشوم پيدا شوى دى او د همدې ماشوم په باره ښځې اقرار كړى دى نو كه ميړه د دې تصديق هم ونكړي بيا هم د زوى نسب له مور څخه ثابت كيدى شي او بيا چونكه ښځه د ميړه لپاره فرش ده نو ځكه له ميړه څخه هم د هغه نسب ثابتيږي، ځكه چيرته چې د سړي لپاره كتل حرام دي هلته د دايه شاهدي قابل قبول ده او په همدې شاهدي سره د ماشوم نسب ثابتيږي، يعنې دلته په دوه صورتونو كې اقرار معتبريږي، يو دا چې ميړه يې تصديق وكړي يا دايه د دې خبرې شاهدي وركړي چې دا ماشوم له دې څخه پيدا شوى دى

وَمَنْ أَقَرَّ بِنَسَبٍ	مِنْ غَيْرِ الْوَالِدَيْنِ وَالْوَلَدِ	مِثْلُ الْأَخِ	وَالْعَمِّ
يو چا اقرار وكړ د نسب	پرته له والدينو او اولاد	مثلاً د ورور	يا د تره
لَمْ يُقْبَلْ إِقْرَارُهُ بِالنَّسَبِ	فَإِنْ كَانَ لَهُ وَارِثٌ	مَعْرُوفٌ	قَرِيبٌ
قبول نده اقرار يې د نسب	بيا كه وو د هغه لپاره وارث	معلوم	نږدې
أَوْ بَعِيدٌ	فَهُوَ أَوْلَى بِالْمِيرَاثِ مِنَ الْمُقَرِّ لَهُ	فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ	
يا ليرې	نو هغه د ميراث زيات حقدار كيږي له مقر له څخه	او كه د هغه هيڅ وارث نه وو	
اِسْتَحَقَّ الْمُقَرُّ لَهُ مِيرَاثَهُ	وَمَنْ مَاتَ أَبُوهُ فَأَقَرَّ بِأَخٍ	لَمْ يَثْبُتْ	
نو مستحق كيږي مقرله د هغه د ميراث	د يو چا پلار وفات شو اقرار يې وكړ په ورور	نو نشي ثابتيدى	
نَسَبُ أَخِيهِ	وَيُشَارِكُهُ فِي الْمِيرَاثِ		
د ورورولي نسب	ليكن په ميراث كې ورسره شريک كيدى شي		

تشريح : له ترجمې څخه مفهوم واضح دى د زياتې تشريح ضرورت نشته.

كِتَابُ الْإِجَارَةِ

د اجاره بيان

اجاره: د دغه لفظ په لغوي تحقيق کې د محقيقينو اختلاف دی، صاحب نهايه وېلي دي چې اجارة بر زون مقالة د اجرة اسم دی، هغې مزدورې ته وېل کيږي د کومې استحقاق چې د خير په عمل باندې وي، اکثر د دې استعمال په ايجار مصدر باندې وي او اسم فاعل يې په معنی کې نه دی راغلی. د ځينو اهل لغت په نزد اجاره د فعاله په وزن له مفاعلت ځخه ده، الغرض اختلاف په دې خبره کې ده چې د اجاره لفظ له باب افعال ځخه دی او که له باب مفاعله ځخه، صاحب کشاف علامه زمخشري دواړه بابونه منلي دي.

تعريف: اجاره هغه عقد دی کوم چې په معلومه معاوضه باندې په معلومو منافع باندې شوې وي برابره ده که عوض مالي وي او که غير مالي وي، مثلاً د کور د اوسيدو منافع کټ د سپرلی په عوض کې ورکول، صاحب جوهرة النيرة دا تعريف کړی دی، اجاره داسې عقد دی کومه چې په منافع باندې د مال په عوض کې وي او منافع چې په څومره اندازه وموندل شي په هماغه حساب سره اجاره منعقده کيدی شي حاصل دا ده چې له يوه جانب ځخه منفعت وي او له بل جانب ځخه کوم عين شی وي، مثلاً روپۍ، پيسې، دراهم، دينار، کيلي، وزني شيان وي نو ديته اجاره وېل کيږي.

د اجاره ثبوت: په اجاره کې منفعت معدوم دی ليکن د ضرورت له امله له يوشمير شرطونو سره اجاره روا گڼل شويده، ثبوت يې په دې آيت کريمه کې دی ﴿على ان تأجرني ثمني حجج﴾ يعنې حضرت شعيب عليه السلام ووېل زه غواړم چې له خپلو دواړو لونو ځخه د يوې له تا سره نکاح وکړم د دې په عوض کې چې ته تر اتو کلونو پورې د اجرت کار وکړې، په دې آيت کې ښودل شوي دي چې د حضرت موسی عليه السلام واده تر اتو کلونو پورې د بزو د څرولو په اجرت باندې شوی دی، همدارنگه په حديث کې هم ثبوت شته، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د قيامت په ورځ به د دريو کسانو زه مدعي يم، يو هغه کوم چې زما له وجهې عهد وکړ بيا يې دوکه ورکړه، دويم هغه کوم چې آزاد خرڅ کړ او د هغه قيمت يې وخوړ، دريم هغه کوم چې يو مزدور په اجرت باندې وساتلو له هغه يې پوره کار واخيست اوبيا يې هغه ته اجرت ورنکړ (بخاري شريف ۱ ۳۰۲)، له دې حديث معلومه شوه چې اجاره روا ده، همدارنگه له نبوي عهد نيولې تر نن پورې په دې خبره اجماع ده چې اجاره روا ده.

الْإِجَارَةُ عَقْدٌ عَلَى الْمَنَافِعِ	بِعِوَضٍ	وَلَا يَصِحُّ	حَتَّى تَكُونَ الْمَنَافِعُ مَعْلُومَةً
اجاره عقد ده په منافع باندې	د عوض په بدل	او نه سهي کيږي	تردې چې منافع معلوم وي
وَالْأُجْرَةُ مَعْلُومَةً			
او اجرت هم معلوم وي			

تشريح الاجارة الخ: د کتاب صاحب په دې عبارت کې د اجاره تعريف بيان کړی دی او د هغې د صحيح کيدو شرط يې هم بيان کړی دی. د اجاره مطلب دا ده چې د يوه جانب منفعت وي او د دويم جانب کوم معلوم شی لکه درهم دينار وغيره دينه عقد اجاره ويل کيږي
صاحب کتاب د اجاره د صحيح کيدو د شرطونو بيان کړی دی لهذا ويلي دي چې منافع هر څومره وي د هغو مقدار څومره وي هغه به هم معلوم وي او د هغو په عوض کې چې اجرت څومره وي هغه به معلوم وي بيا اجاره سهي کيږي، ځکه که چيرته منافع او اجرت معلوم نوي نو جګړه پيښيږي، همدارنګه په ثمنی حجج سره منافع معلوم شوي او په انکحک سره عوض هم معلوم شوی، نو ځکه د دواړو معلوميدل ضروري دي، او نه د معلوميدو په صورت کې نزاع جوړيدو له امله بيع فاسده ده

وَمَا جَازَ أَنْ يَكُونَ ثَمَنًا فِي الْبَيْعِ جَازَ أَنْ يَكُونَ أُجْرَةً فِي الْإِجَارَةِ
او کوم شی چې روا دی چې په بيع کې ثمن شي روا ده چې هغه په اجاره کې اجرت شي
وَالْمَنَافِعُ تَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالْمُدَّةِ كَاسْتِيجَارِ الدُّورِ لِلسُّكْنَىٰ وَالْأَرْضِينَ لِلزِّرَاعَةِ
او منافع کله معلوميږي د مودې په ذريعه لکه په اجرت باندې اخيستل د کورونو د اوسيدو لپاره او د زمکو: کښت لپاره
فَيَصِحُّ الْعَقْدُ عَلَىٰ مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ أَيَّ مُدَّةٍ كَانَتْ وَتَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالْعَمَلِ
نو عقد سهي کيږي په معلومه موده باندې که هر څومره هم وي او منافع کله معلوميدی شي د عمل په ذريعه
وَالتَّسْمِيَةِ كَمَنِ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا عَلَىٰ صَبْغِ ثَوْبٍ أَوْ خِيَاطَةٍ أَوِ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً
او د متعين کولو په ذريعه لکه يو څوک په اجرت ونيسي يو کس د جامو رنګولو يا ګنډلو لپاره يا په اجرت ونيسي څاروی
لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا مِقْدَارًا مَعْلُومًا إِلَىٰ مَوْضِعٍ مَعْلُومٍ أَوْ يَرْكَبَهَا مَسَافَةً مَعْلُومَةً
تر څو پرې راوړي يو معلوم مقدار تر يوه معلوم ځای پورې يا پرې سپور شي تر معلوم ځای پورې
وَتَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالتَّعْيِينِ وَالْإِشَارَةِ كَمَنِ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا لِيَنْقُلَ هٰذَا الطَّعَامَ
او کله معلوميدی شي د تعين او اشاره کولو په ذريعه لکه يو څوک په اجرت ونيسي يو کس تر څو چې يوسي هغه دغه غله
إِلَىٰ مَوْضِعٍ مَعْلُومٍ
تر معلوم ځای پورې

منافع په دريو طريقو سره معلوميدی شي

د لغاتو حل : **استيجار** : په اجرت باندې اخيستل. **دور** : د دار جمع ده مکان. **السكنى** : رهائش. **ارضين** : د ارض جمع ده په حالت جرې کې ده زمکه. **زراعة** : کښت. **اى مدة كانت** : په دې سره دې خبرې طرفته اشاره ده چې که موده اوږده وي که لنډه وي روا ده. **صبغ** : رنګول. **خياطة** : ګنډل

خلاصه : د قدوري صاحب ويلي دي کوم شی چې په بيع کې ثمن او قيمت جوړيدو صلاحيت ولري هغه شی په اجاره کې اجرت جوړيدی شي، په اجاره کې اجرت په بيع کې د ثمن په شان دی، نو څکه کوم شی چې ثمن جوړيدی شي هغه شی اجرت جوړيدی شي، لکه دراهم، دنانير، کيلي او وزني شيان. همدارنګه ويلي دي چې منافع په دريو طريقو معلوميدی شي

اوله طريقه : ويل شوي دي چې د اجاره د سهي کيدو لپاره اجرت او منفعت دواړو معلومول ضروري دي، د مزدوري په معلومولو کې خو هيڅ ډول پتوالی نشته البته د منفعت معلومولو کې يو څه پتوالی شته نو څکه دې هغه بيان کړی شي، چنانچه ويلي دي چې د منفعت معلومولو څوطريقې دي له هغو څنې يوه دا ده چې موده بيان کړی شي چې د څومره مودې لپاره دغه شی اخلي په دې مودې سره د منفعت معلومات کيدی شي، موده که کمه وي که زياته هر څومره موده چې معلومه کړي اجاره سهي کيږي، مثلا کور د اوسيدو لپاره د يوې خاصې مودې لپاره په کرايه باندې نيول، يا د زمکې تر يوې خاصې مودې لپاره د کښت لپاره په کرايه باندې نيول په دې سره د منفعت معلومات کيدی شي

دويمه طريقه : د منافعو د معلوميدو مختلفې طريقې دي مثلا چې کار معلوم کړي نو منفعت معلوميدی شي، لکه د جامو رنګولو لپاره يو کس په اجرت ونيول شي چې دومره روپۍ به درکړم د دومره جامو د رنګولو په بدل کې او د سره زيړ وغيره رنګ تعين وکړي، يا د دومره جامو ګنډل دي او د بخی کولو راوړم پنځه کلوميتره مزل دی يا ترپنځوس کلومېټر پورې په هغه باندې سپريږم سفر کوم. نو د دې ډول تعين په ذريعه د منفعت معلومات کيدی شي

دريمه طريقه : منافع په دې ډول هم معلوميدی شي چې د کار تعين وکړي او د هغه طرفته اشاره وکړي، مثلا يو څوک په اجرت ونيول شي چې دغه غله تر فلاني ځای پورې يوسه او دومره مزدوري به درکړې شي نو منفعت معلوم شو لهذا عقد سهي شو.

تشريح : **وما جاز........ في الاجارة** : د دې مفهوم دې وړاندې وکتل شي، د هدايه صاحب ليکلي دي چې په کوم شي کې دننه د قيمت جوړيدو صلاحيت نشته هغه هم اجرت کيدی شي، مثلا اعيان، يعنې له نقدو پرته غلام او کپړه وغيره دا هم اجرت جوړيدی شي.

وَيَجُوزُ اِسْتِئْجَارُ الدُّورِ وَالْحَوَانِيتِ لِلسُّكْنَى وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ مَا يَعْمَلُ فِيهَا

او روا ده د کورونو او دوکانو په کرایه نیول د اوسیدو لپاره اګر که بیان نکړي هغه کار کوم چې پکې کوي

وَلَهُ أَنْ يَعْمَلَ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الْحَدَّادَ وَالْقَصَّارَ وَالطَّحْنَ وَيَجُوزُ اِسْتِئْجَارُ الْأَرَاضِي

او روا ده د هغه لپاره چې هر کار کوي مګر د لوهار دوبي او پساني او روا دي د زمکو په کرایه نیول

لِلزِّرَاعَةِ وَلِلْمُسْتَأْجِرِ الشِّرْبُ وَالطَّرِيقُ وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطْ وَلَا يَجُوزُ الْعَقْدُ

د فصلونو لپاره او د مستاجر لپاره به وي د اوبو نوبت او لار اګر که د دې شرط ونه لګوي او صحیح ندی عقد

حَتَّى يُسَمِّيَ مَا يَزْرَعُ فِيهَا أَوْ يَقُولَ عَلَى أَنْ يَزْرَعَ فِيهَا مَا شَاءَ وَيَجُوزُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ السَّاحَةَ

تر دې چې بیان کړي هغه شی کوم چې په هغې کې کرل کیږي یا وواییې په دې شرط چې کوم څه وغواړم هغه به کرم او روا ده د خالي زمکې په کرایه باندې نیول

لِيَبْنِيَ فِيهَا أَوْ يَغْرِسَ فِيهَا نَخْلًا أَوْ شَجَرًا فَإِذَا انْقَضَتْ مُدَّةٌ لَزِمَهُ أَنْ يَقْلَعَ الْبِنَاءَ

ترڅو چې په هغې کې عمارت جوړ کړي یا د کجورو ونې یا میوه دارې ونې ولګوي بیا کله چې د اجاره موده ختمه شي نو ضروري کیږي د هغه لپاره چې لیرې کړي عمارت

وَالْغَرْسَ وَيُسَلِّمَهَا فَارِغَةً إِلَّا أَنْ يَخْتَارَ صَاحِبُ الْأَرْضِ أَنْ يَغْرَمَ لَهُ قِيمَةَ ذٰلِكَ مَقْلُوعًا

ونې او هغه ته خالي زمکه وسپاري مګر دا چې د زمکې والا خوښه کړي چې د ولاړو شیانو قیمت ورکړي

وَيَتَمَلَّكَهُ أَوْ يَرْضَى بِتَرْكِهِ عَلَى حَالِهِ فَيَكُونَ الْبِنَاءُ لِهٰذَا وَالْأَرْضُ لِهٰذَا

او مالک شي یا راضي شي د هغو په پرېښودلو باندې په دغه صورت کې عمارت او ونې د هغه کرایه دار لپاره او زمکه د زمکې د څښتن لپاره کیږي

د عقد اجاره کوم کوم صورتونه روا دي؟

د لغاتو حل: **الحوانیت**: د حانوت جمع ده دوکان، **حدادة**: اهنګري، د اهنګري کار کول. **القصارة**: دهوبي. **الاراضي**: د ارض جمع ده زمکه، **الزراعة**: کښت کاري، **الساحة**: خالي زمکه، د مکانونو په مینځ کې چوک، میدان. **یغرس**: د ونو لګول. **یقلع**: وباسل. **فارغة**: خالي. **یغرم**: (س) غرما الدین د قرض وغیره اداء کول. **مقلوعاً**: وباسل شوي، **لهذا**: کوم چې مخکې دي د هغو مشار الیه مستاجر دی او کوم چې په اخیر کې را روان دي د هغو مشار الیه د زمکې مالک دی

تشریح: په دې عبارت کې یوشمیر مسئلې بیان شوې دي

ويجوز استيجار الدور...... والطحن: د کور او دوکان اجاره روا ده اگر که هغه کار بیان نکړي کوم چې په هغو کې کول کیږي، او س مستاجر چې کوم کار وغواړي کولی يې شي، ځکه چې عقد مطلق دی، لیکن لوهار د اوسپنو کار، دوبي د جامو مینځلو کار او زندرگړی د اوړو میده کولو کار نشي کولی، ځکه که چیرته په لومړي سر معلومه شوې نوه چې د دغه کار کول دي هغه ټول کارونه کولی شي په کومو کې د کور دیوال ته نقصان نوي، یا د کور فرش ته نقصان نوي، لیکن په کومو کارونو کې چې نقصان دی هغه کارونه نشي کولی، مثلاً د لوهار په کارونو سره دیوالونه کمزوري کیږي، د جامو مینځلو په کار سره فرش خرابیږي، او د اوړو په میده کولو سره فرش خیرن کیږي او دیوالونه هم کمزوري کیږي، نو ځکه همدغه کارونه د مالک له اجازې پرته نشي کولی

ويجوز استيجار الاراضی...... ان يزرع فيها ماشاء؛ د زمکې د کښت لپاره په اجرت باندې نیول روا دي، او د اوبو ورکولو چې کوم نوبت دی یا يې تر فصل پورې د راوستلو کومه لار ده هغه هم خود بخود ورکول کیدی شي، برابره ده چې په اجرت باندې د نیولو په وخت کې همدا شرط لګول شوی وي او که نوي لګول شوی، ځکه چې دا شیان بنیادي دي ځکه خو د شرط له لګولو پرته همدا شیان په اجاره کې داخل شول

د زمکې په کرایه باندې د نیولو په وخت کې دا معلومول هم ضروري دي چې کوم شی به په هغې کې کرل کیدی شي ترڅو چې په وروسته کې جګړه نوي، یا د فصل والا دا ووایي چې کوم شی ته غواړې وې کره، ځکه ځینې غلې داسې دي چې د هغو په کرلو سره زمکه خرابیږي او د ځینو غلو په کرلو سره زمکه ښه کیږي لکه خربوزې وغیره، نو ځکه په اجرت باندې د نیولو په وخت کې به دا معلومول وي چې کوم ډول غله په کې باندې کرل کیږي یا د فصل والا ته عامه اجازه ورکړي، بیا د اجاره عقد سهي کیږي

ويجوز ان يستاجر الساحة الخ؛ د زمکې د کورو جوړولو یا د ونو کرلو لپاره يې په کرایه باندې نیول سهي دي، مثلاً د لس کلونو لپاره خالي زمکه په اجرت باندې ونیسي او په هغې کې عمارت جوړ کړي یا ونې دې وباسي ځکه خالي زمکه يې چې د کرایه نیولو په وخت کې نیولې وه بالکل هماغسې دې خالي کړي او د زمکې څښتن ته دې وسپاري، هو! که چیرته د زمکې والا په دې راضي شي چې د کور او ونو چې کوم قیمت دی هغه مستاجر ته ورکړي کور او ونې د مالک شي نو داسې کولی شي، دا جلا له دې وروسته د کتاب صاحب ویلي دي که چیرته په کرایه باندې د نیولو موده ختمه شي نو کرایه دار ته د کور رنګول پکار دي او د ونو کټ کول ورته پکار دي، لیکن دواړه په دې خبره باندې راضي شوي دي چې د زیاتې زمانې لپاره کور او ونې پریږده نو په داسې کولو کې هم ګنجایش شته دی، په دې صورت کې زمکه د زمکې والا پاتې کیږي کور او ونې د مستاجر پاتې کیږي

وَيَجُوزُ اِسْتِئْجَارُ الدَّوَابِّ لِلرُّكُوبِ وَالْحَمْلِ فَإِنْ أَطْلَقَ الرُّكُوبَ جَازَ لَهُ أَنْ يُرْكِبَهَا

او روا دي د څناورانو په کرايه باندې نيول د سپريدو او بوج وړلو لپاره بيا که چيرته مطلق کړي سپريدل نو روا ده د هغه لپاره چې په هغه باندې سپور کړي

مَنْ شَاءَ وَكَذٰلِكَ اِنِ اسْتَأْجَرَ ثَوْبًا لِلُّبْسِ وَأَطْلَقَ فَإِنْ قَالَ لَهُ عَلَى أَنْ يَرْكَبَهَا فُلَانٌ

هر څوک چې يې خوښه وي او همدارنګه دي چې په اجرت واخلي جامه د اغوستلو لپاره او مطلق يې کړي او که يې وويل د څناور والا ته چې په دې به سپريږي فلانی

أَوْ يَلْبَسَ الثَّوْبَ فُلَانٌ فَأَرْكَبَهَا غَيْرَهُ أَوْ أَلْبَسَهُ الثَّوْبَ غَيْرَهُ كَانَ ضَامِنًا

يا به جامه اغوندي فلانی بيا يې پرې سپور کړ بل څوک يا يې ور واغوستله بل چا ته نو ضامن کيږي

إِنْ عَطِبَتِ الدَّابَّةُ أَوْ تَلِفَ الثَّوْبُ وَكَذٰلِكَ كُلُّ مَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ

که هلاک شي څناور يا ضايع شي جامه او د همدارنګه هر شی مختلف دی د استعمال کوونکي په اختلاف سره

فَأَمَّا الْعَقَارُ وَمَا لَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ فَإِذَا شَرَطَ سُكْنَى وَاحِدٍ

بهر حال زمکه او هر هغه شی کوم چې د استعمال کوونکي په بدلولو سره نه بدليږي که چيرته شرط ولګول شي د خاص کس د اوسيدو

فَلَهُ أَنْ يُسْكِنَ غَيْرَهُ فَإِنْ سَمَّى نَوْعًا وَقَدْرًا أَيَحْمِلُهُ عَلَى الدَّابَّةِ

نو هغه لره اختيار دی چې په هغه بل څوک وه اوسوي او که چيرته معلوم کړي يو نوع او مقدار کوم به چې راوړي په څناور باندې

مِثْلُ أَنْ يَقُولَ خَمْسَةُ أَقْفِزَةٍ حِنْطَةً فَلَهُ أَنْ يَحْمِلَ مَا هُوَ مِثْلُ الْحِنْطَةِ فِي الضَّرَرِ

مثلا داسې ووايي د غنمو پنځه قفيزه نو د هغه لپاره روا دي چې پرې راوړي داسې شيان کوم چې له غنموسره په مشقت کې برابر وي

أَوْ أَقَلَّ كَالشَّعِيرِ وَالسِّمْسِمِ وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْمِلَ مَا هُوَ أَضَرُّ مِنَ الْحِنْطَةِ

يا ترې کم وي لکه اوربشې يا سمسم او د هغه لپاره روا ندي چې پرې راوړي داسې شيان کوم چې له غنمو زيات نقصان رسوونکي وي

كَالْمِلْحِ وَالْحَدِيدِ وَالرَّصَاصِ وَإِنِ اسْتَأْجَرَهَا لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا قُطْنًا سَمَّاهُ

لکه مالګه اوسپنه او رصاص که په کرايه يې ونيوه څناور ترڅو په هغه باندې معلوم مقدار مالوچ راوړي

فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْمِلَ مِثْلَ وَزْنِهِ حَدِيدًا

نو د هغه لپاره روا نده چې په هغه باندې د مالوچو د وزن برابر اوسپنه راوړي

د لغاتو حل: **عطبت**: هلاک کيدل، **تلف**: ضائع کيدل، برباد کيدل، **حنطة**: غنم، **الضرر**، بوج، **الملح**: مالګه، **الحديد**: اوسپنه، **الرصاص**: شيشه، **قطن**: مالوچ.

تشريح: د کتاب صاحب په دې عبارت کې له اجارې سره متعلق يوشمير مسئلې بيان کړې دي:

(**اوله مسئله**) که چيرته يو چا څناور مثلاً آس وغيره د سپرلۍ يا د بوج وړلو لپاره په کرايه باندې ونيو نو روا دي، اوس که چيرته يې کومه سپرلۍ معلومه نکړه نو هر انسان په هغه باندې سپريدی شي، همدارنګه د بوج وړلو لپاره د اجرت نيولو په صورت کې چې کوم شی به پرې راوړي هغه يې معلوم نکړ نو هر شی په څناور باندې راوړی شي، البته داسې شی نشي راوړی په کوم سره چې د څناور هلاکت يا ورته د نقصان رسيدو غالب ګمان وي، همدارنګه که يې جامه د اغوستو لپاره په اجرت واخيسته نو اخيستلی شي او که يې د اغوستونکي تعين ونکړ نو هر انسان همدا جامه اغوستلی شي.

(**دويمه مسئله**) يو چا څناور په کرايه باندې ونيو او په هغه باندې د کوم خاص کس سپريدل د کرايه نيولو په وخت کې معلوم کړ وروسته يې د دې خلاف وکړل او بل کس يې ورباندې سپور کړ د کوم له امله چې څناور هلاک شو، يا يې جامه په کرايه ونيوه او بل کس ته يې ور واغوستله او جامه څيرې اوبرباده شوه نو په دې صورت کې مستاجر د څناور او جامې ضامن کيږي، ځکه په جلا جلا استعمال سره فرق راځي، ځينې درانه وي ځينې سپک وي، هر درونډ بار په مشکل سره وړلی شي او سپک بار په اسانۍ سره تر منزل رسولی شي، همدارنګه ماهر سپور څناور په آرام سره بيايي او نابلده سپور څناور ته تکليف ورکوي، همدا حال د جامې اغوستونکي هم دی، نو ځکه کله چې يو خاص کس معلوم کړي وروسته د دې مخالفت وکړي نو دا خبره د شرط خلاف شوه اوس هغه څناور او جامه د مستاجر په لاس کې امانت پاتې نشوه، بلکې ضمانت شوه نو ځکه يې په هلاک کيدو باندې د څناور تاوان ورکول دې ترڅو چې کوم نقصان شوی وي هغه پوره کړی شي.

دريمه مسئله: که چيرته مستاجر کوم څناور په کرايه باندې ونيو او په هغه باندې د بوج راوړل دې هغه قسم او مقدار بيان کړي مثلاً شرط ولګوي چې پنځه قفيزه غنم پرې راوړم نو اوربشې پرې راوړی شي ځکه چې اوربشې په نقصان ورکولو کې له غنمو کمې دي، همدارنګه مسور هم پرې راوړی شي ځکه چې دا په نقصان کې له غنمو سره برابر دي، البته هغه شی د کومو بوج چې له غنمو زيات سخت وي لکه مالګه اوسپنه او وغيره دا شيان څناور ته زيات نقصان رسوي، همدارنګه موجر په دې راضي هم ندی نو ځکه دا شيان نشي پرې راوړی.

وَإِنِ اسْتَأْجَرَهَا لِيَرْكَبَهَا فَأَرْدَفَ مَعَهُ رَجُلًا آخَرَ فَعَطِبَتْ ضَمِنَ نِصْفَ قِيمَتِهَا
او که يې په کرايه باندې ونيو څناور ترڅو چې په هغه باندې سپور شي او په څان پسې شاته بل کس هم سپور کړ او هغه هلاک شو نو د هغه د نيمايي قيمت ضمان به وي
إِنْ كَانَتِ الدَّابَّةُ تُطِيقُهُمَا وَلَا يُعْتَبَرُ بِالثِّقَلِ وَإِنِ اسْتَأْجَرَهَا لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا
که چيرته څناور د دواړو د وړلو طاقت ولري او بوج لره اعتبار نشته که يې په کرايه باندې ونيو څناور ترڅو چې راوړي په هغه باندې
مِقْدَارًا مِنَ الْحِنْطَةِ فَحَمَلَ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْهُ فَعَطِبَتْ ضَمِنَ مَا زَادَ مِنَ الثِّقَلِ
د غنمو يو مقدار ليکن راېې وړل په هغه باندې له دې زيات او هغه څناور هلاک شو نو ضامن دی څومره بوج چې زيات وي
فَإِنْ كَبَحَ الدَّابَّةَ بِلِجَامِهَا أَوْ ضَرَبَهَا فَعَطِبَتْ ضَمِنَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ
که يې کش کړ څناور له لګام څخه يا يې ووهلو او هغه هلاک شو نو ضامن شو د امام ابوحنيفة په نزد
وَقَالَ أَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ **وَمُحَمَّدٌ** رَحِمَهُ اللهُ **لَا يَضْمَنُ**
او صاحبينو ويلي دي چې نه ضامن کيږي

د لغاتو حل: اردف: شاته سپريدل، الثقل: بوج، **كبح الدابة باللجام**: د څناور د روړلو لپاره د لګام راکش کول

تشريح: په دې عبارت کې د قدوري صاحب څو مسئلو ته اشاره کړې ده:

اوله مسئله: څناور يې په اجرت باندې ونيو ترڅو چې په هغه باندې يو کس سپور شي او س يې په څان پسې دويم کس هم سپور کړ د کوم له امله چې څناور هلاک شو نو که چيرته څناور داسې وو چې د دواړو کسانو د پورته کولو طاقت يې درلود بيا هم هغه هلاک شو نو مستاجر د څناور د نيمايي قيمت ضامن شو، او که څناور داسې وو چې د دواړو کسانو د پورته کولو طاقت يې نه درلود نو مستاجر د ټول قيمت ضامن شو، او د کسانو په سپريدو کې د کسانو تعداد لره اعتبار دی په خپله د انسان وزن لره اعتبار نشته، څکه زياتره وخت د کم بوج والا انسان سپريدل د څناور د شا د تکليف باعث شي کله چې هغه په اس باندې د سپريدو له فن څخه ناخبره وي او څوک چې د آس سپريدو له فن څخه خبر وي د هغه وړل د څناور لپاره اسانه وي اګر که هغه دروند وي، نو څکه د سپرو بوج ته اعتبار نشته د هغو تعداد ته اعتبار دی.

دويمه مسئله: د قدوري امام رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې که چيرته يو چا څناور د غنمو راوړلو لپاره په کرايه باندې ونيو او د غنمو مقدار يې هم بيان کړ ليکن مستاجر له مقدار څخه زيات پرې راوړل مثلا

د سلو کیلو غنمو راوړلو خبره یې کړې وه او بیا یې د همدې شرط مخالفت وکړ یوسل پنځه ویشت کیلو یې بری راوړل نو په دې کې پنځه ویشت کیلو له اجازې پرته شول په دې شرط چې په څناور کې د همدومره بوج پورته کولو طاقت وي. اوس که چیرته څناور د همدې بوج له امله هلاک شو نو پنځه ویشت کیلو کوم چې زیات راوړل شوي دي د هغو حساب دې وکړي د قیمت ذمه وار مستاجر جوړیږي. مثلاً د څناور قیمت یوسل پنځه ویشت روپۍ وو نو په کرایه باندې نیوونکی د پنځه ویشت روپیو ذمه وار شو او باقي سل روپۍ د موجر ولاړې.

او که چیرته دومره بوج وو چې د هغه د پورته کولو طاقت نه وو نو د خلاف عادت بوج راوړلو د نه اجازت له امله د هلاک کیدو په صورت کې مستاجر د څناور د ټول قیمت ذمه وار کیږي

دریمه مسئله: یو چا څناور په کرایه باندې ونیو او هغه په سختۍ سره د خان طرفته له لګام (کیږي) څخه راکش کړه او وې دروله یا یې ووهله په کوم سره چې څناور هلاک شو نو په دې صورت کې د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد مستاجر ضامن کیږي. امام صاحب ویلي دي چې د لګام کش کولو حق د سلامتیا په شرط دی دا ډول د لګام کش کولو حق نشته په کوم سره چې څناور هلاک شي ده له احتیاط څخه کار نه دی اخیستی نو ځکه ضامن کیږي

صاحبینو ویلي دي چې د لګام کش د هغه ذاتي حق دی له دې پرته خو څناور درول کیدی نشي، نو ځکه دا تعدي نه ده. لهذا په کرایه والا باندې تاوان نه لازمیږي، د عام عرف په اعتبار سره کوم حقوق چې استعمال کړی شي اګر که څناور هلاک شي په هغه باندې تاوان نشته. ځکه چې په مشهوره طریقه د چلولو او درولو حق ورته حاصل وو. امام صاحب ویلي دي چې په مشهوره طریقه د کومو حقوقو استعمالولو چې اجازه ده هغه په دې شرط باندې ده چې څناور سالم پاتې شي هلاک نشي، که چیرته څناور هلاک شي نو د استعمال د حق باوجود ضامن کیږي، صاحب درمختار ویلي دي چې فتوی د صاحبینو په قول باندې ده او همدې طرفته د امام صاحب رجوع هم ثابته ده.

وَالْأُجَرَاءُ عَلَى ضَرْبَيْنِ أَجِيرٌ مُشْتَرَكٌ وَأَجِيرٌ خَاصٌّ فَالْمُشْتَرَكُ مَنْ لَا يَسْتَحِقُّ الْأُجْرَةَ
د اجیر دوه قسمونه دي اجیر مشترک او اجیر خاص اجیر مشترک هغه دی کوم چې د اجرت نه مستحق کیږي
حَتَّى يَعْمَلَ كَالصَّبَّاغِ وَالْقَصَّارِ وَالْمَتَاعُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ إِنْ هَلَكَ لَمْ يَضْمَنْ شَيْئًا
تر دې پورې چې هغه کار وکړي لکه رنګ ورکوونکی او دوبي او سامان امانت دی د هغه په لاس کې که چیرته هلاک شي نو نه ضامن کیږي د کوم شي
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ يَضْمَنُهُ وَمَا تَلِفَ بِعَمَلِهِ كَتَخْرِيقِ الثَّوْبِ
د امام صاحب په نزد او صاحبینو ویلي چې د سامان ضامن کیږي او څه چې تلف شي د هغه په عمل سره لکه څیرې کول د جامې

مِنْ دَقِّهِ وَزَلَقِ الْحَمَّالِ وَانْقِطَاعِ الْحَبْلِ الَّذِي يَشُدُّ بِهِ الْمُكَارِي الْحِمْلَ وَغَرَقِ السَّفِينَةِ
د وهلو له امله او د مزدور ستومانه کول او د هغې رسۍ کټ کول په کومه باندې چې په کرایه باندې ورکړې شوی بوج تړل شوی وي او د کښتۍ ډوبیدل
مِنْ مَدِّهَا مَضْمُونٌ إِلَّا أَنَّهُ لَايَضْمَنُ بِهِ بَنِي آدَمَ فَمَنْ غَرِقَ فِي السَّفِينَةِ
د رسۍ کشکولو له امله نو دا ټول مضمون دي مګر نه ضامن کیږي په دې سره انسان لهذا کوم چې ډوب شي په کښتۍ کې
أَوْ سَقَطَ مِنَ الدَّابَّةِ لَمْ يَضْمَنْهُ وَإِذَا فَصَدَ الْفَصَّادُ أَوْ بَزَّغَ الْبَزَّاغُ
یا ولویږي له سپرلۍ څخه نو د هغه نه ضامن کیږي که چیرته د رګ خلاصوونکي رګ خلاص کړ یا داغ لګوونکي داغ ولګولو
وَلَمْ يَتَجَاوَزِ الْمَوْضِعَ الْمُعْتَادَ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا فِيمَا عَطِبَ مِنْ ذَلِكَ وَإِنْ تَجَاوَزَهُ ضَمِنَ
او زیات یې نکړ له معتاد ځای څخه نو په دوی دواړو باندې ضمان نشته د هغو کوم چې په همدې سره هلاک شي او که چیرته یې زیات کړ بیا ضامن کیږي

د اجیر مشترک بیان

د لغاتو حل: الاجراء: د اجیر جمع ده مزدور، **الصباغ** رنګریز، **القصار**: دهوبي، **المتاع** سامان، **تخریق**: څیرې کول، مراد د هغه لرګي وهل دي په کوم چې دهوبي جامې وهي، **الحمال**: مزدور، **المکاری**: په کرایه باندې ورکوونکی، **السفینة** کښتۍ، **فصاد** جراح، **البزاغ** نشتر لګوونکی

تشریح والاجراء.......لم یضمنه د قدوري صاحب د اجیر دوه قسمونه بیان کړي دي

(۱) اجیر مشترک کوم چې د معلوم کس اجیر نوي لکه درزي، دهوبي کوم چې په خپل ځای ناست وي او کار کوي ده ته د کار په کولو اجرت ورکول کیږي، دا چې دی په یوه وخت کې د ډیرو خلکو کار کوي نو ځکه ورته اجیر مشترک ویل شوي دي

له اجیر مشترک سره که چیرته کوم شی هغه ته د کار کولو لپاره ایښودل شوي وو پرته له کوم تعدي او عام هلاکت له امله هلاک شي نو د امام ابوحنیفة رحمه الله مذهب دا ده چې دا د امانت کیدو له امله په اجیر باندې د هغه د ضایع کیدو هیڅ ضمان نشته

لیکن صاحبینو ویلي دي چې په دې وخت کې اجیر مشترک د خلکو د سامان په ساتلو کې له سستیا کار اخیستی او دا به د هغه معمول جوړ شي نو ځکه د عامې تباهي پرته صورت کې په همدا سې اجیرانو باندې په حفاظت کې د کوتاهي په بناء باندې تاوان واجیبږي ترڅو چې د مفاسدو دروازه وتړل

شي، همدارنګه حضرت علي رضي الله عنه ضمان لازم کړی وو په رنګريز او لوهار باندې او فرمايلي وو چې د خلکو لپاره ښه نده

واذا فصد الفصاد د ټول عبارت مفهوم له ترجمې څخه واضح دی، زيات وضاحت د تکرار باعث دی (عينى الهدايه)

وَالْأَجِيرُ الْخَاصُّ هُوَ الَّذِي	يَسْتَحِقُّ الْأُجْرَةَ	بِتَسْلِيمِ نَفْسِهِ	فِي الْمُدَّةِ	
او اجير خاص هغه دی	چې د اجرت مستحق کيږي	د ځان په سپارلو سره	په موده کې	

وَإِنْ لَمْ يَعْمَلْ	كَمَنِ اسْتَأْجَرَ	رَجُلًا	شَهْرًا	لِلْخِدْمَةِ	أَوْ لِرَعْيِ الْغَنَمِ	
اګر که يې کار نده کړی	لکه چې په مزدورۍ يې ونيسي	انسان	يوه مياشت	د خدمت لپاره	يا د ميږو څرولو لپاره	

وَلَا ضَمَانَ عَلَى الْأَجِيرِ الْخَاصِّ	فِيمَا تَلِفَ فِي يَدِهِ	وَلَا فِيمَا تَلِفَ
او نشته ضمان په اجير خاص	چې ضايع شي د هغه په لاس کې	او نه د هغه کوم چې تلف شي

مِنْ عَمَلِهِ إِلَّا أَنْ يَتَعَدَّى فَيَضْمَنُ وَالْإِجَارَةُ تُفْسِدُهَا الشُّرُوطُ كَمَا تُفْسِدُ الْبَيْعَ
د هغه په عمل سره مګر دا چې زياتی وکړي نو ضامن کيږي او اجاره فاسدوي شرطونه لکه څنګه چې فاسدوي بيعه

د اجير خاص بيان

تشريح والاجير الخاص......فيضمن : د قدوري صاحب د اجير خاص بيان کړی دی، اجير خاص د کوم چې دويم نام اجير واحد هم دی هغه ته ويل شوي کوم چې تر يوه معلوم وخت پورې صرف د يوه مستاجر کار کوي او کوم بل چا نکوي، لکه له سهاره تر ماښامه مزدور په اجرت باندې نيول کيږي، يا مثلا تر يوې مياشتې پورې د مالک خدمت به کوي، يا تر يوې مياشتې پورې د مالک بزې به څروي نو دغه اجير مشترک نده بلکې اجير خاص دی، د هغه حکم دا ده چې که کار کم وکړي که يې زيات وکړي يا يې ونکړي صرف له سهاره تر ماښام پورې مستاجر ته ځان وسپاري په دې سره هغه د اجرت مستحق دی

والاجارة الخ د قدوري صاحب ويلي دي چې اجاره د بيع په درجه کې ده نو څکه کوم شرطونه چې بيع فاسدوي هماغه شرطونه د اجاره عقد هم فاسدوي (د همدې شرطونو تفصيل د بيع په بيان کې تير شوی دی)

وَمَنِ اسْتَأْجَرَ عَبْدًا لِلْخِدْمَةِ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُسَافِرَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ عَلَيْهِ ذَلِكَ
چا چې غلام ونيو په اجرت باندې د خدمت لپاره نو د هغه لپاره روا نده چې هغه له ځان سره په سفر بوځي مګر که شرط کړي همدا

فِي الْعَقْدِ وَمَنِ اسْتَأْجَرَ جَمَلًا لِيَحْمِلَ عَلَيْهِ مَحْمِلًا وَرَاكِبَيْنِ إِلَى مَكَّةَ جَازَ

په عقد کې يو چا په اجرت ونيو اوښ چې په هغه باندې کجاوه کيږي او دوه کسان سپرلي، ورباندې وکړي تر مکې پورې نو روا ده

وَلَهُ الْمَحْمِلُ الْمُعْتَادُ وَإِنْ شَاهَدَ الْجَمَّالُ الْمَحْمِلَ فَهُوَ أَجْوَدُ وَإِنِ اسْتَأْجَرَ بَعِيرًا

او د هغه لپاره روا ده معتاده کجاوه او که چيرته د اوښ والا کجاوه ووينې نو ډيره ښه ده او که يې په اجرت باندې ونيو اوښ

لِيَحْمِلَ عَلَيْهِ مِقْدَارًا مِنَ الزَّادِ فَأَكَلَ مِنْهُ فِي الطَّرِيقِ جَازَ أَنْ يَرُدَّ عِوَضَ مَا أَكَلَ

چې يوسي په هغه باندې توښه يو مقدار بيا يې له هغه څه توښه وخوړه په لار کې نو روا ده د هغه لپاره چې هومره توره ورزياته کړي د هغې په عوض کې

متفرقه مسائل

تشريح: د قدوري صاحب په دې عبارت کې يو څو مسئلې بيان کړې دي:

ومن استاجر.........في العقد: که چيرته يو چا يو غلام يا کوم ازاد کس د خدمت لپاره نوکر وساتلو نو هغه پرته د هغه له رضا په سفر کې له ځان سره نشي بيولی، هو! د عقد اجاره کولو په وخت کې که دا شرط ولګوي چې له هغه سره به په سفر ځي بيا يې بيولی شي، ځکه په سفر کې مشقت وي په هغه کې خدمت کول مشکل دي. لهذا مطلق عقد هغه لره نه شامليږي.

ومن استاجر.......فهواجود؛ که چيرته يو چا تر مکې پورې د تللو لپاره يو اوښ په اجرت باندې ونيو چې په هغه باندې کجاوه کيږدي او دوه کسان ورباندې سپاره شي نو دا صورت روا دی او په مستاجر باندې ضروري ده چې په عام ډول کومه کجاوه چې په اوښ باندې اېښودل کيږي هغه کجاوه ورباندې کيږدي، چې نه زياته غټه وي او نه زيانه کوچنۍ وي بلکې د معمولي بوج والاوي، او که چيرته د اوښ والاکجاوه ووينې نو له سفر مخکې په رضامندۍ راشي نو ځکه يې ليدل بهتر دي.

وان استاجر بعيراالخ؛ که چيرته يوه کس يو اوښ په کرايه باندې ونيو چې په هغه باندې يو معلوم مقدار توښه تر فلانۍ ځای پورې يوسي بيا يې په لار کې لس کيلو وخوړه نو د هغه حق دی چې نور لس کيلو په اوښ باندې يوسي. ځکه چې د سل کيلو ورو خبره شوې وه، په لار کې لس کيلو کمه شوه نو د هغو په عوض کې د لسو کيلو حق يې شته دی

وَالْأُجْرَةُ لَا تَجِبُ بِالْعَقْدِ وَيُسْتَحَقُّ بِأَحَدِ ثَلَاثَةِ مَعَانٍ إِمَّا بِشَرْطِ التَّعْجِيلِ أَوْ بِالتَّعْجِيلِ مِنْ غَيْرِ شَرْطٍ

او اجرت نه واجبيږي په عقد سره او مستحق کيږي په درېو خبرو له کوم چا سره يا د بيړې شرط په لګولو سره يا پرته د بيړې له شرط لګولو

أَوْ بِاسْتِيفَاءِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ وَمَنِ اسْتَأْجَرَ دَارًا فَلِلْمُؤَجِّرِ
يا د معقود عليه په پوره کولو سره يو چا په کرايه ونيو کور نو په اجرت بانديږ د ورکوونکي حق دی
أَنْ يُطَالِبَهُ بِأُجْرَةِ كُلِّ يَوْمٍ إِلَّا أَنْ يُبَيِّنَ وَقْتَ الِاسْتِحْقَاقِ فِي الْعَقْدِ وَمَنِ اسْتَأْجَرَ بَعِيرًا
چې له هغه څخه د هرې ورځې اجرت وغواړي مګر دا که بيان کړي د استحقاق وخت په عقد کې چا چې اوښ په کرايه ونيو
إِلَى مَكَّةَ فَلِلْجَمَّالِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِأُجْرَةِ كُلِّ مَرْحَلَةٍ وَلَيْسَ لِلْقَصَّارِ وَالْخَيَّاطِ
تر مکې پورې نو د اوښ والا لپاره روا دي چې وغواړي د هر منزل کرايه نشته د دوبي او د درزي لپاره
أَنْ يُطَالِبَ بِالْأُجْرَةِ حَتَّى يَفْرُغَ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ التَّعْجِيلَ
چې وغواړي اجرت تردې پورې چې فارغ شي له کار څخه مګر دا که شرط ولګوي د پيشګي
وَإِنِ اسْتَأْجَرَ خَبَّازًا لِيَخْبِزَ لَهُ فِي بَيْتِهِ قَفِيزَ دَقِيقٍ بِدِرْهَمٍ لَمْ يَسْتَحِقَّ الْأُجْرَةَ
يو چا په اجرت بانديږ ونيو د ډوډۍ پخونکی ترڅو چې پخه کړي د هغه لپاره د هغه په کور کې ډوډۍ د يوه قفيز اوړو څخه په يو درهم نو هغه د اجرت نه مستحق کيږي
حَتَّى يُخْرِجَ الْخُبْزَ مِنَ التَّنُّورِ وَمَنِ اسْتَأْجَرَ طَبَّاخًا لِيَطْبُخَ لَهُ طَعَامًا لِلْوَلِيمَةِ
تردې چې ډوډۍ له تنور څخه راوباسي يو چا اشپز په اجرت بانديږ ونيو د وليمې ډوډۍ پخولو لپاره
فَالْغَرْفُ عَلَيْهِ وَمَنِ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا لِيَضْرِبَ لَهُ لَبِنًا اسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ إِذَا أَقَامَهُ
نو په کاسه کې اچول په هغه بانديږ دي يو چا يو کس په اجرت ونيو چې د هغه لپاره خښتې جوړې کړي نو مستحق کيږي د اجرت کله يې چې ودروي
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ لَا يَسْتَحِقُّهَا حَتَّى يُشَرِّجَهُ
د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد او صاحبينو ويلي نه مستحق کيږي تردې چې له هغو امبار جوړ کړي

د استحقاق اجرت بيان

د لغاتو حل **استيفاء**: بشپړ وصول کول. **المؤجر**: په اجرت بلاندې ورکوونکی، په کرايه بانديږ ورکوونکی. **بعير**: د نهو کلونو يا د څلورو کلونو اوښ يا اوښه. **الجمال**: د اوښانو مالک يا ساربان. **مرحلة**: مسافه، منزل، د يوې ورځې سفر. **خباز**: نانبائي، د ډوډۍ پخونکی. **قفيز**: يوه پيمانه ده کومه چې د غله له قبيلې څخه دولس صاعه ده. او د ګز له قبيلې څخه يو سل څلور څلويښت شرعي ګزه ده. **الغرف**: په چمچې سره د کوم شي راوباسل

خلاصه : د قدوري صاحب په دې عبارت کې د کرايه او اجرت په باره کې اصول او يوشمير مسئلې بيان کړي دي

ويلي دي چې د اجرت او کرايه ادائيګي صرف د معامله په کولوسره نه واجبيږي، بلکې چې په درېو خيرو کې يوه وموندل شي نو اجرت ورکول واجبيږي

۱ : د معامله کولو په وخت کې شرط ولګول شي چې اجرت واخله

۲ : لومړی د ورکولو شرط نوي لګول شوی ليکن مستاجر خود بخود اجرت مخکې ورکړي

۳ : د مستاجر د پوره منفعت حاصلول. نو په مستاجر باندې اجرت ورکول واجب شول

مسئله : يوه کس له چا څخه کور په کرايه باندې ونيو او مياشتنی يا کلنی کرايه يې معلومه کړې نوه نو د کور مالک ته حق شته چې د هرې ورځې کرايه له مستاجر څخه وغواړي. هو ! که چيرته مياشتنی يا کلنی اجرت معلوم شوی وو نو بيا دې په مياشت يا کال کې وغواړي، ځکه د يوې شپې او ورځې نفع قابل شمار ده د کوم نفع چې مستاجر پوره کړې ده، نو ځکه د هرې ورځې جلا جلا اجرت غوښتلی شي، په هر ساعت (ګهنټه) کې يې نشي غوښتلی که نه نو پريشاني به جوړه شي

مسئله يو چا مکې ته د تلو لپاره اوښ په کرايه ونيو او معلومه يې نکړه چې د سفر له ختميدو وروسته به اجرت اخلي يا که په هر منزل به اجرت غواړي نو د اوښ والا لره حق شته چې په هر هر منزل باندې جلا جلا اجرت وغواړي

نوټ : که چيرته په کوم ځای کې عرف (رواج) دا وي چې له سفر مکمل کيدو وروسته اجرت ورکوي يا د سفر له مکمل کيدو وروسته د اجرت ورکول معلوم کړی شي نو د سفر له مکمل کيدو وروسته اجرت غوښتلی شي

مسئله : خياط او دوبي چې ترڅو پورې کار مکمل نکړي تر هغه د اجرت غوښتلو حق نلري، هو ! که چيرته مخکې د اجرت اخيستو شرط ولګوي نو اخيستی شي، ځکه چې په مينځ کې کپړه د نفع اخيستو قابله نده بلکې کپړه په مينځ کې نور زياته ګنده کيږي نو ځکه د کار له مکمل کيدو وروسته اجرت ورکول کيږي، که چيرته د پيشکي شرط ولګوي نو د مستاجر په رضامندي سره يې مخکې هم اخيستی شي

مسئله : له تنور څخه له راوباسلو مخکې خام اوره (اتام) دې ډوډۍ نده، چې پخه شي له تنور څخه له راوباسلو وروسته ډوډۍ جوړيږي، نو ځکه له تنور څخه له راوباسلو مخکې د اجرت مستحق نه جوړيږي، که چيرته له راوباسلو مخکې وسوځيږي يا د هغه له لاس څخه ولويږي نو چونکه له سپارلو مخکې هلاکه شوه نو د نان بائی لپاره د هغې په حساب سره اجرت ساقط کيږي. او که چيرته ډوډۍ د باندې راوباسي بيا د هغه له تعدي پرته وسوځيږي نو هغه ته اجرت ورکول کيدی شي او هيڅ تاوان نه لازميږي

مسئله اشپز یې د ولیمې ډوډۍ پخولو لپاره په اجرت باندې ونیو نو د ډوډۍ له پخولو وروسته د خوراک له لوښي څخه را وباسل د هغه ذمه واري ده، د مصنف په معاشره کې همدا ډول عرف رواج دی، چیرته چې کوم رواج نه وي هلته د خوراک په پخولو سره د اشپز ذمه واري پوره کیدی شي

مسئله د خښتو جوړولو لپاره یې یو کس په اجرت باندې ونیو نو د امام صاحب په نزد د خښتو له وچیدو وروسته کله یې ودروي نو د هغه کار پوره شو اوس هغه د اجرت مستحق دی، ځکه چې خښتې د ګټې قابل جوړې شوې، د هغو د دیوال په شکل درول دا زیات کار دی د خښتو جوړونکي ذمه واري نده، همدا مذهب د ائمه ثلاثه ؤ دی، صاحبینو ویلي دي چې په عام عرف کې د خښتو امبار جوړول او د دیوال په شان یې درول هم شامل دي نو ځکه د امبار له جوړولو وروسته د اجرت مستحق کیږي

تشریح اجیر د خپل اجرت کله مستحق کیږي؟ په دې سلسله کې د احنافو او شافعیانو اختلاف دی. د احنافو په نزد اجیر په نفس عقد سره د اجرت مستحق کیږي یعنې مالک کیږي نه بلکې په درېو شیانو کې د یوه موندل ضروري دي لکه چې په خلاصه کې تیر شول

او د امام شافعي په نزد په نفس عقد سره اجیر د اجرت مستحق شوی دی، امام احمد هم د دې قائل دی (عیني، الجوهره)

وَإِذَا قَالَ لِلْخَيَّاطِ إِنْ خِطْتَ هَذَا الثَّوْبَ فَارِسِيًّا فَبِدِرْهَمٍ وَإِنْ خِطْتَه رُومِيًّا
او که یې خیاط ته وویل که چیرته تا دغه کپړه په فارسي طرز وګنډله نو یو درهم دی او که دې په رومي طرز وګنډله
فَبِدِرْهَمَيْنِ جَازَ وَأَيَّ الْعَمَلَيْنِ عَمِلَ اِسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ وَإِنْ قَالَ إِنْ خِطْتَهُ الْيَوْمَ
نو دوه درهم دی روا ده اوس چې کوم ډول عمل وکړي د هغه د اجرت مستحق کیږي او که یې وویل که مو وګنډله نن ورځ
فَبِدِرْهَمٍ وَإِنْ خِطْتَهُ غَدًا فَبِنِصْفِ دِرْهَمٍ فَإِنْ خَاطَهُ الْيَوْمَ فَلَهُ دِرْهَمٌ
نو یو درهم دی او که مو سبا وګنډله نو نیم درهم دی د چیرته یې نن وګنډله نو د هغه لپاره یو درهم دی
وَإِنْ خَاطَهُ غَدًا فَلَهُ أُجْرَةُ مِثْلِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَلَا يَتَجَاوَزُ بِهِ نِصْفَ دِرْهَمٍ
او که یې سبا وګنډله نو د هغه لپاره اجرت مثل شو د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزد او نه زیاتیږي له نیم درهم څخه
وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ الشَّرْطَانِ جَائِزَانِ وَأَيُّهُمَا عَمِلَ اِسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ
او ویلي دي صاحبینو چې دواړه شرطونه روا دي او کوم ډول کار چې وکړي د هغه د اجرت مستحق کیږي
وَإِنْ قَالَ إِنْ سَكَّنْتَ فِي هَذَا الدُّكَّانِ عَطَّارًا فَبِدِرْهَمٍ وَإِنْ سَكَّنْتَه حَدَّادًا فَبِدِرْهَمَيْنِ جَازَ
که یې وویل که چیرته په دې دوکان کې د عطرو والا پاتې کیږي نو په میاشت کې به یو درهم وي او

که چيرته لوهار پاتې کيږي نو دوه درهم به وي نو دا روا ده
وَأَيَّ الْأَمْرَيْنِ فَعَلَ اِسْتَحَقَّ الْمُسَمّٰى فِيهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ
او په دواړو معاملو کې چې کومه يوه وکړي د هغې د اجرت مستحق کيږي د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد
وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ اَلْإِجَارَةُ فَاسِدَةٌ
او صاحبينو ويلي دي چې دا اجاره فاسده ده

په دوه شرطونو کې په يوه شرط باندې د اجارې کولو بيان

تشريح د قدوري صاحب په دې عبارت کې يوشمير مسائل ذکر کړي دي، د هرې يوې مسئلې صورت له ترجمې څخه معلوم شوي دي، د ضرورت په اندازه وضاحت يې لاندې هم کيدی شي

واذا قال....... استحق الاجرة دا مسئله د احنافو په نزد روا ده، د امام زفر او ائمه ثلاثه په نزد په دې شرط باندې اجاره فاسده ده.

وان قال........ استحق الاجرة د مسئلې صورت دا ده چې د اجرت لپاره يې دوه جلا جلا انداز غوره کړل او د دواړو لپاره يې جلا جلا اجرت معلوم کړ نو په کوم انداز سره چې کار وکړي په هماغه انداز سره اجرت ورکول کيږي او داسې کول روا دي، مثلا ووايي د چيرته تا چپن د فارسي په طرز باندې وګنډله نو اجرت يو درهم شو او که د روميانو په طرز دې وګنډله نو اجرت دوه درهم شو، په دې کې هيڅ جهالت نشته نو ځکه اجاره سهي ده، د امام زفر او ائمه ثلاثه په نزد په دغه شرط باندې اجاره فاسده ده ځکه چې معقود عليه في الحال مجهوله ده.

مسئله : يو چا خياط ته داسې وويل که مو نن وګنډله نو يو درهم اجرت به وي او که مو سبا وګنډله نو نيم درهم اجرت به وي نو امام صاحب ويلي دي که يې نن وګنډله نو يو درهم به ورکول کيږي او که يې سبا وګنډله نو نيم درهم به نه ورکول کيږي بلکې په بازار کې د همدې کپړې د ګنډلو چې کوم اجرت کيدی شي هغه اجرت به ورکول کيږي البته هغه به هم له نيم درهم څخه زيات نوي، ځکه امام صاحب ويلي دي چې نن يې وګنډي نو يو درهم دا د بيړې (تلوار) له امله دي نو ځکه اجاره سهي شوه او په نن ګنډلو سره يو درهم ورکول کيږي، ليکن که يې وويل چې سبا يې وګنډې نو نيم درهم اجرت به وي دا د تعليق لپاره ده او چې اجاره معلق کړی شي نو خبره نه طی کيږي نو ځکه اجاره فاسده شوه او کله چې اجاره فاسده شوه نو قاعده دا ده چې په بازار کې کوم اجرت کيدلی شي هغه به ورکول کيږي، نو ځکه د بازار اجرت وروړل کيږي، ليکن د سبا په ګنډلو باندې د دواړو ترمينځ نيم درهم طی شوی نو ځکه به د بازار اجرت هم له نيم درهم څخه زيات نوي

د صاحبينو مذهب : که د نن شرط ولګوي که د سبا ولګوي دواړه شرطونه سهي دي، نو ځکه چې کوم عمل وکړي د شرط مطابق هماغه اجرت ورکول کيږي

وَمَنِ اسْتَأْجَرَ دَارًا كُلَّ شَهْرٍ بِدِرْهَمٍ فَالْعَقْدُ صَحِيحٌ فِي شَهْرٍ وَاحِدٍ وَفَاسِدٌ فِي بَقِيَّةِ الشُّهُورِ
یو چا په کرایه باندې ونیو کور هره میاشت د یوه درهم په بدل کې نو عقد سهي دی په یوه میاشت کې اوفاسدېږي په نورو میاشتو کې
إِلَّا أَنْ يُسَمِّيَ جُمْلَةَ الشُّهُورِ مَعْلُومَةً فَإِنْ سَكَنَ سَاعَةً مِنَ الشَّهْرِ الثَّانِي صَحَّ الْعَقْدُ فِيهِ
مگر دا چې میاشتې معلومې کړي اوس که چیرته پاتې شو مستاجر یو ساعت په دویمه میاشت کې نو په هغې کې هم عقد سهي شو
وَلَمْ يَكُنْ لِلْمُؤَجِّرِ أَنْ يُخْرِجَهُ إِلَى أَنْ يَنْقَضِيَ الشَّهْرُ وَكَذَلِكَ حُكْمُ كُلِّ شَهْرٍ
او نشته د موجر لپاره روا نده چې مستاجر وباسي تردې چې میاشت تیره شي او همدارنگه حکم دی د هرې هغې میاشتې
يَسْكُنُ فِي أَوَّلِهِ يَوْمًا أَوْ سَاعَةً وَإِذَا اسْتَأْجَرَ دَارًا شَهْرًا بِدِرْهَمٍ فَسَكَنَ شَهْرَيْنِ
چې پاتې شي د هغې په شروع کې یوه ورځ یا یو ساعت او کله یې چې په کرایه باندې ونیو یو کور د یوې میاشتې لپاره د یوه درهم په بدل کې بیا وه اوسیده په هغه کې دوه میاشتې
فَعَلَيْهِ أُجْرَةُ الشَّهْرِ الْأَوَّلِ وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ مِنَ الشَّهْرِ الثَّانِي وَإِنِ اسْتَأْجَرَ دَارًا سَنَةً
نو په هغه باندې د اولې میاشتې کرایه شوه او په هغه باندې هیڅ لازم ندي د دویمې میاشتې او کله یې چې په کرایه باندې ونیو کور د ټول کال لپاره
بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ جَازَ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ قِسْطَ كُلِّ شَهْرٍ مِنَ الْأُجْرَةِ
په لس درهم باندې نو روا دی اگر که نوي متعین شوی د هرې میاشتې اجرت

د کور د کرایه احکام

تشریح د قدوري صاحب د کور د کرایه متعلق څو مسئلې بیان کړې دي:

وص استاجر ...... یوما او ساعة: یوه کس یو کور ماهانه په یو درهم کرایه باندې ورکړ نو اجاره صرف په یوه میاشت کې سهي شوه او په باقي میاشتو کې فاسد د کور والا په را روانه میاشت کې په کرایه باندې له ورکولو انکار کولی شي، همدارنگه کرایه دار را روان میاشت د اجرت له ورکولو انکار کولی شي، هو! که چیرته ټولې میاشتې معلومې کړي نو په ټولو کې اجاره سهي کیږي. مثلا دوه میاشتې معلوم شول نو د دوه کلونو اجاره وشوه، خکه کله چې کلمه د (کل) په داسې شیانو باندې داخله شوه د کومو چې هیڅ انتهاء نوي نو د هغو په عموم د عمل متعذر کیدو له امله د فرد واحد طرفته

ورګرځي او يوه مياشت معلومه ده نو اجاره په يوه مياشت کې سهي شوه او د ټولو مياشتو په معلومولو سره چونکه ټوله موده معلوميږي نو ځکه په ټولو مياشتو کې اجاره سهي شوه

که چېرته مستاجر په را روانه مياشت کې اوسيدل شروع کړي او د کور والا څه ونه وايي نو دا له نوي سره اجاره ګڼل کيږي لکه د تعاطي بيع په اشارو اشارو کې دی د را رواني مياشتې اجاره وشوه ګوا که چې په کرايه ورکوونکی هم په دې کرايه باندې راضي دی او نيوونکی هم. او په دغه ټوله مياشت کې کرايه دار نشي وباسلی

همدارنګه څومره مياشتې چې له انکار پرته اوسي هره مياشت نوې اجاره کيږي، لهذا کله چې د هرې مياشتې په شروع کې يوه ورځ يا يو ساعت پاتې شي نو د کور والا رضامندي ګڼل کيږي او د را روانې مياشتې اجرت معلوميږي، او کومه ورځ چې کرايه ورکوونکی يا کرايه اخيستونکی انکار وکړي په هماغه ورځ اجاره ختميږي

مسئله ؛ يوه کس يو کور د ټول کال لپاره په لس درهم په کرايه باندې ونيوه، دا چې ماهانه څو روپۍ شوې دا يې معلومه نکړه بيا هم اجاره سهي ده. ځکه ټوله موده معلومه شوې او ټول اجرت هم معلوم شوی او هيڅ جهالت نده پاتې شوی نو ځکه روا ده اګر که د هرې مياشتې قسط بيان نکړي. او که يو ځاى معلومول وي نو حساب دې وکړي نو د هرې مياشتې قسط دری اتې پيسې شوې

وَيَجُوزُ أَخْذُ أُجْرَةِ الْحَمَّامِ وَالْحَجَّامِ وَلَا يَجُوزُ أَخْذُ أُجْرَةِ عَسْبِ التَّيْسِ وَلَا يَجُوزُ الِاسْتِئْجَارُ
او روا دي د حمام او د ښکر لګولو اجرت اخيستل او نده روا د نر په ښخه باندې د سپرولو اجرت اخيستل او روا ندي اجرت اخيستل
عَلَى الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ وَالْحَجِّ وَلَا يَجُوزُ الِاسْتِئْجَارُ عَلَى الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ وَلَا يَجُوزُ إِجَارَةُ الْمُشَاعِ
په آذان اقامت د قرآن په تعليم او په حج کولو باندې او روا نده اجرت اخيستل په سندرو او نوحه کولو باندې او روا نده د مشترک شي په اجاره باندې ساتل
عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ إِجَارَةُ الْمُشَاعِ جَائِزَةٌ وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الظِّئْرِ
د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد او صاحبينو ويلي دي چې د مشترک شي اجاره روا ده او روا ده د شيدو ورکوونکې په اجرت باندې نيول
بِأُجْرَةٍ مَعْلُومَةٍ وَيَجُوزُ بِطَعَامِهَا وَكِسْوَتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَلَيْسَ لِلْمُسْتَأْجِرِ
په معلوم اجرت سره او روا ده د هغې د خوراک او څښاک په بدل د امام صاحب په نزد او روا نده د مستاجر لپاره
أَنْ يَمْنَعَ زَوْجَهَا مِنْ وَطْئِهَا فَإِنْ حَبِلَتْ كَانَ لَهُمْ أَنْ يَفْسَخُوا الْإِجَارَةَ إِذَا خَافُوا عَلَى الصَّبِيِّ
چې منع کړي د هغې ميړه له کوروالي کولو څخه بيا که چېرته هغه حامله شوه نو هغه ته اختيار دی

چې اجاره فسخ کړي کله چې هغه ته د ماشوم متعلق ویره وي

مِنْ لَبَنِهَا وَعَلَيْهَا أَنْ تُصْلِحَ طَعَامَ الصَّبِيِّ فَإِنْ أَرْضَعَتْهُ فِي الْمُدَّةِ بِلَبَنِ شَاةٍ فَلَا أَجْرَ لَهَا

د هغې له شیدو څخه او پرې لازم ده چې د ماشوم خوراک سم کړي او که یې ورکړي ماشوم ته په اجاره کې د میږې شیدې نو د هغې لپاره اجرت نشته

هغه کارونه د کومو په تر سره کولو باندې چې د اجرت اخیستل روا دي یا ناروا دي

تشریح: د قدوري صاحب په دې عبارت کې یوشمیر مسائل ذکر کړي دي په کومو کې چې په ځینو کې د اجرت اخیستل روا دي او په ځینو کې روا ندي:

ویجوز...... التیس: په پخوانی زمانه کې د حمام (غسل خانه) په کرایه باندې ورکول کیدل ترڅو چې خلک ورشي او په هغه کې غسل وکړي، اوس موږ د دوه شیانود اصولو خلاف یو. یو دا چې په حمام کې د پاڼې کیدو موده معلومه نده، دویم دا چې یو انسان څومره اوبه استعمالوي، د دې تعین نده شوی او دا دواړه معامله د کرایه داري معامله فاسد کوونکې دي، مګر فقهاؤ د عرف او عادت په بناء باندې همدا اجاره روا ګڼلې ده، او د ښکر لګولو اجرت اخیستل هم روا دي، رسول الله ﷺ په خپله ښکر ولګولو او هغه ته یې اجرت هم ورکړ، له همدې امله د جمهورو علماؤ په نزد د هر یوه لپاره روا دي، لیکن دا کومه د ښه دنده نده، څکه چې په دې کار کې انسان همیشه په نجاست کې مبتلا اوسیږي، څکه چې حجام په خپله خوله د انسان له بدن څخه ناپاکه وینه راکش کوي د کوم له امله چې د هغه خولې ته هم وینه راځي نو څکه په دغه دنده کې یو ډول خباثت دی نو څکه د دندې په بناء دا کار باید خوښ نکړی شي.

ولایجوز الاستیجار...... والحج: آذان، تکبیر، د قرآن تعلیم، حج همدارنګه امامت، د فقهې تعلیم وغیره د اجرت په اخیستو کې د فقهاؤ په مینځ کې اختلاف دی، اصل مسئله خو دا ده چې د متقدمینو اصحاب د مذهب په نزد چې د قرآن کریم په تعلیم یا تلاوت امامت او وغیره عباداتو باندې د اجرت لین دین مطلقا ناروا دی، لیکن متاخرینو د فساد زمانه له امله او د عام ضرورت په نظر کې نیولو له امله د تعلیم او تعلم سلسله د قطع کیدو او د دین د ضایع کیدو له ویرې د قرآن په تعلیم باندې اجرت اخیستل مباح ګڼلي، همدارنګه آذان او اقامت هم د ضروت په بنیاد باندې د اجازه د صحت قول یې کړی دی دا د مسئلې اصل نوعیت دی، مګر صاحب السراج الوهاج والجوهرة النیرة دوکه شوي او دوی محض د قرآن تلاوت د اجرت جواز د متاخرینو مفتی به قول ګڼلی، له دوی وروسته چې څومره مصنفین راغلي هغوی زیاتره د دوی تایید او نقل کړی دی، تردې چې ځینو تردې خبره کړې چې متاخرین مطلقا په اطاعت باندې د اجرت اخیستو قائل دي، او ځینو دا تخریج کړی چې په اجرت باندې حج ته د لیږلو معامله هم روا ده، حالانکه دا ټول تفصیل غلط دی، د اجاره جواز د قرآن له تعلیم سره دی نه له تلاوت سره، او متاخرینو د اجاره علی الطاعت له حرمت چې کوم شیان مستثنی کړي په

هغو کې تلاوت داخل ندی، ځکه چې د اباحت مدار په ضرورت باندې دی کوم چې په تعليم تعلم اذان او اقامت کې موندل کيږي، مګر په تلاوت محضه کې دا مبيحه ضرورت محقق ندی، بلکې په اجرت باندې د تلاوت په روا ګڼلو کې نورې ډيرې زياتې خرابی موندل کيږي، مثلا په دې بناء قرآن د ګټې کولو ذريعه جوړ شوی دی، او د الله کلام يو کس د رياکارۍ او دنيادارۍ په ډول وايي وغيره وغيره

ولايجوز اجارة المشاع...... **جائزة** د مشترک شي د اجاره متعلق د فقهاؤ اختلاف دی، د زيد او خالد په مينځ کې يو کور مشترک دی، تراوسه ويشل شوی ندی، زيد خپله برخه په اجرت باندې ورکول غواړي او خالد يې نه غواړي، نو د امام صاحب په نزد روا نده او د صاحبينو په نزد د مشترک شي په اجرت ورکول روا دي

د امام صاحب دليل: کله چې د خالد برخه له زيد سره ده نو زيد کرايه دار ته خپله برخه نشي سپارلی د کوم له امله چې کرايه دار ګټه نشي ترې پورته کولی، لهذا د مشترک شي په بشپړ ډول سپارل ممکن ندي نو ځکه دا اجاره سهي نشوه

د صاحبينو دليل؛ د اجاره دار مدار په نفع باندې ده او په مشترک کې منفعت شتون لري

نوټ ؛ که چيرته دواړه شريکان يو ځای يې په اجرت ورکړي نو روا ده، ځکه چې اوس کرايه ته په مکمل ډول سپارل ممکن دي

ويجوز استيجار الظئر...... رَحِمَهُ اللهُ ماشوم ته د شيدو ورکولو لپاره که ښځه په اجرت ونيول شي او معلوم اجرت ورکړي نو روا ده، ځکه چې په آيت کې د دې ثبوت شته دی ﴿فان ارضعن لکم فاتوهن اجورهن﴾ يعنې که چيرته هغوی ستاسو لپاره شيدې درکړي نو تاسو هغو ته اجرت ورکړئ، له دې آيت ځخه د اجرت ورکولو روا معلوم شوی دی، همدارنګه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بي بي حليمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د اجرت په بدل کې شيدې ورکړې وې

وَكُلُّ صَانِعٍ لِعَمَلِهِ أَثَرٌ فِي الْعَيْنِ كَالْقَصَّارِ وَالصَّبَّاغِ فَلَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْعَيْنَ بَعْدَ الْفَرَاغِ
او هر هغه کاريګر د کوم د عمل اثر چې ښکاره شي په شي کې لکه دوبي او رنګريز نو د هغه حق دی چې منع کړي عين شی له فارغ کيدو وروسته
مِنْ عَمَلِهِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْأُجْرَةَ وَمَنْ لَيْسَ لِعَمَلِهِ أَثَرٌ فِي الْعَيْنِ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْعَيْنَ
د خپل عمل تر دې پورې چې واخلي خپل اجرت او د چا د عمل اثر چې ښکاره نشي په شي کې نو د هغه لپاره حق نشته چې منعه کړي عين شی
كَالْحَمَّالِ وَالْمَلَّاحِ وَإِذَا شَرَطَ عَلَى الصَّانِعِ أَنْ يَعْمَلَ بِنَفْسِهِ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَعْمِلَ غَيْرَهُ
لکه د بوج پورته کوونی او ملاح که چيرته شرط ولګوي په کاريګر باندې دا چې کار به په خپله کوي نو د هغه لپاره روا نده چې په بل چا يې وکړي

فَإِنْ أَطْلَقَ لَهُ الْعَمَلَ فَلَهُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ مَنْ يَعْمَلُهُ
او كه يې عمل مطلق وښود نو هغه مزدور ساتلی شي هغه كوم چې همدا كار وكړي

هغه صورتونه په كومو كې چې د اجير لپاره د عين شي منعه كول روا دي

د لغاتو حل : **صانع** كاريګر، مراد اجير دی، **القصار** دهوبي، **الصباغ** رنګريز، د كپړې رنګوونكی، **يستوفي** پوره وصول كول، **يحبس** منعه كول، بندول، **الحمال** د بوج پورته كوونكی

خلاصه د قدوري صاحب داسې اصول بيان كړي دي د كومو په رڼا كې چې په اجرت باندې د كار كوونكو مقرره معاوضه د ترلاسه كولو لپاره اصل شی له ځان سره ساتلی شي

ويلې دي چې د كوم كاريګر د كار اثر چې په عين شي كې ښكاره شي لكه د رنګريز عمل چې جامه له خپل رنګ څخه بل رنګ ته بدلوي او كپړه رنګينه كيږي، يا د دوبي عمل چې په سوډه او صابن سره سره جامې صفا كوي او د هغه د عمل اثر په جامو كې ښكاره كيږي، داسې كاريګر لره حق شته چې د كار له پوره كولو وروسته د اجرت اخيستو لپاره هغه شی له ځان سره وساتي او ترڅو پورې چې اجرت وانخلي جامه واپس نكړي، ځكه چې د رنګريز خپل رنګ دی، د دوبي خپل صابن دی او د خپل شي د منعه كولو حق شته. اوس كه له منعه كولو وروسته هغه شی هلاک شي نود امام صاحب په نزد په اجير باندې تاوان نه لازميږي، ځكه چې د ده له طرفه هيڅ تعدي نده شوې، لكه څرنګه چې هغه شی مخكې امانت وو همداغسې باقي دی، ليكن اجير ته به اجرت نه وركول كيږي، ځكه چې معقود عليه له سپارلو مخكې هلاكه شوه، د صاحبينو په نزد چونكه شی له منعه كولو مخكې مضمون وو نو له منعه كولو وروسته هم مضمون شو، البته مالک لره اختيار دی كه وغواړي د هغه د قيمت تاوان دې وغواړي كوم چې له عمل څخه مخكې وو او اجرت دې نه وركوي، او كه وغواړي د هغه د قيمت تاوان دې واخلي كوم چې له عمل وروسته دی او مزدوري دې وركړي

تشريح : **وكل صانع** .... **والملاح** په دغه عبارت كې د معلومې شوې معاوضه د ګرځولو دوه صورتونه ذكر شوي دي په كومو كې چې يو روا دی او دويم ناروا دی، امام زفر رحمه الله ويلې دي چې په دواړو صورتونو كې اجير ته د اصل شي د منعه كولو اختيار نشته دی

وَإِذَا اخْتَلَفَ الْخَيَّاطُ وَالصَّبَّاغُ وَصَاحِبُ الثَّوْبِ فَقَالَ صَاحِبُ الثَّوْبِ لِلْخَيَّاطِ أَمَرْتُكَ
او چې كله جګړه شي د د خياط رنګريز او د كپړې والا په مينځ كې او وواېي د كپړې والا خياط ته چې ما تاته حكم كړی وو
أَنْ تَعْمَلَهُ قَبَاءً وَقَالَ الْخَيَّاطُ قَمِيصًا أَوْ قَالَ صَاحِبُ الثَّوْبِ لِلصَّبَّاغِ أَمَرْتُكَ
چې قباء جوړه كړه خياط وويل د قميص دې ويلي وو يا د كپړې والا رنګريز ته وويل چې ما تاته حكم كړی وو

أَنْ تَصْبُغَهُ أَحْمَرَ فَصَبَغْتَهُ أَصْفَرَ فَالْقَوْلُ قَوْلُ صَاحِبِ الثَّوْبِ مَعَ يَمِينِهِ فَإِنْ حَلَفَ
چې دېته سور رنګ ورکړه تا زیړ رنګ ورکړی دی نو خبره د کپړې والا معتبره ده د هغه له قسم سره او که چیرته هغه قسم وکړي
فَالْخَيَّاطُ ضَامِنٌ وَإِنْ قَالَ صَاحِبُ الثَّوْبِ عَمِلْتَهُ لِيْ بِغَيْرِ أُجْرَةٍ وَقَالَ الصَّانِعُ بِأُجْرَةٍ
نو خياط ضامن کيږي که چیرته د کپړې والا ووايي تا کار کړی زما لپاره له اجرت پرته کاريګر وايي چې په اجرت مې درته کړی
فَالْقَوْلُ قَوْلُ صَاحِبِ الثَّوْبِ مَعَ يَمِينِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ
د کپړې والاقول لره اعتبار دی سره له قسمه د امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد او امام ابويوسف رحمه الله وېلي
إِنْ كَانَ حَرِيفًا لَهُ فَلَهُ الْأُجْرَةُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ حَرِيفًا فَلَا أُجْرَةَ لَهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ
که چیرته د هغه همدا پيشه وه نو د هغه لپاره اجرت کیږي او که د هغه همدا پیشه نوه نو د هغه لپاره اجرت نکیږي او امام محمد رحمه الله وېلي
إِنْ كَانَ الصَّانِعُ مُبْتَذِلًا لِهٰذِهِ الصَّنْعَةِ بِالْأُجْرَةِ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ مَعَ يَمِينِهِ إِنَّهُ عَمِلَهُ بِأُجْرَةٍ
که چیرته د کاريګر همدا کار په اجرت سره په کولو کې مشهور وو نو د هغه خبره به منل کیږي د هغه له قسم سره چې هغه په اجرت سره کړی دی

د لغاتو حل: **حريف**: شريک، **متبذل**: مشهور، **الصنعة**: کار

خلاصه: د مالک او کاريګر (اجير) په مينځ کې اختلاف پيدا شو د کپړې والا ووېل چې ما د قباء ګنډلو درته وېلي وو او تا قميص ګنډلی دی خياط ووېل چې تا ماته د قميص ګنډلو وېلي وو او له خياط سره شاهد نشته دی او نه د کوم د خبرې د تصديق لپاره علامه شته دی نو اوس به د چا خبره منل کیږي؟ په دې باره کې د کتاب صاحب وېلي دي چې د کپړې والاخبره به له قسم سره منل کیږي، همدارنګه د کپړې والا او رنګريز په مابين کې جګړه شوه کپړې والا ووايي چې ما تاته د سره رنګ وېلي وو لېکن تا زيړ رنګ ورکړی دی او رنګريز ووېل چې تا د زيړ رنګ راته وېلي وو او له رنګريز سره ګواه او وغيره نشته نو د کپړې والاخبره له قسم سره منل کیږي

دليل: خياط او رنګريز مدعي دي دوی دعوه کوي چې موږ کوم کار کړی دی هغه سهي دی، موږ ته د اجرت راکول پکار دي او د کپړې والاد اجرت له ورکولو انکار کوي نو ځکه دی منکر دی، له مدعيانو سره د خپل خان د رښتونولي لپاره شاهدان نشته نو له همدې امله د کپړې والا يعني مدعی عليه خبره به له قسم سره منل کیږي، که چيرته هغه قسم وکړي نو خياط او رنګريز د نقصان ضامن دي

د کېږي والا وايي چې تا دغه کار زما لپاره له اجرت پرته کړی دی او د کار کوونکی وايي چې په اجرت مې درته کړی مفت مې نده کړی او له کار کوونکي سره هيڅ ګواه نشته نو د امام صاحب په نزد د کېږي والاقول معتبرېږي د هغه له قسم سره او د کار کوونکي ته اجرت نه ورکول کيږي

دليل : اجير کار کړی د اجرت دعوه يې کړې ده نو ځکه هغه مدعي شو او د کېږي والا انکار کړی دی نو ځکه هغه منکر شو او که چيرته له مدعي سره ګواه نه وو نو د منکر خبره له قسم سره منل کيدی شي نو ځکه د کېږي والاقول معتبر شو.

د امام ابويوسف مذهب : امام ابو يوسف ويلي دي که چيرته د همدې کاريګر پيشه همدا وي نو اجرت واجبيږي او که نوي نو نه واجبيږي، د پيشه مطلب دا ده چې هغه همدغه کار کوي. او يو مطلب دا ده چې د کېږي والاته يې مخکې هم يو ځل په اجرت باندې کار کړی وو نو ځکه يې کاريګر بللی وو چې د پخوا په شان دا ځل هم اجرت ورکړی شي

دليل : پيشه کيدل د دې خبرې دليل دی چې هغه په اجرت باندې کار کوي نو ځکه د همدې ظاهري دليل له امله هغه ته اجرت ورکول کيدی شي.

د امام محمد مذهب : که چيرته کاريګر د همدې پيشه دوکان خلاص کړی وي او په اجرت باندې په کار کولو کې مشهور وي نو د هغه خبره له قسم سره منل کيږي چې هغه په اجرت باندې کار کړی دی

دليل : مشهور کيدل د دې خبرې نښه ده چې د اجرت په بدل کې د کار کول دي مفت ندي، په درمختار کې د امام صاحب په قول باندې فتوی نقل شوې ده، او زيلعي په تبيين الحقائق او وغيره کې د امام محمد په قول باندې فتوی ليکلې ده.

وَالْوَاجِبُ فِي الْإِجَارَةِ الْفَاسِدَةِ أُجْرَةُ الْمِثْلِ لَا يَتَجَاوَزُ بِهِ الْمُسَمّٰى وَإِذَا قَبَضَ الْمُسْتَأْجِرُ
او واجب په اجاره فاسده کې اجرت مثل دی کوم چې نشي زياتيدلی له مسمی شوي او کله چې قبضه وکړه مستاجر
الدَّارَ فَعَلَيْهِ الْأُجْرَةُ وَإِنْ لَمْ يَسْكُنْهَا فَإِنْ غَصَبَهَا غَاصِبٌ مِنْ يَدِهِ سَقَطَتِ الْأُجْرَةُ
په کور باندې نو په هغه باندې کرايه واجب ده اګر که هغه پکې نه اوسيږي او که چيرته غصب کړ کور کوم غاصب د هغه له لاس څخه نو اجرت ساقطيږي
وَإِنْ وَجَدَ بِهَا عَيْبًا يَضُرُّ بِالسُّكْنٰى فَلَهُ الْفَسْخُ
او که چيرته پيدا شو په هغه کې داسې عيب کوم چې نقصان رسوونکی وي د اوسيدو لپاره نو کرايه لره د فسخ حق دی

خلاصه : د قدوري صاحب ويلي دي که چيرته له کومې وجهې اجاره فاسده شي نو اوس په بازار کې چې د همدې کار کوم اجرت کيدی شي هغه اجرت اجير ته ورکول کيږي دېته اجرت مثل ويل کيږي، ځکه کله چې اجاره فاسده شوه نو ګوا که د دوی دواړو په مابين کې کومه معامله نده شوې نو ځکه اوس دبازار په نرخ باندې اجرت ورکول کيږي. ليکن چونکه مخکې اجير په يوه معلوم اجرت باندې

راضي شوی دي نو له همدې امله که چیرته اجرت مثل له متعین اجرت څخه زیات وو نو اجرت مثل نه ورکول کیږي بلکې متعین شوی اجرت ورکول کیږي ځکه چې اجیر په کم اجرت باندې راضي شوی دی، ځکه که چیرته بیع فاسده شي نو په هغې کې د مبیع قیمت واجبیږي برابره که هر څومره وي، همدارنګه په اجاره فاسده کې هم اجرت مثل ورکول کیږي برابره ده که متعین شده زیات شي، د دې دلیل دار مدار په دې خبره باندې دی چې منافع د ائمه ثلاثه په نزد د اعیان په شان دي

ځواب: احنافو دا ویلي دي چې منافع اعراض دي، یعنې قائم بالغیر دي او اعراض دوه زمانې باقي نه پاتې کیږي او کوم شی چې دوه زمانې باقي نه پاتې کیږي هغه محرز کیدی نشي، یعنې هغه د وخت د ضرورت لپاره ذخیره کیدی نشي، او کوم شی چې غیر محرز وي هغه غیر مقوم وي، نتیجه دا راووتله چې منافع غیر مقوم دي، لیکن د عدد له امله مقوم شوي دي او په عقد کې په خپله متعاقدینو په متعین اجرت باندې اتفاق کړی زیات مقدار یې ساقط کړی نو ځکه زیات مقدار لره اعتبار نشته دی

تشریح **اجرة المثل** د اجرت مثل متعلق د احنافو مسلک بیان شوی، امام زفر رحمه الله او امام شافعي رحمه الله ویلي دي چې په اجاره فاسده کې اجیر ته اجرت مثل ورکول کیږي اګر که له اجرت مسمی زیات شي (هدایه)

وَإِذَا خَرِبَتِ الدَّارُ أَوِ انْقَطَعَ شِرْبُ الضَّيْعَةِ أَوِ انْقَطَعَ الْمَاءُ عَنِ الرَّحَى انْفَسَخَتِ الْإِجَارَةُ
که کور وران شي یا د کښت زمکې اوبه بندې شي یا د ژرندې اوبه بندې شي نو اجاره فسخ کیږي
وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ وَقَدْ عَقَدَ الْإِجَارَةَ لِنَفْسِهِ انْفَسَخَتِ الْإِجَارَةُ
او که په معامله کوونکو کې یو مړ شي او حال دا چې اجاره هغه د ځان لپاره کړې وه نو اجاره فسخ کیږي
وَإِنْ كَانَ عَقَدَهَا لِغَيْرِهِ لَمْ تَنْفَسِخْ وَيَصِحُّ شَرْطُ الْخِيَارِ فِي الْإِجَارَةِ كَمَا فِي الْبَيْعِ
او که اجاره د کوم بل چا لپاره وه نو نه فسخ کیږي او سهي دي خیار شرط په اجاره کې لکه چې سهي دی په بیع کې
وَتَنْفَسِخُ الْإِجَارَةُ بِالْأَعْذَارِ كَمَنِ اسْتَأْجَرَ دُكَّانًا فِي السُّوقِ لِيَتَّجِرَ فِيهِ فَذَهَبَ مَالُهُ
او فسخ کیږي اجاره د عذرونو له وجهې لکه یو چا په بازار کې دوکان په کرایه ونیو ترڅو چې په هغه کې تجارت وکړي بیا د هغه مال ضایع شو
وَكَمَنْ آجَرَ دَارًا أَوْ دُكَّانًا ثُمَّ أَفْلَسَ فَلَزِمَتْهُ دُيُونٌ لَا يَقْدِرُ عَلَى قَضَائِهَا إِلَّا مِنْ ثَمَنِ مَا آجَرَهُ
یو چا په کرایه باندې ورکړ کور یا دوکان بیا هغه مفلس شو او د هغه په ذمه دومره قرض شو د کوم په اداء کولو چې قدرت نلري مګر د هغه شي په قیمت سره کوم یې چې په کرایه باندې ورکړی دی

فَسَخَ الْقَاضِي الْعَقْدَ وَبَاعَهَا فِي الدَّيْنِ وَمَنِ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً لِيُسَافِرَ عَلَيْهَا
نو فسخ دې کړي قاضي عقد او خرڅ دې کړي هغه په قرض کې يو چا په کرايه باندې ونيو ځناور چې په هغه باندې سفر وکړي
ثُمَّ بَدَا لَهُ مِنَ السَّفَرِ فَهُوَ عُذْرٌ وَإِنْ بَدَا لِلْمُكَارِي مِنَ السَّفَرِ فَلَيْسَ ذٰلِكَ بِعُذْرٍ
بيا يې اراده بدله شوه نو دا هم عذر دی او که چيرته اراده بدله شي په کرايه باندې د ورکوونکي له سفر څخه نو دا عذر ندی

د اجاره فسخ کولو بيان

د لغاتو حل خربت : د کور ورانيدل، خرابيدل، **مشرب** : د اوبو حق، **الضيعة** : زمکه، **الرحی** : ژرنده، **السوق** : بازار، **بدا** : ښکاره کيدل، **مکاری** : اسم فاعل مصدر مکاراة په کرايه باندې ورکوونکي

خلاصه : د کومو امورو له وجهې عقد اجاره فسخ کيدی شي، د قدوري صاحب د دې بيان کړی دی مثلاً په کرايه باندې کور نيول شوی کور وران شو په کنډواله باندې بدل شو، يا زمکې ته د اوبو راتلو لار قطعه شوه، يا ژرندې ته اوبه راتلې هغه بيخي بندې شوې په کوموسره چې اوس ګټه کارې نشي کيدی نو څکه اجاره خود بخود ختم شوه.

د کور مالک او په کرايه دار کې يو مړ شو کله چې مستاجر اجاره د خپل ځان لپاره کړې وه د کوم بل چا وکيل يا وصي يا امير المومنين په جوړيدو سره يې عقد نه وو کړی نو په دې صورت کې اجاره فسخ کيږي، که چيرته په کرايه باندې ورکوونکی مړ شي نو څکه فسخ کيږي چې د هغه له مړينې وروسته شی مستاجر د ورثه ؤ کيږي، اوس که چيرته مستاجر له هغه نفع اخيستې وه نو د بل چا له ملکيت څخه نفع اخيستل لازم راغلل کوم چې روا ندي. او که چيرته مستاجر مړ شي نو اجاره څکه فسخ شوه چې په دې صورت کې د بل چا له ملکيت څخه د اجرت ادائيګي لازم راځي او دا هم روا ندي او که چيرته بې د وکيل يا وصي يا اميرالمومنين په جوړيدو د بل چا لپاره اجاره وکړه او دغه نور خلک موجود دي ليکن وکيل وصي وغيره مړ شو نو په دې صورت کې اجاره باقي پاتې کيږي

دليل : د کومو خلکو لپاره چې اجاره شوې هغه موجود دي او په دې صورت کې د نورو له ملکيت څخه د نفع پورته کيدل يا د غير له ملکيت څخه د اجرت د ادائيګي خرابي لازم نراځي، لکه په اول صورت کې چې خرابي وه، لهذا عقد اجاره باقي پاتې شو

که چيرته په عقد اجاره کې موجر يا مستاجر خيار شرط واخلي مثلاً داسې ووايي چې ماته درې ورځې اختيار دی زه معامله بر قرار ساتلی شم او ماتولی يې هم شم نو دا دواړو خيار اخيستل سهي دي، لکه څرنګه چې په بيع کې خيار شرط اخيستل کيدی شي همداسې دلته هم اجازت دی

دليل : اجاره عقد معاوضه دی د کوم لپاره چې په مجلس کې قبضه کول ضروري ندي نو د بيع په شان په دې کې هم خيار شرط سهي شو

د معامله کوونکي داسې عاجز کيدل چې که چيرته هغه اجاره باقي وساتي نو په هغه باندې داسې نقصان راځي کوم چې په هغه باندې په عقد اجاره سره لازم نه راتلو، مثلا مستاجر په بازار کې دوکان په کرايه باندې ونيو ترڅو چې په هغه کې تجارت وکړي، ليکن په وروسته کې د تجارت مال ضايع شو، اوس که چيرته دوکان په کرايه باندې نيسي نو بلا فايده په مستاجر باندې کرايه راځي، مستاجر چونکه د کرايه له امله په غټ آفت او مصيبت کې لويدلی نو ځکه اجاره ختمه شوه ترڅو چې انسان له سخت مشقت څخه وساتل شي، د ائمه ثلاثه ؒ په نزد اجاره پرته له کوم عيب فسخ کيدی نشي، لکه څرنګه چې بيع پرته له کوم عيب فسخ کيدی نشي.

يو کس کور يا دوکان په کرايه باندې ورکړ بدقسمتي يې دا وه چې هغه مفلس شو او په هغه باندې د خلکو دومره قرض شو چې د کور يا دوکان له خرڅولو پرته يې د قرض اداء کولو کومه بله لار نوه، نو په داسې صورت کې دې قاضي د اجاره عقد فسخ کړي او په کرايه باندې ورکړی شوی شیان دې خرڅ کړي او د هغو په قيمت سره دې د خلکو قرضونه اداء کړي، د صاحب کتاب له عبارت څخه دا خبره معلومه شوې چې د وخت واکمن دې د اجاره عقد ختم کړي په زيادات کې همداسې ذکر شوي، ليکن د جامع صغير له عبارت داسې معلومه شوې چې د قاضي پريکړې ته هيڅ ضرورت نشته دی

تشريح **ويصح شرط الخيار في الاجارة** د قدوري صاحب د احنافو مسلک بيان کړ، د امام احمد هم همداسې خيال دی، د امام شافعي په نزد په اجاره کې خيار شرط صحيح ندی

وتنفسخ الاجارة بالاعذار دا د حنفيانو مسلک دی، د ائمه ثلاثه په نزد اجاره له کوم عيب پرته فسخ کيدی نشي

فسخ القاضي عبارت ښودلې ده چې د وخت قاضي دې عقد اجاره ختم کړي، په زيادات کې هم همداسې دي، ليکن د الجامع الصغير عبارت ښودلې ده د وخت واکمن فيصلې ته ضرورت نشته

كِتَابُ الشُّفْعَةِ

د شفعه بيان

د کتاب صاحب له دې ځای څخه د شفعه بيان کړې دی، په اصل بحث کې له شروع کولو مخکې يوشمير تمهيدي خبرې بيانولی شي، د کومو پيژندل چې ضروري دي، چې عبارت دی د شفعه له لغوي تحقيق، اصطلاحي تعريف، د شفعه ثبوت او د شفعه حکمت

د شفعه لغوي تحقيق شفعه د فعلة په وزن باندې د مفعول په معنی کې ده، معنی يې ده نږديوالی چونکه شفيع له خپلې زمکې سره د بل چا زمکه نږدې کړې ده نو ځکه ورته شفعه ويل کيږي

بل ځا خرڅوي نو دویم شریک ته د اخیستو زیات حق دی، که چیرته بل ځا ته د اخیستلو حق ورکړی شي نو هغه به نقصاني شي، معلومه نده چې د هغه عادتونه او اخلاق به څه ډول وي.

۲ شرکت وو مګر اوس سره جلا شوي دي او ټولو خپله خپله برخه جلا کړې ده، لیکن په زمکه کې د راتلو یا زمکې ته د اوبو راوستو په ویاله کې یې شرکت پاتې دی دوی ته په حق مبیعه کې شریکان ویل کیږي، اوس په نفس مبیعه کې شریک حق شفعه پرېښود نو په حق مبیعه کې چې کوم شریک دی هغه ته شفع ورکول کیږي.

۳ داسې ګاونډي کوم چې د مشفوعه کور شاته وي اګر که د هغه دروازه په بله کوڅه کې وي په دې کې هغه ګاونډي شامل ندی د کوم کور چې مخامخ وي او په مینځ کې تلونکی راتلونکې لار وي اګر که د دواړو کورونو دروازې سره نږدې وي ځکه چې په مینځ کې تلونکې راتلونکې لار څه ناڅه نقصان لیرې کولی شي، دوی ته په دریم نمبر باندې د شفعه حق ورکول کیدی شي، که په مبیعه کې شریک او په حق مبیعه کې شریک یې ونه غواړي نو اوس یې ګاونډي غوښتلی شي

د قدوري صاحب ویلي دي چې د شریک فی نفس المبیع او شریک فی حق المبیع لپاره د شفعه حق ورکول خو اجماعي مسئله ده، لیکن دا خبر چې ګاونډي ته د شفعه حق ورکول کیږي په دې کې دوه مذهبونه دي

۱ **اول مذهب** د ائمه ثلاثه وو په نزد د ګاونډ له امله ګاونډي ته د شفعه حق نشي ورکول کیدی

دلیل ﴿عن جابر رضي الله عنه قال قضی النبي صلی الله علیه وسلم بالشفعة فی کل مالم یقسم فاذا وقعت الحدود وصرفت الطرق فلا شفعة﴾

یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفعه فیصله کړې په هر هغه شي کې کوم چې ویشل کیدلی نشي بیا کله چې حدود متعین کړی شي او لار بدله شي نو هیڅ شفعه نشته، په دغه حدیث کې د ګاونډ هیڅ ذکر نشته صرف د شریک ذکر دی معلومه شوه چې ګاونډي ته شفعه نشي ورکول کیدی، همدارنګه له دې حدیث دا خبره معلومه شوې چې کله شرکت ختم شي او د دواړو لارې جلا جلا شي یعنې د مبیع په لار کې هم شرکت نه وي نو اوس شفعه نشته دی.

ځواب په ذکر شوي حدیث کې د (فلا شفعة) په ذریعه له شفعه چې منعه شوې د هغه مطلب دا ده چې د حد له واقع کیدو وروسته او له ویشل کیدو وروسته او د لارې له جلا کیدو وروسته د شرکت په بنیاد باندې شفعه نشي ورکول کیدی، ځکه چې د ویشلو له امله شرکت ختم شوی، البته د ګاونډ په بنیاد باندې د شفعه حق باقي دی.

۲ **دویم مذهب** د حنفیانو په نزد لکه څرنګه چې شریک لره د شفعه حق شته دی همدارنګه ګاونډي ته هم د شفعه حق شته دی.

دلیل د حضرت ثمره بن جندب رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي ﴿جار الدار احق بدار الجار والارض﴾ د کور ګاونډي د کور او د زمکې زیات حقدار دی. له دې حدیث صفا معلومیږي چې ګاونډي هم د شفعه حقدار کیږي نو ځکه د شفعه له شریک فی نفس المبیع او شریک فی حق المبیع سره خاص کول سهي ندي

تشریح الشفعة...... للجار له ټولو مخکې اول په مبیعه کې د شریک لپاره د شفعه حق دی. د هغه په شتون کې په حق مبیعه کې د شریک او ګاونډي حق نشته، که هغه یې ونه غواړي نو په حق مبیعه کې د شریک حق دی، که هغه هم نه وو یا وو مګر نه یې غوښتله نو د ګاونډي حق دی، او که دی هم نه وو یا وو مګر نه یې غوښتله بیا د نورو خلکو حق دی

دلیل : په ذکر شوي ترتیب باندې دلیل دا حدیث دی ﴿الخلیط احق من الشفیع والشفیع احق ممن سواه﴾ شریک زیات حقدار دی له شفیع څخه او شفیع زیات حقدار دی له ده پرته څخه. په دغه حدیث کې له شفیع څخه مراد شریک دی. یعنې اول حق د شریک فی نفس المبیع دویم د شریک فی حق المبیع او د دریم حق د ګاونډي دی

صاحب قدوري ویلي دي چې د شفعه حق په هغه وخت کې وي کله چې بائع کور یا زمکه خرڅ کړي او له خپل ملک څخه وباسي بیا شفیع ته د شفعه په ذریعه د هغه د اخیستو حق شته دی، البته په دغه شفعه کې پوخوالی هغه وخت راځي کله چې شفیع د خرڅون په خبرېدو سم دستي په هماغه مجلس کې د شفعه په غوښتنه باندې شاهد تیر کړي، ځکه چې مخته د قاضي په نزد د ځان لپاره د شفعه فیصله کول هم دي او د هغه په ثبوت کې شهادت ضرورت پیښیږي، که چیرته یې په همدې خبره باندې شاهد جوړ نکړ (چې تاسو خلک شاهدان اوسی چې ما په دغه کور کې شفعه غوښتې ده) نو د شفعه حق باطلیږي. بیا د کتاب صاحب ویلي دي چې شفیع په همدې دار مشفوعه باندې له قبضې کولو وروسته مکمل مالک کیدی شي، لیکن شرط دا ده چې مشتري مبیعه شفیع ته وسپاري. یا قاضي فیصله وکړي چې دا مبیع د شفیع ده د همدې مبیعه مالک شو، ځکه چې مشتري د هغه د کور مالک شوی دی او د هغه ملکیت تام دی اوس دغه کور د هغه له ملکیت څخه د وتلو لپاره یې په رضامندي سره وسپارل شي یا د واکمن فیصله وموندل شي

کالشرب والطریق شرب خاص او طریق خاص مراد دي، د شرب خاص په تعریف کې د طرفینو او امام ابویوسف اختلاف دی. طرفینو ویلي دي چې داسې نهر په کوم کې کشتي وغیره نه چلیږي بلکې هغه د مخصوصو زمکو ته د اوبو ورکولو لپاره وي پس د کومو خلکو زمکې چې له همدې نهر څخه خروب کیږي هغوی په همدې شرب کې شریکان دي. او په کوم نهر کې چې کشتي وغیره چلیږي هغه شرب عام دی. او د امام ابویوسف په نزد شرب خاص هغه نهر دی له کوم چې دوه یا درې باغونه خروبولی شي. که چیرته له دې زیات ترې خروب کیدل هغه بیا عام دی

طريق خاص هغه لار ده كومه تلونكي راتلونكي لار نوي، كه هم د اسې وي بيا عامه ده

وَإِذَا عَلِمَ الشَّفِيعُ بِالْبَيْعِ أَشْهَدَ فِي مَجْلِسِهِ ذٰلِكَ عَلَى الْمُطَالَبَةِ ثُمَّ يَنْهَضُ مِنْهُ فَيُشْهِدُ
او كله چې شفيع ته د بيع علم وي نو شاهد دې جوړ كړي په هماغه مجلس كې په غوښتنه باندې بيا دې له هغه ځايه پورته شي شاهدې دې جوړ كړي
عَلَى الْبَائِعِ إِنْ كَانَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ أَوْ عَلَى الْمُبْتَاعِ أَوْ عِنْدَ الْعَقَارِ فَإِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ
په بائع باندې كه چيرته مبيعه د هغه په لاس كې وه يا په مشتري باندې يا له زمكې سره كله چې شفيع دا كار وكړي
اِسْتَقَرَّتْ شُفْعَتُهُ وَلَمْ تَسْقُطْ بِالتَّاخِيرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ
نو د هغه د شفعه حق پوخ شو او نه ساقطيږي په تاخير كولو سره د امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ په نزد او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ ويلي
إِنْ تَرَكَهَا مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ شَهْرًا بَعْدَ الْإِشْهَادِ بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ
كه يې پريښوده شفعه له عذر پرته تر يوې مياشتې پورې له ګواه جوړولو وروسته نو د هغه شفعه باطله شوه

د شفعه طلب كولو بيان

د لغاتو حل : اشهد اشهادا شاهد جوړيدل، ينهض پورته كول، المبتاع : مشتري، العقار : زمكه

خلاصه : د قدوري صاحب ويلي دي كله چې شفيع ته معلومه شوه چې زما شريک يا ګاونډي فلانی مكان خرڅ كړ نو د خبر په ترلاسه كولو په هغه باندې لازمه ده چې په همدغه مجلس كې يعنې سمدستي خپله شفعه طلب كړي. د دې صورت دا ده چې شفيع داسې ووايي چې فلاني كس په فلاني كس باندې خپل مكان خرڅ كړى دى دا چې زه د هغه شفيع يم نو زه به دې مكان كې د شفعه غوښتونكى يم. بيا د طلب درې قسمونه دي، طلب مواثبت، طلب اشهاد، طلب خصومت.

طلب مواثبت : لكه شفيع ته چې د خرڅون علم وي چې زما شريک يا ګاونډي فلانی كور خرڅ كړ نو په هغه باندې ضروري ده چې په همدې مجلس كې سمدستي خپله شفعه وغواړي. د دې صورت دا ده چې شفيع داسې ووايي چې فلاني كس په فلاني كس خپل كور خرڅ كړى زه د هغه شفيع يم د هغه كور اخيستل غواړم ديته طلب مواثبت ويل كيږي. چونكه دا طلب عجلت او فوريت غواړي نو ځكه يې نوم طلب مواثبت دى

طلب اشهاد كله چې شفيع په مجلس علم كې طلب مواثبت وكړ نو هغه ته پكار دي چې اوس د باندې راووځي د بائع خواته راشي او شاهد قائم كړي كه چيرته مبيعه له بائع سره وه، يا د مشتري پر وړاندې شاهد قائم كړي كه چيرته مبيعه د هغه په قبضه كې وه يا د زمكې جايداد خواته ولاړ شي شاهد جوړ كړي : د دې طريقه دا ده چې شفيع داسې ووايي چې فلاني دا كور اخيستى دى او زه د دې

شفيع يم او ما شفعه غوښتې وه او اوس يې هم غواړم تاسو په دې باندې شاهدان اوسئ، دې طلب ته طلب تقرير او طلب استحقاق هم ويل کيدی شي، له دې دواړو طلبونو وروسته په شفعه کې بوخوالی راځي مگر مملوک کيږي نه. تردې ځايه د طلب دوه قسمونه ذکر راغلي دي، دريم قسم طلب الخصومة دی او د هغه دويم نوم طلب التملک دی، دا طلب د قاضي پر وړاندې وي د دې تفصيل وړاندې بيان کيدلی شي.

واذاعلم..... استقرت شفعته : په شفيع باندې لازمه ده چې دريواړه قسمه طلب وکړي.

ولم يسقط الخ : اوس مسئله دا ده چې دريم طلب (طلب خصومت) کې په ځنډ کولو سره شفعه باطليږي او که نه؟ په دې باره کې زمونږ په مينځ کې اتفاق دی که چيرته د عذر له امله ځنډ وکړی شو نو د شفعه حق باقي پاتې دی، لهذا که چيرته په ښار کې قاضي نه وو او له همدې امله ځنډ وشو نو تاخير بالعذر دی، د همداسې تاخير له امله بالاتفاق شفعه نه باطليږي، ځکه کله چې قاضي نه وو نو هغه په کوم ځای کې مخاصمت کړی وای، ليکن که چيرته تاخير له عذر پرته وو نو اختلاف دی، په دې باره کې دوه مذهبونه دي:

د ائمه ؤ اختلاف : (۱) که په شفعه کې له طلب مواثبت او طلب اشهاد وروسته خاموش کرار کيني او تر اوږدې مودې پورې خصومت ونکړي يعنې د خپل حق شفعه ترلاسه کولو لپاره عدالتي چاره ونکړي برابره ده که هر څومره تاخير اوشي د شفيع د شفعه حق نه ساقطيږي، د شيخينو همدا مذهب دی.

دليل : دوه ځايه د شاهدانو له جوړولو وروسته د شفعه حق مضبوط او ثابت شو اوس له ثابت کيدو وروسته ختميدی نشي، هو! صاحب حق که په زباني ډول ښکاره انکار وکړي نو دا بيا بله خبره ده، نو ځکه قاضي ته په ورتګ کې په ځنډ کولو سره حق نه ساقطيږي.

دويم مذهب : د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام زفر رَحِمَهُ اللّٰهُ مذهب دا ده چې که چيرته په طلب خصومت کې تر يوې مياشتې پورې ځنډ وکړي نو د شفعه حق باطليږي، خلکو ته له نقصان څخه د بچ کيدو لپاره همدا قول مفتی به دی (شامي).

دليل : که چيرته تر ډيره وخته پورې هم د خصومت په تاخير سره د شفعه حق باطل نشي نو په دې کې د مشتري نقصان دی، ځکه چې هغه هيڅکله په هغه کې تصرف نشي کولی، ځکه چې هغه ويريږي چې شفيع به زما تصرف مات کړي نو مونږ يوه مياشت ميعاد مقرر کړی له دې مخکې مخکې تاخير د شفعه حق ساقط کوونکی ندی، او تر يوې مياشتې پورې تاخير مسقط دی، له يوې مياشتې کمه موده قليله او له يوې مياشتې زياته موده بعيده شمار شوې دي.

ظاهر مذهب د امام صاحب قول ده ليکن نن سبا مفتی به قول د امام محمد دی (هدايه، شامي، عيني)

وَالشُّفْعَةُ وَاجِبَةٌ فِي الْعَقَارِ وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُقْسَمُ كَالْحَمَّامِ وَالرَّحَى وَالْبِئْرِ وَالدُّوْرِ الصِّغَارِ
او شفعه ثابتیږي په زمکه کې اګر که هغه داسې وي کومه چې ویشل کیدی نشي لکه حمام، ژرنده، کوهي او کوچنی کور
وَلَا شُفْعَةَ فِي الْبِنَاءِ وَالنَّخْلِ إِذَا بِيْعَ بِدُوْنِ الْعَرْصَةِ وَلَا شُفْعَةَ فِي الْعُرُوْضِ وَلَا فِي السُّفُنِ
او نشته شفعه په عمارت او باغ کې کله چې له صحن پرته خرخ کړی شي او نشته شفعه په سامان او کښتیو کې
وَالْمُسْلِمُ وَالذِّمِّيُّ فِي الشُّفْعَةِ سَوَاءٌ وَإِذَا مَلَكَ الْعَقَارَ بِعِوَضٍ هُوَ مَالٌ وَجَبَتْ فِيْهِ الشُّفْعَةُ
مسلمان او ذمي په شفعه کې برابر دي او کله چې مالک شي جایداد د داسې شي په بدل کوم چې مال وي نو په هغه کې د شفعه حق ثابتیږي
وَلَا شُفْعَةَ فِي الدَّارِ الَّتِيْ يَتَزَوَّجُ الرَّجُلُ عَلَيْهَا أَوْ يُخَالِعُ الْمَرْأَتَهُ بِهَا أَوْ يَسْتَأْجِرُ بِهَا دَارًا
او نشته شفعه په هغه کور کې چې واده وکړي سړی په هغه سره یا ښځه خلع وکړي د هغه په بدل یا په کرایه ونیسي د هغه په بدل کې کوم کور
أَوْ يُصَالِحُ مِنْ دَمِ عَمْدٍ أَوْ يُعْتِقُ عَلَيْهَا عَبْدًا أَوْ يُصَالِحُ عَنْهَا بِإِنْكَارٍ أَوْ سُكُوْتٍ
یا صلح وکړي د دم عمد په بدل کې یا آزاد کړي د کور په بدل کې غلام یا صلح وکړي د کور په بدل له انکار یا سکوت وروسته
فَإِنْ صَالَحَ عَنْهَا بِإِقْرَارٍ وَجَبَتْ فِيْهِ الشُّفْعَةُ
که یې صلح وکړه د کور په بدل کې له اقرار سره نو په هغه کې شفعه ثابته شوه

شفعه په کومو شیانو کې شته او په کومو شیانو کې نشته؟

د لغاتو حل: عقار: زمکه او جایداد، **الحمام**: غسل خانه، **الرحى**: ژرنده، **الدور**: دا دار جمع ده، **العرصة** صحن، میدان، زمکه مراد ده، **العروض**: دا د عرض جمع ده سامان، **السفن**: دا د سفينة جمع ده کشتي.

خلاصه: شفعه د مال مملوکه په عوض کې په هر ډول زمکه کې واجب شوې ده، بیا د زمکې دوه قسمونه دي:

۱: هغه زمکه کومه چې د ویشلو قابل وي لکه د دوه زره ګزه زمکې پلاټ د دوه کسانو په مینځ کې مشترک وو هغه یې نیمایي نیمایي سره وویشلو په دې کې د ټولو په نزد د شفعه حق شته دی

۲: هغه زمکه کومه چې د ویشلو قابل نوي، یعنې چې له ویشلو وروسته د ګټې قابل نه پاتې کیږي، لکه یوه تنګه غسل خانه که چیرته هغه سره وویشل شي نو هغه د هیچا په کار نراځي، یا لکه ژرنده،

او د هغې زمکه چې د هغې په ویشلو سره هغه د هیڅ په کار نه راځي، همدارنګه تنګ کوچنی کوټې او کوچنی کور تونې تونې نشي کېدلی، په دغه دویم صورت کې د حنفیانو او شافعیانو اختلاف دی

د ائمه ؤ اختلاف د احنافو مذهب: کوم چې زمکه وي یا د زمکې له جنس څخه وي په هغه کې د شفعه حق شته دی. برابره ده که هغه ویشل کېدی شي او که نشي ویشل کېدی په هر حال کې د شفعه حق پکې شته دی، چې د دې څو مثالونه په دویم قسم کې ذکر شوي دي

د شافعیانو مذهب د شفعه علت د ویشلو له مشقت څخه بچ کېدل دي او همدا شی کله چې د ویشلو قابل پاتې نشي یعنې له ویشلو وروسته د ګټې قابل پاتې نشي نو د ویشلو له مشقت څخه د بچ کېدا مطلب څه شو؟

د حنفیانو دلیل د شفعه علت اتصال ملک دی او هغه دلته هم موجود دی، ځکه چې د شفعه حکمت د ناوړه ګاونډي نقصان لیرې کول دي، او دا حکمت په دواړو صورتونو کې موجود دی، همدارنګه له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی

«قضی النبی صلی الله علیه وسلم بالشفعة فی کل مالم یقسم» رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفعه فیصله کړې په هر هغه شي کې کوم چې ویشل کېدی نشي، له دې حدیث معلومه شوه چې هغه شی کوم چې ویشل کېدی نشي په هغه کې هم د شفعه حق شته دی

ولا شفعة فی العروض والسفن سامان او اسباب خرڅ شوي دي یا کښتۍ خرڅې شوې دي نو په دوی کې د شفعه حق نشته دی، دا مسئله د احنافو په نزد ده.

د احنافو دلیل کښتۍ او سامان منقولي دي او د حق ثبوت شفعه لپاره دا قاعده ده چې هغه شیان په غیر منقولي کې چلیږي لکه زمکه او وغیره، او په غیر منقولي کې نه چلیږي، ځکه چې په هغو کې د شفعه علت نه موندل کیږي او هغه علت د ملک اتصال دوام او قرار دی. لهذا په دې شیانو کې د ګاونډي نقصان نشته دی نو شفعه هم نه پکې جاري کیږي.

د امام مالک مذهب د امام مالک رحمه الله په نزد که چیرته شرکت وو نو په سامان کې هم شفعه شته، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هر هغه شي کې د شفعه فیصله کړې کوم چې ویشل کېدی نشي، له همدې امله که چیرته په سامان کې هم شرکت وو نو په هغه کې شفعه شته، همدارنګه په کښتیو کې هم شفعه شته، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هر هغه شي کې د شفعه فیصله کړې لکه په مصنف عبدالرزاق کې داسې الفاظ دي

«قضی رسول الله صلی الله علیه وسلم بالشفعة فی کل شئ» (مصنف عبدالرزاق ۸ / ۸۷)

ځواب له الشفعة فی کل شیئ څخه مراد دا ده چې **فی کل شیئ من غیر المنقولات**

په حدیث کې اګر که لفظ عام ده مګر مراد ترینه خصوص دی. د دې دلیل دا ده چې د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کې هیڅ داسې واقعه نشته په کومه کې چې رسول الله ﷺ په منقولې شیانو کې د شفعه فیصله کړې وي.

والمسلم والذمي: لکه څرنګه چې مسلمان ته د شفعه حق شته دی همدارنګه که چیرته په ګاوند کې ذمي وو نو هغه ته د د شفعه حق حاصل دی. ځکه چې په احادیثو کې عموم دی په کومو کې چې د مسلمان هیڅ تخصیص نشته. د ابن ابی لیلی په نزد د ذمي لپاره شفعه نشته. مګر د احادیثو عموم د ده خلاف حجت دی.

ولا شفعة في الدار........ علیها عبدا: د قدوري صاحب په دې عبارت کې د اعواض پنځه صورتونه ذکر کړي دي، کوم چې د احنافو په نزد مال ندي او د شفعه لپاره مبادل المال بالمال ضروري دي. له همدې امله (مهر، بدل خلع، په اجرت باندې مکان اخیستل، بدل صلح او عوض عتق) کې شفعه نشته. د ائمه ثلاثه په نزد همدا اعواض په قیمتي مال کې شمار شوي دي نو د همدوی په نزد د دوی د قیمت په عوض کې مشفوعه مکان اخیستی شي (الصبح النوري)

وَإِذَا تَقَدَّمَ الشَّفِيعُ إِلَى الْقَاضِي فَادَّعَى الشِّرَاءَ وَطَلَبَ الشُّفْعَةَ سَأَلَ الْقَاضِي
او کله چې ولاړ شي شفیع قاضي ته او دعوه وکړي د اخیستو او شفعه وغواړي نو ودې پوښتنې قاضي
الْمُدَّعَى عَلَيْهِ عَنْهَا فَإِنِ اعْتَرَفَ بِمِلْكِهِ الَّذِي يَشْفَعُ بِهِ وَإِلَّا كَلَّفَهُ بِإِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ
له مدعی علیه (مشتري) څخه په همدې باره کې که چیرته اقرار وکړي هغه د همدې کور د ملکیت په کوم چې د شفعه دعوه شوې نو بهتره ده که نه مدعی مکلف جوړیږي د ګواه جوړولو
فَإِنْ عَجَزَ عَنِ الْبَيِّنَةِ اِسْتَحْلَفَ الْمُشْتَرِي بِاللهِ مَا يَعْلَمُ أَنَّهُ مَالِكٌ لِلَّذِي ذَكَرَهُ مِمَّا يَشْفَعُ بِهِ
که چیرته عاجز شي له ګواهانو نو قسم دې واخیستل شي له مشتري څخه چې په خدای قسم زه نه پوهیږم چې زه د همدې کور مالک یم د کوم د شفعه چې ده دعوه کړې ده
فَإِنْ نَكَلَ عَنِ الْيَمِينِ أَوْ قَامَتْ لِلشَّفِيعِ بَيِّنَةٌ سَأَلَهُ الْقَاضِي
که چیرته هغه انکار وکړي د قسم له کولو یا حاصل شي د شفیع لپاره بینه نو پوښتنه دې وکړي قاضي
هَلِ ابْتَاعَ أَمْ لَا فَإِنْ أَنْكَرَ الْإِبْتِيَاعَ قِيلَ لِلشَّفِيعِ أَقِمِ الْبَيِّنَةَ فَإِنْ عَجَزَ عَنْهَا
چې تا اخیستی دی او که نه که چیرته هغه له اخیستو انکار وکړي نو ویل کیدی شي شفیع ته چې ثبوت راوړه که چیرته هغه له دې عاجز شي
اِسْتَحْلَفَ الْمُشْتَرِي بِاللهِ مَا ابْتَاعَ أَوْ بِاللهِ مَا يَسْتَحِقُّ عَلَى هَذِهِ الدَّارِ شُفْعَةً
قسم دې واخیستل شي له مشتري چې په خدای قسم ما ندی اخیستی یا په خدای قسم مستحق نیم په دې کور کې د شفعه

مِنَ الْوَجْهِ الَّذِي ذَكَرَهُ

په هغه ډول چې دعوه کړې ده

د دعوی شفعه بیان

خلاصه د قدوري صاحب ویلي دي که چیرته شفیع د قاضي په عدالت کې د مشفوعه کور د خریداري دعوه دائره کړي او د شفعه حق طلب کړي نو قاضي دې له مشتري څخه تحقیق وکړي چې آیا په رښتیا هلته د شفیع د ذاتي ملکیت کور دی د کوم له امله چې دی د شفعه دعوه ګولی شي یا یې نشي کولی؟ که چیرته مشتري د همدې خبرې اقرار وکړي چې د شفیع ذاتي کور دی نو سهي ده (د شفیع غوښتنه منظوره شوه) لیکن که چیرته مشتري د شفیع له ذاتي کور څخه انکار وکړي نو قاضي دې شفیع ته ووایي چې په خپل ملکیت باندې ګواه وړاندې کړه محض د شفیع په کور باندې ذاتي ملکیت د ثبوت لپاره کافي ندی، ځکه کیدی شي چې له شفیع سره دغه کور د کرایه وي یا یې له چا څخه عاریتا اخیستی وي نو ځکه په خپل ذاتي ملکیت باندې د ګواه قانمول شته دي، کله چې قاضي له شفیع څخه په ثبوت ملک باندې ګواه وغواړي او هغه عاجز شي نو د هغه دعوه ثابته نشوه، هو ! که چیرته شفیع غوښتنه وکړي نو د هغه په غوښتنه دې قاضي له مشتري څخه قسم واخلي چې تاته معلومه ده او که نده چې دی د همدې کور مالک دی، که چیرته مشتري له قسم کولو انکار وکړي یا شفیع په خپله دعوه باندې ګواه قائم کړي په دواړو صورتونو کې چې هر یو هم وي د شفیع ملکیت په دې کور کې ثابتیږي، د کوم له وجهې چې دی د شفعه مستحق جوړ شوی دی، کله چې خبره تردې ځایه ثابته شي نو اوس دې قاضي له مشتري پوښتنه وکړي چې آیا په رتیا فلاني کس خپل کور په تا باندې خرڅ کړی دی او که نه؟ که چیرته هغه اقرار وکړي نو سهي ده، او که چیرته مشتري انکار وکړي نو قاضي دې له شفیع څخه د مشتري د کور په اخیستو باندې ګواه وغواړي که چیرته شفیع په اخیستو باندې ثبوت رانه وړی شو نو قاضي دې له مشتري دوباره قسم واخلي، د کتاب صاحب دلته د قسم دوه جملې استعمال کړې دي په کوم کې چې د خرید نفي ده (۲) په کوم کې چې د شفیع د استحقاق نفي ده، د اول مطلب ده په خدای ما کور ندی اخیستی، د دویم مطلب ده په خدای شفیع په دغه کور باندې د شفعه دعوه کولو مستحق ندی.

تشریح **فادعی الشراء**: د هدایه صاحب ویلي دي کله چې شفیع د قاضي په عدالت کې حاضر شو لومړی دې قاضي له مشتري پوښتنه وکړي چې تا په کوم کور باندې د شفعه دعوه کړې ده هغه چیرته واقع دی؟ په کوم ښار په کوم کلي او کومه محله کې ده او څلور حدود یې څه دي؟

المدعی علیه د الجوهرة صاحب لیکلي دي که چیرته مبیعه د بائع په قبضه کې ده نو مدعی علیه بائع دی او که د مشتري په قبضه کې ده نو مدعی علیه مشتري دی، له همدې امله د قدوري صاحب لفظ

په مبهم ډول ذکر کړی دی، مګر له عبارت (استخلف المشتري) څخه معلومه شوې ده چې له مدعی علیه څخه مراد مشتري دی

وَتَجُوزُ الْمُنَازَعَةُ فِي الشُّفْعَةِ وَإِنْ لَمْ يُحْضِرِ الشَّفِيعُ الثَّمَنَ إِلَى مَجْلِسِ الْقَاضِي
او د شفعه جګړه را پورته کول روا دي اګر که شفیع ثمن حاضري نکړی شي د قاضي په مجلس کې
وَإِذَا قَضَى الْقَاضِي لَهُ بِالشُّفْعَةِ لَزِمَهُ إِحْضَارُ الثَّمَنِ وَلِلشَّفِيعِ أَنْ يَرُدَّ الدَّارَ بِخِيَارِ الْعَيْبِ
بیا کله چې قاضي فیصله وکړي د هغه لپاره د شفعه نو لازم دي په هغه باندې د ثمنو وړاندې کول او روا ده د شفیع لپاره چې واپس کړي کور د خیار عیب
وَالرُّؤْيَةِ وَإِنْ أَحْضَرَ الشَّفِيعُ الْبَائِعَ وَالْمَبِيعُ فِي يَدِهِ فَلَهُ أَنْ يُخَاصِمَهُ فِي الشُّفْعَةِ
او خیار رویت له امله او که چیرته حاضر کړي شفیع بائع او مبیعه چې د هغه په قبضه کې وي نو د شفیع لپاره حق دی چې هغه جګړه وکړي له بائع سره په شفعه کې
وَلَا يَسْمَعُ الْقَاضِي الْبَيِّنَةَ حَتَّى يَحْضُرَ الْمُشْتَرِي فَيَفْسَخُ الْبَيْعَ بِمَشْهَدٍ مِنْهُ وَيَقْضِي بِالشُّفْعَةِ
او نه دې آوري قاضي بینه تردې چې حاضر شي مشتري بیا دې فسخ کړي بیعه د هغه په موجودیت کې او فیصله دې وکړي د شفعې
عَلَى الْبَائِعِ وَيَجْعَلُ الْعُهْدَةَ عَلَيْهِ
په بائع باندې او وادې اچوي ذمه واري په بائع باندې

د طلب خصومت د کیفیت بیان

د لغاتو حل: **یخاصمه**: له باب مفاعلت څخه مضارع ده، **مشهد**: مصدر میمي ده موجودګي، **العهدة**: ذمه واري، **جعل العهدة**: د ذمه واري سپارل

خلاصه: د کتاب صاحب ویلي دي که چیرته شفیع د قاضي مجلس ته د جایداد له قیمت راوړلو سره را نشي بیا هم د شفعه غوښتلو جګړه راپورته کول روا دي. لیکن کوم وخت چې قاضي د شفعه فیصله وکړي نو د زمکې د قیمت حاضرول ضروري دي، ځکه د قاضي له فیصلې مخکې په شفیع باندې هیڅ شی واجب ندي، نو لکه څرنګه چې د ثمنو ادائیګي ضروري نده همدارنګه د قاضي په عدالت کې د ثمنو راوړل هم ضروري ندي، امام محمد رحمه الله ویلي دي چې اول دې قیمت حاضر کړي بیا دې قاضي د شفعه فیصله وکړي، ځکه کیدی شي چې شفیع مفلس وي له هغه سره د زمکې قیمت نوي نو د هغه لپاره د شفعه فیصله کول غلط شول، او مشتري به د ثمن په انتظار کې ناست وي

تشریح په مبیعه باندې د مشتري قبضه نده شوې تر اوسه د بائع په لاس کې ده نو د شفیع لپاره روا ده چې له بائع سره مخاصمت وکړي او هغه د قاضي پر وړاندې حاضر کړي او د لین دین ټول امور د بائع او شفیع په مینځ کې طی شي، لیکن چونکه د بیع له امله مبیعه د مشتري شوې ده نو ځکه قاضي ته به د دوه کارونو کول وي. یو دا چې د مشتري له موجودګي پرته د شفیع د ګواهانو شاهدي به نه اوري بلکې دهغه له راتلو وروسته به یې آوري، دویم دا چې د مشتري په موجودیت کې به اول د بائع او مشتري په مینځ کې شوې بیع ماته کړي د بیع ماتولو طریقه دا ده چې قاضي به داسې ووایي چې ما د مشتري خریداري ختم کړه، داسې به نه وایي چې ما بیعه فسخه کړه ترڅو چې شفعه باطله نشي، ځکه چې شفعه په بیع باندې قائمه وي او کله چې بیع فسخه کړی شي نو شفعه په څه باندې شوه. بهر حال هغه ته ربیعه له ماتولو وروسته فیصله په بائع باندې شوه او هغه د همدې ذمه وار شو، لیکن د دین تول امور د بائع او مشتري ترمینځ به وي، د قدوري عبارت ویجعل العهدة مطلب همدا دی

وَإِذَا تَرَكَ الشَّفِيعُ الْإِشْهَادَ حِينَ عَلِمَ بِالْبَيْعِ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى ذَٰلِكَ بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ وَكَذَٰلِكَ
او که چیرته پرېږدي شفیع د ګواه جوړیدل کله چې هغه ته د بیع علم وي حالانکه هغه په دې باندې قادر وو نو باطله شوه د هغه شفعه او همدارنګه
إِنْ أَشْهَدَ فِي الْمَجْلِسِ وَلَمْ يُشْهِدْ عَلَى أَحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ وَلَا عِنْدَ الْعَقَارِ وَإِنْ صَالَحَ
که چیرته هغه ګواه جوړ کړي په مجلس کې او ګواه جوړ نکړي په بائع او مشتري کې د کوم یوه پر وړاندې او نه د ځمکې پر وړاندې او که چیرته صلح وکړي
مِنْ شُفْعَتِهِ عَلَى عِوَضٍ أَخَذَهُ بَطَلَتِ الشُّفْعَةُ وَيَرُدُّ الْعِوَضَ وَإِذَا مَاتَ الشَّفِيعُ بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ
په خپلې شفعه سره په کوم عوض باندې نو باطلیږي شفعه او عوض ور ګرځول کیږي او کله چې مړ شي شفیع نو باطلیږي د هغه شفعه
وَإِذَا مَاتَ الْمُشْتَرِي لَمْ تَسْقُطِ الشُّفْعَةُ وَإِنْ بَاعَ الشَّفِيعُ مَا يَشْفَعُ بِهِ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى لَهُ بِالشُّفْعَةِ
او که چیرته مړ شي مشتري نو شفعه نه ساقطیږي او که چیرته خرڅ کړي شفیع هغه کور د کوم له وجهې چې هغه شفعه جوړه کړې وه د هغه لپاره مخکې د شفعه له فیصلې کولو
بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ وَوَكِيلُ الْبَائِعِ إِذَا بَاعَ وَهُوَ الشَّفِيعُ فَلَا شُفْعَةَ لَهُ وَكَذَٰلِكَ إِنْ ضَمِنَ الشَّفِيعُ
نو د هغه شفعه باطله شوه او د بائع وکیل کله چې خرڅ کړي او هغه شفیع وي نو د هغه لپاره شفعه نشته ده او همدارنګه ده که چیرته ضامن شي شفیع
الدَّرْكَ عَنِ الْبَائِعِ وَوَكِيلُ الْمُشْتَرِي إِذَا ابْتَاعَ وَهُوَ الشَّفِيعُ فَلَهُ الشُّفْعَةُ
د تاوان او خساره د بائع له طرفه او د مشتري وکیل کله چې واخلي او هغه شفیع وي نو د هغه لپاره شفعه شته

د حق شفعه د بطلان او عدم بطلان صورتونه

تشريح : د کتاب صاحب په دې عبارت کې يوشمير مسئلې ذکر کړې دي

په عبارت کې له اشهاد څخه مراد طلب اشهاد ندی، بلکې طلب مواثبت مراد دی، د همدې عبارت مطلب دا ده چې شفيع ته معلومه شوه چې فلانی کور يا زمکه خرڅ شوې دي او دی هغه وخت طلب مواثبت (د حق شفعه په ډول د اخيستو لپاره ګواه جوړولو) باندې قادر وو له دې عاجز او مجبور نه وو د دې باوجود بيا هم هغه طلب مواثبت ونکړ نو چونکه دا له شفعه څخه د اغراض دليل دی نو ځکه د هغه شفعه باطليږي

مسئله : که چيرته شفيع په مجلس علم کې ګواه جوړ کړ يعني طلب مواثبت يې وکړ مګر په بائع او مشتري کې د کوم يوه پر وړاندې يا زمکې ته ولاړ کوم ګواه يې جوړ نکړ يعني طلب اشهاد يې پرېښود نو له دې هم د اغراض پته لګيږي، لهذا د شفعه حق باطليږي

مسئله : يو چا لره د شفعه حق وو ليکن د زمکې اخيستو پر ځای يې له مشتري سره مصالحت وکړ چې زه د زرو روپيو په عوض کې خپل د شفعه حق پرېږدم نو امام قدوري ويلي دي چې شفعه هم باطله شوه او کومې زر روپۍ يې چې اخيستې دي د هغو واپس کول هم ضروري دي، ځکه چې دا رشوت دی کوم چې حرام دی، او د عوض په اخيستو سره د اغراض پته لګيږي، او کله چې اغراض وموندل شي نو د شفعه حق باطليږي نو عوض د کوم شي واخيستل شو، نو ځکه کوم عوض يې چې اخيستی د هغه واپس کول دي

مسئله : که چيرته شفيع مړ شو او تراوسه قاضي د هغه لپاره فيصله نوه کړې نو د هغه شفعه باطله شوه، يعني مرګ له شفيع څخه شفعه هغه وخت باطلوي کله چې له طلب مواثبت او طلب اشهاد وروسته د شفعه له فيصلې مخکې شفيع مړ شي، او که چيرته قاضي د شفعه فيصله وکړه د کور او وغيره د قيمت له راوړلو مخکې شفيع مړ ش و نو چونکه فيصله شويده صرف د قيمت حاضرول پاتې دي نو ځکه د شفيع وارثان دې د هغه شي قيمت ورکړي اوس د شفيع ورثه ؤ لره د شفعه حق شو، ماقبل تفصيل د مسک احنافو مطابق دی، حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې که چيرته شفيع د قاضي له قضا مخکې مړ شي نو د هغه شفعه په ميرات کې وارثانو ته ورکول کيدی شي، لکه څرنګه چې په خيار شرط کې ميراث جاري شوی دی د شفعه په حق هم شته دی، او د احنافو په نزد لکه څرنګه چې په خيار شرط کې ميراث نه چليږي، همدارنګه په شفعه کې دننه هم ميراث نه چليږي، باقي تفصيل په باب خيار الشرط مسئله (۸۵۵) (۷) کې وګورئ

مسئله : که چيرته مشتري مړ شو نو چونکه د حق شفعه والا يعني شفيع موجود دی او بيع شوې ده د کومې له امله چې د شفعه ملاويږي لهذا دلته شفعه نه باطليږي

مسئله تر اوسه پورې د شفيع لپاره قاضي د شفعه فيصله نوه کړې چې شفيع خپل کور خرڅ کړ د کوم په بنياد چې هغه ته د شفعه حق ورکړى شوى وو نو اوس هغه ته د شفعه حق نشي ورکول کيدى، ځکه چې د قاضي تر فيصلې پورې د هغه کور له شفيع سره پاتې کيدل پکار وو اوس پاتې نشو، نو د شفعه د حق فيصله څنګه وکړى شي؟ ځکه چې د شفعه ملاويدو چې کوم سبب وو هغه خو له منځه ولاړ لهذا شفعه باطله شوه.

مسئله يوه کس بل کس د خپل کور خرڅولو وکيل جوړ کړ دويم هغه کور خرڅ کړ په اتفاقي توګه د ګاونډيتوب له وجهې د همدې کور شفيع وو نو اوس هغه ته شفعه نشي ورکول کيدى، ځکه چې د خرڅولو په وخت کې په خپله د اخيستو خبره نده ښکاره کړې نو ګوا که هغه له اخيستو اعراض کړى نو ځکه شفعه نشي ورکول کيدى، همدارنګه که چيرته په همدې صورت کې شفعه ورکړى شي نو دا خبره لازميږي چې کوم بيع کړې ده هغه ماته کړې ده، ځکه چې د بيع مآل دى ورکول او د شفعه مآل ده اخيستل، په ورکولو او اخيستلو کې منافات دى.

مسئله د مشتري وکيل کوم کور واخيست او دا وکيل په خپله شفيع دى نو د هغه د شفعه حق باقي پاتې کيږي، ځکه چې وکيل اخيستى دى د دې لپاره چې دا بيعه شي نو ماته به د شفعه حق حاصل شي نو په دې اخيستلو سره اعراض نه موندل کيږي له همدې امله د شفعه حق يې شته دى.

وَمَنْ بَاعَ بِشَرْطِ الْخِيَارِ فَلَا شُفْعَةَ لِلشَّفِيعِ فَإِنْ أَسْقَطَ الْبَائِعُ الْخِيَارَ وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ
او چا چې خرڅ کړ له خيار شرط سره نو شفعه نشته د شفيع لپاره اوس که چيرته ساقط کړې بائع خيار شرط نو شفعه ثابتيږي
وَمَنِ اشْتَرَى بِشَرْطِ الْخِيَارِ وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ وَمَنِ ابْتَاعَ دَارًا شِرَاءً فَاسِدًا فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا
او که يې مشتري له خيار شرط سره واخلي نو د شفعه حق واجبيږي او چا چې واخيست کور له شراء فاسده سره نو په هغه کې شفعه نشته
وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَعَاقِدَيْنِ الْفَسْخُ فَإِنْ سَقَطَ الْفَسْخُ وَجَبَتِ الشُّفْعَةُ وَإِذَا اشْتَرَى الذِّمِّيُّ
او په بائع او مشتري کې هر يوه ته حق دى د بيع فسخ کولو که چيرته فسخ کول ساقط شي نو شفعه ثابتيږي او کله چې واخيست ذمي
دَارًا بِخَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ وَشَفِيعُهَا ذِمِّيٌّ أَخَذَهَا بِمِثْلِ الْخَمْرِ وَقِيمَةِ الْخِنْزِيرِ وَإِنْ كَانَ شَفِيعُهَا مُسْلِمًا
کوم کور د شرابو يا خنزير په بدل کې او د هغه شفيع هم کوم ذمي دى نو هغه دې واخلي او هغه ته دې د شرابو او خنزير قيمت ورکړې او که چيرته د کور شفيع مسلمان وو

أَخَذَهَا بِقِيمَةِ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ وَلَا شُفْعَةَ فِي الْهِبَةِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ بِعِوَضٍ مَشْرُوطٍ

نو وادې اخلي کور د شرابو او خنزير قيمت دې ورکړي او په هبه کې شفعه نشته مګر دا که هغه له مشروط عوض سره وه

تشريح: په دې عبارت کې څو مسئلې بيان شوې دي

مسئله: که چيرته بائع خو زمکه يا کور خرڅ کړل ليکن خيار شرط يې واخيست يعنې دا يې وويل چې ماته درې ورځې د سوچ او فکر کولو موقع راکړه که زه وغواړم خرڅ به يې کړم او که وغواړم زر به يې کړم نو اوس شفيع ته د شفعه حق کيدو دعوه کول سهي ندي، ځکه که چيرته خيار بائع لره وو نو مبيع د هغه له ملکيت ځخه نه ووځي، هو! که چيرته بائع خيار شرط ختم کړي بيع مکمل کړي نو اوس مبيع د مشتري په ملکيت کې راځي له همدې وجهې شفيع ته حق شفعه کيږي، اوس پاتې شوه دا مسئله چې د شفيع طلب کوم وخت شرط دی؟ د دې ځواب داده چې طلب هغه وخت شرط دی کله چې بائع خيار ساقط کړي، ځکه چې بائع خيار ساقط کړي هغه وخت دا بيعد شفعه سبب جوړيږي همدا قول سهي دی.

مسئله: يو چا کور واخيست مګر د فاسد شرط لګولو له امله بيع فاسده شوه نو اوس په دې کور کې شفيع ته شفعه نشي ورکول کيدی، ځکه که چيرته تراوسه پورې په دې کور باندې د مشتري قبضه نوې شوې نو هغه کور د بائع په ملکيت کې دی نو ځکه شفعه نشته، او که مشتري قبضه کړې وي نو اوس هم شفعه نه ورکول کيږي ځکه چې د شريعت له طرفه حکم دی چې دا بيع ماته کړئ ترڅو چې فساد بيع له منځه ولاړ شي، او که چيرته د شفعه حق ورکړي نو د فساد له منځه وړلو پر ځای به نور هم پوخ شي، له همدې وجهې د شفعه حق نشي ورکول کيدی، ماقبل تفصيل په هغه وخت کې دی کله چې په بيع فاسده کې د فسخ احتمال وي او که چيرته د فسخ احتمال ختم شي مثلاً مشتري دا کور د بل چا په لاس خرڅ کړ نو اوس شفيع ته شفعه ورکول کيدی شي، ځکه چې کوم خنډ وو هغه له منځه ولاړ.

مسئله: د يوه ذمي کور دی کوم چې بل ذمي د شرابو يا د خنزير په بدل کې واخيست او په اتفاقي ډول د همدې کور شفيع هم ذمي دی نو په څومره شرابو چې کور خرڅ شوی دی هومره شراب دې ورکړي کور دې واخلي، ځکه چې شراب مثلي شی دی نو ځکه په څومره شرابو چې مشتري کور اخيستی هومره شراب دې شفيع مشتري ته ورکړي کور دې واخلي او د ذمي لپاره د شرابو حکم زموږ لپاره د سرکه د حکم په شان دی، نو ځکه يې په ورکولو کې هيڅ حرج نشته، او که چيرته د خنزير په بدل کې کور خرڅ شوی وي نو د خنزير قيمت دې ورکړي کور دې واخلي، ځکه چې خنزير له ذوات القيم ځخه دی نو ځکه دې د خنزير قيمت ورکړي او کور دې واخلي

مسئله: که چيرته د همدې کور شفيع مسلمان وو نو هغه ته شفعه ورکول کيږي، ليکن هغه مسلمان دې په دواړو صورتونو کې د شرابو او خنزير قيمت دې ورکړي، پاتې شوه د خنزير قيمت ورکول دا خو ښکاره ده، او پاتې شوه د شرابو مسئله نو چونکه مسلمان په شرابو قبضه نشي کولی نو شراب د

مسلمان په حق کې د غیر مثلي په حکم کې دی او په غیر مثلي کې قیمت ورکول کیدی شي نو ځکه دې په همدې صورت کې هم قیمت ورکړي

مسئله یو چا خپل کور خالد ته هبه کړ نو هیچاته شفعه نه ورکول کیږي، ځکه چې مبادلة المال بالمال ندی موندل شوی کوم چې د شفعه ثابتیدو لپاره ضروري وو، لیکن که چیرته د هبه کولو په وخت کې مالک د عوض شرط ولګولو چې دومره روپۍ راکړه بیا به کور درته هبه کړم په دې صورت کې اګر که ظاهرا هبه ده لیکن حقیقتا بیع ده نو ځکه په دې صورت کې د شفعه حق شته دی

وَإِذَا اخْتَلَفَ الشَّفِيعُ وَالْمُشْتَرِي فِي الثَّمَنِ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِي فَإِنْ أَقَامَا الْبَيِّنَةَ
که چیرته اختلاف وکړي شفیع او مشتري په ثمن کې نو د مشتري قول معتبریږي او که چیرته دوی دواړو ګواه قائم کړي
فَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الشَّفِيعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله وَمُحَمَّدٍ رحمه الله وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رحمه الله
نو د شفیع بینه معتبریږي د طرفینو په نزد او امام ابویوسف رحمه الله ویلي دي
اَلْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمُشْتَرِي وَإِذَا ادَّعَى الْمُشْتَرِي ثَمَنًا أَكْثَرَ وَادَّعَى الْبَائِعُ أَقَلَّ مِنْهُ
چې د مشتري بینه معتبریږي که چیرته دعوه وکړي مشتري د زیاتو روپیو او بائع دعوه وکړي له د کمو
وَلَمْ يَقْبِضِ الثَّمَنَ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِمَا قَالَ الْبَائِعُ وَكَانَ ذَلِكَ حَطًّا عَنِ الْمُشْتَرِي
او په ثمن باندې قبضه نده کړې نو وادې اخلي شفیع په هغه قیمت کوم چې بائع ویلي او دا د مشتري له ذمه څخه د قیمت کمول دي
وَإِنْ كَانَ قَبَضَ الثَّمَنَ أَخَذَهَا بِمَا قَالَ الْمُشْتَرِي وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَى قَوْلِ الْبَائِعِ
او که چیرته بائع په روپیو باندې قبضه کړې ده نو وادې اخلي شفیع په هغه قیمت کوم چې مشتري وایي او توجه دې نکول کیږي د بائع د خبرې طرفته
وَإِذَا حَطَّ الْبَائِعُ عَنِ الْمُشْتَرِي بَعْضَ الثَّمَنِ يَسْقُطُ ذَلِكَ عَنِ الشَّفِيعِ وَإِنْ حَطَّ عَنْهُ
او کله چې کمې کړي بائع له مشتري څخه یو څه قیمت نو کمیدی شي هومره اندازه له شفیع څخه او که کم کړي له هغه
جَمِيعَ الثَّمَنِ لَمْ يَسْقُطْ عَنِ الشَّفِيعِ) وَإِنْ زَادَ الْمُشْتَرِي لِلْبَائِعِ فِي الثَّمَنِ
ټول قیمت نو نه ساقطیږي له شفیع څخه او که زیاتوالی وکړي مشتري د بائع لپاره په ثمن کې

لَمْ تَلْزَمِ الزِّيَادَةُ لِلشَّفِيْعِ
نو دا زياتوالى د شفيع لپاره نه لازميږي

د شفيع او مشتري د قيمت متعلق اختلاف

تشريح: په دې عبارت کې يوشمير مسائل بيان کړى شوي دي:

واذا اختلف......قول المشتري: كه چيرته د مشتري او شفيع په مينځ كې د ثمن په مقدار كې اختلاف راغى مثلا مشتري داسې وايي چې ما دا كور په يو لک روپيو اخيستى او شفيع وايي چې تا په اتيا زره اخيستى نو له قسم سره د مشتري قول معتبريږي، ځكه چې شفيع مدعى دى او مشتري مدعى عليه او مدعى عليه فريضه ده د ګواه قائمول او دلته له شفيع سره په دې خبره ګواه نشته چې مشتري هغه په اتيا زره دا كور اخيستى دى، ګواه نشته نو ځكه د مشتري منكر خبره له قسم سره منل كيدى شي

فان اقام...... بينة المشتري: ماقبل تفصيل هغه وخت دى كله چې شفيع ګواه قائم نكړى شي، ليكن كه چيرته دواړو ګواه قائم كړ نو اوس به د چا ګواه معتبريږي په دې باره كې دوه مذهبونه دي:

۱: د طرفينو په نزد د شفيع ګواه معتبريږي

۲: د امام ابويوسف په نزد د مشتري

د امام ابويوسف دليل: د ګواهانو كار دا دى چې كوم شى ثابت نوي هغه شى ثابت كړي او په كوم كې چې د اثبات برخه زياته وي هغه لره اعتبار وي او دا خبره د مشتري په ګواهانو كې ده لهذا هغو لره اعتبار دى.

د طرفينو دليل: د مشتري ګواه اګر كه د صورت په اعتبار سره د زياتي ثابت كوونكي دى ليكن معنى د شفيع ګواه اكثر الاثبات دى، مطلب دا ده چې ګواه د كوم امر د لازم كولو لپاره وي او دلته د شفيع ګواه لازم كوونكي دى د مشتري ندى، ځكه كه چيرته د شفيع ګواه معتبر ومنل شي نو په مشتري باندې لازم ده چې كور شفيع ته وسپاري، او كه چيرته د مشتري قول ومنل شي نو په شفيع باندې هيڅ نه لازميږي، ځكه چې هغه لره اختيار دى كه يې غواړي او كه يې پريږدي (۱).

واذا ادعى .... الى قول البائع: كه چيرته د بائع او مشتري په مينځ كې د قيمت متعلق اختلاف راشي مشتري وايي چې ما دا كور له بائع څخه په يو زر روپيو اخيستى د كوم چې مطاب دا شو چې زه زيد شفيع ته هم دا كور په يو زر روپيو وركوم. بائع وايي چې ما دا كور په پنځه سوه روپيو خرڅ كړى او صورت حال دا ده چې بائع تراوسه پورې په روپيو باندې قبضه نده كړې نو په دې صورت كې د شفيع په حق كې د بائع قول معتبريږي او شفيع به له مشتري څخه همدا كور په پنځه سوه روپۍ اخلي، اوداسې به ګڼل كيږي چې له مشتري څخه بائع پنځه سوه روپۍ كمې كړې ځكه چې هغه په خپله اقرار وكړ

---

(۱) الصحيح النوري ۲ / ۱۴، اللباب ۲ / ۴۸.

پورته خبرې په هغه صورت کې وې چې بائع په روپیو باندې قبضه نوې کړې او که چیرته بائع په روپیو باندې قبضه کړې ده نو اوس هغه په دې معامله کې اجنبي شو ګوا که چې له مینځ څخه بیخي وتلی دی، اوس د هغه د خبرې طرفته هیڅ توجه نشي ورکول کیدی، اوس صرف اختلاف د مشتري او شفیع پاتې شو او په مسئله ﴿۳۱﴾ کې تیر شول چې کله د مشتري او شفیع په مینځ کې اختلاف وي نو د مشتري قول معتبرېږي، لهذا په صورت مسئوله کې که چیرته شفیع د کور اخیستل غواړي نو د مشتري د خبرې مطابق دیو زر روپیو په اداء کولو سره یې اخیستی شي

واذاحط البائع........عن الشفیع : که چیرته بیع وشوه په دوه زره بیا له مشتري څخه بائع یو زر کمې کړې نو دا کمی د شفیع په حق کې ښکاره شو، اوس به هغه د دوه زره پر ځای مشتري ته یو زر روپۍ ورکوي، برابره ده که شفیع ته د شفعه له ورکول کیدو مخکې دا کمی شوی وي او که د شفعه له اخیستو وروسته شوی وي، په اول صورت کې به شفیع زر ورکوي په دویم صورت کې اګر که دوه زره ورکړې شوې دي لیکن له مشتري به یو زر روپۍ واپس اخیستل کیږي

په پنځوس زره باندې کور خرڅ شوی وروسته بائع ټولې معاف کړې نو دا د شفیع په حق کې نه ساقطیږي، ځکه که چیرته یو څه کمې کړي نو له اصل عقد سره پیوسته کیدی شي او له شفیع څخه هم هومره اندازه کمیدی شي لکه په اول صورت کې، لیکن که ټول قیمت معاف کړی شي نو له اصل عقد سره نشي پیوسته کیدی، ځکه چې بیا خو ثمن باقي پاتې نشول او شفیع یې له ثمن پرته حقدار کیدی نشي، لهذا په دې صورت کې شفیع ته د ټولو روپیو اداء کول دي کومې چې په اصل عقد کې معلومې شوې دي

واذازادالمشتري....للشفیع: که چیرته مشتري د بائع لپاره په ثمن کې زیاتوالی وکړي نو دا زیاتوالی په شفیع باندې نه لازمیږي، مثلا یو چا په اویا زره باندې کور خرڅ کړ مشري په خپله خوښه پنځه اویا زره ورکړې نو دا پنځه زره په شفیع باندې نه لازمیږي، بلکې شفیع به په مخکني قیمت اویا زره باندې کور اخلي، ځکه ممکن ده چې مشتري پنځه زره زیاتې ورکړې وي شفیع ته د نقصان رسولو اراده یې کړې وي نو ځکه هغو لره اعتبار نشته دی.

وَإِذَا اجْتَمَعَ الشُّفَعَاءُ فَالشُّفْعَةُ بَيْنَهُمْ عَلَى عَدَدِ رُءُوسِهِمْ وَلَا يُعْتَبَرُ بِاخْتِلَافِ الْأَمْلَاكِ
او کله چې سره جمع شي ډیر شفعه خواره نو د دوی په مینځ کې د دوی د شمیر مطابق ده او د ملکیتونو اختلاف لره اعتبار نشته
وَمَنِ اشْتَرَى دَارًا بِعِوَضٍ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِقِيمَتِهِ وَإِنِ اشْتَرَاهَا بِمَكِيلٍ أَوْ مَوْزُونٍ
یو چا واخیست کور د سامان په بدل کې نو وادې اخلي شفیع د هغه په قیمت سره او که یې واخیست هغه د کیلي یا وزني شي په بدل کې

أَخَذَهَا بِمِثْلِهِ وَإِنْ بَاعَ عَقَارًا بِعَقَارٍ أَخَذَ الشَّفِيعُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِقِيمَةِ الْآخَرِ
نو وادې اخلي د هغه د مثل په بدل کې او که يې خرڅه کړه زمکه د زمکې په بدل کې نو وادې اخلي شفيع له هغو دواړو څخه هر يو د بل د قيمت په بدل کې
وَإِذَا بَلَغَ الشَّفِيعَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِأَلْفٍ فَسَلَّمَ الشُّفْعَةَ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِأَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ
او کله چې خبر ورسيږي شفيع ته چې کور په يو زر درهم خرڅ شوی له همدې وجهې هغه شفعه پريښوده بيا هغه ته معلومه شوه چې له دې څخه په کم خرڅ شوی
أَوْ بِحِنْطَةٍ أَوْ بِشَعِيرٍ قِيمَتُهَا أَلْفٌ أَوْ أَكْثَرُ فَتَسْلِيمُهُ بَاطِلٌ وَلَهُ الشُّفْعَةُ وَإِنْ بَانَ أَنَّهَا بِيعَتْ
يا په دومره غنمو يا دومره اوربشو خرڅ شوی د کومو قيمت چې يو زر دي نو د هغه پريښودل باطل دي او د هغه لپاره شفعه ده او که چيرته ښکاره شوه چې خرڅ شوی دی
بِدَنَانِيرَ قِيمَتُهَا أَلْفٌ فَلَا شُفْعَةَ لَهُ وَإِذَا قِيلَ لَهُ إِنَّ الْمُشْتَرِيَ فُلَانٌ فَسَلَّمَ الشُّفْعَةَ
د دينار په بدل کې د کومو قيمت چې يو زر دی نو د هغه لپاره شفعه نشته او که چيرته وويل شي شفيع ته چې اخيستونکی فلانی دی هغه شفعه پريښوده
ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ غَيْرُهُ فَلَهُ الشُّفْعَةُ
بيا معلومه شوه چې کوم بل څوک دی نو د هغه لپاره شفعه ده

د شفعه متفرقه مسائل

تشريح: په دغه عبارت کې د حق شفعه متعلق يوشمير مسائل بيان شوي دي:

مسئله: که چيرته د برابرۍ درجې څو شفعه خواره سره يو ځای شي نو د احنافو په نزد د دې خلکو په مينځ کې د شفعه ،ويشل د افرادو په اعتبار سره کيږي د برخې په کمي او زياتي سره په حق شفعه کې کمی زياتی نکيږي، مثلا يو کو د دريو کسانو په مينځ کې مشترک دی د يو نيمايي د يوه ثلث او د دريم سدس اوس د نيمايي برخې څښتن خپله برخه خرڅه کړه نو د حنفيانو په نزد د پاتې دوو نورو شريکانو ته يو برابر ورکول کيدی شي

حضرت شعبي رَحِمَهُ اللهُ ويلي شفعه د سريو د شمير په اعتبار سره دی حضرت ابراهيم هم همداسې ويلي دي، همدارنګه د شفعه حق د اتصال له امله ملاويږي يا د شرکت له امله او په اتصال او شرکت کې ټول شفيع برابر دي نو ځکه ټولو ته برابره برابره برخه ورکول کيدی شي، په کوم باندې چې په نورو الفاظو سره داسې پوهه شی که چيرته له دوی څخه کوم يو پاتې شي او نور شريکان شفعه وانخلي نو ټوله شفعه هغه ته ورکول کيږي

د حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د کوم شفيع چې څومره برخه ده د هغه د برخې د کمي او زياتي له وجهې کور هم کم او زيات ورکول کيدی شي
مطلب دا ده چې کوم برخه زياته وي هغه ته کور هم زيات ورکول کيږي، او د چا چې برخه کمه وي هغه ته کور هم کم ورکول کيږي، نو په ذکر شوي مثال کې د ثلث والاته دوه دريمه او د سدس والاته يوه دريمه ورکول کيږي
همدارنګه امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د شفعه ګټه دا وي چې د ملکيت فوايد مکمل وي لهذا د شفعه حق به د ملکيت د مقدار په لحاظ سره وي

مسئله که چيرته يې د سامان په بدل واخيستل نو د هغه حکم څه دی؟ لهذا ويلي دي که يې د سامان په بدل يعني د سرو او سپينو پرته د نور سامان په بدل کې واخيستل نو شفيع دې د هغه سامان قيمت ورکړي زمکه دې واخلي، د هغه سامان چې څومره قيمت هم وي، ځکه چې سامان له ذوات القيم څخه دي، لهذا د سامان قيمت دې ورکړي

مسئله که چيرته يو کس مشفوعه کور په کيلي يا وزني شي سره واخيست مثلاً په دوه منه غنمو يا لس منه اوسپنې په بدل کې يې واخيست نو شفيع دې دوه منه غنم يا لس منه اوسپنه ورکړي او کور دې واخلي، ځکه چې غنم کيلي دي او اوسپنه وزني ده او دا دواړه شيان له ذوات الامثال څخه دي نو ځکه د هغو مثل دې ورکړي شفيع دې واخلي

مسئله : که چيرته يو چا خپله زمکه خرڅه کړه او د هغې په عوض کې نوره زمکه واخيسته او د همدې دواړو زمکې شفيع شته دی نو د بائع د زمکې شفيع دې د هغه په بدل کې د مشتري د زمکې قيمت دې ورکړي او د مشتري د زمکې شفيع دې د بائع د زمکې قيمت دې ورکړي، ځکه چې زمکه له ذوات القيم څخه ده، مثلا زيد خپله زمکه ورکړه د عمر زمکه يې واخيستله، اوس د زيد د زمکې شفيع راپورته شو او د عمر د زمکې شفيع هم راپورته شو، د زيد د زمکې قيمت يو لک روپۍ دي او د عمر د زمکې قيمت اتيا زره روپۍ دي، نو له همدې امله د زيد د زمکې چې کوم شفيع دی هغه دې د عمر د زمکې قيمت کوم چې اتيا زره دي د هغو په بدل کې دې واخلي، او د عمر د زمکې چې کوم شفيع دی هغه دې د زيد د زمکې قيمت کوم چې يو لک روپۍ دي د هغو په بدل کې دې واخلي، ځکه چې د زيد د زمکې قيمت د عمر زمکه ده نو ځکه د زيد د شفيع لپاره د عمر د زمکې قيمت لګول کيږي او د عمر شفيع لپاره د زيد د زمکې قيمت لګول کيږي

مسئله : که چيرته شفيع ته اول معلومه شوه چې کور په زر درهم خرڅ شوی دی هغه شفعه پريښوده بيا ورته معلومه شوه چې کور د دنانير په بدل خرڅ شوی دی د کوم قيمت چې يو زر درهم دی نو زمونږ د ائمه ثلاثه ؒ په نزد شفعه نشي ورکول کيدی، ځکه چې درهم او دنانير دواړه ثمن دي او دواړه ګوا که يو جنس دی له همدې وجهې په زکوٰة کې يو د بل له طرفه ملاو شويدي، لهذا کله چې اتحاد جنس ثابت شو نو دوباره د يوه زر خبر په اوريدو باندې څنګه د شفعه دعوه کولی شي

وَمَنِ اشْتَرَى دَارًا بِغَيْرِهِ فَهُوَ الْخَصْمُ فِي الشُّفْعَةِ إِلَّا أَنْ يُسَلِّمَهَا إِلَى الْمُوَكِّلِ وَإِذَا بَاعَ دَارًا
او چا چې کور واخیست د بل چا لپاره نو هغه مدعی علیه شو په شفعه کې مګر چې وسپاري کور موکل ته او کله يې چې خرڅ کړ کور
إِلَّا مِقْدَارَ ذِرَاعٍ فِي طُولِ الْحَدِّ الَّذِي يَلِي الشَّفِيعَ فَلَا شُفْعَةَ لَهُ وَإِنْ بَاعَ مِنْهَا سَهْمًا بِثَمَنٍ
مګر له هغه يې يو ګز پرېښود د هغه له اوږدوالي څخه کوم چې شفیع ته نږدې دی نو د هغه لپاره شفعه نشته او که يې خرڅه کړه د کور څه برخه د قیمت په عوض
ثُمَّ ابْتَاعَ بَقِيَّتَهَا فَالشُّفْعَةُ لِلْجَارِ فِي السَّهْمِ الْأَوَّلِ دُونَ الثَّانِي وَإِذَا ابْتَاعَهَا بِثَمَنٍ ثُمَّ دَفَعَ إِلَيْهِ
بیا يې واخیست د کور پاتې برخه نو شفعه د ګاونډي لپاره په اوله برخه کې کیږي په دویمه کې نکیږي او که يې واخیست کور د ثمن په بدل کې بیا يې ورکړه بائع ته
ثَوْبًا عِوَضًا عَنْهُ فَالشُّفْعَةُ بِالثَّمَنِ دُونَ الثَّوْبِ
جامه د هغو په عوض کې نو شفعه به په قیمت سره وي نه په جامې سره

تشريح : په دې عبارت کې هم څو مسئلې بیان شوې دي :

ومن اشترى ...... الموكل : زيد د عمر وكيل شو د عمر لپاره يې كور واخيست نو شفيع د حق شفعه لپاره زيد مدعى عليه جوړولى شي او په هغه دې مقدمه دائره كړي، ليكن كه چيرته زيد كور عمر ته وسپارلو نو اوس به شفيع عمر مدعى عليه جوړوي، ځكه كوم كور چې اخيستل شوى مشتري هغه ملكى دي دلته په ظاهري ډول زيد خريدار دى د بل چا لپاره يې اخيستى دى نو ځكه هغه مدعى عليه جوړيږي، او د موكل لاسته له ورتلو وروسته اوس نه د وكيل قبضه پاتې شوه نه ملكيت پاتې شو اوس نو اصل خريدار موكل جوړ شو نو ځكه به هغه مدعى عليه كيږي، ذكر شوى تفصيل د احنافو په نزد دى، د ائمه ثلاثه ؤ په نزد موكل له شروع څخه مدعى عليه جوړيږي ځكه چې وكيل خو د سفير په شان دى (حاشيه قدوري).

واذا باع...... فلا شفعة له : بائع خپل ټول كور په مشتري باندې خرڅ كړ مګر كوم طرفته چې د شفيع زمكه پرته ده او د هغه ګاونډيتوب ورسره لګيدلى دى په هغه طرف كې يې بشپړه څيره د يو ګز په اندازه په اوږدوالي كې پرېښوده، يعني هغه يې خرڅه نكړه نو اوس شفيع ته د شفعه حق دعوه كولو موقع نشته، ځكه چې د ګاونډيتوب له امله يې دعوه كولى شوه او دلته داسې وشول چې څومره برخه خرڅه شوې ده له هغې برخې سره د ده اتصال نشته دى نو ځكه شفيع ته د شفعه حق نشته، ذكر شوې مسئله له دې نقشې څخه د رڼا ورځې په شان روښانه كيږي :

وان باع...... دون الثاني: يو كور دى د كوم قيمت چې اته لكه روپۍ دى بائع دغه كور اته برخې كړ او يوه برخه يې په يو لک روپيو خرڅه كړه مشتري يې په كور كې شريک كړ، بيا وروسته مشتري پاتې اوه برخې هم واخيستې نو اوس شفيع صرف په اوله برخه كې د شفعه دعوه كولى شي، پاتې كومې اوه برخې چې خرڅې شوې دي په هغو كې ورته د شفعه حق نشي وركول كيدى هغه اووه برخې د شريک شولې، ځكه كله چې په اول يوه برخه خرڅه شوې وه په هغه وخت كې د همدې كور هيڅ شريک نه و نو ځكه ګاونډي ته د شفعه حق وركول كيده، ليكن په دويم ځل چې كومې برخې خرڅې شوې په دې وخت كې مشتري د اول خريد له امله د بائع شريک شوى وو او شريک د شفعه په حق كې له ګاونډي مقدم دى، دا هم د شفيع د محروم كولو يوه حيله ده.

وَلَا تُكْرَهُ الْحِيلَةُ فِي إِسْقَاطِ الشُّفْعَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ تُكْرَهُ
او مكروه نده حيله كول د شفعه په ساقط كولو كې د امام ابويوسف په نزد او امام محمد ويلي چې مكروه ده
وَإِذَا بَنَى الْمُشْتَرِي أَوْ غَرَسَ ثُمَّ قَضَى لِلشَّفِيعِ بِالشُّفْعَةِ فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِالثَّمَنِ
او كله چې مشتري كور جوړ كړ يا يې ونې ولګولې بيا فيصله وكړى شوه د شفيع لپاره نو شفيع لره اختيار دى كه وغواړي هماغه زمكه دې واخلي په ثمن
وَقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ مَقْلُوعَيْنِ وَإِنْ شَاءَ كَلَّفَ الْمُشْتَرِي بِقَلْعِهِ وَإِنْ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ
او قيمت دې وركړي د ولاړ كور او باغ او كه وغواړي نو مشتري دې مجبور كړي د هغو په له منځه وړلو او كه چيرته شفيع زمكه واخيسته
فَبَنَى أَوْ غَرَسَ ، ثُمَّ اسْتُحِقَّتْ رَجَعَ بِالثَّمَنِ وَلَا يَرْجِعُ بِقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ
بيا يې كور جوړ كړ يا يې باغ ولګولو بيا زمكه د كوم بل مستحق شوه نو دا قيمت دې واپس واخلي او واپس نشي اخيستلى د مكان او باغ قيمت
وَإِذَا انْهَدَمَتِ الدَّارُ أَوِ احْتَرَقَتْ بِنَاؤُهَا أَوْ جَفَّ شَجَرُ الْبُسْتَانِ بِغَيْرِ عَمَلِ أَحَدٍ
او كله چې كور ولويده يا د هغه تعمير وسوځيده يا د باغ ونې وچې شوې پرته د يو چا له عمله
فَالشَّفِيعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ
نو شفيع لره اختيار دى كه وغواړي نو هغه دې واخلي په بشپړ قيمت سره او كه وغواړي نو هغه دې پريږدي

د لغاتو حل **الحیلة**: تدبیر، **غرس**: د ونو کرل (لګول)، **مقلوعین**: وباسل شوي، **کلف تکلیفاً**: د سخت کار کولو حکم، **قلع**: مصدر دی له بیخ څخه وباسل، **رجع بالثمن**: د قیمت واپس اخیستل، **انهدمت**: د عماراتو ورانول، **احترقت**: سوځل، **جف**: وچیدل، **البستان**: باغ.

د حق شفعه د اسقاط تدبیرونه او متفرقه مسائل

تشریح: په پورته ذکر شوي عبارت کې څو مسائلو ته اشاره شوې ده:

ولاتکره الحلیة......تکره: داسې کوم تدبیر غوره کول د کوم له امله چې شفیع مشفوع نشي اخیستلی د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد مکروه نده او د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد مکروه ده، داسې تدبیر په کوم سره چې شفیع د شفعه حق نشي حاصلولی په دوه قسمه دی:

۱: حیله دفع ثبوت شفعه (د شفعه له ثابت کیدو وروسته د هغې د ساقط کولو تدبیر کول).

۲: حیله دفع اسقاط شفعه (د شفعه له ثبوت مخکې حیله کول) په دویم صورت کې د صاحبینو اختلاف دی او همدا صورت د قدوري صاحب نقل کړی دی، تفصیل یې په دې ډول دی چې امام ابویوسف ویلي دي چې د شفیع حق تراوسه ثابت شوی ندی نو ځکه د هغه د نقصان لیرې کولو لپاره حیله کیدلی شي، که چیرته د شفیع حق ثابت شوی وي او بیا هغه لیرې کړی شي نو د شفیع ضرر شمارل کیدی شي او دلته تراوسه پورې د شفیع حق ثابت شوی نه وو چې د هغه د ثابت کیدو امکان ختم کړی شي، نو ځکه له کراهیت پرته روا دی، او په دې مسئله کې د امام ابویوسف په قول باندې فتوی دی، امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې د شفعه ثبوت له دې امله شوی دی چې د شفیع ضرر لیرې شي که چیرته د همداسې حیلو دروازه خلاصه کړی شي نو د شفعه حق به ختم کړی شي، نو ځکه داسې حیله کول مکروه دي، په اول صورت کې صاحبینو ویلي دي چې بالاتفاق مکروه ده، یعنې د شفعه له ثبوت وروسته د هغې د ساقط کولو حیله کول د صاحبینو په نزد مکروه ده.

واذابنی المشتري.......بقلعه: د مسئلې صورت دا ده چې مشتري زمکه واخیسته په هغې کې تعمیر جوړ کړ یا یې باغ پکې کینبود بیا د شفیع لپاره قاضي فیصله وکړه نو اوس د شفیع لپاره دوه حکمونه دي:

۱: چې شفیع د زمکې قیمت د تعمیر قیمت او د ونې قیمت ورکړي زمکه کور او باغ واخلي.

۲: چې شفیع مشتري مجبور کړي چې خپل تعمیر او نې وباسه زمکه په بشپړ ډول خالي کړه او ماته یې وسپاره، ځکه مشتري زمکه له بائع څخه اخیستې ده د حق شفعه له فیصله وروسته معلومه شوه چې دا زمکه په حقیقت کې د شفیع وه او مشتري د شفیع له اجازې پرته په هغې کې تعمیر جوړ کړی او ونې یې پکې لګولې دي او قاعده دا ده که چیرته په کوم شي کې د یو چا حق وي او صاحب حق چاته د تصرف کولو اجازه ورنکړي بیا هم یو څوک تصرف پکې وکړي او کینې نو د هغه تصرف ماتیدلی شي، د همدې قاعدې مطابق هغه ته د ماتولو حکم ورکول کیږي، دا مکمل تشریح د طرفینو د مذهب

مطابق ده، امام ابويوسف ويلي دي چې مشتري ته د کور رنګولو او ونې وباسلو حکم نشي کول کيدی، بلکې فيع ته دوه اختياره ورکول کيدی شي

۱: چې د زمکې قيمت او په مجوده حالت کې د تعمير او د ونو قيمت ورکړي او هغه واخلي

۲: چې شفعه پريږدي

وان اخذها........ والغرس: د شفيع په حق کې د کومې زمکې فيصله وشوه او هغه په زمکه کې کور جوړ کړ يا باغ پکې کينبود وروسته چا دعوه وکړه په همدغه زمکه کې حق ثابت کړ او قاضي د مستحق لپاره فيصله وکړه نو زمکه د مستحق شوه او شفيع ته ويل کيدی شي چې خپل عمارت او ونې وباسه او څه د عمارت قيمت يا د هغه د ماتولو نقصان هغه ته نشي ورکول کيدی، بلکې شفيع چې د زمکې څومره قيمت ورکړی هغه ورکول کيږي، له بائع څخه د اخيستو په صورت کې دي اداء کړی شي او له مشتري څخه د اخيستو په صورت کې دي د مشتري په اندازه اداء کړی شي، څکه شفيع ته مشتري هيڅ دوکه نده ورکړې او نه مشتري ورته د کور جوړولو يا د باغ کرلو ويلي دي بلکې مشتري خو مجبور شوی او دا زمکه يې شفيع ته ورکړې ده نو څکه د کور او باغ قيمت نشي وصول کولی، هو! د زمکې قيمت چې شفيع ورکړی وو او اوس مستحق له شفيع څخه زمکه خوشې اخلي له همدې امله صرف د زمکې قيمت وصول کولی شي، بر خلاف د اولې مسئلې چې هلته مشتري د بائع له طرفه په دوکه کې دی او بائع مشتري په هغې کې په تصرف کولو باندې مکلف کړی دی.

وَإِنْ نَقَضَ الْمُشْتَرِي الْبِنَاءَ قِيلَ لِلشَّفِيعِ إِنْ شِئْتَ فَخُذِ الْعَرْصَةَ بِحِصَّتِهَا وَإِنْ شِئْتَ فَدَعْ
او که مشتري عمارت مات کړ نو شفيع ته ويل کيدی شي که ته غواړې نو خالي ځای د هغه د برخې په بدل کې واخله او که چيرته غواړې پريږده
وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ النِّقْضَ وَمَنِ ابْتَاعَ أَرْضًا وَعَلَى نَخْلِهَا ثَمَرٌ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِثَمَرِهَا
او د شفيع لپاره روا نده چې هغه مات ګوډ واخلي يو چا باغ واخيست او د هغه په ونو کې ميوه وه نو شفيع دې له ميوې سره واخلي
وَإِنْ جَدَّهُ الْمُشْتَرِي سَقَطَ عَنِ الشَّفِيعِ حِصَّتُهُ وَإِذَا قُضِيَ لِلشَّفِيعِ بِالدَّارِ وَلَمْ يَكُنْ رَآهَا
او که چيرته مشتري ميوه پريکړه نو ساقطيږي له شفيع څخه د هغه د برخې مطابق او کله چې فيصله وشوه د شفيع لپاره د کور حالانکه هغه ليدلی نه وو
فَلَهُ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ فَإِنْ وَجَدَ بِهَا عَيْبًا فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهَا وَإِنْ كَانَ الْمُشْتَرِي شَرَطَ الْبَرَاءَةَ مِنْهُ
نو د شفيع لپاره خيار رؤيت شته او که يې په هغه کې عيب پيدا کړ نو د شفيع لپاره حق دی چې هغه ور وګرځوي د عيب له وجهې اګر که مشتري له هغه څخه د برائت شرط لګولی وي

د لغاتو حل **نقض** (ن) نقضا ماتول. **العرصة** هر هغه ځای چیرته چې عمارت نوي، **دع** امر حاضر دی پرېښودل. **النقض** ملبه. جد پریکول. دلته یې د ماتولو معنی شوې ده

تشریح دلته څو مسئلې بیان شوې دي چې د هرې یوې نوعیت واضح دی، د ضروت په اندازه یې تشریح کیدلی شي

وان نقض........ ان یاخذ النقض: که چیرته مشتري په خپله په خپل فعل سره عمارت مات کړ نو اوس عمارت مقصود شو ځکه چې مشتري د عمارت ماتولو اراده کړې ده لهذا اوس د وصف په مقابله کې ثمن راځي او اوس مشتري لره دوه اختیا دي:

۱: صرف د زمکې چې څومره قیمت دی هغه ورکړي صرف په خالي خالي زمکه کې واخلي مثلا زمکه سره له کوره دوه لکه روپیو ده وروسته مشتري په خپله کور مات کړ د کوم له امله چې پنځوس زره روپۍ کمې شوې نو اوس دې شفیع یو نیم لک روپۍ ورکړي خالي خالي زمکه دې واخلي

۲: که چیرته غواړي نو شفعه دې پرېږدي

واذانقض للشفیع....... البراءة منه: لکه څرنګه چې په بیع کې خیار رؤیت او خیار عیب ورکول کیدی شي نو په شفعه کې هم ورکول کیدی شي ګوا که چې شفیع له مشتري څخه اخیستې ده نو د خریداري احکام دلته جاري کیږي، د مسئلې صورت داسې ده چې شفیع کور لیدلی نه وو او د هغه په حق کې د شفعه فیصله وکړی شوه نو هغه ته له کتلو وروسته خیار رؤیت ورکول کیدی شي یعنې د خیر رؤیت ماتحت د بیع واپس کولو حق ورته حاصل دی. له همدې امله که چیرته په مبیعه کې عیب راووت نو د خیار له مخې شفیع همدا کور مشتري ته واپس کولی شي، اګر که مشتري له عیب څخه د برې کیدو شرط لګولی وي، مګر بیا هم شفیع ته خیار عیب حاصل دی

وَإِذَا ابْتَاعَ بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ فَالشَّفِيعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِثَمَنٍ حَالٍّ وَإِنْ شَاءَ صَبَرَ
او که یې واخیست په موجل پیسو سره نو شفیع ته اختیار دی که چیرته غواړي نو هغه دې په نقد پیسو واخلي او که غواړي نو صبر دې وکړي
حَتَّى يَنْقَضِيَ الْأَجَلُ ثُمَّ يَأْخُذُهَا وَإِذَا اقْتَسَمَ الشُّرَكَاءُ الْعَقَارَ فَلَا شُفْعَةَ لِجَارِهِمْ بِالْقِسْمَةِ
تردې چې موده تیره شي بیا دې هغه واخلي او که چیرته شریکان زمکه سره وویشي نو د ویشلو له امله د هغو ګاونډیانو ته د شفعه حق نشي ورکول کیدی
وَإِذَا اشْتَرَى دَارًا فَسَلَّمَ الشَّفِيعُ الشُّفْعَةَ ثُمَّ رَدَّهَا الْمُشْتَرِي بِخِيَارِ رُؤْيَةٍ أَوْ بِشَرْطٍ أَوْ بِعَيْبٍ
که چیرته یې کور واخیست او شفیع شفعه پرېښوده بیا مشتري رد کړه د خیار رؤیت یا خیار شرط یا خیار عیب له امله

بِقَضَاءِ قَاضٍ فَلَا شُفْعَةَ لِلشَّفِيعِ وَإِنْ رَدَّهَا بِغَيْرِ قَضَاءِ قَاضٍ أَوْ تَقَايَلَا فَلِلشَّفِيعِ الشُّفْعَةُ

د قاضي د فیصلې له مخې کور واپس کړ نو د شفیع لپاره شفعه نشته او که چیرته هغه واپس کړ کور د قاضي له قضاء پرته یا دواړو د بیع اقاله وکړه نو د شفیع لپاره شفعه شته

تشریح په دې عبارت کې یوشمیر مسائل ذکر شوي دي:

واذا ابتاع .... ثم یأخذها: بائع خپل کور په پنځوس زره روپۍ خرڅ کړ او د قیمت اداء کولو کې نیته کېښوده اوس شفیع د همدې کور اخیستل غواړي نو سوال دا ده چې شفیع ته د روپیو نقد ورکول پکار دي او که هغه ته هم د نیتې ورکولو سهولت ورکول کیدئ شي په دې باره کې دوه مذهبه دي:

۱: امام زفر رحمه الله، امام احمد امام شافعي پخوانی قول دا ده چې شفیع ته هم همدا اختیار شته دی چې په هماغه معین وخت باندې روپۍ ورکړي کوم چې د بائع او مشتري په مینځ کې معلوم شوی دی.

۲: د احنافو مذهب دا ده چې شفیع لره دوه اختیاره دي:

۱: چې د کور قیمت نقد ورکړي د قرض سهولت نشي ورکول کیدی، ځکه چې د بائع عامه قاعده د نقد اداء کولو ده، پاتې شوه دا خبره چې بائع خو مشتري ته په قرض ورکړی دی د دې ځواب دا ده چې بائع په مشتري باندې په اعتماد کولو سره هغه ته د قرضی سهولت ورکړی دی نو ځکه د هغه تعلق له بیع سره ندی بلکې د هغه تعلق له اعماد سره دی او دا خبره بیخي ضروري نده چې مشتري هم په شفیع باندې اعتماد وکړي او قرض ورکړي نو ځکه په شفیع باندې د نقد قیمت ورکول واجیبږي

۲: دویم اختیار شفیع ته دا ده چې له اخیستو څخه صبر وکړي پاتې شو طلب هغه دې سمدستي وکړي، د صاحب قدوري قول (حتی ینقضی الاجل) دا مطلب هیڅکله ندی چې د مودې تر تیریدلو پورې دې له طلب شفعه څخه صبر وکړي، بلکې طلب شفعه خو د علم په وخت کې کیدی شي، بلکې مطلب یې دا ده چې د قرض مودې پوره کیدو پورې دې انتظار وکړي او کله چې د قرض موده ختمه شي نو په هغه وخت کې دې نقد قیمت ورکړي او له مشتري دې واخلي.

مسئله مشتري کور واخیست دا وخت شفیع د شفعه له اخیستو انکار وکړ نو اوس د هغه شفعه باطله شوې ده، اوس مشتري واپس کړی دی یا د خیار رؤیت یا د خیار عیب یا د خیار شرط له امله د قاضي په فیصله سره بهر حال په همدې دریو صورتونو کې د کوم صورت له مخې کور بائع ته ور واپس کړ بیا یې د شفعه دعوه وکړه یعنې همدې واپسي ته یې د بیع درجه ورکړه شفعه یې وغوښتله نو آیا شفیع ته شفعه ورکول کیدی شي؟ ویل شوي چې نشي ورکول کیدی، ځکه کله چې قاضي د مبیعی د واپس کولو فیصله وکړه نو لومړی بیع بالکل له منځه ولاړه، دلته کومه نوې بیع نده شوې بلکې بائع مخکې هم د دې مالک وو او اوس هم د هغه مالک دی، نو کله چې شرط فوت شو نو د شفعه ورکولو څه سوال دی؟

مسئله: په ماقبل مسئله کې واپسي د قاضي په فیصله سره وه د هغې حکم تېر شوی او که چېرته د قاضي له فیصله پرته یې واپس کړي یا دواړو اقاله وکړه نو په دې دواړو صورتونو کې شفیع ته شفعه ورکول کیدی شي. ځکه چې دلته د قاضي حکم نشته دی، بلکې د دواړو رضامندي ده او دواړه عاقل بالغ دي په خپل ځان یې ولایت حاصل دی. نو ځکه د دوی په دواړو په حق کې دا فسخ بیع ده. مګر د دوی په شفیع باندې هیڅ ولایت نشته نو ځکه د دریم په حق کې نوې بیع ده او شفیع دریم کس دی بهر حال شفیع ته شفعه ورکول کیدی شي.

كِتَابُ الشَّرِكَةِ

د شرکت بیان

د بحث له شروع کیدو مخکې څو خبرې په ذهن کې ساتل ضروري دي، د شرکت لغوي تعریف، د شرکت اصطلاحي تعریف، د شرکت ثبوت

د شرکت لغوي تعریف: د شرکت لفظ د شین په زیر او د راء په جزم سره دی او همدا صورت زیات فصیح دی، د یوه مال له بل مال سره په ډول یو ځای کول چې په دواړو کې امتیاز پاتې نشي

اصطلاحي تعریف: په اصل او نفع کې د دوو برخه والو په خپل مینځ کې شریک کیدل

د شرکت ثبوت: د شرکت ثبوت په دې آیت کریمه کې دی ﴿فَإِن كَانُوا أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ﴾

ترجمه: که چېرته له دې زیات ورونه وو نو په دریمه کې سره شریک دي، همدارنګه له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه مرفوع حدیث قدسي منقول دی چې الله تعالی فرمایلي دي زه د دوو شریکانو کې دریم یم ترڅو پورې چې په هغو کې یو ملګری له بل سره خیانت ونکړي، او کله چې خیانت وکړي نو زه د هغوی له مینځ څخه وځم

اَلشَّرِكَةُ عَلٰى ضَرْبَيْنِ شَرِكَةِ أَمْلَاكٍ وَشَرِكَةِ عُقُودٍ فَشَرِكَةُ الْأَمْلَاكِ الْعَيْنُ يَرِثُهَا رَجُلَانِ أَوْ يَشْتَرِيَانِهَا
شرکت په دوه قسمه دی شرکت املاک او شرکت عقود شرکت املاک دا ده چې د یوه شي دوه وارث وي یا دا چې دواړه سره یو ځای شي او یو شی واخلي

تشریح: شرکت په دوه قسمه دی شرکت املاک او شرکت عقود، د شرکت املاک مطلب دا ده چې دوه یا زیات کسان په کوم امر کې پرته له کومې معاهدې شریک وي، یعنې باقاعده د ایجاب او قبول په کولو سره په کوم شي کې شریکان نوي، بلکې یو ناڅاپه شریکان وي، مثلا د پلار په مړینه یو شی د دوو هلکانو په مینځ کې په میراث کې راشي او دواړه زامن په همدې شي کې د وراثت له امله شریکان شوي وي، یا دوه کسانو یو شی واخیست او دواړه د یوه شي مالک جوړ شول نو چونکه د ملکیت په اعتبار سره شرکت شوی نو ځکه ورته شرکت املاک ویل کیږي

فَلَا يَجُوزُ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ
نو د هيڅ يوه لپاره روا نده چې تصرف وکړي د بل په برخه کې مگر د هغه په اجازه سره او په دواړو کې هر يو د هغه بل په برخه کې
كَالْأَجْنَبِيِّ وَالضَّرْبُ الثَّانِي شَرِكَةُ الْعُقُودِ وَهِيَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ مُفَاوَضَةٍ وَعِنَانٍ
د بيگانه په شان دى او دويم قسم شركت عقود دى او دا په څلور قسمه دى شركت مفاوضه، عنان،
وَشَرِكَةِ الصَّنَائِعِ وَشَرِكَةِ الْوُجُوهِ
شركت صنائع او شركت وجوه

تشريح د كتاب صاحب ويلي دي چې شركت په دوه قسمه دى. شرمت املاک او شركت عقود، دلته د شركت املاک حكم بيان شوى دى چې په شريكانو كې هر يو د هغه بل په برخه كې د اجنبي په شان دى، اگر كه په يوه شي كې د دواړو شركت دى، ليكن د دواړو برخې جلا جلا دي نو ځكه د بل په برخه كې د هغه له اجازه پرته تصرف كول ناروا دي، د هغه لپاره دې نوبت مقرر كړي او په نوبت نوبت دې استعمالوي

شركت عقود دا ده چې دوه يا زيات كسان د خپل منځى معاهدې په ذريعه په كوم مال يا د هغه په گټه كې شركت سره وكړي، شركت عقود ته عقود له دې امله ويل كيږي چې په دې شركت كې باقاعده عقد كول كيدى شي او د ايجاب او قبول په ذريعه شركت او منفعت طى كيدى شي، د دې د څلورو قسمونو تفصيل وړاندې را وران دى

فَأَمَّا شَرِكَةُ الْمُفَاوَضَةِ فَهُوَ أَنْ يَشْتَرِكَ الرَّجُلَانِ فَيَتَسَاوَيَانِ فِي مَالِهِمَا وَتَصَرُّفِهِمَا وَدِيْنِهِمَا
بهر حال شركت مفاوضه هغه دا ده چې دوه كسان شريک شي چنانچه دواړه برابر وي په مال كې په تصرف كې او په مذهب كې
فَتَجُوزُ بَيْنَ الْحُرَّيْنِ الْمُسْلِمَيْنِ الْبَالِغَيْنِ الْعَاقِلَيْنِ وَلَا يَجُوزُ بَيْنَ الْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ
لهذا روا ده په داسې دوه كسانو كې كوم چې آزاد مسلمان عاقل او بالغ وي او روا نده د آزاد او غلام په مينځ كې
وَلَا بَيْنَ الصَّبِيِّ وَالْبَالِغِ وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرِ وَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ وَالْكَفَالَةِ
او نه د ماشوم او بالغ په مينځ كې او نه د مسلمان او كافر په مينځ كې او شركت مفاوضه منعقد كيدى شي په وكالت او كفالت باندې

وَمَا يَشْتَرِيهِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَكُونُ عَلَى الشَّرِكَةِ إِلَّا طَعَامَ أَهْلِهِ وَكِسْوَتَهُمْ
او کوم څه چې واخيستل په دوی کې کوم يوه هغه کيږي په شرکت باندې پرته د ښځې او ماشومانو له خوراک او پوښاک څخه
وَمَا يَلْزَمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنَ الدُّيُونِ بَدَلًا عَمَّا يَصِحُّ فِيهِ الِاشْتِرَاكُ فَالْآخَرُ ضَامِنٌ لَهُ
او کوم قرض چې لازم شي په دوی کې په کوم يوه باندې د هغه شي په بدل کې په کوم کې چې شرکت سهي دی نو دويم شريک د هغه ضامن کيږي

خلاصه: د قدوري صاحب په دې عبارت کې د شرکت مفاوضه تعريف او د هغه شرطونه بيان کړي دي

تعريف: شرکت مفاوضه دا ده چې دواړه شريکان په مال کې، په تصرف کې او په مذهب کې برابر وي

شرطونه: د مفاوضه معنی ده برابري، يعنې شرکت مفاوضه دا ده چې دوه يا زيات کسان په مشترک ډول دا معاهده وکړي چې دوی به يو ځای کار کوي او شرط به دا وي چې د دواړو سرمايه به برابره وي، دواړه به په اخيستو او خرڅولو کې برابر اختيار لري، همدارنګه دواړه به په مذهب کې شريک وي، چې دواړه کسان ازاد وي مسلمان وي دواړه عاقل او بالغ وي نو د دوی په مينځ کې شرکت مفاوضه سهي دی، په اصل کې په شرکت مفاوضه کې دواړه شريکان د يوه بل وکيل هم وي او کفيل هم، يعنې چې يوه شريک څه واخيستل نو نيم به د ده وي او نيم به د هغه بل وي. او که چيرته په يوه شريک باندې څه قرض وي نو په دويم شريک باندې هم نيمايي لازميږي، دواړه د يوه بل وکيل او کفيل هغه وخت جوړيدی شي کله چې هغه ټول شيان موجود وي کوم چې د کتاب صاحب نقل کړي دي

مسئله: له دې څخه په مخکې مسئله کې دا خبره تيره شوه چې په شرکت مفاوضه کې هر يو شريک د هغه بل وکيل هم دی او کفيل هم دی نو ځکه که چيرته يو غلام وي نو هغه نه وکيل جوړيدی شي او نه کفيل جوړيدی شي، نو ځکه د آزاد او غلام په مينځ کې شرکت مفاوضه نشي کيدی، همدارنګه ماشوم نه کفيل کيدی شي او نه وکيل کيدی شي نو ځکه د ماشوم او بالغ په مينځ کې شرکت مفاوضه نشي کيدی. د مسلمان او کافر په مينځ کې ځکه نشي کيدی چې د شرابو، سود او خنزير خريد او فروخت د کافر لپاره سهي دي او د مسلمان لپاره حرام دي، چونکه په ډيرو ځايونو کې کافر د مسلمان وکالت نشي کولی کوم چې په شرکت مفاوضه کې ضروري دی نو ځکه د مسلمان او کافر په مينځ کې شرکت مفاوضه نشي کيدی

د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد له کافر سره شرکت مفاوضه روا دی، البته مکروه دی، ځکه چې کافر عاقل او بالغ دی نو ځکه وکيل او کفيل جوړيدی شي، لهذا له هغه سره شرکت مفاوضه کيدلی شي

د شرکت مفاوضه لپاره دا هم شرط ده چې په شريکانو کې به هر يو د هغه بل وکيل هم وي چې کوم څه واخلي د هغه نيمايي به د ده وي او نيمايي به د هغه بل شريک وي د وکالت له امله، همدارنګه د يو

بل كفیل نه هم وي چې کوم قرض د یوه په سر باندې راشي په هغه کې نیمايي به په ده وي او نیمايي به د كفیل کیدو له امله په هغه بل وي

مسئله کله چې شرکت مفاوضه منعقد شي نو په دواړو کې هر یو کوم چې د تجارت له متعلقاتو واخلي هغه مشترک خرید متصور کیدی شي، البته د بال بچ د خوراک او کپړو او د هغوی د ژوند د ضروریاتو سامان د تجارت له متعلقاتو څخه ندي، نو ځکه کله چې همدا شیان یو شریک واخلي نو هغه صرف د ده لپاره دي د شریک لپاره ندي، ځکه چې په دې شیانو کې نه وکالت دی او نه کفالت دی

وَإِذَا وَرِثَ أَحَدُهُمَا مَا لَا تَصِحُّ فِيهِ الشَّرِكَةُ أَوْ وُهِبَ لَهُ وَوَصَلَ إِلَى يَدِهِ بَطَلَتِ الْمُفَاوَضَةُ
که چیرته وارث شي په دواړو شریکانو کې کوم یو د داسې مال په کوم کې چې شرکت سهی دی یا هغه ته هبه کړی شي او ورسیږي د هغه قبضې ته نو شرکت مفاوضه باطلیږي
وَصَارَتِ الشَّرِكَةُ عِنَانًا وَلَا تَنْعَقِدُ الشَّرِكَةُ إِلَّا بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ
او شرکت عنان کیږي او نه منعقد کیږي شرکت مګر په دراهم دنانیر او مروجه سکو سره
وَلَا يَجُوزُ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ إِلَّا أَنْ يَتَعَامَلَ النَّاسُ بِهِ كَالتِّبْرِ وَالنُّقْرَةِ فَتَصِحُّ الشَّرِكَةُ بِهِمَا
او ندی روا شرکت مفاوضه له دوی پرته په نورو کې مګر دا چې خلک په هغو سره معامله کوي لکه د سرو او سپینو په ټوټو سره چنانچه په هغو سره هم شرکت سهي کیږي
وَإِنْ أَرَادَ الشَّرِكَةَ بِالْعُرُوضِ بَاعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَ مَالِهِ بِنِصْفِ مَالِ الْآخَرِ ثُمَّ عَقَدَ الشَّرِكَةَ
او که اراده وکړي د شرکت کولو د سامان په ذریعه نو خرڅ دې کړي هر یو خپل نیمايي مال د بل د نیمايي مال په بدل کې بیا دې عقد شرکت وکړي

د لغاتو حل: **الفلوس** : د فلس جمع ده پیسې، **النافقة** : رائج، چالان، **الفلوس النافقة** : مروجه سکه، **التبر** : د سروه ټوټه، **النقرة** : د سپینو ټوټه، **العروض** : د عرض جمع ده اسباب او سامان.

خلاصه د قدوري صاحب ویلي دي په کومو شیانو کې چې شرکت سهي دی یعنې دراهم او دنانیر که چیرته په دواړو شریکانو کې یو د دراهمو دنانیرو یا د مروجه سکو وارث جوړ شو یا یو چا هبه کړه او هغه قبضه هم پرې وکړه نو شرکت مفاوضه باطلیږي او شرکت عنان ګرځي، ځکه په مفاوضه کې لکه څرنګه چې ابتدائي مالي مساوات شرط دی همدارنګه بقائي هم شرط دی، او دلته د وراثت او هبه له امله د مالک کیدو له وجهې د دواړو مال برابر پاتې نشو، بلکې د یوه زیات شو نو ځکه شرکت مفاوضه باطلیږي، لیکن چونکه په شرکت عنان کې د مال برابري شرط ندي بلکې که مال کم زیات وي بیا هم شرکت عنان روا دی نو ځکه دا شرکت عنان جوړیږي

کوم شيان چې له ثمن څخه دي لکه دراهم دنانير او مروجه سکه په هغو کې شرکت مفاوضه سهي کيږي، له دې پرته په نورو شيانو کې نه سهي کيږي، البته که چيرته خلک د کوم خاص شي مثلاً د سرو او سپينو خښتو يا ټوټو کې شرکت مفاوضه کوي نو بيا روا کيږي، څکه چې د سرو او سپينو خښتې هم د دراهمو او دنانيرو په حکم کې دي چې هغه هم په متعين کولو سره نه متعين کيږي [۱]

مسئله: له دراهم او دنانير پرته سامان او زمکه کې شرکت مفاوضه سهي ندی لکه له دې مخکې چې تير شوي دي، ليکن که چيرته يو څوک په دې کې شرکت کول غواړي نو د هغه صورت دا ده چې خپل نيمايي سامان د بل د نيمايي سامان په بدل کې خرڅ کړي او بيا برابر برابر دراهم يا دنانير سره يو ځای کړي او شرکت وکړي نو سهي دی، براه راست د سامان يو ځای کول او شرکت مفاوضه کول سهي ندي، امام مالک ويلي دي چې که کيلي او وزني شی وي او د دواړو شريکانو جنس يو وو مثلاً غنم بې سره ځای کړل شرکت يې کاوه نو سهي دی، څکه حضرت ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي شرکت مفاوضه په ټولو مالونو کې کيدلی شي

د شيخينو حضراتو په نزد شرکت مفاوضه د اعراضو په ذريعه روا ندی (هدايه).

وَأَمَّا شَرِكَةُ الْعِنَانِ فَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ دُونَ الْكَفَالَةِ وَيَصِحُّ التَّفَاضُلُ فِي الْمَالِ
او شرکت عنان په وکالت باندې منعقد کيدی شي نه په کفالت باندې او سهي دی کمی زياتی په مال کې
وَيَصِحُّ أَنْ يَتَسَاوَيَا فِي الْمَالِ وَيَتَفَاضَلَا فِي الرِّبْحِ وَيَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَهَا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا
او سهي دی دا چې دواړه برابر وي په مال کې او کمی زياتی وي په ګټه کې او روا دا چې عقد وکړي په شريکانو کې هر يو
بِبَعْضِ مَالِهِ دُونَ بَعْضٍ وَلَا تَصِحُّ إِلَّا بِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الْمُفَاوَضَةَ تَصِحُّ بِهِ وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِكَا
په خپل څينې مال سره نه په ټول مال سره او سهي نده مګر په هغو شيانو سره کوم چې مونږ بيان کړل چې مفاوضه په هغو سره سهي ده او روا ده چې شريک شي دواړه
وَمِنْ جِهَةِ أَحَدِهِمَا دَنَانِيرُ وَمِنْ جِهَةِ الْآخَرِ دَرَاهِمُ
او د يوه له طرفه دنانير وي او د بل له طرفه دراهم شي

شرکت عنان

خلاصه: د قدوري صاحب ويلي دي چې د عقد دويم قسم شرکت عنان دی، د دې مطلب دا ده چې دوه کسان د تجارت له مختلفو شيانو څخه د کوم يوه شي تجارت په مشترک ډول باندې وکړي، مثلاً د غنمو په تجارت کې شريک شي په دې تجارت کې هر يو شريک د سامان په اخيستو کې د دويم وکيل

[۱] کما في اللباب ۱/ ۵۵

جوړیدی شي چې د تجارت په مال کې کوم شی واخلي په هغه کې نیمایي د خان وي او نیمایي به د شریک لپاره وي. البته په دې شرکت کې د کفالت شرط نشته دی. یعنې فریقین د یوه بل د نقصان یا د مال ذمه وار کیدی نشي، بلکې ټول قرض به د هغه په ذمه وي چا چې اخیستی وي. دا شرکت د مسلمان او کافر په مینځ کې همدارنګه د ماشوم او نابالغ په مینځ کې د آزاد او غلام په مینځ کې (خو نګ چې د تجارت اجازت ورکړی شوی دی) په مینځ کې کیدی شي

په شرکت عنان کې د شرکت مفاوضه په شان په مال او نفع کې برابري ضروري نده، که چیرته د یوه شریک مال کم وو او د یوه مال زیات وو یا د دواړو برابر وو همدارنګه کوم یوه ته په نفع کې د کمې ورکولو شرط وو او بل ته د زیات ورکولو شرط وو مثلا د شریکانو په مینځ کې پریکړه وشوه چې یوه ته به د کار کولو په سلسله کې دوه برخې ورکول کیږي او بل ته به یوه ورکول کیږي او نقصان به هم په همدې نسبت سره وي دا ټول صورتونه په شرکت عنان کې سهي دي

که چیرته له شریکانو څخه د هر یوه په خپل مال سره شرکت وشو نو دا هم سهي دی، مثلا له یو چا سره دوه لکه روپۍ دي په هغو کې د یو لک په ذریعه شرکت وکړي او په پاتې یو لک یې ونکړي نو روا ده. څکه چې په شرکت عنان کې د دواړو شریکانو یو برابر کیدل ضروري ندي

مسئله د یوه شریک له طرفه دراهم شي او د بل له طرفه دنانیر شي او شرکت وکړي نو روا دی. زمونږ په نزد دلته د شرکت عنان لپاره د مال ګډ وډ کول ضروري ندي، د امام زفر په نزد اختلاط شرط دی او دراهم او نانیر د دوه جنس کیدو له امله خلط ملط کیدلی نشي نو څکه د هغه په نزد سهي ندی. احنافو دا وبلي دي چې په ډیر زیاتو احکامو کې دراهم او دنانیر په یوه جنس کې اینبودل شوي دي، لکه په باب الزکوة کې یو له بل سره یو خای کول کیدی شي، لهذا په دراهم او دنانیر باندې معامله کول ګوا که په جنس واحد باندې معامله کول دي

ویتفاضلا فی الربح د احنافو په نزد به مال کې مساوات او په نفعه کې کمی زیاتی سهي دی، مګر د امام زفر او امام شافعي په نزد کوم یوه ته د هغه د مال د مقررې برخې څخه زیاته ګټه مقرر کول سهي ندي. د حضرت امام مالک هم همدا مسلک دی (عیني)

وَمَا اشْتَرَاهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِلشَّرِكَةِ طُولِبَ بِثَمَنِهِ دُونَ الْآخَرِ وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْهُ
کوم څه چې واخیستل په دواړو کې یوه د شرکت لپاره طلب دې کړي د هغه قیمت له هغه نه له بل څخه او هغه دې واخلي له خپل شریک څخه د هغه د شرکت د برخې مطابق
وَإِذَا هَلَكَ مَالُ الشَّرِكَةِ أَوْ أَحَدُ الْمَالَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَا شَيْئًا بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ وَإِنِ اشْتَرَى
که چیرته هلاک شي د شرکت ټول مال یا د کوم یوه مال د کوم شي له اخیستلو مخکې نو شرکت باطلیږي او که چیرته واخیست

أَحَدُهُمَا بِمَالِهِ شَيْئًا وَهَلَكَ مَالُ الْآخَرِ بَعْدَ الشِّرَاءِ فَالْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا

په دوارو کښې يوه شريک په خپل مال سره کوم شی او هلاک شو د بل مال له اخيستو وروسته نو اخيستل شوی شی د دوارو په مينځ کښې د شرط مطابق مشترک دی

وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْ ثَمَنِهِ

او اخيستونکی دې له خپل شريک څخه د هغه د برخې مطابق روپۍ وصول کړي

خلاصه: په دې عبارت کښې د قدوري صاحب د شرکت عنان ماتحت څو مسئلې بيان کړې دي

وما اشتراه ..... منه د دې مسئلې صورت له ترجمې څخه واضح دی

واذاهلك ...... بطلت الشركة د شرکت تول مال هلاک شو نو ښکاره ده چې مال پاتې نشو نو شرکت به په کوم شي کې وي، نو ځکه شرکت ختميږي. او دويم صورت دا ده چې دواړو تراوسه پورې په خپل مينځ کښې مال سره يو ځای کړی هم نه وو او نه يې کوم شی اخيستی وو چې د يوه شريک مال هلاک شو بيا هم شرکت ختميږي. ځکه د کوم چې مال وو که چېرته د هغه په لاس هلاک شو نو بيا خو اوس شرکت ونشو او مال ختم شو. او که د بل شريک په لاس مال هلاک شو نو دا مال د هغه په لاس کښې امانت وو او چې امانت هلاک شي نو په هغه باندې تاوان نشته دی. او که مال له يو ځای کولو او د کوم شي له اخيستلو مخکښې هلاک شو نو اوس شرکت د کوم شي په ذريعه وکړي نو ځکه شرکت باطل کړی شو

وان اشترى احدهما الخ: په دوو شريکانو کښې يوه يې د خپل مال په ذريعه څه واخيستل دويم شريک تراوسه څه ندي اخيستي چې د هغه مال هلاک شو نو اخيستل شوی شی د شرط مطابق د دواړو شريک کيږي او اخيستونکی دې له خپل شريک څخه د هغه د شرکت د برخې مطابق د هماغه شي قيمت وصول کړي. ځکه په شرکت کښې اخيستل شوی نو ځکه هغه شی شريک کيږي

وَيَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَإِنْ لَمْ يَخْلِطَا الْمَالَ وَلَا تَصِحُّ الشَّرِكَةُ إِذَا شُرِطَ لِأَحَدِهِمَا دَرَاهِمُ مُسَمَّاةٌ مِنَ الرِّبْحِ

او سهي دی شرکت اگر که هغوی مال يو ځای کړی نوي او سهي ندی شرکت کله چې شرط ولګوي د کوم يوه لپاره د معلومو دراهمو د ګټې

وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُفَاوِضَيْنِ وَشَرِيكَيِ الْعِنَانِ أَنْ يُبْضِعَ الْمَالَ

د مفاوضه او عنان د هر شريک لپاره روا دي چې دوی چا ته مال ورکړي د بضاعت په ډول

وَيَدْفَعَهُ مُضَارَبَةً وَيُوَكِّلَ مَنْ يَتَصَرَّفُ فِيهِ وَيَرْهَنَ وَيَسْتَرْهِنَ وَيَسْتَأْجِرَ الْأَجْنَبِيَّ عَلَيْهِ

او د مضاربت په ډول او وکيل جوړ کړي داسې انسان کوم چې تصرف وکړي د شرکت په مال کښې او رهن کيږدي يا رهن وساتي او کوم اجنبي په نوکري ونيسي

وَبَيْعُهُ بِالنَّقْدِ وَالنَّسِيئَةِ وَيَدُهُ فِي الْمَالِ يَدُ أَمَانَةٍ

خريد او فروخت وکړي په نقد او قرض باندې او د شريک قبضه په مال کې د امانت قبضه ده

تشریح په دې عبارت کې څو مسلې بيان شوې دي:

مسئله که چيرته شريکانو له عقد شرکت وروسته مال په خپل مينځ کې سره يو ځای نکړ بلکې هر يوه خپل مال په خپله قبضه وساتلو نو په شرکت عنان کې د دې گنجايش شته دی، ځکه چې د شرکت دار مدار په تصرف باندې دی کوم شريک يې چې هم واخلي اخيستل شوی شی د دواړو په مينځ کې نيمايي نيمايي کيږي، په همدې مناسبت د شرط مطابق نفع کيږي، نو ځکه د مال يو ځای کولو ته خاص ضرورت نشته، دا تفصيل د احنافو په نزد دی، د امام شافعي او امام زفر په نزد په دغه شرکت کې هم د مال يو ځای ضروري دي

مسئله که چيرته له شريکانو څخه د کوم يوه لپاره په خپل مينځ کې په رضامندي سره د مخصوصي گټې شرط ولگوي نو په داسې صورت کې شرکت روا ندی. مثلاً داسې شرط ولگوي چې په گټه کې به لومړی سل روپۍ ماته راکوي باقي چې کومې پاتې شي په هغو کې به نيمايي نيمايي وي نو له دغه شرط سره شرکت روا ندی، کيدی شي چې په کومه موقع گټه سل روپۍ اوشي نو يوه ته به ورکړی شي او بل به وچه خوله پاتې شي، نو کله چې شرکت سهي ندی لهذا گټه د دواړو په مينځ کې د ملکيت په اعتبار سره کيږي، يعني که چيرته مال نيمايي نيمايي دی نو گټه به هم همداسې وي.

مسئله په تجارت کولو کې چې کومو کارونو ته ضرورت پيښيږي يا هغه کارونه د تجارت لپاره گټور وي د شرکت مفاوضه او شرکت عنان دواړه شريکان يې کولی شي، مثلاً مال د بضاعت په ډول يو چاته ورکړي يا يې د مضاربة په ډول ورکړي يا يو څوک د مال اخيستو لپاره وکيل جوړ کړي ترڅو چې پکې تصرف وکړي يعني خريد او فروخت وکړي يا د چا قرض لازم شوی وي د هغه له امله د شرکت مال په رهن کې کيږدي يا چاته د شرکت مال ورکړي د هغه کوم شی له ځان سره کيږدي يا کوم اجنبي کس په نوکري باندې ونيسي همدا ډول د شرکت مال په نقد او قرض هم خرڅولی شي.

وَأَمَّا شِرْكَةُ الصَّنَائِعِ فَالْخَيَّاطَانِ وَالصَّبَّاغَانِ يَشْتَرِكَانِ عَلَى أَنْ يَتَقَبَّلَا الْأَعْمَالَ

او بهر حال شرکت صنائع دا ده چې دوه خياطان يا دوه رنگ مالان شريک شي په دې خبره باندې چې دواړه به کار کوي

وَيَكُونَ الْكَسْبُ بَيْنَهُمَا فَيَجُوزُ ذٰلِكَ وَمَا يَتَقَبَّلُهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الْعَمَلِ يَلْزَمُهُ

او ويشل کيږي به گټه په دواړو باندې لهذا دا روا ده او س چې په دوی کې کوم يو کار وکړ هغه په ده باندې لازم ده

وَيَلْزَمُ شَرِيكَهُ فَإِنْ عَمِلَ أَحَدُهُمَا دُونَ الْآخَرِ فَالْكَسْبُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ

او په شريک باندې لازم شو بيا که چيرته په دوی دواړو کې يوه کار وکړ دويم نده کړی بيا هم گټه نيمايي ده

د شرکت صنائع بيان

د لغاتو حل **الصنائع**: د صنيعة جمع ده پيشه، **الخياط**: درزي، **الصباغ**: رنګريز، **الاعمال**: د عمل جمع ده کار، **الکسب**: آمدني، ګټه

خلاصه: د عقد شرکت دريم قسم شرکت صنائع دی د هغه صورت دا ده چې دوه کاريګر ټلا دوه خياطان يا دوه رنګ مالان شريک شي چې موږ به دواړه کار اخلو او کار به کوو او کومه ګټه چې کيدله هغې به دواړه نيمايي نيمايي اخلو يا به يې د شرط مطابق اخلو، چونکه په کاريګرۍ کې شرکت کړی دی نو ځکه ورته شرکت صنائع ويل کيږي، اوس له شريکانو څخه يوه شريک چې کوم کار واخيست د هغه کار کول به په دواړو وي او که چيرته يوه يې هغه کار وکړ او دويم بيخي کار ونکړ نو چې کوم آمدن راشي هغه د دواړو په مينځ کې د شرط مطابق نيمايي نيمايي کيږي، چې کار نکوي نو د کار کولو مطالبه کولی شي ليکن شرط د نيمايي نيمايي ګټې طی شوی دی نو ځکه د شرط مطابق نيمايي نيمايي کيږي

تشريح: د شرکت دا قسم د احنافو په نزد روا دی، د امام زفر او امام شافعي رحمهما الله په نزد روا ندی، دلته دې دا واضحه وي چې په دې موقع د احنافو په نزد د عقد سهي کيدو لپاره اتحاد عمل او اتحاد مکان شرط ندي، که چيرته يو درزي (خياط) بل رنګريز او دوبي وي او د دواړو دکانونه هم جلا جلا وي نو دا شرکت سهي کيږي، د امام زفر او امام شافعي په نزد په دواړو کې اتحاد شرط دی

وَأَمَّا شِرْكَةُ الْوُجُوهِ فَالرَّجُلَانِ يَشْتَرِكَانِ وَلَا مَالَ لَهُمَا عَلَى أَنْ يَشْتَرِيَا بِوُجُوهِهِمَا وَيَبِيعَا
او بهر حال شرکت وجوه دا ده چې دوه کسان شريک شي او له دې دواړو سره مال نه وي په دې شرط باندې چې دواړه به يې اخلي په خپلو تعلقاتو سره او خرڅوي به يې
فَتَصِحُّ الشِّرْكَةُ عَلَى هٰذَا وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَكِيلُ الْآخَرِ فِيمَا يَشْتَرِيهِ فَإِنْ شَرَطَا
نو شرکت سهي دی او په دواړو کې به هر يو د بل وکيل وي په هغه شي کې کوم چې هغه اخلي که چيرته شرط ولګوي دواړه
أَنْ يَكُونَ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ فَالرِّبْحُ كَذٰلِكَ وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَفَاضَلَا فِيهِ
په دې خبره باندې چې اخيستل شوی شی به د دواړو په مينځ کې نيمايي نيمايي وي نو ګټه به هم په همدې ډول وي او روا نده چې زيادت وکړي په دې کې
وَإِنْ شَرَطَا أَنَّ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا فَالرِّبْحُ كَذٰلِكَ
او که چيرته دواړه شرط کړي چې اخيستل شوی د دواړو په مينځ کې به په دريمه وي نو ګټه به يې هم په همدې ډول وي

د شرکت الوجوه بيان

خلاصه د شرکت عقود څلورم قسم شرکت وجوه دی د هغه صورت دا ده چې دوه شريکان خالي لاس وي او خپل خپل تعلقات اعتماد او اعتبار په ذريعه له تاجرانو څخه په قرض اخلي او خرڅوي يې او ګټه کوي د شرکت دا صورت هم سهي دی او ديته شرکت وجوه ځکه ويل کيږي چې په څهره او رعب سره مال اخلي او خرڅوي.

په شرکت وجوه کې يو شريک چې څه واخلي په هغه نيمايي د هغه کيږي او نيمايي د شريک کيږي، ځکه چې په دې شرکت کې هم شريک د بل وکيل کيدی شي

د کتاب صاحب ويلي دي چې په شرکت وجوه کې د اخيستل شوي شي په اعتبار سره ګټه ويشل کيدی شي، يعني که چيرته د دواړو اخيستل شوی مال نيمايي نيمايي دی نو ګټه به هم د دواړو نيمايي نيمايي وي، ګه چيرته کوم شريک د زياتي ګټې شرط ولګولو نو شرط باطليږي او که چيرته شرط ولګوي چې د يوه کس لخوا اخيستل شوی شی به يوه دريمه وي او د بل به دوه دريمې وي نو ګټه به هم هر يوه ته په همدې مناسبت سره ورکول کيږي، يعنې د کوم چې يوه دريمه ده هغه ته به يوه دريمه ورکول کيږي، او د کوم چې دوه دريمې دي هغه ته به دوه دريمې (دوه ثلثله) ورکول کيږي، له دې څخه د کم زيات شرط لګول روا ندي

وَلَا تَجُوزُ الشِّرْكَةُ فِي الِاحْتِطَابِ وَالِاحْتِشَاشِ وَالِاصْطِيَادِ وَمَا اصْطَادَهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا
او روا ندی شرکت د لرګيو په جمع کولو او په وښو جمع کولو او ښکار کولو کې او په دوی کې چې کوم يو ښکار وکړي
أَوِ احْتَطَبَهُ فَهُوَ لَهُ دُونَ صَاحِبِهِ وَإِذَا اشْتَرَكَا وَلِأَحَدِهِمَا بَغْلٌ وَلِلْآخَرِ رَاوِيَةٌ يَسْتَقِي عَلَيْهِمَا الْمَاءَ
يا لرګي جمع کړي نو هغه د هغه کيږي نه د هغه بل لپاره که چيرته دوه کسان شريکان شي د يوه آس وي او د بل مشکيزه په هغو سره اوبه راوړي
وَالْكَسْبُ بَيْنَهُمَا لَمْ تَصِحَّ الشَّرِكَةُ وَالْكَسْبُ كُلُّهُ لِلَّذِي اِسْتَقَى وَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الْبَغْلِ
او ګټه د دواړو وه نو دا شرکت سهي ندی او ټوله ګټه د هغه کيږي کوم يې چې خروب کړي هو په هغه باندې آس (قچر) اجرت مثل واجبيږي
وَكُلُّ شَرِكَةٍ فَاسِدَةٍ فَالرِّبْحُ فِيهَا بِ عَلَى قَدْرِ رَأْسِ الْمَالِ وَيَبْطُلُ شَرْطُ التَّفَاضُلِ
او په هر شرکت فاسده کې ګټه د اصل مال په حساب سره تقسيمېدی شي د کموالي او زياتوالي شرط باطليږي

د شرکت فاسده بيان

د لغاتو حل: **احتطاب**: د باب افتعال مصدر دی د لرګيو جمع کول. **الاحتشاش**: مصدر دی له باب افتعال څخه د وښو جمع کول. **الاصطياد**: مصدر له باب افتعال څخه ښکار کول. **بغل**: قچر. **راوية**: مشک. **يستقي استقاء**: د اوبو را پورته کول. **الکسب**: آمدني، ګټه. **الربح**: نفعه

خلاصه: په دې ځای کې د شرکت فاسده احکام بيان شوي دي. شرکت فاسده هغه دی په کوم کې چې د شرکت د سهي کيدو له شرطونو څخه کوم شرط ونه موندل شي، د همدې مسئلې دار مدار په دې باندې دی کوم شی چې مباح دی په هغه چې څوک قبضه وکړي هغه مفت د هغه کيږي. په هغه کې د شرکت ضرورت نشته دی او نه په هغه کې وکالت سهي دی. اوس د کتاب مسئله زده کړی. د سون لرګي په ځنګل کې مفت پيدا کيږي څوک چې هغه راټول کړي د هغه کيږي. وابښه په ځنګلونو کې مفت پيدا کيږي څوک يې چې وريبي د هغه کيږي. همدا حال د ښکار د ځناور دی. د همدې شيانو په ترلاسه کولو کې شرکت سهي ندی. ځکه چې شرکت وکالت لره شامل دی او د مباح شيانو په ترلاسه کولو کې وکالت نشتي کيدی. ځکه چې د مباح شيانو په خپله موکل مالک کيدی نشي نو هغه د خپل ځان پر ځای د بل چا قائم مقام څنګه کيدی شي

د ځنګل په لرګيو او وغيره کې د دوه کسانو شرکت ګوا که اصالةً فاسد دی. ليکن که چيرته په دې باندې عمل وکړی شي بيا پرې د شريعت احکام مرتب کيدی شي، له دې څخه دا مسئله هم ده چې که چيرته دوه کسانو شرکت وکړ چې مونږ دواړه به د ځنګل لرګي جمع کوو او آمدن به په مينځ کې نيمايي نيمايي ويشل کيږي. اوس صورت داسې مخته راغی چې لرګي په دوی دواړو کې يوه جمع کړل ليکن دويم مرسته وکړه مثلا له يوه ځای څخه بل ځای ته يې نقل کړل نو اوس د استحسان غوښتنه دا ده چې لرګي صرف د جمع کوونکي ملکيت وګڼل شي او مرسته کوونکي ته د هغه د عمل اجرت ورکړی شي مګر اندازه به يې له نيمايي لرګيو زياته نوي، ځکه چې له نيمايي څخه د زيات شرط په لګولو سره هغه په خپله منع کړی دی، دا د امام ابويوسف رحمه الله غوره کړی شوی مذهب دی. د دې په خلاف دقياس غوښتنه دا ده چې لرګي د جمع کوونکي شي او مرسته کوونکي ته پوره مزدوري ورکړی شي. اګر که هغه که د لرګيو د نيمايي قيمت څخه زيات وي ځکه که چيرته اولين کس ته لرګي ورنکړی شي بيا هم له هغه سره په مرسته کولو باندې مزدوري ورکول کيدی شي، دا د امام محمد قول دی. او علماؤ همدا غوره کړی دی. او که چيرته دواړو په ګډه لرګي راټول کړل نو دواړو ته نيمايي نيمايي ورکول کيږي

مسئله: له يوه کس سره قچر دی او له بل سره د څرمني غټه دولچه ده دوی دواړه په دې خبره کې شريکان شول چې د همدې دواړو په ذريعه اوبه راوړي او کومه ګټه چې اوشي په خپل مينځ کې به يې سره وويشي نو دا شرکت سهي ندی. اوس چې کومه ګټه شويده هغه ټوله د هغه کيږي کوم چې اوبه

لګولي دي او دويم ته د هغه شي اجرت ورکول کيږي، که چيرته د قچر والا اوبه ولګولي نو ګټه د هغه کيږي او د ډولچي والا ته اجرت ورکول کيږي، او که چيرته د ډولچي والا کار وکړ نو ګټه د هغه کيږي او د قچر والا ته اجرت ورکول کيږي، ځکه اوبه مباح دي د هغو په را ويستلو کي شرکت کول فاسد دي، نو ځکه چا چي په اوبو باندي قبضه وکړه اوبه د هغه شوي او ګټه هم د هغه شوه، دويم ته د هغه شي اجرت ورکول کيږي

وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ أَوِ ارْتَدَّ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتِ الشَّرِكَةُ
او که له شريکانو څخه کوم يو مړ شي يا مرتد شي او دار الحرب ته ولاړ شي نو شرکت باطليږي
وَلَيْسَ لِوَاحِدٍ مِنَ الشَّرِيكَيْنِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاةَ مَالِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ فَإِنْ أَذِنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا
نشته په شريکانو کي د يوه لپاره هم چي هغه د بل له مال څخه زکات ورکړي مګر د هغه په اجازه که چيرته په دوی کي يوه اجازت ورکړ
لِصَاحِبِهِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاتَهُ فَأَدَّى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فَالثَّانِي ضَامِنٌ سَوَاءٌ عَلِمَ بِأَدَاءِ الْأَوَّلِ
خپل ملګري ته چي زکات اداء کړه بيا هر يوه اداء کړ نو دويم ضامن کيږي برابره ده له هغه مخکي ورکوونکي خبر وي
أَوْ لَمْ يَعْلَمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَقَالَا إِنْ لَمْ يَعْلَمْ لَمْ يَضْمَنْ
او که نوي خبر د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد او صاحبينو ويلي دي چي که چيرته هغه ته معلومه نوه نو نه ضامن کيږي

خلاصه: د قدوري صاحب ويلي دي چي په شريکانو کي کوم يو مړ شو يا مرتد شو دار الحرب ته ولاړ نو شرکت باطل شو، ځکه چي د شرکت لپاره د شريک وکيل کيدل ضروري دي او په مريني سره وکالت ختميږي نو ځکه شرکت ختم شو، همدارنګه په مرتد کيدو سره چي هغه واپس بيرته رانشي نو ګوا که د مړه په حکم کي شو نو ځکه شرکت باطليږي

د دويم شريک په برخه کي چي کوم مال راځي که چيرته د نصاب په اندازه دي نو د لومړي شريک لپاره د دويم شريک له اجازي پرته د هغه د مال زکات ورکول روا ندي، ځکه چي په شريکانو کي هره يوه ته د تصرف کولو اجازه شته هغه د تجارت له امورو څخه دي او زکات ورکول د تجارت له اعمالو څخه ندي. هو که چيرته هغه د زکات ورکولو اجازت ورکړي نو اداء کولی يي شي

مسئله که په شريکانو کي هر يوه بل ته د زکات ورکولو اجازه کړي وه بيا دواړو خپل خپل زکات هم ورکړ او د شريک يي هم ورکړ نو کوم شريک چي په وروسته کي د خپل شريک زکات ورکړی دی هغه نفلي صدقه شوه واجب زکات ندی، ځکه چي مخکني شريک خپل زکات په خپله اداء کړی وروسته ادائيګي نفلي صدقه شوه او د نفلي صدقه اجازه خو نوه اوس په وروسته کي اداء کوونکی د مخکني لپاره ضامن

کیږي، برابره ده د وروسته والا ته د مخکښي د ورکولو خبر وي او که نوي. ځکه مخکښي شریک کوم چې زکات اداء کړي نو د دویم د زکات اداء کولو له وکالت څخه معزول شو نو ځکه کوم څه یې چې د شرکت له مال څخه اداء کړي د هغه شریک لپاره ضامن کیږي، دا مکمل تفصیل د امام صاحب رحمه الله په نزد دی، صاحبینو ویلي دي که چیرته وروسته والا ته د مخکښي خبر وو نو بیا ضامن کیږي او که چیرته خبر نه وو نو نه ضامن کیږي، ځکه چې وروسته کې اداء، کوونکي ته د شریک اجازه وه د کوم چې مطلب دا ده چې د فقیر د مالک کیدو خبر نه وو، برابره ده که هغه د واجب الزکوة په ډول وو یا د نفلي زکات په ډول او د هغه د حکم مطابق هغه کړي او هغه ته د مخکښي د ورکولو خبر نه وو نو ځکه هغه ضامن نشو

كِتَابُ الْمُضَارَبَةِ

د مضاربت بیان

مضاربت یو ډول شرکت دی نو ځکه د کتاب صاحب له کتاب الشرکة وروسته د مضاربت احکام بیان کړي دي

د مضاربت لغوي تحقیق: مضاربت د لغت په اعتبار سره له باب مفاعلت څخه دی او له ضرب في الارض څخه مشتق دی په زمکه باندې تګ او سفر کول

وجه تسمیه: مضارب په زمکه کې سفر کوي او د تجارت په کولو سره ګټه کوي نو ځکه هغه عقد ته مضاربت ویل کیږي

اصطلاحي تعریف: د یوه کس له طرفه مال وي کوم ته چې رأس المال ویل کیږي او د دویم له طرفه کار کول وي په کومه سره چې ګټه کیدلی شي او په ګټه کې دواړه شریکان وي

د مضاربت ثبوت: ابن جعد بارقي رضي الله عنه ویلي دي چې ده ته رسول الله صلى الله عليه وسلم د قرباني پسه اخیستو لپاره یو دینار ورکړ نو ده دوه پسونه واخیستل بیا یې په هغو کې یو په یوه دینار باندې خرڅ کړ بیا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په یو پسه او یو دینار سره راغی نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د ده لپاره په بیعه کې د برکت دعا وکړه بیا داسې وشول که چیرته هغه به خاورې هم واخیستې نو په هغو کې به هم ګټه وه له دې حدیث معلومه شوه چې مضاربت روا دی، همدارنګه خلکو ته د دې ضرورت هم شته، ځکه ډېر خلق داسې کیږي چې یو کس مالدار وي مګر په کاروبار کې بیخي تجربه نلري، او ځینې خلک داسې وي چې مالدار خو نوي مګر په تجارت کې ځانګړې تجربه لري، نو د عقد مضاربت مشروعیت ضروري دی ترڅو چې د ټولو خلکو ضرورت پوره شي

اَلْمُضَارَبَةُ عَقْدٌ عَلَى الشَّرِكَةِ فِي الرِّبْحِ بِمَالٍ مِنْ أَحَدِ الشَّرِيكَيْنِ وَعَمَلٍ مِنَ الْآخَرِ
مضاربت یو عقد دی په شرکت باندې په ګټه کې له شریکانو څخه د یوه مال او د دویم په عمل سره
وَلَا تَصِحُّ الْمُضَارَبَةُ إِلَّا بِالْمَالِ الَّذِي بَيَّنَّا أَنَّ الشَّرِكَةَ تَصِحُّ بِهِ وَمِنْ شَرْطِهَا أَنْ يَكُونَ الرِّبْحُ
او سهي نده مضاربت مګر په هغه مال سره کوم چې مونږ بیان کړ چې شرکت په هغه سره سهي دی او د مضاربت له شرطونو څخه دا هم ده چې وي به ګټه

بَيْنَهُمَا مُشَاعًا لَا يَسْتَحِقُّ أَحَدُهُمَا مِنْهُ دَرَاهِمَ مُسَمَّاةً وَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْمَالُ

د دواړو په مینځ کې مشترک په دې دول چې په هغو کې به کوم یو د متعین دراهمو متسحق نوي او دا هم ضروري ده چې مال به

مُسَلَّمًا إِلَى الْمُضَارِبِ وَلَا يَدَ لِرَبِّ الْمَالِ فِيهِ

سپارل شوی وي مضارب ته او د مال والا به په هغه هیڅ ډول قبضه نوي

خلاصه : قدوري صاحب په دې عبارت کې د عقد مضاربت اصطلاحي تعریف او شرطونه بیان کړي دي. یعنې د مضاربت صورت دا ده چې له یوه طرفه مال وي او د دویم له طرفه کار وي او په گټه کې دواړه شریکان وي. د کوم له طرفه چې مال وي هغه ته رب المال او کار کوونکي ته مضارب او کوم مال چې ورکړی شي هغه ته د مضاربت مال ویل کیږي.

د مضاربت د شرطونو بیان

اول شرط په کوم مال کې چې شرکت سهي دی یعنې دراهم او دنانیر او مروجه سکې په هغو کې مضاربت هم سهي دی. د سامان په ذریعه سهي ندی. هو که چیرته سامان ورکړي او ووایي چې دا خرڅ کړه کوم دراهم یا دنانیر چې راشي په هغو کې مضاربت وکړه نو سهي دی. ځکه چې د وکالت په ډول لومړی سامان خرڅ کړي بیا چې کوم قیمت راشي په هغو سره مضاربت شروع کړي نو گوا که چې په دراهم یا دینار سره مضاربت شروع شوی

دویم شرط په ماقبل مسئله کې د مضاربت اول شرط بیان شوی. په دې عبارت کې دویم شرط بیانولی شي. هغه دا ده چې کوم څه گټه اوشي هغه به د رب المال او مضاربت دواړو په مینځ کې مشترکه وي. داسې به نوي چې په گټه کې به څه معلومې روپې کوم یوه ته ورکول کیږي او بیا چې کوم څه پاتې شي هغه به په دواړو ویشل کیږي

دریم شرط په دې عبارت کې د دریم شرط بیان دی. یعنې د مضاربت له شرطونو دا هم ده چې مال مضارب ته مکمل وسپارل شي ترڅو چې هغه په خلاص زړه تجارت وکړي او په هغه باندې د مال والا هیڅ ډول قبضه نوي. که چیرته د مال والا قبضه وه نو مضارب د خپلې خوښې مطابق په تجارت کولو کې گټه نشي کولی

فَإِذَا صَحَّتِ الْمُضَارَبَةُ مُطْلَقَةً جَازَ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَشْتَرِيَ وَيَبِيعَ وَيُسَافِرَ وَيُبْضِعَ وَيُوَكِّلَ

بیا کله چې مضاربت مطلقا سهي شي نو روا ده د مضارب لپاره چې واخلي او خرڅ کړي او سفر وکړي او په بضاعت یې ورکړي او وکیل جوړ کړي

وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَدْفَعَ الْمَالَ مُضَارَبَةً إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ رَبُّ الْمَالِ فِي ذَلِكَ أَوْ يَقُولَ لَهُ

او د مضارب لپاره روا نده چې ورکړي مال په مضاربت باندې مگر دا چې اجازه ورکړي د مال والا یا ورته ووایي

اِعْمَلْ بِرَأْيِكَ وَإِنْ خَصَّ لَهُ رَبُّ الْمَالِ التَّصَرُّفَ فِي بَلَدٍ بِعَيْنِهِ أَوْ فِي سِلْعَةٍ بِعَيْنِهَا
د خپلې رأيې مطابق کار وکړه او که چیرته خاص کړي د مضارب لپاره د مال والا تصرف کول په کوم معلوم ښار کې یا په معلوم سامان کې
لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنْ ذٰلِكَ وَكَذٰلِكَ إِنْ وَقَّتَ الْمُضَارَبَةَ مُدَّةً بِعَيْنِهَا جَازَ
نو د مضارب لپاره روا ندي چې له هغه تجاوز وکړي او همدارنګه که مالک د مضاربت موده معلومه کړي نو روا ده
وَبَطَلَ الْعَقْدُ بِمُضِيِّهَا
او عقد باطلیږي د مودې په تیریدا سره

خلاصه : د مضاربت دوه قسمونه بیان شوي دي :

۱ : مضاربت مطلقه.

۲ : مضاربت مقیده

د مضاربت مطلقه صورت دا ده چې په هغه کې د کوم زمان مکان او کوم خاص سامان قید نوي نو مضارب هغه ټول کارونه کولی شي کوم چې د تجارت لپاره ګټه رسوونکي وي، مثلا په رأس المال سره کوم شی اخیستی شي بیا هغه خرڅولی شي د همدې مال په اخیستو سفر کولی شي او دغه مال په بضاعت باندې ورکولی شي یو څوک وکیل جوړولی شي، امام ابویوسف ویلي دي چې د مضاربت مال په اخیستو سره داسې سفر نشي کولی په کوم کې چې د مال د هلاکت خطر وي

د مال والا یو چا ته په مضاربت باندې مال ورکړ نو اوس مضارب په خپل اختیار سره یو څوک مضارب نشي جوړولی، خکه چې رب المال په مضاربت کې په مضارب باندې یقین کړی په بل چا یې نده کړی، هو که چیرته هغه رب المال د مضارب جوړولو اختیار ورکړی وو یا یې ورته ویلي وو چې د خپلې رأیې مطابق کار وکړه نو بیا دغه مال په مضاربت باندې ورکولی شي

د مضاربت مقیده مطلب دا ده چې که چیرته د مال والا دا شرط ولګوي چې صرف په فلاني ښار کې تجارت وکړه یا د فلاني شي تجارت وکړه مثلا په سهارنپور کې د کپړې تجارت وکړه نو اوس د مضارب لپاره له همدې شرط څخه مخالفت کول روا ندي، دا شرطونه د دې لپاره لګول کیږي چې مال هلاک نشي یا ښه ګټه وکړی شي نو خکه د همداسې شرطونو لګول روا دي، او کله چې شرط ولګوي د هغه لحاظ کول ضروري دي

وَلَيْسَ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَشْتَرِيَ أَبَ رَبِّ الْمَالِ وَلَا ابْنَهُ وَلَا مَنْ يَعْتِقُ عَلَيْهِ فَإِنِ اشْتَرَاهُمْ
او روا نده د مضارب لپاره د مال والا پلار او د هغه د زوی اخیستل او نه د داسې کس کوم چې په هغه باندې آزادیږي که چیرته یې همدا کسان واخیستل

كَانَ مُشْتَرِيًا لِنَفْسِهِ دُونَ الْمُضَارَبَةِ وَإِنْ كَانَ فِي الْمَالِ رِبْحٌ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ
نو د ځان لپاره اخيستونكى كيږي نه د مضاربت لپاره او كه چيرته په مال كې ګټه وه نو د مضارب لپاره روا نده چې واخلي
مَنْ يَعْتِقُ عَلَيْهِ وَإِنِ اشْتَرَاهُمْ ضَمِنَ مَالَ الْمُضَارَبَةِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي الْمَالِ رِبْحٌ
داسې كس كوم چې په مضارب باندې ازاديږي او كه يې هغه واخيست نو د مضاربت د مال ضامن شو او كه په مال كې ګټه نوه
جَازَ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَهُمْ فَإِنْ زَادَتْ قِيمَتُهُمْ عَتَقَ نَصِيبُهُ مِنْهُمْ وَلَمْ يَضْمَنْ لِرَبِّ الْمَالِ شَيْئًا
نو د هغه لپاره روا ده چې هغه واخلي بيا كه چيرته د هغه قيمت زيات شي نو ازاديږي د مضارب برخه له هغه ځخه او مضارب د رب المال لپاره د كوم شي نه ضامن كيږي
وَيَسْعَى الْمُعْتَقُ لِرَبِّ الْمَالِ فِي قِيمَةِ نَصِيبِهِ مِنْهُ
كوشش به كوي ازديدونكى غلام د رب المال لپاره د هغه د برخې په قيمت كې

تشريح : **وليس للمضارب........دون المضاربة** د رب المال په ذمه چې د كوم ازادول لازم دي كه ازادي د قرابت له وجهې وي يا له كومې بلې وجهې وي بهر حال په ملكيت كې له راتلو سمدستي وروسته ازاديږي، مثلا چې د مال والا پلار واخلي نو هغه په رب المال باندې ازاديږي نو په دې سره د ګټې پر خاى نقصان وشو، همدارنګه چې زوى يې واخلي يا داسې كس واخلي كوم چې په مال والا باندې ازاديږي، مثلا د هغه نږدې رشته دار واخلي نو په داسې صورت كې هغه د مضاربت لپاره نه كيږي، بلكې په خپله د مضارب لپاره شو، او مضارب د هغه ضامن كيږي

وان كان في المال ربح.......ان يشتري بهم كه چيرته په مال كې ګټه وه يعنې غلام قيمت له رأس المال ځخه زيات وو نو د مضارب لپاره دا روا نده چې خپل داسې رشته دار واخلي كوم چې په هغه باندې ازاديږي، ځكه چې د رب المال په برخه كې فساد پيدا كيږي او هغه ته نقصان رسيږي، همدارنګه كه هغه ته هم د خپلې برخې ازادول شي يا له غلام ځخه سعيې كول شي ليكن كه چيرته بيا هم مضارب همدا غلام واخيست نو د مضاربت د مال ضامن كيږي، او كه چيرته په مال كې هيڅ ګټه نوه يعنې د غلام قيمت له رأس المال ځخه زيات نه وو بلكې برابر وو نو په دې كې د مضارب هيڅ برخه هم نشته نو ځكه په دې صورت كې په اخيستلو سره د مضارب رشته دار نه ازاديږي او مضارب ته د خپل رشته دار اخيستل سهي شول او غلام له رأس المال سره مشغول پاتې كيږي.

فان زادت الخ : په مال كې ګټه نوه په داسې صورت كې مضارب خپل ازاد كيدونكى رشته دار واخيست نو د هغه لپاره روا وه له اخيستو وروسته د هغه قيمت زيات شو نو د مضارب برخه ازاديږي ليكن چونكه په ازديدو كې د مضارب هيڅ دخله نوه خود بخود ازاد شوى دى نو ځكه مضارب د رب المال لپاره د كوم شي نه ضامن كيږي، ليكن غلام د رب المال د برخې په قيمت كې به سعيې كوي او

بیا غلام مکمل ازادیږي، مثلا په پنځه زره روپۍ یې غلام واخیست اوس د هغه قیمت شپږ زره روپۍ شو نو په یو زر روپیو کې پنځه سوه ګټه د رب المال شوه او پنځه سوه د مضارب شوه، اوس د مضارب چې کومه برخه ده هغه ازاده شوه، اوس غلام په شپږ زرو کې په پنځه سوه کې ازاد شو باقي پنځه پنځوس سوه د رب المال دي نو ځکه به غلام پنځه پنځوس سوه روپۍ ګټي رب المال ته به یې ورکوي او بیا به ټول ازادیږي

وَإِذَا دَفَعَ الْمُضَارِبُ الْمَالَ مُضَارَبَةً عَلَى غَيْرِهِ وَلَمْ يَأْذَنْ لَهُ رَبُّ الْمَالِ فِي ذَٰلِكَ لَمْ يَضْمَنْ بِالدَّفْعِ
او کله چې ورکړي مضارب بل چا ته مال د مضاربت په ډول حالانکه د مال والا په مضاربت باندې د ورکولو اجازه نوي کړې نو صرف په ورکولو سره نه ضامن کیږي
وَلَا يَتَصَرَّفِ الْمُضَارِبِ الثَّانِي حَتَّى يَرْبَحَ فَإِذَا رَبِحَ ضَمِنَ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ الْمَالَ لِرَبِّ الْمَالِ
او نه د دویم مضارب په تصرف سره تردې پورې چې څه ګټه وشي او کله چې ګټه وشي نو مضارب اول د مالک لپاره د مال ضامن شو
وَإِذَا دَفَعَ إِلَيْهِ مُضَارَبَةً بِالنِّصْفِ فَأَذِنَ لَهُ أَنْ يَدْفَعَهَا مُضَارَبَةً فَدَفَعَهَا بِالثُّلُثِ جَازَ
که چیرته ورکړ د مال والامضارب ته په نیمه ګټه باندې د مضاربت په ډول بیا یې هغه ته اجازه وکړه چې کوم بل چاته یې په مضاربت باندې ورکولی شې پس هغه په دریمه باندې ورکړ نو روا ده
فَإِنْ كَانَ رَبُّ الْمَالِ قَالَ لَهُ عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَ اللَّهُ تَعَالَى فَهُوَ بَيْنَنَا نِصْفَانِ
که چیرته مالک مضارب ته وویل چې کومه ګټه الله تعالی درکړي هغه زمونږ په مینځ کې نیمایي شوه
فَلِرَبِّ الْمَالِ نِصْفُ الرِّبْحِ وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي ثُلُثُ الرِّبْحِ وَلِلْأَوَّلِ السُّدُسُ
نو د مالک لپاره نیمایي ګټه شوه او د دویم مضارب لپاره دریمه شوه او د اول مضارب لپاره شپږمه شوه

د مضارب بل چاته په مضاربت باندې د مال ورکولو حکم

تشریح : واذادفع...... لرب المال : رب المال مضارب ته بل چاته د مال په مضاربت باندې د ورکولو اجازه نوه کړې د دې باوجود هغه بل چاته په مضاربت باندې مال ورکړ نو په مضارب باندې ضمان راځي او که نه په دې باره کې لږ شانته اختلاف سره دری مذهبونه دي

۱ : امام ابوحنیفة رحمه الله وایي دي چې په مضارب اول باندې صرف د مال په ورکولو سره تاوان نه راځي، بلکې کله چې دویم مضارب تجارت شروع کړي او په هغه کې ګټه هم وکړي بیا اول مضارب د رب المال لپاره ضامن کیږي، د امام حسن بن زیاد هم همدا قول دی

دلیل : صرف د مال په سپارلو سره تراوسه پورې تجارت شروع شوی ندی، بلکې ویل کیدی شي چې د امانت په ډول مال له دویم مضارب سره دی، او کله چې کار شروع کړي نو ویل کیدی شي چې د بضاعت په ډول باندې کار کوي، لیکن کله چې ګټه وشوه نو اوس په ګټه کې د شریک کیدو له امله

دویم مضارب په حقیقت کې مضارب جوړ شو د کوم چې د رب المال له طرفه اجازه نوه نو خکه اول مضارب د رب المال لپاره ضامن شو

دویم مذهب: د صاحبینو مذهب دا ده که چیرته دویم مضارب کار وبار شروع کړی دی نو په اول مضارب باندې ضمان راځي برابره ده که په کار وبار کې گټه شوي وي او که نوي شوي

دلیل: اول مضارب ته د مال ورکولو حقیقتًا د امانت په ډول د مال ورکولو په درجه کې دي، لیکن کله چې دویم مضارب کار شروع کړ نو مضاربت شروع شو نو خکه د کار په شروع کولو باندې د رب المال لپاره ضامن شو.

دریم مذهب: د امام زفر او ائمه ثلاثه په نزد صرف دویم مضارب ته د مال په ورکولو سره ضمان لازمیږي

دلیل: مضارب ته صرف دومره اجازه ده چې د امانت په ډول چاته مال ورکړي لیکن مضاربةً یې د ورکولو بالکل حق نشته، او دلته د رب المال له اجازت پرته په مضاربت باندې ورکړی دی، لهذا په ورکولو سره ضامن جوړیږي

واذادفع الیه الخ: مالک مضارب ته مال ورکړ او وې ویل چې زما او ستا په مینځ کې گټه نیمایي شوه او رب المال د دې خبرې اجازه هم ورته وکړه چې همدا مال بل چاته د کار وبار لپاره ورکولی شې، اوس مضارب بل چاته په دریمه گټه باندې مال ورکړ نو روا ده، او د دې مسئلې څلور صورتونه دي کوم چې وړاندې را روان دي

د ماقبل مسئلې اول صورت دا ده چې مالک مضارب ته په نیمایي گټه باندې مال ورکړی وو هغه دویم مضارب ته په دریمه باندې ورکړ چونکه مالک داسې ویلي وو چې کومه گټه اوشي په هغه کې به نیمایي زما وي نو د رب المال د همدې شرط په موجب ټوله گټه نیمایي ورکول کیږي او دویم مضارب ته ټوله گټه یوه دریمه اوس پاتې شوه شپږمه برخه هغه اول مضارب ته ورکول کیږي، مثلا دویم مضارب شپږ درهم گټه وکړه نو دری درهم د مالک شول دوه درهم د دویم مضارب شول او یو درهم اول مضارب ته ورکول کیږي

وَإِنْ كَانَ قَالَ عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَكَ اللّٰهُ بَيْنَنَا نِصْفَانِ فَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي الثُّلُثُ
او که چیرته مالک وویل کومه گټه چې خدای تاته درکړي هغه زمونږ په مینځ کې نیمایي شوه نو د دویم مضارب لپاره دریمه شوه
وَمَا بَقِيَ بَيْنَ رَبِّ الْمَالِ وَالْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ نِصْفَانِ وَإِنْ قَالَ لِ عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَ اللّٰهُ
او کومه گټه چې باقي پاتې شوه هغه د مالک او اول مضارب په مینځ کې نیمایي شوه او که مالک وویل کومه گټه چې الله تعالی درکړه
فَلِي نِصْفُهُ فَدَفَعَ الْمَالَ إِلَى آخَرَ مُضَارَبَةً بِالنِّصْفِ فَلِلثَّانِي نِصْفُ الرِّبْحِ وَلِرَبِّ الْمَالِ نِصْفُ
نیمایي زما ده بیا هم هغه مال په نیمایي حساب سره په مضاربت باندې ورکړ نو د دویم مضارب لپاره نیمایي گټه شوه او د رب المال لپاره نیمایي گټه شوه

وَلَا شَيْءَ لِلْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ فَإِنْ شَرَطَ لِلْمُضَارِبِ الثَّانِي ثُلُثَيِ الرِّبْحِ فَلِرَبِّ الْمَالِ نِصْفُ الرِّبْحِ

او د اول مضارب لپاره هيڅ هم نشول او که چيرته شرط ولګوي د دويم مضارب لپاره د ګټې دوه دريمې نو د مالک لپاره د ګټې نيمايي شوه

وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي نِصْفُ الرِّبْحِ وَيَضْمَنُ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ لِلْمُضَارِبِ الثَّانِي مِقْدَارَ سُدُسِ الرِّبْحِ فِي مَالِهِ

او د دويم مضارب لپاره د ګټې نيمايي شوه او اول مضارب د دويم مضارب لپاره د ګټې د شپږمې برخې په اندازه ضامن شو له خپل مال څخه

تشريح: په دې عبارت کې د دويم صورت بيان دی چې که چيرته رب المال اول مضارب ته مال ورکولو په وخت کې وويل چې الله تعالى کومه ګټه درکړي هغه زمونږ په مينځ کې نيمايي نيمايي شوه نو په دې صورت کې دويم مضارب ته ټوله ګټه يوه دريمه ورکول کيدی شي، او پاتې شو دوه دريمې د رب المال او مضارب اول په مينځ کې نيمايي نيمايي کيږي، لهذا په دې صورت کې هر يو ته دوه دوه درهم ورکول کيږي

تنبيه: په اوله مسئله کې مالک مضارب ته ويلي وو چې څومره ګټه وشوه په هغه ټوله کې ماته نيمه پکار ده باقي ته يوه شوه، په دې مسئله کې دا دي چې مالک مضارب ته ويلي چې څومره ګټه وشوه په هغه ګټه کې ماته نيمه راکړه نو څکه په اوله مسئله او دغه مسئله کې په ويشلو کې فرق وکړی شو دريم صورت دادی مالک ويلي وو چې څومره ګټه وشوه په هغې کې نيمايي زما ده د دې باوجود مضارب بل چاته د نيمايي ګټې په شرط باندې مال په مضاربت ورکړ نو په دې صورت کې له ټولې ګټې څخه يعنې درې درهم مالک ته ورکول کيږي او نيمايي يعنې درې درهم دويم مضارب ته ورکول کيږي نور څو هيڅ هم پاتې نشول نو اول مضارب خالي لاس پاتې شو

څلورم صورت دا ده مالک ويلي وو چې د ټولو ګټې نيمايي اخلم او اول مضارب دويم مضارب ته د ټولې ګټې په دوه دريمې مال ورکړ نو له نيمايي ګټې څخه هم يوه شپږمه برخه زياته ګټه به ورکوي نو د همدې شپږمې برخې ذمه وار اول مضارب شو، مثلاً ټوله ګټه درې سوه وشوه نو يو سل پنځوس د مالک شوې او يو سل پنځوس د دويم مضارب شوې او يو سدس يعنې پنځوس روپۍ به اول مضارب له خپل مال څخه دويم مضارب ته ورکوي، ترڅو چې د هغه دوه دريمې پوره شي، څکه چې اول مضارب ورسره د دوه دريمې وعده کړې ده نو هغه به يې په خپله ورکوي

وَإِذَا مَاتَ رَبُّ الْمَالِ أَوِ الْمُضَارِبُ بَطَلَتِ الْمُضَارَبَةُ وَإِذَا ارْتَدَّ رَبُّ الْمَالِ عَنِ الْإِسْلَامِ

او کله چې مړ شي رب المال يا مضارب نو مضاربت باطليږي او کله چې وګرځي مالک له اسلام څخه

وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتِ الْمُضَارَبَةُ وَإِنْ عَزَلَ رَبُّ الْمَالِ الْمُضَارِبَ وَلَمْ يَعْلَمْ بِعَزْلِهِ

او ولاړ شي دار الحرب ته نو باطليږي مضاربت او که چيرته معزول کړي مالک مضارب او هغه ته معلوم نوي خپل معزول کيدل

حَتّٰى اشْتَرٰى وَبَاعَ فَتَصَرُّفُهُ جَائِزٌ وَإِنْ عَلِمَ بِعَزْلِهِ وَالْمَالُ عُرُوضٌ فَلَهُ أَنْ يَبِيعَهَا
تردې چې هغه واخيستل يا يې خرڅ كړل نو د هغه تصرف روا دى او كه ورته معلومه وه خپله معزولي حالانكه مال سامان دى د هغه په قبضه كې نو د هغه لپاره روا ده چې هغه خرڅ كړي
وَلَا يَمْنَعُهُ الْعَزْلُ مِنْ ذٰلِكَ ثُمَّ لَا يَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِيَ بِثَمَنِهَا شَيْئًا آخَرَ وَإِنْ عَزَلَهُ
نشي كنعه كولى معزول كول مضارب له خرڅولو بيا روا نده چې د هغه په قيمت كوم بل شى واخلي او كه چيرته مضارب معزول شو
وَرَأْسُ الْمَالِ دَرَاهِمُ أَوْ دَنَانِيرُ قَدْ نَضَّتْ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيهَا
او رأس المال دراهم يا دنانير نقد دي نو د هغه لپاره روا نده چې په هغو كې تصرف وكړي

د مضاربت بطلان او د هغه جواز

تشريح په دې عبارت كې د قدوري صاحب څو مسئلې بيان كړې دي

مسئله كه چيرته رب المال يا مضارب مړ شي نو مضاربت باطليږي. ځكه چې د مضارب له عمل وروسته مضاربت د وكالت په درجه كې كيږي او د وكيل يا موكل په مړينې سره وكالت باطليږي، نو ځكه د رب المال يا د مضارب په مړينې سره مضاربت هم باطليږي.

مسئله كه چيرته مالک مرتد شو دارالحرب ته ولاړ نو مضاربت باطل شو. د دې مسئلې دوه صورتونه دي:

١: كه چيرته واكمن د هغه دارالحرب ته د تللو فيصله كړې وه نو له همدې وجهې د هغه ملكيت زائليږي او د ورثه و طرفته منتقل كيږي. ګوا كه هغه د مړه په درجه كې شو

٢: او كه چيرته واكمن فيصله نوه كړې نو مضاربت موقوف پاتې كيږي، كه چيرته هغه واپس راشي نو نه باطليږي بلكې برقرار پاتې كيږي

مسئله كه چيرته مالک مضارب معزول كړ او مضارب ته د دې علم نوو نو مضارب په خپل مضاربت باندې برحال پاتې كيږي تردې پورې كه چيرته هغه خريد او فروخت وكړي نو روا دى، ځكه چې دى د رب المال له طرفه وكيل دى او بالاراده د وكيل معزول كول د هغه په حكم باندې وقوف دى، لهذا له علم لرلو مخكې هغه نه معزول كيږي

مسئله مالک مضارب معزول كړ او هغه ته خپل معزول كيدل په داسې حال كې معلوم شول كوم وخت چې د هغه په لاس كې د مضاربت سامان دى نقد مال ندى نو مضارب هغه سامان خرڅولى شي، معزول كيدل د همدې سامان له خرڅولو څخه منعه نشي كولى، ليكن كله چې د سامان قيمت لاسته راشي نو په هغه قيمت سره مزيد كوم بل شى نشي اخيستلى، ځكه د مضارب د ګټې حساب په نقد مال كې كيدلى شي په سامان كې نشي كيدى، او د مضارب په ګټه كې حق دى نو ځكه سامان خرڅولى او نقد جوړولى

شي ترڅو چې له نقد کيدو وروسته د ګټې حساب وکړي، ليکن اوس په هغه قيمت سره نور شي نشي اخيستلی ترڅو چې د مضاربت معامله نوره وړاندې ولاړه نشي او مالک نقصاني نشي.

وَإِذَا افْتَرَقَا وَفِي الْمَالِ دُيُونٌ وَقَدْ رَبِحَ الْمُضَارِبُ فِيهِ أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى اقْتِضَاءِ الدُّيُونِ
او کله چې دوی دواړه جلا شي او مال په قرض کې دی او مضارب له هغه ګټه اخيستې ده د قرض په وصول کولو باندې دې واکمن هغه مجبور کړي
وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي الْمَالِ رِبْحٌ لَمْ يَلْزَمْهُ الِاقْتِضَاءُ وَيُقَالُ لَهُ وَكِّلْ رَبَّ الْمَالِ فِي الِاقْتِضَاءِ
او که چيرته په مال کې ګټه نه وه نو د قرض وصول کول په مضارب باندې لازم ندي او هغه ته ويل کيدی شي چې مالک د مال وصول کولو وکيل جوړ کړه
وَمَا هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ فَهُوَ مِنَ الرِّبْحِ دُونَ رَأْسِ الْمَالِ فَإِنْ زَادَ الْهَالِكُ عَلَى الرِّبْحِ
او کوم څه چې هلاک شي د مضاربت له مال څخه نو هغه به له ګټې څخه وي نه له اصل سرمايه څخه بيا که چيرته زيات هلاک شي له ګټې څخه
فَلَا ضَمَانَ عَلَى الْمُضَارِبِ وَإِنْ كَانَا يَقْتَسِمَانِ الرِّبْحَ وَالْمُضَارَبَةُ عَلَى حَالِهَا ثُمَّ هَلَكَ الْمَالُ
نو په مضارب باندې ضمان نشته او که چيرته دواړو ګټه سره ويشلې وه او مضاربت په خپل حال باندې وو بيا مال هلاک شو.
كُلُّهُ أَوْ بَعْضُهُ تَرَادَّا الرِّبْحَ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ رَبُّ الْمَالِ رَأْسَ الْمَالِ
ټول يا يو څه نو دواړه به ګټه واپس راوړي تردې چې پوره کړي د مالک اصل سرمايه

تشريح: **واذا افترقا..... فى الاقتضاء**: مالک او مضارب له مضاربت څخه جلا شويدي او صورت حال دا ده چې د مضاربت يو څه مال په خلکو باندې قرض دی نو اوس به دغه قرض څوک وصول کوي؟ د کتاب صاحب ويلي دي که چيرته مضارب له همدې مال څخه ګټه اخيستې وي نو مضارب دې له خلکو څخه د قرض په را اخيستو باندې مجبور کړی شي، ځکه کله چې مضارب ګټه حاصله کړه نو ګويا هغه د اجير په شان شو هغه د اخيستو خرڅيدو او قرض ورکولو اجرت اخيستی دی نو ځکه د قرض وصول کول په هغه باندې لازم شول، او که يې ګټه نوې اخيستې نو مضارب د احسان په ډول د خرڅولو او اخيستلو وکيل جوړ شوی دی او احسان کوونکی په زيات کار کولو باندې مجبور کولی نشي. نو ځکه دې واکمن د قرض وصول کولو لپاره دې هغه نه مجبوره وي، البته په دې صورت کې مضارب ته ويل کيدی شي چې ته رب المال د قرض وصول کولو لپاره وکيل جوړ کړی ترڅو چې د هغه په وکالت کې هغه قرض وصول کړي او د هغه مال ضائع نشي.

وما هلك .... على المضارب فيه: که چيرته د مضاربت مال هلاک شي نو دا نقصان د رأس المال پر ځای له ګټې څخه پوره کيدلی شي، ځکه چې سرمايه اصل ده او ګټه تابع ده او د هلاکت د تابع طرفته راجع کول بهتر دي، لکه څرنګه چې په مال الزکوة کې هلاکت د عفو مقدار طرفته راجع شويدي

او که چیرته دومره مال هلاک شي چې له ګټې هم زیات شي نو مضارب د دې نه ضامن کیږي، مثلا پنځه زره روپۍ اصلي سرمایه وه پنځه سوه روپۍ یې ګټه وکړه وروسته شپږ سوه روپۍ هلاکې شوې نو پنځه سوه روپۍ به له ګټې پوره کړی شي او سل روپۍ به له اصل سرمایه څخه او مضارب د دې نه ضامن کیږي، ځکه چې هغه امین دی او پرته د عمل له دخل که له امین څخه کوم شی هلاک شي نو په هغه باندې تاوان نشته دی

وان کانا یقتسمان الخ تر اوسه د مضاربت عقد پاتې دی د ګټې ویشل روان دي بل طرفته تول مال یا یو څه مال هلاک شو نو په دغه صورت کې د نقصان پوره کولو لپاره ګټه ور ګرځول کیږي ترڅو چې د مالک اصل روپۍ پوره کړی شي

فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ كَانَ بَيْنَهُمَا وَإِنْ نَقَصَ مِنْ رَأْسِ الْمَالِ لَمْ يَضْمَنِ الْمُضَارِبُ
بیا که چیرته څه ګټه بچ شي نو د دواړو په مینځ کې ویشل کیږي او که چیرته له اصل سرمایه څخه کمې شي نو مضارب نه ضامن کیږي
وَإِنْ كَانَا اقْتَسَمَا الرِّبْحَ وَفَسَخَا الْمُضَارَبَةَ ثُمَّ عَقَدَاهَا فَهَلَكَ الْمَالُ أَوْ بَعْضُهُ
او که چیرته دواړو ګټه وویشله او مضاربت یې مات کړله دې وروسته او بیا یې عقد مضاربت وکړ بیا ټول مال یا څه مال هلاک شو
لَمْ يَتَرَادَّا الرِّبْحَ الْأَوَّلَ وَيَجُوزُ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَبِيعَ بِالنَّقْدِ وَالنَّسِيئَةِ
نو مخکنۍ ګټه واپس نشي راړول کیدی او روا ده د مضارب لپاره چې فروخت وکړي په نقد او قرض
وَلَا يُزَوِّجُ عَبْدًا وَلَا أَمَةً مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ
او مضارب دې نکاح نه کوي د غلام او مینزې د مضاربت له مال څخه

تشریح له عبارت څخه مفهوم واضح دی د زیات وضاحت ضرورت نشته، په دې ځای کې دومره په ذهن کې وساتئ چې د امام ابویوسف په نزد د مینزې نکاح صحیح ده.

تمت بالخیر

